کافیه با شافیه تلخیص وحسامي یاد کني این چهار را جامع شد مولوي

د ټول علم اصول لپاره یو په زړه پوري تحفه

خلاصة الحسامي

له افاداتو د جید عالم مولوي **محمد اجمل** خان صاحب دامت برکاتهم

تألیف

حافظ ملا شمس الله

تطیق القواعد الاصولیة علی الایات القرانیه

ترتیب وتزین

مولوی رحمت الله آغا خلیل ذاکري

نور القرآن

خپرندویه ټولنه

کافیه با شافیه تلخیص و حسامي یاد کني این چهار را جامع شد مولوي

دتهول علم اصول لپاره یوه په زړه پوري تحفه

خلاصة الحسامي

له افاداتو دجید عالم مولوي **محمد اجمل** خان صاحب دامت برکاتهم

تألیف :

حافظ ملا شمس الله

تطبیق القواعد الاصولیة علی الایات القرانیة

ترتیب او تزین : مولوی رحمت الله اغاخلیل ذاکزي

نور القران خپرندویه ټولنه کاسي روډ کوټه

دکتاب پېژندنه

نوم ....خلاصة الحسامي

له افاداتو .... دجید عالم مولوي **محمد اجمل** صاحب

مؤلف........................ حافظ ملا **شمس الله** ترينکوټي

کمپوزر او مرتب........................ مولوی **رحمت الله** اغا خلیل ﴿ذاکري﴾

کمپوز چارې........................ دنور القران ادارې دکمپوز او خپرنې څانګه

تصحيح........................ خپله مؤلف

خپرندوی........................ نور القران خپرندویه ټولنه کاسي روډ کوټه

چاپ کال........................ اول چاپ /۲۰۲۲/ ۲/ ۷ میلادي

دنور القران ادارې دټليفون شمېره ۰۳۱۰۸۰۶۵۷۳۵

التقريظ

شيخ الصرف والنحو والمعاني والاصول حضرت مولانا محمد اجمل خان صاحب حفظه الله

بسم الله الرحمن الرحيم

دحسامي له اهميت څخه محترم اساتذه كرام وطلباء كرام ښه خبر دي كه په محنت او كوشش سره وه طالبانو ته وويل سي نو په علم الاصول كي به كما حقه لاربنودنه ورته وسي ملا حافظ شمس الله صاحب ددې كتاب شرحه خلاصة الحسامي ترتيب كړي ده ما ددې شرحي مختلف ځايونه وكتل ما شاء الله ډيره په زړه پوري شرحه ده :

دعا كوم چي الله تعالى دي دا شرحه زما او د حافظ ملا شمس الله لپاره دخلاصون سبب وګرځوي...........

امين ثم امين

محمد اجمل عفى عنه

بسم الله الرحمن الرحيم

رب يسر ولا تعسر وتميم بالخير وبک نستعين يا فتاح يا علی:

امابعد: حمدالله على نواله والصلوة على رسوله محمد واله فان اصول الشرع الخ دكتاب دمصنف نوم محمد دپلار نوم يې محمد دنيكه نوم يې عمر په عربي ژبه باندي داسی ويل كيږي محمد بن محمد بن عمر دمصنف كنيه ابو عبدالله دمصنف لقب جسام الدين، كتاب چي حسامي نوميږي دا دده ولقب ته منسوبه دئ، مصنف داحسيكث د كلي دي نو مصنف ته ويل كيږی محمد بن محمد بن عمر الاخسيكثي، مصنف په (۶۴۴) سنه كي وفات سوي دئ.

دمصنف قابليت: مصنف ډير قابل انسان وو امام غزالي يو كتاب ليكلي دهغه كتاب نوم منقولي دئ په دې كتاب كي امام غزالي پر امام صاحب باندي جرحي كړي بيا مصنف ددې جرحو جواب وركړي په شپږو رسالو كي د امصنف د هر فن مولٰی وو خو په اصولو كي ډير ماهر وو.

امابعد حمدالله:

فائده: دوې كلمې دي يوه (۱) كلمه اِمّا ترديديه ده دوهمه (۲) كلمه امّا شرطيه ده، ددواړ وفرق دادئ اِمّا ترديديه دترديد څخه ده ترديد په پښتو كي (دا) يا (دا) مثال العدد اما زوج واما فرد، عدد به يا زوج وي يا به فردوي مثال الله رب العزت فرمايي ﴿اِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيْلَ اِمَّا شَاكِرًا وِاِمَّا كَفُوْرًا﴾.

اَمّا شرطيه په تركيب كي شرط او جزا جوړوي مثال الله رب العزت فرمايي ﴿وَاَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا فَفِيْ الْجَنَّةِ﴾ اِمّا ترديديه په اصل كي حرف ده.

اَمَّا شرطيه په اصل کی اسم ده.

په اَمَّا کي څلور مذاهب دي.

(۱) امام خليل (۲) جمهور (۳) سيبويه (۴) ابو البقاء.

امام خليل وايي اَمَّا په اصل کي مهما ده بيا خلاف القياس هاء په همزه بدله سوه بيا خلاف القياس قلب مکاني وسوه يعني همزه پر ميم مخته سوه بيا ميم اول په ميم ثاني کي مدغم سو نو اَمَّا جوړ سو، جمهور وايي اَمّا په اصل کي مَاَمّا وه، بيا همزه مخته سوه پرميم بيا ميم په ميم ثاني کی مدغم سو نو اَمَّا جوړ سو، سيبويه وايي اَمَّا په اصل کي اِنْ مَا وه بيا ديرملون په قانون سره نون په ميم بدل سو بيا ميم په ميم کي مدغم سو بيا يې دهمزې کسره په فتحه سره واړول ددې دپاره چي التباس يې رانه سي داِمّا ترديديه سره، ابو البقاء وايي اَمّا برأسها مستقله کلمه ده اصل نه لري لکه اِنْ، اذًا ،په دا څلورو مذاهبو کي خوندور مذهب دامام خليل دی ځکه دعربي قواعدو تعلق دقياس سره دومره نه وي لکه دسماع سره لهذا عرب اکثر اَمّا مَهَما بولي.

دوهم سبق

اَمّا بعد حمد الله : اما شرطيه شرط او جزاء غواړي داماشرطيه پر جزا به فاء وي.

فائده: دامّا او فاء په مينځ کښي فصل په يوشي لازم دي دافصل کله په مبتداء سره وي مثال ﴿وَاَمَّا الذينَ سُعِدُوْا فَفِيْ الْجَنَّةِ﴾ کله په شرط سره وي مثلا ﴿فَلَمَّا اِنْ كَانَ مِنَ الْقَرَّبِيْنَ فَرَوْحٌ وَّرَيْحَان﴾،

کله په مفعول به سره وي مثال ﴿فَاَمَّا اليَتِيْمَ فَلَا تَقْهَر﴾.

كله په خبر سره وي مثال فَاَمَّا في الدار فرجل ، كله په ظرف سره وي مثال .

اَمَّا بعد حمد الله فان اصول الشرع :

دلته داما اوفاء په مينځ كښي فصل په ظرف سره دي :

اَمَّا بعد حمد الله : بَعْدُ قَبْلُ زماني هم راځي مكاني هم راځي :

دقبل او بعد مشهور درې حالت دي په دوو حالاتو کي معرب په يو حالت کي مبنى ، كه دقبل بعد مضاف اليه په لفظ کي ذکر وه نو په دې حالت کي قبل بعد معرب دي مثال قبل ذالک وبعد ذالک الله رب العزت فرمايي ، ﴿مِنْ قَبْلِکَ﴾ كه دقبل بعد مضاف اليه په لفظ کي ذكر نه وه اونه په نيت کي مراد وه نو په دې حالت کي بيا معرب دي ، مثال رُبَّ بَعْدٍ خيرٌ مِنْ قَبْلٍ، كه دقبل بعد مضا اليه په لفظ کي ذکر نه وه خو په نيت کي مراد وه نو په دې حالت کي قبل بعد مبني دي مثال اَمَّا بَعدُ فَاِنَّ هذِهِ رسالة.

دلته دبعد مضاف اليه په لفظ کي نسته خو مضاف اليه په نيت کي مراد ده هغه مضاف اليه داده بعد البسملة والحمدلة والصلوة، لهذا دلته بعد مبني دي شبه افتقاري پکښي ده .

دريم سبق

فان اصول الشرع ثلثة الكتاب والسنة واجماع الامة:

بيشكه دلائل داثبات داحكامو درې دي .

(١) كتاب الله (٢) سنة رسول (٣) اجماع الامة درې خبري دي يوه خبره په اصول کی دوهمه خبره په الشَرع کي دريمه خبره په ثلثة کي (اوله خبره) اصول جمع د اصل ده اصل په عربي

کي پنځه معنا ګاني ورکوي اوله معنا مبني عليه دوهمه معنا قاعده دريمه معنا دليل څلورمه معنا راجح پنځمه معنا استسحاب :

اوله معنا داصل مبني عليه ده عرب وايي الجدرانات اصل للسقف ديوالونه اصل دي دچت دپاره دلته اصل په معنا دمبني عليه دي ديوالو نه دچت دپاره اصل مبني عليه دي چت ور باندي بنا دي .

دوهمه معنا داصل قاعده ده الفاعل مرفوع اصل من اصول النحو .

الفاعل مرفوع چي دي دا قاعده ده دنحو دقواعدو څخه دلته اصل په معنا دقاعدې سره دي دريمه معنا داصل دليل دئ واتو الزکوة اصل لوجوب الزکوٰة زکاة ورکول دا دليل دي دزکاة دوجوب دپاره دلته اصل په معنا ددليل دئ، څلورمه معنا داصل راجح .

الاصل فی استعمال اللفظ حقيقة

راجح په استعمال دلفظ کي حقيقت دئ دلته اصل په معنا دراجح دئ :

پنځمه معنا داصل : استسحاب دي ، استسحاب معنا ابقاء ماكان على ماكان دايو شي دئ، مثلا مخته پريوه حال باندي وو او س داشي پر هغه حال باندي پريښودل ديته استسحاب وايي نو اصل کله په معنا داستسحاب وي لکه عرب وايي والطهارة فی الماء اصل ، دلته اصل په معنا داستسحاب دئ، دلته داصول څخه مراد دلائل دي .(دوهمه خبره) الشرع : شرع په لغت کي اظهار ته وايي اظهار معنا ښکاره کول نو فان اصول الشرع ثلثة دا معنا واقع دلائل دښکاره کولو داحکامو درې دي کتاب الله ، سنة رسول ﷺ ، اجماع الامة .

سوال: په دا درې دلائلو سره (کتاب سنة اجماع الامة) احکام ثابتيږي په دا درو دلائلو سره احکام نه ښکاره کيږي يوازي په قياس سره احکام ښکاره کيږي؟

ددې سوال دپاره څلور جوابونه دي اول جواب: شرع مصدر دی په معنا داسم فاعل يعني شرع په معنا دشارع اوس حاصل دعبارت داسو بيشکه دلائل دشارع عليه السلام درې دي کتاب الله ، سنة رسول ، اجماع الامة دوهم جواب: شرع مصدر دئ په معنا داسم مفعول يعني شرع په معنا دمشروع اوس حاصل دعبارت داسو بيشکه دلائل داحکام مشروعه درې دي، کتاب الله ، سنة رسول ، اجماع الامة .

دريم جواب شرع مصدر نه دئ شرع اسم جامد دئ ، شرع نوم دئ ددين :

اوس حاصل دعبارت دا سو بيشکه دلائل ددين درې دی کتاب الله ، سنة رسول، اجماع الامة څلورم جواب منم شرع مصدر دي په معنا داظهار خو اثبات او اظهار بد نه سره ورې ځکه اثبات ملزوم اظهار لازم نو داثبات سره اظهار وي .

فان اصول الشرع ثلثة

اصول الشرع اسم دإِنَّ ثلثةٌ خبر دإِنَّ اسم او خبر په اصل کي مبتداء او خبر وي .

سوال: دمبتداء او خبر په مينځ کي تطبيق ضروري دئ په تذکير او تانيث کي دلته تطبيق نسته ځکه په مبتدا کي تذکير دئ په خبر کي تانيث دئ؟

جواب: عدد ددرو څخه بيا تر لسو پوري خلاف القياس مستعمليږي .

څلورم سبق

فان اصول الشرع ثلثة الکتاب والسنة واجماع الأمة :

دلائل دشارع عليه السلام درې دي :

(١) کتاب الله (٢) سنة رسول ﷺ (٣) اجماع الامة :

قاعده نحويه: هر ځای که عدد راغلی وروسته معدود راغلی دا په ترکیب کي مبدل منه او بدل جوړيږي دلته ثلثة مبدل منه کتاب الله سنة رسول، اجماع الامة دا ور څخه بدل.

فائده: هر ځای که په عبارت کي ترجمه په یعني سره وسوه نو پوه سه چي دا دبدل ترجمه ده.

بیشکه دلائل ددین دري دي یعني کتاب الله سنة رسول، اجماع الامة.

سوال: مصنف دا عبارت (الکتاب والسنة واجماع الامة) په دارکم ترتیب راوړي اول يې کتاب الله راوړي دوهم يې سنة رسول راوړي، دريم يې اجماع الامة راوړه داولي.

جواب: مصنف په درو دلائلو کي اول کتاب الله راوړي ځکه کتاب الله دلیل دئ من کل وجه دکتاب الله حجتیت تربل پوري موقوف نه دي کتاب الله دلیل دي مطلقا دوهم يې سنة رسول راوړی ځکه حجتیت دسنة رسول ثابت دی په کتاب الله دریم يې اجماع الامة راوړه ځکه حجتیت داجماع الامة موقوفه ده په کتاب الله او سنة رسول باندي اوس راسه دسنة رسول حتیت ثابت دئ په کتاب الله باندي مثال قوله تعالى ﴿وَمَا اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا﴾ : رسول الله ﷺ چي کوم شی تاسو ته راوړي نو تاسو هغه شي واخلي او دکوم شي څخه چي نبی علیه السلام منعه وکړه نو تاسو دهغه شي څخه منعه سي په دغه اية باندي حجتیت دسنة رسول ثابت دئ.

حجتیت داجماع الامة چي په کتاب باندي ثابت وي مثال قوله تعالی ﴿فَاعْتَبِرُوْا يَاأُولِي الْاَبْصَار﴾:

په دغه اية باندي په اتفاق دمفسرینو حجتیت داجماع الامة ثابته دئ.

نبی علیه السلام فرمايي: ماراه المؤمنون حسنا فهوعندالله حسنٌ کوم شي چي مومنان حسن بولي هغه دالله په نیز حسن دي بل قول دنبی علیه السلام لا تجتمع امتي علی الضلالة

فاجتمعت فانا برئ منهم وهم بريئون مني په دغه قول دنبی علیه السلام باندي حجتيت دا جماع الامة ثابت دئ .

دلائل ددين دري دي كتاب الله سنة رسول اجماع الامة .

مراد دكتاب الله څخه بعض كتاب الله دي هغه بعض كتاب الله پنځه سوه (٥٠٠) اياته مراد دسنة رسول څخه دري زره (٣٠٠) احاديث دي .

مراد داجماع الامة څخه اجماع دمجتهدينو دامت محمد ﷺ ده :

ليكن داخبره غلطه ده چي دكتاب الله څخه پنځه سوه (٥٠٠) اياته مراد دي دكتاب الله څخه مكمل كتاب الله مراد دی يعني مكمل كتاب الله دليل دي دشريعت ولي حكم دوه قسمه دي، يو حكم ظاهري بل حكم باطني دپنځه سوه (٥٠٠) اياتو څخه حكم ظاهري راوځي ، الله رب العزت چي په قران كريم كي كيسې ذكر كړي موږ ته يا يې كوم مثالونه موږ ته ذكر كړي يا يې وعد وعيد ونه موږ ته ذكر كړي ددې څخه كه حكم ظاهري نه راوځي حكم باطني خو راوځی الله رب العزت موږ ته په قران كريم كي ديوسف عليه السلام واقعه ذكر كړي ديوسف عليه السلام دورونو درواغ يې ذكر كړه ﴿وَجَآءُوا عَلَىٰ قَمِيصِهِۦ بِدَمٍ كَذِبٍ﴾

بيا وروسته الله رب العزت ديوسف عليه السلام ورونه وشرمول څلويښت كاله وروسته ددوي درواغ رشتيا سول په دې كيسه كي الله رب العزت موږ ته حكم باطني بيان كړي په ظاهره الله پاک موږ ته ديوسف عليه السلام كيسه بيان كړې خو الله پاک په كيسه كي موږ ته حكم باطني بيان كړي هغه دا كه تاسو درواغ وويل نو به دا درواغ رشتيا كيږی وروسته هغه كه لس (١٠) كاله بعد وي شل (٢٠) كاله بعد وي ديرش (٣٠) كاله بعد وي هر څو كاله بعد چي وي .

په بني اسرائيلو كي يو سړي وو مستجاب الدعواة وو خلک به راغله تحفې به يې وركړي ښځي به يې ورته راوستي چي ته موسى عليه السلام ته بد دعاء وكړه نو ده به ورته وويل چي دا څه وايا ست موسى عليه السلام ته زه څنګه بد دعا ء وكړم خلكو قسم قسم چمونه په

وکړل اخیر دي بدبخته موسی علیه السلام ته بد دعا کوي خو الله رب العزت به دده ژبه واړوله بلې خو اته مثلا ده به ویل موسی علیه السلام تبا کړه نو دده پر خوله به راغله خلګ تبا کړه بلعم ملعون درې نیم سوه (۳۵۰) کاله عبادت کړي وو بیا الله جل جلاله ورځخه ناراض سو ځکه دا اهل حق په مقابل کي ودریدی الله جل جلاله ورته په غوسه سو ژبه یې راوو ته الله جل جلاله وایي ﴿فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ﴾ شان دده داسي سو لکه شان دسپې که شي ورباندي بار کړي او که نه دی ژبه بنوروي بلعم ملعون ته الله پاک سپي وویل په دې کي ظاهري حکم نسته خو باطني حکم پکښي دئ هغه دا چي هر څو مره بزرګ سی لکه بلعم ملعون چي درې نیم سوه (۳۵۰) کاله یې عبادت کړي وو او ته د کفر سره و دریدي دسپي په شان به ذلیله یې.

داخبره هم غلطه ده چي دسنة رسول ځخه درې زره احادیث مراد دي دسنة رسول ځخه مکمل احادیث مراد دي.

والاصل الرابع القياس المستطبط من هذه الاصول :

څلورم دلیل قیاس دئ: داسي قیاس چي را مستنبط به وي دد غه درو دلائلو ځخه:

فائده: قیاس څلور قسمه دئ : (۱) قیاس لغوي (۲) قیاس عقلي (۳) قیاس شبیهي (۴) قیاس شرعي اول قیاس لغوي دئ قیاس لغوي دیته وایي دایوشي دي مثلا دایي نوم دئ دایي علت دئ دابل شي دئ دا یې علت دی ته راولاړسي دهغه شي نوم ودغه شي ته ورکړي ځکه دد واړو علت یوشي دي مثال لکه شراب نوم یې خمر دي شراب مخامرة العقل راولي په کوکنارو کي هم مخامرة العقل سته اوس ته راولاړ سه کوکنارو ته خمر ووایه ځکه دد واړو علت یو شي دي هغه علت مخامرة العقل.

دوهم قیاس عقلی دئ: قیاس عقلی دادئ قول مؤلف من اقوال متی سلمت لزم عنها قول اخر :

چي تاصغرى او كبرى تسليم كړه نو خامخا به قول اخر مني مثال العالم متغير وكل متغير حادث فالعالم حادث .

دريم قياس شبيهى قياس شبيهي ديته وايي دايو شى دي مثلا ابل شي دئ هغه شي ودغه شي ته په شكل كي سوي په دې شي كي يو حكم سته ته راولاړ سي هغه شي ته ددې شى حكم وركړي مثلا اخيري ناسته اولى ناستي ته سوي په شكل كي اوله ناسته فرض نه ده نو اخيري ناسته هم فرض نه ده .

ځلورم قياس شرعي قياس شرعي ديته وايي ديو محل دى دلته حكم لګيدلي ديو علت له وجي خو داعلت بل ځاى هم سته نو ته راولاړ سه دا حكم ودغه ځاى ته راوړه :

مثال: شراب حرام دلته په شرابو كي حكم لګيدلې چي حرمت دئ ولى په شرابو كي نشه اذي سته .

په چرسو كي هم نشه سته اذي سته ګوره دشرابو او دچرسو علت يو شي دى چي نشه اذي ده ته راولاړ سه دشرابو حكم چي حرمت دى چرسو ته يې راوړه ځكه ددواړو علت يو دئ .

الحكم يدور على العلة : حكم ځي دعلت سره په چرسو كي نشه سته نو چرس حرام په شيشه كي نشه سته نو شيشه حرامه ده .

دا حكم چي دعلت سره ځي دا علت به په كتاب الله سنة رسول اجماع الامة ثابت وي يعني شريعت به تاته ويلي وي چي ددې علت حكم دادئ .

دلته مراد دقياس څخه قياس شرعي دي په شريعت كي دا نورو قياسو ته اعتبار نسته .

په المستنبط من هذه الاصول باندي ددانوور قياسو څخه احتراز راغلى .

پنځم سبق

والاصل الرابع القياس المستنبط من هذه الاصول :

ځلورم دلیل قیاس دی داسي قیاس چي را مستنبط به وی ددغه درو دلائلو څخه مثال دهغه مقیس چي را مستنبط وي د کتاب الله څخه.

د ښځي سره لواطت کول حرام دئ.

د ښځي سره په حالت د حیض کي جماع کول حرامه ده. د ښځي سره لواطت کول مقیس،

د ښځي سره په حالت د حیض کي جماع کول مقیس علیه.

اوس راسه د ښځي سره لواطت کول دا موږ قیاسوو پر حیض باندي په حالت د حیض کي د ښځي سره جماع کول حرام نو د ښځي سره جماع کول سره لواطت کول حرام دي.

دمقیس علیه حرمت په کتاب الله ثابت دئ هغه کتاب الله دادئ ﴿وَيَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ قُلْ هُوَ اَذًا﴾ گوره دمقیس علیه د حرمت علت ګنه اذي مرداري ده.

موږ وکتل چي دا علت په مقیس کي هم سته لهذا دمقیس علیه او دمقیس ددواړو علت یو شي دئ نو مقیس علیه حرام مقیس هم حرام مثال دهغه مقیس چي را مستنبط وي د سنة رسول څخه.

نبی کریم ﷺ فرمایي الحنطة بالحنطة والتمر بالتمر والشعير بالشعير والملح بالملح والذهب بالذهب والفضة بالفضة سواء بسواء والفضل رباء دغه شپږ (۶) شیان نبی علیه السلام بیان کړي، غنم که تا په غنمو ورکول نو به برابر وي.(دا شپږ سره به برابر وي که تا زیادت پکښي وکړي بس سود دي او سود حرام دئ.

دا شپږ شیان مقیس علیه دئ علت یې قدر او جنس دئ ګچ چینه مقیس دئ په ګچ چینه کي زیادت (سود) حرام دئ.

دمقیس علیه او مقیس ددواړو علت یو شی دی هغه علت قدر جنس دئ.

په مقیس علیه کي زیادت حرام نو په مقیس کي زیات حرام.

مثلا دهغه مقيس چي را مستنبط دئ دا جماع الامة څخه دخوابني هر و طي کول حرام يعني دخپلي ښځي دمور سره وطي کول حرام ځکه مور دخپلي ښځي جزء او بعض ده خوند اخيستل پر جزء باندي حرام ده دا حرمت ثابت دئ په اجماع باندي دخپلي ښځي دمور سره و طي کول مقيس عليه.

دمرنيه دمور سره وطي کول مقيس ،مقيس عليه حرام مقيس هم حرام ددواړ علت جزئيت او بعضيت دئ داسي جزئيت او بعضيت چي را مستنبط دئ دا جماع څخه.

شپږم سبق

اما الكتاب

اما الكتاب فالقران المنزل على الرسول المكتوب فى المصاحف المنقول عنه نقلا متواترا بلا شبهة :

اوله خبره کوو په الکتاب کي دوهمه خبره په القران کي، دريمه خبره په المنزل کي څلورمه خبره په الرسول کي پنځمه خبره په المکتوب کي او شپږمه خبره په المصاحب کي اومه خبره په المنقول عنه نقلا متواتر کي.

اوله خبره په الکتاب کي: کتاب په لغت کي مکتوب ته وايي مطلقا . کتاب په اصطلاح دشرعي کي غالبه سو پر کتاب الله باندي داسي کتاب الله چي مکتوب دئ په مصاحفو کي يعني کتاب الله ورڅخه مراد دي کتاب چي مکتوب دئ په مصاحفو کي يعني کتاب الله ورڅخه مراد دي کتاب په اصطلاح داهل عربيه کي غالبه دئ پر کتاب دسيبويه باندي يعني کتاب دسيبويه ورڅخه مراد دئ.

دکتاب څخه په اصطلاح دفقهاء کی کتاب دامام محمد مراد دئ (مبسوط) کلمه داما دتفصيل دپاره ده په الکتاب کي الف لام د عهد دپاره د معهود دئ په ده سره هغه کتاب الله دئ چي مخته په اجمال کي ذکر سو.

دوهمه خبره په القران كي: القران ددې عظيم كتاب الله دپاره علم دی اوس كه ته سوال وكړې چې په قران كي دوه سببه دي يو سبب الف نون زائدتان دوهم سبب علميت نو پكار ده چې غير منصرف سي او سره ددې چې قران منصرف دئ انا انزلناه قرانا عربيا:

جواب: قران علم نه دي قران اسم جنس دئ هرويل سوی شي ته قران وايي خو چې كله الف لام پر داخل سو اوس خالصةً دي عظيم الشان كتاب الله ته وايي يعني غلبةً علم دی دكتاب الله دپاره.

دريمه خبره په المنزل كي:

فائده: دافعال دباب يوه خاصه ده هغه خاصه يک باركي يعني دفعة (په يوه وار) دتفعيل دباب يوه خاصه ده تدريجا شيئا فشيئًا (سوكه سوكه)

المُنزَل دافعال باب دی معنا په يوه وار المُنزّل دفعيل باب دی معنا سوكه سوكه نازل سوی قران مجيد دلوح محفوظ څخه اول اسمان ته دشپې قدر په شپه په يوه وار راغلی داول اسمان څخه وسماء الدنيا ته په درويشت (۲۳) كاله راغلی تدريجا سوكه سوكه.

المنزل معنا قران دلوح محفوظ څخه واول اسمان ته په يوه وار نازل سوی المنزل معنا قران داول اسمان څخه وسماء الدنيا ته تدريجا (سوكه سوكه) نازل سوی.

څلورمه خبره په الرسول كي:

فائده: عرب كله كله مضاف اليه حذف كړي په عوض كي يې الف لام عهد خاريجي راوړي. على الرسول په اصل كي على رسولنا دئ بيا مضاف اليه حذف سوه په عوض كي يې الف لام عهدي خارجي راغلی رسول دفعول وزن دی په معنا دمفعل نو دا معنا قران داسي كتاب دئ چې په واري واري نازل سوي پرهغه ذات باندي چې موږ ته را استول سوي داسي قران چې ليكل سوي په مصاحفو كي مراد دمصاحفو څخه هغه داوو (۷) قاريانو كاغذان دي.

پنځمه خبره په المكتوب كي:

وهو اسم للنظم والمعنى :

قران نوم دئ دنظم او معنى ددواړو .

سوال په صحيفو كي نقوش ليكل سوي په صحيفو كي لفظ معنى نسته ؟ .

جواب :دالمكتوب لاندي ناكت ليكلي الثابت حاصل دجواب دادئ ذكر المكتوب مراد ورڅخه المثبت يعني ثابت به وي په صحيفو كي .

په صحيفو كي ليكل سوي نقوش خو دانقوش دال دي پرا لفاظو باندي الفاظ دال دي پر معنا ګانو باندي يعني الفاظ او معانى په صحيفو كي ثابت دي ليكل سوي نه دي.

المنقول عنه نقلا متواترا :

نقل تواتر ديته وايي چي دومره زيات خلک يو شي رانقل كړي چي ددوي ا تفاق پر كذب باندي محال وي مصنف داما الكتاب تعريف وكړي په دې الفاظو باندي فالقران المنزل على الرسول المكتوب فى المصاحف المنقول عنه نقلا متواترا بلا شبهة .

فائده: تعريف دري قسمه دي (١) لفظي (٢) رسمي اسمي (٣) حقيقي اول تعريف لفظي دي تعريف لفظي ديته وايي چي ديو شي وضاحت په لفظ اشهر سره وكړي مثال ته را ولاړ سي دليث تعريف وضاحت په اسد سره وكړي اسد تر ليث اشهر دئ ياته دغضنفر تعريف وضاحت په اسد سره وكړي اسد تر غضنفر اشهر دئ . يا ته دابو حفص تعريف وضاحت په عمر فاروق سره وكړي عمر تر ابو حفص اشهر د ئ .

دوهم تعريف رسمي دئ .

تعريف رسمي ديته وايي چي دشي تعريف په داسي شي سره وسي چي هغه لازم وي دده سره خاص وي په ده پوري كه يو شي دبل شي په جوړكي دخل درلودي وديته وايي ذاتيات لكه دانسان په جوړ يدو كي لاسونه پښي دخل لري كه يوشي دبل شي په جوړ كي دخل نه

درلودی دیته وایي عوارض مثال دتعریف رسمي الانسان ضاحکة مستیم القامة عریض الاظفار بادي البشرة.

دریم تعریف حققي دئ:

تعریف حقیقي دیته وایي چي ته دیو شي تعریف په ذاتیاتو سره وکړي مثال الکلمة لفظ وضع لمعنی مفرد لفظ وضع لمعنی مفرد دادکلمي تعریف حقیقي دئ دکلمې ذاتیات دي.

کلمه معرب کیدل کلمه مبني کیدل دا دکلمې عوارض دي.

جنس فصل نوع دادري سره ذاتیا ت دي خاصه عرض عام دا عوارض دي خلاصه دخبري داده که دشي تعریف په خاصه عرض عام سره وسو نو دا تعرف رسمي دئ که دشي تعریف په جنس فصل نوع سره وسو نو دا تعریف حقیقي دئ.

اما الکتاب مُعَرَّف دئ

فالقران المنزل علی الرسول المکتوب فی المصاحف المنقول عنه نقلا متواتر : دایې تعریف دئ.

فالقران دالکتاب دپاره تعریف لفظي دئ.

المنزل علی الرسول المکتوب فی المصاحف المنقول عنه نقلا متواترا دا تعریف حقیقی دئ.

اووم سبق

اما کتاب فالقران المنزل علی الرسول المکتوب فی المصاحف المنقول عنه نقلا متواترا بلا شبهة :

تعریف حقیقي دیته وایي چي مشتمل وي پر ذاتیاتو باندي دتعریف حقیقي شرائط دادي چي تعریف به جامع او مانع وي.

جنس قريب فصل قريب به پکښي وي الفاظ غريبه الفاظ نادره وحشيه به پکښي نه وي .

فالقران داما الكتاب دپاره تعريف لفظي دئ وروسته تعريف حقيقي دئ. استاذ او شارح به په تعريف حقيقى كي فوائد قيود بيانوي يعني دكلماتو فائدې به بيا نوي جنس او فصل به ايږدي په جنس كي به ټول را ونغاړل سي په فصلو سره به يو يو خارج سي. فالقران داما الكتاب دپاره تعريف لفظي هم دئ فالقران داما الكتاب دپاره په منزله دجنس هم دئ ، فالقران : قران يا دقرء څخه دئ يا دقرن څخه دئ.

قران كه دقرء څخه سي قرء په عربي كي وينا ته وايي قران ته قران ځكه وايي چي ويل سوي دئ .

قرا ن كه دقرن څخه سي قرن په عربي كي وايي اتصال ته قرا ن ته قران ځكه وايي چي ټول اياتونه يې متصل دي :

قران مصدر دئ مصدر صرف وصف وي حمل دصرف وصف پر ذات باندي نه كيږي نو قرا ن مصدر مبني للمفعول دئ .

يا په معنا دمقروء يا په معنا دمقرون مقروء معنا ويل سوي مقرون معنا متصل سوي .

ددنيا هر كتاب چي راو اخلي هم مقروء دئ هم مقرون دئ فالقران :

فالقران جنس دئ ټولو كتابو ته شامل دئ .

المنزل : په المنزل سره داسماني كتابو څخه پرته ټول كتابونه ووتل ځكه هغه نازل سوي نه دي .

على الرسول : په الرسول سره ټول اسماني كتابونه (التورات، والانجيل، والزبور، ووتل) .

المكتوب فى المصاحف په المكتوب في المصاحف سره منسوخ التلاوت، ووتي لكه داقول دخداى پاک الشيخ والشيخة اذا زنيا فارجموهما .

ددغه اية تلاوت نسته خو حكم يې باقي دئ

المنقول عنه نقلا متواتر : په نقلا متواترا سره هغه اياتونه ووتل چي موږ ته رانقل سوي وي په طريقه دوحدت لكه لفظ دالمتتابعات په قضاء درمضان كي مثال لكه داقول دالله تعالى فعدة من ايام اخر متتابعات دلته متتابعات موږ ته رانقل سوي په طريقه دوحدت يعني متتابعات موږ ته رانقل سوى دابي بن كعب څخه بل په نقل متواترا سره قراءة مشهوره ووتى هغه قراءة مشهوره عبدالله بن مسعود ويلي لكه لفظ د المتتابعات په كفاره ديمين كي مثال لكه داقول دالله تعالى فصيام ثلثة ايام متتابعات: متتابعات موږ ته رانقل سوي په طريقه دشهرة داقراءة مشهوره ويلي عبدالله بن مسعود .

بل مثال فاقطعوا ايديهما :

دعبدالله بن مسعود څخه فاقطعوا ايمانهما را روايت سوى دئ .

بلاشبهة: دبلا شبهة په قيد سره دجمهور په نيز هيڅ شي نه ايستل كيږي بلا شبهة دنقلا متواترا دپاره تاكيد دئ .

پر مذهب دجصاص باندى قراءة مشهوره ووتي دبلا شبهة په قيد سره ځكه دجصاص په نزد مشهور قسم دئ دمتواترا تواتر دوه قسم دئ يو قسم هغه دئ چي بغير دشبهي وي بل قسم تواتر هغه دئ چي سره دشبهي وي دغه قسم قراءة مشهوره دبلا شبهة په قيد سره ووتى .

بعض علماء وايي دبلا شبهة په قيد سره بسم الله ووته بسم الله دقرأن حصه ده سره دشبهي دبلا شبهة په قيد سره بسم الله ووته .

فائده : په بسم الله كي شبهه ده منكر يي كافر نه دئ حائضې نفاسي ته اجازه سته چي بسم الله ووايي .

وهو اسم للنظم والمعنى جميعا فى قول عامة العلماء وهو الصحيح من مذهب ابى حنيفة :

قران يوازي دنظم نوم دئ كه قرأن يوازي دمعنى نوم دئ كه قران دنظم او معنى ددواړونوم دئ.

اوس راسه قران دچا نوم دئ نوپه دې كي اختلاف دئ.

١-: بعض علماء وايي قران نوم دنظم دئ ٢- بعض علماء وايي قرا ن نوم دمعنى دئ اكثر علماء وايى قران نوم دنظم او دمعنى ددواړو دئ. قران نوم كيدل دنظم اود معنى دا مذهب صحيح دئ، خو دا مذهب صحيح عين مذهب دامام ابو حنيفه رحمه الله دئ.

اول دبعضو علماء قول: بعض وايي قران نوم دنظم دئ دوه دليله وايي.

اول دليل: ته دقران تعريف ته وګوره المنزل على الرسول المكتوب فى المصاحف المنقول عنه:

تنزيل، كتابت، نقل دادري سره دالفاظو صفات دي نو معلومه سوه چي قران نوم دنظم دئ

دوهم دليل: دوهم دليل داقول دالله تعالى ﴿انا انزلناه قرانا عربيا﴾ دئ په دغه اية كي الله تعالى قران موصوف كړي په عربي باندي عربي يوازي صفت دنظم دئ نو معلومه سوه چي قران نوم دنظم دئ.

دوهم دبعضو علماء قول: بعض علماء وايي قران نوم يوازي دمعني دئ دوه دليله وايي

اول دليل: اول دليل دا قول دالله تعالى ﴿وَإِنَّهُ لَفِيْ زُبُرِ الأَوَّلِيْنَ﴾ دئ:

قران ثابت دئ په زبر الاولين كي يعني قران په مخكني كتابونو كي وو مخكني كتابونه په عبراني او سرياني ژبه سره نازل سوي وو اوس قران په عربي ژبه سره نازل سوى عربي، عبراني، سريانى صفات دمعنى دي يعنى ثابت په كتاب الاولين كي يوازي معنى وه نو معلومه سوه چي قران يوازى نوم دمعنى دئ، دوهم دليل: حضرت امام ابو حنيفه صاحب دلمانځه جواز په فارسي قرات سره وركړى دلمانځه جواز په فارسي قراءت سره وركول دا دليل دئ ددې چي قران نوم دمعنى دئ اكثر علماء وايي قران نوم دنظم او دمعنى ددواړو دئ داكثر علماء دلائل دمخكني دوو مذهبو دلائل دى فتامل.

اتم سبق

الا أنه لم يجعل النظم ركنا لازما في حق جواز الصلوة خاصة :

امام ابو حنيفه رحمه الله : لمونځ جائز کړي په قراءة فارسيه باندى له دې وجي چي امام ابو حنيفه رحمه الله نظم رکن لازم نه دئ ګرځولي په حق دجواز دلمانځه کي خاصة حضرت امام صاحب لمونځ په دري فارسي جائز کړي په دوه دليله اول دليل: امام صاحب داويلي چي لمونځ مناجات دئ دالله جل جلاله سره درب کريم سره دراز نياز خبرى شروع وي قران کريم په بلاغت فصاحت کي انتها ته رسيدلي ، کيداى سي چي دسړي دي دقرأن کريم په رموزو کي فکر بند سي نو مناجات به خراب سي :

که دسړي څخه مناجات خرابيږى نو دغه سړي ته دقرأن کريم دنظم پر ځاى قرات په فارسي جائز دئ فارسي دومره بلاغت فصاحت نه لري لکه عربي يا که دعجمي عربي ژبه نه زده کيده نو ده ته قراءت په فارسى جائز دئ تر څو چي دى قرأن زده کوي يا امام صاحب داويل چي دقران کريم په الفاظو کي توسع سته الله تعالى وايي چي دقران کريم کوم ځاى تاته اسانه وي هغه ځاى ووايه ﴿فاقرءوا ما تيسّر من القران﴾ ددغه ځاى څخه امام صاحب په دري فارسي جواز ورکړي نبى عليه السلام عربو ته جواز ورکړى چي هر عربي چي په کوم لغت قران ويلاى سي نو ودي وايي:

يعني نبي عليه السلام دعربو قبيلوته اجازه ورکړې څه وخت چي قرأن کريم نازليدى په عربو کي ټولي کلمې څلويښت وې ، ددغو څلويښتو کلمو لغات چي به راټول سول نو ټول اوه (۷) لغت جوړيدل نبى عليه السلام اجازه ورکړه چي دقريش لغات چون کي سخت دي لهذا تاسو ته اجازه ده قران پخپلو خپلو لغاتو واياست ۰

پرهر څلويښت (۴۰) کلوميتره مثلا لهجه بدليږى ۰

مثلا کیږي دایو لغت دئ، پښتانه: بعض پښتانه یې په نرمه لهجه وایي کیږي، بعض پښتانه یې په پنډه لهجه وایي کیږي ، بعضي پښتانه وایي کاږي، بعض پښتانه وایي کږي بعض پښتانه وایي کیګی تلفظا :

موږک: دا یو لغت دئ بعض پښتانه وایي موږک ، بعض پښتانه وایي موګک تلفظا ،

دقران کریم هم داسي لغات دي کله کله وایي دا دپلانکي روایت دئ کله وایي دادپلانکي روایت دئ، حضرت امام ابو حنیفه په اخیر کي دخپل قول څخه رجوع کړې ده یعني قراءت په فارسي جائز نه دئ.

واقسام النظم و المعنى فيما يرجع الى معرفة احكام الشرع اربعة:

دعبارت ترجمه: تقسیمات دنظم او معنی دقران په هغه حصه کي چي مستدل رجوع کوي وهغې حصې دقران ته په پېژندلو داحکامو دشرعي کي دغه تقسیمات څلور دي:

تشریح: دهر تقسیم لاندي اقسام وي مثال وهي اسم وفعل وحرف کلمه درې قسمه ده ۱- اسم ۲- فعل ۳- حرف :

کلمه مقسمه اسم فعل حرف اقسام اقسام دتقسیم سره لازم دي.

واقسام النظم والمعنى : دلته ذکر اقسام مراد تقسیمات یعني ذکر لازم اراده دملزوم، :

فائده: قسم الشئ ضد له :

اقسام په خپل منځ کي سره ضد وي قانون دادئ ضد دضد سره نه جمع کیږي :

اسم فعل حرف دادرې سره اقسام دي: اسم، فعل، حرف په یوځای کي نه سره جمع کیږي داسي نسي کیدای چي یوه کلمه دي هم اسم وي هم دی فعل وي هم دی حرف وي .

که ته وایي اقسام پخپل مینځ کي ولي سره ضد وي نو موږ وایو مقسم ته چي کوم قیود ور ضم کیږي دقیودو سره ضد وي او جال دا چي اقسام دقیود و څخه پیدا کیږي .

مثال کلمه به یا په درو زمانو کي په يوې زماني پوري مقترنه وي يا به نه وي.

كه مقترنه وه نو دا كلمه فعل ده كه نه و ه مقترنه نو دا كلمه اسم ده ديوه مقسم اقسام پخپل مينځ كي نه سره جمع كيږي:

ديوه مقسم اقسام دبل مقسم د اقسامو سره جمع كيږى، مثال كلمه درې قسمه ده اسم فعل حرف: په بل تقسيم كلمه دوه قسمه ده معرب مبني په بل تقسيم كلمه دوه قمسه ده مذكر مونث اوس داسي كيداى سي چي كلمه دي هم اسم وي هم معرب هم مذكر داسي نسي كيدا چي كلمه دي هم معرب وي هم مبني :

واقسام النظم والمعنى (اي تقسيمات النظَم والمعنى) فيما يرجع الى معرفة احكام الشرع اربعة:

ټول شل (٢٠) اقسام دي: داول تقسيم څلور اقسام دي ١- خاص ٢- عام ٣- مشترك ٤- مؤل:

ددوهم تقسيم اقسام څلور دي ١- ظاهر ٢- نص ٣- مفسر ٤- محكم:

دديم څلور متقابلات دي ١- خفي ٢- مشكل ٣- مجمل ٤- متشابه:

ددريم تقسيم اقسام څلور دي ١- حقيقة ٢- مجاز ٣- صريح ٤- كنايه:

دڅلورم تقسيم اقسام څلور دي ١- عبارة النص ٢- اشارة النص ٣- دلالة النص ٤- اقتضاء النص ديو ه مقسم اقسام پخپل مينځ كي نه سره جمع كيږي ، ديوه مقسم اقسام دبل مقسم داقسامو سره جمع كيږي مثلا يو ځاى به راسي هم به خاص وي هم به ظاهر وي هم به حقيقة وي.

داشل (٢٠) اقسام يوازى دنظم دي كه دمعنا دي كه ددواړو دي نو دلته شپږ (٦) مذاهب دي اول مذهب وايي داشل سره اقسام دنظم دي، دوهم مذهب وايي داشل سره اقسام دمعنا

دي دريم مذهب وايى داولو درو تقسيماتو اقسام دنظم دي دڅلورم تقسيم اقسام دمعنا دي.

څلورم مذهب وايي دلالة النص اقتضاء النص دا اقسام دمعنادي دانور ټول اقسام دلفظ دي پنځم مذهب وايي داټول اقسام دنظم دي داسي نظم چي دال به وي پر معنا باندي شپږم مذهب وايي داشل (٢٠) سره اقسام دنظم او معنی ګډ دي؛ خو نظم من حيث الدال معنی من حيث المدلول دا مذهب مختاره دئ :

فيما يرجع الى معرفة احكام الشرع :

داعبارت لګول يو څه مشكل دي تقسيمات دنظم او معنی دقران په كومه حصه كي كيږي قران ډيري حصې دئ احكام يوه حصه ده دقران امثال بله حصه او وعدبله حصه وعيد بله حصه ددې څخه ماسيوا نور تقسيمات دنظم اود معنی فيما : په هغه حصه كي يرجع: چي مستدل رجوع كوي اليه: وهغې حصې ته في معرفة احكام الشرع په معرفت كي داحكامو دشرعي دا تقسيمات څلور دي فيما يرجع الى معرفة احكام الشرع دا عبارت يو څه سخت دي داله دي وجي چي مصنف په نحو كي يو څه كمزوري دئ هغه كمزوري داده په يرجع كي ضمير دئ راجع دئ ومستدل ته مستدل مخته ذكر نه دئ نو اضمار قبل الذكر راغلی اضمار قبل الذكر ناروا دئ سيوا ديو ځو ځايو .

فيما لفظ ماموصوله يرجع فعل ضمير په يرجع كی چي راجع دئ ومستدل ته هغه فاعل.

فائده: كله كله دود ځايه متصل جار مجرور وي عرب راولاړ سي داول جار او مجررو څخه مجرور حذف كړي ددوهم جار او مجرور څخه جار حذف كړي لكه دلته دا عبارت اصلا داسي دئ فيما يرجع اى المستدل اليه في معرفة احكام الشرع : دلته داليه څخه ضمير حذف سو نو الی پاته سو دفي معرفة احكام الشرع څخه في حذف سوه پاته سو عبارت فيما يرجع الى معرفة احكام الشرع :

تقسيمات دنظم او معنی څلور دي وجه دحصر په څلورو كي دايو لفظ دئ كه دلفظ دمعنی خوا درنه وه يعني دمعنی خواته ډير كتل كيده نو دا څلورم قسم (عبارة النص اشارة لنص

دلالة النص اقتضاء النص) دئ که د کلمې دلفظ خوا درنه وه يعني دلفظ خواته ډير کتل کيده نو دا به خالي نه وي يا به دده څخه بحث کيږي من حيث الاستعمال يابه دده څخه بحث نه کيږي من حيث الاستعمال که دکلمې دلفظ څخه من حيث الاستعمال بحث کيدی نو دا دريم قسم (حقيقة مجاز صريح کنايه) دئ که دکلمې دلفظ څخه من حيث الاستعمال بحث نه کيدی نو بيا ورته ګورو دظهور او خفاء حيثيت سته که نه که دظهور او خفاء حيثيت نه سته نو اول قسم (خاص عام مشترک مؤول)دئ.

نهم سبق

الاول فی وجوه النظم والمعنی صيغة ولغة :

دعبارت ترجمه : تقسيم اول ثابت دئ په طروقو دنظم کي په اعتبار دصيغې اولغت:

تشريح: دصيغي تعريف هي هيئة عارضة للفظ باعتبار الحرکات والسکنات وتقديم بعض الحروف علی البعض صيغه دايو هيئت دئ داسی هيئت چي عارض به وي ولفظ ته په اعتبار دحرکاتو اوسکناتو په دې اعتبار چي بعض حروف به مقدم وي پر بعضو باندي لکه يضرب دلغت تعريف هي اللفظ الموضوع دلته مراد دلغت څخه ماده د ه ديضرب ماده (ض ر ب) ده .

لغت عام دئ صيغي او مادې ته خو دلته مراد دلغت څخه ماده ده : ځکه لغت دصيغې په مقابل کي ذکر دئ مراد د هيئة او مادې څخه وضع ده خلاصه دا که چيري دنظم څخه بحث کيدی په اعتبار دوضعي نو داتقسيم اول دئ .

وهي اربعة :

طرق دنظم څلور دي خاص عام مشترک مؤول .

وجه دحصر دالفظ دئ دا لفظ ديوې معنی دپاره وضع سوی که دډيرو معنا ګانو دپارد که ديوې معني دپاره وضع سوی وو بيا ورته ګورو نفريې يو دئ که ډير دي که يې نفريو وو نو

داخاص دئ که يې نفر ډير وو نو داعام دئ: که يو لفظ دډيرو معنا ګانو دپاره وضع سوې وو ، بيا ورته ګورو يوې معنى ته پر بلي ترجيح ورکول سوي که نه که ترجيح نه وه ورکول سوي نو مشترک دئ که ترجيح ورکول سوي وه نو مؤول دئ .

الخاص كل لفظ وضع لمعني معلوم على الانفراد او كل اسم وضع لمسمي معلوم على الانفراد :

دعبارت ترجمه: خاص دايو لفظ دئ داسي لفظ چي وضع کړي سوي به وي دمعني دپاره داسي معنى چي معلومه به وي پر طريقه دانفراد باندي يا خاص اسم دئ داسي اسم چي وضع کړل سوي به وي دپاره دمسمي داسي مسمي چي معلوم به وي پر طريقه دانفراد :

تشريح: تعريف وي دماهيت او حقيقت تعريف دافرادو نه وي ځکه افراد تغير منضبط دي يعني دافرادو استعاب نه کيږي.

سوال: مصنفه تا دخاص په تعريف کي کل راوړي کل په تعريف کي مستنکر دئ شنيع دي ځکه تعريف دماهيت وي تعريف دافرادو نه وي ؟

جواب: کل په تعريف کي مستنکر دئ په اصطلاح د اهل منطقو باندي ځکه کل وي دپاره داحاطى دافرادو کل متکلم يتکلم باصطلاحه ولا مشاحة فى الاصطلاح هر متکلم پخپله اصطلاح بغيرې دمنطقو په اصطلاح کل په تعريف کي مستنکر دئ ځکه کل ددوي په اصطلاح باندي دپاره داحاطي دافرادو وي داصولينو په اصطلاح باندي کل دپاره داستطراد وي يعني کل ددې دپاره وي چي داتعريف جامع او مانع دئ :

په هر تعريف کي لابدي ده دجنس اوفصل څخه ، لفظ پر دوه قسمه دئ ، مستعمل لکه زيد غير مستعمل لکه ديز چي لفظ وويل سو نو په لفظ کي مستعمل او غير مستعمل دواړه را داخل سول يعني لفظ جنس دئ .

وضع: په وضع قيد سره مهملات ووتل :

لمعنی ای لجنس المعنی جنس معنی شاملیږي وهغه چاته چي وضع سوي وي ددوو معناګانو دپاره یا دزیاتو معناګانو دپاره نو مشترک دمعنی په قیدسره نه خارجیږی مشترک عام داداواړه خارجیږي دانفراد په قید سره دمعنی معلوم په قید سره مجمل ووتی ځکه مجمل وسامع ته نه دئ معلوم که څه هم مجمل معلوم دئ و واضع ته شارح محقق معنی حمل کړي پرمعنی واحده باندي امام فخر الاسلام معنی مقید کړي پرواحد باندي نو دمعنی په قید سره مشترک ووتی :

معلوم: معلوم پر دوه قسمه دئ معلوم البیان معلوم المراد ، معلوم البیان چي معنی یې معلومه وي معلوم المراد چي مراد یې معلوم وي که دمعلوم څخه معلوم البیان واخلې نو بیا دمعلوم په قید سره مشترک نه خارجیږي که دمعلوم څخه معلوم المراد واخلې نو بیا دمعلوم په قید سره مشترک خارجیږي ځکه دمشترک مراد معلوم نه دئ :

که دمعلوم څخه معلوم البیان واخلې نو بیا دمعلوم په قید سره مشترک نه خارجیږي نو بیا به مشترک خارجیږي دعلي الانفراد په قید سره ځکه په مشترک کي انفراد نسته په مشترک کي تعدد دئ.

دعلی الانفراد په قید سره عام ووتي ځکه په عام کي انفراد نسته په عام کي شمول دئ.

لسم سبق

فائده: خاص پر دري قسمه دئ ۱-خصوص الجنس ۲-خصوص النوع ۳-خصوص الفرد :

اول خصوص الجنس دیته وایي چي یو کلمه دجنس ترمفهومه پوري خاص وي که څه هم تر ده لاندي نور افراد وي مثال لکه انسان دانسان مفهوم حیوان ناطق دئ.

دوهم خصوص النوع دیته وایي چي یو کلمه دنوعي تر مفهومه پوري خاص وي لکه رجل

دریم خصوص الفرد دیته وایي چي یوه کلمه پرمسمي شخص معین دلالت وکړي لکه زید

فائده: دمنطقيانو او داصوليينو دجنس دمنطقيانو او داصولينو دنوعي څه فرق دئ، نو ته به ووايي چې فرق يې دادئ منطقيان دحقائقو څخه بحث كوي، اصوليين داغراضو څخه بحث كوي منطقيان دجنس تعريف داسي كوي كلې مقول على كثيرين مختلفين بالحقائق مثال لكه حيوان، حيوان جنس دئ انسان فرس حمار مثلا دايې افراد دي.

اوس حيوان يو كلي دي داسي كلي چي حمل كيږي پر ډيرو (انسان فرس حمار) باندي داسي ډير چي حقيقتونه يې مختلف دي، اصوليين دجنس تعريف داسي كوي كلي مقول على كثرين مختلفين بالاغراض مثال لكه انسان، انسان داصوليينو په نيز باندي جنس دي، سړي ښځه ليوني كوچني مثلا دايي افراد دي، انسان دايو كلي دئ داسي كلي چي حمل كيږي پر ډيرو باندي داسي ډير چي اغراض يې مختلف دي.

دسړي غرض دادئ پاچا جوړيداي سی امام دجمعي او داختر و دلمانځه جوړيداى سي داسي نور كارونه را واخله ښځه امامه نسي جوړيداى پاچا نسي جوړيداى ښځه به مستفرشه وي اولاد به راوړي يعني دكور امور به پر ځاى كوي دليوني خپل اغراض دي دكوچني خپل اغراض دي.

منطقيان دنوعي تعريف داسي كوي كلي مقول على كثيرين متفقين بالحقائق مثال لكه انسان، انسان نوع ده دمنطقيانو زيد بكر خالد دايي افراد دي انسان پرټولو باندي (زيد بكر خالد) حمل كيږي خو دټولو حقائق متفق دي اصوليين دنوعي تعريف داسي كوي كلي مقول على كثيرين متفقين بالاغراض مثال لكه رجل دمنطقيانو نوعه داصوليينو جنس دئ دمنطقيانو صنف داصوليينو نوع ده.

خاص درې قسمه وو خو په دادرو كي زورور قسم دخاص خصوص الفرد دئ وديته اخص الخواص هم وايي ځكه په دې قسم كی دتعدد مطلقا احتمال نسته لكه زيد، زيد من كل وجوه خاص دئ پاته انسان اورجل دادواړه دمفهوم په اعتبار انفراد پكښې دئ دمصداق په اعتبار انفراد پكښي نسته.

سوال: مصنفه تاته خير دئ چي ته دخاص دوه تعريفونه كوي.

جواب: ما دخاص دوه تعريفونه ځکه وکړه چي اول تعريف ودادرو ۳- اقسامو ته شامل دي دوهم ۲- تعريف يوازي يوازي دخصوص الفرد دي يعني مادلته تخصيص بعد التعميم کړي تخصيص بعد التعميم پر عظمت او شرافت باندي دلالت کوي .

ددې پار ه په قران کريم دوه نور مثالونه واوره ﴿مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِلّٰهِ وَمَلٰئِكَتِهٖ وَرُسُلِهٖ وَجِبْرِيْلَ وَمِيْكَالَ فَاِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ لِّلْكٰفِرِيْنَ . الاية

﴿يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوْا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ : الاية

مصنف چي کل لفظ وويلي نو معلومه سوه چي دا تعريف اسم فعل حرف دادرو ته شامل دئ مصنف چي کل اسم وويلي نو معلومه سوه چي دا تعريف يوازي دا اسم دئ .

سوال: : مصنفه مخته تا دنظم توري ويلي اوس دخاص په تعريف کي تا لفظ وايو داولي ؟

جواب: مخته ما دنظم توري وويلي نومي رعايت دادب کړي ځکه نظم وايي ادخال اللؤلؤ في السلک : لکه ملغلري چي څنګه ښايسته او صفا دي نو دقران کلمات هم دار رکم ښايسته او صفا دي پاته سو لفظ . لفظ رمي (ويشتل) ته وايي که ما هلته لفظ ويلي واى نو به بې ادبي راغلى واى پاته سو دخاص په تعريف کي چي ما لفظ وويلي نو داځکه خاص يوازي تر قران مجيد پوري خاص نه دئ.

خاص په مطلقا عربيت کي راځي او زما مراد مطلقا خاص دئ .

دخاص علامات

اوله علامه دخاص: هر ځاى که علم راغلى وو نو دا خاص دئ دوهمه علامه دخاص هر ځاى که تثنيه راغلى وه نو دا خاص دئ دريمه علامه دخاص هر ځاى که عدد راغلى وو نو دا خاص دئ څلورمه علامه دخاص هر ځاى که امر راغلى وو نو دا خاص دئ پنځمه

علامه دخاص هرځای کهنهي راغلی وه نو دا خاص دئ، شپږمه علامه دخاص که مصدر راغلی وو نو دا خاص دئ او اومه علامه دخاص: هرځای که اسم فاعل راغلی وو نو دا خاص دئ اتمه علامه دخاص هرځای که اسم مفعول راغلی وو نو دا خاص دئ په مصدر اسم فاعل اسم مفعول کي شرط دادئ چي نکره تحت النفی والنهي به نه وي نهمه علامه دخاص و هر ځای که نکره تحت الاثبات راغله نو داخاص دئ لسمه علامه دخاص : هرځای که الف لام عهد خارجي راغلی وو نو دا خاص دئ که اضافت عهد خارجي وو نو دا خاص دئ که مصول عهد خارجي وو نو دا خاص دئ :

دخاص دا جراء دپاره دقران مجید یو څو مثالونه لنډه کتنه تاسو به پخپله دخاص تعریف پر مثال تطبیق کوي :

دلته به دخاص تعریف پریو څو مثالو تطبیق کړو :

اجراء الخاص

مثال	خاص	علامه
وَارْكَعُوْا مَعَ الرَّاكِعِيْنَ (البقره ۴۲)	(رکوع)	(امر)

تشريح: رکوع اسم خاص دئ ځکه داوضع سوي دئ دمعني معلوم دپاره على الانفراد هغه معني معلومه داده الميلان عن الاستواء :

مثال	خاص	علامه
وَالْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ (الحج ۲۹)	(الطواف)	(امر)

تشريح: طواف یوفعل خاص دئ ځکه داوضع سوی دئ دمعنی معلوم دپاره على الانفراد هغه معني معلومه داده الدوران حول البيت :

مثال	خاص	علامه
فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ (المائدة ۶)	(غسل)	(امر)

تشريح: اية پر دې باندي دلالت کوي چي اودس غسل دي او غسل يو لفظ دئ وضع سوي دئ دمعنى معلوم دپاره هغه معني معلومه داده الاسالة (تو يول داوبو)

وَامْسَحُوْا بِرُؤُسِكُمْ (المائده ۶) مسح) (امر)

تشريح اية پر دې باندي دلالت کوي چي اودس مسحه ده مسحه يو لفظ خاص دئ وضع سوى دئ دمعني معلومي دپاه هغه معنى معلومه داده الاصابة (تيرول دلاس پرسر)

فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ (البقره ٢٢٠) (حتى)

تشريح: دلته حتى خاص ده وضع سوى ده د معني معلوم دپاره هغه معنى معلومه داده غايه نهايه :

فَلَا تَحِلُّ لَهُ (البقره ٢٢٠) (لفظ فاء)

تشريح:دلته فاء خاص ده دمعني معلومي دپاره هغه معني معلومه داده الوصول والتعقيب :

اَلطَّلَاقُ مَرَّتَانِ (البقره ٢٢٩) (مرتان) تثنيه)

ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ (الملک ۴) (كرتين) (تثينه)

وَجَاءَتْ سَيَّارَةٌ (يوسف ١٩) (سياره) نكره تحت الاثبات

تشريح :سياره خاص ده سياره معنى قافله :

وَلَا تَقْتُلُوا اَوْلَادَكُمْ مِنْ اِمْلَاقٍ (الانعام ١٥١) (القرب) (نهي)

وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ (الانعام ١٥١) (القرب) (نهي)

خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ (التوبه ١٠٣) (الاخذ) (امر)

اَلْمِصْبَاحُ فِيْ زُجَاجَةٍ (النور ٣٩) (المصباح) (الف لام عهد خارجي)

تشريح: په المصباح كي الف لام عهد خارجي دئ معهود په ده سره مخكني مصباح دئ :

اَلزُّجَاجَةُ كَاَنَّهَا (النور ٣٩) (الزجاجه) (الفلام عهد خارجي)

تشريح: په الزجاجة كي الف لام عهد خارجي دئ معهود به ده سره مخكني زجاجة ده :

بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ (البقره ٢٣٧) (النكاح) الف لام عهد خارجي

تشريح: په النكاح كي الف لام عهد خارجي دئ معهود په ده سره لا تعزموا عقدة النكاح ده :

حَافِظُوْا عَلَى الصَّلَوَاتِ (البقره ٢٢٩) (الصلوة) (الف لام عهد خارجي)

تشريح: په الصلوات كي الف لام عهد خارجي دئ معهود په ده سره الصلوة الخمس دئ.

وَالصَّلٰوة الوسطٰى (البقره ٢٢٩) الفلام عهد خارجي)

تشريح: په الصلوة كي الف لام عهد خارجي دئ معهود په ده سره صلوة العصر دئ حكه دا معلومه دئ ومخاطب اول ته چي هغه نبي عليه السلام دئ :

فائده: خاص پر څلور قسمه دئ ١- خصوص الجنس ٢-خصوص النوع ٣- خصوص الفرد ۴- خصوص العدد :

مثال	خاص	علامه	قسم
فعصى فرعون الرسول (المزمل ١۶)	(الرسول)	(الف لام عهد)	(خصوص الفرد)

تشريح: په الرسول کي الف لام عهد خارجي دئ معهود په دغه سره موسى عليه السلام دئ موسى عليه السلام خصوص الفرد دئ ځکه موسى عليه السلام اسم دئ ديو ذات مشخص متعين دپاره وضع سوي.

فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ (المائدة ٢٣۴)	(اربعة)	(عدد)	خصوص العدم
بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ (البقره ٢٣۴)	(ثلثة)	(عدد)	خصول العدم
بِاَنْفُسِهِنَّ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا (البقره ٢٣۴)	(اربعه)	(عدد)	خصوص العدم
قال عليه الصلوة والسلام فى كل اربعين شاة شاةٌ	(اربعين)	(عدد)	خصوص العدم
فى كل فرس صائمة دينارا وعشر دراهم	(عشر دراهم	(عدد)	خصوص العدم
وَلَا تَأْكُلُوْا اَمْوَالَهُمْ اِلٰى اَمْوَالِكُمْ (النساء ٢)	(اكل اموال اليتامى)		خصوص الجنس

تشريح: ديتيم مال خوړل ډير اغراض لري يوغرض يې دادئ کله کله سړي ديتم مال خوري صرف ګيده به ډکوي بل غرض يې دادئ:

ديتيم په مال ښه موټر رانيول بل غرض يې دادئ ديتيم په مال ښه جايدا رانيول بل غرض يې دادئ ديتيم مال په دوکه باندي خوړل همداسي نور اغراض:

اَلَّذِيْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ (ال عمران ١٧٣)	(الناس)	(الف لام عهد)	(خصوص الفرد

تشريح:په الناس كي الف لام عهد خارجي دئ معهودپه ده سره نعيم بن مسعود الاشجعي.

قَدْ عَلِمْنَا مَافَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِيْ اَزْوَاجِهِمْ(الاحزاب ٥٠) (فرضنا)

تشريح:لفظ دفرضنا په معنى دقدرنا خاص دئ په تقديرشرعي كي يعني شرعي مقدار دمهر اندازه كړي معين كړي خو دغه اندازه دمهر په جانب داقل كي .

اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدِاللهِ اَتْقَاكُمْ (حجرات ١٣) (اتقى) خصوص الجنس

تشريح: داتقي لفظ نراو ښځي دواړو ته شامل دئ نو لفظ داتقي خاص الجنس دئ.

لَنْ يَخْلُقُوْا ذُبَابًا((حج٢٩) (ذبابا) خصوص الجنس

تشريح: ذباب خاص النوع ده تر ده لاندي چي ځومره افراد دي دټولو حقيقت ا غراض يو دي.

وَالْيَطَّوَّفُوْا بِالْبَيْتِ العَتِيْقِ (الحج ٢٩) (طواف) خصوص الجنس

تشريح:طواف خاص الجنس دئ دطواف افراد نران او ښځي د ي اغراض يې مختلف دي.

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ (الفتح ٢٩) (محمد) خصوص الفرد

اِنِّيْ رَأَيْتُ اَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا (يوسف ۴) (احد عشر) خصوص العدد

فائده: فعل خصوص الجنس خصوص النوع جوړيږي په اعتبار دمصدر

يوولسم سبق

والعام كل لفظ ينتظم جمعا من المسميات لفظا او معنى :

دعبارت ترجمه: عام هر هغه لفظ دئ داسي لفظ چي شامليږي به وټولي ته داسي ټولي چي هغه به وي دافرادو څخه بيا دا عام که صيغوي وي لکه مسلمون که معنوي وي لکه من ما :

تشريح: لفظ: مراد دلفظ څخه لفظ موضوع دئ ځکه هر مقسم پخپلو اقسامو کي موجود وي لکه کلمه مقسمه ده اسم فعل حرف دايي اقسام دي دلته کلمه په هر قسم کي جلاجلا موجوده ده هر کله چي دلفظ څخه لفظ موضوع مراد وو نو دلفظ په قيد سره مهملات ووتل.

فائده: عموم عوارض دالفاظو دي نه دمعناګانو يعني عموم صفت دلفظ دئ صفت دمعناګانو نه دئ.

تخصيص دلفظ په ذکر باندي دا اشاره ده وديته چي عموم من عوارض الالفاظ دون المعاني :

ينتظم: ينتظم معنى يشتمل ديشتمل معنى په پښتو کي راټولول.

فائده: اشتمال پرد وه قسمه دئ، اشتمال انتظامي، اشتمال بدلي اول اشتمال انتظامي دئ اشتمال انتظامي وديته وايي دا لفظ دئ مثلا دايي معنى کلي ده مثلا دايي افراد دي خو دغه معنى کلي به په ټولو افرادو کي لحاظ او معتبر وي اوس ته دلفظ څخه ټول افراد واخله په يوه وارسره دلحاظه دمعنى کلي په ټولو افرادو کي مثال لکه مسلمون، په مسلمون کي اسلام دئ اسلام معنى کلي ده په ټولو افرادو کي لحاظ ده اوس ته دمسلمون په صيغه باندي ټول افراد په يوه وار واخله سره دلحاظه دمعنى کلي په عربي باندي يې تعريف دادئ صدق اللفظ على امور متکثرة متعددة دفعة واحدة مع اعتبار المعنى الكلي في الكل.

دوهم اشتمال بدلی: اشتمال بدلي ديته وايي چي داركم نه وي لكه اشتمال انتظامي يعني اشتمال بدلي ديته وايی چي لفظ به صادق وي پر امور كثيره باندي پر طريقه دبدليت باندي غير دوجوده دمعنی كلي په ټولو كي مثال لكه عين دعين ډيري معناګاني دي لكه چينه، لمر، فضه جاسوس داسي نور هم، لفظ دعين پرټولو باندي علی السويه صادقيږي پر طريقي دبدليت داشتمال بدلي تعريف په عربي كی داده صدق اللفظ علی امور كثيرة نو بة په نوبة من غير وجودلامعني الكلي فی الكل:

فائده: اشتمال انتظامی دفعة (په يو وار) وي اشتمال بدلي نوبت بنوبت وي دلته مراد داشتمال څخه اشتمال انتظامي دئ.

نوپه ينتظم سره مشترک خاص ووتی ځكه مشترک دهري معني احتمال لري علی سبيل البدل.

خروج دخاص ظاهر دئ ځكه په خاص كي انفراد دئ شمول نسته وټولي ته، جمعا: په جمعا قيد سره تثنيه ووته ځكه تثنيه ودوو ته شمول كوي وټولي ته شمول نه كوي.

من المسميات: په المسميات سره اسماء اعدادوو ته ځكه تر غدد لاندي اجزاي دئ يعني دعدد نفر جزئيات دي:

تر عام لاندي افراد وي دجزئياتو او افراد، فرق دادئ مأة (١٠٠) دمأة سل نفره دي داسل نفره دمأة اجزاء دي افراد يې نه دي دسلو نفرو څخه چي يو كم سي بيا مأة نه ورته ويل كيږي بيا تسع وتسعون ورته ويل كيږی.

مسلمون، دمسلمون سل نفره دي فرضا داسل نفره دمسلمون افراد دي اجزاء يې نه دي: دسلو نفرو څخه يو کم كړي بيا هم مسملون ورته ويل كيږي عدد چي مأة دي دا مأة دخپلو اجزاء دپاره كل دئ، عام كلي وي تر ده لاندي نفر افراد وي دكل او كلي ډير فرق سته.

فائده: فرق دكل او كلي، اجزاء دكل په جوړيدو كي دخل لري لكه سكنجبين جوړ دئ دماء خل عسل څخه افراد دكلي په جوړيدو كی دخل نه لري كل پر خپلو اجزاء نه حمل كيږي، كلي

پر خپلو افرادو باندي حمل کيږي په انتفاء داجزاء سره انتفاء دکل راځي په انتفاء دافرادو سره انتفاء دکلي نه راځي.

لفظا او معنى: لفظا او معنى دا دواړه تفسير دي دانتظام، عام پر دوه قسمه دي١- لفظي ٢- معنوي والعام لفظي اوعام لفظي دئ، عام لفظي ديته وايي چي په اعتبار دصيغي سره دلالت کوي پر شمول باندي لکه صيغي دجمعې مثال لکه مسلمون مشرکون.

دوهم عام معنوي دئ: عام معنوي ديته وايي چي په ده کي شمول دي په اعتبار د معنى نه په اعتبار د صيغي مثال من ما قوم رهط دا خلور سره کلمات عام دي من حيث المعنى.

په عام کي دوه مذهبه دي يو مذهب دفخر الاسلام بعض المشائخ دي يو مذهب دصاحب التوضيح دئ، مصنف دفخر الاسلام بعض المشائخ تابع دي ، علامه فخر الاسلام بعض المشايخ وايي په عام کي به شمول وي خو استغراق استيعاب په عام کي شرط نه دي يعني په عام کي دا شرط نسته چي ټول افراد به راکښي باسي، صاحب التوضيح وايي په عام کي استغراق استيعاب شرط دي، ددې دواړو مذاهبو اختلاف ښکاره کيږي په جمعه منکره کي مثال رِجَالٌ رجال پر يوه سړي باندي نه صادقيږي رجال پر دوو سړو باندي نه صادقيږي نو په رجالٌ کي استغراق نسته ځکه رجال يوه ته دوو ته نه شامليږي درو ته يا زيا ت تر درو ته شامليږي پاته سوه جمعه معرفه لکه الرجال قانون دادي الف لام چي پر جمع باندي داخل سي نو جمعيت باطل کړي جنس يې جوړ کړي نو چي جمعيت باطل سو جنس جوړ سو اوس نو پر يوه باندي پر دوو باندي پر درو باندي پر هر څو باندي صادقيږي په جمعه معرفه کي استغراق استيعاب سته په جمعه منکره کي استغراق استيعاب نسته.

دفخر الاسلام بعض المشايخ په نزد باندي جمعه معرفه جمعه منکره دواړه عام دي ځکه ددوى په نزد باندي په عام کي استغراق شرط نه دي، مصنف ددوي تابع دئ ځکه يې دعام په تعريف کي دا استغراق قيدونه لګوي.

دصاحب التوضيح په نيز باندي جمعه معرفه عامه ده ځکه په جمعه معرفه کي استغراق ښته دصاحب التوضيح په نزد باندي جمعه منکره په عام کي داخله نه ده ځکه په جمعه منکره کي

استغراق نسته اوس که ته سوال وکړي پر صاحب التوضيح باندي چي جمعه منکره عام نه ده نو خاص هم نه د ه نو جمع منکره څه شي ده نو دی وايي جمعه منکر ه واسطه ده دخاص او عام په مينځ کي نو ګوره صاحب التوضيح دواسطي قائل سو فخر الاسلام بعض المشايخ دواسطي قائله نه دي ځکه دوي مطلقا جمعه عامه بولي :

فائده: جمعه معرفه دټولو علماء په نيز عامه ده جمع منکره دفخر الاسلام بعض المشايخ په نيز باندي په عام کي داخل ه ده، دصاحب التوضيح په نيز باندي جمع منکره په عام کي داخله نه ده .

فائده: علامات دخاص وهر ځای که علم راغلی نو داعلم خاص دي مثال زيد هرځای که تثنيه راغله نو دا خاص ده مثال رجلين هرځای که عدد راغلی نو عدد خاص دئ مثلا ثلثة :

دعام علامات

اوله علامه دعام: هر ځای که کل افرادي راغلی بس دا عام دئ دوهمه علامه دعام: هر ځای که لفظ دجميع راغلی بس دا عام دئ دريمه علاه دعام: هر ځا که جمعه معرفه په الف لام استغرافي راغله بس دا عام دئ:

څلورمه علامه دعام : هرځای که جمعه معرفه په اضافت سره وه بس دا عام دئ:

پنځمه علامه دعام: هرځای که مفرد معرفه په الف لام استغراقي سره ووبس دا عام دئ:

شپږمه علامه دعام: اسماء موصولات:

اومه علامه دعام: اسماء الشرط:

اتمه علامه دعام: اسماء الاستفهام :

نهمه علامه دعام: نکره تحت النفي والنهي :

لسمه علامه دعام نکره تحت الاثبات چي واقع سي په سياق کي دشرط :

يولسمه علامه دعام نكره تحت الاثبات پرعموم باندي دلالت كوي چي يو قرينه وي:

دولسمه علامه دعام: نكره تحت الاستفهام :

ديارلسمه علامه دعام : نكره چي موصوفه وي په صفت عامه سره بله علامه لفظ دقاطبه او بله علامه لفظ دعاما بله علامه دعام لفظ دكافة څوارلسمه علامه هر ځای كه مفرد مضاف وو او اضافت استغراقي وو بس دا عام دئ:

پنځلسمه علامه دعام: لفظ معشَر او معشِر دا عام دئ:

فائده كه په لفظ كي انتظام او شمول وو په لفظ كي يو داسي شي وو چي ټول افراد يې راكښي ايستل وديته عام وايي مثال لكه الانسان مسلمون په الانسان كي الف لام دال دئ پر ټولو افرادو په مسلمون كي واو او نون دال دي پر افرادو كه په لفظ كي يو داسي شی نه وو چي دال على الافراد وي وديته خاص وايي مثلا لكه انسان په انسان كي يو داسي شی نسته چي ټول افراد راكښي باسي كه څه هم په ده كي تعدد دافرادو وي :

اجراء العام

مثال	عام	علامه	قسم
كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ (الطور۲۱)	(كل امرئ)	(كل افرادي)	(لفظي)
وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ (البقره۲۳۳)	(والوالدات)	(جمعه معرفه به الف اللام استغراقي)	(لفظي
لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ)(النساء۷)	(للرجال)	(// //)	(//)
وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ(البقرة ۲۲۸)	(والمطلاقات)	(// //)	(//)

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ اُمَّهٰتُكُمْ (النساء ۲۳) (امهتكم) (جمعه معرفه په اضافت) (//)

خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً) التوبه ۱۰۳) (اموالهم) (// //) (//)

يُوْصِيْكُمُ اللهُ فِيْ اَوْلَادِكُمْ (النساء ۱۱) (اولادكم) (// //) (//)

اِنَّ الاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ (العصر ۲) (الانسان) (مفردمعرفه په الف اللام استغراقي) . (//)

اِنَّ الاِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوْعًا (المعارج ۱۹) (الانسان) (// //) (//)

وَخُلِقَ الاِنْسَانُ ضَعِيْفًا (النساء ۲۸) (الانسان) (// //) (//)

وَاَحَلَّ اللهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا(البقره ۲۷۵) (البيع) (// //) (//)

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا اَيْدِيَهُمَا)(المائدة (الساقة والسارقة) (// (//)

اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا)(النور ۲) (الزانية والزاني)(//) (//)

وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَتَ اللهِ لَاتُحْصُوْهَا(ابراهيم ۳۴) (نعمت الله) (مفرد معرفه په اضافت) (//)

هُوَالطَّهُوْرُ مَاءُهُ وَالحِلُّ مَيْتَتُهُ (الحديث) (ميتته) (// //)(//)

اِنَّ الَّذِيْنَ يَأْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى)(النساء ۲۴) (الذين) (موصول) (لفظي)

وَاُحِلَّ لَكُمْ مَاوَرَاءَ ذٰلِكُمْ(النساء ۲۴) (لفظ ما) (موصول) (معنوي)

مَاعِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَاعِنْدَ اللهِ بَاقٍ)(النحل ۹۶) (لفظ ما - ما) (//) (//)

مَنْ ذَاالَّذِیْ یُقْرِضُ اللّٰهَ (البقره ۲۴۵) (من ذا) (استفهام) (معنوي)

مَنْ ذَاالَّذِیْ یَشْفَعُ (البقره۲۴۵) (من ذا) (//) (معنوي)

مَنْ ذَاالَّذِیْ یُقْرِضُ اللّٰهَ (الحديد ۱۱) (من ذا) (استفهام) (معنوي)

فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ (البقره ۱۸۵) (من) (شرط) معنوي)

وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ يَّعْلَمْهُ اللّٰهُ (البقره ۱۹۷) (ما) (//) (//)

وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا (النساء ۹۳) (من) (//) (//)

فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ (الزلزله ۷) (من) (//) (//)

وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ (الزلزله ۸) (من) (//) (//)

اَيْنَمَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُمُ الْمَوْتُ (النساء ۷۸) (اين) (//) (//)

وَلَا تُصَلِّ عَلٰى اَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ اَبَدًا (التوبة ۸۴) (احد) (نكره تحت النهى) عام جازي)

وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ اَحَدًا (الكهف ۴۹) (احد) (نكره تحت النفي) (//)

فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا اُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ (السجدة ۱۷) (نفس) (//) (//)

هَلْ تَعْلَمُ لَهُ سَمِيًّا (مريم ۶۵) (سميا) (نكره تحت الاستفهام (//)

وَاِنْ اَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ (التوبة ۶) (احد) (نكره تحت الشرط) (//)

فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ اَحَدًا(مريم ٢٦)	(احد)	(//	)	(//)
وَسَيَعْلَمُ الْكُفَّارُ (الرعد ٤٢)	(الكفار)	(الف اللام استغراقي)		(لفظي)
وَيَقُوْلُ الْكَافِرُ (النبأ ٤٠)	(الكافر)	(الف اللام استغراقي)		(//)
وَإِذْ اَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّيْنَ مِيْثَاقَهُمْ (الاحزاب ٧)	(النبيين)	(//	)	(//)
هَذَا كِتَابُنَا يَنْطِقُ عَلَيْكُمْ بِالْحَقِّ (الجاثيه ٢٩)	(كتابنا)	(مفرد مستغرق مضاف)		(//)
وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ (البقره ١٩٧)	(حيث)	(شرط)		(معنوي)
فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ (بني اسرائل ٢٣)	(اف)	(نكره تحت النهي)		(عام مجازي)
فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللهِ اَحَدًا (الجن ١٨)	(احد)	(//	)	(//)
وَلَا أُشْرِكُ بِهِ اَحَدًا (الجن ٢٠)	(احد)	(نكره تحت النفي)		(//)
لَنْ يُجِيْرَنِيْ مِنَ اللهِ اَحَدٌ (الجن ٢٢)	(احد)	(//	)	(//)
وَلَنْ اَجِدَ مِنْ دُوْنِهِ مُلْتَحَدًا (الجن ٢٢)	(ملتحدا)	(//	)	(//)

دوولسم سبق

وحكمه انه يوجب الحكم فيما تناوله قطعا ويقينا كالخاص فيما تناوله :

دعبارت ترجمه: اثر مرتب دعام دادئ چي عام حكم شرعي ثابتوي په ټول هغه افرادو كي چي عام ورته شامليږي قطعا يقينا لكه خاص چي حكم شرعي ثابتوي په هغه چا كي چي دى ورته شامل وي قطعا يقينا :

تشريح: وحكمه: حكم په څو معنا ګانو سره راځي، اوله معني دحكم : خطاب الله تعالى المتعلق بافعال المكلفين بالاقتضاء وهو الحكم عند الاصوليين :

دوهمه معنى دحكم: ادراك ان النسبة واقعة او غير واقعة :

دريمه معنى دحكم: اسناد امر الى اخر ايجابا او سلبا وهما الحكم عند المنطقيين :

څلورمه معنى دحكم: الاثر المرتب على الشئ وهو الحكم عند النحويين دحكم نوري معنا ګاني هم سته :

دلته مراد دحكم څخه الاثر المرتب على الشئ دئ.

فائده: په اصولو کي چي حكم ذكر سي مراد ورڅخه الاثر المرتب على الشئ دئ.

يوجب الحكم: په يوجب الحكم سره مصنف رد وکړي پر هغه چا باندي چي هغه قائله دئ پر دې باندې چي حكم دعام توقف دئ هر وخت چي دعام ذكر وسي نو ته به توقف كوي حكم به نه لګوي تر څو پوري چي دليل نه وي نو عام داسي دئ لكه مجمل په مجمل کي به ته توقف كوى تر څو پوري چي يې تفصيل نه وي سوي نو مصنف رد ور باندي وكړي چي عام حكم شرعي ثابتوي قطعا يقينا توقف نه غواړي.

فيما تناوله: په فيما تناوله سره مصنف پر امام ثلجي باندي رد وكړي:

مخته موږ وويل عام پر دوه قسمه دئ ١- معنوي ٢- صيغوي په عام معنوي کي يو فرد متعين دئ اما م ثلجي وايي عام حكم شرعي ثابتوي په يوه فرد کي کي نور افراد په عام معنوي کي محتمل دي نو به توقف كوي.

په عام صيغوي کي دري افراد متعين متيقن دي نور افراد محتمل دي امام ثلجي وايي عام حكم شرعي ثابتوي په درو افرادو کي په نورو افرادو کي به ته توقف كوي نو مصنف رد ورباندي وكړي فيما تناوله: عام حكم شرعي ثابتوي په تمام افرادو کي چي دي ور ته شامل وي.

قطعا ويقينا: په قطعا ويقينا سره مصنف ردوكړي پر امام شافعي رحمة الله عليه امام شافعي رحمة الله عليه وايي عام حكم شرعي ثابتوي په تمام افراد و كي چي دی ورته شامل وي خو دا ظنا يعني امام شافعي رحمة الله وايي حكم دعام ظني دئ:

ځكه تخصيص په هر عام كي موجود دي كله پر دې باندي دلالت كوي قول دابن عباس ﷺ مامن عام الاو قد خص عنه البعض په دنياكي داسي عام نسته مگر تخصيص به پكښي سوي وي.

فائده: هر كله چي نكره واقع سي په موضع دنفي كي نو دا نكره عامه وي اوس راسه په قول دابن عباس ﷺ كی لفظ دعام راغلی لفظ دعام نكره دئ په ځای دنفي كي واقع دئ نو عام دئ لهذا قول دابن عباس ﷺ عام دئ موږ امام شافعي رحمه الله ته دوه جوابه وركوو.

اول جواب: امام شافعي موږ ستا څخه په قول دابن عباس ﷺ (مامن عام الا و قد خص عنه البعض) كي پوښتنه كوو امام شافعي په قول دابن عباس كي تخصيص سوي كه نه امام شافعي كه ته وايي په دې قول كي تخصيص نه دئ سوي نو امام شافعي موږ تاته وايو چي تاخو وويل چي داسي عام نسته چي تخصيص دئ نه پكښي سوي وي امام شافعي كه ته وايي چي په دې قول دابن عباس ﷺ كي تخصيص سوي نو امام شافعي موږ تاته وايو چي ددې قول بيا دامعنی چي بعض داسي عامونه سته چي تخصيص پكي رواوي سوي سره له دې چي امام شافعي تاخو وويل په دنياكي داسي عام نسته چي تخصيص پكښي نه وي سوي.

دوهم جواب: امام شافعي موږ به تاته بل ځای عام درو وښيو چي تخصيص به پكښي نه وي سوي مثال ﴿والله بكل شئ عليم﴾الاية: الله پاک په هر شي باندي عالم دئ، په دې اية كي تخصيص نه سي كيدای بل مثال ﴿والله على كل شئ قدير﴾ الاية:

په دې اية كي هم تخصيص نسي كيدای امام شافعي كه ته وايي چي داخو عقائد دي تاسو په احكامو كي دداسي عام مثال راكړي چي تخصيص پكښي نه وي سوي موږ په احكامو

کي مثال ورکوو ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهٰتُكُمْ﴾ په ټوله دنیا کي داسی نسي پیښیدای چي مور دي سړي ته په نکاح حلاله وی :

نو ګوره دا عام دئ تخصیص پکښښي نه دئ سوي .

ده راته وویل تاسو داسي دلیل پیش کړي چي عام دي قطعي وي نو موږ به دلیل ورته پیش کړو دا ناسخ دئ مثلا دا منسوخ دئ مثلا په ناسخ کي قانون دا دئ چي ناسخ به تر منسوخ زورور وی یا به ورسره برابر وي ناسخ به تر منسوخ کمزوري نه وي ولي کمزوري ناسخ نه سي جوړیدای که ناسخ تر منسوخ زورور وو یا ورسره برابر وو بیا یې منسوخه کولای سي موږ به داسي عام در وښیو چي خاص به یې منسوخه کړي وي .

خاص امام شافعي ته هم مني ټول یې مٔني چي د خاص حکم قطعي دئ نو عام هم قطعي دئ ولي که ظني سي نو ظنی قطعي نسي منسوخه کولای .

عام چي خاص منسوخه کولای سی نو دا ددې دلیل دئ چي عام قطعي دئ، مثال لکه حدیث دعرنیینو یوه قبیله وه اته کسان وه ایمان یې راوړي دمدیني هوانۀ ورباندی لیګیده نو نبی علیه السلام اوښان سره دساروان په لاس ورکړه نو ورته وي ویل اشربوا من ابوالها والبانها بیا ددوي مریضي جوړه سوه دوې راولاړ سوه ساروان یې شهید کړي ولاړه نو نبی علیه السلام صحابه ور واستول دوی یې ګیر کړل نو ددوي سره یې هغه معامله وکړه کوم چي دوي دساروان سره کړې دا حدیث دعرنیینو خاص دئ بل وخت نبی علیه السلام یو صحابي دفن کوي نو سخت عذاب ورباندي راغلی نو نبی علیه السلام دده دبي بي څخه پوښتنه وکړه چي ده څه کار کوي چي داسي سخت عذاب ورباندي راغلی نو بي بي ورته وویل ده دبولو څخه ځان نه ساتي بیا نبی علیه السلام وفرمایل استنزهوا من البول فان عامة عذاب القبر منه نبی علیه السلام فرمایي تاسو ځان وساتي دبولو څخه ځکه عام عذاب دقبر دبولو څخه دئ ګوره دلته البول عام دئ خاص یې منسوخ کړي نو معلومه سوه چي دعام حکم قطعي دئ .

دیارلسم سبق

وهو المذهب عندنا خلافا للشافعي رحمه الله الا اذالحقه خصوص معلوم او مجهول كاية
الربوا فى البيع فحينئذ يو جب الحكم على تجوز ان يظهر الخصوص فيه بتعليله او
بتفسيره :

دعبارت ترجمه: دغه عام چي حكم ثابتوي قطعا دا مذهب مختاره دئ زموږ په نيز باندي خلاف ثابت دئ امام شافعي رحمه الله ته دده په نيز باندي عام حكم ثابتوي ظنا، مګر عام حكم قطعانه ثابتوي هغه وخت چي په عام پوري ملحق سي مخصص داسي مخصص چي معلوم وي يا مجهول وي لكه اية دربا په بيع كي په دغه وخت كي چي په عام پوري مخصص ورملحق سو نو عام حكم شرعي ثابتوي سره داحتمال دښكاره كيدو دتخصيص دبعضو افرادو په عام كي په سبب دتعليل دمخصوص معلوم يا په سبب دتفسير دمخصوص مجهول.

تشريح: عام پر دوه قسمه دئ ١- خص عنه البعض ٢- لم يخص عنه البعض يعني يو هغه عام دئ چي بعض افراد ورڅخه خاص كړل سوي وي دوهم هغه عام دئ چي بعض افراد نه وي ورڅخه خاص سوي :

مثلا دخص عنه البعض ﴿فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ﴾: هر څا چي په تاسو كي ګواهي وركړه درمضان دمياشتي نو روژه دئ ونيسي، ګوره دا عام دئ ، ﴿وَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ اَيَّامٍ اُخَرَ﴾ هر څوک چي له تاسو څخه مريض وي يا مسافر وي نو هغه دى روژه نه نيسي بيا دي قضاء راوړي ګوره دلته مريض مسافر دا دواړه دعام څخه خاص سوه نو دغه عام ته وايي مخصوص منه البعض :

مثال دلم يخص عنه البعض ﴿حُرِّمَتْ عَلَيكم امهٰتُكُمْ﴾ ودغه عام ته وايي غير مخصوص منه البعض :

(خص عنه البعض) هغه عام چي بعض افراد ورڅخه خاص سوي وی دد ې حکم څه شي دئ نو موږ وايو ددغه عام په حکم کي څلور مذاهب دي:

١- مذهب جمهور احناف وايي په عام کي چي تخصيص وسي نو حکم دعام ظني سي اوس عمل په باقي افرادو باندي کول واجب استدلال په کيدای سي خو اعتقاد ورباندي کول لرل درلودل ضروري نه دي.

٢-: عيسى ابن ابان رحمه الله وايي عمل کول ورباندي واجب نه دي استدلال نسي په کيدای اعتقاد ورباندي درلودل چتهي يعني نسته اعتقاد ورباندي کول ٣- مذهب بعض ائمه وايي مخکي تر تخصيص قطعي وو وروسته تر تخصيص هم قطعي دي:

٤- مذهب وايي عام مخصوص منه البعض پرد وه قسمه دئ مخصص مجهول مخصص معلوم، که مخصص مجهول وو بيا عمل ورباندي کول واجب نه دي استدلال نسي په کولای اعتقاد ورباندي کول ضرور ي نه دي، که مخصص معلوم وو نو بيا داعام قطعي دئ لکه مخته تر تخصيص چي قطعي وو.

دقران عام (خص عنه البعض) دا بيا کتې متې حبه دارکم سي لکه خبر واحد او قياس په خبرواحد او قياس کي درې خبري دي ١- عمل کول ورباندي واجب ٢- استدلال کول په صحيح ٣- اعتقاد ورباندي درلودل لرل کول ضرورري نه دئ.

يعني دخبرواحد او قياس حکم ظني ددغه عام دکتاب الله حکم هم ظني.

فائده: دمخصص دپاره يو شرط دادئ چي کلام په مستقل وي يعني پور ه جمله به وي مفرد به نه وي مثال جائني القوم الا زيد دلته دزيد تخصيص دقوم څخه وسو مگر ديته مخصص نه وايي ديته استثناء وايي دمخصص دپاره بل شرط دادئ چي متصل به وي يعني تېچ به وي مخصص پر دوه قسمه دئ ١- مخصص معلوم ٢- مخصص مجهول.

مخصص معلوم ديته وايي چي دعام څخه بعض معين افراد راويستل سي مثال په کمره کي ډير طالبان دی زه ووايم ماخستن زما ټول ميلمانه دي مگر عبدالله عبدالرحمن،

عبدالمطلب عبدالمجيد زما ميلمانه نه دي، مخصص مجهول ديته وايي چي دعام ثخه بعض غيرمعين افراد راويستل سي مثال په كمره كي ډير طالبان دي زه وو ايم غرمه ټول زما ميلمانه دي مگر لس كسان زما ميلمانه نه دي مثال دمخصص معلوم په قران كريم كي ﴿فاقْتُلُوْا الْمُشْرِكِيْنَ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ﴾ تاسو مشركين قتل كړي چيرته چي تاسو پيدا كړل دوي ، دلته المشركين عام دئ ﴿وَاِنْ اَحَدٌ مِنَ المشركينَ استَجَارَكَ فَاَجِرْهُ﴾ كه چيري يو مشرک دمشركينو طلب دامن وغوښتي نو ته امن وركړه.

گوره دلته مستامن مشرک دعام ثخه را خاص سو خو دغه مستأمن مشرک معلوم دئ، مثال دمخصص مجهول په قران كريم كي ﴿وَاَحَلَّ اللهُ الْبَيْعَ وَحَرَّ مَ الرِّبوا﴾ الله رب العزت ټولی بيعي حلال كړي دي، الله پاک زيادت والا بيعه حرامه كړي دلته البيع عام ده رباورثخه راخاص سوه يعني زيادت والا بيعه خو دغه زيادت والا بيعه مجهوله ده ولي په بيعه كي خو ګټه وی لهذ احل الله البيع عام حرم الربوا مخص مجهول.

كه ته وايی دا سي مثال دقران كريم راكړه چي هم مخصص مجهول وي هم مخصص معلوم وي.

واحل الله البيع وحرم الربوا الله جل جلاله ټولي بيعي حلالي كړي دي، الله پاک زيادت والا بيعه حرامه كړی دلته البيع عام ده ربا ورثخه مراد خاص سوه يعني زيادت والا بيعه خو دغه زيادت والا بيعه مجهوله ده ولي په بيعه كي خو ګټه وي :

لهذا احل الله البيع عام حرم الرواب مخصص مجهول.

كه ته وايي د ا سي مثال دقران كريم راكړه چي هم مخصص مجهول وي هم مخصص معلو م وي:

واحل الله البيع وحرم الروبوا دلته دواړه (مخصص مجهول مخصص معلوم) جوړيږي احل الله اليع عام وحرم الربا مخصص مجهول موږ رباء نه پيژنو نبي كريمﷺ يې بيان وكړي

الحنطة بالحنطة والتمر بالتمر والشعير بالشعير والفضة بالفضة والذهب بالذهب والملح بالملح سواء بسواء والفضل رباء دا حديث دربا دپاره مخصص معلوم دئ.

دعام خص عنه البعض حكم ظنى دئ كه ته سوال وكړي چي دعام حكم ولي ظني دئ؟
جواب: داعام دئ مثلا دالس يې افراد دئ مثلا تادوه افراده دعام څخه راخاص كړه اته افراد دعام پاته سوه اوس دا احتمال سته چي دعام دافرادو څخه دئ دافرد راوايستل سي مثلا يا دئ دافرد را ويستل سي مثلا يا دي د افرد را ويستل سي مثلا او داحتمال هم سته چي دغه افراد دي دعام څخه نه راو يستل سي:

دعام حكم چي ظني سو ددغه احتمال له وجي كه ته سوال وكړي چي په عام كي احتمال څنګه پيد اسو ؟.

جواب: ټول احكام شرعيه معلله دئ علت غواړي دعام په باقي افرادو كي احتمال وو دغه احتمال دعام په باقي افرادو كي پيدا كيږي دعلت له وجي يعني احتمال پيدا سو دعلت له وجي يعني تا چي دعام څخه فرد را خاص كړي دعلت له وجي او كه داعلت دعام په باقي افرادو كي موجود سو نو هغه افراد هم دعام څخه راوځي ددغه علت له وجي مثال فاقتلو المشركيين حيث وجدتموهم مشركين مړه كړي چي هرځاى مو پيدا كړل.

وان احد من المشركين استجارك فاجره مګرمستأمن مشرك مه وژني مستأمن مشرك دعام څخه را خاص سو علت يې عجز دئ موږ چي وكتل دغه علت (عجز) دعام په باقي افرادو كي موجود وو نو دغه افراد به موږ دعام څخه را باسو دغه علت (عجز) دمشركينو په سپين ږيرو كي سته په كوچنيانو كي سته په سپين سرو كي سته نو دغه كسان به موږ دعام څخه را باسو دغه كسان به موږ نه وژنو .

قاعده: تخصيص په احكامو كي هم وي په اخبار و كي هم وي، نسخه يواځي په احكامو كي وي.

۲- قاعده :تخصيص يواځي په عام كي چليږي نسخه په عام او خاص دواړو كي چليږي.

٣- قاعده: مخصص جائز دئ چي دعام سره دئ مقترن وي او يا دي پر عام مخصص مخته وي او يا دي مخصص تر عام وروسته وي دامذهب دجمهور علماء دئ، احناف وايي مخصص به مقترن وي دعام سره ، ناسخ جائز نه دئ چي تر منسوخ دي مخته سي او داهم جائز نه دئ چي ناسخ دي د منسوخ سره مقترن سي بلكي واجب دادئ چي ناسخ تر منسوخ هميشه وروسته وي.

فائده احناف وايي عام دكتاب الله او حديث متواتر ددې دواړو تخصيص په خبر واحد او په قياس باندي جائز نه دئ ځكه عام دكتاب الله او حديث متواتر دا دواړه قطعي دئ په سند او په دلالت كولو كي خبر واحد كه څه هم قطعي دئ من حيث الدلالة مګر خبرواحد قطعي نه دئ من حيث السند نو خبر واحد نه سي رسيداى ومرتبي ته دعام دكتاب الله اوحديث متواتر په قوت كي قياس دليل دئ داسي دليل چي ظن فائده كوي قطعه نه فائده كوي شوافع وايي عام دكتاب الله او حديث متواتر ددې دواړو تخصيص په خبر واحد او قياس باندي كيږي ځكه عام دكتاب الله ظني دئ .

عام دوه قسمه دئ

١- لم يخص عنه البعض : ٢- خص عنه البعض :

دعام ددغه دوو قسمو داجراء دپاره دقران مجيد يو څو مثالونه :

فائده: دقران كريم په كلماتو كي ظن كول شک كول كفر دئ :

دعام مخصوص منه البعض حكم ظني دئ په اعتبار دماصدق عليه يعني دعام حكم په باقي افرادو كي ظني دئ دعام غير مخصوص منه البعض حكم قطعي دئ :

اجراء العام

مثال عام قسم

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهٰتُكُمْ وَبَنٰتُكُمْ الايه (النساء ٢٢) (امهتكم وبنٰتكم الاية) (لم يخص عنه البعض)

تشريح: هره هره مور هره هره لور په نكاح كول حرامه كړل سوي پرتاسو باندي :

دلته امهات او بنات عام دي يوه مور دمورانو يوه لور دلورانو نه ده ورځخه خاص سوي .

اِنَّ اللهَ بِكُلِّ شَيْئٍ عَلِيْمٌ (الانفال ٧٥) (كل شيئ) (لم يخص عنه البعض)

تشريح: الله پاک په هر هر شي باندي عالم خبر دئ دلته كلمه دكل عامه ده يو شى نه دئ ورځخه خاص سوي همدارنگه شي عام دئ يو شى نه دئ ورځخه خاص سوى .

فَاقْرَءُوا مَاتَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ (المزمل) ٢٠) (ما) لم يخص عنه البعض)

تشريح: كلمه دما عامه ده وټول ما تيسر من القران ته نو صحت دلمانځه يواځي پر فاتحه موقوفه نه دئ .

وَمَنْ دَخَلَهُ كَانَ اٰمِنًا (ال عمران ٩٧) (من) لم يخص عنه البعض)

وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا يُذْكَرِ سْمُ اللهِ (الانعام (ما) (لم يخص عنه البعض)

كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ (العنكبوت ٥٧) (كل نفس) لم يخص عنه البعض)

كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ (الرحمن ٢٦) (كل من) (لم يخص عنه البعض)

وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ (البقرة ٢٢٨) (والمطلقات) (خص عنه البعض)

تشريح: طلاقي سوي ښځي به خپل ځان بندوي دري حيضه :

والمطلقات عام دئ ومدخول بها او غير مدخول بها ته :

يَاَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّوْنَهَا (الاحزاب ٤٩).

په دغه اية باندي غير مدخول بها دعام (والمطلقات) څخه راخاصه سوه كه سړي د ښځي سره نكاح وكړه بيا يې طلاقه كړه مخته ترد خول نو په پر دغه ښځي باندي عده نسته د غه كلام (ياايها الَّذِيْنَ امنوا) الاية دمخكني كلام(والمطلقات)د پاره مخصص معلوم دئ.

وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ (البقرة ٢٢٨) (والمطلقات) (خص عنه البعض)

تشريح: طلاقي سوي ښځي به خپل ځان بندوي دري حيضه :

والمطلقات عام دئ وهري مطلقي ته هغه مطلقه كه حره وي كه مينځه وي :

طلاق الامة ثنتان وعدتها حيضتان الحديث:

طلاق دمينځي دوه دي عده دمنيځي دوه حيضه ده:

په دغه حديث (طلاق الامة ثنتان وعدتها حيضتان) باندي مينځه دعام (والمطلاقات) څخه را خاص سوه دغه حديث دعام دپاره مخصص معلوم دئ :

وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ (البقرة ٢٢٨) (والمطلقات) (خص عنه البعض)

تشريح: طلاقي سوي ښځي به خپل خان بندوي دري حيضه :

والمطلقات عام دئ وحاملې او غير حاملې ته :

وَاللّٰئِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيْضِ مِنْ نِسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ اَشْهُرٍ وَاللّٰئِي لَمْ يَحِضْنَ وَاُوْلَاتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ يَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ (الطلاق ۴)

ترجمه: هغه ښځي چي نا اميده سوي وي په سبب دلوي والى يا دمرض له حيضه له ښځو ستا سي که چيري په شک کښي ياست تاسي نو عدت ددوي درې مياشتي دئ او هغه ښځي چي نه وي حائضه سوي په سبب دوکوچنيوالي نو درې مياشتى ددې عدت تير کړي او هغه ښځي چي خاوند دحمل وي يعني بلاربي ښځي عدت ددوي دادئ چي حمل کښيږدي يعني دبچي تر زيږدلو پوري داية په دغه ټکړه سره (اولات الاحمال اَجَلهن ان يضعن حملهن) حامله ښځه دعام (والمطلقات) څخه راخاص سوه ځکه دحاملې عده درې حيضه نه ده دحاملې عده دبچي تر زيږدلو پوري ده واللائى يئسن من المحيض من النسائكم ان ارتبتم فعدتهن ثلثة اشهر واللائى لم يحضن.

په دغه اية باندي غټه ښځه چي نا اميده سوې وي له حيضه او هغه کوچني ښځه چي جائضه سوې نه وي دادوه معلوم افراد دعام (والمطلقات) څخه راخاص سوه ځکه ددوي عده درې حيضه نه ده ددوي عده درې مياشتي ده :

وَاللّٰئِي يَئِسْنَ وَاللّٰئِي لَمْ يَحِضْنَ (الطلاق۴) (واللائي، واللائى). خص عنه البعض

تشريح: واللائي اسم موصول دئ عام دئ وحري او مينځي ته: ددغه اية څخه مينځه ووته ځکه دمينځي عده درې مياشتي نه ده اجماع پر دې ده چي دمينځي عده يوه مياشت او پنځلس شپې ده .

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ (المائده ۳) (الميتة) خص عنه البعض

تشريح: پر تاسو باندي حرامه کړل سوې هر قسم مړه، الميتة عام دئ وهري مړې ته هغه که بحري وي او که دغير بحري وي هو الطهور ماؤه والحل ميتته (الحديث)

ددریاب اوبه پاکي دي ددریاب میتته حلاله ده لکه ماهي یعني ددریاب ماهي چي مړ سي نو دا حلال دئ په دغه حدیث (والحل میتته) باندي میتتة (لکه ماهي)

دعام (حرمت علیکم المیتة) څخه راخاص سوه نو دغه حدیث دعام دپاره مخصص دئ:

فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ (البقره ١٨٥) (من) خص عنه البعض

تشریح: هر چا چي له تاسو څخه ګواهي ورکړه درمضان دمیاشتي نو دغه من دئ روژه ونیسي دلته من عام دئ ومقیم ومسافر وصحیح ومریض ته :

وَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا او على سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ اَيَّامٍ اُخَرَ .

په دغه کلام باندي دوه معلوم (مسافر مریض) افراد دعام څخه راخاص سول دغه کلام دمخکني کلام دپاره مخصص معلوم دئ :

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا اَيْدَيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِنَ الله (المائدة ٣٨) : (ما) لم يخص عنه البعض

تشریح: کلمه دما عامه ده یو شي نه دئ ورڅخه خاص سوی کلمه دما شامله ده وټولو جنایاتو ته .

وَاَقِيْمُوْا الصَّلوة (البقره ٤٣) (انتم) خص عنه البعض

تشریح ضمیر په اقیموا کي دعموم دالفاظو څخه دئ خو کوچنیان لیونیان دادوه معلوم افراد ورڅخه خاص دي عقلا .

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ (البقره ١٨٣)) (كم) خص عنه البعض

تشریح:کو چنیان لیونیان دا دوه معلوم افراد ورڅخه خاص دي عقلا په دواړو کي مخصص عقل دئ :

وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ)(البقره ۲۲۱) (المشركات) خص عنه البعض

تشریح : المشركات: مشرکات عام دئ وکتابيات ته ځکه اهل کتاب مشرکين دي دليل قوله تعالى وقالت اليهود عزير بن الله وقالت النصاري المسيح بن الله الى قوله سبحانه الله عما يشركون،خو کتابيات خاص دي په دې قول دخداي جل جلاله باندي والمحصنتُ من الذين اتوا الكتاب من قبلكم :

دخبري خلاصه داده:مشرکات عام دي وکتابيه او غير کتابيه ته کتابيه دعام (المشرکات) څخه را خاص سوه په دې قول دخداي جل جلاله والمحصنت من الذين اتوا الكتاب من قبلكم په دغه اية باندي د کتابې سره نکاح کول جائز ده .

وَاُحِلَّ لَكُمْ مَاوَرَاءَ ذَالِكُمْ (النساء ۲۴) (ما) خص عنه البعض

تشریح: لفظ ما عامه ده ومينځي مؤمنې او غيرمؤمني ته :

وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا اَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِنْ فَتَيٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ (النساء ۲۵)

تشریح: دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي ددغه اية مفهوم مخالف مخصص دئ ددې قول دخداي جل جلاله واحل لكم ما وراء ذالكم يعني ددغه اية په مفهوم باندي مينځه مؤمنه را خاص سوه دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي داحنافو په نزد باندي دغه اية مخصص نه دئ ځکه عدم الشرط والوصف دلالت نه کوي پر عدم الجواز باندي :

والَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا .(البقره ۲۳۴)

تشرح: ددغه عام تخصيص سوي په دې قول دخداي جل جلاله وَأُولَاتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ يَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ .(الطلاق ۴)

وَاُحِلَّ لَكُمْ مَاوَرَاءِ ذَالِكُمْ (النساء ۲۴) (ما) خص عنه البعض

تشريح: ما لفظ عام دئ ومشركاتو او غير مشركاتوته تخصيص يې په دې قول دخداي جل جلاله وسو وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكِيْنَ (البقره ۲۲۱)

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا اَيْدَيَهُمَا) عموم ددغه اية خاص سو په دې قول دنبى عليه السلام لا قطع فى اقل من ربع دنيار فانحكوا ماطاب(النساء ۳) ددغه تخصيص سوي په دغه اية باندي حرمت عليكم امهتكم(النساء ۲۲).

فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوْهُمْ (التوبة ۵) (المشركين) خص عنه البعض

تشريح:المشركين عام دئ ومستأمن مشرک او غيرمستأمن مشرک ته دغه عام (المشركين) څخه مستامن مشرک را خاص سو په دې قول دخداي جل جلاله وَاِنْ اَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ سْتَجَارَکَ فَاَجِرْهُ حَتّٰى يَسْمَعَ كَلَامَ اللهِ : .

دغه كلام مخصص معلوم دئ، المشركين عام دئ وكوچنيانو ته وښځو ته وسپين ږيرو ته ددغه عام (المشركين څخه شيوخ عجائز را خاص سول په دې قول دعليه الصلوٰة والسلام لاتقتلو الشيوخ والعجائز .

اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلُدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِأَةَ فَاجْلِدُوْا) (النور ۲) (الزانية والزاني) خص عنه البعض

تشريح: ددغه عام څخه مينځه خاص سوه په دې قول دخداي جل جلاله فَاِذَا اُحْصِنَّ فَاِنْ اَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَىَ الْمُحْصِنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ .(النساء ۲۵)

که مینځه زنا وکړي نو ددې حد داصیلو ښځو په نصف (نیم) دئ.

ددغه عام ځنې عبد (غلام) قیاسا خاص سو :که غلام زنا وکړه نو دده حد د اصیلو خلګو په نصف (نیم) دئ قیاسا موږ غلام قیاسوو پر مینځي باندي دمینځي حد نصف (نیمي) وو نو دغلام حد هم نصف (نیمي) دئ.

قَاتِلُوْا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللهِ (التوبه ۲۹) (الذين لا يؤمنون بالله) خص عنه البعض

تشریح: دلته دعام تخصیص سوی په دغه توړ باندي حتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ دلته مخصص غائیه ده :

څوارلسم سبق

والمشترک وهو ما اشترک فيه معاني او اسام لا على سبيل الانتظام:

دعبارت ترجمه : مشترک یو لفظ دئ داسي لفظ چي ګډون به کړي وي په دغه لفظ کي یا معنا ګانو یا اعیانو خو دا ګډون په لفظ کي دابه په طریقه دشمول نه وي بلکي په طریقه دبلدیت به وي مثال لکه عین.

تشریح: په هر تعرف کي جنس فصل ضروري دئ،

وهو ما: ما جنس دئ شامل دئ ومقصود غیر مقصود ،ته **اشترک فيه:** په اشترک سره مهمل ووتي ځکه په مهمل کي اشتراک نسته.

معان اواسام: په معان او اسام سره خاص ووتی ځکه خاص ویوي معني ته خلط دئ:

فائده : دوه مذهب دي یو مذهب وایي دمعني او افرادو فرق نسته ځکه هر یو دلفظ ځنې فهمیږي دوهم مذهب وایي دمعنی او افرادو فرق سته په دې ډول باندي چي معنی دلفظ ځنې فهمیږي ابتداء فرد دلفظ ځنې فهمیږي ثانیا.

لا على سبيل الانتظام : په لا على سبيل الانتظام سره عام ووتي پر مذهب دهغه چا چي دمعاني او افرادو فرق نه کوي په معانی او اسام سره عام ووتی پر مذهب دهغه چا چي دمعاني او افرادو فرق کوي لا على سبيل الانتظام دا قول دئ دبيان دواقع :

وهو ما اشترک فيه معان او اسام :

سوال: په تعريف کي دور دئ دور باطل مستلزم باطل لره باطل وي، نو دمشترک تعريف باطل دئ ؟

حاصل دسوال دادي: په تعريف دمشترک کي دور دئ ځکه مشترک مشتقي دئ

معرفت دمشتقي موقوفه دئ پر مبدی باندي مبدء دمشترک اشتراک دئ ،

ما اشترک فيه معان اواسام دايي تغريف دئ اشترک هم مشتقي دئ مبدء يې اشتراک دئ تعريف په مشتقي باندي دا تعريف دئ ددغه شي په مبدء باندي نو تعريف دالمشترک په ما اشترک فيه معان او اسام باندي دا تعريف داشتراک په اشتراک اباندي دئ تعريف داشتراک په اشتراک باندي دا نه دئ مګر دور.

جواب: دلته دور نسته ځکه هغه اشترا ک چي په ضمن دمشترک کي دئ ددغه اشتراک څخه اشتراک اصطلاحي مراد دئ هغه اشتراک چي په ضمن داشترک کي دئ ددغه اشتراک څخه اشتراک لغوي مراد دئ لهذا دا تعريف داشتراک اصطلاحي دئ په اشتراک لغوي باندي لهذا دادورنه دئ ځکه جهتونه مختلف دي.

معان اواسام :

فائده: کلمه داو کله دپاره دشک وي، او کله دپاره دتشکيک (ترديد) وي او کله دپاره دابهام وي، او کله د پاره دتخير وي او کله دپاره دتنويع وي که تاسو غواړي چي او په تفصيل زده کړو نو خلاصة المعاني وګوري .

سوال : ستا په تعريف كي كلمه داوذكر ده كلمه داو دتشكيك (ترديد) دپاره وى لهذا مصنفه تا چي دمشترک تعریف کړی دا تعریف خوږدور نه دئ ځکه په دغه تعریف كي ترديد دئ او حال داچي تعريف دوضوح دپاره وي، ؟

جواب: : دلته كلمه داو دتشكيک ترديد دپاره نه ده دلته كلمه داو دتنويع دپاره ده :

يعني عام پر دوه قمسه دئ يو هغه عام دئ چي معنا ګاني پکښي شريکي وى بل هغه دئ چي اعيان پکښي شريک وي مثال دهغه عام چي معنا ګاني پکښي مشترک وي قُرُوء

قروء جمع دقرء ده دقرء دوې معناګاني دي ١- طهر ٢- حيض :

طهر حيض :دا دواړي معنا ګاني مشتركي دي په قرء كي قرء مشترک فيه ده مثال دهغه عام چي اعيان پکښي شريک وي هغه لفظ دعين دئ :

١-: شمس ٢- الينبوع ٣- الذهب ٤- الركبة ٥- العين ٦- السفينة كه لفظ دعين ددوي دمعناګانو په مقال كي وضع سي نو بيا لفظ دعين مشترک معنوي دئ:

كه لفظ دعين ددغه الفاظو په مقابل كي (لفظ الشمس لفظ الينبوع لفظ الذهب لفظ الركبة لفظ العين لفظ السفينة) وضع سى نو لفظ دعين بيا مثال دمشترک لفظي دئ.

فائده: كلمه داو چي په تعريفاتو كي ذكر سي دابه دپاره دتنويع وي .

معان او اسام : سوال : مصنفه تا دمشترک په تعريف كي دجمعې صيغې راوړي معان او اسام دا دواړي دجمعې صيغې دي، دجمعې اقل افراد درې وي مخته موږ مثال دمشترک وويلي په قرء سره په قرء كي دوي معنا ګاني مشتركي دي هغه دوي معنا ګاني طهر حيض دي:

نو مصنفه تاولي دجمعې صيغې وويلي : ؟

جواب: مراد دلته دجمعې څخه جمعه لغوي ده ، دجمعې لغوي اطلاق پر مافوق الواحد باندې کیږي ؛:

دوهم جواب: مصنف جمع مختاره کړه ددې دپاره چې دعام دتعریف سره يې مناسبت راسي دعام تعریف موږ داسي کړي وو کل لفظ ينتظم جمعا من المسميات .

والمشترک : قرء معَرّف دي محدود دئ ما اشترک فيه معان او اسام دایي حد دئ تعريف دئ :

سوال : مصنفه تا ماته دطهر يا دحيض تعريف وکړي ځکه طهر يا حيض مشترک دئ او حال دا چي دا تعريف دطهر يا دحيض نسي کيدای دا تعريف دقرء دئ مثلا ځکه طهر حيض دواړه شريکان دي په قرء کي او سره ددې چي قرء مشترک فيه ده قرء متشرک نه ده ؟

جواب: المشترک په اصل کي المشترک فيه دئ :

فائده: کله يو کلمه مقيده سي په يو قيد خو دا کلمه ډيره استعماليږي :

عرب را ولاړ سي دډير استعمال له وجي قيد دمقيد څخه حذف کړي لکه المشترک، په اصل کي المشترک فيه دئ دډير استعمال له وجي فيه ختم سو بل مثال مستثني مفرغ علم مدون اي مستثني مفرغ له علم مدون فيه :

پنځلم سبق

وحکمه التوقف فيه بشرط التامل ليترجح بعض وجوهه :

اثر مرتب دمشترک توقف کول دي په مشترک کي په شرط دتامل ځکه لفظ دهري معنى دمعناګانو څخه احتمال لري على السويه او حال دا چي يو ه معنى مراد ده دمعنا ګانو څخه نو چار ه نسته دتامل څخه .

وانما شرط التامل: تأمل ولي شرط سو په مشترک کي **ليترجح بعض وجوهه:** ددې دپاره چي دمشترک بعضو وجوه ته ترجيح ورکول سي.

اجراء المشترک

مثال	مشترک فيه	مشترک
وَاحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ (البقره ٢٧٥)	(احل)	(حلال حلول)
وَاُحِلَّ لَكُمْ مَاوَرَاءَ ذَالِكُمْ (النساء ٢۴)	احل)	(حلال - حلول)
يُضَلُّ بِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُحِلُّوْنَهُ عَامًا (توبه ٣٧)	(يحل)	(حلال حلالول)
وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ (البقرة ٢٢٨)	(قروء)	(حيض—طهر)
الَّذِیْٓ اَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ (فاطر ٣٥)	(احل)	(حلال حلول)
وَاِنْ كَانَ رَجُلٌ يُّوْرَثُ كَلٰلَةً (النساء ١٢)	(كلاله)	(درې معناګاني)

تشريح: دکلاله درې معناګانی دي يوه معنی دکلاله، کلاله ديته وايي چي دی مړ سي دده چاته نه پلار پاته سي نه زوي دوهمه معني دکلاله : کلاله ديته وايي چي دی مړ سي دده چاته دورثاء نه زوي وي نه پلار دريمه معنی دکلاله : کلاله ديته وايي چي دی مړ سي دده چاته قريب نه وي :

قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِي الْكَلٰلَةِ (النساء ١٧٦)	(كلاله)	درې معناګاني
ويَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ (النور ٣٥)	(يضرب)	(وهل - بيان قسم)
وتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا (العنكبوت ۴٣)	(نضرب)	(وهل- بيان-قسم)

فَقُلْنَا اضْرِبْ بِعَصَاكَ الحَجَرَ (البقره ٦٠) (اضرب) (وهل-بيان- قسم)

اَنِ ضْرِبْ بِعَصَاكَ الحَجَرَ (الاعراف ١٦٠) (اضرب) (وهل-بيان- قسم)

اَلْعَيْنَانِ تَزْنِيَان(الحديث) (العين (جاسوس-سره زر-سترکي وغير ذالک)

رَاَيْتُ المُشْتَرِى (المتشري) (رانيونکي- ديوه ستوري نوم)

رايتُ المولى (المولى) . مولى اعلى مولى اسفل)

رايتُ الجارية تغسل رأسها (الجارية) (مينځه - کبنتې)

رايت البائن (البائن) (فرق -ظهور)

فَلَاتَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحُ زَوْجًا غَيْرَهُ (البقره ٢٢٠) (النكاح) (عقد -وطي)

فَلَاتَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحُ زَوْجًا غَيْرَهُ (البقره ٢٢٠) (تحل) (حلال -حلول)

فَجَزَاءً مِثْلُ مَاقَتَلَ مِنَ النَّعَمِ) المائدة ٩٥) (مثل) مثل صوري-مثل معنوي)

تشريح مثل معنوي قيمت دئ .

مثال	مشترک فيه	مشترک
فِيهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ (الغاشِيةُ ١٢)	(عين)	(چينه-لمر- فضه وغيرذالک)
فَتَيَمَّمُوا صَعِيْدًا طِيِّبًا (المائده ٦)	(طيبا)	(طاهر -حلال- مُنبت)
اِثْنَتَا عشْرَةَ عَيْنًا (البقرة ٦٠)	(عين)	(لمر-چينه -فضه وغيرذلک)

عوقب العين (العين) (لمر، چينه فضه، وغير ذالک)

مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا (ال عمران ٩٧) (استطاع) (سعاة فی المال، اطاقت:)

وَلَهُمْ اَعْيُنٌ لَا يُبْصِرُوْنَ بِهَا (الاعراف ١٧٩) (اعين) (چينه، جاسوس، زر همداسي نور)

عندي عين اشترى بها ما اشاء: (عين) (لمر، جاسوس، فضه و وغيرذالک)

يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمْ (البقره ١٨٣) (كتب) فرضيت، ليکل

تشريح: کله دليکلو دپاره استعماليږي:

وَلْيَكْتُبْ بَيْنَكُمْ كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ (البقره ٢٩٢)

تشريح: کتابت په عربي کي کله دفرضيت دپاره استعماليږي دلته کتابت په معنی دليکلو سره دئ:

اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتَابًا مَّوْقُوْتًا (النساء ١٠٣)

تشريح: دلته کتابت په معني دفرضيت سره دئ:

يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ (البقره ١٧٨) (کتب) فرضيت ليکل

والمأول وهو ما ترجح من المشترک بعض وجوهه بغالب الرأی.

دعبارت ترجمه: مؤوّل هغه مشترک دئ چي ترجيح به ورکول سوي وي بعضو معنا ګانو ته دمشترک دا ترجيح به وي په غالبه رأيه باندي يعني په دليل ظني باندي:

تشريح: مؤوّل داوّل څخه دئ اِوّل معني په عربي کي اړول لکه قرء امام شافعي طهر ته اړولې موږ قرء حيض ته اړولي:

دلته دمؤول څخه مؤول من المشترک مراد دئ، يعني هغه مؤول چي دمشترک څخه حاصل وي وروسته دترجيح وبعضو معنا ګانو ته :

مشترک ، خفی ، مشکل، مجمل لکه دغه څلورو ته بيان ورملحق سو په دليل قطعي سره نو ديته وايي مفسر، مفسرقطعي دئ، منکريې کافر دئ مؤول ظني دئ، منکريې کافر نه دئ.

بغالب الرأی :

فائده: دلائل ظنيه څلور دي، ١- خبر و احد ٢/ قياس، ٣- نفس صيغه ٤- سياق سباق په دغه څلورو دلائل باندي به دمشترک بعضو معنا ګانو ته ترجيح ورکول سوې وي :

الله رب العزت فرمايي، ﴿والمطلّقاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثلثَةَ قُرُوْءٍ﴾.

قروء جمع دقرء ده قرء مشترک ده دحيض او طهر امام ابو حنيفه قرء اړوي په حيض باندي امام شافعي قرء اړوي په طهر باندي په خبر واحد باندي چي اوّل سوي دقرء څخه وحيض ته ، دنبي عليه الصلوة والسلام قول دئ طلاق الأمة ثنتان وعدتها حيضتان دمينځي دوه طلاقه دي ، عده، دمينځي دوه حيضه دي، دحرې درې طلاقه دي، درې يې حيضونه دي، ځکه مينځه دحرې، نيمي ده، چي دمينځي عده دوه حيضه دي، دحري به ودرې حيضه وي، په دغه حديث کي چي هر کله عده دمينځي حيض وه نو عده دحرې به هم حيض وي ځکه دمينځي او دحرې په جنسي عده کي فرق نسته :

ګوره دلته خبر و احد اوّل وکړي دقرء څخه وحيض ته ، په قياس سره چي اول سوې وي دقرء څخه وحيض ته په ثلثة قروء کي قياس موږ ته وايي چي دقرء څخه حيض واخله:

موږ دقرء څخه حيض اخلو ، امام شافعي دقرء څخه طهر اخلي موږ امام شافعي رحمه الله ته وايو سنتي طلاق دادئ چي ښځي ته طلاق ورکول سي په طهر کي اوس چي ښځي ته طلاق ورکول سي په طهر کي نو دطهر بعد حيض دئ، دحيض بعد بيا طهر دئ دطهر بعد بيا حيض دئ، دحيض بعد بيا طهر دئ اوس موږ امام شافعي رحمة الله ته وايو چي دغه طهر شمارې که نه که يې شمارې نو به درې نيم طهره سي که يې نه شمارې بيا دوه نيم طهره کيږي لهذا

امام شافعي ستا پر مذهب درې طهر ه نه راځي كه چيري سنتي طلاق وركول سي زموږ پرمذهب باندي درى حيضه پوره راځي كه چيري سنتي طلاق وركول سي.

لهذا دلته په قياس سره اوّل وسود قرء څخه وحيض ته.

چي په نفس صيغه باندي: اول سوي وي دقرء څخه وحيض ته ثلثة قروء: قروء جمع دقرء ده، دقرء په عربي كي دوې معنا ګاني دي ١- اجتماع ٢- خروج جمعه كيدل وتل:

موږ چي وكتل په حيض كي دادواړي معنا ګاني وې په طهر كي نه وې، ښځي ته چي حيض ورسي نو په رحم كي وينه هم جمع كيږي هم وزي:

پاته سو په طهر كي جمعه كيږى خارجيږي نه:

نو نفس صيغې (ثلثة قروء) وويل كه تا زما څخه حيض واخستي نو ډير خوندور دئ تر طهر.

چي په سياق او سباق سره اوّل سوې وي دقرء څخه وحيض ته.

ثلثة قروء: دلته ثلثة وويل چي دقروء څخه حيضونه و اخله نو به په ماعمل وسي كه تا دقروء څخه حيضونه وانه خيستل نو په ماعمل نه كيږي:

وحكمه العمل به على احتمال الغلط:

دعبارت ترجمه: اثر مرتب دمؤول دادئ چي عملورباندى كول واجب دي سره داحتماله دغلطيا ځكه تاويل په دليل ظنى باندي دئ دليل ظنى مستلزم دئ احتمال لره دغلطيا.

مثال	مؤوّل منه	مؤوّل
فِيۡهَا عَيۡنٌ جَارِيَةٌ (الغاشيه ١٢)	(عين)	(چينه)

تشريح: دلته دمشترک (عين) ويوې معنى چينې ته ترجيح ورکول سوې په سياق باندي هغه سياق چي جارية ده :

اِثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا (البقره ٦٠) (عين) (چينې)

تشريح: دلته دمشترک (عين) ويوې معنى (چينې) ته ترجيح ورکول سوې په سياق باندي هغه سياق فَانْفَجَرَتْ دئ .

مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا (ال عمران ٩٧) استطاع) (ساعة فى المال)

تشريح: دلته دمشترک (استطاع) ويوې معنى ته (سعة فى المال) ته ترجيح ورکول سوې ده په سياق او سباق باندي .

فَتَيَمَّمُوا صَعِيْدًا طَيِّبًا (المائدة ٦) (طيبا) (ظاهر)

تشريح: دلته دمشترک (طيبا) ويوې معني (ظاهر) ته ترجيح ورکول سوې دليل ورباندي دا قول دئ وَلٰكِنْ يُرِيْدُ لِيُطَهِّرَكُمْ

عوقب العين (العين) (جاسوس)

تشريح: دلته دمشترک (العين) ويوې معني (جاسوس) ته ترجيح ورکول سوي په سباق باندي

وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ (البقرة ٢٢٨) (قروء) (حيض)

تشريح : دمشترک بعضو معناگانو ته به ترجيح ورکول سوې وي پر غالب الرأى باندي يعني په دليل ظني باندي دلائل ظنيه څلور دي ١- خبر واحد ٢- قياس ٣- نفس صيغه ۴- سياق او سباق :

دلته دمشترک (قروء) و یوې معني (حیض) ته ترجیح ورکول سوې په سباق باندي هغه سباق ثلثة دئ ثلثة وایي دقروء څخه حیض واخله نو به په ما باندي عمل وسي.

وَاَحَلَّ اللهُ الْبَيْعَ (البقره ۲۷۵) (احل) (حلال)

تشریح: دلته دمشترک (احل) ویوې معني (حلال) ته ترجیح ورکول سوې په سیاق باندي هغه سیاق البیع ده ځکه بیع حلاله وي په بیعه باندي حلول نه وي :

اَلَّذِیْ اَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ (فاطر ۳۵) (احل) (حلول)

تشریح: دلته دمشترک (احل) معني (حلول) ته ترجیح ورکول سوې په سیاق باندي هغه سیاق دارالمقامة دئ .

ځکه ودار المقامة ته حلول کیږي :

وَاُحِلَّ لَكُمْ مَاوَرَاءَ ذَالِكُمْ (النساء ۲۴) (احل) (حلال)

تشریح: دلته دمشترک (احل) یوې معني (حلال) ته ترجیح ورکول سوې ده په سیاق باندي هغه سیاق ما وراء ذالکم دئ :

فَقَلْنَا اضْرِبْ بِعَصَاكَ الْحَجَرَ (البقره ۶۰) (اضرب) . (وهل)

تشریح :دلته د مشترک (اضرب) و یوې معني (وهل) ته تر جیح ورکول سوې ده په سیاق باندي هغه سیاق بعصاک دئ .

عِنْدِیْ عَیْنٌ اِشْتَرَی بِهَا مَا اَشَاءُ ((عین) (زر)

تشریح: دلته دمشترک (عین یوې معنی (زرو) ته ترجیح ورکول سوې ده په سیاق باندي هغه سیاق شراء ده .

اَنِ اضْرِبْ بِعَصَاکَ الحَجَرَ (الاعراف ۱۶۰) (اضرب) (وهل)

تشريح : دلته دمشترک (اضرب) يوې معني (وهلو) ته ترجيح ورکول سوي ده په سياق باندي هغه سياق بعصاک دئ،

رَأَيْتُ الْمُشْتَرِيَ فِيْ الْاَرْضِ (المشتري) (رانيونکي)

تشريح:دلته دمشترک (المشتري) يوې معني (رانيونکي) ته ترجيح ورکول سوې په سياق باندي هغه سياق ځمکه ده .

حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ (البقره ۲۲) (النكاح) (الوطي)

تشريح: دلته دمشترک (النكاح) ويوې معنی (الوطي) ته ترجيح ورکول سوې ده په سياق باندی ځکه په نفس عقد سره ښځه زوج اول ته نه حلاليږی ښځه زوج اول ته هغه وخت حلاليږي چي زوج ثاني وطی ورسره وکړي .

فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدِ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ (البقره ۲۲۰) (تحل) (حلال)

دلته دمشترک (تحل) ويوې معني (حلال) ته ترجيح ورکول سوې ده په سياق او سباق باندي.

فَجَزَاءٌ مِثْلُ مَاقَتَلَ مِنَ النَّعَمِ (المائدة ۹۵) (مثل) (مثل معنوي)

تشريح: دلته دمثل ښخه په دې قول دخداي جل جلاله(فَجَزَاءٌ مثل مَاقَتَلَ مِنَ النَّعَمِ) كي مرادمثل صوري نه دئ په جزاء دښكار كي لان المثل مشترک بين المثل صورة ، وبين المثل معني وهو القيمة :

ددغه نص ښخه په قتل دحمام كي يا دعصفور كي يا ددې په مثل باندي مثل معنوي دئ بالاتفاق :

رَاَيْتُ الجَارِيَةَ تَتَكَلَّمُ (الجارية)
مينځه)

وَاُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ (المائدة ٩٦) (احل) (حلال)

تشريح: دلته دمشترک (احل) يوې معني حلال ته ترجيح وركول سوې ده په سياق او سباق باندي .

تشريح: دلته دمشترک (العين) ويوې معنى ته (جاسوس) ترجيح وركول سوي قرينه ورباندي العقاب دئ :

وَلَهُمْ اَعْيُنٌ لَا يُبْصِرُوْنَ بِهَا (الاعراف ١٧٩) (اعين) (ستركى)

تشريح: دلته دمشترک (اعين) ويوې معني ته (ستركي) ته ترجيح وركول سوې په سياق باندي هغه سياق لا يبصرون بها دئ :

اَمْ لَهُمْ اَعْيُنٌ يُبْصِرُونَ بِهَا(الاعراف ١٥٩) (اعين) (ستركي)

تشريح: دلته دمشترک (اعين) ويوې معني ته (ستركي) ترجيح: وركول سوې په سياق باندي هغه سياق يبصرون بها دئ :

أُحلت لكم بَهِيْمَةُ الْاَنعام (المائده (احلت) (حلال، حلول)

تشريح: دلته دمشترک (احلت) ويوېِ معني (حلال) ته ترجيح ورکول سوي په سياق باندي :

يَا اَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوا کُتِبَ عَلَيْکُمْ (البقره ١٨٣) (کتب (فرضيت)

تشريح: دلته دمشترک (کتب) ويوېِ معنا (فرضيت) ته ترجيح ورکول سوي په سياق باندي هغه سياق په عليکم کي علی دئ علی دالزام دپاره راځي الزام دفرضيت او دوجوب دپاره وي :

يا اَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا کُتِبَ عَلَيْکُمْ (البقره ١٧٨) (کتب) فرضيت
هغه سياق عليکم کي عليه دئ ولي علی دالزام دپاره راځي

شپاړسم سبق

والقسم الثاني في وجوه البيان بذالک النظم وهي اربعة :

دعبارت ترجمه: تقسيم ثاني: دتقسمياتو اربعو څخه ثابت دئ په طرقو کي دبيان بيان کله په يوه طريقه وي کله په بله طريقه وي کله په بله طريقه وي.

بذالک النظم :بيان به حاصل وي په هغه نظم سره دغه طرقي دبيان څلور دئ .

١- ظاهر ٢- نص ٣- مفسر ٤- محکم وجه دحصر په څلورو اقسامو کي .

تشريح: دا کلام دئ مثلا دايې مراد دئ مثلا اوس راسه دغه مراد دکلام به يا دنفسي صيغې څخه معلوميږي يا به دغه مراد معلوميږي دکلام دسوق څخه يعني کلام به ددغه مراد دپاره چلول سوي وي شړل سوي وي.

که مراد دنفسي صيغي څخه معلوميدې نو دا اول قسم (ظاهر) دئ که ددغه مراد دپاره باقاعده کلام چلول سوي وو شړ ل سوي وو، بيا به خالي نه وي يا به احتمال د تاويل

تخصيص لري يابه يې نه لري كه يې احتمال دتاويل تخصيص درلودى نو دا دويم قسم نص دئ، كه يې احتمال دتاويل تخصيص نه درلودى بيا به خالى نه وي يا به نسخه قبلوي يا به يې نه قبلوي كه يې نسخه قبلول نو دا دريم قسم (مفسر) دئ كه يې نسخه نه قبلوله نو دا څلورم قسم (محكم) دئ محكم پر دوه قسمه دئ ١- محكم لعينه ٢- محكم لغيره كه يې په ټول وخت نسخه نه قبلوله نو دا محكم لعينه دئ .

كه يې دنبى عليه السلام دوفات وروسته نسخه نه قبلوله نو دا محكم لغيره دئ .

فائده: څلور تقسميات دي دويم تقسيم څلورم تقسيم دكلام جملې سره كارلري ، دريم تقسيم اول تقسيم دكلمې سره كار لري .

فائده: دوه مذهبه دي يو مذهب دمتقدمينو اصولينو دي .

بل مذهب دمتأخرينو اصوليينو دئ .

متقدمين اصولين وايي ددغه څلورو ((ظاهر، نص، ، مفسر، محكم) اقسامو په مابين كي تبيان اعتباري دئ، يعني يو دبل سره جمعه كيږي ، ظاهر دنص سره جمعه كيږيَ نص، دمفسر سره جمعه كيږي مفسر دمحكم سره جمعه كيږي .

اولس سبق

الظاهر وهو ما ظهر المراد منه بنفس الصيغة :

دعبارت ترجمه: ظاهر يو لفظ دئ داسي لفظ چي ښكاره واضحه به وي معنى هغه معني چي مراد كړه سوي ده ددغه لفظ څخه خو دا ظهور به هم وي په نفس صيغه سره يعني په نفس الفاظو سره قرينه تأمل دلائل نه غواړى :

تشريح: په هر تعريف كي لابدي دجنس فصل څخه **ما ظهر المراد منه:** لفظ ما جنس دئ شامل دئ ومقصود او غير مقصود ته **ظهر المراد منه:** په دې قيد سره خفي مشكل مجمل

متشابه ووتل ځکه ددوي مراد نه ښکاره کيږی چي ترڅو طلب نه وي سوي يا تأمل بعد الطلب نه وي سوي يا يې بيا ن مُجمِل نه وي کړي پاته سو متشابه دمتشابه ددرک دپاره لاز نسته بالکليه که ته وايي دخفي مشکل مجمل مراد ښکاره کيږي وروسته ترطلب تأمل بيان دمجمل لهذا اوس دظهر المراد منه په قيد سره خفي مشکل مجمل نه خارجيږي نو به دادرې سره خارج سي دبنفس الصيغة په قيد باندی ځکه دظاهر مراد ښکاره وي په نفس تورو الفاظو باندي دخفي مشکل مجمل مراد په نفس الصيغة باندي نه وي ښکاره ځکه دادرې سره يا طلب غواړی يا تأمل بعد الطلب غواړي يا بيان دمجمِل غواړي .

بنفس الصيغة : دمتقدمينو اصولیينو په نيز دظاهر دتعريف څخه نص مفسر محکم نه دئ خارج ځکه ددوی پر مذهب باندي ددې اقسامو (ظاهر نص مفسر محکم) په مابين کي تباين اعتباري دئ يو دبل سره جمعه کيږي .

دمتأخرينو په نيز باندي نص خارج دئ ځکه په نص کي شرط احتمال دتأويل يا دتخصيص دئ همدا رنګه مفسر محکم هم وو ته ځکه په مفسر کي شرط احتمال دنسخي دئ په محکم کي شرط نه احتمال دنسخې دئ .

قاعده :يو عبارت وويل سو اوس که په دغه عبارت کي أول کيدی دخپل ظاهر څخه اوښتی بس دا يا ظاهر دئ يا نص دئ که عبارت دخپل ظاهر څخه نه اوښتي أول نه پکښی کيدی بيا ورته ګورو که يې نسخه قبلوله نو دا مفسر دئ که يې نسخه نه قبلوله نو دا محکم دئ ، عبارت دخپل ظاهر څخه اوښتل ددې دپاره درې الي دي ١- تقييد ٢- تخصيص ٣-ارادة المجاز :

مثال حُرِمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ پر تاسو باندي مړه او وينه حرامه ، الله پاک مطلقا ويلي چی مړه حرامه وينه حرامه :

ليکن ميتتي ته تخصيص ورلګيدلي هغه داچې ماهي مړ سي نو دا حلال دئ دم مقيد دئ په دم مسفوح باندي يعني هغه وينه چي بهيدونکې وي دم مطلق نه دئ دم مقيد دئ

په دم مسفوح باندي نو ګوره أول پکښې وسو په تقييد باندي په ميتته کي تخصيص وسو نو أول پکښې وسو نو دغه عبارت مفسر محکم نه سي جوړيدای.

فَسْئَلِ الْقَرْيَةَ : ته سوال وکړه د قريي څخه سوال د قريي څخه نه کيږي دلته مجاز سوي دئ فسئل اهل القرية نو ګوره دلته اول وسو دامفسر محکم نه سي جوړيدای فاجلدوهم ثمانين جَلدَۃً په دغه عبارت کي اول نسي کيدای نو دامفسر دئ.

مثال ظاهر

وَاَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ (البقره ٢٧٥) (هذه الاية)

تشريح : دغه اية ظاهر دئ په احلال د بيعي کي يعني بيعه روا ده:

وَحَرَّمَ الرِّبٰوا (البقره ٢٧٥) (هذه الاية)

تشريح : دغه اية ظاهر دئ په تحريم درباء کي يعني ربا روانه ده.

فَانْكِحُوْا مَاطَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ (النساء ٣) (هذه الاية)

تشريح : دغه اية ظاهر دئ په اباحت کي د نکاح يعني نکاح کول مباح ده:

وَمَا اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا (الحشر ٨) (هذه الاية)

تشريح: دغه اية ظاهر دئ په دلالت کولو کي پر دې باندي چي د رسول الله ﷺ اطاعت کول واجب دي په هر هغه شی کي چي دی امر ورباندي وکړي يعني رسول الله ﷺ چي ديو شي امر وکړ بس هغه به کوې همدا رنګه د رسول الله ﷺ اطاعت کول واجب په هر هغه شي کي چي دی (رسول الله ﷺ) منعه د هغه شي څخه وکړي يعني (رسول الله ﷺ) چي د کوم شي څخه منعه کړې وي بس موږ به د هغه شي څخه منعه کيږو.

لَاجُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَالَمْ تَمَسُّوْهُنَّ او تَفْرِضُوْا لَهُنَّ فَرِيْضَةً (البقره ٢٣٦) (هذه الاية)

تشريح: دغه اية ظاهر دئ په دې كي چي زوج په طلاق وركولو كي مستقل دئ يعنى دا معني دطلاق اختيرا دزوج سره دئ:

فَسَجَدَ الْمَلٰئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ (هذه الاية)

تشريح: دغه اية ظاهر دئ په سجده كولو كي دملائكو.

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ (هذه الاية)

تشريح: دغه اية ظاهر دئ په دې كي چي محمد دالله جل جلاله رسول دئ.

وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ (البقرة ٢٢٨) (هذه الاية)

تشريح: دغه اية ظاهر دئ په دې كي چي طلاق سوي ښځي به خپل ځانونه بندوي درې حيضه.

اَلْخَبِيْثٰتُ لِلْخَبِيْثِيْنَ وَالْخَبِيْثُوْنَ لِلْخَبِيْثٰتِ وَالطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ وَالطَّيِّبُوْنَ لِلطَّيِّبٰتِ (النور ٢٦) (هذه الاية).

ويوم يحشرهم جميعا (سبأ ٤٠) (هذه الاية)

والنص وهو ما ازداد وضوحا على الظاهر بمعنى في المتكلم نحو قوله تعالى ﴿فانكحوا ما طاب لكم من النساء مثني وثلث ورباع﴾ فانه ظاهر فى الاطلاق نص فى بيان العدد لانه سيق الكلام لاجله:

دعبارت ترجمه: نص يو لفظ دئ داسي لفظ چي ظهور به دده زيات وي پر ظاهر باندي په سبب دمعنى داسي معني چي كائنه به وى په متكلم كي چي هغه سوق دكلام دئ لكه دا

قول د خدای جل جلاله ظاهر دئ په اباحت کي دنکاح نص دئ په بیان کي د عدد ځکه خبره خو داسي ده کلام چلول سوی دئ د عدد دپاره :

تشریح: فائده: نص پر دوه قسمه دئ یو قسم خر روان دئ پخپل عادي تګ سره ته را ولاړ سوې خر دي لړ چابک کړي ودېته هم په عربي کي نص وایي یعني دابة دخپل معتاد تګ څخه لړ تیزول ، ددې نص (دابه دخپل معتاد تګ څخه لړ تیزول) او ددې نص (ما ازداد وضوحا الخ) څه مناسبت دئ مناسبت يې دا دئ چي په دواړو کي سوق دئ :

بل قسم نص عربو به یو خاص ځای جوړ کړ ، بیا یې داځای ښه ښایسته کړی په ګلانو او نورو شیانو بیا یې دلته ناوې کښېنوله ودیته هم نص وایي :

ددې نص (دناوکي دپاره خاص ځای جوړول) او ددې نص (وهو ما ازداد وضوحا الخ) مناسبت څه دئ ، مناسبت یې دا دئ چي په دواړو کي ظهور زیات دئ :

ما ازداد وضوحا: وضوحا تمیز محول عن الفاعل دئ مخول عن الفاعل دیته وایي چي په اصل کي فاعل وي بیا یې دفاعلیت څخه راپرې کړې تمیز یې جوړ کړي دا عبارت په اصل کي داسي دي ما ازداد وُضوحُهُ.

قاعده: ظاهر نص به موږ څنګه پېژنو موږ به ظاهر نص داسي پېژنو امر مباح دئ خو مقید بقید دئ .

مقید ظاهر دئ قید نص دئ :

نبی کریم ﷺ فرمایي بیعوا سواءً بسواءٍ تاسو بیعه وکړي برابر په برابر : سواء بسواء مقید دي دبیعوا دپاره بیعوا بقید دئ ستا خوښه ده سودا کوي که یې نه کوې بیعوا امر مباح دئ نو دا ظاهر دئ سواء بسواء دا یې نص دئ فانکحوا ما طاب لکم مقید مثنی وثلث ورباع قید فانکحوا ما طاب لکم ظاهر مثنی وثلث ورباع نص :

اتلسم سبق

﴿فَانْكِحُوْا مَاطَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مُثْنَىٰ وَثُلٰثَ وَرُبَاعَ﴾ فانكحوا ما طاب لكم ظاهر دئ په اباحت کي دنکاح مثنی وثلث ورباع نص دئ په بيان کي دعدد ظاهر ديته وايي چي په نفس تورو الفاظو سره مراد دلفظ ښکاره وی باقاعده سوق دكلام دده دپاره نه وي پاته سو نص ،نص دكلام دپاره باقاعده هدف وي يعني كلام باقاعده دده دپاره شړل سوي وي ﴿فانحکوا ما طاب لکم من النساء مثنی وثلث ورباع﴾ دا کلام الله پاک ددې دپاره نه دئ شړلي چي نكاح مخته حرامه وه اوس حلاله ده، دا کلام الله پاک شړلی دپاره دبيان د عدد دا قول دخدای جل جلاله چي ظاهر دئ په اباحت کي دنکاح ، نص دئ په بيان كي دعدد:

ددې دپاره درې دلائل دي : اول دليل څه وخت چي امر مباح وسي او دا امر مباح مقيد وي په يو قيد باندي نو به دا امر مباح چي مقيد دئ دا به ظاهر سي قيد به دامر مباح نص سي، لکه دلته فانحکوا ما طاب لکم امر مباح مقيد دئ نو ظاهر دئ، مثنی وثلث ورباع دايې قيد دئ نو به دا نص سي دويم دليل : ﴿فَإِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تَعْدِلُوْا فَوَاحِدَةً﴾ الاية:

الله جل جلاله وايي كه چيري تاسو ويرېدلاست چي انصاف عدل نسو کولای نو بيا يوه ښځه په نكاح کړي، ددې اية څخه دا معلومېږي چي دالله جل جلاله په مخکني اية کي مقصود بيان دعدد دئ چي دوې په نكاح کړه يا درې په نكاح کړه ياڅلور په نكاح کړه، عدد ددوو څخه شروع دئ كه چيري ته ويريدې چي انصاف نسم كولای نو بيا يوه په نكاح کړه .

دريم دليل: يو حكم دمخته دپخوا څخه موږ ته معلوم دئ اوس بيا دا حكم راته معلوم سو نو ښكاره خبره ده چي دا حكم مقصود نه دئ بل حكم مقصود دئ، مخته دپخوا څخه موږ ته معلومه ده چي نكاح حلاله ده بيا په فانكحوا ماطاب لكم كي موږ ته دا حكم معلوم سو نو ښکاره خبره ده چي دا حکم مقصود نه دئ بل شی يې مقصود دئ چي هغه بيان دعدد دئ .

مثال

النص

وَاَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ (البقره ٢٧٥) (هذه الاية)

دغه اية په نفي کي دمماثلت نص دئ :

فَانْكِحُوْا مَاطَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ (النساء ٣) (هذه الاية)

تشريح: دغه اية نص دئ په بيان کي دعدد يعني تر څلورو ښځو پورى نكاح كول مباح نور نه ځكه كلام ددغه عدد دپاره چلول سوى دئ.

فَسَجَدَ الْمَلٰئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ (هذه الاية)

تشريح: دغه اية نص دئ په دې کي چي ټول ملائكو سجده ولګوله دا دم عليه السلام دتعظيم دپاره :

لَاجُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَالَمْ تَمَسُّوْهُنَّ اَوْ تَفْرِضُوْا لَهُنَّ فَرِيْضَةً (البقره ٢٣٦)

(هذه الاية)

تشريح: دغه اية نص دئ په دې کي چي طلاق وركول وښځى ته مخته تر وطي مخته تر ذكر كيدو دمهر جائز دئ.

وَمَا اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَانَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا (الحشر ٨) (هذه الاية)

تشريح: دغه اية نص دئ ځكه ايم اصلا چلول سوى دئ دپاره ددلالت كولو پر دې چي درسول الله ﷺ اطاعت واجب دئ په تقسيم کی دغنيمت :

اِشْرَبُوْا مِنْ اَبْوَالِهَا وَاَلْبَانِهَا (الحديث) (هذالحديث)

تشريح : دغه حديث نص دئ په بيان كي دسبب دشفاء يعني داوښي بولي اوشيدې څښل داسبب دشفاء دي دغه حديث دهمدې دپاره شړل سوې دئ،

اِسْتَنْزَهُوْا عَنِ البَوْلِ فَاِنَّ عَامَةُ عَذَابُ القَبْرِ مِنْهُ (الحديث) (هذالحديث)

تشريح: دغه حديث نص دئ په دې كي چي دبولو څخه ځان ساتل واجب دئ على الاطلاق.

مَاسَقَتْهُ السَمَاءُ فَفِيْهِ الْعُشْرُ (الحديث) (هذ الحديث)

تشريح: دغه حديث نص دئ په دې كي چي داسمان په اوبو اوبه سي نو په دې كي عشر لازم دئ.

وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ (البقرة ۲۲۸) (هذه الاية)

تشريح: دغه اية نص دئ په دې كي چي طلاق سوي ښځي به خپل ځانونه درې حيضه بندوي سوق دكلام ددغه دپاره سوى دئ .

موږ په حسامي كي وويل ظاهر نص مفسر محكم ددوي په مينځ كي تباين اعتباري دئ.

والمفسر وهو ما ازداد وضوحا على النص على وجه لا يبقي فيه احتمال التخصيص والتأويل الخ :

دعبارت ترجمه: مفسر يو لفظ دئ داسى لفظ چي زيات به وي وضاحت دده پر نص باندي په داسي طريقه باندي چي په دې نص مفسر كي به باقي پاته نه وي احتمال دتخصيص كه چيري نص مفسر عام وو همدارنګه به احتمال دتاويل نه وي كه چيري نص مفسر خاص وو.

تشريح: المفسر دبعضو علماؤ په نيز مفسر دفَسرَ څخه دئ دبعضو علماء په نيز دارامقلوب دئ دسَفر څخه الله جل جلاله فرمايي ﴿والصُبحُ إذَا اَسفَر﴾ نبی علیه السلام فرمايي اَسفِرُوا للفجر فأنه اعظم للاجرِ.

دسهار لمونځ په رڼا کي کوي دغه اجر زياتوي علماء وايي مفسر دفسر څخه دئ فسر دسفر څخه دئ سفر په اتفاق سره کشف وضاحت ته وايي دديې قبيلې څخه مسافر او سفير هم دئ ځکه په مسافر باندي ډير ځايونه کشف واضح سي سفير ته سفيرځکه وايي چي هر سفير دخپل هيواد حالات کشف کوي مثلا دافغانستان سفير په پاکستان کي د خپل هيواد حالات ښکاره کوي دپاکستان سفير په افغانستان کي دخپل هيواد حالات کشف ښکاره کوي ، ليکن بعض علماء وايي دلته قلب نسته فسر جلا دئ سفر جلا دئ خو دواړه دکشف معنی ورکوي لږ فرق يې سته سفر کشف ظاهري ته وايي فسر کشف باطني ته وايي کوم سړي چي تر امام مخته سجدې ته ولاړ سي نو سر به يې د خره وي لکه دډيرو انسانانو سرونه دخره دي خو دا صاحب الكشف ته معلوميږي ، لکه مولانا احمد لاهوي رحمه الله صاحب الكشف وو:

اوس راسه مفسَر اصطلاحي ته مفسَر ځکه وايي چي دی ډير منکشف دئ ترظاهر او نص په ظاهر او نص کي احتمال دتخصيص او تاويل سته په مفسَر کي نسته په مفسر کي انکشاف دئ من كل وجوه دا عام دئ احتمال دتخصيص لري داخاص دئ احتمال دتاويل لري، مفسر ديته وايي چي د عام دتخصيص دروازه وربنده کړی دخاص دتاويل دروازه وربنده کړي.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم

نحو قوله تعالى ﴿فَسَجَدَ الملئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ﴾:

ملائکو سجده ولګوله په دې باره کي ظاهر دئ، ټولو دادم علیه السلام دتعظيم دپاره يې ولګوله په دې باره کي نص دئ، فسجد الملئكة اوس دلته احتمال دتخصيص سته په قران کريم کی کله کله جمعه ذکر سی مراد ورڅخه مفرد وي مثال لکه الله رب العزت فرمايي

﴿اِذْقَالَتِ المَلٰئِكَةُ يٰامَرْيَمُ﴾: در په ياد كړه هغه وخت چي وويل جبريل عليه السلام اى مريمي دلته په دغه اية كي ذكر جمعه د ه مراد ورڅخه يوائي جبريل عليه السلام دئ، لهذا په فسجدَ الملئكة كي احتمال دتخصيص سته چي بعضو ملائكو به سجده كړې وي . كُلُّهُمْ ټولو ملائكو سجده ولګوله ، په كلهم سره احتمال دتخصيص ختم سو اوس نص وګرځيدى له وجي دزيات وضاحت دده پر ظاهر باندي خو اوس احتمال دتاويل سته هغه احتمال دادئ چي ټولو ملائكو دي په يو وار سجده كړې وي ادم عليه السلام ته يا دي ملائكو سجده كړي وي جلا جلا ، اَجْمَعُوْنَ. چي اجمعون وويل سو نو دغه احتمال دتاويل ختم سو يعني ټولو ملائكو په يوه وار سجده وكړه وادم عليه السلام ته ﴿فَسَجَدَ الملئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ﴾:

سوال: دمفسر دپاره دامثال ورکول صحيح نه دی ځکه مفسر احتمال دنسخې لري دا مثال دمحكم دئ ځكه دا جمله خبريه ده په جمله خبريه كي خبر وي په خبر كي احتمال دنسخې نه وي په جمله انشائيه كي احتمال دنسخې وي لهذا په خبر كي ا حتمال دنسخې نه وي كه وي بيا به په دويمي خبري داولي خبري كذب لازم سي كذب داركم راځي فريشتو سجده ولګوله داخبره چي نسخه كوي نو داركم فريشتو سجده نه ده لګولې نو خامخا كذب راځي .

لهذا په خبر كي احتمال دنسخې نه وي .

جواب: په ﴿فَسَجَدَ الملئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ﴾ كي دوه حيثيته دي يو حيثيت يې داصل دي يو حيثيت يې داوس دئ .

داصل حيثيت يې دادئ الله پاک ټولي فريشتې راجمع كړې ورته وې ويل ټولي ورسي ادم عليه السلام ته سجده ولګوی بيا يې ددغه اصل اخبار وكړي دايې بل حيثيت دئ، دغه اية په اعتبارداوس احتمال دنسخي نه لري مګر په اعتبار داصل احتمال دنسخې لري هغه اصل

داوو چي الله تعالى ورته وويل ورسي ټولي سجده ورته وکړئ ادم علیه السلام ته بیرته یې ورته وویل مه یې لګوي سجده لهذا په اعتبار د دغه اصل سره احتمال د نسخې سته:

سوال: مفسر دیته وایي چي احتمال د تخصیص به ختمیږي په دغه اية کي بالفعل تخصیص سوی لکه الله پاک وایي فَسَجَدَ الْمَلٰئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ اِلَّا اِبْلِيْسَ دغه دی بالفعل تخصیص سوی ټولو فریشتو په یوه وار سجده ولګوله وادم علیه السلام ته مګر ابلیس نه ده لګولې.

ددې دوه جوابه ورکوو، اول جواب مخته موږ وویل مخصص به کلام مستقل متصل وي، دلته مخصص کلام مستقل نه دئ:

دوهم جواب: که ومنم چي په استثناء باندي تخصیص راځي لکه شوافع چي وایي مګر استثناء پردوه قسمه ده متصله منقطعه، متصله دیته وایي چي منتثنی دمستثنی منه دجنس څخه وي مثال لکه جاءني القوم الا زیدا، منقطعه دیته وایي: چي مستثنی دمستثنی منه د جنس څخه نه وي مثلا لکه جاءني القوم الا حمارًا دلته حمار دقوم دجنس څخه نه دئ.

شیطان ملائکو ته داسي مثال لري لکه خر چي یې قوم ته لري.

اِلَّا اِبْلِيْسَ مستثنی منقطعه ده که چیري شیطان دملائکو دجنس څخه واي بیا به تاسوال کولای چي هغه دی نفر ور څخه ووتی.

سوال: مفسر دیته وایي چي احتمال د تاویل به نه وي پکښې؟

مګر دلته د سړي په ذهن کي یو احتمال ګرځي هغه احتمال دا دی چي ټولو فریشتو په یوه وار ادم علیه السلام ته سجده وکړه ابنه ته وایي دافریشتو به د دائري په شکل سجده کړې وي که به یې د صف په شکل سجده کړې وي دغه یو احتمال د سړي په ذهن کي ګرځي؟

جواب: مفسر پیژندل کیږی په نص باندي نص وو تعظیم دادم علیه السلام ، تعظیم دادم علیه السلام دصف په شکل هم راځي ددائرې په شکل هم راځي مفسر ته هغه تاویل تاوان کوي چي نص ته یې کوي ، هغه احتمال چي نص ته تاوان نه کوي نو مفسر ته هم تاوان نه کوي.

وحكمه الايجاب قطعا بلا احتمال تخصيص ولا تاويل الا انه يحتمل النسخ .

دعبارت ترجمه: اثر مرتب دمفسر اثبات دحکم دئ قطعا یقینا بالاتفاق ا حتمال دتخصیص به نه وي پکښي پاته احتمال دتاویل به نه وي پکښي پاته مگر مفسر احتمال د نسخې لري .

تشریح: دنبی علیه الصلوة والسلام په زمانه کي په ژوندي کي مفسر احتمال دنسخې درلودی مگر نبی علیه السلام چي وفات سو ټول مفسرات محکم وگرځیدل خو دغه مفسر ات چي محکم وگرځیدل وروسته تر وفات دنبی صلی الله علیه وسلم خو دا محکم لغیره دي.

فائده : تخصیص تر عام پوري خاص دئ تاویل تر خاص پوري خاص دئ .

دمولوي یعقوب محشي یو سوال پورته کړی هغه دا چي مخته تاسو وویل چي تخصیص خاص دی تر عام پوري تاویل خاص دئ تر خاص پوري فسجد الملئكة كلهم گوره دلته په عام کي احتمال دتاویل دار کم دئ باندي سجدو ا متفرقین او مجتمعین لهذا خبره دمخکني خبري څخه مخالفه ده دمولوي یعقوب محشي جواب ورکوي هغه دا اختصاص دتخصیص تر عام پوري دا قاعده کلیه ده .

اختصاص دتاویل تر خاص پوري دا قاعده اکثریه ده، بل لا دا چي تاویل کله کله په عام کي هم راځي ، دوهم جواب دئ دلته تاویل په لفظ د اَلسِجدَةُ کي دی او سجدة خاص دی بل جواب هم محشی ورکړی مولوي یعقوب بل سوال په عبارت کي کړی دئ هغه سوال دادئ فسجد په مثال کي ولی درج سو، جواب: مفسر احتمال دنسخي لري او حال دا چي نسخه نه متصور کیږی مگر متصوره کیږي په کلام کي داسي کلام چي دال به وي پر معنی باندي

مفید به دیو حکم وي، (الایة الکریمه بد ون ذکر قوله فسجد لیس بمفید للحکم لانه لیس بکلام:

سوال: مصنفه تا دظاهر تعریف بیان کړ مګر حکم دي بیان نه کړی دنص تعریف دي بیا ن کړی مګر حکم دي بیان نه کړ دمفسر تعریف دی بیان کړ حکم دي هم بیان.

وحکمه الایجاب قطعا: کړي داولي، جواب: مصنف دې خواته اشاره کړې چي دمفسر حکم قطعي دئ نو دمحکم حکم په طریقه اولی باندي قطعي دئ پاته سو دظاهر نص حکمونه لږ وروسته بیان سوي.

دمفسر علامات

اوله علامه دمفسر: هر ځای که کافة راغلی بس دامفسر دئ.

دوهمه علامه دمفسر: هر ځای کي لفظ دجمیعا راغلی بس دا مفسر دئ دریمه علامه دمفسر: هر ځای که لفظ دقاطبة راغلی بس دا مفسر دئ ځلورمه علامه دمفسر: هر ځای که عدد راغلی بس دامفسر دئ پنځمه علامه دمفسر: هر ځای که اجمع راغلی بس دا مفسر دئ.

اِلَیْهِ مَرْجِعُکُمْ جَمِیْعًا (یونس ۴) (هذه الایة) (جمیعا)

اَنَّا دَمَّرْنَاهُمْ وَقَوْمَهُمْ اَجْمَعِیْنَ (النمل ۵۱)) (هذه الایة) (اجمع)

فَاجْلِدُوْا هُمْ ثَمٰنِیْنَ جَلْدَةً (النور ۴) هذه الایة) (عدد)

تشریح: لفظ دثمانین احتمال دتاویل نه لري ځکه دا عدد معین دئ زیادت نقصان نه قبلوي نو دا مفسر دئ:

یَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَعَشْرًا (البقرة ۲۳۴) (هذه الایة) (عدد)

فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ (المائدة ٨٩) (هذ الاية) (عدد)

اَيْنَ مَاتَكُوْنُوْا يَأْتِ بِكُمُ اللهُ جَمِيْعًا (البقره ١٤٨) (هذه الاية) (جميعا)

كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ (المعارج ۴) (هذه الاية) (عدد)

فاذا ازداد قوة واحكم المراد به عن التبديل سمي محكما:

دعبارت ترجمه: څه وخت چي قوت د مفسر زيات سي او هغه څه چي مراد دئ په مفسر باندي دا محكمه سي دتبديل او نسخي څخه دې ته محكم وايي :

فاذاازداد قوة :

تشريح: سوال: مصنفه مخته تا دنص مفسر په تعريفينو كي وويل ازداد وضوحا ازداد وضوحا.

او دلته مصفنه وايي فاذا ازداد قوة داولي څه وجه ده تفنن في العبارات دئ كه بله نكته سته؟

تفنن: تفنن ديته وايي چي يو شی په رنګ رنګ عباراتو راوړي دلته خو تفنن نسته .

دلته څه نكته سته، دلته نكته داده په مفسر كي وضاحت پای ته ورسيږي دلته چي مصنف قوة وويلي نو اشاره يې ودې خواته وكړه چی محكم تر مفسر زيات دئ په قوت كي نه په وضاحت هغه قوت د محكم دادئ چی تبديل نسخه نه پكښي كيږي .

(٢٠) شلم سبق

وانما يظهر التفاوت فی موجب هذه الاسامي عند التعارض :

دعبارت ترجمه : جزي نيست ښکاره کيږي اثر دتفاوت په موجب ددغه اسامي کي په وخت کي دتعارض يعني دظاهر يوه تقاضا ده دنص بله تقاضا ده دمفسر بله تقاض ده دمحکم بله تقاضا ده ددغه څلورو دتقاضا وو فرق ښکاره کيږي په وخت کي دتعارض که دظاهر او نص تعارض راغلی نو به نص ته ترجيح ورکول کيږي پرظاهر باندي که دنص او مفسر تعارض راغلی نو به مفسر ته ترجيح ورکول کيږي پر نص باندي که دمفسر او محکم تعارض راغلی نو به محکم ته ترجيح ورکول کيږي پر مفسر باندي .

تشريح :التعارض : تعارض ديته وايي دوه دليله دي يو دليل يو حکم ثابتوي هغه بل دليل بل حکم ثابتوي دغه دواړه حکمونه متضادين دئ ودغه دلائلو ته ويل کيږي متعارضين مگر شرط پکښي دادئ چي متعارضين به مساوي وي ، داسي به نه وي چي يو کمزوري وي بل زورور وي ځکه کمزوري دزورور معارض نسي جوړيدای :

مثال زيد دليل وړاندي کوي په کتاب الله باندي عمر دليل وړاندي کوي په خبرو احد باندي اوس دلته دعمر دليل دزيد ددليل معارض نسي جوړيدای لهذا اقوی داقوی معارض جوړيدای سي قوی دقوی معارض جوړيدای سي ضعيف دضعيف معارض جوړيدای سي، ضعيف دقوی معارض نسي جوړيدای قوی داقوی معارض نسي جوړيدای .

سوال : مصنفه ته وايي دظاهر نص مفسر محکم فرق ښکاره کيږي په وخت کي دتعارض او حال دا مصنفه ددوي په مابين کي تعارض نسي راتلی ، ځکه ظاهر کمزوري دئ تر نص ، نص کمزوري دئ تر مفسر مفسر کمزوري دئ تر محکم .

جواب: تعارض پر دوه قسمه دئ (۱) تعارض حقيقي ۲-: تعارض صوري :

تعارض حقيقي ديته وايي چي په حقيقت کي په واقع کي يو دبل معارض وي .

تعارض صوري ديته وايي چي ما او تا ورته وگورو نو تعارض معلوميږي خو اصلا تعارض نه وي .

لهذا مخته چي تاوويل چي په تعارض كي مساوات شرط دئ يعني په ضعف او قوت كي دا شرط په تعارض حقيقي كي دئ.

او دلته تعارض صوري دئ نو يو دبل معارض جوړيدای سي.

مثال دهغه ظاهر او نص چي دواړه معارض وي او نص ته ترجيح وركول سوي وي پر ظاهر باندي ﴿وَأُحِلَّ لَكُمْ ما وراءَ ذَالِكُمْ﴾ دمحرماتو څخه پرته تاسو ته ښځي په نكاح كول حلال سوی دئ دوی كوي دري كوي څلور كوي پنځه كوي هر څو چي كوی دغه ايات ظاهر دئ په دی كي چي څومره ښځي كوي كوي يې پرته دمحرماتو.

﴿فَانْكِحُوا مَاطَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبَاعَ﴾ : دغه اية نص دئ په بيان كي دعدد يعني اقتصار واجب دئ په څلورو كي تر څلورو اخواته به تجاوز نه كوي:

دلته نص ته ترجيح وركول سوې پر ظاهر باندي ظاهر دی دئ لكه منسوخه عمل به كيږي په نص باندي مثال دهغه نص او مفسر چي دواړه معارض وي او مفسر ته ترجيح وركول سوی وي پر نص باندي مثال لكه دا قول دنبی عليه الصلاة والسلام المستحاضة تتوضأ لكل صلوة دا قول دنبی عليه السلام نص دئ احتمال دتاويل لري هغه احتمال دادئ تتوضأ لكل صلوةٍ دهر لمانځه دپاره جلا جلا اودس كوه يعنی دفرض دپاره جلا اودس كوه دنفلو دپاره جلا اودس كوه دقضائی لمانځه دپاره جلا اودس كوه.

او دا احتمال هم سته چي لام دي دوقت دپاره سي نو دامعنی دلمانځه دوخت دپاره اودس كوه مثال دماسپښين وخت داخل سو اودس وكړه بيا چي هر لمونځ په كوې فرض په كوي نفل په كوي قضائي په كوي لهذا دغه قول نص دئ بل قول دنبی عليه الصلوة والسلام المستحاضة تتوضأ لوقت كل صلوة مستحاضة ښځه به اودس كوي دپاره دوخت دهر لمانځه دا قول مفسر دئ ځكه احتمال دتاويل او تخصيص پكښي نسته ، دلته ترجيح وركول سوې مفسر ته پر نص باندي نو به عمل په مفسر كيږي.

شوافع وايي مستحاضه به دهر لمانځه دپاره اودس كوي موږ احناف وايو مستحاضه به اودس كوي دلمانځه دوخت دپاره زموږ دليل قوي دئ تر شوافعو ځكه زموږ دليل مفسر دئ دشوافعو دليل نص دئ او حال دا چي دنص او مفسر معارضه راسي نو نص به پاتيږي په مفسر به عمل كول كيږي .

مثال : دهغه مفسر او محكم چي دواړه معارض وي او محكم ته ترجيح ورکول سوي وي پر مفسر باندي مثال لكه الله رب العزت فرماي ﴿وَاَشْهِدُوْا ذَوَىْ عَدْلٍ مِنْكُمْ﴾ چي سړي پر بل سړي باندي دزناء تهمت ولگوي او شاهدان يې ورته پيش نه كړل نو ده ته شريعت حد قذف وركوي .

واشهدوا ذوى عدل منكم الله پاک وايي تاسو گواهان ودروي دوه كسان چي خاوندان دعدل وي له تاسو څخه دغه اية وايي گواهي دمحدود القذف قبليږى هغه وخت چي توبه وباسي .

﴿وَلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً اَبَدًا﴾ : الله رب العزت فرماي تاسو ددوى (محدود القذف) گواهي مه قبلوي هميشه دغه اية محكم دئ ځكه دغه اية ته دابدًا قيد لگېدلى چي دابدًا قيد ورولگيدى نو احتمال دنسخي ختم سو .

اول اية مفسر دئ دوهم اية محكم دئ محكم ته به ترجيح وركوو پر مفسر باندي نو به عمل په محكم باندي كوو .

اما الكل فيوجب ثبوت ما انتظمه يقينا :

دعبارت ترجمه: ظاهر نص مفسر محكم دا ټول حكم ثابتوي يقينا په هغه چا كي چي دوى شمول ورته كوي .

دمحكم علامه : هر ځاى كه لفظ دابدا راغلى وو بس دا محكم د ئ.

اجراء المحكم

مثال	محكم	علامه
لَا تَقُمْ فِيْهِ اَبَدًا (النور ١٥٨)	(هذه الاية)	(ابدا)
وَلَا تُصَلِّ عَلٰى اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَاتَ اَبَدًا (التوبة ٨٤)	(هذه الاية)	(ابدا)
فَقُلْ لَّنْ تَخْرُجُوْا مَعِيَ اَبَدًا (التوبة ٨٣)	(هذه الاية)	(ابدا)
وَلَا نُطِيْعُ فِيْكُمْ اَحَدًا اَبَدًا (الحشر ١١)	(هذه الاية)	(ابدا)
وَلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً اَبَدًا (النور ٤)	(هذه الاية)	(ابدا)
اَنْ تَعُوْدُوْا لِمِثْلِهٖ اَبَدًا (النور ١٧)	(هذه الاية)	(ابدا)
مَازَكٰى مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَبَدًا (النور ٢١)	(هذه الاية)	(ابدا)
اَنْ تَبِيْدَ هٰذِهٖ اَبَدًا (الكهف ٣٥)	(هذه الاية)	(ابدا)
وَمَاكَانَ لَكُمْ اَنْ تُؤْذُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَلَا اَنْ تَنْكِحُوْا اَزْوَاجَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ اَبَدًا (الاحزاب ٥٥)	(هذه الاية)	(ابدا)
اَلْجِهَادُ مَاضٍ اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ (الحديث)	(هذا الحديث)	

يويشتم سبق

ولهذا الاسامي اضداد تقابلها :

دعبارت ترجمه: ددغه ظاهر نص مفسر محکم دپاره اضداد دي دا سي اضداد چي دوي مقابل دي دظاهر نص مفسر محکم:

تشريح : دظاهر نص مفسرو محکم ، څلور متقابلا ت دي، ظاهره او خفي متقابلين دي نص او مشکل متقابلين دي مفسرا ومجمل متقابلين دي محکم او متساويه متقابلين دي په يوه جانب کي چي څومره ظهور وي په هغه بل جانب کي به دومره خفاء وي .

يعني په ظاهر کي ظهور کم دئ په نسبت ونص مسمر محکم ته په خفي کي خفاء کمه ده په نسبت ومشکل مجمل متشابه ته په مفسر کي ظهور کم دئ په نسبت ومفسر محکم ته په مشکل کي خفاء کمه ده په نسبت ومجمل متشابه ته همدا رنګه دا نور را وخله .

التقابل : تقابل ديته وايي چي دوه شيان به نه جمعه کيږي په يو محل کي په يوه زمانه کي په يوه مکان کي په يوه ان کي :

تقابل پر څلور قسمه دئ ۱- تقابل تضاد ۲- تقابل تضايف ۳- تقابل تنافي ۴- تقابل عدم والملکه :

اول تقابل تضاد دئ :تقابل تضاد ديته وايي چي دواړه به وجودين وي په خپل مينځ به دواړه په غاية الخلاف کي وي دواړه به يو محل ته راتلی سي يکي باديګري يعني چي يو ولاړسي ديو محل څخه هغه بل به دهغه محل ته راتلی سي، مثال لکه سواد (تور) اوبياض (سپين) ديوال نن سپين دئ سبا تور رنګ ورکړه سپين رنګ به ختم سي، ګوره تور اوسپين دواړه وجودين دي دواړه په خپل مينځ کي په غاية الخلاف کي دي يو دبل محل ته راتلی سي يکي باديګري يعني چي يو و لاړسي هغه بل به راتلی سي:

دوهم تقابل تضايف دئ: تقابل تضايف ديته وايي چي تعقل به ديوه پر اخر باندي موقوفه وي مثال لکه ابوت بنوت اب چاته وايي من له ابن، ابن چا ته وايي من له اب .

دريم تقابل تنافي تقابل ايجاب وسلب دئ: تقابل دايجاب سل ديته وايي چي دشانه دعدمي اتصاف په وجودي نه وي مثال لکه انسان او لا انسان ، انسان اولا انسان دواړه متنافيان دي.

ثلورم تقابل عدم والملکه دئ: تقابل عدم والملکه ديته وايي چي ديوه مفهوم وجودي وي دبل مفهوم عدمي وي يعني دشانه دعدمي به اتصاف په وجودي کيداى سي عام تر دې يابه دى موصوفه کيداى سي يا به دده نوعه موصوفه کيداى سي يا به دده جنس موصوفه کيداى سي مثال عمي او بصر حرکت او سکون دهريوه تعريف ظاهر دئ.

فضد الظاهر الخفي وهو ماخفى المراد منه بعارض غير الصيغة لا ينال الا بطلب كاية السرقة فانها خفية فى حق الطرار والنباش لاختصاصهما باسم اخر يعرفان به ،

دعبارت ترجمه : دظاهر مقابل خفي دئ خفى چاته وايي خفى دايو لفظ دئ داسي لفظ چي مراد به دده پټ وي په سبب ديو عارض داسي عارض چي صيغه به نه وي داسي عارض چي سړي ومراد ته نه رسيږي مګر په طلب سره سړى مراد ته رسيږي لکه اية دسرقې داسرقه خفي ده په حق دطرار او نباش کي ځکه دوى دواړه (طرار نباش) خاص دي تر بل اسم پوري داسي اسم چي دوى دواړه (طرار نباش) پېژندل کيږى په هغه اسم باندي :

تشريح: الله رب العزت فرمايي ﴿اَلسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْٓا اَيْدِيَهُمَا﴾ دغله او غلې لاسونه ور پرې کړي، په السارق والسارقة کى سرقه سته ځکه په هر مشتقي کي خپل مبدأ وي.

السرقة: سرقة چاته وايي سرقه ديته وايى مال اخيستل داسي مال چي متقوم به وي داسي مال چي محترم به وي داسي مال چي محفوظ به وي خو دا مال به دلس درهمه په اندازه وي.

که هر چا داسي مال پورته کړى چي متقوم وي محترم وي محفوظ وى دلس درهمه په اندازه وي نو به دده لاس پرې کيږي که زيد ، دعمرو دبجلې پورته کړى ديته سرقه نه وايي که

مسلمان دهندو ځخه شراب پورته کړي نو لاس يې نه پرې کيږی ځکه دامال متقوم نه دئ عند المسلم.

عمرو بانجې کرلي دي زيد غلا کړل نو دزيد لاس نه پرې کيږی ځکه دا مال محفوظ نه دئ.

زيد دعمرو بي کاره ګوتمۍ پورته کړه نو دزيد لاس نه پرې کيږي ځکه دا دلس درهمه په اندازه نه ده.

اوس راسه دوه غله دي يوجوب وهل کيسبر بل کفن کش په دې دواړو کي موږ پريشانه يو چي دغه اية ﴿اَلسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا اَيْدِيَهُمَا﴾ پر صادق کيږي که يا.

دفاقطعوا ايديهما حکم خفی دئ په حق دطرار او نباش کي ځکه که دوی دواړه (طرار نباش) عين غله وای نو به يې جلا نوم نه وای اوس دوی دواړو ته خلګ سارق سارقه نه وايي دوی دواړو ته خلګ جوب وهل کفن کش وايي اوس راسه دسرقې مفهوم معنی پر طرار نباش باندي صادقيږی که يا که دسرقې مفهوم معنی پر سمه سوه پرهر چا نو به دفاقطعوا ايديهما حکم پر جاري کوو:

که دسرقې معنی تعريف پر صادق نه سو نو به دفاقطعوا ايديهما حکم نه پر جاري کوو، که دسرقې مفهوم په طرار ا و نباش کي برابر وو دسارق سارقة سره يا دا مفهوم زيات وو تر سارق نو دفاقطعوا ايديهما حکم ورباندی جاري کيږي.

که دسرقې مفهوم په طرار او نباش کي کم وو تر سارق نو بيا د فاقطعوا ايديهما حکم نه ورباندي جاري کيږي، مال به وي متقوم به وي محترم به وي محفوظ به وي دلس درهمه په اندازه به وي مثال دا ګدام دئ دروازې يې قلف دي دباندي چوکيدار دئ موږ چي وکتل په طرار ((جوب وهل) کي دسرقې معنی زياته وه ځکه قيصه بور چي جوب وهي نو جوب والا زيا ت بيداره وي تر چوکيدار ځکه چوکيدار کله ويده وي کله بلې خواته ولاړ سی پاته سو جوب والا ځلور ويشت ساعته بيداره وي لهذا دفاقطعوا ايديهما حکم پر طرار (جوب وهونکي) باندي جاري کيږي په نباش (کفن کش) کي حفاظت کم دئ يعني په نباش (کفن

كش) كي دسرقې معنى كمه ده چي كمه ده نو دفاقطعوا ايدهما حكم نه ورباندي جاري كيږي :

وحكمه النظر فيه ليعلم ان اختفاءه لمزية او نقصان فيظهر المراد منه :

دعبارت ترجمه : اثر مرتب دخفي تامل كول ده په دې كي ددې د پاره چي معلومه سي چي خفاء دخفي له وجي دزيادته دمعنى په ده كي لكه په طرار كي يا له وجي دنقصانه دمعنى په ده كي لكه په نباش كي نو به ښكاره سي مراد له ده څخه .

اجراء الخفي

مثال

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا اَيْدِيَهُمَا فَاقْطَعُوْا اَيْدِيَهُمَا فانه ظاهر في حق السارق خفي في حق الطرار والنباش.

اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ: فانه ظاهر فى حق الزاني خفي فى حق اللوطي لو حلف لا يأكل فاكهة كان ظاهرا فيما يتفكه به خفيا فى حق العنب والرمّان .

هوالَّذِىْ خَلَقَ مَافِى الْاَرْضِ جَمِيْعًا (البقره ٢٩) (هذه الاية (جميعا)

قُلْنَا اهْبِطُوْا مِنْهَا جَمِيْعًا (البقره ٣٨) (هذه الاية (جميعا)

يَاَيُّهَاالَّذِيْنَ امَنُوْا اُدْخُلُوْا فِى السِّلْمِ كَافَّةً (البقره ٢٠٨) (هذه الاية (جميعا)

فَسَجَدَ الْمَلٰئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ((الحجر) ٣٠) (هذه الاية (جميعا)

وَقَاتِلُوْا الْمُشْرِكِيْنَ كَآفَّةً (التوبة ٣٦) (هذه الاية (جميعا)

كَمَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ كَآفَّةً (التوبة ۳۶) (هذه الاية (جميعا)

وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُوْنَ لِيَنْفِروْا كَآفَّةً (التوبه ۱۲۲) (هذه الاية (جميعا)

وَمَا اَرْسَلْنَا اِلَّا كَآفَّةً لِلنَّاسِ (سبأ ۲۸) (هذه الاية (جميعا)

وَلَاُغْوِيَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ (الحجر ۳۹) (هذه الاية (جميعا)

اِنَّا لَمُنَجُّوْهُمْ اَجْمَعِيْنَ (الحجر ۵۹) (هذه الاية (جميعا)

وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ اَجْمَعِيْنَ (الحجر ۴۳) (هذه الاية (جميعا)

لَاُغْوِيَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ (ص ۸۲) (هذه الاية (جميعا)

لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ اَجْمَعِيْنَ (ص ۸۵) (هذه الاية (جميعا)

اِذْنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ اَجْمَعِيْنَ (الصفت ۱۳۴) (هذه الاية (جميعا)

دوویشتم سبق

وضد النص المشكل وهو ما لاينال المراد منه الا بالتأمل فيه بعد الطلب لدخوله فى اشكاله

دعبارت ترجمه : دنص ضد مشكل دئ مشكل چاته وايي مشكل دايو لفظ دئ داسي لفظ چی مراد له ده ځخه نه حاصليږی مگر مراد له ده ځخه حاصليږي چي تأمل په ده كي وسي وروسته تر طلبه ځكه مشكل داخل دئ پخپلو امثالو همشكلو كي :

تشريح: مشكل داشكال ځخه دئ اشكال دافعال باب دئ دافعال دباب پنځه ويشت (۲۵) خاصيات دي، دافعال دباب يوه خاصه داده دافعل دئ مثلا دايي فاعل دئ مثلا فاعل

دځپل فعل په مأخذ مصدر کي ور داخل سي مثال احرم زید اي ادخل فی الحرم داخل سوزید په حرم کي اشتي زید اي ادخل فی الشتاء داخل سو زید په ژمي کي :

په دغه دواړو مثالو کي زیدفاعل دئ دغه فاعل دځپل فعلینو (احرم اشتی) په مأخذ مصدر (حرم شتاء) کي ور داخل سو، مشکل داسم فاعل صیغه ده ماضي یې اَشکَلَ ده اشکل دافعال باب دئ اشکل زید اي ادخل فی اشکاله زید داخل سو په خپلو هم شکلو امثالو کي .

مشکل ته مشکل ځکه وایي چي دی پخپلو هم شکلو کي ننوتلی وي .

فائده: په خارج کي دخفي او مشکل څه فرق دئ، دخفی او مشکل په خارج کي فرق دادئ دازید دئ مثلا داسرای دئ په سرای کي شپږ خوني دي زید په دا شپږو خونو کي په یوه خونه کي پټ دئ نو ته را ولاړ سه دزید دپیدا کیدو طلب وکړه هر کله چي تا طلب وکړی نو به زید په یوه کوټه خونه کي پیدا کړی دغه نو خفی دئ خفی صرف طلب غواړي لکه موږ چي په کوچنیوالي انا پټ یا پټ پټانی کاوو په دارکم باندي یوه به سترګي پټې کړې نور به په خونو کي پټ سول بیا به موږ پیدا کول په داخونو کي :

زید کالی لباس بدل کړي مخ یې بدل کړی دئ بیا زید په یوه خونه کوټه کي خپلو هم شکلو امثالو ته ور داخل سي نو ته به راولاړ سي یو وار به طلب وکړي چي زید په کومه خونه کوټه کي دئ چي زید دي پیدا کړی بیا به تامل فکر پکښي وکړي ځکه دی ننوتلی دئ وخپلو امثالوته دغه نو مشکل دئ مشکل دوه کاره غواړي یوطلب بل تامل فکر لکه په بعضو هیوادونو کي دپاچاپه شکل نور کسان پیدا کړي نو بیا سړي ته باچا نه معلومیږي چي پاچا به کوم یو وي .

لدخوله فی اشکاله: په دغه تورو کي اشاره ده وخاصي ته مثال دمشکل قوله تعالی ﴿فَأْتُوا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ﴾ آنّی مشکل دئ اوس به موږ د آنّی دمعنا ګانو طلب کوو چي

انی څو معناګاني وركوي بيا به په انی كي فكر تامل كوو چي دلته د اَنّٰى څخه كومه معنا مراده ده.

موږ چي د اَنّٰى معنا ګانو طلب وكړی نو داني دوې معنا ګاني وي يوه معنی د اَنّٰى مِن اَينَ ده بله معنی دانی كيف ده د اَنّٰى دا دواړې معنا ګاني په قران مجيد كي سته:

مثال الله رب العزت فرمايي ﴿قَالَ يٰمَرْيَمُ اَنّٰى لَكِ هٰذَا . قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللهِ﴾

زكرياء وويل اې مريمي دا ميوې تاته دكومې خوا راځي مريمی به ورته وويل چي دا ميوې دخدای جل جلاله له خوا رځي،

دلته اَنّٰى لَكِ هذا په معنی دمن اين لک هذا سره دئ.

مثال الله پاک پرمايي ﴿اَنّٰى يُحيِي هٰذِهِ اللهُ﴾ دلته انی په معنی دكيف سره دئ انی يحی هذه الله ای كيف يحيی الله دلته انی يحيی په معنی دكيف يحيی سره دئ.

﴿فأتوا حرثكم انى شئتم﴾ د اَنّٰى شئتم يوه معنی من اين شئتم ده دوهمه معنی دانی

شئتم كيف شئتم كه اَنّٰى شئتم په معنی دمن اين شئتم سي نو تعميم به دمواضع تعميم به دمحل راسي نو دا معنی ستاسو خوښه ده كه ښځي ته دبري له خوا راځي كه دقبول له خوا راځي نو به لواطت حلال سي، كه انی شئتم په معنی دكيف شئتم سي نو به تعميم د احوالو راسي نو دا معنی ستاسو خوښه ده ښځي ته چي په كوم كيفيت راځي په ولاړه ورته راځي په پروتي ورته راځي پر بغل ورته راځي:

اوس راسه د لته اَنّٰى شتم په معنی دكيف شئتم سره دئ قرينه ورباندي حرثكم دئ.

فاتوا حرثكم كيف شئتم : تاسو راتګ وکړي وکښت ته ستاسو په کوم کيفيت چي ستا سو خوښه وي .

حَرثکم موږ ته و ويل چې أنى په معنى د کيف سره دئ ځکه دکښت ځاى قبول دئ دکښت ځاى دبړه نه ده ځکه دبره ځاى دګندګي دئ دپليتي دئ دخبري خلاصه دا ده که أنّٰى په معنى دکيف سرَه سي نو تعميم داحوالو به راسي که انى په معنى دمن اين سره سي نو تعميم دمواضعو محل به راسي خو چي موږ وکتل حرثکم راته وويل انى په معنى د کيف سره دئ

وحکمه التامل فيه بعد الطلب :

دعبارت ترجمه: اثر مرتب دمشکل دادئ چي ته به په ده کي تامل کوې وروسته تر طلب:

فائده: هر ځاى چي مشترک راسي بس دا مشکل دئ .

قاعده: تر ټولو زياته خفاء په متشابه کي ده، بيا په مجمل کي ده بيا په مشکل دئ ده تر ټولو کمه خفاء په خفي کي ده :

که په نفس لفظ کي خفاء وه نو دابه يا مشکل وي يا به مجمل وي يا به متشابه وي که په نفس لفظ کي خفاء نه وه دبلي خوا خفاء پکښي وه نو دا خفي دئ:

که په نفس لفظ کي خفاء وه اوس که داخفاء ليري کيده په عقل سره نو دا مشکل دئ که دا خفاء په نقل سره ليري کيده نو دامجمل دئ :

که د اخفاء نه په عقل سره ليري کيده او نه په نقل سره ليري کيده نو دا متشابه دئ :

که په نفس لفظ کي خفاء وه او داخفا ليري کيده په عقل سره ، عقل دا معني چي شا وخوا مخته شاته وګوره يو قرينه ولاړه وي ددغه قريني په ذريعه باندي خفاء دلفظ څخه ليري سي بس عقل دغه معني، که په نفس لفظ کي خفاء وه او داخفاء ليري کيده په نقل سره نقل دا معني شاوخوا مخته شاته مي وکتل خفاء دلفظ څخه نه ليري کيده اخير مي

مُجمل ته وويل د دې لفظ څه معني مُجمل راته وويل ددې لفظ دا معني بس نقل دا معنيٰ ودغه ته مجمل وايي شا وخوا مخته شاته مي وكتل قرائن نسته مُجمِل ته مي وويل ددغه لفظ معني راوښيه مجمل راته وويل يا نه يې درښيمه بس دا متشابه دئ.

قاعده: اشكال څوک جوړه وي اشتراک اشكال جوړه وي چي څرنګه اشتراک راغلی بس مشكل جوړ سو :

اوس كه شاوخوا يو قرينه وه ستا اشكال يې ليري كوي نو دا مشكل دئ كه يو قرينه نه وه چي ستا اشكال ليري كړي بس دا مشترک مجمل دئ كه يوځای مشترک راغلی بس مشكل دئ مثال: دقروء لفظ راغلی اوس دا لفظ مشكل دئ ما چي عقل پكار واچوي نو دقروء څخه مي حيض واخيستي بس اوس مؤول سو تا عقل پكار واچوي نو دقروء څخه تا طهر واخيستی بس اوس مؤول سو.

دخبري خلاصه داده: مشترک مشكل دئ مشترک مؤول جوړيږي مشكل هم مؤول جوړيږي :

لفظ دصلوة مشترک دئ په مابين كي ددعاء او داركان مخصوصه .دلته عقل كار نه كوي چي دا معنی واخله مجمل يې بيان وكړ وايي صلوة اركان مخصوصه ته وايي نو دصلوة لفظ مجمل دئ دنقل او بيان وروسته صلوة مفسر دئ :

دخبري خلاصه داده: اشتراک راغلی نو اشكال راغلی اوس كه عقل كار كوي چي دا معنی واخله نو به مشكل مؤول سي، كه عقل كار نه كوي چي دامعنی واخله نقل كاركوي نو دا مشترک مجمل دئ دنقل بعد بيا مفسر دئ مجمل دنقل بعد كه بيان شافي قطعي وو دا مجمل قطعي دئ.

فائده: هر وخت كه په لفظ كي ازدحام دمعناګانووو او مراد مشتبه وو اوس ورته وګوره كه دلفظ مراد د مجمل دبيان څخه په بله لار دلفظ مراد معلوميدی يا په سياق باندي معلوميدی يا په سباق باندي معلوميدی يا په نفس صيغه باندي معلوميدی يا

په قیاس باندي معلومیدی بس دا لفظ مشکل دئ مثلا لکه قروء که دلفظ مراد په یوه لارنه معلومیدی سیوا دمجمِل دبیان څخه یعني ټولي دروازي به بندي وي صرف دمجمِل دبیان دروازه به خلاصه وي بس دا لفظ مجمل دئ مثال لکه صلوة.

فائده: مشکل دوه کاره غواړي ۱- طلب ۲- تأمل یو وار به ته طلب کوې دلفظ دمعنا ګانو دوهم وار به ته په لفظ کي تأمل کوې چي دلته دلفظ څخه کومه معنی مراد ده دیوه مثال تشریح به موږ وکړو نور به تاسو خپله تشریح کړئ.

مثال	مشکل
وَاَحَلَّ اللهُ الْبَيْعَ (البقره ۲۷۵)	(احل)

تشریح: موږ دلفظ داحلّ معنا ګاني طلب کړې دلفظ داحلّ دوې معنا ګاني دي ۱- حلال ۲- حلول اوس به موږ په لفظ داحل کي تأمل کوو چي دلفظ داحل څخه کومه معنی مراد ده دلفظ داحلّ څخه دحلال معنی مراد ده قرینه وریاندي سیاق دئ یعني البیع وریاندي قرینه ده:

وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ (البقرة ۲۲۸)	(قروء)

تشریح: دلفظ دقروء دوې معنا ګاني دي ۱- حیض ۲- طهر دلته موږ دقروء څخه دحیض معني اخلو په سباق باندي هغه سباق ثلثة دئ.

فِيْهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ (الغاشیه ۱۲)	(عین)

تشریح: لفظ دعین مشترک دئ دجاسوس، لمر، فضه، دچیني وغیر ذالک دلته موږ دعین څخه چینه اخلو په سیاق باندي هغه سیاق جارية دئ.

اَنِ اضْرِبْ بِعَصَاكَ الْحَجَرَ (الاعراف ۱۶۰)	(اضرب)

تشريح: داضرب د رې معنا ګاني دي ۱- وهل ۲- بيان ۳- قسم دلته مورږ داضرب څخه وهل اخلو په سياق باندي هغه سياق بعصاک دئ.

فَقُلْنَا اضْرِبْ بِعَصَاكَ الحَجَرَ (البقره ۶۰) (اضرب)

تشريح: داضرب د رې معنا ګاني دي ۱- وهل ۲- بيان ۳- قسم دلته مورږ داضرب څخه وهل اخلو په سياق باندي هغه سياق بعصاک دئ.

فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا (المائدة ۶) (طيبا)

تشريح: دطيبا درې معنا ګاني دي ۱- طاهر ۲- حلال ۳- منبت دلته مورږ طيبا څخه طاهرا اخلو دليل ورباندي دا قول دخداي جل جلاله دئ وَلٰكِنْ يُّرِيْدُ لِيُطَهِّرَكُمْ.

عُوْقِبَ الْعَيْنُ (العين)

تشريح: دالعين ډيري معنا ګاني دي دلته مورږ دالعين څخه جاسوس اخلو قرينه ورباندي العقاب دئ.

رَأَيْتُ الجَارِيَةَ تَكَلَّمُ فِي الْبَيْتِ (الجارية)

تشريح: الجارية مشترک ده په مابين کي دمينځي او دکښتۍ دلته مورږ دالجارية څخه مينځه اخلو په سياق باندي هغه سياق تکلم فى البيت دئ:

اَلَّذِيْ اَحَلَّنَا دَارَالْمُقَامَةِ (فاطر ۳۵) (احل)

تشريح داحل دوې معنا ګاني ۱- حلال ۲- حلول:

دلته مورږ داحل څخه حلول اخلو په سياق باندي هغه سياق دار المقامه دئ.

وَيَضْرِبُ اللهُ الاَمْثَالَ لِلنَّاسِ (النور ٣٥) (يضرب)

تشريح: ديضرب درې معناګاني دي ١- بيان ٢- قسم ٣- وهل دلته موږ ديضرب څخه بيان اخلو په سياق باندي هغه سياق الامثال للناس دئ:

وَاُحِلَّ لَكُمْ مَاوَرَاءَ ذَالِكُمْ (النساء ٢۴) (احل)

تشريح: د احل دوې معناګاني دي ١- حلال ٢- حلول

دلته موږ داحل څخه حلال اخلو په سباق او سياق باندي :

وَتِلْكَ الاَمْثَال نَضْرِبُهَا (العنكبوت ۴٣) (نضرب)

تشريح: دنضرب درې معنا ګاني دي ١- بيان ٢- وهل ٣- قسم دلته موږ دنضرب څخه بيان اخلو په سباق باندي هغه سباق تلک الامثال دئ.

يُضِلُّ بِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُحِلُّوْنَهُ عَامًا (التوبة ٣٧) (يحلون)

تشريح: ديحلون دوې معنا ګاني دي ١- حلال ٢- حلول دلته موږ ديحلون څخه حلال اخلو په سباق او سياق باندي:

وَلَا تَنْكِحُوْا الْمُشْرِكِيْنَ حَتّٰى يُؤْمِنَّ (البقره ٢٢١) (تنكحوا)

تشريح دتنكحوا دوې معنا ګاني دي ١- عقد ٢- وطي دلته موږ دتنكحو څخه عقد اخلو په سباق او سياق باندي.

فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَاعَشْرَةَ عَيْنًا(البقره ٦٠) (عينا)

تشريح: لفظ دعين مشترک دئ لمر ، فضه ، جاسوس ، چينه وغيرذالک :

دلته مورِ دعين څخه چينه اخلو په سباق باندي هغه سباق انفرجت دئ :

فَانْبَجَسَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا (الاعراف ۱۶۰) (عينا)

تشريح: لفظ دعين مشترک دئ دلمر، فضه، جاسوس ، چنيه وغيرذالک :

دلته مورِ دعينا څخه چينه اخلو په سباق باندي هغه سباق انبجست دئ .

فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ (النساء ۳) (نكاح)

تشريح: دنكاح دوې معنا ګانى دى ۱- عقد ۲- وطي دلته مورِ دنكاح څخه عقد اخلو په **سباق** او سياق باندي :.

اُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهُ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ (المائدة ۹۹) (احل)

تشريح: داحل دوې معنا ګاني دي ۱- حلال ۲- حلول :

دلته مورِ دحل څخه حلال اخلو په سباق او سياق باندي.

وَلَهُمْ اَعْيُنٌ لَا يُبْصِرُوْنَ بِهَا (الاعراف ۱۷۹) (اعين)

تشريح لفظ داعين مشترک دئ به مابين كي دبصر، چينه، جاسوس، سره زرهمداسي نور دلته مورِ د اعين څخه سترګي اخلو په سياق باندي :

عِنْدِىْ عَيْنٌ اَشْتَرِى بِهَا مَا اَشَاءُ (عين)

تشريح: لفظ دعين مشترک دئ په مابين كي دبصر، چينه ، جاسوس ، همداسي نور دلته مورِ دعين څخه زرا اخلو قرينه ورباندي سياق دئ هغه سياق شراء دہ.

أُحِلَتْ لَكُمْ بِهِيْمَةُ الْاَنْعَامَ (المائد ١) (احلت)

تشریح: داحلت دوې معناګاني دي حلال، حلول دلته مورږ داحلت څخه حلال اخلو په سیاق باندي.

كَانَتْ قَوَارِيْرَا مِنْ فِضَّةٍ قَدَّرُوْهَا تَقْدِيْرًا (الانسان ١٥-١٦) (قواريرا)

الله دجنت ولوښو ته داصفت ورکړي قَوارِيْرِ مِنْ فِضَّةٍ :

ترجمه: چي وي به دښیښو هسي ښیښي چي دسپینو زرو به وي.

تشریح: الله جل جلاله دجنت ولوښو ته داصفت (قورایر او قواریرا من فضة) ورکړي دئ الله جل جلاله وویل دا لوښی به دښیښې وي هغه ښیښه دسپینو زرو ده:

دامشکل دئ ښیښه به څنګه دسپینو زرو وي ښیښه جلا جنس دئ سپین زر جلا جنس دي نو مورږ یې په مشکل کي واچولو چي یا الله دقواریر من فضفة به څه معني وي مورږ را ولاړ سو طلب مو وکړ، چي قواریرا ستا ځو صفاته دي قواریرا وایي په ما کي دوه خویه دي یو خوي مي ښه دئ بل خوی مي بد دئ ښه خوی مي دا دئ چي دومره شفاف یم چي له دباندي خوامي دننه خوا لیدل کیږي لکه دکوټې بهر خلک چي ښیښې ته وګوري نو دکوټې دننه خلک لیدلای سي بدخوی مي دادئ چي ښیښه ټول عمر توره وي ښیښه پخپل ځان کي دننه توره ده لهذا ښه خوی شفاف دئ بد خوی توروالي دئ مورږ چي په فضّة کي طلب وکړ نو دفضة یو ښه خوی دئ بل یې بد خوی دئ سپینوالی یې ښه خوی دئ غَیر شفافیت یې بد خوی دئ لهذا مورږ طلب وکړ اوس تامل کوو مورږ چي تامل وکړ نو الله داسي وایي دغه دجنت لوښي په دې لحاظ چي ورته وګوري چي شفافیت پکښي دئ نو داسي دي لکه ښیښی په دې لحاض چي ورته وګوري چي سپین والی پکښي دئ نو داسي دي لکه سپین زر دجنت لوښي سپین او شفاف دي لوښي یې تک سپین دي هغه

شراب چي پکښي دي هغه دننه پکښي معلوميږي بعضو علماؤ دمشکل دغه مثال ورکړی دئ .

يٰاَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ (البقره ۱۸۳) (كتب)

تشريح: دکتب دوې معنا ګاني دي فرضيت ، ليکل دلته موږ دکتبَ څخه فرضيت اخلو په سياق باندي هغه سياق عليکم الصيام دئ .

يٰاَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ (البقره ۱۷۸) (كتب)

تشريح: دکتب دوې معنا ګاني دي فرضيت ، ليکل دلته موږ دکتبَ څخه فرضيت اخلو په سياق باندي هغه سياق عليکم القصاص دئ .

لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ اَلْفِ شَهْرٍ (القدر ۳) (ليلة القدر)

ترجمه: شپه د قدر غوره ده دزرو (۱۰۰۰) مياشتو څخه زر (۱۰۰۰) مياشتي تقريبا دوه اتيا کاله او څلور مياشتي جوړيږي ليلة القدر، خير من الف شهر، يويشتم (۲۱) درويشتم (۲۳) پنځويشتم (۲۵) اووه ويشتم (۲۷) نه ويشتم (۲۹) که سړي په دغه شپو کي هر ه شپه روڼه کړي لکه دغه سړي چي دوه اتيا کاله او څلور مياشتي عبادت وکړي ليلة القدر تر زرو مياشتو بهتره ددې خبري موږ په مشکل کي واچولو ودغه ظاهري اية ته چي ګورې ، نو فضيلت دشي پر خپل ځان راځي لکه ته ووايي شا غاسي تر شاه غاسي ښه دئ مفضل او مفضل عليه يو شي سول دلته هم داسي معلوميږي ليلة القدر تر ليلة القدر ښه ده ولي په دوه اتيا کاله کي هر کال ليلة القدر راځي نو په هر کال کي ليلة القدر افضله سوه لهذا فضيلت دشی پر خپل ځان راغلی او حال دا فضيلت دشي پر خپل ځان ناروا دئ نو موږ تامل وکړ الله جل جلاله داسي نه وايي چي هغه دوه اتيا کاله چي ليلة القدر پکښي دئ دا ليلة القدر تر هغه کال چي ليلة القدر پکښي دئ

بهتره دئ نه ته به قدر ليري کړې يعني يو ولس مياشتي او نه ويشت شپې تر دغو بهتر دئ ليلة القدر .

وَاِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا (المائدة ٦)

ترجمه: که چيري تاسو جنبان واست نو ښه ځان پاک کړي.

تشريح: موږ چي وخولې ته وکتل نو په مشکل کي يې واچولو خوله من وجه داخل ده من وجه داخله نه ده په پيشلمي باندي ستا په غاښو کي نخود بند دئ سهار تا هغه نخو تير کړ نو روژه ماته نه ده نو دا پر دې دلالت کوي چي خوله دننه داخل شى ده که سړي په خوله کي اوبه واچولې اوبيرته اوبه توي کړې نو روژه نه ده ماته که سړي معدې ته اوبه واچوي اوبيرته اوبه توى کړي نو روژه ماته ده ودې ځاى ته چي وګورې نو خوله خارج ده نو موږ پرې شانه يو چي خوله خارج وبولو که داخل يې وبولو دخولې پرې مينځل فرض دي که فرض نه دي نو موږ به فيصله وکړو دخولې پرې مينځل په غسل کي فرض په اوداسه کى فرض نه دي پرې مينځل که ته وايي عکس وکړي خوله په اوداسه کي فرض کړه په غسل کي يې مه فرض کوه نو موږ وايو په اوداسه کي ساده توري راغلى دي فاغسلو په غسل کي په تشديد سره راغلى دي فاطَّهَّرُوا يعني په غسل کي پوره پوره پاکي وکړي .

دروېشتم سبق

وهو ما ازدحمت فيه المعانى فاشتبه المراد به اشتباها لايدرک الا ببيان المجمل :

دعبارت ترجمه: مجمل يو لفظ دئ داسي لفظ چي په ده کي به را کوږه را کوته وى معناګاني نو به مراد په دغه ازدحام سره مشتبه وي داسي اشتباه چي نه به معلوميږى مراد دلفظ مګر معلوميږي به په بيان سره دا بيان به هم وي دمتکلم دطرفه لکه اية درباء :

وضد المفسر المجمل وهو ما ازدحمت فيه المعاني فاشتبه المراد به اشتباها لا يدرك الا ببيان من جهة المجمل كاية الربوا :

تشرح: دمفسرضد مجمل دئ مفسر په ظهور كي وديته ورسيدى چي سيوا دا احتمال دنسخې په ده كي بل شي باقي نه وو پاته يعني مفسر يوازي احتمال دنسخې درلودى مجمل په خفاء كي و ديته رسيدلي چي سيوا دبيان دمجمل يعني چي مجمل يې بيان ونه كړ بل ركم يې مراد نه معلوميږي مجمل درې كار ه غواړي طلب تامل بيان دمجمل دمجمل مثال په خارج كي داركم دئ يو وار به ته دسړي طلب كوي دوهم وار به تامل پكښې كوي دريم وار به ته دخلكو څخه پوښتنه كوې چي فلانكى كومه دئ مجمل لغة ددې قول څخه دى اَجمل عليه الامر اي ابهم دا كار پر ده باندي مبهم سو مجمل په اصلاح كي ديته وايي :

فائده :دا مُجمَل دئ دا مُجمِل دئ دا مجمِل به دمُجمَل بيا ن كوي بيان دمجمِل د رې قسمه دئ ١ شافي قطعي ٢ شافي ظني ٣ غير شافي كله مجمِل دمجمَل بيا ن وكړي خو دا بيان دمجمِل شافي قطعي وي شافي معنى بس كافى، كله مجمِل دمجمَل بيان وكړي خو دا بيان دمجمِل شافي كافى ظني وي كله مجمِل دمجمَل بيان و كړي خو دا بيان دمجمِل غير شافي غير كافي وي .

مثال دبيا ن شافي قطعي ﴿واقيموا الصلاة و اتوا الزكوة﴾ الله پاک وايي تاسو لمونځ قائم كړي او زكات وركړي صلوة او زكات دواړه مجمَل دي دا الله رسول ﷺ يې بيان وكړي چي لمونځ داركم كوه لاسونه به غوږ ته پورته كړې دلمانځه ټول طريقه يې را وښودل زكات يې راوښووى چي په دومره مال كي زكات وركړه يعني رسول الله ﷺ دلمانځه اوزكات پوره بيان راته وكړى دغه بيان درسول الله ﷺ شافي كافى هم دئ قطعي هم دئ .

فائده : هر هغه مجمَل چي مجمِل يې په بيان شافي قطعي سره بيان وكړي نو دغه مجمَل مفسر كرځي، مثال دبيان شافي ظني الله رب العزت فرمايي ﴿وامسَحُوا بِرُؤسكم﴾ تاسو مسحه وكړي پر سرو ستاسو دلته باء (برؤسكم) دتبعيض ده يعني بعضي سر مسحه كړه

بعضي سر دوه ويښتان درې ويښتان څلور ويښتان څلورمه حصه دسر دريمه حصه در دوهمه حصه دسر دغه ټول احتمالات لري نو ازدحام دمعاني پکښي دئ نو په دغه ازدحام سره مراد مشتبه سو .

دالله حبيب يې بيان وکړی روايت کړي مغيره بن شعبة ﷺ ان النبی ﷺ اتی سباطة قوم قال وتوضّأ و مسح علی ناصيته وخفيه :

نبی کريم ﷺ راغلی وکندوالې ته ديو قوم نو هلته يې استراحت وکړی بيا يې اودس وکړي بيا يې مسحه وکړه پر تندي خپل پر موزو خپلو دغه حديث د بَعضُ رُؤُسِكُم بيان وکړي چي څلورمه حصه دسر مسحه کړي دغه بيان دمجمِل شافي کافي دئ خو دغه بيان ظني دئ ځکه دا خبر واحد دئ .

فائده: هر وخت که دمجمَل بيان مجمِل په بيان شافي ظني سر وکړی نو دغه مجمل مؤول ګرځي .

داغه خو وجه ده چي مفسر قطعي دئ منکر يې کافر مؤول ظني دئ منکر يې کافر نه دئ که دسر دڅلورمي حصې څخه چا انکار وکړی نو کافر نه دئ .

مثال دبيان غير شافي : الله جل جلاله فرماي ﴿وَاَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا﴾ بيعه حلاله ده رباء حرامه ده :

رباء وايي زيادت ته رباء مجمله ده دالله حبيب ﷺ يې بيا ن وکړ، الحنطة بالحنطة والشعير بالشعير والتمر بالتمر والفضة بالفضة والذهب بالذهب سواء بسواء والفضل ربوا :

زموږ پر مذهب باندي جنس او قدر معتبر دئ

دامام شافعي پر مذهب طعم ثمن معتبر دئ .

دغه بيان دمجمل غير شافي دئ ځکه عمر رضی الله عنه وويل چي نبی کريم ﷺ ددنيا څخه ولاړی خو مسئله يې پوره بيان نه کړه :

فائده: هر وخت كه دمجمَل بيان مجمِل په بيان غير شافي سره وكړی نو دغه مجمَل مشكل ګرځي.

فائده: اجمال ددرو وجو پيدا كيږي ١- كله اجمال داشتراک له وجي پيدا سي ٢- كله اجمال دغرابت له وجي پيد ا سي ٣- كله اجمال دابهام له وجي پيد اسي .

كله كله په يو لفظ كي ډيري معنا ګانی شريكي وي نو سړي ته نه معلوميږي چي كومه معنی به مراد وي كله لفظ نادر استعمال سي نو سړي ته يې معنی نه ور معلوميږي مثال ﴿إِنَّ الإِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوْعًا﴾ الله رب العزت فرمايي ما انسان پيد ا كړي هلوع په هلوعًا كي ابهام دغرابت دوجي دئ وروسته الله تفسير وكړی،﴿ إِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوْعًا وإِذَا مَسَّهُ الخَيْرُ مَنُوْعًا﴾ :

ترجمه: كله چي ده ته ورسيږي شر خرابي صبر نه كوي ډير فرياد كوی او كله چي ده ته ورسيږي ښېګڼي فايدې نو منع كوونكی شي حق لره كله متكلم كلمه مبهمه استعمال كړي الله پاک فرمايي ﴿وَاَحَلَّ اللهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا﴾ دغه كلمه (الربوا) متكلم مبهمه پرې اينښې ده :

ما ازدحمت فيه المعاني: په لفظ كي به معناګاني را ټولي راكوړه وي اوس كه ته سوال وكړې چي معناګانی خو په مشترک كي راټولي وې نه په ابهام او غرابت كي نو ته به جواب وركړي چي دا تعريف پر دارو باندي صادق دئ هم پر مشترک هم پر غرابت هم پر ابهام ځكه كلمه چي غريبه استعمال سي نو دسړي په ذهن كي ډيري معنا ګاني راګرځي چي ته وايي دا معنی به مراد وي دا معنی به مراد وي كه كلمه مبهمه استعمال سي نو دسړي په ذهن كي ډيری معناګاني راګرځي .

وحكمه التوقف فيه على اعتقاد حقية المراد به الى ان ياتيه البيان :

دعبارت ترجمه: اثر مرتب دمجمَل توقف كول دي په ده کي خو ستا عقيده به داوي چي كم شي دالله مراد دئ هغه حق دئ دا توقف به كوي تر دې پوري چي بيا ن يې وسي دمتكلم دطرفه.

اجراء المجمل

مثال	مجمل
اِنَّ الْاِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوْعًا (المعارج ١٩)	(هلوعا)

تشريح: لفظ دهلوعا مجمِل دئ مجمل متكلم يې په دې تورو بيان وكړ اذا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوْعًا(٢٠) وَاِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوْعًا.

اَلْقَارِعَةُ مَالْقَارِعَةُ وَمَاَادْرَاکَ مَالْقَارِعَةُ (القارعه ١- ٢- ٣)	(القارعه)

تشريح: لفظ دالقارعه مجمل دئ مجمِل متكلم يې بيان په دې توري باندي وكړ يَوْمَ يَكُوْنُ النَّاسُ.

وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيْهَا اَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ (المائدة ٤٥)	(ان النفس بالنفس)

تشريح : ان النفس بالنفس دا مجمل دئ.

اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ (البقره ١٧٨)

داقول دخداي جل جلاله بيان او تفسير دئ دمجمل ځكه دغه اية (وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيْهَا اَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ) چي اول وار نازل سو مراد يې نه فهميدى.

اَلْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ (البقره ۱۸۷) (الخيط الابض - الخيط الاسود)

تشريح: الخط الابيض من الخيط الاسود دا مجمل دئ مِنَ الْفَجْرِ دا بيان دئ دالخيط الابيض دپاره دالخيط الاسود بيان محذوف دئ هغه محذوف بيان من الليل دئ

أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الْاَنْعَامِ اِلَّا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ (المائد ۱)

تشريح : دغه استثناء مجمله ده .

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ (المائده ۳)

تشريح: دغه اية (حرمت عليكم الميتة) بيان دئ دمجمل (الا ما يتلى عليكم)

وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ (البقره ۴۲) (الصلوة والزكواة)

تشريح صلوة او زكواة مجمل دئ :

ځکه كيفيت داقامة الصلوة مجهول دئ محتاجه دئ وبيان ته ، مقدار دزكات واجبه مجهول دئ محتاجه دئ وبيان ته مُجْمِل (نبى عليه السلام) يې بيان وکړ په فعل باندي لکه داقول دنبى عليه السلام صلوا كمارَاَيْتُمُوْنِیْ اُصَلِّیْ .

وَاَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا(البقره ۲۷۵)

تشريح: دلته رباء مجهوله ده محتاجه ده وبيان ته يعني رباء مجمله ده مجمل (نبى عليه السلام)يې بيان وکړ .

فِيهِ اٰيٰتٌ بَيِّنٰتٌ (ال عمران) - (ايات بينات)

تشريح: دغه ايات مجمل دئ :

مَقَاُاِبْرَاهِيْمَ (ال عمران ٩٧)

مقام ابراهيم بيان دئ دپاره دفيه ايت بينات .

وَلَاتَنْكِحُوْا مَانَكَحَ اَبَائُكُمْ مِنَ النِّسَاءِ (النساء ٢٢)

تشريح: دغه اية مجمل دئ :

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ اُمَّهٰتُكُمْ (النساء ٢٣))

تشريح: دغه اية (حرمت عليكم) تفسير دئ ددې قول دخداي جل جلاله (وَلَا تَنْكِحُوْا مَانَكَحَ اٰبَاءُكُمْ مِنَ النِّسَاءِ :

صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ (الفاتحة ٧)

تشريح: دغه قول دخداي جل جلاله مجمل دئ معلومه نه ده چي ددغه قول څخه به څوک مراد وي .

مِنَ النَّبِيّنَ وَالصِّدِيْقِيْنَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصّٰلِحِيْنَ (النساء ٦٩)

دغه قول دخداى جل جلاله مِنَ النبيين والصديقين والشهداء والصلحين) بيان دئ ددې قول دخداي جل جلاله (صراط الذين انعمت عليهم) .

واَقِيْمُوْا الصَّلٰوةَ البقره (٤٣) (الصلوة)

تشريح: صلوة مُجمَل دئ مجمِل (نبى عليه السلام) يې موږ ته بيان كړى دئ .

څلور ويشتم سبق

وضد المحكم المتشابه :

تشريح: دمحكم ضد متشابه دئ ځکه محکم په نهايت ظهور کي دئ احتمال دنسخي نه لري متشابه په نهايت خفاء کي دئ دبيان طمعه پکښې نسته .

[وهو مالا طريقه لدرکه اصلا حتى سقط طلبه] :

دعبارت ترجمه: متشابه يو لفظ دئ داسي لفظ چې دده درک دپاره لاره نسته بلکي تر دې اندازې پوري چي طلب يې ساقط دئ :

تشريح: دمتشابه مراد نه په طلب سره معلوميږي نه په تأمل سره معلوميږي نه په استفسار (پوښتنه) سره معلوميږي ځکه دی په انتهائي خفاء کي دئ.

[وحکمه التوقف فيه ابدا على اعتقاد حقيقة المراد به]:

دعبارت ترجمه: اثر مرتب دمتشابه توقف کول دي په ده کي هميشه سره ددې چي ستا به داعقيده وي چي کوم څه دالله مراد وي په متشابه باندي بس هغه حق دئ :

تشريح: دمتشابه مثال: ﴿تَبٰرَكَ الَّذِىْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ﴾ مبارک دی هغه ذات چي په لاس کي يې باچاهي ده الله پاک چي په قران کريم کي دخپلو اندامو ذکر کړی دغه متشابهات دي زموږ داهل سنت والجماعت اودعامو صحابه او تابعينو رضي الله عنهم مذهب، دادئ چي علماء د متشابهاتو په معنی مراد باندي علم نه لري پاته سو نبي کريم ﷺ دمتشابهاتو په معنی مراد باندي علم لري که نبي کريم ﷺ وسلم به متشابهاتو علم ونه لري نو بيا الله پاک دنبي کريم ﷺ سره په متشابهاتو باندي کلام کول داسي دئ لکه کلام دعربي دزنجي سره يا کلام دزنجي دحبشي سره لهذا نبي ﷺ په متشابهاتو باندي علم لري دصديق اکبر رضي الله عنه دوينا څخه هم ددې تائيد کيږي چي نبي کريم ﷺ په متشابهاتو باندي پوهيږي صديق اکبر

ﷺ وایي په هر کتاب کي يو سر وي يو پټ راز وي دقران مجيد سر دغه متشابهات دي لهذا دغه متشابهات دالله او درسول ﷺ په مينځ کي يو پټ راز دئ علماء په متشابهاتو باندي نه پوهيږي، مذهب دمعتزله امام شافعي رحمه الله هم ورسره ملګری دئ ددوي مذهب دادئ چي علماء په متشابهاتو باندي پوهيږي علم ورباندي لري منشأ د اختلاف زموږ او ددوي دغه ايات دئ ﴿فَاَمَّا الذِيۡنَ فِي قُلُوۡبِهِمۡ زَيۡغٌ فَيَتَّبِعُوۡنَ مَاتَشَابَهَ مِنۡهُ ابۡتِغَاءِ الفِتۡنَةَ وَابۡتِغَاءَ تَأۡوِيۡلِهِ وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيۡلَهُ اِلَّا الله وَالرَّاسِخُوۡنَ فِي العِلۡمِ يَقُوۡلُوۡنَ اٰمَنَّا بِهِ﴾

ترجمه:نو هغه کسان چي ددوي په زړو کښي کوږوالی دئ پس دوی پير وي کوی دهغو کلماتو چي متشابه وي له دې (قران) له پاره دطلب دفتنې او دپاره دطلب دمعنی دهغو حال دا چي نه پوهيږی په حقيقي معنی دهغه مګر الله ورباندي پوهيږي او هغه کسان چي پاخه دي په علم کښي وايي موږ ايمان راوړی دئ په دې متشابهاتو باندي زموږ داحنافو مذهب دادئ چي پرالاالله باندي وقف تام واجب دئ نوبه علم دمتشابهاتو په الله تعالیٰ کي قصر سي والراسخون في العلم ځان ته جمله ده يو بل روايت سته هلته واو نسته نو توري دارکم دي وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيۡلَهُ اِلَّا الله الرَّاسِخُوۡنَ فِي العِلۡمِ دلته عطف نسته ځکه واو حرف عاطف نسته دوی (معتزله) وايي وقف پر والرسخون فی العلم باندي دوی والراسخون فی العلم عطف کوي پر الاالله باندي نو دامعني په متشابهاتو باندي الله پوهيږي هغه علماء چي راسخون فی العلم د ي دا هم په متشابهاتو باندي پوهيږي زموږ مذهب قوی دئ ځکه يو داسي روايت سته چي هلته واو نسته نو عطف کيدای نسي بل چي سياق او سباق ته وګوري نو زموږ مذهب قوی دئ ﴿ فَاَمَّاالذِينَ فی قُلوبِهِمۡ زَيۡغٌ ﴾ الاية ددې څخه داسي معلوميږي چي کوم څوک دمتشابهاتو پلټنه کوي نو هغه ته الله جل جلاله زجر ورکوي.

لهذا زموږ مذهب په دغه دوو حوالو (سياق سباق يو بل داسي روايت سته چي هلته واو نسته) قوی دئ

﴿وَالرَّاسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ يَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِهٖ﴾ يقولون امنا به حال جوړوو دوالراسخون فى العلم څخه زموږ او ددوي اختلاف په دغه مسئله كي حقيقة نه دئ اختلاف ظاهرا دئ يعني زموږ او ددوي ترمينځ نزاع لفظي ده موږ چي وايو علماء په متشابهاتو باندي نه پوهيږي نو زموږ مراد په دې باندي دادئ چي علماء په متشابهاتو نه پوهيږي حقيقة دوى چي وايي علماء په متشابهاتو باندي علم لري نو مراد ددوي په دې باندي دادي چي علماء په متشابهاتو باندي پوهيږي ظهاهرا نه حقيقة زموږ مطلب هم داغه دئ مثال ﴿بِيَدِهِ الْمُلْكُ﴾ دالله تعالى په قدرت كي باچاهي ده ذكر دئ يد مراد ورڅخه قدرت دئ دقدرت دنيولو غتهه اله لاس دئ نور اندامونه نه دي دلته الله تعالى دخپل قدرت تعبير په لاس باندي كړي ذكر لاس مراد ورڅخه قدرت دئ موږ او دوى ديد ترجمه په قدرت باندي كوو الم ددې په مراد باندي يواځي الله عالم دئ مگر بيا هم داسي معلوميږي الف معنى الله لام معنى جبرائيل ميم معنى محمد ﷺ نو الم دا مغنى دالله دطرفه دجبرائيل په واسطه باندي محمد ﷺ ته دغه كتاب راغلى لهذا زموږ او ددوى اختلاف حقيقة نسته زموږ او ددوي نزاع لفظي ده.

﴿وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيْلَهٗ اِلَّا اللّٰهُ﴾ **سوال:** احنافو ستا سو پر مذهب وقف پر الّا الله باندي دئ نو ددې څخه داسي معلوميږي چي په متشابهاتو باندي يواځي الله پوهيږي او نبي عليه السلام نه په پوهيږي ؟

جواب: داحاديثو او دصحابه كرامو داقوالو څخه داسي معلوميږي چي په حين دنزول كي دمتشابهاتو علم نبي عليه السلام ته نه وو دغه وقف چي پر الاالله باندي كيږي دا دحين نزول په اعتبار باندي بعد النزول نبي عليه السلام ته دمتشابهاتو علم وو.

سوال : دمتشابهاتو په نازليدو كي څه حكمت دئ ؟

جواب: دمتشابهاتو په نازليدو كئ حكمت ابتلاء دعلماء ده امتحان دئ دعلماء څخه دالله مخلوقات دوه قسمه دي ۱- جاهل ۲- عالم ابتلاء دجاهل داده جاهل ټول عمر په دنيا ئى

کارو کي ډوب وي نو دده ابتلاء داده چي ته دعلم طلب کوې که نه حلال او حرام زده کوې که يا يعني طلب دعلم کوي که يا: دعالم ابتلاء داده چي عالم ټول وخت په علومو کي ډوب وي نو دده امتحان دادئ چي ته په مشابهاتو باندي کارلرې که يا پلټنه يې کوي که يا زه (الله)خو وايم په متشاهباتو باندي کار مه لره.

اجراء المتشابه

مثال	متشابه
يَدُ اللهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ (الفتح ١٠)	(يدالله)
اَلرَّحْمنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوى (طه ٥)	(على العرش استوى)
وَيَبْقَى وَجْهُ رَبِّكَ (الرحمن ٢٧)	(وجه ربک)
ص والقران ذِى الذِّكْرِ (ص ١)	(ص)
الٓمّٓ (البقره ١)	(الم)
كُلُّ شَيْئٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهُ (القصص ٨٨)	(وجهه)
حٰم عسق (الشورى ١– ٢)	(حم عسق)
تَبٰرَكَ الَّذِىْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ (الملک ١)	(بيده)
يس (يس)	(يس)

پنځه ویشتم سبق

والقسم الثالث فی وجوه استعمال ذالک النظم وجریانه فی باب البیان وهي اربعة الحقیقة والمجاز والصریح والکنایة :

دعبارت ترجمه : دریم تقسیم ثابت دئ په طروقو کي داستعمال دهغه نظم او په طروقو کي دجریان دهغه نظم په باب دبیان کي یعني بیا ن دمعنی له دې حیثیت چي دا په طریقي د انکشاف دئ نو دا به صریح سي او که بیان دمعنی من حیث الاستتار سي نو به کنایه سي :

تشریح : دریم تقسیم من حیث الاستعمال دئ لفظ من حیث الاستعمال څلور قسمه دئ ۱- حقیقت ۲- مجاز ۳- صریح ۴- کنایه وجه دحصر په دا څلورو کي دالفظ دئ دا لفظ استعمال سوي دئ .

اوس ورته وګوره دا لفظ په خپل معنی موضوع له کي استعمال سوی که دالفظ په غیر معنی موضوع له کي استعمال سوي که لفظ استعمال وو پخپل معنی موضوع له کي نو داحقیقت دئ که لفظ په غیر دمعنی موضوع له کي استعمال وو نو دا مجاز دئ بیا به ورته ګورو دلفظ استعمال پخپله معني موضوع له کي یا په غیر معني موضوع له کي ښکاره دئ که پټ دئ که ښکاره وو نو داصریح دئ که ښکاره نه وو نو دا کنایه ده .

فائده: داول تقسیم او ددریم تقسیم څه فرق دئ فرق یې دادئ اول تقسیم من حیث الوضع دئ دریم تقسیم من حیث الاستعمال دئ .

مثال ﴿یَجْعَلُوْنَ اَصَابِعَهُمْ﴾ په لفظ داَصَابِعِ کي یو وضعه ده بل یې استعمال دئ :

وضعه داده لفظ داصابع دپوره ګوتو دپاره وضع سوی استعمال یې دادئ که لفظ داصابع په پوره ګوتو کي استعمال سي نو دا حقیقت دئ که لفظ داصابع په پوره ګوتو کي استعمال نه سي نو بیا مجاز دئ لکه دلته ذکر کل چي اصابع دئ مراد ورڅخه جزء چي انامل دي .

فائده: ځلور متون دي ١- متن داصول الشاشي ٢- متن دمنار شرح يې نور الانوار ٣- متن دفخر الاسلام دئ ۴- متن دحسامي دئ.

دمنار مولوي داسي توري ويلي دئ في وجوه استعمال ذالک النظم بس نور توري يې نه دي ويلي دغه توري يې نه دي ويلي وجريانه في باب البيان :

دفخر الاسلام مولوي صاحب داتوري ويلي دي وجريانه فی باب البيان : دحسامي مولوي صاحب دفخر الاسلام پر طريقه تګ کړی يعني دحسامی مصنف داتوري وويل وجريانه فی باب البيان دحسامي مصنف چي داتوري (وجريانه فی باب البيان) وايي په دې تورو باندي يو سوال: حقيقت مجاز صريح کنايه دا ځلور سره اقسام دي اقسام پخپل مينځ کي سره ضد وي قسم الشئ ضد له : اقسام پخپل مينځ کي نه سره جمع کيږي او حال دا چي دلته اقسام پخپل مينځ کي جمعه کيږی يو ځای به راغلی وي صريح به دحقيقت سره جمعه سوی وي کنايه به دحقيقت سره جمعه سوی وي صريح به دمجاز سره جمعه سوي وي کنايه دمجاز سره جمعه سوی وي ا وسره ددې چي ديو ه مقسم اقسام نه سره جمعه کيږي دغه سوال کيدی مصنف ددې سوال ددفعي دپاره داتوري وويل (وجريانه فی باب البيان) صريح او کناي دا دجريان اقسام دي حقيقت او مجاز داستعمال اقسام دي او حال دا چي ديوه مقسم اقسام دبل مقسم داقسامو سره جمعه کيږي موږ علامه تفتازاني رحمه الله ته وويل مصنف دا توري (وجريانه فی باب البيان) ددغه سوال ددفعي دپاره وويل: علامه ته څه پکښي وايي علامه سعد رحمه الله وايي دغه توري (وجريانه فی باب البيان) چي هر چا ويلي هيڅ ضرورت ورته نسته ځکه دا قسامو په خپل مينځ کي تغاير اعتباري کافي دئ داقسامو په خپل مينځ کي تغاير حقيقي ضروري نه دئ، ددې اقسامو پخپل مينځ کي تغاير اعتباري دئ لکه دظاهر نص مفسر محکم په مينځ کي چي تغاير اعتباري وو علامه سعد وايي ددغه تورو ضرورت نسته علامه سعد وايي لفظ من حيث الاستعمال دوه قسمه دئ حقيقت مجاز حقيقت بيا دوه قسمه دئ ١- صريح ٢- کنايه مجاز دوه قسم دئ ١- صريح ٢- کنايه داقسامو په مينځ کي تباين وي دمقسم او اقسامو په مينځ کي تباين نه وي په اتفاق داصولينو دنظم او معنی تقسيمات ځلور دي دحسامی مصنف چي داتوري (وجريان ه فی

باب البيان) وايي جريان جلا مقسم جوړوي استعمال جلا مقسم جوړوي نو به تقسيمات دنظم او معنى پنځه سي او حال دا چي تقسيمات څلور دي پنځه نه دي .

شپږويشتم سبق

فالحقيقة اسم لكل لفظ اريد به ما وضع له :

دعبارت ترجمه: حقيقت نوم دئ د هر هغه لفظ داسي لفظ چي مراد کړه سوی به وي په دې لفظ باندي هغه معنى چي لفظ ددئ معنى دپاره وضع کړه سوی دئ :

فالحقيقة اسم لكل لفظ اريد به ماوضع له :

فالحقيقة: تشريح: حقيقت دفعيلة وزن دئ يا په معنى د فاعل يا په معنى د مفعول حقيقة كه په معنى د فاعل سي نو بيا حقيقت را مأخوذ دئ د حقّ يحق څخه د حق يحق معنى ثبت يثبت ، حقيقت ته حقيقت ځکه وايي چي دی پخپل مقر پخپل معنى موضوع له کي ثابت دئ تجاوزيږي دخپل محل څخه نه دئ کړی که يې تجاوز دخپل محل څخه وکړي نو بيا مجاز دئ:

مثلا اسد : داسد يوه معنى حيوان مفترس (زمې) دئ بله معنى يې رجل شجاع دئ داسد استعمال په حيوان مفترس کي حقيقت دئ ځکه حيوان مفترس داسد خپل مقر خپل معنى موضوع له دئ داسد استعمال په رجل شجاع کي مجاز دئ ځکه رجل شجاع داسد خپل مقر خپل معنى موضوع له نه دئ که حقيقت په معنى د مفعول سي نو بيا حقيقت را مأخوذ دئ دحقيقت الشئ څخه مثال عرب وايي امرأة جريحة اى امرأم مجروحة ښځه زخمي کړه سوی حقيقت ته حقيقت ځکه وايي چي دی پخپل معنى موضوع له کي پخپل مقر کي ثابت کړه سوی فيكون معناها الثابت او المثبتة فى موضوعها الاصلى

تشريح: درې خبري دي يوه خبره په لفظ کي دوهمه خبره په أُرِيْدَ کي دريمه خبره په وُضِعَ کي :

اوله خبره: دحسامي مصنف دحقيقت او مجاز په تعريف کي دلفظ ټکي وايي اشاره وديته کوي چي حقيقت او مجاز دواړه صفات دلفظ دي دمعنا ګانو صفا ت نه دي لفظ به حقيقت وي لفظ به مجاز وي:

سوال: تاسو خپله واياست دايي معنى حقيقي ده دايې معنى مجازي ده؟

جواب: حقيقت او مجاز په لفظ باندي موصوفه کيږي په معنى باندي نه موصوفه کيږی موږ چي وايو.

دامعنى حقيقى ده دا معنى مجازي ده دا مجازًا وايو ځکه لفظ ځي دمعنى موضوع له ځخه وغير معنى موضوع لهٔ ته يعني معنى که په مجاز موصوفه کيده دغه اتصاف يې مجازي دئ:

حقيقة او مجاز حقيقة موصوفه کيږی په لفظ باندي نه په معنى باندي په معنى باندي موصفه کيږي مجازا اُرِيْدَ بِهِ: ترجمه مراد کړه سي په دغه لفظ باندي دحسامي مصنف چي اريد وويلي نو دا اشاره ده وديته چي لفظ په حالت دضع کي نه حقيقت دئ نه مجاز دئ لفظ په حالت داستعمال کي يا حقيقت وي يا مجاز وي:

فائده: لفظ لره درې حالاته دي ۱- حالت دترکب ۲- حالت دوضع ۳ حالت داستعمال حالت دترکيب لکه زيد مرکب دئ دزاء ياء دال ځخه يا لکه ديذ و حال ت دوضع لکه زيد وضعه سوی دئ ديو معنى دپاره پرته له استعماله لفظ په دغه حالت (وضع کي نه حقيقت دئ نه مجاز حالت داستعمال چي لفظ په يو معنى کي استعمال سي مثلا اسد داسد ا ستعمال په حيوان مفترس کي حقيت دئ به رجل شجاع کي مجاز دئ دخبري خلاصه داده لفظ چي استعمال سوي نه وي نونه حقيقت و رته ويل کيږ ي نه مجاز ورته ويل کيږی په اُرِيْدَ کي اشاره وديته چي لفظ به استعمال وي:

ماوضع له : فائده: وضعه څلور قسمه ده ۱- وضعه لغوي ۲- وضعه شرعي ۳- وضعه عرف خاصه ۴- وضعه عرف عامه :

اول وضعه لغوی ده: وضعه لغوی دیته وایي چې اهل لغات والا یو لفظ دیو معنی دپاره وضعه کړي وي مثال لکه صلوة ، اهل لغات والا صلوة وضعه کړي ددعاء دپاره دوهم وضعه شرعي ده: وضع شرعي دیته وایي چې اهل شرعه والا یو لفظ دیو معنی دپاره وضعه کړي وي مثال لکه صلوة اهل شرعه والا صلوة وضعه کړی داراکان مخصوصه دپاره دریم، وضعه عرف خاصه ده : وضعه عرف خاصه دیته وایي چې اهل اصطلاح والا یو لفظ د یو معنی دپاره وضع ه کړي وي مثال لکه فعل یو کار کول دیته فعل وایي اهل اصلاح والا لکه نحویین دوی وایي فعل دیته وایي چې پرخپله معنی به مستقل دلالت کوي او په درو زمانو کې به پر یوې زمانې باندې مقترن هم وي .

څلورم وضع عرف عام ده: وضعه عرف عام دیته وایي چې یو لفظ دیو معنی دپاره وضعه کړي وي مثال لکه دابه، داهل لغتو نزد باندې دابه وایي کل ما یدب علی الارض هر شی چې پرځمکه ګرځي هغه ته دابه وایي انسان حمار فرس چرګه میږي دا ټولو ته دابه وایي عرف عام والا را ولاړ سوه دابه یې وضعه کړه دچار پایه دپاره یعني دڅلور پښو والا دپاره یې وضعه کړه اوس که ته سوال وکړی چې دلته دوضعي څخه کومه وضعه مراد ده نو ته به جواب ورکړی فلک الخیار تاته اختیار دئ ستا خوښه ده چې کومه وضعه اخلی که دوضعي څخه وضعه لغوي اخلی نو دصلوة استعمال په دعاء کي حقیقت دئ داهل لغت والا په نیز باندي د صلوة استعمال په ارکان مخصوصه کي مجازی دئ داهل لغت والا په نیز باندي که دوضعي څخه وضعه شرعي اخلی نو دصلوة استعمال په ارکان مخصوصه کي حقیقت دئ داهل شرعي والا په نیز باندي دصلوة استعمال په دعاء کي مجازي دئ داهل شرعي والا په نیز باندي که دوضعی څخه وضعه خاصه واخلي نو دفعل استعمال په مادل علی معنی فی نفسه مقترن باحد الازمنة الثلة کي حقیقت دئ دنحاتو په نیز باندي مجاز ز دئ داهل لغات والا په نیز باندي :

که د وضعي څخه وضعه عرف عامه واخلي نو ددابي استعمال په چار پایه کي حقیقت دئ ددوی په نیز باندي مگر د اهل لغات والا په نیز باندي یوازي په چهار پایه کي استعمالول دابه مجاز دي دلته د حقیقت په تعریف کي وضعه مطلقا ذکر والمطلق یجري علی اطلاقه والمقید یجري علی تقییده بس دیو چا په ژبه دي حقیقت وي :

اووه ویشتم سبق

اسم لکل لفظ ارید به غیر ماوضع له:

دعبارت ترجمه : مجاز نوم دئ د هر هغه لفظ د اسي لفظ چي اراده کړه سوي به وي په دې لفظ باندي غیر د هغه معنی چي لفظ د دغه معنی د پاره وضعه کړل سوي دئ

مثال اسد داسد ماوضع له حیوان مفترس دئ د اسد غیر ماوضع له رجل شجاع دئ :

والمجاز اسم لکل لفظ ارید به غیر ماوضع له :

والمجاز: تشریح: مجاز د مصدر میمي صیغه ده مصدر میمي دیته وایي چي په سر کي یې میم راغلی وي مجاز مصدر دئ په معنی د فاعل اي متجاوِز:

مجاز معنی تجاوز کول متجاوز معنی تجاوز کوونکي مجاز ته مجاز ځکه وایي چي د ده د خپل مقر خپل محل څخه تجاوز کړي وبلي معنی ته :

دمعنی حقیقي او معنی مجازي تر مینځ به خامخا علاقه وي د غه علاقه به یاد تشبیه وي یا به غیر د تشبیه وي که علاقه د تشبیه وه دیته استعاره وایي که علاقه غیر د تشبیه وه دیته مجاز مرسل وایي بل تعبیر د معنی حقیقي او معنی مجازي تر مینځ به خامخا علاقه وي د دغه علاقي تعبیر د حسامي مصنف په اتصال باندي کوی د غه اتصال به یا معنوي وي یا به صوري وی که د معنی حقیقي او معنی مجازي تر مینځ اتصال معنوی وو ودیته استعاره وایي که د معنی حقیقي او معنی مجازي تر مینځ اتصال صوري وو ودیته مجاز مرسل وایي

دمجاز مرسل ټولي علاقي پنځه ويشت (۲۵) دي يوه پکښې علاقه دتشبيه ده چي علاقه دتشبيه وي دهغه مثال رأيت اسدا يرمي :

اسد واضع وضع کړي دئ دحيوان مفترس دپاره دلته اسد مستعمل دئ په رجل شجاع کي والعلاقة بينهما هى المشابهة فى الشجاعة علاقه دتشبهي په مابين ددوى دواړو کي شجاعت دئ رايت حمار يرمي: حمار واضع وضع کړی دئ دخره لپاره دلته حمار مستعمل دئ په بې عقل سړی کي والعلاقة بينهما هى المشابهة فى الحماقة :

علاقه دتشبيه په مابين ددوى دواړو کي حماقت دئ که ته داسد لفظ دحيوان مفترس پرځای په رجل شجاع کي استعمالوي ياته دحمار لفظ دخره پر ځای په بې عقل سړي کي استعمالوي نو ددوي په مابين کي علاقه دتشبيه ده ودغه ته اصل معنوي وايي :

لاتصال بينهما معنى:

دعبارت ترجمه: دمعنى موضوع له او دمعنى غير موضوع له په مابين کی به اتصال وی معنى يعني ددوى دواړو په مابين کي به اتصال معنوى وي په بل تعبير باندي ددوى دواړو په مابين کي به علاقه دتشبيه وي.

كما فى تسيمة الشجاع اسدا والبليد حمار : لکه ته چی نوم ورکړی رجل شجاع ته داسد يا لکه ته چي نوم ورکړي وبې عقل سړي ته دحمار **او ذاتا :** يا په دمعنى موضوع له او دمعنى غير موضوع له په مابين کي اتصال صوري وي اتصال صوري هم ورته وايې اتصال ذاتي هم ورته وايي مجاز مرسل هم ورته وايي **كما فى تسمية المطر سماء :** لکه ته چي ورکړي وباران ته داسمان نوم :

دمجاز مرسل شلورويشت علاقي دي اوله علاقه دمجاز مرسل دکل او جزده ذکر کل اراده دجزء مثال قوله تعالى ﴿يَجْعَلُونَ اَصَابِعَهُمْ فِي اذانِهِمْ﴾ الاية دلته ذکر کل چي اصابع (ګوتي) دي اراده دجزء چي انامل (دګوتو سرونه) دي :

دمعني مجازي او معنی حقیقي تر مینځ به اتصال وي په دغه قید باندي یعني داتصال په قید باندي دحسامي مصنف دوه شیان باسي یو هزل بل مرتجل: یو سړي په بل سړي باندي ګفه کوي وايي په دا داسي سترګو لکه دشیشې بیتي مردکي چې په کونجي کي واچوې دده سترګي او دشیشي بیتي مردکی ګفه ده :

یوه علاقه نه لري یا یو سړي پربل باندي ګفه کوي وايي په دا داسي غوږ لکه دحاجي لالا دبیلچي لاستي : دغوږ او دبیلچي دلاستي تر مینځ علاقه نسته دا ګفه ده :

په بعضو ختونو کي ګفه یو مناسبت لري :

مرتجل دیته وايي چي ته لفظ داولي معنی پر ځای په دویمه معنی کي استعمال کړي خو داولي معنی او دویمي معنی په مابین کي به هیڅ مناسبت علاقه نه وي لکه جعفر جعفر واضع وضع کړی دکډی نهر دپاره نن جعفر مستعملیږي په سړی کي دکډی نهر او دسړي تر مینځ مناسبت نسته :

اته ویشتم سبق

والاتصال سببا من هذالقبیل :

دعبارت ترجمه: اتصال از رویي نسبت له دغي قبیلي څخه دئ یعني له قبیلي څخه داتصال صوري دئ .

وهو نوعان : اتصال من حیث السببیة دوی نوعي دئ دمجاز مرسل ټولي څلورویشت (۲۴) علاقي دي:

دمجاز علاقې

۱- السببیة: وذالک بأن یطلق لفظ السبب ویراد المسبب :

۲- المسببیة : وذالک یطلق لفظ المسبب ویراد السبب :

٣-الجزئية: وذالک بان يطلق الجزء ويراد الكل .

٤- الكلية وذالک فيما اذا ذكر الكل واريد الجزء .

٥- اعتبار ما كان وهو تسمية الشئ باسم ما كان عليه نحو قوله تعالى (وأتوا اليتمى اموالهم)

وتفصيل ذالک ان اليتمم في اللغة هو الضعر الذي مات ابوه ، والام الوراد في الاية الكريمة ليس المراد به اعطاء اليتامي الضعار اموال ابائهم ، وانما الواقع ان الله يأمر باعطاء الاموال مَن وصلوا سن الرشد والبلوغ بعد ان كانوا يتامى اعتبار ما يكون وهو تسمية الشئ باسم يؤول اليه لكه اطلاق دفاضل پر طالب باندي:

٧- المحلية: وذالک فيما اذا ذكر لفظ المحل واريد الحال فيه .

٨- الحالية : وذالک فيما اذا ذكر لفظ الحال واربد المحل.

٩- الالية: وذالک اذا ذكر اسم الال واريد الاثر الذي ينتج عنها .

١٠- الملزومية : وذالک بان يطلق اللازم ويراد الملزوم .

١١- اللازمية : وذالک بان يطلق اللازم ويرد الملزوم .

١٢-الخاص : وذالک بان يطلق الخاص ويراد العام.

١٣- العام: وذالک بان يطلق العام ويراد الخاص.

وهي تسمية الشئ باسم ضده .

١٥- الزيادة ١٦- اطلاق الظرف على المظروف ١٧- اطلاق المظروف على الظرف ١٨- اطلاق المقيد على المطلق ١٩- اطلاق المطلق على المقيد ٢٠- اطلاق اسم الفاعل على المفعول ٢١- اطلاق اسم المفعول على الفاعل ٢٢- اطلاق اسم الفاعل

على المصدر ٢٣- اطلاق اسم المفعول على المصدر ٢۴- اطلاق المصدر على الفاعل ٢۵- اطلاق المصدر على المفعول ٢۶-اطلاق التثنية على الواحد،٢٧- النكرة فى الاثبات للعموم.

ليكن د حسامي مصنف رغيرى د سبب او مسبب څخه د علت او معلول څخه د نورو څخه نه رغيري ځکه شرعي احکام ډير تعلق لري د سبب او مسبب سره د علت او معلول سره د دانورو سره شرعي احکام دومره زيات تعلق نه لري:

احدهما اتصال الحكم بالعلة كاتصال الملك بالشراء :

دعبارت ترجمه: يو د دغه دوو څخه دا دئ چي معلول متصل سي په علت باندي:

احدهما اتصال الحكم بالعلة :

تشريح فائده: د علت او سبب څه فرق دئ:

د علت او سبب فرق دا دئ علت هغه شي دئ چي معلول وده ته وجودا ووجوبا منسوبه وي بس ودغه ته علت وايي سبب هغه شى دئ چي مسبب وده ته وجودا ووجوبا منسوب نه وي خو البته مفضي الى الشي وي مفضي معنى سړى رسوي ومسبب ته :

فائده: د علت او معلول په مينځ کى واسطه نه وي د سبب او مسبب په مينځ کى واسطه وي په داغه وجه سبب ته مفضي الى الشي وايي، مثال تا د ښځي سره نكاح وکړه نو ته مالک سوي د دې متعي ملک متعه معلول ده نکاح علت ده ملک متعه ونكاح ته وجودا ووجوبا منسوب ده که نكاح نه واى نو ملک متعه په وجود کي نه راتله هغه ده ملک متعه ونكاح ته و جودا منسوب سوه په دې ښځي باندي ملک متعه وتاته حواله كول واجب دئ هغه ده ملک متعه ونكاح ته وجوبا منسوب سوه.

ميړه د خپلي ښځي د متعې مالک دئ ځکه نكاح سوې نكاح علت ده ملک متعه معلول ده ملک متعه ونكاح ته وجودا ووجوبا منسوبه ده که نکاح نه واي نو ملک متعه په وجود کي

نه راتله په دې بڼځي باندي ملک متعه حواله کول ومړيه ته واجب نو ګوره ملک متعه چی معلول ده ونکاح ته چي علت ده وجودا ووجوبا منسوبه ده :

زيد مينځه را نيول زيد ته په بيعه باندي ملک رقبه حاصله سوه زيد ته دملک رقبې په واسطه باندي ملک متعه حاصله سوه نو واسطه راغله هغه واسطه ملک رقبه ده بيعه مفضي الى ملک المتعه ده ليکن موجِد موجِب نه ده دزيد خو ر دعمر مينځه ده زيد را ولاړ سو دعمر څخه يې خور واخيسته رايې نيوله ګوره دزيد پر خور باندي بيعه سته خو دزيد پر خور باندي ملک متعه نسته ځکه داسبب دئ علت نه د ئ زيد هغه وخت دملک متعې مالک جوړيدای سي چي دملک رقبې مالک سي په خورکي ملک رقبه نه راځي ولې مَن مَلِکَ ذارحم محرم منه عُتِقَ چي څوک مالک سوی بس درباندي ازاده سوه لهذا بيعه دملک متعې لپاره سبب ده نکاح دملک متعې دپاره علت ده :

فائده: په علت او معلول کي استعاره له جانبينو ده په سبب او مسبب کي استعاره له يوه جانبه ده :

په علت او معلول کي استعاره له دواړو جانبينو ده ذکر علت اراد ه دمعلول ذکر معلول اراده دعلت يعني يو ذکر کړه بل ورڅخه واخله په سبب او مسبب کي استعاره له يوه جانبه ده دسبب څخه ومسبب ته تلي سي دمسبب څخه سبب ته نسي تلی مګر که دمسبب دپاره فقط يو سبب وو نو بيا سبب څخه ومسبب ته تلی سي دمسبب څخه وسبب ته تلی سي لکه خمر او عنب اوس راسه که ته سوال وکړي چي په علت او معلول کي استعاه له جانبينو ده داولی په سبب او مسبب کي استعاره له يوه جانبه ده داولي نو ته به جواب ورکړي چي استعاره له جانبينو هغه وخت جوړيږي چي ملزوم ووايي لازم ورڅخه واخلي لازم ووايي ملزوم ورڅخه واخلی په علت او معلول کي هر يو لازم او ملزوم جوړيدای سي علت هم لازم جوړيدای سي هم ملزوم جوړيدای سي معلول هم لازم جوړيدای سي هم ملزو م جوړيدای سي .

په سبب او مسبب کي هر يو لازم او ملزوم نسي جوړيدای :

که علت ملزو م سي معلول ورته لازم سي نو دعلت څخه چي ملزوم دئ لاړ سه ومعلول ته چي لازم دئ که معلول ملزوم سي علت ورته لازم سي نو دمعلول څخه چي ملزوم دئ لاړ سه وعلت ته چي لازم دئ .

په سبب او مسبب کي هر يو لازم او ملزوم نسي جوړيدای که علت ملزوم سي معلول ورته لازم سي دنو علت څخه چي ملزوم دئ ولاړ سه معلول ته چي لازم دي که معلول ملزوم سي علت ورته لازم سي نو دمعلول څخه چي ملزوم دئ لاړ سه وعلت ته چي لازم دئ .

په سبب او مسبب کي هر يو لازم او ملزوم نه جوړيږي نو ځکه استعاره له يوه جانبه ده او حال دا چي داستعاري دا را او مدار پر لازم او ملزوم دئ په علت او معلول کي هر يو لازم او ملزوم جوړيږي دلازم او ملزوم مدار پر احتياج دئ علت ته چي موږ وکتل هم محتاج جوړيدی هم محتاج اليه جوړيدی معلول ته چي موږ وکتل هم محتاج جوړيدی هم محتاج اليه جوړيدی کوم شی چي محتاج وي هغه به لازم وي کوم شي چي محتاج اليه وي هغه به ملزوم وي او حال دا چي علت هم محتاج جوړيږئ هم محتاج اليه جوړيږي معلول هم محتاج جوړيږي هم محتاج اليه جوړيږي .

علت ته علت هغه وخت ويل کيږی چي معلول په وجود کي راولی که معلول په وجود کي رانه ولي نو بيا علت نه ورته ويل کيږي نو ګوره علت معلول ته محتاج سو ، معلول په وجود کي راغلی د علت له وجي که علت نه وای معلول په وجود کي نه راتلی لکه نهار پخپل وجود کي محتاج دئ ولمر ته :

فائده: که چيري لازم مساوي وو نو بيا دلته څلور قواعد دي كلما وجد الملزوم وجد اللازم كلما وجد اللازم وجد الملزوم كلما انتفى اللازم انتفى الملزوم ، كلما انتفى الملزوم انتفى اللازم كما فى وجود الشمس النهار :

فكلما وجدت الشمس وجد النهار ، وكلما وجد النهار وجدت الشمس، كلما انتفى النهار انتفت الشمس ، وكلما انتفت الشمس انتفى النهار .

فائده: که چيري لازم اعم وو نو بيا دلته څلور قواعد دي :

كلما وجد الملزوم وجد اللازم ، وليس كلما وجد اللازم وجد الملزوم كلما انتفى اللازم انتفى الملزوم وليس كلما انتفى الملزوم انتفى اللازم كما فى الاربعة والزوجية فالاربعة ملزوم والزوجية لازم فكلما وجدت الاربعة وجدت الزوجية وليس كلما وجدت الزوجية وجدت الاربعة اذ قد توجد فى غيرها كالثمانية وكلما انتفت الزوجية انتفت الاربعة وليس كلما انتفت الاربعة انتفت الزوجية لجواز تحقق الزوجية مع الثمانية مثلا ، په علت ا و معللول کي استعاره له طرفينو ده استعاره ولاړه ده پر لزوم لزوم ولاړى دئ پر احتياج باندي:

په سبب او مسبب کي استعاره له يوه طرفه ده ، سبب ملزوم مسبب لازم د سبب څخه و ملزوم ته تلى سي ليکن د مسبب څخه ولازم ته نسي تلى ا حتياج له يوه طرفه دئ د سبب له خوا احتياج دئ د مسبب له خوانه دئ.

وهو نوعان دغه اتصال من حيث السببية دوي نوعي دئ د سبب اطلاق په لغوى لحاظ سره پر علت او سبب دواړو کيږي نه په اصطلاحي لحاظ سره :

نهه ويشتم سبق

كاتصال الملك بالشراء :

زيد را ولاړسو د عمر څخه يې مبايل واخيستي ودغه کار عمل ته شراء وايي چي څنګه شراء وسوه بس زيد د مبايل مالک سو .

شراء علت ده ملک معلول دئ په علت او معلول کي استعاره له طرفينو وي شراء ووايه ملک ورڅخه واخله ملک ووايه شراء ورڅخه واخله :

فائده: په عرف کي چي ديو شي مکمل اجزاء ستا په ملک کي نه وي راغلى ديته په عرف کي نه ويل کيږي چي ته د دې شي مالک يې، يو شراء ده د ايو شي دئ تا د دې شي يو جزء رانيولي ديته شراء ويل کيږي، په ملک کي شرط دادئ چي ټول به ستا په ملک کي اجمعه سوي وي په شراء کی دا شرط نسته :

مثال زيد وعمر ته وايي تا په تول عمر باندي دلسو لکو سودا کړي عمر ورته وايي ؤو ما دلسو لکو سودا کړي يوه ورځ می دلسو زرو غوړي رانيول بله ورځ می دپنځو سو زرو غنم رانيول بله ورځ مي بل شي رانيوی بله ورځ مي بل شي رانيوي چي تول سه راجمع کړی نو لس لکه جوړيږي خو دغه لس لکه په يو وار دده سره نه دي جمعه سوی لهذا دئ په عرف کی ددغه لسو لکو مالک نه بلل کيږي ځکه دغه لس لکه په يو ځای باندي دده په ملک کي ندئ جمع سوی دخبري خلاصه داده چي په ملک کي اجتماع دکل شرط ده په شراء کي اجتماع دکل شرط نه ده يو سړی داسي عبارت ووېلي ان ملکتُ عبدًا فهو حرٌ : که ما غلام رانيولي نو ازاد دئ او حال دا مانيم غلام رانيوی نيم غلام دامعنی دوولس ګانډي زما سره دوولس ګانډي ستا سره اوس غلام ازاد دئ که چيري دي سړی وويل چي ما ذکر کړی ملکتُ اراده کړي مي اشتريتُ لهذا په دغه صورت کي چي سړي ملکت ذکر کړي اراده داشتريتُ کړي اوس که ده نيم غلام رانيوی بس دا غلام ازاد د که يو سړي داسي عبارت ووايو ان اشتريتُ عبدا فهو حرٌ که چيري ما غلام رانيوی نو ازاد دئ او حال دادئ سړي نيم غلام رانيوی او غلام وايي زه ازاد سوم نو غلام ازاد نه دئ ولي سړي وويل ان اشتريتُ عبدا فهو حر سړي ورته وويل ما ذکر کړي اشتريتُ اراده کړي مي ملکت ځکه ما ذکر کړي اشتري اراده کړي مي ملکت او حال دا په ملک کي اجتماع دکل شرط ده غلام خو تا نيم رانيولي نو ازدا نه يې په دې صورت کي سړي دعلت څخه ولاړي ومعلول ته په مخکني صورت کي سړي دمعلول څخه ولاړي وعلت ته په دغه اخيري صورت کي چي ذکر علت اراده دمعلول دسړي او دغلام سره دعوه سوه غلام سړي ته وويل چي تا اشتريت ذکر کړي دملکت اراده دئ نه ده کړي سړي ورته وويل ما دملکتُ اراده کړې ځکه په علت او معلول کي استعاره له طرفينو وي لهذا ماذکر کړی علت اراده کړي مي معلول :

دسړي او دغلام سره جنګ (دعوه) دهٔ دواړه ولاړه مفتي صاحب ته مفتي صاحب ته يې کيسه وکړه مفتي صاحب به ورته وايي بلکل سړيه صحيح يې داشتريت څخه ملکتُ اخيستي سي مفتي به دسړی په حق کي فيصله کوي بيا دواړه ولاړه قاضي صاحب ته قاضي ته يې مسئله بيان کړه چي ما اشتريت ذکر کړي اراده کړي مي ملکتُ غلام يې نه راسره مني جنګ دعوه راسره کوي اوس به قاضي صاحب دغلام په حق کي فيصله کوي دسړی په حق

کي به فیصله نه کوي یعني په قضاء کي دسږي تصدیق نه کیږی دده تصدیق به کیږي دیانةً اي فیما بینه وبین الله یعني ته اوستا خدای ښه سره خبر یاست چي تا ذکر کړی اشتریت اراده دئ دملکتُ کړی او که نه قاضي به دده تصدیق نه کوی په هر هغه ځای کي په هر هغه موضع کی چی سړي ځان خلاصوی پر سړی باندي تخفیف وي که څه هم قاعده خو داغه ده چی ذکر علت اراده دمعلول ذکر معلول اراده دعلت اوس راسي عبارت ولګوو **وانه یوجب الاستعاره من الطرفین**

دعبارت ترجمه: اتصالِ دحکم بالعلت ثابتوِي استعاره له طرفینو **لان العِلة لم تشرع الا لحکمها والحکم لا یثبت الا بعلة فاستوی الاتصال فعمت الاستعارة:**

داستعاري دار او مدار پرلزوم دئ دلزوم دار او مدار پر احتیاج باندي دئ مصنف دلته احتیاج ثابتوي چي احتیاج ثابت سي نولزوم به ثابت سي چي لزوم ثابت سي نو به استعاره له طرفینو ثابته سي.

لان العلة الا لحکمها: علت نه دئ مشروع سوی مګر علت مشروع سوی دئ چي ته به معلول په وجود کي راولي **والحکم لا یثبت الا بعلة** حکم نه ثابتیږی مګر ثابتیږي په علت باندي یعني معلول په وجود کي راځي دعلت له وجي:

فاستوی الاتصال : برابر سو اتصال **فعمت الاستعارة** : نو استعاره عامه سوه **ولهذا قلنا فیمن قال ان اشتریت عبدا فهو حر** داغه خو وجه ده موږ وایو دهغه چا په باره کي چي وایي که چیري ما رانیوی غلام نو ازاد دئ:

فاشتری نصف عبد: پس نیم غلام یې رانیوی، **وباعه** او بیرته یې دغه نیم غلام خرخ کړی ثم اشتری النصف الاخر بیا یې وروسته اخیري نیم غلام رانیوي یعتق هذه النصف الاخر اخیر نیم غلام ازاد دیږی ځکه شرط موجود دئ چي هغه شراء دعبد ده:

ولو قال ان ملكتُ لا يعتق مالم يجتمع الكل فى ملكه : كه چيري يو سړي وويل كه چيري زه مالک سوم دغلام نو دا غلام نه ازاد دئ نو دا غلام نه ازاديږی تر څو پوري چي ټول نه وي جمعه سوی دده په ملک کي :

فان عنى باحدهما الاخر تعمل بنيته فى الموضوعين : كه چيري په يو ه باندي يې دبل قصد وکړي نو عمل کول کيږي دده په نيت باندي په دواړو ځايو کي يعنى دشراء څخه ملک واخله د ملک څخه شراء واخله :

لكن فيما فيه تخفيف عليه : خو په هغه ځاى کي چي هغه ځاى کي تخفيف وي پر ده باندي **لا يصدق فى القضاء** په قضاء کی دده تصديق نه کيږي يعني قاضى به دده تصديق نه کوي **ويصدق ديانة** اى فميا بينه وبين الله دده تصديق کيږي ديانة :

ديرشم سبق

دعبارت ترجمه: والثاني : دوهمه نوعه، اتصال الفرع **بما هو سبب محض ليس بعلة وضعت له** : اتصال دفرعي دئ په هغه سبب باندي چي هغه سبب محض دئ داسي سبب محض چی علت نه دئ داسي علت چي وضعه سوی دئ دده دپاره ، **كاتصال زوال ملك المتعة بالفاظ العتق تبعا لزوال ملك الرقبة** لكه اتصال دزوال د ملک متعي په الفاظو دعتق باندي په واسطه دزوال د ملک رقبه باندي يعني الفاظ دعتق زوال د ملک متعي راولي په واسطه دزوال د ملک رقبه باندي :

وانه يوجب استعارة الاصل للفرع والسبب للحكم دون عكسه: دغه نوعه دا تصال ثابتوي استعاره داصل فرعي لره او ثابتوي استعاره دسبب حکم لره نه عکس يعني دسبب څخه مسبب ته تلای سي د مسبب څخه سبب ته نسي تلای :

لان اتصال الفرع بالاصل فى حق الاصل فى حكم العدم :

ځکه اتصال د فرعي چي مسبب دئ په اصل باندي چي سبب دئ په حق د اصل کي دا اتصال په حکم کي د عدم دئ :

لاستغنائه عن الفرع: ځکه سبب مستغني دئ د مسبب څخه **وهو نظير الجملة الناقصة**: دغه اتصال په مابين کي د سبب او مسبب دا اتصال نظير د جملې ناقصي دئ :

اذا عُطِفَت على الكاملة : هر کله چي جمله ناقصه عطف کړل سي پر جمله تامه باندي **توقف اول الكلام على اخره**: نو به ولاړه وي جمله تامه و جملې ناقصي ته

لصحته وافتقاره اليه: د دې د پاره چي صحيح سي اخير د کلام او دا اخير د کلام احتياج لري واول د کلام ته :

فاما الاول فتام في نفسه لاستغنائه عنه: هر څه چي اول کلام دئ نو هغه کلام تام دئ په خپل ځان کي ځکه دا مستغني دئ دا خير کلام څخه .

والثاني اتصال الفرع الخ :

تشريح: د سبب څخه مسبب اخيستي سي خو د مسبب څخه سبب نسي اخيستي :

يو سړي مېنځي ته وويل انت حرة ته ازاده يې اوس په انت حرة باندي زوال د ملک رقبه راغلی :

په زوال د ملک رقبه باندي زوال د ملک متعه راغلی نو بنځه ازاده سوه په انت حرة باندي بالذات زوال د ملک رقبه راغلی په انت حرة باندي زوال د ملک متعه راغلی خو په واسطه د زوال د ملک رقبه باندي انت حرة سبب دئ د پاره د زوال د ملک متعي علت يې نه دئ ځکه دلته واسطه سته هغه واسطه زوال د ملک رقبه دئ .

زوال د ملک متعه انت طالق دئ اوس ته داسي کولای سي چي انت حرة ووايي انت طالق ورڅخه واخلی :

ځکه دسبب ځخه مسبب اخيستي سي :

دانتِ طالق ځخه انت حرة نسي اخيستي ځکه دمسبب ځخه سبب نسي اخيستي :

قاعده: کهٔ دمسبب صرف يو سبب وو بيا نو دمسبب ځخه سبب اخيستي سي مثال اِنِّي اَعصِرُ خَمْرًا داحنافو په نيز دشرابو يو سبب دئ هغه سبب عنب (انګور) دي :

په دغه ايات کي ذکر مسبب چي خمر (شراب) دي مراد ورځخه سبب چي عنب(انګور) دي:

په سبب او مسبب کي استعاره له يوه جانبه ده ځکه دلته احتياج ديوه جانبه دئ په علت او معلول کی استعاره له جانبينو ده ځکه دلته احتياج دجانبينو دئ دسبب او مسبب داسي مثال دئ لکه دجملې تامي او ناقصي :

ديو سړي دوې ښځي دي ديوې ښځي نوم يې مريمه ده دبلي ښځي نوم يې زينبه ده ، سړي وويل مَرْيَمُ طَالِقٌ وَزَيْنَبُ اوس مَرْيَمُ طَالِقٌ جمله تامه ده زَيْنَبُ جمله ناقصه ده مريم طالق دا جمله وزينب ته هيڅ احتياج نه لري ځکه جمله تامه مستغني ده دناقصي ځخه جمله ناقصه احتياج لري وجملې تامي ته ځکه جمله ناقصه محتاجه ده وخبر ته وحکم حاصلولو ته جمله تامه ولاړ ده وناقصي ته دپاره ددې چي اخير دکلام صحيح سي زينب به عطف سي پر مريم باندي نو به مريم او زينب دواړو ته دطلاق حکم ثابت سي که جمله تامه ونه دريږي بيا دجملې ناقصي کار خرابيږي يعنی جمله ناقصه به غير مقيده سي که جمله تامه وناقصي ته ودريږي ورته انتظار سي نو به دواړه مفيده سي دواړه به مشترک سي په خبر کي :

يو ديرشم سبق

وحکم المجاز وجود ما اريد به:

دعبارت ترجمه: حکم دمجاز ثبوت دمعنی دئ داسي معنی چی اراده کړل سوي ده په مجاز باندی **خاصا کان:** مجاز خاص وي لکه دا قول دخدای جل جلاله ﴿أَوۡ لَامَسۡتُمُ النِّسَاءَ﴾ مراد له دغه قول څخه جماع ده، جماع خاص ده:

اوعاما: او که مجاز عام وي لکه الصاع په حدیث دابن عمر ﷺ کي **کماهو حکم الحقیقة** لکه دا چي دحقیقت حکم دئ.

ولهذا جعلنا لفظ الصاع فی حدیث ابن عمر ﷺ لا تبیعوا لدرهم بالدرهمین ولا الصاع بالصاعین عاما فیما یحله ویجاوره:

داغه خو وجه ده موږ ګرځوو لفظ دالصاع په حدیث دابن عمر ﷺ کي (لا تبیعوا الدرهم بالدرهیمن ولا الصاع بالصاعین) عام یې ګرځوو په هغه شي کی چي حلول کوي په کاسه کي:

وابی الشافعي رحمه الله ذالک امام شافعي رحمه الله منعه کوي له دغه عموم څخه **وقال لا عموم للمجاز:** دئ وایي عموم نسته مجاز لره **لانه ضروري:** ځکه مجاز ضروري دئ **یصار الیه** ومجاز ته تګ کیږی **توسعة للکلام** چي صرف کلام صحیح دئ **وهذا باطل:** دغه قول چي امام شافعي رحمه الله ته منسوب دئ دا باطل دئ **لان المجاز موجود فی کتاب الله تعالی:** ځکه مجاز موجود دئ دخدای په کتاب کي **والله تعالی یتعالی عن العجز والضرورات** الله پاک لوړ دئ خالی دئ دعجز او ضرورت څخه:

قاعده: دغه خبره چي امام شافعي وایي مجاز لره عموم نسته دغه مذهب صاحب التوضیح منسوب کړی وبعضو ملګرو ته دامام شافعي رحمه الله صاحب التوضیح وایي موږ دامام شافعي رحمه الله په کتابو کي دغه ځای نه دئ پیدا کړي چي مجاز لره عموم نسته دا محض افتراء ده.

وحکم المجاز وجود ما ارید الخ:

تشريح:دا لفظ دئ مثلادايي مجازي معنى ده دلفظ مجازي معنى ته خصوص عموم عارضيدای سي دئ.

يعني ديو لفظ مجازي معنى ته خصوص او عموم دواړه ور عارضيږي لکه حقيقت ته چي خصوص او عموم ور عارضيږی :

امام شافعي رحمه الله وايي مجاز لره عموم نسته ځکه دی وايي مجاز ضروري دئ او ضرورت پوره کيږي په اراده ديوه فرد نو دعموم مجاز ضرورت نسته ، اوس راسه موږ امام شافعي رحمه الله ته وايو ته وايي مجاز ضروري دئ نو ضروري څه معنى نو دی وايي ضروري معنى مجبورتيا يعني يو ځای لفظ استعمال سي حقيقي معنى نسي اخيستي نو مجبوره سي ومجازي معنى ته ، ضروري دغه معنى موږ امام شافعي رحمه الله ته وايو دغه خبره چي ته مجاز ضروري بولي دغه خبره به ستا دغاړي سي، ځکه مجاز په قران مجيد کي سته امام شافعي چي ته مجاز ضروري بولي نو ددې دا معنى چي الله پاک مجبور ه سو ومجاز ته او حال دا چي الله پاک خالی دئ دعجز او ضرورت څخه ، ډير ځايونه په قران مجيد کي مجاز راځي يو مثال دمجاز په قران مجيد کي دادئ جِدارًاَن يُرِيْدُ اَنْ يَّنْقَضَّ ديوال داسي ديوال چي اراده يې کوله چي را پريوځي دلته مجاز بالمشارفة دئ ځکه ديوال اراده نه کوي اراده فعل القلب دئ :

مجاز بالمشارفه ديته وايي ذکر دشي اراده دقرب شي نو دا معنى ديوال قريب وو وديته چي راولويږي اوس راسه پر دې باندي يوه مسئله تفريع کړه چي امام شافعي رحمه الله په مجاز کي عموم نه کوي موږ په مجاز کی عموم کوو دعبدالله ابن عمر ﷺ حديث دئ نبي ﷺ وايي لا تبيعوا الدرهم بالدرهمين ولا الصاع بالصاعين ، تاسو يو درهم په دوو درهمو مه ورکوي يوه کاسه په دوو کاسو مه ورکوي سو دور څخه جوړيږي :

لا تبيعوا الدرهم بالدرهمين دا پر حقيقت پاته دي ولا الصاع بالصاعين دا پرمجاز پاته دئ صاع: يوه کاسه ده بل هغه شی چي په کاسه کي وي لکه مالګه ، غنم، وړه دلته دا الصاع څخه

مافي الصاع مراد د ئ يعنی هغه شی چي په کاسه کي وی هغه ورڅخه مراد دئ نو مجاز سو علاقه دمجاز حال او محل ذکر محل اراده دحال یاظرف او مظروف نفس کاسه مراد نه ده :

موږ په مجاز کي عموم داسي کوو يوه کاسه غنم په دوو کاسو غنمو مه ورکوه يوه کاسه وړه په دووکاسو وړو مه ورکوه يوه کاسه مالګه په دوو کاسو مالګو مه ورکوه يوکاسه ګچ په دوو کاسو ګچو مه ورکوه، همداسي هر شي راواخله دغه نو عموم دئ په مجاز کی امام شافعي رحمه الله دالصاع څخه يوازي مطعومات اخلی خوراکي شيان اخلی مجاز ضروري دئ ضرورت يوازي په خوراکي شيانو پوره کيږي، عموم ته ضرورت نسته نفس يوه کاسه په نفس دوو کاسو ورکول روا يوه مافی الصاع په دوو مافی الصاعين ورکول روانه دئ هغه که هر شی وي که مطعومات وی که غير مطعومات وی .

دوه ديرشم سبق :

دعبارت ترجمه: ومن حکم الحقيقة والمجاز : له حکم څخه دحقيقت او مجازو استحالة اجتماعهما مرادين بلفظ واحد:

محال دئ جمعه والی دحقيقت او مجاز په داسي حال کي چي دواړه مراد وي ديوه لفظ څخه په يوه زمانه کي په يوه مکان کي

ومن حکم الحقيقة والمجاز استحالة الخ :

تشريح : ديوه لفظ څخه په يو وخت کي په يوه ځای کي حقيقت او مجاز اخيستل محال دئ ځکه حقيقت قرينه نه غواړي مجاز قرينه غواړي او حال دادئ چي قرينه او عدم قرينه په يو ځای کي په يوه وخت کي نسي جمعه کيدای ځکه دادواړه متنافيان دي سره ضد دي لکه يوه جامه چي پر لابس باندی ملکا او عارية (په خواس غوښتل سوي) محاله ده، يعني ما يوه جامه اغوستې ده اوس داسي نسي کيدای چي دغه جامه دي هم زما په ملک کي وي هم دئ ما په خواس غوښتلي وي :

کما استحال ان يکون الثوب الواحد علی اللابس ملکا وعارية فی زمان واحد:

دعبارت ترجمه:لكه دا چي محال دئ چي يوه جامه دِئ پرلابس باندي سي ملكا او عارية په يوه زمانه كي اوس راسه مصنف داعبارت دڅه دپاره وايي مصنف په دغه عبارت كي رد كول غواړي پر امام شافعي رحمه الله باندي امام شافعي رحمه الله وايي ديوه لفظ څخه په يوه زمانه كي په يوه مكان كيږ حقيقت او مجاز اخيستي سي خو شرط يې دادئ چي اخيستل به يې ممكن وي كه دحقيقت او مجاز اخيستل ممكن نه وو بيا يې امام شافعي رحمه الله قائله نه دئ :

زموږ او دامام شافعي رحمه الله يو اختلافي مسئله دامام شافعي رحمه الله مذهب دادئ كه سړي ښځه په لاس مسحه كړه نو ددغه سړي اودس مات دئ .

زموږ په نيز باندي اودس نه ماتيږي تر څو پوري چي خروج من السبيلين نه وي راغلى:

مثال اَوْلَا مَسْتُمُ النِّسَاءَ داولا مستم حقيقي معنى لاس وروړل داولامستم مجازي معني جماع كول موږ احناف داولامستم النساء څخه صرف جماع اخلو امام شافعي رحمه الله داولامستم النساء څخه لمس باليد او جماع دواړه اخلي گوره امام شافعى رحمه الله جمعه وكړه په مابين كي دحقيقت او مجاز موږ جمعه بين الحقيقة والمجاز نه كوو موږ داولامستم النساء څخه صرف جماع اخلو زموږ پر مذهب باندي په جماع كولو باندي اودس ماتيږي يوازي په مسحه باليد باندي اودس نه ماتيږي دامام شافعي رحمه الله په نيز باندي په مسحه باليد باندي اودس ماتيږي **مرادين بلفظ واحد** : ديوه لفظ څخه حقيقت او مجاز اراده كول محال دئ مگر كه تا ديو لفظ څخه مجازي معنى واخيسته خو دامجازي معنى دومره عامه سي چي حقيقي معنى راكښي باسي لكه مجاز متعارف دخبري خلاصه داده په يو لفظ كي عموم مجاز كولاى سي :

عموم مجاز روا : مثال يو سړى قسم وكړي چي ولاكه زه حنطه وخورم دحنطي حقيقي معنى عين خودي غنم خوړل دحنطې مجازي معنى ډوډۍ خوړل دالحنطه كى حقيقي معنى مستعمله ده خو مجازي معنى يې متعارفه ده دامام ابو حنيفه صاحب په نيزباندي كه يې عين غنم وخوړل نو داسړي حانث دئ ځكه حقيقت مستعمل دئ عادة ولى خلكې غنم نئ نئ

کړي بیا یې وخوري صاحبین عموم مجاز کوي که سړي غنم وخوړل هم حانث دئ که یې ډوډۍ وخوړله هم حنث دئ **کما استحال ان یکون الخ:**

ثوب واحد دلابس ملکا او عاریة کیدل محال:

سوال: زه به دور وښیم چي یوه جامه به دلابس هم ملکا وي هم به عاریةً وي په عربي کي ګرو ته رهن وایي زید را ولاړ سو عمر ته یې کالی په ګرو باندي ورکړل یعني زید خپل کالي وعمر ته په دوه زره(۲۰۰۰) ګرو کښیښبودل زید ته مرتهن وایي عمرو ته راهن وایي یو څو وخت بعد د زید داکا واده دئ زید وعمرو ته وایي هغه زما کالي ددوو ورځو دپاره راکړه زه داکا واده پکښي تیروم عمرو زید ته کالي ورکړل زید کالي واغوستل ګوره دغه کالي چي زید واغوسته دا کالي هم ملکا دي ځکه دا کالي دده دي دا کالي هم عاریة دي ځکه دا کالي ده په خواست وغوښتل لهذا یوه جامه پر لابس باندي هم ملکا سوه هم عاریة سوه:

جواب: دعمر په دغه کالو کي دملیکت بوی نسته چي ملکیت نسته نو عاریت له کومه سو نو رعایت نسته ، که ته سوال وکړي چي دعمرو ملک نسته نو بیا زید خواست ولي ورته کوي؟

جواب: زید خواست ځکه کوي چي دعمرو حق وسره تړلی دئ متعلق دئ نو ځکه زید خواست ورته کوي:

درودیرشم سبق

ولهذا قال محمد فی الجامع:

دعبارت ترجمه: دا غه خو وجه ده امام محمد رحمه الله ویلي دي په جامع کبیر کي **لو ان عربیا لا ولاء علیه:**

که چیري عربي وو داسي عربي چي ده لره به معتِق نه وي یعني دی به بل چا نه وي ازاد کړی. عربي دچا غلام نسي کیدای ځکه عربي به یا اسلام قبلوي یا به سیف(توره) اوصی بثلث

ماله : عربی وصیت وکړي په ثلث د مال خپل ، لمواليه وله معتق واحد، و موالی خپل ته حال دا ده لره یو معتَق سته، فاستحق النصف نو مُعتق واحد مستحق دئ دنیمي کان النصف الباقي مردودا الی الورثة نصف باقي به ردیږي و ورثاء ته ولا یکون لموالی مولاه که د عربي ومعتق المعتقات ته به نه ورکول کیږي :

لان الحقیقة اریدت بهذا اللفظ ځکه حقیقت اراده کړه سوی دئ په دغه لفظ باندي قبض قبل المجاز مجاز باطل دئ

ولهذا قال محمد فی الجامع لو ان عربیا لاولاء علیه الخ :

تشریح: لفظ د مولي مشترک دئ په مابین کی د مُعتِق او مُعتَق لفظ د مولی په معتِق او معتِق په دا دواړو کي حقیت دئ لفظ د مولی په معتَق المعتَق کی مجاز دئ زید را ولاړ سو عمرو یې ازاد کړی عمرو راولړلا سو جنت ګل یې ازاد کړی اوس لفظ د مولی په عمرو کی حقیقت دئ په جنت ګل کي مجاز دئ یو سړي دي نوم یې زید دئ دغه زید لره معتِق نسته دغه زید لره صرف یو معتَق دئ هغه معتَق مثلا عمر دئ عمر خپل معتقات لری اوس راسه دزید شپږ لکه (۶۰۰۰۰۰) کلداري دي دشپږ لکو ثلث دوه لکه دي اوس زید مړ کیږي وصیت کوي زید وایي زما موالی ته زما د مال څخه ثلث ورکړي اوس به شریعت یو لک کالدراي دزید معتق ورکړي یعني عمر ته به یې ورکړي پاته سو لک کلداري به وورثه ته ورکړي، شریعت به دغه لک کلداري ومعتَق المعتق ته نه ورکوي ځکه حقیقت په لفظ د مولی مراد دئ مجاز باطل دئ اوس که شریعت د غه کالدراي ومعتق المعتق ته ورکړي نو به جمعه بین الحقیقة والمجاز راسي او حال دا جمعه بین الحقیقة والمجاز محال ده :

څلور دیرشم سبق

وانما عمهم الامان :

دعبارت ترجمه: انما جزی نیست عمهم الامان : عام دئ ودوي ته امان یعني امان عام دئ وموالي الموالی ته وابناء الابناء ته :

فيما اذا استأمنوا على ابنائهم ومواليهم په هغه استيمان كي چي كله كفار طلب دامن وكړي پر ابناء خپل اوپرمواليوو خپل:

لان اسم الابناء والموالي ظاهرا يتناول الفروع: ځكه اسم دابناء او دموالي ظاهرا شامليږي وفروع ته، **لكن بطل العمل به** : خو عمل په تناول ظاهري باندي باطل دئ په حق دارادي دفروع كي، لتقدم الحقيقة: ځكه حقيقت مخته دئ پرمجاز باندي :

فبقي مجرد الاسلام شبهة فى حقن الدم: باقي پاته سو خالي اسم شبهه په ساتلو دوينو كي وصار كالاشارة وګرځيدى لكه اشاره كول، **اذا د عابها الكافر الى نفسه** هغه وخت چي مسلمان په دغه اشاره باندي كافر خپل ځان ته راوبولي **يثبت بها الامان لصورة المسالمة** په دغه اشاره باندي امان ثابت سو له وجي دظاهري مصلحته **وان لم تكن ذالک حقيقة** كه څه هم دا حقيقت نه دئ.

وانما عمهم الامان فيما اذا استأمنوا على ابنائهم الخ :

تشريح: مخته موږ قاعده وويله چي جمعه په مابين كي دحقيقت او مجاز محاله ده اوس يو اعتراض كيږي مصنف دهغه اعتراض جواب وركوي :

سوال: سائل سوال كوي وايي زه به يې دروښيم تاسو به جمعه بين الحقيقة والمجاز كړى وي. يو سړي كافر دئ په خزه كي ناست دئ جنګ كوي دمسلمان سره مسلمان هم جنګ ورسره كوى اوس كافر سړي مسلمان ته وايي زه تسليميږم په شرط ددې چي ماته زما ابناء (وزامنو) ته زما وموالیو ته امن راكړه، اوس دابناء لفظ په زامنو كي حقيقت دئ په لمسيانو كي مجاز دئ دمولى لفظ په معتَق كي حقيقت دئ په معتَق المعتَق كي مجاز دئ نو سائل وايي اي احنافو تاسو واياست چي امن وزوى اولمسي دواړو ته حاصل دئ نو ګوره جمعه بين الحقيقة والمجاز راغلى او احنافو تاسو مخته وويل جمعه بين الحقيقة والمجاز محاله ده ؟

جواب: موږ سائل ته وايو چي موږ حقيقت اخلو زامن اخلو لمسي نه دي داخل موږ معتَق اخلو معتق المعتق نه داخل اوس که ته وايي چي امان ولي ورکوي نو موږ وايو امان ورکوو دشبهې دوجی :

کافر مسلمان ته وويل زما ابناء اوزما موالی ته امان راکړه مسلمان ورته وويل سمه ده امان دکوم اوس دابناء لفظ ظاهرا وابناء الابناء ته شامل دئ دموالي لفظ ظاهرا ومعتق المعتق شامل دئ نو شبه پکښي پيدا سوه کيدای سي چي مسلمان دئ زامنو او لمسيانو معتق او معتق المعتق دواړو ته امن ورکړي وی ددغه شبهې دوجی موږ امان ورکوو وابناء ته وابناء الابناء ته وموالي ته وموالي الموالی ته :

دا داسي مثال لري لکه اشاره، مسلمان په اشاره په لاس ښورولو سره کافر را وبولي وخپل ځان ته اوس چي مسلمان کافر په اشاره باندي په لاس ښورولو باندی خپل ځان ته را بولي نو دمسلمان مقصد وکافرته دمکی ورکول دی يعني دمسلمان مقصد دادئ په اشاره کولو باندي که نامي يې کافره نورا شيوه سه ليکن ظاهرا يو شبه سته ددغه شبهې دوجی وکافر ته امان ثابت دئ کافر به نه وژل کيږي :

په دغه دواړو صورتو کي موږ په مجاز باندي عمل دلفظ دوجي نه کوو موږ په مجاز باندي عمل کوو دشبهې دوجي يعني په دغه دواړو صورتو کي چي امان ورته ثابت دئ دشبهې دوجی نه دلفظ دوجي دعبارت ترجمه:

پنځه ديرشم سبق

وانما ترک فی الاستيمان علی الابناء والامهات :

دعبارت ترجمه پريښودل سو په استيمان کي چي ا من وغوښتل سي پر پلارانو او مورانو باندي، **اعتبار الصورة فی الاجدادوالجدات**: پريښودل سو اعتبار دصورت په نيکه ګانو کي په انا ګانو کي، **لان اعتبار الصورة لثبوت الحکم فی محل اخر** :

ځکه اعتبار دصورت ، دشبهې دپاره دثبوت دحکم چي ته امان ورته ثابتوي، دشبهې دوجي دغه اعتبار دصورت داوي په محل اخر کي **يکون بطريق التبيعة** داسي محل اخر چي وی به په طريقې دتبعيت سره **وذالک انما يليق بالفروع دون الاصول** ، دغه اعتبار دصورت په طريقې دتبعيت داخوند کوي دفروع سره نه داصولو سره :

قاعده : هر وخت که تا حکم داصلي محل څخه غير په بل محل کي ثابتوي نو دا به وي په طريقې دتبعيت سره او تبعيت په فروع کي وی .

سوال: سائل سوال کوی سائل وايي زه به ددغه قاعدې ضد دربنکاره کړم الله رب العزت فرمايي ﴿حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمۡ أُمَّهَٰتُكُمۡ﴾ پر تاسو باندي حرامي کړل سوې دي موراني ستاسي، ګوره دحرمت محلې اصل موراني دي خو دلته دحرمت حکم مورانو او انا ګانو دواړو ته ثابت دئ هم مور په نکاح کول حرامه هم انا په نکاح کول حرامه :

ګوره انا اصل ده دلته انا ته حکم دحرمت څنګه شامل دئ او سره له دې چي حکم بالتبع په فروعو کي چليږي نه په اصولو کي ؟

جواب : موږ سائل ته جواب ورکوو قطعا داسي نه ده لکه سائل چي وايي حرمت عليکم امهتکم دلته دحرمت حکم ومورانو ته ثابت دئ په عبارة النص دحرمت حکم وانا ګانو ته ثابت دئ په دلالة النص سره :

يا دحرمت حکم ومورانو ته په نص کتاب الله سره ثابت د ئ دحرمت حکم واناګانو ته په اجماع سره ثابت دئ .

وانما ترک فی الاستيمان الخ :

تشريح: **سوال**: احنافو په مخته مسئله کي تاسو لمسی په زوی کي د اخل کړی دشبهې دوجي معتق المعتق تاسو په معتق کي داخل کړي دشبهې دوجی يعني تاسو امان ورته ثابت کړی دشبهې دوجي اوس که کافر ووايي امنو نا علی امهاتنا و ابائنا ای احنافو تاسو

دلته نيكه ولي په پلار كي نه داخلوي انا ولي په مور كي نه داخلوي يعني تاسو دلته امان ولي نيكه ته نه وركوي ولي انا ته امان نه وركوي.؟

جواب: مور چي لمسي په زوي كي داخل كړي متعق المعتق مو په معتق كي داخل كړي دا په طريقي دتبعي سره او حال دا تبعيت په فروع كي چليږي په اصولو كي نه چليږي فروع داصولو تابع وي اصول دفروع تابع نه وي په مخته مسئله كي زامن وابناء الابناء ته شامليږي په طريقي دتبعيت سره ځكه زامن اصل دي لمسيان فروع دي فروع داصولو تابع وي ځكه مور لمسيان په زامنو كي داخلوو اباء واجدادو ته نه شامليږي په طريقي دتبعيت سره ځكه اجداد اصول دي داباء دپاره جدات اصول دي دامهات دپاره اصول دفروع تابع نه وي ځكه مور اجداد جدات، نه داخلوو په اباء، امهات كي.

شپږ ديرشم سبق

دعبارت ترجمه: فان قيل: كه چيري چا سوال وكړي قد قالوا فيمن: په تحقيق سره زمونږ ټولو علماؤ ويلي دي په حق دهغه چا كي: حلف لايضع قدمه فى دار فلان: چي قسم وكړي قدم دى نه ږدي دفلانكي په سراى كي، انه يقع على الملك والعارية والاجارة جميعا:

قسم واقع كيږى پر دار مملوكه باندي پر دار عاريه باندي پردار مستأجره باندي يعني په ټولو كي. ويحنث اذا دخلها راكبا، او ماشيا: حانث كيږي كه چيري ور داخل سي سپور يا دڅپليو سره:

قلنا: مونږ وايو په جواب كي وضع القدم صار مجازا عن الدخول: وضعه د قدم دا مجاز ګرځيدلى ددخول څخه، واضافة الدار يراد بها نسبة السكنى: اضافت ددار مراد په دغه سره داوسيدو ځاى دى. فاعتبر عموم المجاز، نو عموم مجازمعتبر سو نه جمعه بين الحقيقة والمجاز وهو نظير ما لو قال عبده حرٌ يوم يقدم فلان الخ:

تشريح: دمخكني صورتو دپاره على سبيل التشبيه مصنف يو مثال وايي: كه سړي ووايي عبدي حرٌ يوم يقدم فلان: زما غلام ازاد دئ كه فلانكى راغلى اوس راسه لفظ ديوم

په نهار کي حقیقت دئ په لیل کي مجاز دئ، اوس که سړي وویل زما غلام ازاد دئ یوم یقدم فلان که فلانکی راغلی اوس که فلانکی دورځي راغلی هم غلام ازاد دئ او که فلانکی دشپې راغلی هم ازاد دئ نو ګوره جمعه راغله په مابین کي د حقیقت او مجاز ، موږ وایو دلته عموم مجاز دئ یوم حمل دئ پر مطلق وخت باندي په مطلق وخت کي ورځ او شپه دواړه داخل دي.

یوم که مقارن وو د فعل لا یمتد سره نو بیا یومَ حمل دئ پر مطلق وخت باندي فعل لا یمتد معنی فعل انی انی معنی سکینټ دقیقه مثلا یو سړي وایي عبدي حر یوم یقدم فلان :

لکه طلاق ، قدوم، دخول، که یوم مقارن وو د فعل ممتد سره نو بیا یوم په معنی د ورځي سره دئ فعل ممتد معنی اوږد فعل کار مثلا رکبتُ هذه الدابة یوما سپور تیا پر دابه باندي داکله یوه ورځ وي کله دوې وې یوه دقیقه نه وي.

فائده: دیومَ یو مضاف الیه دئ بل یې عامل دئ که دیوم مضاف الیها و عامل دواړه ممتد وه یا دواړه غیر ممتد وه په دغه صورت کي عامل او مضاف الیه دواړه معتبر دی مثال چي دواړه غیر ممتد وي یو سړي وایي انت طالق یوم یقدم فلان که عامل غیر ممتد وو مضاف الیه دیوم ممتد وو یا عامل فعل ممتد دئ مضاف الیه دیوم فعل غیر ممتد دئ په دغه صورت کي عامل معتبر دئ، مثال یو سړي وایي انت طالق یوم یرکب فلان دلته عامل فعل لا یمتد دئ دیوم مضاف الیه فعل ممتد د ئ په دغه صورت کي عامل معتبر دئ .

دعبارت ترجمه : **وهونظير ما**: دغه اعتبار د عموم مجاز نظير د هغه اعتبار دئ، **لو قال عبده حر يوم يقدم فلان** که چيري يو سړي ووايي غلام دده ازاد دئ که فلانکی راغلی، **فقدم ليلا او نهارا** عتق فلانکی راغلی د شپې يا دورځي نو غلام ازاد دئ ، **لان اليوم متى قرن بفعل لا يمتد**: ځکه يوم چي څه وخت چي مقارن سي د فعل لا يمتد سره ، **حمل على مطلق الوقت**: نو يوم حمل کيږي پر مطلق وخت باندي:

ثم الوقت يدخل فيه الليل والنهار: بيا نو داخليږي په دغه وخت کي شپه او ورځ :

ان قيل قد قالو افيمن لوه لا يضع قدمه فی دار فلان:

تشريح: مخته موږوويل چي جمعه په مابين كي دحقيقت او مجاز ناروا محال ده اوس يو چا سوال كړي وايي زه به دوه ځايه دروښيم احنافو تاسو به جمعه بين الحقيقة والمجاز كړي وي.

اول ځای چي جمعه راغلی وي په مابين كي دحقيفت او مجاز، يو سړي قسم وكړي وايي زما دی دخدی په ذات قسم وي كه ما قدم دفلانكي په سرای كي كښيښودي اوس راسه دا ر فلان حقيقت دی په دار مملوكه كي مجاز دئ په دار عاريه او په دار مستأجره كي اوس كه دغه سړي قدم دفلانكي په سرای كي كښيښودی هغه كه دار مملوكه وي ، دار عاريه وي ، دار مستاجره وي نو دغه سړي حانث دئ نو ګوزه دلته جمعه بين الحقيقة والمجاز راغله:

دوهم ځای چي جمعه بين الحقيقة والمجاز راغلی وي يو سړي قسم وكړي وايي زما دي دخدای په ذات قسم وي كه ما پل، قدم كښيښودی دفلانكي په سرای كي اوس راښه دفلانكي سرای ته ورتلل حافيا(لڅي پښې) دا معنی حقيقي ده دوضع القدم دفلانكي سرای ته ورتلل متنعلا(دڅپليو سره) يا دفلانكي سرای ته ورتلل راكبا پر (يو شي سپور) دامعنی مجازي ده دوضع القدم اوس كه دغه سړي دفلانكي په سرای كي پل قدم كښيښودی عام تر د ې حافيا(لڅي پښې) وي راكبا(پر يوشي سپور)وی متنعلا (دڅپليو سره)وي نو داسړي حانث دئ ګوره دلته جمعه بين الحقيقةوالمجازراغله:؟

جواب:موږ دلته جمعه بين الحقيقة والمجاز نه ده كړې موږ دلته عموم مجاز كووعموم مجاز ديته وايي چي ته دلفظ څخه داسيی معنی واخلې چي حقيقي معنی او مجازي معنی دواړه راكښي باسي حقيقي معنی او حقيقي مجازي معنی دواړه راكښي باسي، په اول صورت كي موږ ددار فلان څخه دارسكنی اخلو هغه سرای چي دی پكښي اوسيږي دغه معنی عامه ده ودار مملوكه ، ودار عاريه ، ودار متسأجره ته ته په دوهم صورت كي موږ د وضع القدم څخه دخول اخلو دخول عام دئ وحافيا ، ومتنعلا، وراكبا ته لهذا موږ په دغه دواړوو صورتو كي عموم مجاز كوو.

فائده: که سړي قسم وکړی چي زه قدم د فلانکي په سرای کي نه ږدم اوس دغه سړي صرف قدم کښېښنودی په سرای کی نور جسد بدن يې خارج دئ دسرای څخه نو دغه سړی نه دی حانث ځکه دا حقيقت مهجوره دئ.

اووه ديرشم سبق

وکذالک **دعبارت ترجمه:** دقول مذکور په مثل باندي، **قال ابو حنيفه ومحمد:**

امام ابو حنيفه او امام محمد رحمهما الله ويلي دي، فيمن قال لله عليّ ان اصوم رجبا ونوي به اليمين کان نذرا ويمينا:

په حق دهغه چا کي چي ووايي دخدای دپاره په ما باندي درجب دمياشتي روژه ده او حال دا په دغه قول باندي دده نيت ديمين وو نو دا نذر او يمين دئ.

وفيه جمع بين الحقيقة والمجاز: په دې ما ذکر کي جمعه بين الحقيقة والمجاز **واما** **مسئلة النذر فليس بجمع ايضا:** هرڅه چي مسئله دنذر ده نو دا جمعه بين الحقيقة والمجاز نه ده،

بل هو نذر بصيغته: بلکي دغه قول (لله علی) نذر دی په صيغې سره، **يمين بموجبه**: يمين دی په حکم دده سره **وهو الايجاب**: دغه موجب دنذر ايجاب دئ، **لان ايجاب المباح يصلح يمينا**: ځکه ايجاب دحلال صلاحيت لري ديمين، **کتحريم المباح وهذا الخ**: که ته وايي بل داسي ځای را وښيه چي په صيغې سره يو شي مراد وي په موجب سره بل شی مراد وي.

زما ورور دبل چا غلام دئ ما ورته وويل اشتريت منکَ هذا العبد: ما ورته وويل ما ستا څخه دغه غلام رانيوی وايي صحيح دئ اوس شراء ملک راولی موجب دملک اعتاق راولي. ځکه شراء علت دملک دئ ملک دقريب علت دعتق دئ ځکه نبی عليه السلام فرمايي من مَلِکَ ذا رحم محرم منه عتق عليه.

وکذالک قال ابو حنيفه ومحمد فيمن قال لله عليّ الخ

تشريح: امام ابو حنيفه او امام محمد دوی دواړه وايي په حق دهغه چا کي چي ووايي **لله علی ان اصوم رجبار ونوي به اليمين كان نذرا و يمينا**: دخدای دپاره پر ما باندي روژه ده درجب دمياشتي خو نيت دده په دغه باندي ديمين وو نو داهم نذر دئ هم يمين دئ که چيري دغه سړي روژه نه ونيول درجب دمياشتي نو به دغه سړي قضاء راوړي ځکه داندر دئ همدا رنګه پر دغه سړي باندي کفاره واجب ده ځکه دا يمين دئ لله علی ان اصوم رجبا ونوی به اليمين :

دغه کلام دنذر دپاره حقيقت د ئ ځکه ثبوت دده موقوفه نه دئ پر قرينه باندي دغه کلام ديمين دپاره مجاز دئ ځکه دا موقوفه دئ پر قرينه باندي هغه قرينه نيت دئ که سړي دغه کلام وويلی نو داهم نذر دی هم يمين دئ پر طرفينو باندي داسوال کيږي چي دلته جمعه راغلی په مابين کي د حقيقت ا و مجاز او محال دا تاسو طرفين واياست چي جمعه بين الحققة والمجاز محال ناروا ده .

جواب: دلته جمعه په مابين کي دحقيقت او مجاز نسته اوس راسه يو داعبارت دی لله علی يو ددې عبارت موجب ، مقتضي، حکم دی په نفس صيغه باندي په نفس عبارت باندي نذر واجبيږي ددغه عبارت په موجب باندي په حکم باندي يمين واجبيږي جمعه په ما بين کي دحقيقت او مجاز هغه وخت راځي چي دواړه واخيستل سي په نفس صيغه باندي دلته موږ دنفس صيغې څخه نذر اخلو دده دموجب دده دحکم څخه يمين اخلو نو دا جمعه بين الحقيقة والمجاز نه ده دلله علی حقيقت نذر دئ اوس دلله علیّ دموجب يمين څنګه دئ حلال شي پرځان باندي حرامول ديته په شريعت کي يمين وايي:

نبی عليه الصلوة والسلام ته مريمه قبطيه رضی الله تعالی عنها وده ته حلاله وه ده وويل بيا نه ورځم الله جل جلاله ودغه حلال ته چي ده پرځان باندي حرام کړي ودغه ته الله جل جلاله قسم يمين وويلی الله جل جلاله فرمايي: (يَا أَيُّهَاالنَّبِيُّ) اي نبی لِمَ تُحَرِّمُ مَا اَحَلَّ اللهُ لَکَ: ولی حراموي ته هغه چي الله پاک حلال کړي دي تاته وروسته الله پاک وايي قَدْ فَرَضَ اللهُ لَکُمْ تِحِلَةَ اَيمَانِكُمْ په تحقيق سره مقرر کړي دی الله تاسي لره حلالوالی

دقسمو نو ستاسي ، حلال شي پر ځان باندي حرامول دیته الله ايمان قسم وويلى نو ددې
ځخه دا معلومه سوه چي حلال شى پرځان باندي حرامول دیته یمین وايي:

اوس راسه درجب په میاشت کي روژه وده ته خوړل مباح وه حلاله وه خو ده دا مباح پر ځان
باندي حرام کړي ودغه ته یمین وایی له عليّ الخ په نفس دغه کلام سره نذر راغلی دده په
موجب باندي چي ده مباح پر ځان باندي حرام کړی په دغه موجب باندي یمین راغلی :

اته دیرشم سبق

ومن حكم هذا الباب :

دعبارت ترجمه: له حکم ځخه ددغه باب **، ان العمل بالحقيقة متى امكن سقط المجاز** :
تر ځو پوري چي عمل په حقیقت باندي ممکن وي مجاز ساقط دئ.

لان المستعار لا يزاحم الاصل ځکه مستعار مزاحم نه جوړیږي داصل.

فائده: دحقیقت او دمجاز علامه : حقيقت دځپل مصداق ځخه نه پرېږي کيږي مجاز دځپل
مصداق ځخه پرېږي کیږي مثال : داب لفظ دپلار دپاره حقیقت دئ دنیکه دپاره مجاز دئ
دابن لفظ دزوي دپاره حقیقت دئ دلمسي دپاره مجاز دئ.

دابن لفظ دلمسي ځخه پرږي کیدای سي ځکه دابن لفظ به ذکر وي صرف زوی به ورځخه
مراد وي نه لمسی داب لفظ دنیکه ځخه پرېږي کیدای سي داب لفظ دپلار ځخه نسي پرېږي
کیدای

ومن حكم هذا الباب الخ :

تشريح: دا لفظ دئ دايي حقيقي معنى ده دايي مجازي معنى ده دلفظ حقيقي معنى خپله
مجازي معنى يې مستعار ، مستعار چي مجاز دی داصل چي حقیقت دئ مزاحم نسي

جوړيداى، ترڅو پوري چي عمل په حقيقت باندي ممکن وي مجاز ساقط دئ ځکه مستعار داصل مزاحم نسي جوړيداى.

نه ديرشم سبق

فان كانت الحقيقة متعذرة:

دعبارت ترجمه: كه چيري حقيقت متعذره وو، **كما اذا حلف لا ياكل من هذه النخلة:** يو سړي قسم وکړي چي زه به ددغي درختي څخه خوراک نه کوم. **او مهجورة:** اويا حقيقت مهجور وو، **كما اذا حلف لا يضع قدمه في دار فلان:** يو سړي قسم وکړي چي زه به قدم نه کښيږدم د فلانکي په سراى کي **صير الى المجاز** نو به مجاز ته تګ کيږي:

سوال: يو سړي قسم وکړى لا يأكل من هذه النخلة اوس سوال دادئ چي عين درخته نه خوړل داخو متعذره نه ده تا خو ويل متعذره ده نو مثال مطابق نسو دممثل سره؟

جواب: ټول عمر قسم اخيستونکي قسم په منفى اخلى په نفى يې نه اخلى لکه دلته لا نفى دئ ياكل فعل منفى دئ نو په دغه صورت کي نفى معتبر نه دئ فعل منفى معتبر دئ چي فعل منفى معتبر سو نو فعل منفى خو مثبت دئ يعني په حقيقت کي قسم په مثبت وي لهذا قسم په عدم الاكل نه دى قسم په الاكل باندي دئ اذا حلف لا يضع قدمه في دار فلان: دلته هم دغه سوال او جواب کيږي، يعني دلته قسم پر ننوتلو دئ پر نه ننوتلو نه دئ:

وعلى هذا قلنا الخ: دزيد او عمرو سره دعوه ده زيد را ولاړ سو په خصومت کي يې ختکل دځان دپاره وکيل جوړکړي دخصومت حقيقي معنى انكار كول دئ دخصومت مجازي معنى نعم اولا (وو، يا) ده دخصومت حقيقي معنى مهجور ده شرعا ځکه الله پاک فرمايي وَلَا تَنَازَعُوْا تاسو يو دبله جګړه جنګ مه سره کوي او حال دا مهجور شرعا په منزله دمهجور عادةً وي دخبري خلاصه داده په خصومت کي به وکيل انصراف کوي و مطلق جواب ته يعني وکيل به جواب ورکوي په رد او په اقرار سره، **وعلى هذا:** بنا پر دغه باندي

قلنا ان التوكيل بالخصومة ينصرف الى مطلق الجواب: موږ وايو توكيل بالخصومة ددې ا نصراف کيږي ومطلق جواب ته، **لان الحقيقة مهجورة شرعا**: ځکه حقيقت مهجور دئ شرعا، **والمهجور شرعا بمنزلة المهجور عادة** مهجور شرعا په منزله د مهجور عادةً وي:

فان كانت الحقيقة متعذرة الخ:

تشريح: دا لفظ دئ دايې حقيقي معنى ده دايې مجازي معنى ده:

خو دلفظ حقيقي معنى ا خيستل متعذره ده نو دلفظ مجازي معنى به اخلي مثال يو سړي قسم وکړي چي والله که زه ددغه درختي څخه خوراک وکړم عين درخته خوړل حقيقت دئ ميوه ددرختي او يا قيمت ددرختي مجاز دئ:

اوس که سړي عين درخته وخوړل نو نه دئ حانث که سړی قيمت او يا يې ميوه وخوړل نو حانث دئ ځکه حقيقي معنى متعذره ده.

که دلفظ حقيقي معنى په عرف کي پريښول سوي وه نو به دلفظ مجازي معنى اخلي مثال يو سړي وايي والله که ما پل کښيښودی دفلانکي په سرای کي حقيقت دايښودلو د پل لځي پښي دي دغه معنى عرف پرييښو ده نو مجازي معنى به اخلو مجازي معنى دخول دئ.

په دغه دواړ صورتو کي مجاز ته تګ کيږي مګر شرط دادئ چي ده به دحقيقي معنى نيت نه وی کړي.

فائده: دا هغه ځای دئ چي حقيقت نيت قرينه غواړي:

څلويښتم سبق

الا ترى ان من حلف لا يكلم هذالصبي

دعبارت ترجمه: ته نه ګوري بيشکه هغه څوک چي قسم وکړي زه خبري ددغه کو چني سره نه کوم **لم يتقيد بزمان صباه** ده نه دئ مقيد کړي په زمانه دصبا وة باندي **لان هجران الصبي مهجور شرعا**: ځکه هجران دصبي منعه دئ شرعا:

الا ان من حلف لا يكلم هذا الصبى الخ:

تشريح: زيد دشپږ وکالو دئ عمرو قسم وکړی وايي زما دی دخدای په ذات قسم وي که ما ددغه کوچني سره خبری وکړي:

دهذا الصبي چي زيد دئ يوه حقيقي معنى ده بله يې مجازي معنى ده:

زيد په وصف دصبي کي حقيقت دئ په مطلق ذات کي مجاز دئ، حقيقي معنى مهجوره ده شرعا ځکه نبی عليه الصلوة والسلام فرمايي من لم يرحم صغيرنا ولم يوقر کبيرنا فليس منا څوک چي زموږ پر کوچنيانو باندي رحم نه کوي او زموږ دمشرانو قدر او عزت نه کوي نو دا زموږ څخه نه دئ لهذ حقيقي معنى مهجوره ده شرعا نو به مجازي معنى اخلو مجازي معنى دهذا الصبي چي زيد دئ دغه مجازي معنى ذات دئ.

اوس که عمر دزيد سره خبري وکړي په د اسي حال کي چي زيد ځوان وي يا سپين ږيري وی نو عمرو حانث کيږي.

مخته موږ قاعده ويلي وه مهجور شرعا په منزله دمهجور عادةً دئ.

هذا الصبىّ: سوال ته ديوه تاوان څخه ځي په درو تاوانو کي واقع کيږي دهذا الصبي څخه هذه الذات اخيستل په دې کي درې تاوانه دي په هذا الصبي کي يو تاوان دئ په هذه الذات کي درې تاوانه دي هغه درې تاوانه دادي چي کوچني وو تاخبري ورسره نه کولې نو په لم يرحم صغيرنا کي راغلي دايي يو تاوان دئ چي غټ سو تاخبري ورسره نه کولې نو په لم يو قر کبيرنا کي راغلی دايي بل تاوان هجزان سلام بندول دمؤمن څخه تر درو شپو دايي بل تاوان په هذا الصبى کي يو تاوان دئ.

جواب: په قسم کي چي يوشي ټارګيټ مقصود سو او په ضمن کي نور تاوانونه راغله ودغه ته په قسم کي اعتبار نسته يعني معتبر خو وي په دغه ځای کي نه دي معتبر چي تاسوال

وکړي په دغه ځای کي مقصود ټارګيټ ذات دئ ددې مقصود سره دري نور تاوانو نه راغلل.

سوال: دغه مثال دمهجور شرعا چي تا ورکړي دا مثال غلط دئ ځکه موږ قاعده ويلي هر وخت که يو شي مشار اليه ووِ او هغه متصف په وصف سره وو ددغه وصف اعتبار نسته په هذا الصبي کي الصبي مشار اليه دئ متصف بصفة دئ ودغه وصف ته اعتبار نسته چي اعتبار نسته نو داوله سره ذات واخيستل سو نو ستا دغه قاعده چي مهجور شرعا دا دلته نه چليږي.

قاعده: دوصف په کوم ځای کي اعتبار سته او په کوم ځای کي اعتبار نسته:

ما قسم وکړي پر نکره باندي دلته وصف په قسم کي معتبر دئ مثال يو سړي قسم وکړی وايي والله لا يأكل رُطبا والله که لنده خرما وخورم اوس که سړي لنده خرما وخوړه نو حانث دئ که سړي وچه خرما وخوړه نو حانث نه دئ که تا وصف دمشار اليه په شکل معرفه راوړي بيا ورته وګوره داعي وقسم ته دئ که نه دئ که داعي باعث پرقسم باندي وو بيا دا وصف معتبر دئ مثال يو سړي وايي دا کوچني بيکاره بې عزته دئ والله که زه دده سره خبري وکړم دلته دا وصف داعي الى اليمين دئ که وصف داعي الى اليمين نه وو بيا وصف معتبر نه دئ مثال يو سړی وايي والله که زه دمرغومي غوښه وخورم دلته وصف معتبر نه دئ ځکه دا باعث پر قسم نه دئ ځکه دمرغومي غوښه ګټه کوی وصحت ته تاوان نه کوي اوس که دده دمرغومي غوښه وخوړه حانث دئ مرغومي که مينده وي که غير مينده وي که غټ وي که کوچني وي تا چي کوم سوال کړي وو چي مشار اليه موصوف بصفة وي هلته وصف معتبر نه وي هغه په دغه اخيري صورت کي چي مشار اليه متصف بصفة وي او داعي پرقسم باندي نه وي لهذا په هذا الصبي کي وصف معتبر دئ.

فان كان اللفظ له حقيقة مستعملة ومجاز متعارف:

دعبارت ترجمه: که چيري لفظ لره حقيقت مستعمله او مجاز متعارفه وو:

كما اذا حلف لا يأكل من هذه الحنطة :

يو سړي قسم وکړ والله که زه ددغه غنم څخه خوراک وکړم **او لا يشرب من هذه الفرات :**
والله که زه ددغه فرات څخه شرب وکړم:

فعند ابو حنيفة العمل بالحقيقة اولى :

دامام صاحب په نزد باندي عمل په حقيقت باندي کول اولى دئ.

وعندهما العمل بعموم المجاز اولى :

دصاحبينو په نزد باندي عمل کول په عموم مجاز باندي اولى دئ.

تشريح: که چيري لفظ لره حقيقة مستعمله هم وو مجاز متعارف هم وو دامام ابو حنيفه په نيز باندي عمل په حقيقت باندي اولى دئ دصاحبينو په نيز باندي عمل په مجاز باندي کول اولى دئ.

دمجاز متعارف دوي معنا ګاني دي يوه معنى غالب فى التعامل دوهمه معنى غالب فى التفاهم دمجاز متعارف يوه معنى داده خلک په مجازي معنى باندي ډير عمل کوي په نسبت وحقيقي معنى ته دغالب فى التعامل دغه معنى ده غالب فى التفاهم دامعنى چي لفظ ذکر سي نو مجازي معنى و ذهن ته ډيره راځي په نسبت و حقيقي معنى ته.

يو مجاز دئ يو عموم مجاز دئ دصاحبينو يو قول دادئ عمل په مجاز باندي کول اولى دي بل قول يې دادئ عمل په عموم مجاز باندي کول اولى دئ، دامام صاحب مذهب دادئ عمل په حقيقت باندي اولى دئ:

مثال يو سړي قسم وکړي وايي والله که ددغه حنطي څخه خوراک وکړم، لفظ دالحنطي په غنمو کي حقيقت دئ په ډوډۍ کي مجاز دئ.

دامام صاحب په نیزدباندي که سړي ډوډۍ وخوړله نه دئ حانث که سړي غنم وخوړل حانث دئ د صاحبینو پر قول دادئ که یې غنم وخوړل نه دئ حانث که یې ډوډۍ وخوړله حانث دئ بل قول یې دعموم مجاز دئ که سړي غنم وخوړل هم حانث دئ که یې ډوډۍ وخوړله هم حانث دئ عموم مجاز دیته وایي چي دلفظ څخه داسې معنی واخلې چي حقیقي معنی او مجازي معنی دواړه راکښې باسي.

یو سړي قسم وکړي وایي والله که ددغه فرات څخه اوبه وڅښم الفرات حقیقت دئ په دې کي چي سړي پر ویاله پریوځي په خوله باندي اوبه وڅښي دامام صاحب په نزد باندي که سړي پر ویاله پریوتی په خوله یې اوبه وڅښلې نو حانث دئ که یې په لپه په ګلاس کي اوبه وڅښلې نه دئ حانث دصاحبینو یو قول دادئ که سړي اوبه په لپه کي په ګلاس کي وڅښلې حانث دئ دوهم قول دصاحبینو که سړي په هر رکم اوبه وڅښلې حانث دئ:

یو څلویښتم سبق

وهذا یرجع الی اصل:

دعبارت ترجمه: دغه اختلاف متوجه دئ وبلي قاعدې ته **وهو ان المجاز خلف عن الحقیقة فی التکلم عند ابی حنیفه:** دغه قاعده داده چي مجاز خلف دئ د حقیقت څخه په تکلم کي دامام صاحب په نزد باندي **حتی صحت الاستعارہ به عنده:**

فائده: یې داده چي په کلام باندي استعاره صحیح ده دامام صاحب په نزد باندي وان لم ینعقد الایجاب الحقیقة

که څه هم حقیقي معنی نه ورکوي **کما فی قوله لعبده وهو اکبر سنا منه:**

لکه سړي چي خپل غلام ته ووایي حال دا چي هغه تر ده مشر وي از روي کلونه، هذا ابنی: یعني دا ورته ووایي دغه زما زوی دئ:

فاعتبر الرجحان فی التکلم:

امام صاحب رجحان معتبره کړي په تلفظ کي، **فصارت الحقيقة اولى** : پس حقيقة مستعمله اولى سو تر مجاز ، **وعندهما المجاز خلف عن الحقيقة فى الحكم** :

دصاحبينو په نزد باندي مجاز خلف دئ دحقيقت څخه په حکم کي **وفى الحكم للمجاز رجحان** :

په حکم کي مجازلره رجحان پر حقيقت باندي، **لاشتماله على حكم الحقيقة**:

ځکه مجاز مشتمل دئ پر حکم د حقيقت باندي، فصار اولى: پس مجاز اولى سو تر حقيقت.
وهذا يرجع الى اصل الخ :

تشريح: دغه اختلاف چي مخته ذکر سو دا راجع دئ وبلي قاعدې ته داسي قاعده چي مختلف فيه ده.

دټولو علماؤ پر دې اتفاق دئ چي مجاز دحقيقت خلف نائب دئ :

اختلاف په دې کي دئ چي مجاز دحقيقت په څه شي کي خلف نائب دئ :

دامام صاحب په نزد مجاز دحقيقت خليفه نائب دئ من حيث التكلم من حيث التلفظ من حيث التركيب النحويه که څه هم دلفظ حقيقي معنى متصور الوجود نه وي دصاحبينو په نزد باندي مجاز دحقيقت خليفه دئ من حيث الحكم يعني مجاز دحقيقت هغه وخت خليفه دئ چي دلفظ په حقيقي معنى متصورالوجود وي يعني حقيقي به لري:

امام صاحب واي که چا عبارت وويلى او دترکيب په اعتبار صحيح وو که څه هم حقيقي معنى نه لري بس مجاز ددغه حقيقت خليفه دئ من حيث التلفظ دصاحبينو په نزد باندي ترڅو پوري چي حقيقي معنى و رنه کړي مجاز ده خليفه نسي جوړيداى.

مثال يو سړي قسم وکړ وايي والله که زه بجلي برق وخورم دلته ددغه عبارت (لا أكل البرق) حقيقي معنى متصور الوجود نه ده ځکه برق نه خوړل کيږي خو دغه عبارت دترکيب په لحاظ صحيح دئ دددغه عبارت ترکيب لا نافيه اكل فعل ضمير دانا فاعل البرق مفعول به

دامام صاحب په نزد باندي منجاز ددغه عبارت خليفه نسي جوړيدای ځکه حقيقي معنی متصور الوجود نه ده :

دامام صاحب په نيز باندي دخلافت دار او مدار پر الفاظو باندي دئ دصاحبينو په نزد باندي دخلافت دار او مدار پر وجود دمعني حقيقي باندي دئ حضرت امام صاحب برحق ځکه حقيقت او مجاز صفات دالفاظو دي دمسلمان عاقل بالغ خبره به پرصحت باندي حمل کوي دصاحبينو په نزد باندي داسي کلام لغوه دئ چي معنی حقيقي نه لري يو سړي خپل غلام ته وايي خو دغه غلام تر ده مشر دئ دکلو په اعتبار دا سړي وايي اذا ابنی دا زما زوی دئ ددغه حقيقي معنی متصور الوجود نه ده ځکه هغه پر ده مشر دئ :

حضرت امام صاحب وايي بعبارت صحيح دئ دترکيب په لحاظ هذا ابنی دا مبتدا او خبر دئ زوی پرسړي باندي ازاد وي دلته به مجازي معنی اخيستل کيږي هغه دا غلام پر ده باندي ازاد سو دصاحبين و په نزد باندي په دغه عبارت کي مجاز دحقيقت خلف نسي جوړيدای ځکه حقيقي معنی متصور الوجود نه ده .

دوه څلويشتم سبق

ثم جملة ما تترک به الحقيقة خمسة

دعبارت ترجمه : ټول هغه ځايونه چي حقيقت پريښنودل کيږي هغه پنځه ځايه دي :

قد تترک بدلالة محل الکلام :

اول: محل دکلام وايي حقيقي معني مه اخله مجازي معنی واخله حقيقي معنی مه اخله که حقيقي معنی واخلې بيا به راسي کذب محل نو به مجازي معني واخلې نبی عليه الصلوة والسلام فرمايي:

انَمَا الاعمال بالنيات: اعمال په نيت باندي موجوديږي دايې حقيقي معنی ده اعمال په نيت سره دا معنی که نيت وو اعمال راتلاې سي که نيت نه وو بيا اعمال نسي راتلاي او سره له

دې چي وجود د فعل به وي نيت به نه وي مثال يو سړي په باران كي روان دئ يو دم ځغار سو ګوره وجود د فعل راغلی ليكن نيت نسته :

كه حديث پر خپل ظاهر پريږدي نو العياذ بالله كذب نبی صلی الله عليه وسلم به راسي لهذا محل د كلام وايي حقيقي معنی پريږده مجازي معنی واخله موږ وايو مجاز ثرنګه وكړو وايي مجاز بالحذف وكړه، :

انما الاعمال بالنيات اي انما ثوابُ الاعمال بالنيات: ثواب داعمالو په نيت سره دئ بل مثال كما اذا حلف لا يأكل من هذا لنخلة : يو سړي قسم وكړ وايي والله كه زه د غه درختي څخه خوراك وكړم دلته محل نخله ده نخله دا صلاحيت نه لري چي ماكول دي بنفسه سي للتعذر دوجي د مشقته د سخت والی نو مجاز مراد دئ هغه مجاز ميوه ده، **وبدلالة العادة**

دوهم: عرف خاص عرف عام پر دې باندي دلالت كوي وايي حقيقي معنی پريږده مجاز معنی واخله، مثال يو سړي ووايي لا يأكل من هذا النخلة : عين درخته خوړل متروكه ده عادةً نو به مجازي معنی اخلو هغه مجازي معنی ميوه ده ، **وبدلالة معنی يرجع الی المتكلم كما فی يمين الفور**: دريم : دمتكلم كيفيت دمتكلم حال پر دې باندي دلالت كوي چي حقيقي معنی پريږده مجازي معنی واخله لكه دا په يمين فور كي:

مثال ښځه د پلار كره روانه ده ميړه ته درد ورغلی :

ميړه ورته ووېل ان خرجتِ فانتِ طالقٌ كه چيري لاړې نو طلاقه يې اوس راسه ان خرجت حقيقت دئ په مطلق خروج كي يعني كه هر وخت ووتې نو طلاقه يې حقيقت د كلام چي مطلق خروج دئ دا معنی مهجوره ده نو مجازي معنی به اخلی ځكه دمتكلم حال كيفيت پر دې باندي دلالت كوي چي زما مراد دخروج څخه مطلق خروج نه دي زما مراد دخروج څخه خروج فی الحال دئ نو كه ښځه فی الحال ووته نو طلاقه ده كه وروسته ووته بيا نه ده طلاقه :

الفور: فور معنی جوشيدل :

وبدلالة سياق النظم كما في قوله تعالى ﴿فمن شاءَ فَلْيُؤْمِنْ ۚ وَمَنْ شَاءَ فَلْيَكْفُرْ. اِنَّا اَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ نَارًا﴾ څلورم كله كله سياق دكلام وايي حقيقت پريږده مجاز واخله لكه الله پاك فرمايي كه دچا خوښه وي نو ايمان دې راوړي او كه دچا خوښه وي كفر دې و كړي دامر حقيقي معنى وجوب دئ مجازي معنى توبيخ انكارتهديد،تهديد معنى زجر دخبري خلاصه داده په دغه اية كي حقيقت تخيير دئ په مابين كي دايمان او كفر ليكن سياق دكلام چي انّا اعتدنا للظليمن نارًا دئ:

دا وايي دلته مراد تهديد انكار دئ الله وايي موږ دكافرانو دپاره اوږتيار كړي دئ.

تهديد معنى زجرنو دايات دا معنى كه دچا خوښه وي ايمان دئ راوړي او كه دچا خوښه وي كفر دئ وكړي بيا به يې سره ګورو.

وبدلالة النظم في نفسه :

پنځم: نفسي كلمه به وايي حقيقي معنى پريږده مجازي معنى واخله **كما اذا حلف لا يأكل لحمافاكل لحم السمک لم يحنث** : سړي قسم وكړي وايي والله كه غوښه وخورم اوس راسه لحم دقوت څخه دئ يعني هغه نه خورم چي قوت پكښي زيات وي زيات قوت په هغه غوښه كي وي چي هغه له وينو جوړه وي اوس كه سړي ماهي او ملخ وخوري نو نه حانث كيږي ځكه په ماهي او ملخ كي وينه نسته دليل يې دادئ چي لمرته يې كښيږدي سپين سي نه توريږي بل دا چي وينه ګرمه ده په اوبو كي برودت وي ماهي په اوبو كي ژوند كوي نو ګرم اويخ متضادان دي **وكذا اذا حلف لا يأكل فاكهة فاكل العنب لم يحنث عند ابى حنيفة لقصور المطلوب في الاول وزيادة في الثاني:**

سړي قسم وكړي وايي والله كه ميوه وخورم يعني هغه شي والله كه وخورم چي دخوراكه بعد خوند پراخيستل كيږي اوس كه سړي انګور وخوره نه حانث كيږي ځكه په انګورو كي خوند او غذا دواړه سته:

دا په خوا زمانه کي ځکه په خوا مسکنت وو ا نګور دډوډۍ پر ځای خوړل کیدل مګر نن سبا دډوډۍ پر ځای خلک نه خوري اوس که سړي انګور و خوري حانث کیږي .

عند ابی حنیفة سړي نه دئ حانث دامام صاحب په نزد باندي **لقصور فی المعنی المطلوب فی الاول :** له وجي دقصوره په معنی مطلوب دلحم کي چي هغه قوت دئ :

دا قصور دئ په غوښه کی دماهي وزيادة فی الثاني :

له وجي دزيادته په معنی مطلوب دفاکهي کي چي هغه تَفَکّه دئ دا زیادت دئ په انګورو کي چي هغه غذائیت قوام البدن دئ

ثم جملة ما تترک به الحقیقة خمسة الخ :

تشریح : پنځه داسي ځایونه دي چي حقیقت به پریږدي مجاز ته به ځي :

اجراء المجاز

مثال	مجاز	علاقه
وَاسْأَلِ الْقَرْيَةَ (یوسف ۸۲)	(القرية)	(محل او حال)

تشریح: دلته مجاز سوي ذکر محل چي القرية ده اراده دحال چي اهل دئ ای واسأل اهل القریم

يَجْعَلُونَ اصابعهم فی اذانهم (البقره ۱۹)	(اصابعهم)	(کل او جزء)

تشریح: دلته مجاز سوي ذکر کل چي اصابع دي اراده دجزء چي انامل دي :

قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا (الاعراف ۲۶)	(لباسا)	(مسبب او سبب)

تشريح: دلته مجاز سوي ذكر مسبب چي لباس دئ اراده دسبب چي الماء دئ مسبب دسبب پر ځای واقع دئ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ (الشورى ۱۱) (كمثله) (زيادت)

تشريح: دلته مجاز سوي دئ علاقه زيادت په كمثله كي كاف زائد دئ:

والسَّارِقُ والسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا اَيْدِيَهُمَا (المائده ۳۸) (ايديهما)(كل او جزء)

تشريح: دلته مجاز سوي ذكر كل چي ټول لاس دئ مراد ورڅخه بعض هغه بعض هو الرسغ (مړوند) دئ.

بِمِثْلِ مَا اَنْتُمْ بِهِ (البقره ۱۳۷) (بمثل) (زيادت)

تشريح: دلته مجاز سوي دئ علاقه زيادت په بِمِثْلِهِ كي مثل زائد دئ.

كَمَا اَخْرَجَ اَبَوَيْكُمْ (الاعراف ۷۲) (اخرج) مسبب او سبب:

تشريح: دلته مجاز سوي ذكر مسبب اراده دسبب دلته مسبب (اخرج) واقع دئ پر ځای دسبب (فتن)

وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِيْنَ (البقره ۴۳) (واركعوا) جزء او كل:

تشريح دلته مجاز سوي ذكر جزء چي ركوع ده مراد كل چي صلوة دئ.

تُعْجِبُكَ اَجْسَامَهُمْ (المنافقون ۴) (اجسامهم) (كل او جزء)

تشريح: دلته مجاز سوي ذكر كل چي اجسام دي مراد جزء چي وُجُوْهَهُمْ دئ.

وَيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ (الرحمن ۲۷) (وجه ربک) (جزء او كل):

تشريح: دلته مجاز سوی ذکر جزء چي وجه ده مراد کل چي ذات دئ ای ذات ربک :

تَبَّتْ يَدَا اَبِیْ لَهَب (يدا) (جزء او کل)

تشريح دلته مجاز سوي ذكر جزء چي يدا دئ مراد کل چي شخص ابی لهب دئ :

اِنِّیْ اَرانِي اَعْصِرُ خَمْرًا (يوسف ٣٦) (خمرا) (مسبب او سبب)

تشريح: دلته مجازسوي ذكر مسبب چي خمر دئ مراد سبب چي عنب (انګور) دي :

وَامْرَأَتُهُ قَائِمَةٌ فَضَحِكَتْ (هود ٧١) (فضحکت) (مسبب اوسبب)

تشريح: دلته مجاز سوي ذكر مسبب چي ضحک دئ مراد سبب چي تعجب دئ فضحکت اي تعجبت .

بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُبِيْنٌ (الشعراء ١٩٥) (بلسان)

تشريح: دلته مجاز سوي ذكر لسان مراد فعل نطق دلته دالی اطلاق سوي پر فعل باندي .

فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ (النساء ٩٢) (رقبه)

تشريح دلته مجاز سوي ذكر جز چي رقبه ده مراد کل چي شخص رقيق دئ :

فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ (البقره ١٨٥) (الشهر)

تشريح: الشهر نوم دئ دډیر شو شپو دلته مجار سوي ذکر کل چي ټوله میاشت ده مراد جزء چي اول الشهر دئ :

فَوَلُّوا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهُ (البقره ١٤٤) (وجوهكم)

تشريح: دلته مجاز سوي ذكر جزء چي وجوهكم دئ مراد كل چي ذواتكم دئ .

قُمِ اللَّيْلَ)(المزل ٢) (قم)

تشريح: دلته مجاز سوي ذكر جزء چي قيام دئ مراد كل چي صلوة دئ .

فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ (العلق ١٧) (ناديه) محل او حال .

تشريح: دلته مجاز سوي ذكر محل چي ناديه (مجلس) ده مراد حال چي اهل دئ

نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ (العلق ١٦)

تشريح : دلته مجاز سوي علاقه وصف البعض بصفة الكل

خطا صفت دكل دئ مگر دلته په خطا باندي ناصيه موصوفه سوه ناصيه بعض دئ

وَلَمُلِئتَ مِنهُمْ رُعْبًا (الكهف ١٨)

تشريح:دلته مجاز سوي دئ علاقه وصف الكل بصفةالبعض رعب دزړه صفت دئ زړه بعض دئ مگر دلته په رعب باندي كل موصفه سوي هغه كل ولملئت دئ يعني ضمير.

كُلُّ شَيْئٍ هَالَكٌ اِلَّا وَجْهَهُ (القصص ٨٨) (وجهه) جزء او كل .

تشريح: دلته مجاز سوي ذكر جزء (وجه) مراد كل (ذات)

هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ (المنافقون) ٤) (العدو) خاص او عام .

تشريح: دلته مجاز سوي ذكر خاص (العدو)

مراد عام (الا عداء)

وَخُضْتُمْ كَالَّذِىْ خَاضُوْا (التوبه ٦٩) (كالذي) خاص او عام.

تشريح: دلته مجازسوي ذكر خاص (كالذي) مراد عام (كالذين)

وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِثْلُهَا (الشورى ٤٠) (سيئة) خاص او عام:

تشريح: دلته مجازسوي ذكر خاص (سيئة) مراد عام (كل سيئة)

دلته بل مجاز هم سته جزاء ته يې سيئه ويلي علاقه دمجاز اطلاق السبب على المسبب جزاء مسبب سيئه سبب دلته يې دسبب اطلاق كړي پر مسبب باندي اِنَّا رَسُوْلُ رَبِّ العٰلَمِيْنَ (شعراء ١٦) (رسول) خاص او عام:

تشريح: دلته مجازسوي ذكر خاص (رسول) مراد عام رسل .

ويَسْتَغْفِرُوْنَ لِمَنْ فِيْ الْاَرْضِ (الشورى ٥) (لمن) عام او خاص .

تشريح: دلته مجازسوي ذكر عام (لمن) مراد خاص (للمؤمنين) .

كُلٌّ لَهُ قَانِتُوْنَ (البقره ١١٦) (كل) خاص او عام .

تشريح: دلته مجاز سوى ذكر عام (كل) مراد خاصل (اهل طاعته)

كَانَ النَّاسُ اُمَّةً وَاحِدَةً) البقره ٢١٣) (الناس) عام او خاص

تشريح: دلته مجازسوي ذكر عام (الناس) اومراد خاص قيل المراد هنا) (نوح ومن معه فى السفينة) وقيل) (ادم وحواء) .

عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّآ اَحْضَرَتْ (التكوير ١٥) (نفس) خاص او عام.

تشريح: دلته مجاز سوي ذكر خاص (نفس) مراد عام (كل نفس)

اَلَّذِيْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ (ال عمران ١٧٣) (الناس) عام او خاص.

تشريح: دلته مجاز سوي ذكر عام (الناس) مراد خاص (نُعَيم بن مسعود الاشجعي)

اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمَاتٌ (البقره ١٩٧) (اشهر) عام او خاص.

تشريح: دلته مجاز سوي ذكر عام (اشهر) مراد خاص (شهران وبعض الثالث).

مَاكَانُوْا يَسْتَطِيْعُوْنَ السَّمْعَ (هود ٢٠) (السمع سبب اومسبب).

تشريح: دلته مجاز سوي ذكر سبب (السمع) مراد مسبب (القبول والعمل به)

وَمِنَ الَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهٗ (الدهر ٢٦) (فاسجد) جزء او كل.

تشريح: دلته مجاز سوي ذكر جزء) (السجود) مراد كل (الصلوة)

وَيُنَزِّلُ لَكُمْ مِّنَ السَّمَاءِ رِزْقًا (المومن ١٣) مسبب اوسبب.

فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا وَّلْيَبْكُوْا كَثِيْرًا (التوبة ٨٢) مسبب او سبب

تشريح: دلته مجاز سوي ذكر مسبب (ضحك بكاء) مراد سبب (قلة السرور وكثرة الحزن)

هَلْ يَسْتَطِيْعُ رَبُّكَ اَنْ يُّنَزِّلَ عَلَيْنَا مَائِدَةً (المائدة ١١٢) (هل يستطيع) لازم او ملزوم:

تشريح: دلته مجاز سوي ذكر لازم (استطاعة)

مراد ملزوم (الفعل) هل يستطيع اي هل يفعل دلته لازم واقع دئ پر ځاي دملزوم :

اَوْ كَالَّذِيْ مَرَّ (البقره ٢٥٩) (كالذي) (زيادت)

تشريح: دلته مجاز سوي كاف په اوكالذي كي زائد دئ علاقه دمجاز زيادت دئ.

يَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِهِمْ (ال عمران ١٦٧) (افواههم) محل او حال :

تشريح: دلته مجاز سوي دژبي ځخه تعبير سوي په خوله باندي ژبه په خوله كي حال ده:

اَلَّذِيْنَ قَالُوْا اٰمَنَّا بِاَفْوَاهِهِمْ (المائدة ٤١) (افواههم) محل او حال

تشريح: دلته مجاز سوي دژبي ځخه تعبير سوي په خوله باندي ژبه په خوله كي حال ده.

اَمْطَرَتِ السَّمَاءُ نَبَاتًا (نباتا) (مسبب او سبب)

تشريح دلته مجاز سوي ذكر مسبب (نباتا) اراده دسبب (مطر) مسبب واقع دئ دسبب پر ځاى :

اَرْسَلْتُ الْعُيُوْنَ لِتَطَّلِعَ عَلٰى اَحْوَالُ الْعَدُوِّ (العيون) جزء او كل

تشريح: دلته مجاز سوي ذكر جزء (العيون) اراده كل (الجواسيس)

اِنِّيْ أَرَانِيْ اَعْصِرُ خَمْرًا (يوسف ٣٦) (خمرا) مسبب اوسبب .

تشريح: دلته مجازسوي ذكر مسبب (خمرا) اراده دسبب (عنب) دشرابو دپاره سبب انګور دي:

دلته دمجاز بله علاقه هم جوړيږي، شراب دانګور ځخه جوړيږي فی الحال انګور و ته شراب ويل دا مجاز دئ علاقه تسمية الشئ باعتبار مايؤول اليه.

فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ (الشهر) (سبب او مسبب).

تشريح: دلته مجاز سوي دئ ذکر سبب (الشهر) مراد مسبب) (الهلال) ولی دشهر مشاهده نه کيږي دهلال مشاهده کيږي هلال سبب دئ په وجود دشهرکي دشهر اطلاق پر هلال باندي مجاز مرسل دئ علاقه سببيت دئ:

اِنَّ الَّذِيْنَ يَأْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى ظُلْمًا اِنَّمَا يَأْكُلُوْنَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ نَارًا(نارا) مسبب او سبب

تشريح: دلته مجاز سوی دئ ذکر مسبب (نارا) مراد سبب (مال) ولي دنار دپاره سبب مال خوړل ديتيم دي دلته لفظ دمسبب (النار) ذکر دئ مراد په ده سره سبب (المال) دئ.

فَرَجَعْنَاكَ اِلٰى اُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا (عينها) جز او کل)

تشريح: دلته مجازسوی دئ ذکر جزء (عين) مراد کل (نفس جسم) لهذا دلته مجاز مرسل دئ علاقه دجزئيت ده .

يَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِهِمْ مَالَيْسَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ (افواه) کل او جزء

تشريح: دلته مجاز سوی دئ ذکر کل (افواه) مراد جزء (لسان) ځکه انسان تکلم په خوله باندي نه کوي انسان تکلم په ژبه باندي کوي اطلاق دافواه پرژبه باندي مجاز مرسل دئ علاقه د کليت ده اقام ابو الطيب المتنبي فی مصر فترة من حياته (مصر) کل او جزء :

تشريح: دلته مجاز سوي دئ ذکر کل (مصر) مراد جزء بعض:

فالمراد ان المتنبي اقام فی بعض بلاد مصر ولم يقم فی القطر جميعه فاطلاق مصر وارادة بعض بلادها مجاز مرسل علاقته الكلية :

اٰتُوا الیَتٰمٰی اَمۡوَالَهُمۡ :(النساء ٢) اي الذين كانوا يتامي (اليتامى) اعتبار ماكان)

تشريح: يتيم هغه كوچنی ته وايي چي پلار دده مړسي او دې بلوغ ته نه وي رسيدلې په دغه اية كريمة كي چي امر وارد دئ مراد په دې سره دانه دئ چي تاسو كوچني يتيمانو ته دخپلو پلارانو مالونه وركړي الله تعالى دا امر كوي چي تاسو مالونه وركړي وهغه چا ته چي دوی رسيدلي وي وسن (كلونه) ته درشد اوبلوغ ورسته تر دې چي دوي يتيمان وه دلته مجاز سوي دئ ذكر يتيمان مراد راشدون بالغون دئ ودوي ته يتميان وويل سوه په اعتبار دماكان ومن الناس من يأكل القمع ومنهم من ياكل الذرة والشعير)(القمع الذرة الشعير) اعتبار ما كان .

تشريح: دلته مجاز سوي دئ ولي مراد دقمع او ذره او شعير څخه خبز(ډوډی) دهغه خبز چي په اصل كي قمع او ذره او شعير ده اوس خبز ته قمع زره او شعير ويل خو دا مجازمرسل دئ علاقه اعتبار ماكان:

اِنَّهٗ مَنۡ یَّاۡتِ رَبَّهٗ مُجۡرِمًا (طه ٧۴) (مجرما) اعتبار ماكان

كوم څوک چي خپل رب ته راسي په داسي حال كي چي دی مجرم وي .

تشريح: په اخيرت كي گناه نسته جرم نسته سړي په دنيا كي گناه گاره وو الله پاک وده ته مجرم وويل په اعتبار دماكان يعني ده پخوا په دنيا كي جرم كړي وو اوس الله جل جلاله وده ته مجرم وويل په اعتبار دماكان.

وَلَا یَلِدُوۡۤا اِلَّا فَاجِرًا کَفَّارًا (نوح ٢٧) (فاجرا كفارا) اعتبار ما كان

ترجمه: دوی به نه زيږوي مگر فاجر كافر ددوي څخه چي زيږي هغه فاجر كافر وي.

تشريح: نوح عليه السلام الله پاک ته وايي داقوم تباه کړه ولي دوي نه زيږوي مګر دوي زيږوي فاجر کافر په کوچنيوالي کوچني نه فاجر وي نه کافر وي فاجر او کافر هغه وخت ورته ويل کيږي چي کفر وکړي اوفجور وکړي فجور او کفر دبلوغ وروسته وي مګر ودغه کوچنيانو ته فاجر او کافر وويل سول په اعتبار د مايکون په اعتبار دمايؤول اليه يعني په اينده کي دوي فاجران او کافران کيږي .

مَلَكْتُكَ نَفسي (ملکت) سبب او مسبب

تشريح: مينځي وسړي ته وويل ما ته دخپل ځان مالک کړې مينځه وايي ما ذکر کړې ملک مراد مي نکاح ده ذکر دملک مراد نکاح دا مجاز دئ علاقه دسبب او مسبب ده ملک سبب نکاح مسبب ملکيت ملک رقبه فائده کوي ملک رقبه ملک متعه فائده کوي:

فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْم((انذار) باسم ضده

تشريح دلته مجاز سوی ځکه په عذاب سره بشارت نه وي بشارت په خير کي وي انذار ته دتبشير نوم ورکول دا مجاز دئ علاقه تسمية الشئ باسم ضده .

لَاعَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ اَمْرِ اللهِ (هود ۴۳) (لا معصوم) اقامة الصيغة مقام اخرى

تشريح: دلته مجازسوی اسم فاعل د اسم مفعول پر ځای واقع دئ .

مِنْ مَّاءٍ دَافِقٍ (الطارق ۶) (مدفوق) اقامة الصغية مقام اخرى

اِنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا اٰمِنًا (العنکبوت ۶۷) (مأمونا) // //

اِنَّهُ كَانَ وَعْدُهُ مَأْتِيًّا (مريم ۶۱) (اتيا) اقامة الصيغة مقام اخرى

تشريح: دلته مجاز سوي اسم مفعول داسم فاعل پر ځای واقع دئ.

حِجَابًا مَسْتُوْرًا (الاسراء ۴۵) (ساترا) // //

لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ (الواقعه ۲) (تكذيب) اقامة الصيغة مقام اخرى

تشريح: دلته اسم فاعل دمصدر پر ځای واقع دئ .

بِأَيِّكُمُ الْمَفْتُوْن (القلم ۶) (الفتنة) اقامة الصيغة مقام اخرى

تشريح: دلته اسم مفعول دمصدر پر ځای واقع دئ .

وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِشَيْئٍ مِنْ عِلْمِهِ (البقره (۲۵۵) (معلومه) (اقامة الصيغة مقام اخرى)

تشريح: دلته مصدر په معنى دمفعول دئ .

صُنْعَ الله (النمل ۸۸) (مصنوعه)

دروخلويښتم سبق

واما الصريح

دعبارت ترجمه: هر څه چي صريح دئ **فمثل قوله بعت واشتريت ووهبت** :

نو مثال دصريح بعتُ دئ اشتريت ووهبت :

نو مثال دصريح بعتُ دئ اشتريتُ دئ، وهبتُ دئ، وروسته دصريح تعريف اشاره سوي هغه دا لانه ظاهر المراد **وحكمه تعلق الحكم بعين الكلام** :

حكم دصريح تعلق دحكم دئ دعين كلام سره يعني دعين كلام سره تعلق نيسي:

وقيامه مقام معناه: کلام دریږي پر ځای دمعنی دکلام، **حتی استغني عن العزیمة**: صریح مستغني دئ دنیت څخه . **لانه ظاهر المراد**: ځکه صریح ظاهر المراد دئ:

وحکم الکنایة الخ:

تعریف دکنایي یې پریښودی دا اشاره ده ودیته چي معاني دده دافرادو مستتري دي لکه دده معنی چي مستتره ده:

انه لا یجب العمل به الا بنیة وعمل کول په کنایه باندي واجب نه دي مګر که نیت او ما یقوم مقامه وو بیا به عمل ورباندي کوي ما یقوم مقامه مذاکرات دي سړي خوش او خوشحاله دئ سړي ښځي ته وایي انت بائن اوس ښځه نه ده طلاقه ځکه دسړي مطلب دادئ چي ته خو یو ښځه یې که دسړي او ښځي تر مینځ مذاکرات شروع دي سړي ښځي ته بد اورد وایي ښځه سړي ته بد او رد وایي:

سړي ته درد ورغلی ورته وي ویل انت بائن اوس ښځه طلاقه ده ځکه حال دده پر دې باندي دلالت کوي چي ته طلاقه یې لانه مستتر المراد: ځکه مراد دده پټ دئ **وذالک مثل المجاز قبل ان یصیر متعارفا**: دغه کنایه نظیر دکنایي مجاز دئ مخته تر دي چي مجاز متعارف وګرځي.

واما الصریح الخ:

تشریح: صریح دصرح څخه دئ صرح مانۍ بنګله ته وایي صرح مانۍ بنګله ته ځکه وایي چي مانۍ بنګله دلیري معلومیږي صریح ته صریح ځکه وایي چي دا هم دلیري ښکاره واضح وي که ته سوال وکړي چي دصریح تعریف یې ولي نه ذکر کړي موږ وایو دصریح تعریف یې نه کړي ذکر دا تنبیه ده پر دې باندی چي مفهوم دده داسي صریح دئ لکه مصداق دده:

څلور څلويښتم سبق

وسمي البائن والحرام ونحوهما كنايات الطلاق مجازا:

دعبارت ترجمه: مسمى کړل سو بائن حرام یا دبائن حرام په مثل باندي دامسمى کړل سوه په کنایه طلاق باندي مجازا، **لانها معلومة المعاني:**

ځکه دغه الفاظ معلومة المعاني دي:

لكن الابهام فيما تتصل به وتعمل فيه: خو ابهام وي په ما تتصل به وتعمل فيه کي **فلذالك شابهت الكنايات:** دغه ابهام دوجي دغه الفاظ مشابه سوه دکنایه حقیقیه سره، فسميت بذالک مجاز: مسمى کړل سوه دغه الفاظ په اسم دکنایه باندي مجازا، **ولهذا الابهام احتيج الى النية:** دا غه خو وجه ده چي دابهام دوجي احتیاج پیدا سو ونیت ته:
فاذازال الابهام بالنية: هر کله چي ابهام زائل سی په نیت باندي، **وجب العمل بموجباتها:** نو عمل واجب دئ په مقتضیاتو ددغه الفاظو په خپله، **من غير ان تجعل عبارة عن الصريح:** غیر له دې چي دغه الفاظ وګرځول سي عبارت دصریح څخه **ولذالک جعلناها بوائن:** له دې وجي چي دغه الفاظ کنایات دي مجازا موږ اعتدي وګرځول دغه الفاظ بوائن په دغه الفاظو باندي طلاق بائن واقع کیږي:

وسمي البائن والحرام الخ:

تشريح: یو طلاق بائن دئ بل طلاق رجعي دئ طلاق بائن نوې نکاح غواړي طلاق رجعي نوي نکاح نه غواړي نفس رجوع غواړي، په کنایه باندي طلاق بائن راځي، په صریح باندي رجعي راځي، سائل سوال کوي: سائل وایي زه به درو بنیم الفاظ به صریح وي مګر احنافو تاسو یې کنایي جوړوي طلاق بائن په واقع کوي پکار خو داده چي طلاق رجعي په واقع سي مثال څلور توري دي انتِ بائنت، انتِ حرام، انتِ بتّةٌ انتِ بتلةٌ:

انت بائن ته جدا يې جلايي انت حرام ته حرامه يې، انتِ بتة انتِ بتلةٌ ته پرې يې دغه الفاظ صريح دي معنی يې معلومه واضح ده مګر احنافو تاسو دا کنايه جوړوي بيا طلاق بائن په واقع کوي داولي :

جواب: دالفظ دئ دايي معنی ده دغه يې ما يتصل به دئ دغه الفاظ پخپلو معنا ګانو کی صريح دي مګر موږ دغه الفاظ کنايه جوړوو په اعتبار دما يتصل به باندي بيا نو طلاق بائن په واقع کوو :

انتِ بائن ته جدايي په دغه معنی کي لفظ صريح دئ دچا جدايي دلته کنايه ده، يوه ترجمه : انتِ بائن ته خو يو جلا ښځه يې ، دوهمه ترجمه انتِ بائن ته را جدا سوي يې دمور او پلار څخه زما سره ناسته يې.

دريمه ترجمه: انت بائن ته جدا يې زما څخه طلاق مي درکړي، انتِ بائن په جدا والی کي صريح دئ دچا جدايي په دې کي کنايه ده انتِ حرام ته حرامه يې په دغه معنی کي صريح دئ را باندي حرامه يې که مي لاس درواچولي وهل دي را باندي حرام دي، حرامه يې که بيا ماته راغلی يعني بالا زما ښځه نه يې نو طلاقه يې انتِ حرام په نفس حرمت کي صريح دئ څرنګه حرامه يې په دې کي کنايه ده انتِ بتة وبتلة ته پرې يې، ته دمور او پلار څخه را پرې يې زما په کور کي ناسته يې، ته دخاندان څخه پرې يې ته له ما پرې يې يعني بالا ته زما ښځه نه يې طلاق مي درکړي.

انت بتة وبتلة ته پرې يي، ته دمور او پلار څخه را پرري يې زما په کور کي ناسته يې، ته دخاندان څخه پرې يې ته له ما پرې يې يعنی بالا ته زما ښځه نه يې طلاق مي درکړي :

انت بتة وبتلة په نفس پريکولو کي صريح، دچا څخه پرې يې په دې کي کنايه ده.

لهذا دغه الفاظ پخپلو معناګانو کي صريح دي مګر په ما يتصل به کي کنايه دي، په انت بائن باندي موږ طلاق بائن واقع کوو :

سوال: سائل وايي انت بائن دچا څخه کنايه ده موږ وايو انتِ بائن کنايه ده دانت طالق څخه سائل وايي انت طالق خو صريح دئ په دې باندی طلاق رجعي واقع کيږي نه بائن **جواب:** موږ وايو انت بائن پخپله کار باسي دا موږ دانت طالق څخه کنايه نه جوړوو يعني موږ البائن ونحوه نه گرځو عبارت دطلاق څخه :

پنځه څلويښتم سبق

الا في قول الرجل اعتدي

دعبارت ترجمه : دا عبارت استثناء ده ددغه عبات څخه جعلنا ها بوائن :

الا في قول الرجل اعتدي: مگر په دې قول دسړي کي چي خپلي ښځي ته ووايي اعتدي **لان حقيقته للحساب** : ځکه حقيقت د اعتدي دشمار دپاره دئ ، ولا اثر لذالک في النكاح : دشمار هيڅ اثر نسته په ختمولو د نکاح کي **والاعتداد يحتمل ان يراد به ما يُعدُ من غير الاقراء** : اعتداد احتمال لري چي مراد په ده باندي هغه څه دي چي شمار ل کيږي لکه نعمتونه دراهم . د ينار غير داقراء ، **فاذا نوى الاقراء وزال الابهام بالنية** هر کله چي دحيضو نيت وسي او ابهام ختم سي په نيت باندي **وجب به الطلاق بعد الدخول اقتضاءً** نو په دغه قول باندي چي اعتدي دئ په دې باندي طلاق رجعي ثابتيږی وروسته تر دخوله يعني په ښځه باندي به دخول سوي وي دا طلاق رجعي ثابتيږي په طريقي داقتضاء النص سره:

که ښځه غير مدخول بها وه اوس سړي ورته وويل اعتدي دلته په اقتضاء النص سره عبارت نه رايستل کيږي دلته اعتدي مجاز دي دطلاق څخه علاقه دمجاز مسبب او سبب اعتدي ته حيضونه شمار کړه دلته ذکر مسبب اراده دسبب ذکر مسبب چي اعتدي دئ اراده دسبب چي طلاق دئ :

مخته موږ قاعده ويلي وه په علت او معلول کي استعاره له طرفينو جائز وه په سببَ او مسبب کی استعاره د يوه طرفه جائز دوه، :

دسبب ځخه مسبب اخيستي سي دمسبب ځخه سبب نسي اخيستي اوس سوال دادئ داعتدي ځخه طلاق نسي اخيستي :

جواب : كه په دنيا كي دمسبب يو سبب وو بيا دمسبب ځخه سبب اخيستي سي دلته هم دعدت دتيرولو په دنيا كي يو سبب دئ هغه سبب طلاق دئ نو ځكه ذكر مسبب ارده دسبب :

سائل سوال كوي سائل وايي ته درواغ وايي چي د عدت يوازي طلاق سبب دئ دعدت بل سبب هم سته عده تيرول دطلاقه بعد هم سته دميړه دمرګ بعد هم سته لهذا داعتدى دوه سببه د ي يو سبب موت الزوج دئ بل سبب بعد الطلاق دئ اوس نو دمسبب ځخه سبب چي طلاق د ئ ځنګه اخلي؟

جواب : موږ وايو په حقيقت كي واضع چي شارع دئ دعدت دپاره يې طلاق وضعه كړي دئ دعدت اصلا سبب طلاق مرګ په جلاوالى كي دميړه او دښځي تر مينځ داسى دئ لكه طلاق دخبري خلاصه داده داعتداد په حقيقت كي سبب يوازي طلاق دئ :

وقبل الدخول جعل مستعارا محضا عن الطلاق :

مخته تر دخول وكرځول به سي دغه لفظ چي اعتدي دئ دا به وګرځول سي مجاز دطلاق ځخه **لانه سببه**: ځكه طلاق سبب دئ داعتداد **فاستعير الحكم لسببه** دمسبب ځخه چي اعتداد دئ سبب واخيستل سو چي طلاق دئ :

الا في قول الرجل عندي الخ :

تشريح: انتِ بائن ، انتِ حرام، انتِ بتة وبتلة موږ دغه الفاظ مجازا كنايات جوړ كړه، په اعتبار :

دمايتصل به باندي موږ په دې الفاظو باندي طلاق بائن واقع كوو. :

اوس سائل یو سوال کوي سائل وايي درې توري دي کنايات دي خو تاسو په دې تورو باندی طلاق رجعي واقع کوي طلاق بائن نه په واقع کوي داولي څه وجه ده هغه درې توري دادي ۱ اعتدّی ۲-استبرئي رحمک ۳-انت واحدة دا دري توري کنايي توري دي به کنايي تورو باندي طلاق بائن واقع کيږي مگر په دغه درو تورو باندي طلاق رجعي واقع کيږي داولي څخه وجه ده مصنف ددغه سوال جواب ورکوي:

سائل دارکم سوال کوي وايي په اعتدي باندي طلاق رجعي واقع کيږي په اعتدي باندي طلاق بائن ولی نه واقع کيږي :

موږ وايو په اعتدي باندي طلاق رجعی واقع کيږي په اعتدي باندي طلاق بائن نه واقع کيږي ځکه په اعتدي کي دننه احتمالات سته هغه دا اعتدي ته شمار کړه هغه وايي څه شي شمار کړم وايي پیسي شمار کړه ، دا يې يو احتمال ، دوهم احتمال ا عتدي ته بادام شمار کړه، دريم احتمال اعدي ته ګلاسونه شمار کړه ، څلورم احتمال اعتدي ته ډوډی شمار کړه پنځم احتمال اعتدي ستاعده حيضونه شمار کړه، دا عتدي کلمه وضعه سوي ده دشمار دپاره په طلاق کي هيڅ دخل نه لري موږ داعتدي يوه دا ترجمه وکړه چي ستا عده حيضونه شمار کړه هغه ښځي مخ پر راواړوي ورته وايي ولی سړي ورته وايي لاني طلقتُکِ ما تاته طلاق درکړي که داني طلقتکِ عبارت کښي نه ږدی په اعتدي باندي دعدې دحيضو شمار نه راځي ځکه اعتدي دډيرو شيانو دشمار دپاره راځي :

هر وخت که داعتدي څخه دحيضو شمار اخيستل کيدی نو خامخا به ددې مختهيو عبارت را باسي هغه عبارت دادئ لاني طلقتک اعتدي ته حيضونه شمار کړه وايي ولی حيضونه شمار کړم وايي ځکه لاني طلقتُکِ ځکه ما تاته طلاق درکړی ځکه دحيضو شمار غير دطلاقه نه ارځي نو يو وار به طلاق واقع سي بيا به دحيضو شمار صحيح سي نو خامخا به موږ يو عبارت را باسو هغه عبارت دادئ لاني طلقتک ديوه عبارت دصحت دپاره بل عبارت را يستل ديته اقتضاء النص وايي موږ به لاني طلقتک داعتدي سره کښيږدو بيا به په اعتدي باندي دحيضو شمار صحيح سي :

لاني طلقتکِ دا عبارت به طلاق راولي لاني طلقتک دا عبارت صریح دي په صریح باندي طلاق رجعي واقع کیږي نو ځکه سائله په اعتدي باندي طلاق بائن نه واقع کیږي :

دخبري خلاصه داده په اعتدي کي احتمالات سته دا احتمال سته دوه دی شمار کړه دا احتمال سته بادام شمار کړه، دا احتمال سته میلمانه شمار کړه اوس که تا داعتدي څخه دا معنی واخیسته چي ته حیضونه شمار کړه نو خاما به دا عبارت را باسي لاني طلقتکِ ددې دپاره چي په اعتدي باندي دحیضو شمار صحیح سي ځکه چي طلاق نه وي دحیضو شمار نه صحیح کیږی طلاق په اعتدي باندي نه دي واقع طلاق واقع دئ په لاني طلقتُکِ باندي لاني طلقتک صریح دئ په صریح باندي رجعي واقع کیږي نه طلاق بائن،

شپږ څلویشتم سبق

وکذالک قوله استبرئي رحمک :

دعبارت ترجمه: داعتدي په مثل باندي دا قول دئ استبرئي رحمک، **وقد جائت به السنة ان النبي صلى الله عليه وسلم قال لسودة رضى الله عنها اعتدي ثم راجعها** :

په حدیث کي راغلی نبی علیه السلام وویل وسوده رضی الله عنها ته اعتدي ته شمار کړه عده بیا یې بیرته رجوع ورته وکړه :

وکذالک انت واحدة : داعتدي په مثل باندي انت واحدة دئ ، **یحتمل نعتا للطلقة** : دا احتمال لري چي واحدة دئ صفت سي دتطلیقة او دا احتمال لري چي صفت دئ سي دښځي، **فاذا زال الابهام بالنية** هر کله چي ابهام ختم سو په نیت باندي :

کان دلالة علی الصریح: نو انت واحدة دلالت سوپر صریح باندي : لا عاملا بموجبه : عمل نه وسو دده په مقتضاء باندی **ثم الاصل الخ** :

تشریح: یو صریح دئ بله کنایه ده په صریح کي شبهه نسته په کنایه کي یو څه شبهه سته موږ یوه قاعده ویلي الحدود تندرء بالشبهات: حدود په شبهاتو باندي نړیږي حدود په

شهباتو باندي نه ثابتيږي اوس كه كنايه استعمال سوه نو حد نه په ثابتيږي ځكه په كنايه كي شبهه وي په شبهه باندي حد نه ثابتيږي يو سړي قاضي ته راغلی ورته وايي: قاضي صاحب هغه فلانكي ښځه پيژني قاضي ورته وايي وو پيزنم يې سړي ورته وويل جامعتها:

اوس به قاضي فورا حد نه جاري كوي ځكه دا كنايه ده شبهه پكښې ده په شبهه باندي حد نه ثابتيږي جامعتها دا امكان لري زه پريوه ځای ورسره روان وم دا امكان هم لري ما وطي ورسره وكړي لهذا په كنايه كي شبهه سته ،سړي قاضی ته صريح توري وويل ورته وايي نكتها ما دفلانكئ ښځي سره وطي وكړي اوس به قاضي حدورباندي جاري كړي :

دعبارت ترجمه: **ثم الاصل في الكلام هو الصريح** اصل په كلا م كي هغه صريح دئ :

فاما الكناية ففيها ضرب قصور : هر څه چي كنايه ده به دې كنايه كي يو نوعه قصور دئ، **من حيث انه يقصر عن البيان بدون النية:** له دې وجي كنايه كوتاه ده دبيان څخه به غير دنيته ، :

وظهر هذالتفاوت فيما يدر أبالشبهات:

دغه فرق ښكاره كيږي په هغه احكامو كي چي نړيږي په شبهاتو باندي، :

حتى ان المقر على نفسه ببعض الاسباب الموجبة للعقوبة مالم يذكر اللفظ الصريح:

فائده: يې داده اقرار كونكي پر خپل ځان په بعضو اسبابو باندي داسي اسباب چي ثابتونكي دي دحدودو تر څو پروي چي لفظ صريح نه وي ذكر سوي **لا يستوجب العقوبة** :

حد نه ثابتوي.

وكذالک استبرئي رحمک الخ :

تشريح: سوال: استبرئي رحمک كنايي لفظ دئ تاسو په دغه كنايي لفظ باندي طلاق رجعي واقع كوي تاسو په دغه كنايي لفظ باندی طلاق بائن نه واقع كوي ولی؟

جواب: په استبرئي رحمک کي احتمالات سته يو احتمال دادئ استبرئي رحمک ته ستا رحم پاک کړه دبل بچي دراوړلو دپاره، دوهم احتمال دادئ استبرئی رحمکِ ته ستا رحم پاک کړه دبل ميړه دپاره په استبرئی رحمک باندي طلاق نه راځي :

ددې مخته به يو عبارت را باسي په هغه عبارت باندی به طلاق واقع سي تا ښځي ته وويل استبرئي رحمک ته رحم پاک کړه نيت دده دطلاق وو يعني ته رحم پاک کړه دبل ميړه دپاره ښځي مخ را واړوي وايي ولي دی وايي ځکه لاني طلقتک ما تاته طلاق درکړ ي

لاني طلقتلک دا عبارت صريح دئ په صريح باندي طلاق رجعي واقع کيږي طلاق بائن نه په واقع کيږي انت واحدةٌ دا عبارت کنايي دئ په انت واحدة کي احتمالات سته يو احتمال دادئ ته يو ه پيدا سوي يې دمور څخه بله خور نه لري :

دوهم احتمال ته يوه دانه يې په کلی کي ستا رکم بله ښځه نسته :

دريم احتمال ته طلاقه يې په يوه طلاق باندي دانت واحدة څخه چي ته طلاق اخلی نو به تطليقة ورسره راباسي تطليقة صريح دئ په صريح باندي طلاق رجعي واقع کيږي په صريح باندي طلاق بائن نه واقع کيږي په اخير کي مصنف يو دليل پيشوي ددې دپاره چي په کنايي باندي به طلاق رجعي واقع وي طلاق بائن به نه وي واقع نبی عليه السلام حضرت سوده رضی الله عنها ته وويل اعتدي بيا نبي رجوع ورته وکړه نو ګوره په اعتدي باندي طلاق رجعي واقع کيږي طلاق بائن نه په واقع کيږي که طلاق بائن په واقع کېدای نو بيا به نبی عليه السلام رجوع نه وای ورته کړي نوی نکاح به يې وای کړي نبی عليه السلام نوي نکاح ونه کړه نو معلومه سوه چي په دې باندي طلاق رجعي واقع کيږي: په بدر کي دحضرت سوده رضی الله عنها يو څه عزيزان قتل سوي وه دا ډيره پريشانه وه يو څه تپې يې ورباندي جوړي کړي وي نبی عليه السلام ورباندي راغلی ورته وي ويل اعتدي حضرت سوده رضی الله عنها ورته وژړل دالله حبيب ماته طلاق مه راکوه زه خپل واري حضرت عائشه رضی الله عنه ته ورکوم سوده رضی الله عنها وايي ماته دا خوند راکوي چي زه دقيامت په ورځ ستا دبي بي ګانو سره راپورته سم :

اووه څلوېښتم سبق

والقسم الرابع :

دعبات ترجمه: څلورم تقسيم له تقسيماتو اربعه څخه دئ:

في معرفة وجوه الوقوف: په معرفت کی دطروقو دخبرتيا را و ستلو **على احكام النظم** پر احکامو دنظم يعني څلورم تقسيم په دې کي دئ چي ته به په کومه طريقه خبرتيا راولې پر احکامو دنظم:

وهي اربعة: دغه طروقي څلور دي:

الاستدلال بعبارة النص وباشارته، وبدلالته، وباقتضائه:

دليل نيول په عبارة النص باندي په اشارة النص باندي په دلالة النص باندي په اقتضاء النص باندي :

والقسم الرابع الخ:

تشريح: دا نظم دئ داي حکم دئ مستدل مجتهد به دا حکم دنظم څخه په څه طريقه را اخلی بس څلورم تقسيم په دې کی دئ چي مستدل مجتهد به حکم دنظم څخه په څه ډول را اخلی مثال ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلوٰةِ﴾ اودس فرض دئ مستدل به دا حکم چي اودس فرض دئ دا به څنګه ددې نظم څخه را باسي :

سوال: موږ دقران دنظم او معنى په تقسيماتو کي را شروع يو اوس سوال دادئ داڅلورم تقسيم دقران دنظم ا و معنى نسي جوړيدای، ځکه دا تقسيم داستدلال سره کار لري استدلال دمستدل مجتهد صفت دئ دقران دنظم او معنى صفت نه دئ تقسيم نه دئ ؟

جواب : مستدل چي استدلال کوي دا استدلال دنظم پر معنی باندي کوي لهذا دا څلورم تقسم دقران دنظم او معنی دئ:

دڅلورم تقسیم وجه دحصر په څلورو اقسامو کي مستدل به خالی نه وي یا به استدلال دلفظ څخه کوي یا به دمعنی څخه کوي:

که مستدل استدلال د لفظ څخه کوي د ایا عبارة النص دئ یا اشارة النص دئ که مستدل استدلال دمعنی څخه کوي دا بیا دلالة النص دئ یا اقتضاء النص دئ که مستدل استدلال په لفظ باندي کوي بیا ورته ګورو یا به کلام دده دپاره شړل سوي وي یا به نه وي که کلام دده دپاره شړل سوي وو نو دا عبارة انص دئ که کلام دده دپاره شړل سوي نه و نو دا اشارة النص دئ :

که مستدل استدلال په معنی باندي کوي بیا ورته ګورو فکر سوچ غواړي چي استدلال په وکړي که نه که یې فکر سوچ غوښتي اقتضاء النص دئ که یې فکر سوچ نه غوښتي دلالة النص دئ، استدلال معنی دلیل نیول دلیل کله دعلت له خوا پر معلول باندي وي کله دلیل دمعلول له خوا پر علت باندي وي یعني دلیل کله داثر پر مؤثر باندي وي دلیل کله دمؤثر پر اثر باندي وي مثال اور علت دئ دود معلول دئ اور مؤثر دئ دود (دوګ) اثر دئ :

دورځي اور دومره نه ښکاره کیږي لکه دود دود تر اور زیات ښکاره کیږي تا وویل دلته اور دئ ځکه دود دئ دلیل دئ داثر پر مؤثر وویلي : دشپې اور زیات ښکاره کیږي تا وویل دلته دود سته ځکه اور بل دئ دلیل دئ دمؤثر پر اثر باندي وویلی ، :

سوال: اوس سوال دادئ مستدل چي استدلال نیسي دا داثره پر مؤثر باندي که دمؤثره پر اثر باندي ؟

جواب: دقران نصوص موثر دي ددغه نص حکم یې اثر دئ :

مستدل او مجتهد ټول عمر دلیل وایي دنص څخه پر حکم باندي دموثر څخه پر اثر باندي دلیل داثره پر موثر نه وایي لهذا دلته استدلال دموثر پر اثر باندي دئ داثره پر مؤثره نه دئ .

اته څلويښتم سبق

فما سيق الكلام له :

دعبارت ترجمه هر څه چي عبارة النص دئ نو دا حکم دئ داسي حکم چي کلام چلول سوی دده له وجي، **واريد به قصدا:** او دا حکم اراده کړه سوی په ده کلام باندي مقصودا :

اما الاول فما سيق الخ

تشريح: درې شيان دي ۱- عبارة النص ۲- استدلال بعبارة النص ۳- حکم بعبارة النص :

فما سيق الکلام له دغه تعريف دئ دحکم بعبارة النص فما سيق الكلام له دغه تعريف داستدلال بعبارة النص نه دئ:

فما سيق الکلام له دغه تعريف دعبارة النص نه دئ :

فما سيق الكلام له : لفظ ما عبارت نه دئ د عبارة النص څخه عبارة النص کلا م ته وايي لفظا ما عبارت دعبارة النص څخه نسي کيدی که چيري سي نو بيا دا معنی فما سيق الكلام له : اما الاول : هر څه چي اول دئ فما هغه عبارة النص دئ سيق الكلام له: چي کلام به چلول سوي وي دده له وجي نو دا معنی کلام دکلام د پاره چلول سوي کلام دکلام دپاره نه چلول کيږي کلا م د حکم او معنی دپاره چلول کيږي لفظ ما عبارت د استدلال بعبارة النص څخه نسي کيدی که چيري سي نو بيا دا معنی اما الاول : هر څه چي اول دئ، فما سيق الكلام له : استدلال دئ داسي استدلال چي کلام به چلول سوي وي دده له وجي سيق الكلام دمتکلم صفت دئ متکلم به را ولاړ سوي وي کلا م به يې چلولي وي استدل صفت د مجتهد او مستدل دئ مثال الله متکلم دئ کلا م يې چلولي نبی عليه السلام متکلم دئ کلام يې چلولي حضرت امام صاحب مجتهد دئ استدلال کوي په کلام باندي متکلم وصف دمجتهد وصف نه سي کيدای :

نو معلومه سوه چي لفظ ما عبارت دئ د حکم څخه :

فائده: دنص او عبارة النص څه فرق دئ دنص ا و عبارة النص په مابين کي نسبت دعموم خصوص مطلق دئ:

نص اخص مطلق دئ عبارة النص اعم مطلق دئ هرنص عبارة النص دئ هر عبارةالنص نص نه دئ : په نص کي سوق دکلام وي خو دا سوق دکلام مقصود اصلي وي په عبارة النص کي سوق دکلام وي بيا نو برابره خبره ده سوق دکلام مقصود اصلی وي او که مقصود اصلی نه وي په نص او عبارة ا نص په دواړو کي سوق دکلا م مقصود وي خو په نص کي مقصود اصلی وي په عبارة النص کي سوق دکلام مقصود اصلی وي او که مقصود اصلی نه وي:

فائده: دکلام مصداق دري قسمه دئ ۱ مقصود ۲- مدلول ۳-لازم :

۱- مقصود دا معنی چي دی ټارګيټ هدف وي ۲- مدلول دا معنی چي دی دلالت کوي خوفی الحال ټارګيټ (هدف) نه وي ۳ -لازم دا معنی چي دی نه مقصود وي نه مدلول وي بلکي دمدلول سره لازمي شي وي :

که دکلام مقصود کوم شی نښه هدف ټارګيټ وو بس ديته نص وايي دکلام مقصود کوم شي دئ او دکلام مقصود کوم شي نښه (هدف) دئ وديته عبارة النص وايي که نه مقصود دئ نه مدلول دئ بلکي لازمي شی دئ نو دانه عبارة النص دئ نه نص دئ مثال ﴿فَانْكِحُوْا مَاطَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ﴾

ددې کلام اصل مقصود اصل ټارګيټ تعداد الزواج دئ:

اباحةالنکاح ددې کلام مقصود اصلی نه دئ، البته اباحة النکاح ددې کلام مدلول دئ:

تعداد الزواج هم نص دئ هم عبارة النص دئ اباحة النکاح عبارة النص دئ خو نص نه دئ دهغه مثال چي نه نص وي نه عبارة النص وي نبی علیه السلام فرمايي ان من السحت ثمن الکلب بيشکه بيعض دحرام څخه ييسې خوړل دسپي دي:

پیسي•خوړل دسپي د دې سره دسپې خرڅول لازم دي بيع الكلب لازمي معنی ده بيع الكلب نه نص دئ نه عبارة النص دئ، د الازم دئ.

نه څلويښتم سبق

والاشارة ما ثبت بالنظم مثل الاول:

دعبارت ترجمه: اشارة النص حكم دئ داسي حكم چي ثابت به وي په نظم باندي په مثل داول په دې كي چي هر يو ثابت دئ په نظم باندي :

الا انه ما سيق الكلام له: مګر دغه حكم چي ثابت دئ په اشارة النص باندي كلام ددغه حكم دپاره نه دئ چلول سوي

والاشارة ما ثبت بالنظم الخ

تشريح: عبارت ذكر سو په دغه عبارت كي يو لفظ دئ ددې لفظ څخه يو څه فهميږي دا دعبارت مقصود نه وي ودېته اشارة ا لنص وايي، اشارة النص داسي مثال لري زه په دغه مسجد كي ودغه ساعت ګړي ته ګورم اوس زما دسترګو تاركيټ هدف ساعت (ګړی) ته كتل دي مګر دساعت (ګړی) په ليدلو كي زما تر سترګو نور شيان هم ليدل كيږي ضمنا مثلا زما تر سترګو پنكه، كلكين ، دروازه ليدل كيږي بس دا ضمني شيان ليدل دا اشارة النص دئ كه څه هم دضمني شيانو ليدل زما دسترګو دليدلو ټاركيټ (هدف) نه دئ:

دخبري خلاصه :داده عبارت ذكر سو په عبارت كي ديو لفظ څخه يو شي فهميږي كه څه هم دعبارت مقصود ټاركيټ هدف نه دي بس ودېته اشارة النص وايي:

سيق الكلام لبيان ايجاب سهم من الغنيمة لهم: دعبارت ترجمه:

كلام چلول سوي دئ ددې دپاره چي حصه د غنيمت فقراء ته وركول واجب دي، **وفيه اشارة الى زوال املاكهم الى الكفار :** په دغه كلام كي اشاره ده چي املاك دمهاجرينو ختم سوه په

سبب دانتقال داملاکو وکفارو ته **وهما سواء فی ایجاب الحکم** : د بعضو علماؤ په نزد باندی اشارة النص ظني دئ :

دحسامي مصنف رد ورباندي کوي لکه څنګه چي عبارة النص قطعي دئ اشارة النص هم قطعي دئ هيڅ فرق يې نسته په قطعيت کي **الا ان الاول احق عند التعارض** :مګر په وخت کي دتعارض به ترجيح ورکول کيږي عبارة النص ته دسوق د وجي اشارةالنص خو ضمنا معلوميږي مثال نبی علیه السلام فرمايي انهن ناقصات العقل والدين: ښځي چي دي ناقص العقل والدين دي:

فقيل وما نقصان دينهن :

چا وويل څه دي نقصان د دين د دوي فقال ا حداهن فی قعر بیتها شطر عمرها ای نصف عمرها لا تصوم ولا تصلی:

نبی علیه الصلوة والسلام وويل يو ددوي څخه کښيني دکور په مينځ کي نيمي عمر ښځه نه روژه نيسي نه لمونځ کوي:

اوس راسه کلام چلول سوي دپاره دنقصان ددين ددوي خو په دغه کلا م کي اشاره ده وديته چي اکثره مده دحيض پنځلس ورځي ده لکه دا مذهب دامام شافعي رحمه الله دئ :

نبی علیه السلام صراحة داسي نه دي ويلی چي اکثره مده دحيض پنځلس ورځي ده په اشارة النص دا ثابته چي دښځي اکثرهم ده دحيض پنځلس ورځي ده :

ابو امامة الباهلي روايت کړي دنبی علیه السلام څخه انه قال اقل الحيض ثلثة ايّام واکثرها عشرة ايام : نبی علیه السلام فرمايي کمه مده دحيض درې ورځي ده زياته مده دحيض لس ورځي ده دغه کلام عبارة النص دئ نو موږ به عبارة النص ته ترجيح ورکوو پر اشارة النص باندي :

کما فی قوله تعالی ﴿لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِيْنَ الَّذِيْنَ﴾ الاية

تشريح: الله رب العزت مصارف الخمس بيانوي چې خمس به چا چا ته ورکول کيږي:

مصارف الخمس به ورکول کيږي ﴿وَلِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِيْنَ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْمِنْ دِيَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ﴾ ته دايي يو دوهم والْيَتٰمٰى، ته به ورکول کيږي دريم وَالْمَسَاكِيْنَ ته به ورکول کيږي څلورم وَابْنَ السَّبِيْل، ته به ورکول کيږي دالله جل جلاله دکلام مقصود بيان دمصارف الخمس دئ چې مصارف الخمس به ورکول کيږي فقير ته يتيم ته مسکين ته وابن السبيل ته :، مګر په دې عبارت کې يو لفظ ذکر سوي هغه لفظ الفقراء دئ فقراء جمعه د فقير ده فقير ديته وايي چې شی نه لري، للفقراء په د ې لفظ کې اشاره ودې خواته سوي هغه خلګ چې خپلو کورو څخه را ايستل سوي دي دمکې څخه و مدينې ته راغلی هغه مال چې ددوي څخه پاته سو وکفارو ته اوس که مسلمانانو دکفارو سره جنګ وکړي هغه مال يې ورڅخه ونيوى اوس به دغه مال تقسيميږي دغه مال ددې خلګو نه دئ کوم چې کفار و ته پاته سوي ځکه الله پاک دوي ته فقراء وويل فقير هغه چا ته وايي چې يو شي نه لري که چيري دوی يو شی درلودی نو بيا دوي ته ولی فقراء وويل سول :

که دسړي سره په کور کې مال پروت وو بيا داسړي مسافر سو فی الحال دده سره په سفر کې مال نسته نو دې سړي ته فقير نه وايي، ددې خلګو څخه چې مال په خپل وطن کې کفاروته پاته سو الله دې خلګو ته فقراء وويل له د ې وجې چې دا مال ددوي نه دي امام شافعي رحمه الله وايي دې خلګو ته فقراء ويل سوي مجازا لکه ﴿صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ﴾ الله پاک دې کفارو ته ګونګيان کاڼه ړانده ويلي مجازا په حقيقت کې دوې ګونګيان کاڼه ړانده نه دي الله پاک دئ خلګو ته فقراء ويلی مجاز حقيقة دوي فقيران نه دي احناف وايي تر څو پوري چې عمل په حقيقت باندې کيدی سي نو مجاز ته تګ ضروري نه دي دلته په حقيقت باندې عمل ممکن دئ نو مجاز ته ضرورت نسته :

دخبري خلاصه داده : هر وخت که دمسلمان څخه مال پاته سو کافر قبضه ورباندې وکړه دمسلمان دلاس څخه ووتی ، بيا ددې وروسته په جنګ باندې دکافر څخه دا مال ونيول سو نو دا مال ددې مسلمان نه دئ دا مال به تقسيميږي :

پنځوسم سبق

فما ثبت بمعني النص لغة لا استنباطا بالراي

دعبارت ترجمه: دلالة النص حكم دئ داسي حكم چې دغه حكم به ثابت وي دنص په معنى باندي لغة لا استنباطا بالرأي مثال فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ مورا وپلار ته اف مه وا ياست مور او پلار ته اف كول حرام دي كه ته وايي مور او پلار ته ښكنځل كول مور پلار وهل څنګه دي مور وايو مور او پلار ته اف كول حرام دي مورا وپلار ته ښكنځل كول مورا وپلار وهل په طريقه اولى حرام دي فلا تقل لهما اف په دغه عبارت كي ښكنځل نسته وهل نسته حرمت دښكنځلو دوهلو دا په دغه عبارت (فلا تقل لهما اف) باندي ثابت نه دي دا حرمت ثابت دئ په دلالت التزامي باندي دبعضو علماء په نزد باندي دلالة النص داسي دئ لكه قياس دده او دقياس هيڅ فرق نسته مونږ وايو دده او دقياس فرق سته له دې وجي مصنف دا توري را باسي لا استنباطا بالرأى .

دلالة النص په استنباط بالراي سره نه وي په لغت سره وي چې صرف دسړي دلغت معنى زده وي بس هغه په دلالة النص باندي پوهيږي: بعضى علماء دلالة النص قياس بولي وهل ښكنځل پر اف باندي قياسوي اف به مقيس عليه سي وهل ښكنځل مقيس علت ددواړوه اذى دي دحسامي مصنف رد ورباندي وكړي دلالة النص قياس نه دئ ددلالة النص او قياس فرق سته قياس ظني دئ دلالة النص قطعي دئ داېي يو فرق ، اهل الحديث قياس نه مني دلالة النص مني كه دواړه يو واى نو بيا به دوي دلالة النص نه منلى داېي دوهم فرق :

څه وخت چي قياس مشروع سوي نه وو په دلالة النص باندي عمل كيداى هغه مشروع وو داېي دريم فرق :

په قياس باندي هرسړي نه پوهيږي په قياس باندي صرف مجتهد پوهيږي په دلالة النص باندي هر سړي پوهيږي داېي څلورم فرق لكه **كالنهي عن التافيف** كله نهى دتافيف څخه ، **يو قف به على حرمة الضرب:** په دې باندي خبرتيا راځي پر حرمت دضرب باندي **من غير**

واسطة التامل والاجتهاد: واسطه دتامل او داجتهاد نه غواړي **و الثابت بدلالة النص مثل الثابت بالاشارة** ثابت په دلالة النص باندي دا داسي دئ لکه ثابت په اشارة النص باندي **حتی صح اثبا ت الحدود والکفارات بدلالات النصوص:** صحيح کيږي اثبات دحدودو او کفاراتو په دلالة النص باندي ځکه دا قطعي دئ:

الا عند التعارض دون الاشارة: اشارة النص دلالة النص دا دواړه قطعي دي مګر په وخت کی دتعارض اشارة النص زورور دئ پر دلالة النص باندي يعني دتعارض په وخت کي به اشارة النص ته ترجيح ورکوو ځکه اشارة النص په نظم باندي ثابت دئ دلالة النص په نظم باندي ثابت نه دئ:

مثال ﴿وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَئًا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ﴾ کوم چا چي مؤمن قتل کړی په خطاء باندي نو داسړي به تحرير درقبې مؤمنی کوي او کفاره به ورکوي يعني دوي مياشتي به روژې نيسي امام شافعي رحمه الله وايي په دغه اية (ومن قتل مؤمنا خطئا) باندي په قتل عمد کي کفاره سته په دلالة النص باندي ځکه قتل خطا دومره غټ جرم نه دئ لکه قتل عمد قتل عمد غټ جرم دئ ترقتل خطا په قتل خطا کي کفاره سته نو په قتل عمد کي کفاره په طريقه اولی سته ومن قتل مومنا خطا ﴿فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ﴾ په دغه اية باندي کفاره په عبارة النص سره ثابته ده په قتل عمد کي کفاره په دلالة النص سره ثابته ده :

دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي په قتل عمد کي په دغه اية باندي کفاره واجب ده په دلالة النص باندي موږ وايو په بل اية کي په اشارة النص باندي په قتل عمد کي کفاره نسته مثال ﴿وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاءُهُ جَهَنَّمَ خَالِدًا فِيْهَا﴾ کوم چا چي مؤمن په قصد باندي قتل کړي نو جزاء ده جهنم دئ حال دا دی به په جهنم کي هميشه وي جزاءُ په جزاء کي اشاره ده وديته چي جهنم دده پوره پوره جزا ده ولی جزا کاملي بدلې ته وايي:

ومن قتل مؤمنا خطئا : په غه عبارت کي د لالة النص وايي په قتل عمد کي کفاره سته ومن يقتل مؤمنا متعمدا فجزاءُ په دغه عبارت کي اشارة النص وايي په قتل عمد کي کفاره

نسته نو اشارة النص تر دلالة النص زورور دئ چي زورور دئ نو اشارة النص ته به ترجيح ورکول کيږي:

سوال: تاسو واياست چي جهنم دده پوره پوره بدله ده اوس که دقاتل او دمقتول دورثه صلحه راغله اوس تاسو ولی ديت ورځخه اخلی نو جهنم دده پوره بدله نه سوه او يا د آقاتل وژل کيږي قصاص کيږي ،جهنم دده پوره بدله نه سوه لهذا جهنم دده پوره جزا نه سوه نوري سزاګاني هم سته ؟

جواب: دقاتل پوره پوره سزا جهنم دئ موږ چي دقاتل ځخه ديت اخلو يا قاتل وژنو دا دقتل بدله نه ده دا ددې مقتول دورثه حق دئ الله سبحانه فرمايي ﴿وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ﴾ ستاسو دپاره په قصا کي ژوند دئ قاتل که قصاص نه سي نو قاتل به جرئت پيدا کړي بله ورځ به بل سړي قتل کړي بله ورځ به بل سړي قتل کړي نو ته را ولاړ سه قاتل قصاص کړه په دې قصاص کي دخلګو ژوند دئ دخبري خلاصه دا ده دقاتل پوره پوره سزا جهنم دقاتل ځخه ديت اخيستل يا قاتل قصاص کول دا دمقتول دورثه حق دئ .

واما دلالة النص الخ:

تشريح: عبارة النص داسي دئ لکه دلالت مطابقي ، اشارة النص داسي دي لکه دلالت تضمني، دلالة النص داسي دئ لکه دلالت التزامي :

دا عبارت دي پر کل معنی باندي دلالت کوي نو عبارت النص دئ، که په عبارت کي يو جزء پر حکم باندي دلالت کوي نو اشارة النص دئ که عبارت پر داسي معنی باندي دلالت کوي چي نه يې جزي نه يې کل ده نو دلالة النص دئ ، دلالة النص يو حکم دئ داسي حکم چي ثابت به وي دنظم په معنی باندي اشارة النص په لفظ باندي ثابت دئ :

يو پنځوسم سبق

واما المقتضى:

دعبارت ترجمه: هر څه چي مقتضى دئ ، فزيادة على النص: نو دازيادت دئ پر نص باندي، **ثبت شرط** ثبت جواب دئ دلما داسي لمّا چي وروسته به راسي **لمّا لم يستغن عنه** دا په تركيب كي شرط **ثبت شرط** دا به جواب سي دلما لم يستغن عنه څخه :

لمّا لم يستغن عنه: څه وخت مُقتضِى مستغني نه وو دمُقتضى څخه، **ثبت شرطا لصحة المنصوص عليه** نو ثابت سو دغه مزيد مقتضى او حال دا چي دغه مقتضى شرط دئ دپاره دصحت دمنصوص عليه فوجب **تقديمه لتصحيح المنصوص** نو تقديم دمقتضى واجب دئ دپاره ددئ چي منصوص مذكور صحيح سي.

فقد اقتضاه النص: مُقتضى تقاضي كوي دمقتضى ، **فصار المقتضي بحكمه حكما للنص** دمُقتضى چي پټ عبارت دئ لكه لاني طلقتک ددې مقتضى حكم به دنص مقتضى حكم سي يعني دلاني طلقتک حكم دا عتدي حكم دئ :

والثابت : اقتضاء النص داسي قطعي دئ لكه دلالة النص چي قطعي دئ د لالة النص داسي قطعي دئ لكه اشارة النص چي قطعي دئ اشارة النص داسي قطعي دئ لكه عبارة النص چي قطعي نو نتيجه دا اقتضاء النص داسي قطعي دئ لكه عبارة النص چي قطعي دئ **والثابت به :** ثابت په ده باندي، **يعدل** برابر دئ ، **الثابت بدلالة النص** برابر دئ دثابت بدلالة النص سره ،

واما المقتضى فزيادة الخ :

تشريح: اقتضاء النص ديته وايي جعل غير المنطوق منطوقا لتصحيح المنطوق غير منطوق، منطوق ګرځول ددې دپاره چي منطوق په صحيح سي.

يو شي په عبارت كي نسته ته يې را وباسه ددې دپاره چي مذكور په صحيح سي، لكه موږ مخته وويل اعتدي ، اعتدي نه صحيح كيږي يعني په اعتدى باندي دعدي شمار نه صحيح كيږي نو موږ به يو عبارت راباسو ددې دپاره چي اعتدي صحيح سي موږ داعتدي سره دا

عبارت را باسو لاني طلقتک ، مذکور عبارت ته مُتقضی وايي کوم عبارت چي موږ را باسو هغه ته مقتضَی وايي مقتَضَی به تر مقتَضِی مخته را يستل کيږي ځکه مقتَضَی شرط دئ دپاره دصحت دمُقتضِي او حال دا شرط مقدم وي تر مشروط :

الاعند المعارضة

دعبارت ترجمه : به مګر په وخت دتعارض کي دلالة النص تر اقتضاء النص زورور دئ

تشريح: ددلالة النص او اقتضاء النص معارضه چي راسي نو به ترجيح دلالته النص ته ورکول کيږي مثال نبی ﷺ خپلي بي بي ته وايي (حُتِّيْهِ ثُمَّ اقْرُصِيْهِ ثُمَّ اغْسِلِيْهِ بِالْمَاءِ) مني پر کالو باندي دئ نبی عليه السلام ورته وايي ته دا کالی ومومښه بيا يې وګيروه بيا په اوبو پريې مينځه اوس راسه په دغه حديث کي دلالة النص اقتضاء النص جوړ کړو .

اول اقتضاء النص جوړوو نبی عليه السلام ورته وايي حتيه ثم اقرصيه ثم اغسليه بالماء ولی لانه لا يتطهر ځکه دا پاکيږي لانه لا يتطهر دا اقتضاء النص دئ اقتضاء النص وايي که ته کپړه په اوبو پريې نه مينځي نو دا نه پاکيږي زموږ داحنافو مذهب دادئ چي مائعا تو بهيدونکي شي باندي چي پاکي راولي په دې مائعا تو باندي کپړه پاکيږي لکه پټرول تيلی خاک ، دکپړي پاکوالي په مائعاتو باندي دا دلالة النص دئ دکپړي پاکوالي صرف په اوبو باندي دا اقتضاء النص دئ نو موږ به دلالة النص ته ترجيح ورکوو پر اقتضاء النص باندي ځکه په مائعا تو لکه پټرول تيلي خاک په دئ مائعا تو باندي چي څومره پاکی راځي په اوبو باندي دومره پاکي نه راځي لهذا په اوبو باندي چي پاکوالي راځي نو پټرول تيلي خاک په دې باندی په طريقه اولی پاکوالئ راځی .

زموږ مذهب دادئ په اوبو او مائعاتو باندي پاکي راځي دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي يوازي په اوبو باندي پاکي راځي :

فائده: که يو حکم ثابت وو دعبارت په الفاظو بيا ورته وګوره عبارت ددغه حکم دپاه شړل سوی چليدلی که نه که عبارت ددغه حکم دپاره چليدلي وو نو دا عبارة النص دئ

که عبارت ددغه حکم دپاره لیدلی نه وو نو دا اشارة النص دئ که یو حکم ثابت وو نه په الفاظو باندي بیا ورته وګوره حکم لغةً ثابت دئ که شرعا ثابت دئ که حکم لغةً ثابت وو نو دا دلالة النص دئ که حکم شرعا ثابت وو نو دا اقتضاء النص دئ.

فائده :دنص او عبارة النص فرق دادئ په نص کي چي کوم حکم دئ دا حکم به مقصود اصلي وي په عبارة النص کي چي کوم حکم دئ دا حکم به مقصود وي بیا برابره خبره ده مقصود اصلي وي که نه وي:

مثال وَاَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَوا ددغه کلام څخه دوه حکمه معلومیږي یو حکم تحلیل دبیعي تحریم دربا دویم حکم التفرقة بین البیع والربا یعني دویم حکم دا د دبیعي او درباء فرق سته مماثلت نسته په مابین کي دبیعي او درباء ددغه کلام تفرقه بینهما مقصود ا صلي دئ تحلیل البیع وتحریم الرباء دا حکم دعبارت مقصود دئ خو مقصود اصلي نه دئ.

دالله جل جلاله اصل مقصود نفي دمماثلت ده :

په دغه عبارت (واحل الله ابیع وحرم الربوا) باندي دوه حکمه ثابت دي ۱- تحلیل البیع وتحریم الرباء ۲- نفی المماثلة بین البیع والربا دغه دواړه حکمونه ثابت دي په عبارة النص ځکه په عبارة النص کي چي کوم حکم دئ دا حکم به مقصود وي بیا برابره خبره ده مقصود اصلي وي لکه نفی المماثلة که مقصود تبعي وي لکه تحلیل البیع وتحریم الربا :

التفرقة بین البیع والربا: نص هم دی عبارة النص هم دئ تحلیل البیع وتحریم الربا عبارة النص دئ نص نه دئ ځکه د ا مقصود اصلی نه دئ.

فائده: هر ځای که په عبارت کي مقصو د اصلي وو بس دلته عبارة النص او نص دواړه سره جمعه کیږي که مقصود تبعي وو بیا ظاهر او عبارة النص سره جمعه کیږي .

فائده: عبارة النص او اشارة النص دا دواړه منطوق دي صرف په يوه كي سوق دكلام وي په يوه كي سوق دكلام نه وي.

دلالة النص اقتضاء النص دا دواړه مفهوم دي صرف يو دتصحيح العبارة دپاره نه دئ يو دتصحيح العبارة دپاره وي.

اجراء عبارة النص واشارة النص ودلالة النص واقتضاء النص

وَاَحَلَّ اللهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا (البقره ٢٧٥)

تشريح: دلته په دغه عبارت باندي دوه حكمونه ثابت دي ١- تحليل البيع وتحريم الربا ٢- نفي المماثلة بين البيع والربا دغه دواړه حكمونه ثابت د ي په عبارة النص باندي :

اُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ اِلٰى نِسَائِكُمْ (البقره ١٨٧)

تشريح: شپه دمابنام څخه شروع ده بيا ترصبح صادق پوري په دغه عبارت باندي دوه حكمه ثابت دئ يو حكم دادئ چه ټوله شپه تاسو ته جماع كول جائز دغه حكم په عبارة النص باندي ثابت دئ دوهم حكم دادئ تا جماع وكړه بې غسله سوي روژه ورسره منافي نه ده يعني كه تا دغسل او ښتلو په حالت كي روژه ونيول بس روژه صحيح ده دا دوهم حكم ثابت دئ په اشارة النص باندي .

وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ (البقره ٢٣٣٠)

الله تعالى وايي مورګاني دي شيدې وركوي خپل اولاد ته دوه كاله پوره دا دهغه چا دپاره چي اراده لري ددې چي پور ه كړې نيته دتي وركولو وعلى المولود له رزقهن وكسوتهن بالمعروف:

او ده پر هغه چا چي زېږول سوي دئ ورته (پلارته) روزي دذوي (دمېندو) او کالي ددوي په معروف (ښه دستور) سره وعلى المولود له رزقهن وكسوتهن بالمعروف :

دښځي پر مېړه باندي روزي کالي لازم دي دغه حکم ثابت دئ په عبارة النص باندي دعلى المولود له څخه دا رامعلومېږي چي بچي دمېړه دئ دمور نه دئ دا حکم ثابت دئ په اشارة النص باندي :

وعَلى المولود له : دا عبارت وايي دکوچني په ملک کي چي څومره شيان دي دا ټوله دپلار دي دا حکم دلهُ دلام څخه را معلومېږي په لهُ کي لام دتمليک دپاره دئ پلار دزوي دسرا و مال مالک دئ لهذا دا حکم هم ثابت دئ په اشارة النص باندي.

اِنَّ الَّذِيْنَ يَأْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى ظُلْمًا اِنَّمَا يَأْكُلُوْنَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ نَارًا (النساء ١٠)

تشريح: کوم څوک چي ديتيم مال ظلما خوري دا خلک په نسو کي اوراچوي دا حکم ثابت دئ په عبارة النص باندي ديتيم مال ظلما خوړل حرام ديتيم مال سوځول په طريقه اولي حرام دا حکم ثابت دئ په دلالة النص باندي .

فائده: داحکامو تعلق دذواتو سره نه وي داحکامو تعلق دفعل المکلف سره وي رفع عن امتي الخطاء والنسيان : نبى عليه السلام فرمايي زما دامت څخه خطاء او نسيان پورته يعني دامعنى زما په امت کي په زندګي خطاء او نسيان نه راځي داخبره نه ده صحيح نو به موږ دلته يو توري را باسو چي دعبارت حکم صحيح سي رفع عن امتي جزاء الخطاء والنسيان :

نبى عليه السلام فرمايي زما دامت جزاء دخطاء او د نسيان پورته سوى دا حکم ثابت دئ په اقتضاء النص حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ . (المائده ٣)

تشريح: دلته حرمت دميتتي ثابت دئ په اقتضاء النص باندي دلته موږ يو توري را باسو هغه دا حرمت عليکم أکل الميتة لهذا دا حکم ثابت دئ په اقتضاء النص باندي .

حُرِمَتْ عَلَيْكُمْ اُمَّهٰتُكُمْ (النساء ۲۳)

تشريح: دلته حرمت دامهات ثابت دئ په اقتضاء النص باندي دلته موږ يو توري را باسو هغه دا حرمت عليكم نكاح امهتكم :

لهذا دا حكم ثابت دئ په اقتضاء النص باندي :

وَلَا تَقْتُلُوْنَ النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللهُ اِلَّا بِالْحَقِّ (الانعام ۱۵۱)

تشريح: دغه اية په عبارة النص باندي دلالت كوي پر حرمت دقتل دنفس.

وَاَقِيْمُوْا الصَّلٰوةَ واٰتُوْاالزَّكٰوةَ (البقره ۴۳)

تشريح: دغه اية په عبارة النص باندي دلالت كوي پرفرضيت دلمانځه او دزكات يعني لمونځ اوزكات فرض دئ :

وَحَمْلُهُ وَفِصٰلُهُ ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا (الاحقاف ۱۵)

وقوله تعالى وَفِصٰلُهُ فِيْ عَامِيْنَ (لقمان ۱۴)

تشريح: ددغه دواړو اياتو ځخه په طريقي داشاري دارا فهميږي چي اقله مده دحمل شپږ مياشتي ده .

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِيْ الْقَتْلٰى (البقره ۱۷۹)

تشريح: دلته په عبارة النص باندي يو حكم ثابت دئ هغه دا په قتل عمد كي قصاص واجب دئ .

وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاءُهُ جَهَنَّمَ خَالِدًا فِيْهَا .(النساء ۹۳)

تشريح: دلته په عبارة النص باندي يو حكم ثابت دئ هغه دا په قتل عمد كي جزاء ده خلو د فى النار دئ جهنم دئ:

وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ (النساء ٩٢)

تشريح: دلته په عبارة النص باندي يو حكم ثابت دئ هغه په قتل خطاء كي كفاره واجب ده.

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ (البقره ١٧٣)

تشريح: دلته حرمت دميتتې ثابت دئ په اقتضاء النص باندي دلته موږ يو توري را باسو هغه دا انما حرم عليكم اكل الميتة لهذا دا حكم ثابت دئ په اقتضاء النص باندي.

لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ (الحشر ٨)

تشريح: دلته په عبارة النص باندي يو حكم ثابت دئ هغه دا للفقراء المهاجرين دا مستحق دئ په غنيمت كي دحصې دويم حكم ثابت دئ په اشارة النص باندي هغه حكم زوال داملاكو ددوي يعني ملك ددوي ختم سو ځكه الله دوی ته فقيران ويلي فقير هغه ته وايي چي شي نه لري.

فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ (بني اسرائيل ٢٣)

تشريح: دلته په عبارة النص باندي يو حكم ثابت دئ هغه حكم حرمة التافيف دئ يعني مور او پلار ته اف كول حرام دئ علت يې اذي دئ مور او پلار ته دويم حكم ثابت دئ په دلالت النص باندي هغه حكم حرمة الضرب والشتم دئ يعني مور او پلار وهل بنكنځل ورته كول حرام دي علت يې اذي دئ مور او پلار ته.

أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ (المائدة ١)

تشريح: دلته حلال والي دچارپايانو ثابت دئ په اقتضاء النص باندي دلته موړيو تورى راباسو هغه دا احلت لكم اكل بهيمة الانعام.

وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا اَنْ يَنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنَاتِ فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمٰنُكُمْ مِنْ فَتَيٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ (النساء ٢٥)

تشريح: دلته يو حكم ثابت دئ په عبارة النص باندي هغه حكم دادئ نكاح دمينځي مؤمني سره مباح ده هغه وخت كه ته عاجزه وې دحرې دنكاح څخه مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ (الفتح ٢٩).

تشريح: دلته يو حكم ثابت دئ په عبارة النص باندي هغه دا محمد ﷺ دخداي جل جلاله رسول دئ وَاِنْ كُنَّ اُوْلَاتِ حَمْلٍ فَاَنْفِقُوْا عَلَيْهِنَّ حَتّٰى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ (الطلاق ۶)

تشريح: : دلته يو حكم ثابت دئ په عبارة النص باندي هغه حكم دادئ ښځه مطلقه ده په طلاقًا بائن باندي اوس كه دغه ښځه حامله وه نو نفقه وركول واجب دي..

فَانْكِحُوْا مَاطَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ فَاِنْ خِفْتُ اَنْ لَّاتَعْدِلُوْا فَوَاحِدَةً (النساء ٣)

تاسو په نكاح كړې هغه ښځه چي ستاسو خوښه وي هغه كه دوې دوې وي، كه درې درې وي كه څلور څلور وي او كه چيري تاسو ويريداست چي انصاف نه سم كولاى نو بيايوه ښځه په نكاح كړي.

تشريح: الله جل جلاله په دغه اية كي درې احكامه بيان كړي علماء درې احكامه ورڅخه راباسي يو حكم را باسي اباحة النكاح د ويم حكم را باسي عدد الزوجات تر څلورو پوري اجازه ده نورنه دريم حكم راباسي چي اقتصار على الواحده به كوي عند خوف الجور كه چيري سړي ېر دي باندي ويريدى چي ظلم راڅخه كيږي نو بيا به يوه

ښځه کوي دا دري سره احکام ثابت دي په عبارة النص باندي درې سره احکام دالله جل جلاله مقصود دي مګر اباحة النکاح مقصود عارضي دئ اخيري دوه احکام په نص سره ثابت دي مقصود اصلي دئ.

وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ (البقرة ٢٢٨)

طلاقي سوي ښځي به خپل ځانونه بندوي درې حيضه :

تشريح: دلته دوه احکامه ثابت دي ١- مطلقه ښځه به عدت تيروي ٢- مفسوخه ښځه به عدت تيروي اول حکم په عبارت النص ثابت دئ دوهم حکم په دلالت النص ثابت دئ .

سړي رولاړ سو خپلي ښځي ته يې طلاق ورکړ نو دا ښځه به پخپل کور کي درې حيضه تيروي.

دا حکم ثابت دئ په عبارة النص باندي: دښځي ميړه مرتد سو العياذ بالله ملحق بدار الحرب سو ښځه مؤمنه پاته سوه په تباين ددينينو نکاح فسخه سوه نو دغه ښځه به عدت تيروي دا مفهوم دئ منطوق نه دئ ليکن مفهوم موافق دئ لهذا دغه ښځه به عدت تيروي په طريقه اولی سره دا حکم ددغه اية (والمطلقات الاية) ثابت دئ په دلالة النص سره :

لهذا ښځه به عدت تيروي په طريقه اولی سره ولي عدت تيرول وي داستبراء الرحم دپاره چي دوی دوه (ميړه ښځه) خو ابدي سوه سړي طلاق ورکړ نو ښځه استبراء الرحم کوي نو چي سړي مرتد سي سړي وتښتيدی نو ښځه په طريقه اولی استبراء الرحم کوي.

فائده: دعبارة النص او اشارة النص تعارض چي راسي نو به عبارة النص ته ترجيح ورکول کيږي .

دوه پنځوسم سبق

وقيد يشكل على السامع :

وقد يشكل على السامع الفصل بين المقتضي والمحذوف :

دعبارت ترجمه: كله كله فرق پر سامع باندي مشكل سي په مابين كي دمقتضي او دمحذوف :

تشريح: متقدمين وايي دمُقتضي او دمحذوف فرق نسته مقتضي محذوف دئ محذوف مقتضى ده فرق يې نسته ، مصنف دمتاخرينو سره دئ دمتاخرينو مذهب دادئ چي دمقتضى او دمحذوف فرق سته ، :

دعبارت ترجمه: وهو ثابت لغة والمقتضى شرعا: محذوف ثابت وى لغة نه شرعا مقتضي ثابت دئ شرعا نه لغة

وهو ثابت لغة والمقتضي شرعا:

تشريح: مصنف دمقتضى ا و دمحذوف درې فرقونه بيان كړي ا ول فرق يې دادئ محذوف دلغت سره كار لري دشرعي سره كارنه لري مقتضي دشرعي سره كار لري دلغت سره كارنه لري:

يعني محذوف ثابت وي لغةً نه شرعا مقتضي ثابته وي شرعا نه لغة دا عتدي سره چي بل عبارت راوه نه باسي نو اعتدي صحيح دئ لغة مگر چي عبارت راوه نه باسي نو اعتدي من حيث الشرع نه صحيح كيږي :

دعبارت ترجمه: واية ذالک ان ما اقتضى غيره :

علامه دفرق يې داده چي دکوم شي غير تقاضا وکړه ، **ثبت عند صحة الاقتضاء** : هغه شي ثابت برقراره پاته سي په وخت دوجود دمقتضي، **واذا كان محذوفا**: كه چيري محذوف وو، **فقدر مذكوراً** : نو به محذوف معتبريږي مذكور، **انقطع عن المذكور**: قطعه كيږي به دمذكور څخه **كما في قوله تعالى واسئل القرية فان ا لسوال يتحول عن القرية الى المحذوف** :

سوال قطعه كيږي دقريه څخه ومحذوف ته **وهو الاهل** : دغه محذوف اهل دئ **عند التصريح به** :دا سوال قطعه كيږي په وخت كي دتصريح په دغه محذوف باندي .

واية ذالک :

تشريح:دوهم فرق دمقتضي په رايستلو سره په ظاهري عبارت كي تغير نه راځي دمحذوف په را يستلو سره په ظاهري عبارت كي تغيرراځي داعتدي سره موږ عبارت را ويستي په اعتدي كې تغير نه راغلي همدا رنګه داستبرئي رحمک سره موږ عبار ت را باسو په استبرئي رحمک كي تغير نه راځي دمحذوف په را ايستلو سره په ظاهري عبار ت كي تغيرراځي واسأل القرية ته سوال وكړه دقريي څخه دلته مجاز سوي نو موږ به داهل لفظ را باسو يعني واسئل اَهلَ القريَةَ دلته په ظاهري عبار ت كي تغير راغلى مخته القرية منصوب اوس مجرور دئ:

سوال : زه به دروښيم دمحذوف په رايستلو سره به په ظاهري عبارت كي تغير نه وي راغلى زه به دروښيم دمقتضي په رايستلو سره به عبارت اوړي فرق به پكښي راځي، مثال دمحذوف ﴿وَالْفَجْرِ وَلَيَالٍ عَشْرٍ﴾ دلته محذوف توري سته هغه دا اُقْسِمُ والْفَجْرِ اُقْسِمُ وَلَيَالٍ عَشْر دا قسم درايستلو وروسته په والفجر وليالٍ عشر كي تغير نه دئ راغلئ دوهم مثال چي ايجاز سوي وي مثال﴿ فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا﴾ دلته ايجاز سوي موږ فَضَرَبَ را باسو دفضرب درايستلو وروسته په ا نفجرت منه اثنتا عشرة عينا په دې كي تغير نه راځي ، مثال دمقتضي بع عبدک عنِى بالف درهم ته ستا غلام خرڅ كړه زما دطرفه په زر

درهمه لا عتق فيمن لا يملک دالله حبيب وايي دکوم شي چي ته مالک نه يې هلته ستا عتق نه چليږی په بع عبدک عني بالف درهم په دې باندي زه غلام نسم ازادوي ځکه زه د دغه غلام مالک نه يم نو موږ به عبارت را باسو هغه دا بع عبدک عليّ بالف درهم ثم کن وکيلي بالاعتقاق، ته ستا غلام پر ما باندي خرڅ کړه په زر درهمه بيا ته زما وکيل سه په اعتاق باندي ګوره دمقتضي په را يستلو سره په عبارت فرق تغير راغلی ټاخو ويل فرق تغير نه راځي دمقتضي په را يستلو سره دمحذوف په را يستلو سره فرق تغير راځي جواب: داکثر په ده کليه نه ده :

دروپنځوسم سبق

دعبارت ترجمه: ثم الثابت بمقتضي النص لا يحتمل التخصيص: کوم شي چي په مقتضي النص سره ثابت وي هغه احتمال دتخصيص نه لري ځکه ده لره عموم نسته:

ثم الثابت : الخ

تشريح : دريم فرق دمحذوف او مقتضي، محذوف دالفاظو دقبيلي څخه دئ مقتضی دمعاني دقبيلي څخه دي محذوف دالفاظو دقبيلي څخه دي نو عموم او خصوص پکښي جاري کيږي ځکه عموم او خصوص په الفاظو کي راځي مقتضي دمعاني دقبيلي څخه دي نو خصوص پکښي نه جاري کيږي ځکه ده لره عموم نسته ځکه عموم په الفاظو کي راځي مقتضي دالفاظو دقبيلي څخه نه دي مقتضي دمعاني دقبيلي څخه دئ په معنی کي عموم نه وي داعتدي سره چي موږ لاني طلقتک را ويستي موږ دلاني طلقتک حکم را ويستي دغه توري نه دي معتبر يعني موږ داعتدي سره دغه مفهوم را باسو توري نه :

حتی لو حلف لا يشرب ونوي شراب دون شراب لا تعمل نيته :

دعبارت ترجمه: سړي قسم وکړي وايي زه شرب نه کوم او حال دا نيت دده دشرابا دون شراب دئ نو عمل نه کيږي دده په نيت باندي :

لان المقتضى لا عموم له : ځکه مقتضي ده لره عموم نسته، **خلاف للشافعي**: خلاف ثابت دئ وامام شافعي رحمه الله ته دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي په مقتضي کي عموم سته ځکه مقتضي دده په نزد باندي داسي دئ لکه محذوف ، **والتخصيص فيما يحتمل العموم**: تخصيص په هغه شي کي کيږي چي احتمال دعموم لري.

تشريح: سړي قسم وکړي وايي زما دي دخداى په ذات قسم وي که يې زه وڅښم بله ورځ يې شربت وڅښل نو داسړي حانث سو ليکن سړي وايي زه حانث نه يم ما دالا اشرب سره ماءً اينبي دئ سړي په مشروب کي تخصيص وکړي موږ وايو والله لا اشرِبُ دا عبارت چي ته لګوې نو پټ عبارت به ورسره ايږدې دغه پټ عبارت ته اقتضاء النص وايي اقتضاء النص احتمال دتخصيص نه لري ځکه ده لره عموم نسته لهذا دشرابا دون شراب نيت نسي کولاى يعني ته داسي نسي کولاى چي زما مراد اوبه دي شربت نه دي بس که تا مطلقا شرب وکړي بس حانث يې ځکه اقتضاء النص احتمال دتخصيص نه لري ځکه ده لره عموم نسته.

سوال : ته خو تعميم پکښي کوې لا اشرب ته عاموي وکُلُّ مَشْرُوْبٍ ته په کل مشروب کي عموم دئ؟

جواب: قطعا تعميم موږ نه کوو لا اشرب چي موږ عاموو وکل مشروب ته دا دمشروب ماهيت دئ که ته اوبه څښې شربت څښې هر مائع شي چي ته څښې دا دشرب ماهيت پکښي دئ يعني موږ دلا اشرب سره مفعول يږدو دغه مفعول اقتضاء النص دئ په اقتضاء النص کي عموم نسته عموم په لا اشرب کي دئ يعني په لا اشرب کي شرب دئ دغه عموم دشرب په ماهيت کي دئ :

لان معنى النص اذا ثبت كونه علة:

دعبارت ترجمه: ځکه معنى دنص چي ثابت سي چي دا علت دئ ، **لا يحتمل ان يكون غير علة**: احتمال نه لري چي غير علت دئ سي **واما الثابت باشارة النص** : اشارة النص عبارة النص دا احتمال دعموم او خصوص لري ځکه دا دالفاظو دقبيلي څخه دئ، **واما**

الثابت باشارة النص : ثابت په اشارة النص باندي ، **فيحتمل ان يكون عاما يخص**، دا احتمال لري چي عام دي سي داسي عام چي تخصيص پکښي سوی وي ، **لانه ثابت بصيغة الكلام**: ځکه د ا ثابت دئ بصيغة الكلام والعموم باعتبار الصيغة عموم وي په اعتبار دصيغې مثلا زموږ پر مذهب نه دامام شافعي رحمه الله په نزدباندي ثابت به وي په اشارة النص باندي خو تخصيص به پکښي سوي وي ﴿ولَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا بَلْ اَحْيَآءٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ﴾ تاسو مه واياست وهغه چاته چي قتل سي دالله په لاره كي مړي بلكي دوي ژوندي دي:

عبارة النص دادئ چي كوم څوک دالله په لار كي قتل سي ديته مړي مه واياست دوی ژوندي دي دلته يو لفظ استعمال سو هغه لفظ دي بل اَحْيَآءٌ په احياء كي اشاره ده وديته چي ژوندي ته جنازه وركول نسته نو شهيد ته هم جنازه وركول نسته په اشارة النص دا ثابته چي ژوندی ته جنازه وركول نسته نو شهيد ته هم جنازه وركول نسته خو په په دغه عام كي تخصيص سوي هغه دا حضرت عمر رضي الله تعالى عنه ته او يا واره جناز وركول سوي دا مذهب دامام شافعي رحمه الله دئ.

وكذالک الثابت بدلالة النص لا يحتمل التخصيص

تشريح: دلالة النص هم احتمال دتخصيص نه لري ولی په ده كي عموم نسته ولي دي دمعني دقبيلي څخه دئ په معنی كي خو عموم نه وي.

مصنف يې په بل طرز وايي هر دلالة النص علت لري مثلا ولا تقل لهما اف ته مور او پلار ته اف مه كوه علت يې تكليف دئ وهل ښكنځل په طريقه اولی سره مه ورته كوه هر دلالة النص علت لري په علت كي تخصيص نسي كيدای نو په دلالة النص كي تخصيص نسي كيدای اوس راسه په علت كي ولی تخصيص نسي كيدای ځكه يو شي چي يو وار علت سو نو بيا داسي نه سي كيدای چي داشي چي علت دئ دادئ غير علت سي يو شي چي يو وار علت سو نو بيا به علت وي ديو سړي لس زامن دي ته داسي نسي كولای چي ته وو وايي چي تاسو دري

پلارته ښکنځل کوي دا نور دي ښکنځل نه کوي ځکه هر يو چي ښکنځل کوي دغه علت چي تکليف دئ دغه پکښې دئ، په علت کي تخصيص نسي کيدای.

څلورم پنځوسم سبق

دعبارت ترجمه: فصل : دا فصل دئ په وجوه فاسده کي:

ومن الناس من عمل فى النصوص بوجوده اخر هي فاسدة عندنا:

بعضي خلک هغه دي چي استدلال کوي به نورو وجوهو باندي دغه وجوه فاسده دي زموږ په نزد باندي.

منها ماقال بعضهم: بعض له وجوه فاسده څخه هغه وجه ده چي وايي بعضي مراد دبَعضُهُمْ څخه شافعي ، اشعرية، بعض الحنابله دي ددوي مذهب دادئ، **ان التنصيص على الشئ:** تصريح پر يو شي باندي.

باسمه العلم: دده په نامه باندي هغه که علم وي که اسم جنس وي، **يوجب التخصيص ونفى الحكم عما عداه:** واجبوي چي دغه حکم تر ده پوري خاص دئ د ما عدا څخه حکم نفى کوي په بل چا کي دا حکم نسته، **وهذا فاسد :**

دغه قول مذکور فاسد دئ مثال ما وويل جَاءَ خَالِدٌ خالد راغلى په جاء خالد کي ما دعمرو نوم نه دئ اخيستي چي په عبارت کي يو شي نه وي نو قانون دادئ چي نفى او اثبات چي ته يو حکم نفى کوي يا يې ثابتوي دا دذکر سره کارلري عمرو په عبارت کي ذکر نه دئ عبارت ورته شامل نه دي چي عبارت ورته شامل نه دي نو نفى او اثبات به څنګه پکښې راسي، **لان النص لم يتناوله :** نص ورته شامل نه دئ ، **فكيف يوجب الحكم فيه نفيا و اثباتا:**

نو به څنګه حکم په ده کي ثابت سي نفيا او اثباتا :

موږ د غه علماؤ ته وايو چي دا خبره دا قاعده د رسره واخله وايي ولي قاعده واخلم موږ وايو په دغه قاعده په دغه خبره باندي سړي كفر ته رسيږي مثال مُحمدُ رَسُولُ اللهِ محمد دخداى جل جلاله رسول دئ تاسو وويل چي ديو شي په نامه تصريح وسي نو دغه حكم به تر ده پوري خاص وي حكم به د ماعدا څخه نفي وي لكه دلته په عالم باندي چي محمد دئ تصريح سوي نو دلته به حكم درسالت تر محمد پوري خاص وي په بل چا كي به رسالت نه وي نه سليمان عليه السلام رسول دئ نه داؤد عليه السلام رسول دئ نه نوح عليه السلام رسول دئ همداسي نور خو دا خبره غلطه ده چي يوازي محمد ﷺ دخداى رسول دئ نه نور لهذا دا تاوان دده د قاعدې څخه راپور ته كيږي بعض علماء وايي قاعده دار كم ده يو اسم ذكر سو داسم سره عدد ذكر سو اوس نو حكم تر ده پوري خاص دئ دماعدا څخه نفي دئ مثال نبى عليه السلام فرمايي خمس من الفواسق يقتلن فى الحل والحرم پنځه فاسقان دي قتل سي په حل او حرم كي گوره دلته خمس (عدد) دفواسق سره راغلى هغه پنځه دادي ١- تپوس ٢- موږک ٣- خروړي سپى ٤- مار ٥- لړم دا پنځه شيان كه په حل كي وي كه په حرم كي وي دا به قتل كيږي :

دقصر فائده: داده كه دا پنځه نه وه نو په حرم كي به نه قتل كيږي موږ دغو بعضو علماء ته وايو اسم جنس به راغلى وي عدد به ورسره وي بيا به هم قصر نه چليږى مثال فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ اَنْفُسَكُمْ تاسو دخپلو ځانو سره ظلم مه كوي په دغو څلورو مياشتو كي هغه څور مياشتي دمِنْهَا اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ دي كه تاسو قاعده دلته وچليږي نو مفهوم مخالف يې دادي ددغو څلورو مياشتو څخه غير په نورو مياشتو كي دخپلو ځانو سره ظلم كوي يعني كفر كوي شرک كوي لهذا دا خبره غلطه ده كه علم ذكر سي يوازي او كه دعلم سره عدد ذكر سي قصر نه فائده كوي ځكه عبارت ورته شامل نه دئ .

موږ ورته وايو تاسو داسي دليل لري چي هلته قصر سوي وي وايي وو موږ دليل لرو مثال الماء من الماء يو انصار مدينه وه بل مهاجر مدينه وه، مهاجرين چي دمكې څخه يې هجرت كړي وو ، ددوي مذهب داوو چي په اكسال يعني التقاء الختانين او په انزال په دواړو غسل واجبيږي .

دانصارو مدینه مذهب داوو یوازي په انزال باندي غسل واجبيږي نه په اکسال باندي هغه داسي د لیل وايي الماء من الماء غسل داوبو څخه دي چي اوبه وڅڅيږي اوبه به وي بيا غسل دي د انصارو مدینه پرمذهب باندي غسل په اکسال کي نسته دلته اسم جنس ذکر دي قصر سوي نو دا معنی یوازي په انزل کي غسل سته په اکسال کي غسل نسته موږ جواب ورکوو اول وار انصار مدینه ددې قائله وه چي غسل یوازي په انزل کي دئ وروسته چي حدیثونه راغله دوي ددې مسئلي څخه لاس واخیستي:

دوهم دوي په الماء کي الف لام استغراقي بولي لهذا دوې استدلال کوي په الف لام باندي نه په اسم جنس باندي.

فصل ومن الناس:

تشریح: ۱- عبارة النص ۲- اشارة النص ۳- اقتضاء النص ۴- دلالة النص موږ احناف وایو چي مجتهد به مستدل به په دغه څلورو طریقو په یوه باندي استدلال کوي که ددغه څلورو طریقو څخه ماسیوا په بله طریقه یې استدلال وکړي بس دغه استدلال صحیح نه دي دیته وجوه فاسده وايي مثال دوه کسان دمسجد مخته ناست دئ یوه وهغه بل ته وویل زه دزمري زوي یم هغه بل ورته وویل پر ما دي دګیدړي دزوي شک راځي:

یوه وویل زه دزمري زوي یم هغه بل ددې څخه دا استدلال وکړي چي تازه دګیدړي زوی کړم هغه ورته وویل ما داسي ویل چي زه دزمري زوی یم تا دا مفهوم ورڅخه واخیستي چي پر ما دي دګیدړي دزوي شک راځي:

پر دغه مفهوم باندي استدلال په عبارة النص نه دي په اشارة النص نه دي په دلالة النص نه دئ په اقتضاء انص نه دئ:

دغه سړی چي د ګیدړي پر زوي باندي دلیل نیولي دیته وجوه فاسده وايي ځکه دادلیل نه په عبارة النص باندي دئ نه په اشارة النص باندي دئ نه په دلالة النص باندي دئ نه په اقتضاء

النص باندي دخبري خلاصه داده پر يو شي باندي دليل وَيل غير ددغه ځلورو طريقو ديته وجه فاسِده وايي:

داستدلال ځلور قسمونه دي ۱- عبارة النص ۲- اشارة النص ۳- دلالة النص ۴- اقتضاء النص كوم څوک چي استدلال ترځلورو قسمو زيات بولي هغه داسي خبري كوي وايي مدلول دلفظ پر دوه قسمه دي ۱- منطوق ۲ مفهوم دلالة المنطوق ديته وايي ما دل عليه اللفظ فى محل النطق : پر ده باندي به لفظ دلالة كوي په محل دنطق كي، دلالة المفهوم ديته وايي مادل عليه اللفظ لا فى محل النطق : پر ده باندي به لفظ دلالت كوي نه په محل دنطق كي:

مثال ولاتقل لهما اف مور او پلار ته اف مه كوي اف حرام دئ اف حرا م دا منطوق دئ پر دې باندي ولا تقل لهما اف دلالت كوي په محل دنطق كي وهل ښكنځل داحرام دئ وهل ښكنځل حرام دا مفهوم دئ :

پر دې باندي ولا تقل لهما ان دلالت كوي خو نه په محل دنطق كي ځكه لا تضرب ولا تشتم نسته، منطوق پر دوه قسمه دئ ۱- صريحي ۲- غير صريحي منطوق صريحي ديته وايي چي عبارت دلالت ورباندي كوي په دلالت مطابقي په دلالت تضمني سره په منطوق صريحي كي عبارة النص اشارة النص دواړه راغلي ځكه يو داسي دي لكه دلالت مطابقي بل دا سي دئ لكه دلالت تضمني كه يې دلالت ورباندي كوي په دلالت التزامي باندي ديته منطوق غير صريحي وايي ودغه ته اقتضاء النص وايي عبارة النص اشارة النص اقتضاء النص دادرې سره په منطوق كي راغله : دوه په صريح كي يو په غير صريح كي :

مفهوم پر دوه قسمه دي ۱- مفهوم موافق ۲- مفهوم مخالف مفهوم موافق ديته وايي چي مفهوم دمنطوق سره په نفي او اثبات كي موافق وي:

مفهوم مخالف ديته وايي چي مفهوم به دمنطق څخه په نفي او اثبات كي مخالف وي مثال ولا تقل لهما اف ته مور او پلار ته اف مه كوه مور او پلار مه وهه مور او پلار ته ښكنځل مه كوه مور اوپلار مه وهه مور او پلار ته ښكنځل مه كوه دايو مفهوم دئ دا مفهوم ددغه

منطوق (ولا تقل لهما ان) سره موافق دئ په نفی کي هغه نفی په دواړو کي مه ، نه ده مفهوم چي دمنطوق سره موافق وي په نفي او اثبات کي وديته دلالة النص وايي عبارة النص اشارة النص اقتضاء النص دا دري په منطوق کي راغله يو په مفهوم موافق کي راغلی موږ په دغه څلورو باندي استدلال کوو.

مفهوم مخالف دې ته وايي چي مفهوم دمنطوق څخه مخالف وي دغه مفهوم مخالف ته وجوه فاسده وايي موږ احناف په دغه وجوه فاسده باندي استدلال نه کوو ، مفهوم مخالف په خپل کورکي شپږ قسمه دئ ١- مفهوم العلم ٢- مفهوم العدد ٣- مفهوم الوصف ۴- مفهوم الغائيه ۵- مفهوم الشرط ۶- مفهوم القصر ، علم ذکر سوي دهغه څخه مفهوم مخالف ولاړيږي مفهوم العلم سو عدد ذکر سوي دهغه څخه مفهوم مخالف ولاړيږي مفهوم العدد سو ، وصف ذکر سوي دهغه څخه مفهوم مخالف ولاړيږي ،شرط ذکر سوي دهغه څخه مفهوم مخالف ولاړيږي قصر ذکر سوي دهغه څخه مهفوم مخالف ولاړيږي دا شپږ سره وجوه فاسده دي موږ دوجوه فاسده قائله نه يو نو رخلک يې قائله دي مګر دا خلک چي وايي موږ دمفهوم مخالف قائله يو دا مشروط دئ په يو څو شرطو باندي هر ځای موږ دمفهوم مخالف قائله نه يو دغه خلک وايي که شرائط موجود وه بيا موږ دمفهوم مخالف قائله يو اول شرط يې دادئ مفهوم به دمنطوق سره مساوي نه وي اولی به نه وي که هم مفهوم دمنطوق سره مساوي وو يا اولی وو بيا موږ ددې مفهوم مخالف قائله نه يو دا مفهوم مخالف موږ نه معتبروو مثال ولا تقل لهما افٍ مور اوپلار ته اف مه کوه ددې مفهوم مخالف دا راوځي مور ا وپلار ته ښکنځل کوه مورا وپلار وهه دا مفهوم مخالف نه دئ معتبر ولی دا مفهوم تر منطوق اعلی دئ په اذي ا و تکليف کي مورا وپلار ته په اف دومره تکليف نه رسيږي لکه په وهلو او ښکنځلو باندي.

دپيشي پسخورده حرامه نه ده ځکه دا په کور کي اوسيږي طواف کوي ګرځي او راګرځي دپيشي څخه شي ساتل په دې کي حرج دئ ليس عليکم فی الدين من حرج پيشي معفو ده :

ددې څخه مفهوم مخالف را ولاړيږي هغه دادپيشي پسخورده حلاله ده بل شي که په کور کي ګرځيدي دهغه پسخور ده حلاله نه ده اوس که مار لړم پتنګ پرشي خوله کښيښوده بس

هغه پسخورده مرداره ده دا مفهوم مخالف معتبر نه دي ځکه مار لړم پتنګ دا دپیشي سره په ساکن البیوت او طواف کي برابر دي ځکه داهریو په کور کي ګرځي او راګرځي لهذا نه به اولی وي نه به مساوي دوهم شرط دمفتي فتوی به نه وي دسوال جواب به نه وي مثال مامفتي ته وویل داسونا ده سره زر په دې کي زکات سته مفتي وایي وو زکات پکښي دئ الزکات فیها واجبة زکات پکښي واجب دئ ددې مفهوم مخالف دا راوځي په سپینو زرو کي زکات نسته دا مفهوم مخالف معتبر نه دئ ځکه دغه عبارت چي الزکات فیها واجبة دئ دادسوال جواب دئ دریم شرط خاص حادثه به نه وي که خاص حادثه وه بیا مفهوم مخالف معتبر نه دئ.

منقض بن حبان رضی الله عنه په جنګ کي داغی ځغار سوي په د ماغ کي یې څه نقصان راغلی وو هر وخت به یې په سودا کي دوکه خوړله بله ورځ نبی علیه السلام ورته وویل چي ته سودا کوي خلګو ته وایه وَلِيَ الخيارُ ثلثة اثمام ما لره درې ورځي خیار دئ زما او ستا سوپه مینځ کي به دوکه نه وي ددې مفهوم مخالف دادئ چي منقض بن حبان رضی الله عنه تاته درې ورځي خیار سته بل چا ته نسته دا مفهوم مخالف معتبر نه دئ ځکه دا خاص حادثه ده څلور شرط په مقام دمدحي او ذم کي به نه وي یوه وویل زه د زمري زوي یم هغه بل ورته وویل اښه زه دګیدړي زوی یم:

پنځم شرط: قید به اتفاقي نه وي واقعي عادي به نه وي:

مثال وَرَبَائِبُكُمُ اللاتي فِيْ حُجُوْرِكُمْ دهغې ربیبه سره نکاح نسي کولای چي ستا په پالنه کي وي:

ربیبه چاته وایي ربیبه دیته وایي دا ښځه ده دایې میړه دئ دا یې لور ده اوس دئ میړه داښځه طلاق کړه یا میړه مړ سو دې ښځي بل خاوند وکړي دغه انجلۍ چي دمخکني میړه لوروه اوس دغه انجلۍ ددغه اوسني میړه ربیبه ده الله تعالی وایي دربیبې سره نکاح کول حرامه ده هغه ربیبه چي ستاسو په پالنه کي وي ددې څخه دار معلومیږي که ستا په ساتنه کي نه وه واده و رسره کولای سي حالانکي دربیبي سره مطلقا واده نسي کیدای دا قید

عادتي دئ تقريبا چي ښځه دچاکره لاړه سي نو بچيان به په پسي يې يعني لور هم ورسره وي:

پنځه پنځوسم سبق

فصل ومن الناس الخ :

تشريح: مفهوم مخالف دشپږو شيانو څخه ولاړيدی په دغه شپږو شيانو کي اول علم دئ.

دنن په منها کي دبِاَسْمِهِ توري راغلی :

فائده : اسم چي دفعل او حرف په مقابل کي راغلی دا اسم پر درې قسمه دئ ۱- علم ۲- اسم جنس ۳- صفت وجه دحصر يې داده اسم به خالي نه وي يا به پر ذات باندي دلالت کوي يا به پر ذات مع الوصف باندی دلالت کوي که يې پر ذات باندي دلالت کوي بيا ورته ګورو تعين پکښي دئ که نه دئ پکښي که تعين پکښی دئ نو علم دئ مثال زيد که تعين پکښي نه دئ نو اسم جنس دئ مثال انسان که يې پر ذا ت مع الوصف باندي دلالت کوي نو وصف صفت دئ مثال عالم په دغه منها کي چي اسم ذکر دئ ددې اسم څخه علم اسم جنس دواړه مراد دي داسم جنس مثال الماء من الماء دعلم مثال جاء عمرو.

شپږ پنځوسم سبق

ومنها ما قال الشافي رحمه الله:

دعبارت ترجمه: بعض له وجوه فاسده څخه يو وجه ده چي امام شافعي رحمه الله وايي، ان الحكم متى علق بشرط : حکم چي څه وخت توتړل سي په شرط باندي، او اضيف الى مسمى بوصف خاص :

او څه وخت چي حکم منسوب سي ومسمى بوصف خاص ته اوجب ذات نفى الحكم عند عدم الشرط او الوصف : نو ثابتوي هر يو نفی دحکم هغه وخت چي شرط نه وي وصف نه

وي، ولهذا لم يجوز نكاح الامة عند فوات الشرط اولوصف المذكورين فى قوله تعالى: دا غه خو وجه ده امام شافعي رحمه الله جواز نه ورکوي د مينځي ونکاح ته په هغه وخت کي چي شرط نه وي وصف نه وي داسي شرط او وصف چي دواړه ذکر دي په دې قول دخدای جل جلاله کي:

﴿وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا اَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنَاتِ فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِنْ فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ﴾

داية ترجمه: هغه څوک چي توان نه لري له تاسو له جهته دغناء ددې چي په نکاح کړي ازادي مؤمني ښځي نو (نکاح دی وکړي) له هغو ښځو چي مالکان سوي وي دهغوو ښي لاسونه ستاسي له وينځو ستاسي چي مومني وي که ستا سره دومره توان نه وو چي ته ددې مومني سره نکاح وکړي نو په دغه صورت کي ته دمينځي مومني سره نکاح وکړه دا نکاح جائز ده:

که ستا سره دومره توان وو چي ته دحري مؤمني سره نکاح وکړي نو په دغه صورت کي تاته جائز نه دي چي ته دمينځي مومني سره نکاح وکړي ځکه شرط نسته هغه شرط عدم الطول دئ دکتابيه مينځي سره نکاح کول جاز نه ده که څه هم شرط موجود وي هغه شرط عدم الطول دئ نکاح جائز نه ده ځکه وصف نسته هغه ايمان دئ په مينځ کي موږ ز مذهب دادئ که غني يې او که نه يې بيا هم دمينځي مومني او دمنځي کتابيه سره نکاح کول جائز دي:

وحاصله: حاصل دامام شافعي رحمه الله. انما لحق الوصف بالشرط: شرط چي څنګه کار کوي تړل کوي وصف هم هغه کار کوي تړل کوي يعني وصف داسي تړل کوي لکه شرط چي تړل کوي. و اعتبر التعليق بالشرط علما فى منع الحكم دون السبب: دوهم ده تعليق معتبر کړي په شرط باندي حکم نفی کوي منعه کوي سبب نه نفی کوي نه منعه کوي:

ومنها مال قال الشافعي رحمه الله الخ:

تشريح: شرط تعليق تړل کوي سړي وويل انت طالق اوس دلته شرط نسته وديته ارسال وايي ان دخلت الدار فانت طالق ان دخلت الدار دغه شرط دئ تعليق تړل کوي امام شافعي

رحمه الله وايي شرط تړل كوي وصف بعينه دا ركم تړل كوي لكه شرط چي تړل كوي مثال انت طالق راكبهٌ ته طلاقه يې په داسي حال كي چي ته پر اس باندي سپره يې مثال يو سړي وويل ان دخلت الدار فانت طالق :

وقوع الطلاق حكم دئ دوقوع الطلاق سبب فانت طالق دئ ان دخلت الدرا دا شرط دئ شرط تعليق تړل كوي اوس راسه شرط چي تعليق تړل كوي دا حكم تړي كه سبب تړي امام شافعي رحمه الله وايي ان دخلت الدار حكم (وقوع الطلاق) تړي سبب(فانت طالق) نه تړي احناف وايي ان دخلت تړي حكم (وقوع الطلاق) نه تړي يعني زموږ په نزد شرط عدم راولي هغه عدم اصلى دامام شافعي رحمه الله نزد شرط عدم راولي هغه عدم شرعي دخبري خلاصه داده زموږ په نزد باندي شرط سبب دزني ختم يې كړي داامام شافعي رحمه الله نزد باندي شرط حكم وژني :

اووه پنځوسم سبق

ولذالک ابطل تعليق الطلاق والعتاق بالملک :

دعبارت ترجمه: داغه خو وجه ده امام شافعي رحمه الله تعليق دطالق او دعتاق باطل كړي په ملک باندي:

وجوز التكفير بالمال قل الحنث لا الوجوب حاصل بالسبب على اصله : يو سړي قسم وكړي وي ويل زما دي دخداى په ذات قسم وي كه ما ددغه طالب سره خبري وكړي : كرار سړي وويل زه به ددغه طالب سره خبري كوم خو سړي دطالب سره خبري نه دي كړي ځان يې حانث كړي نه دي دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي كه دغه سړي تر حنث مخته كفاره وركړه نو دا كفاره جائز ده دغه سړي وروسته ځان حانث كړي :

زموږ په نزد باندي كه دغه سړي تر حنث مخته كفاره وركړه بيا دغه سړي ځان حانث كړي نو دحنث وروسته به هم كفاره وركوي:

مثال يو سړي وويل ان حنثت فعليّ كفارة : كه زه حانث سوم نو پر ما باندي كفاره ده: فعلى كفارة سبب دئ سبب دده په نزد باندي ژوندى دئ كه حنث راغلى وي او كه نه وي راغلى زموږ په نزد باندي سبب مړ دئ چي حنث راغلى بيا سبب په سد كي راسي ژوندي سي :

وجوز التكفير بالمال قبل الحنث :

امام شافعي رحمه الله جواز وركړي وكفاري بالمال ته مخته تر حنث دوه شيان دي ۱- نفس وجوب ۲- وجوب الاداء نفس وجوب راغلى په سبب باندي چي نفس وجوب راغلى نو عمل په وكړم وجوب الاداء وروسته ده دسبب ځخه په سبب دتعليق بالشرط **لان الوجوب حاصل بالسبب على اصله** :ځكه وجوب حاصل دئ په سبب باندي دامام شافعي پر قاعده او اصل باندي، **وجوب الاداء متراخ عنه بالشرط** : وجوب الاداء متراخى دئ دسبب ځخه په شرط باندي هغه شرط حنث دئ .

سوال: امام شافعي ستا قاعده غلطه ده زه به درورښيم ستا قاعده به وي خو بيا به هم ته عمل نهورباندي كوي :

مثال يو سړي وويل ان حنثت فعلى كفارة زه حانث سوم شريعت ماته وايي يا لس مسكينان ماړه كړه يا روژه ونيسه فعلى كفارة داسبب دمسكينانو دمړيدو هم دئ دروژې هم دئ :

موږ امام شافعي رحمه الله ته وايو دغه سړي تر حنث مخته روژه نسي امام شافعي ته اجازه وركوي وايي يا زه اجازه نه وركوم نو موږ وايو ولى اجازه نه وركوي خو سبب هم موجود دئ ژوندى دئ، ؟

جواب: يوه كفاره بالمال ده بله كفاره بالصوم ده ددې دواړو فرق سته په كفاره بالمال كي دوجوب او دداداء وجوب په مينځ كي فرق فاصله را تلاى سي په كفاره بالصوم كي دوجوب او دداداء وجوب په مينځ كي فرق فاصله نه راځي ځكه په ده كي وجوب نه دئ مګر وجوب دداداء په ده كي تراخي نسته يعني دوجوب او دداداء وجوب لهذا په واجب بدني كي وجوب او اداء وجوب نه سره جلا كيږى په واجب مالي كي دوجوب او دداداء وجوب په مينځ كي

احتمال دفصل سته مثال تا مو تړ سيکل را نيوی په شل زر روپی، تا ورته وويل يوه مياشت وروسته پيسې درکوم اوس چي څنګه تا موتړ سيکل را نيوی بس نفس وجوب راغلی وجوب اداء يوه مياشت وروسته راځي **والمالي يحتمل الفصل بين وجوبه ووجوب اداء:** واجب مالی احتمال لري دفصل دبرد ابنت بين وجوبه ووجوب ا دائه، **اما البدني فلا يحتمل الفصل**: واجب بدني احتمال دفصل دبرد ابنت نه لري، **فلما تاخر الاداء لم يبق الوجوب**: هرکله چي اداء وروسته سي نو به وجوب پاته نسي:

ولذالک ابطل تعليق الطلاق والعتاق بالملک الخ:

تشريح: ان دخلت الدار فانت طالق: زموږ پر مذهب باندي سبب مړ دئ کار نسي کولای دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي سبب ژوندی دئ کار کوي مثال سړي پر دې انجلۍ ته وويل اِنْ نَكَحْتُكِ فانتِ طَالِقٌ که ما ستاسره نکاح وکړه نو ته طلاقه يې فانت طالق سبب دئ دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي سبب ژوندي دي اوس کرار سړي دانجلۍ سره نکاح وکړه چي نکاح وسوه فانت طالق کرار انجلۍ ته وکتل چي وي کتل فانت طالق بې محله وو چي بې محله وو نو طلاق نه سته کلام لغوه دئ ځکه فانت طالق

بې محله دئ سبب لره به په محل کي ملک وي دلته ملک په محل کي نسته ګويا کي سړي پر دې ښځي ته وويل فانت طالق زموږ په نزد باندي چي نکاح راغله فانت طالق په سد کي سو چي ښځي ته يې وکتل محل يې وو بس طلاق راغلی يو سړي دبل چا غلام ته وويل ان اشتريتک فانت حر: امام شافعي رحمه الله وايي دا کلام لغوه دئ ځکه فی لحال دده غلام نه دئ دبل چا غلام دئ دبل چا په غلام کي ملک نسته چي ملک نسته نو سبب بې محله سو چي سبب بې محله سو نو عتاق نه راځي زموږ په مذهب باندي فانت حر سبب مړ دئ چي کله سړي غلام رانيوي فانت حر چي سبب دئ د ا سبب په سد کي راغلی چي وي کتل غلام بې محل وو بس غلام ازاد سو .

اته پنځوسم سبق

وانانقول بان اقصى درجات الوصف اذا كان مؤثرا ان يكون علة لحكم:

دعبارت ترجمه: موږ وايو په جواب کي هغه زوروره درجه دوصف چي کله دئ موثر وي هغه داده چي دی علت سي دحکم دپاره لکه په دې قول دخداي جل جلا له کي الزاني والسارق:

ولا اثر للعلة فى النفى بلا خلاف:

حال دا علت په نفي کي اثر نه لري بلا خلافه :

ولو كان شرطا : كه چيري شرط سي، **فالشرط داخل على السبب دون الحكم:** شرط داخل وي پر سبب باندي نه پر حکم باندي ، **فمنعه من اتصاله بمحله :** نو شرط دغه سبب را ګرځوي ددې څخه چي دی دئ متصل سي دمحل سره ، **وبدون الاتصال بالمحل لاينعقد سببا :**

انت طالق چي د وقوع الطلاق سره متصل نه سو پر واقعه نه سو نو دي منعقد نه دئ ا زرويي سبب دئ مړ دئ، چي شرط راسي سبب مړ سي ګويا کی سبب نسته اوس راسه ددې دپاره دليل چي شرط راسي سبب مړ سي ګويا کي سبب نسته مثال يو سړي قسم وکړ وايي زما دي دخدای په ذات قسم وي که ما خپلي ښځي ته طلاق ورکړی کزاريي بله ورځ ښځي ته طلاق ورکړي داسي يې وويل ان دخلت الدار فانت طالق علماء وايي دا سړي پخپل قسم کي حانث نه دئ ولي انت طالق مړ دئ ژوندي نه دئ ، **ولهذا لو حلف لا يطلق :** دا غه خو وجه ده سړي قسم وکړي ښځي ته طلاق نه ورکوم ، **فعلق الطلاق بالشرط:** نو طلاق يې وتړی په شرط باندی، **لا يحنث مالم يوجد الشرط** دا سړي نه حانث کيږی تر څو پوري چي شرط نه وي موجود :

وانانقول بان اقصى الخ :

تشريح: په دغه عبارت باندي مصنف امام شافعي رحمه الله ته جواب ورکوي مخته تر جواب يو تمهيد وايو هغه دا وصف پر دري قسمه دئ ۱- وصف عادي ۲- وصف شرطي ۳- وصف علتي ، وصف عادتي ديته وايي چي عادة اتفاقا ذکر وي نور نه شرط وي نه علت وي نه سبب وي :

مثال وَرَبَائِبُكُمُ الّٰتِيْ فِيْ حُجُوْرِكُمْ :

اَلّٰتِيْ فِيْ حُجُوْرِكُمْ دادرَبَائِبُكُمْ دپاره وصف عادتي اتفاقي ذکر سوي.ددې سره حکم کار نه لري وصف شرطي ديته وايي چي دشرط رکم کردار ادا کوي :

مثال : من فَتَيَاتِكُمُ المومناتِ :

المؤمنات داسي وصف دئ ګوياکي الله تعالی داسي ويلي من فتيٰتِكُمْ ان کانت مؤمنة ديته وصف شرطی وايي دشرط رکم کردار ادا کوي وصف علتي ديته وايي دا مسند اليه دئ دا حکم پر لګيدلې دئ دامسند اليه موصوف بصفة دئ دا وصف ددغه حکم دپاره علت وي يعني دا مشتقي دئ پر دې مشتقي باندي يو حکم لګيدلې په دغه مشتقي کي يو وصف وي هغه وصف ددې حکم دپاره علت وي:

مثال الرحمنُ عَلَّمَ القُران په الرحمن کي رحمت دئ رحمت دتعليم القران دپاره علت دئ الله پاک ولی يو چاته تعليم دقران ورکوي ځکه الله پاک رحمت والا ذات دئ الزانية والزاني فاجلدو کل واحد منهما مائة جلدة په الزاني کي زناء ده زنا وصف دي داوصف علت دئ دجلد دپاره والسارق والسارقة فاقطعوا ايديهما : په السارق کي سرقه ده سرقه وصف دئ دا وصف علت د ئ دقطع دپاره موږ امام شافعي رحمه الله ته جواب ورکوو په ټولو وصفو کي تر ټولو زورور وصف وصف علتي دئ قانون دادئ دوصف علتي په عدم باندي عدم دحکم نه راځي يعني حکم پر وصف علتي باندي نه را تاويږي دا ضروری نه ده چي وصف علتي نه وي نو حکم به هم نه وي چي په وصف علتي کي داضروری نه دي نو په وصف

عادتي اتفاقي وصف شرطي کي په طريقه اولي ضرروي نه دي لهذا دا وصف ته ولي په شرط پوري تړي په شرط کي قانون دا دئ چي شرط نه وي نو هغه شي به هم نه وي:

وصف علتي سبب وي د حکم دپاره حکم د وصف علتي د هستي او د نيستي سره کار نه لري ولي حکم دئ وي دغه سبب دئ نه وي بل سبب دي وي د دغه حکم دپاره لهذا حکم، مسبب، د سبب د هستي نيستي سره کار نه لري ولي د مسبب دپاره اسباب ډير دي د حکم دپاره دي دغه سبب نه وي بل سبب دي وي چي حکم د وصف علتي د هستي نيستي دي او نه دي سره کار نه لري نو حکم د وصف عادتي وصف شرطی د هستي نيستي سره په طريقه اولی کار نه لري لهذا دغه وصف خاص شرط بلل غلطه خبره ده مثال يو سړي وايي زما باغ سږ کال خراب سو دباغ دخرابيدو دپاره يو سبب ژلئ ده يو سبب يې يخ دئ مثلا همداسي نور سړي سړي وويل زما باغ سږ کال خراب سو بل سړي ورته وويل ولی خراب سو سږ کال خو ږلی هم نه وه سړي ورته وويل ږلی نه دئ خراب کړي يخ خراب کړ يا باغ مرض خراب کړي نو ګوره دباغ دخرابيدو يو سبب نسته چي ږلی ده لهذا د سبب عدم د مسبب عدم نه راولي، ولي د دې مسبب دپاره نور اسباب موجود دی چي يخ دئ مرض دئ دا خو وصف علتي وو اوس راسه وصف شرطي ته وصف شرطي د سبب سره کار لري د حکم سره کار نه لري چي وصف شرطي د حکم سره کار نه لري نو هغه وصف چي په منزله د شرط وي هغه په څنګه کار ولري دی وايي داستاسو اصول د ي چي د حکم سره کار نه لري زه خو وايم د حکم سره کارلري موږ وايو يا تا غلط اصول جوړ کړي شرط د حکم سره کار نه لري د سبب سره کار لري ولي قانون دا دئ شرط پر معدوماتو نه دا خليږي شرط پر موجوداتو داخليږي مثلا ان دخلت الدار فانت طالق په دغه عبارت کي انت طالق ذکر دئ وقوع الطلاق ذکر نه دئ انت طالق موجود دئ وقوع الطلاق موجود نه دئ لهذا چي شرط د سبب سره کار لري د حکم سره کار نه لري نو هغه وصف چي پر منزله د شرط وي دا هم د سبب سره کار لري د حکم سره کار نه لري:

دټولي خبري خلاصه: داده په ټولو وصفوو کي زورور وصف، وصف علتي دئ د وصف علتي عدم د حکم د عدم نه راولي:

که ته وايي هغه وصف چي پرمنزله دشرط وي هغه وصف به دحکم سره کار لري موږ وايو عين شرط دحکم سره کار نه لري دسبب سره کار لري ولي شرط پر موجوداتو باندي داخليږي پر معدوماتو باندی نه داخليږي په عبارت انت طالق سبب موجود ئ په عبارت کي وقوع الطلاق چي حکم دئ دا حکم موجود نه دئ عموم دئ نو هغه وصف چي په منزله دشرط وي هغه هم دحکم سره کار نه لري:

نه پنځوسم سبق

وهذا بخلاف خيار الشرط فی البيع :

دعبارت ترجمه: دغه مخکني مسئله مخالفه ده دخيار الشرط فی البيع څخه **لان الخيار داخل علی الحکم دون السبب :**

څکه خيار داخل دئ پر حکم باندي نه پر سبب باندي، **ولهذا لو حلف لا يبيع :**

داغه خو وجه ده سړي قسم وکړي وي ويل والله که زه بيعه وکړم **فباع بشرط الخيار**: سړي بيعه وکړه په شرط الخيار باندي، **يحنث :** نو داسړي حانث دئ، **واذا ثبت ان التعليق تصرف فی السبب باعدامه الی زمانه وجود الشرط لا فی احکامه:**

هر کله چي دا ثابته سوه چي تعليق تصرف کوي په سبب کي سبب به مړ وي ترڅو پوي چي شرط راځي تعليق بالشرط تصرف نه کي په حکم کي دسبب، **صح تعليق الطلاق والعتاق بالملک :** نو صحيح سو تعليق دطلاق او دعتاق په ملک باندي، **وبطل التکفير بالمال قبل الحنث :** کفاره بالمال وركول مخته تر حنث باطله ده:

امام شافعي رحمه الله دواجب مالی او دواجب بدني فرق کړي په واجب مالی کي نفس وجوب او وجوب ادا څنه سره خوري په واجب بدني کي نفس وجوب او وجوب اداء څنه نه سره خوري ولی په واجب بدني کي وجوب نه دئ مگر وجوب اداء مصنف پر امام شافعي رحمه الله باندي رد کوي وايي دمالي او دبدني فرق نسته په مالي کي هم وجوب او اداء

وجوب يو شي دئ لکه په بدني کي امام شافعي رحمه الله و ايي کفاره بالمال مخته تر حنث ورکولای سي ځکه وجوب او وجوب اداء ځنې خوري کفاره بالصوم مخته تر حنث نسي کولای ولي وجوب نه دئ مګر وجوب اداء ځنې نه سره خوري موږ وايو هيڅ فرق يې نسته په مالي کي هم وجوب عين وجوب اداء دئ يو دبندګانو په حقله مجلس دئ يو دالله په حقله مجلس دئ ددې دواړو فرق سته امام شافعی رحمه الله دالله حق دبندګانو پر حق ور قياس کړي:

عمرو دزيد څخه موټر سيکل را نيوي عمرو، ورته وويل يو ه مياشت وروسته پيسي درکوم چي څنګه سودا وسوه نفس وجوب راغلی وجوب ا داء يوه مياشت وورسته راځي خو دا دبنده حق دئ دبنده په حق کي مقصود عين مال وي پيسې وي دبنده په حق کي وجوب او وجوب اداء ځنې خوري:

کفاره بالمال دالله تعالی سره معامله ده دالله حق دئ په مالي کي دالله حق ادايي ګي ده پيسې نه دي عين مال نه دئ مال اله ده الله تعالی چي موږ ته وايي لس مسکينان ماړه کړه دالله تعالی کار دادايګی سره دئ د مال سره نه دئ دبنده کار دپيسو دعين مال سره دئ امام شافعي رحمه الله تا چي دالله حق دبنده پر حق قياس کړي دا قياس دي قياس مع الفارق دئ:

وفرقه بين المالى والبدني ساقط: فرق دامام شافعي رحمه الله چي ا مام شافعي رحمه الله فرق کړي دمالي او بدني دا فرق ساقط دئ، **لان حق الله تعالى فى المالى فعل الاداء والمال الة ځکه** حق دالله تعالی په مالی کي فعل الاداء دئ مال اله داداء ده، **وانما يقصد عين المال فى حقوق العباد :** دبندګانو په حق کي مقصود عين مال دئ:

وهذا بخلاف خيار الشرط فى البيع الخ :

تشريح : امام شافعي رحمه الله وايي تاسو وويل شرط پر سبب باندي داخل وي پر حکم باندي داخل نه وي امام شافعي رحمه الله وايي زه هم داسي دليل لرم چي شرط به پر حکم باندي داخل وي پر سبب باندي به داخل نه وي مثال يو سړي قسم وکړي وي ويل زما دي دخدای په ذات قسم وي که ما بيعه سودا وکړه کرار سړي بيعه سودا وکړه په خيار الشرط

باندي تاسوهم واياست احنافو چي داسړي په خيار الشرط باندي حانث دئ شرط پر سودا نه دئ داخل شرط پر دا دسودا پر حكم باندي داخل دئ مثال زيد وعمرو ته وويل موټر سيكل را نيسي عمرو وزيد ته وويل موټر سيكل را نيسم په دې شرط كه زما دورور خوښه وه ، شريعت وايي سودا وسوه كه يې ور ور خوښه كړه ګوره سودا وسوه بيا نوي سودا نه غواړي شرط دسبب سره كار نه لري حكم يې وتړي صرف دئ يې مالك هغه وخت جوړيږي چي دورور يې خوښه وي:

دورور خوښيدی دسودا سره كار نه لري دملک سره كار لري:

نو معلومه سوه چي شرط حكم تړي د سبب سره كار نلري امام شافعي رحمه الله حريت او طلاق پر سودا ور قياسوي په سودا كي شرط حكم تړي دسبب سره كار نه لري په دغه دو مسئلو كي چي حريت دئ طلاق دئ دلته هم شرط دحكم سره كار لري دسبب سره كار نه لرى موږ وايو يا ددا دوو مسئلو فرق سته هغه فرق دادئ په حريت او طلاق كي شرط پر سبب داخليږي پر حكم باندي نه داخليږي په خيار الشرط كي شرط پر حكم باندي داخليږي پر سنبب باندي نه داخليږي ولی بيعه داثباتاتو دقبيلي څخه ده حريت طلاق داسقاطاتو دقبيلي څخه دي بيعه ملک ثابتوي حريت ا و طلاق ملک ختموي لهذا دا نه سره قياسيږي اوس راسه بيعه ولي دحكم سره كار لري دسبب سره كار نه لري دحريت او دطلاق په مسئله كي شرط دسبب سره كار لري دحكم سره كار نه لري داولي موږ وايو په بيعه كي كه شرط پر سبب داخل سي نه پر حكم باندي بيا تاوان ور څخه پيښيږي په حريت او طلاق كی دا تاون نسته په بيعه كي هغه تاوان قمار (خومار) دئ دغه تاون په حريت ا و طلاق كي نسته يو متردد كار كول چي وه به سي كه به ونه سي ودغه ته قمار وايي مثال ته ماته وايي دغه موټر سيكل رانيسي زه درته وايم زه دغه چكه غورځوم كه چكه راغله بس سو دا وسوه كه چكه رانه غله بس سودا نسته اوس دا امكان سته چي چكه دي راسي او دا امكان هم سته چي چكه رانه سي ګوره دا كار امر تتردد دئ ديته قمار وايي خو مار وايي:

زید چي پر عمرو، باندي موټر سیکل خرڅوي اوس دا امکان لري چي دعمرو د ورور دي خوښه سي دا امکان هم لري چي دعمرو دورور دي خوښه نه سي کار متردد دئ قمار ورځخه جوړيږي، نو موږ را ولاړیږو په شرط باندی حکم تړو سبب نه په تړو :

حکم ملک دئ سبب سودا ده :

قمار په اثباتاتو کي راځي قمار په اسقاطاتو کي نه راځي:

دخبري خلاصه داده: مثال ان حنثت فعلی کفارة یوه کفاره بالمال ده چي لس مسکينان مړول دي بله کفاره بالصوم ده امام شافعي رحمه الله کفاره بالمال جائز کړي مخته تر حنث ځکه په واجب مالي کی نفس وجوب او اداء وجوب ځنې خوري سره جلا کیږی کفاره بالصوم بدني ده روژه مخته تر حنث جائز نه ده ځکه په واجب بدني کي نفس وجوب او وجوب اداء ځنې نه خوري نه سره جلا کیږي نفس وجوب عین وجوب اداء دئ یو واجب مالی دبنده دئ بل واجب مالی دالله تعالی دئ موږ امام شافعي ته وایو ته واجب مالي دالله تعالی قیاسوي پر واجب مالی دبنده دغه قیاس، قیاس مع الفارق دئ :

ځکه په واجب مالی دبنده کي نفس وجوب او وجوب اداء ځنې خوري سره جلا کیږي ولی دبنده مقصود عین مال دئ پیسې دي په واجب مالی دالله تعالی کي نفس وجوب عین اداء وجوب دئ نه سره جلا کیږي ولی دالله حق په مالی کي ادايګي ده عین مال نه دئ.

شپیتم سبق

دعبارت ترجمه: دوجوه فاسده څخه یوه وجه ده امام شافعي رحمه الله وايي: **ان المطلق محمول علی المقید :** مطلق حمل دئ پر مقید باندي، وان کانا في حادثتين که څه هم مطلق او مقید په دوو حادثو کي وي **مثل کفارة القتل وسائر الکفارات:** لکه کفاره د قتل او باقي کفارات لکه کفاره دظهار او دیمین، **لان قید الایمان زیادة وصف یجري مجري الشرط :** ځکه قید دایمان زیات وصف دئ داسي وصف چي جاري کیږي پر ځای دشرط، **فیوجب نفی الحکم عند عدمه فی المنصوص علیه :** په منصوص علیه کي که وصف نه وو حکم هم نسته

په کفاره دقتل کې که تا تحریر د رقبې وکړې خو رقبه مومنه نه وه بس حکم هسې لاړې ولې وصف نسته . **ونظيره من الكفارات:** په نظیرې د منصوص علیه کې چې هغه عبارت دئ د کفاراتو څخه لکه کفاره د ظهار . **لانها جنس واحد:** ځکه د غه کفارات يو جنس دئ **وعندنا لا يحمل المطلق على المقيد :**

زموږ په نزد باندې مطلق پر مقيد باندې نه حمل کيږي ، **وان كانا فى حادثة واحدة بعد ان يكونا في حكمين لا مكان العمل بهما :**

که څه هم دوې په يوه حادثه کې وي په دوو حادثو کې په طريقه اولى مطلق نه حمل کيږي پر مقيد باندې:

بعد ان يكونا : وروسته چې دوې وي په دوو حکمو کې:

ومن هذه الجملة ما قال الشافعي رحمه الله الخ:

تشريح: دا مطلق دئ دا مقيد دئ امام شافعي رحمه الله مطلق حمل کوی پر مقيد باندې، دوه حکمه راغلی يو مطلق بل مقيد په دوو حادثو کې راغله امام شافعي رحمه الله وايي د دغه حادثې حکم چې مطلق دئ دا به حمل کيږی د هغې حادثې پر حکم باندې چې مقيد دئ که دوه حکمه په يوه حادثه کې وه هلته مطلق پر مقيد باندې په طريقه اولى باندې حمل کيږي:

زموږ اصول دادي والمطلق يجري على اطلاقه والمقيد يجري على تقييده برابره خبره ده په يوه حادثه کې وي که په دوو حادثو کې وي که حادثه يوه وه هلته مطلق پر خپل اطلاق جاري کيږي مقيد پر خپل تقيد باندې جاري کيږي که حادثې دوې وي هلته په طريقه اولى باندې مطلق پر خپل اطلاق جاري کيږي مقيد پر خپل تقيد جاري کيږي زموږ دليل دادئ خدای جل جلاله ته معلومه وه که نه وه معلومه خدای جل جلالهٗ ته معلومه وه ابنه چې خدای جل جلاله ته معلومه وه نو بيا خدای جل جلاله مطلق دلويه سره ولې نه مقيد کوي چې خدای جل جلاله دلويه سره مطلق مقيد کړي نه دئ نو معلومه سوه چې مطلق پر خپل اطلاق باندې

جاري كيږي مقيد پر خپل تقيد باندي جاري كيږي ولى الله جل جلاله په بعضو او قاتو كي اساني غواړي په بعضو او قاتو كي لږ سختي غواړي د اساني حكم راته مطلق كړي د سختي حكم راته مقيد كړي لهذا يو ځاى الله جل جلاله حكم مطلق غواړي بل ځاى مقيد غواړي:

خلاصه: د خبري خلاصه داده چي كله حكم يو وي حادثې دوي وي كله حكم يو وي حادثه هم يوه وي كله حكمونه دوه وي حادثې هم دوې وي امام شافعي رحمه الله مطلق حمل كوي پر مقيد باندي موږ مطلق نه حمل كوو پر مقيد باندي:

مثال وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ دا د قتل حادثه ده دلته الله جل جلاله تحرير درقبې مقيد كړي په مُؤْمِنَةً باندي:

په كفاره دظهار كي الله جل جلاله وايي فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ امام شافعي رحمه الله وايي دا حادثه به قياسوي دقتل پر حادثه باندي ولي دده په نزد باندي وصف داسي دئ لكه شرط كه ته وايي قياس علت مشترک غوړاي دلته علت مشتركه څه شي دئ وايي دلته علت مشتركه كفاره ده هغه هم كفاره دا هم كفاره يعني دقتل او دظهار علت مشتركه كفاره ده داهغه صورت دئ چي حكم يو دئ هغه حكم تحرير درقبي دئ ليكن حادثي دوي دئ يوه حادثه دقتل ده بله حادثه دظهار ده امام شافعي رحمه الله دا حادثه قياسوي دقتل پر حادثه باندي:

دوهم صورت حكمونه دوه حادثه يوه لكه ظهار ظهار يوه حادثه ده ظهار ديته وايي چي دغير محرمي دښكاره اندامو تشبيه وركړي د محرمي سره لكه سړي وايي خپلې ښځي ته مخ دئ را باندي دى دئ لكه زما دمور مخ ظهار يوه حادثه ده دري يي حكمونه دى ١- يو حكم يې دادي فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَتَمَا سَّا نو به ازادوي مريي دمخه دهغه چي يو بل سره مسه كړي:

دويم حكم دادي فمن لم يجد فصيام شهرين متتابعين من قبل ان يَتماسّا پس هغه چا چي پيدا نه كړ (مريي) نو به روژې نيسي دوي مياشتي پر له پسې دمخه له هغه چي يو بل سره مسه كړي:

دريم حكم دادئ فَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا هغه څوک چي توان نه لري نو به طعام ورکوي شپيتو مسکينانو ته الله جل جلاله دوه حکمونه مقيد کړي دي هغه دوه حکمونه دادي ١- يو حکم يې دادئ فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍمِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَاسَّا نو به ازادوي مريي دمخه دهغه چي يو بل سره مسه کړي :

دويم حکم دادي فمن لم يجد فصيام شهرين متتابعين من قبل ان يّتما سهَا پس هغه ا چي پيدا نه کړ (مريي) نوبه روژه نيسي دوي مياشتي پر له پسې دمخه له هغه چي يو بل سره مسه کړي :

دريم دادي فَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَاطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا هغه څوک چي توان نه لري نو به طعام ورکوي شپيتو مسکينانو ته الله جل جلاله دوه حکمونه مقيد کړی دی هغه دوه حکمونه دادي ١- فتحرير رقبة من قبل ان يتما سهَا ٢- فصيام شهرين متتابعين من قبل ان يتما سا يو حکم مقيد نه دئ هغه حکم دادئ فاطعام ستين مسکينا ا مام شافعي رحمه الله وايي دغه حکم (فاطعام ستين مسکينا) مقيد دئ په من قبل ان يتماسا باندي ولی مطلق حمل دئ پر مقيد باندي که سړی يوه مياشت روژې ونيولې بيا يې جماع وکړه نو به دسره روژې نيسي ولی دا مقيد دئ مقيد په خپل تقيد باندي جاري کيږی :

که سړي ديرشو مسکينانو ته طعام ورکړی بيا يې جماع وکړه نو طعام راګر ځيدل نه غواړی ولي مطلق په خپل اطلاق باندي جاري کيږي :

امام شافعي رحمه الله وايي اطعام راګرځيدل غواړی ولي مطلق حمل دئ پر مقيد باندي:

که حکمونه دوه وه حادثي هم دوي وي بيا هم امام شافعي رحمه الله مطلق حمل کوي پر مقيد باندي، **ومن هذه الجملة ما قال الشافعي رحمه الله :**

لامكان العمل بهما : ځکه عمل په دواړو باندي ممکن دئ :

دعبارت ترجمه: داسړي به استينا ف کوی دسره به روژي راګرځوي ، **ولو قربها في خلاف الاطعام لم يستانف :** که سړي جماع وکړه دطعام په مينځ کي نو استيناف نه غواړي، **لان شرط الاخلاء عن المسيس من ضرورة شرط التقديم على المسيس :** ځکه شرط هغه شرط چي اخلاء دصوم او داعتاق ه به وي دجماع څخه شرط يې تقديم دئ پر مسيس (جماع) باندي **وذالک منصوص عليه في الاعتقاد والصوم :**

دغه تقديم منصوص عليه دئ په اعتاق او په روژه کي ، **دون الاطعام :** نه په طعام کی يعني په طعام کي تقديم منصوص عليه نه دئ :

تشريح: امام شافعي رحمه الله قياس کوی موږ وايو قياس مه کوه قياس خو په غير منصوص عليه شي کي کيږي لکه چرس :

اوس دا مسئله ورباندي تفريع کيږي :

يو سړي ديرش مسکينان ماړه کړه بيا يې جماع وکړه بيايي ديرش نور مسکينان ماړه کړه په دغه صورت کي استيناف نه غواړي که يو سړي ديرش روژي ونيولي بيا يې جماع وکړه نو دا سړی به استيناف کوي بيرته به روژي دسره نيسي امام ابو حنيفه او امام محمد رحمها الله وايي داسي سړي به په روژو کي استيناف کوي که يې په مينځ دروژي کي جماع وکړي امام شافعي او امام ابو يوسف رحمهما الله مذهب دادئ د وي وايي که څه هم الله جل جلاله دا قيد لګولي من قبل ان يتماسا بس دا سړي دئ ديرش نوري روژي پوره کړي استيناف نه غواړي صرف داسړي ګناه ګاره دئ ولي الله جل جلاله قيد لګولي ده په قيد باندي عمل نه وکړي :

که ته وايي امام شافعي رحمه الله قيد ته ډير زور وروهي بيا هم وايي استيناف نه غواړي امام ابو حنيفه قيد ته زور نه وروهي بيا هم وايي استيناف غواړي داولي څه وجه ده، نو موږ وايو من قبل ان يتماسا داقيد الله جل جلاله رروژو ته ورولګوي دوي خبري يې موږ ته وکړي يوه خبره داده روژه به دجماع څخه خالي وي دوهمه خبره داده روژه به تر جماع مخته وي سړي چي دروژو په مينځ کي جماع وکړه په يوه خبره باندي عمل نه وسو هغه دا روژي

دجماع څخه خالي نه سوي دوهمه خبره داوه روژې به ترجماع مخته وي دلته بعضي مخته سوي بعضي نه دي مخته سوي لهذا موږ وايو دا سړي به استيناف كوي:

دوي وايي كه داسړي استيناف ونه كړي نو ديرش روژې به تر جماع مخته سي كه داسړي استيناف وكړي نو ټولي روزي به تر جماع وروسته سى ولي ته دوي مياشتي نوري روژې نيسي جماع ورباندي مخته سوه موږ وايو اصلي دويم حكم دئ:

هغه ده روژې به دجماع څخه خالي وي زموږ پر مذهب باندي كه سړي استيناف وكړي نو به پر دويم حكم باندي عمل وسي كه سړي استيناف وكړي نو به روژې دجماع څخه خالي سى:

دامام شافعي حرمه الله پر مذهب باندي كه سړي استيناف ونه كړي نو عمل په دويم حكم باندي نه ارځي:

قال ابو حنيفه رحمه الله ومحمد رحمه الله فيمن قرب التي ظاهر منها فى خلاف الصوم ليلا عامدا او نهارا ناسيا:

امام او ابو حنيفه او امام محمد رحمهم الله ويلي دي كه سړي جماع وكړه دهغې ښځې سره چي ظهار ورسره سوي دا جماع يې وكړه دروژې په مينځ كي برابره خبره ده جماع يې دشپې قصدا كړي وي او كه يې دورځي په هيره جماع كړى وي، انه يستأنف:

يو شپيتم سبق

دعبارت ترجمه: هر كله چي اطلاق او تقييد پر سبب باندي داخل سي. **يجري كل واحد منهما على سنته:**

نو هر يو جاري كيږي پر خپله طريقه باندي **كما قلنا فى صدقة الفطر:** لكه موږ وايو په صدقة الفطر كي. **انه يجب اداؤها عن العبد الكافر بالنص المطلق باسم العبد وعن العبد المسلم بالنص المقيد بالاسلام:** اداء دصدقة الفطر واجب ده دعبد كافر په هغه نص مطلق چي واقع دئ باسم العبد او اداء دصدقة الفطر واجب ده دعبد مسلم په هغه نص چي مقيد

دئ په اسلام باندي **لانه لامزاحمة فی الاسباب** : ځکه په اسبابو کي مزاحمت نسته مثال زيد ديو شي مالک سو دا ملک کله دتجارت په لاره وي کله دهبي په لاره وي کله به دا شي زيد پيدا کړی وي لکه په دا شي زيد ته په ميراث پاته وی ګوره دشي دملک څلور اسباب سوه :

لهذا په اسبابو کی مزاحمت نسته کله به يو شي سبب وي کله به بل شي سبب وي کله به بل شي سبب وي.

فوجب الجمع : جمعه ثابته سوه **وهو نظير ما سبق الخ** :

طلاق کله مقيد معلق وي کله مطلق مرسل وي مثال ان دخلت الدار فانت طالق دلته طلاق معلق دئ په شرط باندي :

بله ورځ ښځي ته سړي ووېل ثلثا طلاقه يې دلته طلاق مرسل دئ مطلق دئ لهذا دطلاق وجود په تعليق سره هم راځي په ارسال سره هم راځي صدقة الفطر هم کله مطلق وي کله مقيد وي په دواړو طريقو سره راځي :

وهو نظير ماسبق: دغه نه حمل دمطلق پر مقيد باندي دا نظير دماسبق دئ **ان التعليق بالشرط لا يوجب النفي عند عدمه**:

تعليق بالشرط دانه واجبوي که شرط نه وو: نو حکم به هم نه وي شرط دئ نه وي حکم دي وي دارسال په لاره باندي ، **فصار الحکم الواحد قبل وجوده معلقا ومرسلا**: يو حکم مخته تر وجود معلق هم کيدای سي مرسل هم کيدای سي:

لان الارسال والتعليق يتنافينان وجودا:

کوم حکم چي تعليق په وجود کي راولي بيا دغه حکم چي تعليق يې په وجود کي را وستلي دغه حکم ارسال په وجود کي نسي راوستي ځکه ارسال او تعليق دا دواړه متنافيان دي ازروئي وجود مګر داسي کيدای سي چي طلاق تعليق په وجود کي راولي دا سي هم کيدای سي چي طلاق دي ارسال په وجود کي راولي :

دخبري خلاصه داده دا ممکنه نه ده چی وجود دیوه حکم دي ثابت سي په دواړو باندي هم په تعلیق هم په ارسال ان د خلت الدار فانت طالق ښځه کور ته ننوته نو طلاقه سوه اوس ته داسي نسي ویلای چي دا طلاق ارسال په وجود کي راو ستي **واما قبل وجوده:** حکم موجود نه دئ اوس حکم په تعلیق سره هم په وجود کي راځي په ارسال سره هم په وجود کی راځي **فهو معلق بالشرط:** دا معلق دئ په شرط باندي **ای معدوم:** نسته ، **يتعلق وجود بالشرط** دغه حکم په وجود کي راځي په شرط باندي **ومرسل عن الشرط:** مطلق دئ دشرط څخه **اي معدوم محتمل للوجد قبله** : حکم معدوم دئ حکم دي په وجود کي راسي په بل سبب باندي شرط دئ نه وی :

والعدم الاصلي کان محتملا للوجود :

عدم اصلی محتمل دوجود دي په ارسال باندي یا په تعلیق باندي:

ولم يتبدل العدم: عدم اصلی نه بدلیږي **فصار محتملا للوجود بطريقين:**

عدم اصلی محتمل دوجود دئ په دوو طریقو یو په ارسال باندي بل په تعلیق باندي :

و کذالک اذا دخل الاطلاق والتقييد فی السبب الخ :

تشريح: داسبب دئ خو دا سبب مقید بقید دئ بل ځای نص راغلی هلته سبب استعمال سوي خو داسبب مقید نه دئ لهذا په یوه نص کي سبب مقید بقید دئ په بل نص کي سبب مقید بقید نه دئ زموږ داحنافو مذهب دادئ پر مطلق باندي.به جلا عمل کوي په مقید باندي به جلا عمل کوي مطلق به پر مقید باندی نه حمل کیږي امام شافعي رحمه الله وایي حکم چي به مقید او مطلق وو نو به مطلق حمل کیدی پر مقید باندي سبب چي مطلق او مقید راسي نو به مطلق حمل کیږي پر مقید باندي موږ وایو مطلق پر مقید باندي نه حمل کیږي مثال صدقة الفطر :

صدقة الفطر دخدای جل جلاله حکم دئ چي صدقة الفطر به ورکوی سر یې سبب دئ چي ښځه داختر په سهار کوچني پیدا سو سبب راغلی بس صدقة الفطر به ورکوی :

دوه نصه راغلی دي يو نص دادئ اَدوهَا عَنْ كُلِّ حَرٍ وَعَبْدٍ : گوره په دغه نص كي قيد نسته يعني عبد او حر مقيد نه دي دوهم نص دادي ادوها عن كل حر وعبد مسلمين دلته حر او عبد مقيد دي په قيد د اسلام:

امام شافعي رحمه الله مطلق حمل كوي پر مقيد باندي دده پر مذهب باندي دا مسئله راووته كه غلام كافر وو بيا صدقة الفطر نسته زموږ پر مذهب باندي صدقة الفطر سته كه كافر وي كه مسلمان وي موږ په هر يوه جلاجلا عمل كوو، **وكذالک اذا دخل الاطلاق والتقييد في السبب:**

دوه شپيتم سبق

ومنها ما قال بعضهم:

دعبارت ترجمه: دوجوه فاسده څخه يوه وجه ده بعضي وايي، **ان العام يخص بسببه:** عام خاص وي تر سبب پوري هغه سبب سوال وي كه حادثه وي: دغه عام كه تابل ځای ثابتوي نو دابه يا په قياس سره وي يا په دلالة النص سره زموږ په نزد باندي عام تر سبب پوري خاص نه دئ :

دليل : حد قذف دحضرت عائشه رضی الله عنها په باره كي راغلی ليكن حد قذف يوازي تر عائشه رضی الله عنها پوری خاص نه دئ حد قذف وټول امت ته عام دئ، دظهار مسئله دخولة امرأة اوس بن الصامت په باره كي راغلی ليكن دا مسئله وټولو ته عامه ده لهذا عام تر سوال حادثه پوري خاص نه وي عام وټولو ته شامل وي مگر زموږ پر نزد باندي عام تر سبب پوري خاص وي په درو ځايو كي اول : كه دسوال جواب غير مستقل وو بيا جواب تر دغه سواله پوري خاص دئ مثال سړي دا سوال وكړي اكان لي عليک الف درهم زماپر تا باندي زر درهمه دي تا ددغه سوال جواب په دغه تورو وركړي نعم، بلی، نعم بلي جواب دئ خو دا جواب غير مستقل دئ لهذا دغه جواب تر دغه سوال پوري خاص دئ كه څه هم نعم بلی صلاحيت لري چي ده ډيرو خلگو جواب دي سي ليكن جواب غير مستقل دئ نو تر دغه

سوال‌ه پوي به خاص وي وعندنا **انما يخص بسببه اذا لم يكن مستقلا بنفسه كقوله نعم اوبلى** زموږ په نزد باندي عام تر سبب پوري خاص دئ که چيري عام مستقل نه وي لکه نعم يا بلى، دوهم: که عام د جزاء پر ځای ودريدی بيا عام تر خپل مورد تر خپل سبب تر خپل حادثه پوري خاص دئ مثال نبی عليه السلام د څلورو رکعاتو پر ځای دوه وکړه ذواليدين صحابي ورته وايي اقصرت الصلوة ام نسيتَ: لمونځ کم سو که ستا څخه هير سو نبی عليه السلام ورته وويل وکل ذلک لم يکن يو نه دئ سوي يعنی ما څلور وکړه صحابه ورته وايي په دا دوو کي يو وسو فسجد نو نبی عليه السلام سجده وکړه دسجدَ توري عام دئ وسجدة التلاوة وسجدة السهو وسجدة الصلوة ته ليکن دفَسَجَدَ توري دجزاء پر ځای راغلی ولی فاء پر داخله داسي ده لکه جزاء نو فسجد عام دئ ليکن تر سجدة السهو پوری خاص دئ، او خرج مخرج الجزاء: يا عام راسي دجزاء پر ځای **كقول الراوى سها رسول الله ﷺ فسجد** رسول ﷺ سهوه سو نو بيا يې سجدة السهو وکړه:

دريم: زيد خبره وکړه عمرو جواب ورکړی زيد عمرو ته وايي راځه ناشته وکړو عمرو ورته وايي والله که ناشته وکړم دلته دعمرو جواب دزيد ترخبري پوري خاص دئ که عمرو دزيد سره ناشته وکړه نو عمرو حانث دئ که عمرو کورته ناشته وکړه بيا حانث نه دئ:

که عمرو په جواب کي زيادت وکړی دزيد پر خبري باندي بيا دغه عام ترخپل موردپوري خاص نه دي يعنی دزيد تر خبري پوري خاص نه دئ مثال زيد عمرو ته وويل راځه ناشته را سره وکړه عمرو ورته وويل والله لا اتغدي اليوم والله که نَن ناشته وکړم اوس که عمرو هر ځای ناشته وکړه حانث دئ ولي زيادت يې وکړ د غه درې ځايه اتفاقي دي په زيادت کي بيا اختلاف دئ د وي عام ترسبب پوري خاصوي موږ وايو تر سبب پوي خاص نه دئ:

او خرج مخرج الجواب: ولم يزد عليه كالمدعو الى الغداء: لکه رابلل وناشتي ته، **ويقول والله لااتغدي**: چي دي ووايي والله لا اتغدي، **فاما اذا زاد على قدر الجواب**: که چيري مدعو په خپل کلا م کي زيادت وکړي پر اندازه دجواب، **فقال والله لا اتغدي اليوم**: مدعو ووايي والله لا اتغدي اليوم **وهو موضع الخلاف**: دغه موضع دخلاف دئ، **فعند نا يصير مبتدا احترازا عن الغاء الزيادة** زموږ په نزد باندي دا ځان ته کلام سو دماقبل سره تعلق نه

لري ددې دپاره چي موږ ځان وساتو دلغوه کيدو څخه دزيادت چي هغه زيات توري لغوه نسي.

ومنها ما بال بعضهم الخ :

تشريح: سائل سوال وکړي نبی عليه السلام ددغه سوال جواب ورکړي يا حادثه يو سړي ته پيشه ده ددې حادثي خبر حکم نبی عليه السلام يا يو عالم ورکړي دغه خبر کلي چي حادثي والا ته ورکول سو يا د غه جواب چي سوال والا ته ورکول سو دا په دغه سړي کي حصر قصر بند دئ تر ده پوري خاص دئ :

دغه حکم چي حادثي والا ته ورکول سو يا جواب سوال والا ته ورکول سو دغه حکم که تا په بل محل کي ثابتوي نو دا به يا په قياس سره ثابتوي يا به يې په دلالة النص سره ثابتوي :

يو صحابي راغلی نبی عليه السلام ته ورته وايي دامسئله څنګه ده نبی عليه السلام ورته وايي من فعل کذا فعليه کذا او فله کذا من فعل کِذا هر چا که دا کار وکړی من عام دئ :

دامام مالک او شافعي په نزد باندي من فعل کذا فعليه کذا او فله کذا دا خاص دئ تر دغه سړي پوري چا چي سوال کړي دئ دغه حکم که تا بل ځای ثابتوي نو دا به يا به قياس سره وي يا به دلالة النص سره موږ وايو داسي نه ده العبرة لعموم الالفاظ لا لخصوص المادة ولا خصوص الحادثة ولا لخصوص السوال: اعتبار وعموم ته دالفاظو دئ چي څنګه لفظ وي هغه رکم حکم وي وخاص مادي ته و خاص حادثي ته وخاص سوال ته اعتبار نسته :

درو شپيتم سبق

ومنها ماقال بعضهم:

دعبارت ترجمه بعضي دوجه فاسده څخه يوه وجه ده بعضي وايي، **ان اقتران فی النظم يوجب القران فی الحکم:** اقتران فی النظم واجبوي اقتران فی الحکم ، **مثل قول بعضهم فی قوله تعالی واقيموا الصلوة واتو الزكواة :** لکه دبعضو قول په دې قول دخدای جل جلاله

(واقميوا الصلوة واتوالزكواة) كي **ان القران يوجب ان لا تجب الزكواة على الصبي:** قران (جمعه) داثابتوي چي زكات نه دئ واجب پر كوچني (نابالغه) باندي: **قالو ا لان العطف يقتضى المشاركة** دوي وايي ځكه عطف تقاضا كوى دمشاركت بين المعطوف والمعطوف عليه:

واعتبروا بالجملة الناقصة اذا عطفت على الكاملة : دوى قياس كوي په جمله ناقصه باندي چي كله دا (جمله ناقصه) عطف سي پر كامله باندي، **وهذا فاسد:** دغه قياس فاسد دئ **لان الشركة انما وجبت فى الجملة الناقصة لافتقارها الى مايتمُ به :** ځكه شركت نه دئ واجب مگر واجب دئ په جمله ناقصه كي ځكه دا (جمله ناقصه) محتاجه ده وهغه ته چي په هغه سره تاميږي **فاذا تم بنفسه لم تجب الشركة :**

كه پخپله تامه وه نو شركت واجب نه دئ **الا فميا يفتقر اليه :**

مگر كه افتقار پكښي وو په جمله تامه كي بيا يې موږ هم شركت په حكم كي منو، **ولهذا قلنا فى قول الرجل لامرأته ان دخلت الدار فانت طالق وعبدي حرٌ :**

كه سړي خپلي ښځي ته وو ايي كه چيري ته ووتي دكور څخه نو ته طلاقه يې زما غلام ازاد دئ ، **ان العتق يتعلق بالشرط:** دعتق تعلق دشرط سره دئ **و لانه فى حق التعليق قاصر :** ځكه دغه قول(وعبدى حر) په حق كي دتعليق بالشرط قاصر دئ لهذا دا جمله تامه داسي سوه لكه ناقصه په افتقار كي:

ومنها ماقال بعضم ان القران فى النظم الخ :

تشريح: بعضي علماء وايي (قيل قائله الامام مالك رحمه الله) اقتران فى النظم اقتران فى اللفظ واجبوي اقتران فى الحكم يعني داول نظم چي كوم حكم دئ بس ددويم نظم هم داغه حكم دئ مثال الله جل جلاله فرمايي واقيمو الصلوة واتو الزكوة داقيموا الصلوة واتوالزكوة اقتران جمعه په حرف واو راغلى دغه اقتران فى النظم واجبوي اقتران فى الحكم هغه حكم دادئ په اقيمو الصلوة كي لمونځ پر بالغ سړي فرض دئ لمونځ پر كوچني

نا بالغه فرض واجب نه دئ نو زكات پر كوچني واجب نه دئ دغه اقترا ن فى الحكم دئ بعضو علماء دا قاعده له كومه كړي ده بعضو علماء قياس كړي پر جمله ناقصه باندي دجملې ناقصي هغه حكم دئ كوم چي دجملې تامي حكم دئ مثال زينبه طالق وهند، زينب طلاقه ده هنده هم طلاقه ده هنده كه دزينب سره په طلاق شريكه نه كړي بيا به هند لغوه سي لهذ ناقصه او تامه په حكم كي سره شريكان وه نو دلته به هم په حكم كښي سره شريكان وي وروسته مصنف وايي دغه قياس فاسد دئ ځكه ناقصه چي دتامي سره په حكم كي شريكه وه هغه دا افتقار دوجې پاته سو دلته افتقاز نسته :

فائده: هرځاى كه افتِقار وو لكه په جمله ناقصه كي بس هلته يوه جمله (ناقصه) دبلي جملې (تامه) سره په حكم كي شريكه وي كه افتقار نه وو بيا يې په كومه خو شحالي كي سره شريكه وي په حكم كي واتو الزكواة جمله تامه ده افتقار پكښي نسته زينب طالق وهند هندٌ جمله ناقصه وزينَبُ طالق ته محتاجه ده په حكم كي كه يوځاى يوه جمله كامله وبلي جملې كاملي ته افتقار ولري بيا يې موږ داقتران في الحكم قائل يو مثال ان دخلت الدار فانت طالق وعبدي حر دلته عبدي حرٌ وانت طالق ته افتقار لري په اعتبار دتعليق بالشرط ځكه عبدى حرّ په حق كي دتعليق بالشرط قاصره ده لهذا دار او مدار داقتران پر افتقار دئ.

دخبري خلاصه: داده كه افتقار وو بس اقتران فى الحكم سته كه افتقار نه وو بس اقتران فى الحكم نسته :

دمفهوم مخالف اجزاء

۱-مفهوم الوصف ۲- مفهوم الشرط ۳- مفهوم اللقب ۴- مفهوم العدد ۵- مفهوم الغاية ۶- مفهوم الحصر .

فائده: اصوليين وديته دوه نومه ږدي ۱-مفهوم مخالف ۲- دليل الخطاب :

كوم ځوک چي مفهوم مخالف معتبر وي په هغه كي اول مفهوم الوصف دئ، امام شافعي رحمه الله وويل صفت حبه كښ مته داسي دئ لكه شرط دشرط په عدم دمشروط عدم

راځي نو دوصف په عدم به دموصوف عدم راځي که یو ځای متکلم یو شي په وصف باندي مقيد کړي وو نو که دغه وصف نه وو نو به حکم هم نه وي:

فائده: وصف پر دوه قسمه دئ ١- وصف نحوي ٢- وصف معنوي دلته د وصف څخه وصف معنوي مراد دئ . وصف معنوي دیته وايي چي قائم بالغیر وي مثال زه تاته وایم اَنْتَ اَسْوَدُ ته تور یې اَنْتَ مبتداء ده اسوَدُ خبر دئ اسود نعت نحوي نه دئ اسود نعت معنوي دئ ولي سواد په تا پوري قائم دئ .

فائده: وصف معنوي په پنځه شکله کي ښکاره کیږي ١- کله دوصف نحوي په شکل کي وي مثال فی الغنم السائمة زکوة په پیسو کي هغه پسونه چي په صحراء کي څروي په دې کي زکات دئ الغنم موصوف دئ السائمة صفت نحوي دي دلته صفت معنوي دصفت نحوي په شکل کي ځان ښکاره کړي ددې څخه دا معلومه سوه که غنم وه وصف سائم نه وو پکښې نو زکات نسته دا دامام شافعي رحمه الله مذهب دئ ولي دئ وصف په منزلة دشرط بولي لهذا که غنم په سائمة موصوف نه وو نو زکات نسته ٢- کله دمضاف په شکل کي وي مثال فی سائمة الغنم زکوة ګوره دلته سائمة مضاف دئ وغنم ته ٣- کله به دمضاف الیه په شکل کي وي مثال مطل الغني ظلم دماړه سړي ټال مټول کول دا ظلم دئ زه موړ یم پیسې لرم ستا پر ما پیسې باندي دي زه درته وایم سبا راسه پیسې درکوم پر کال راسه پیسې درکوم حالانکي زما سره پیسې سته اوس راسه غناء وصف دئ مطل په غناء موصوفه دي ۴- کله وصف دزمان په شکل کي وي مثال ایها الذین امنوا اذا نودي للصلوة من یوم الجمعة : دلته من یوم الجمعة وصف دئ دنودي لصلوة دپاره د زمان په شکل ۵- کله دمکان په شکل کي وي مثال بِع في بغداد ته خرڅ کړه په بغداد کي دلته بِع ته قید ورواچول سو په فی بغداد باندي .

اجراء دمفهوم الوصف :

وَحَلَائِلُ اَبْنَائِكُمُ الَّذِيْنَ مِنْ اَصْلَا بِكُمْ (النساء ٢٣)

سړي ته خپل مړور حرامه ده :

تشريح: ابنائكم موصوف دئ الذين من اصلابكم صفت دئ دا معنى هغه زوي چي ستا دملايئ دهغه مينه ورته حرامه ده يعني له تابه پيدا وي مفهوم مخالف دادئ كه زوى وو اوله تا پيدا نه وو ددغه زوى مينه نه ده حرامه :

داځنګه كيداى شي چي زوى وي او دسړي څخه پيدا نه وي دلته دزوي څخه متبني زوى مراد دئ لكه زيد زيد دنبى عليه السلام زوى وو ليكن دكورو الاسره يې نبي عليه السلام نكاح وكړه امام شافعي رحمه الله وايي زما دپاره دا مستدل دئ موږ ورته وايو ته چي داوايي چي له تا پيدا وي دهغه دميني سره نكاح نسي كيداى او چي له تاڅخه نه وي پيدا دهغه دميني سره نكاح كولاى سي موږ وايو دا په مفهوم مخالف ثابت نه دئ دا موږ په بل نص .ثابتوو لكه د زيد ﷺ چي كوم نصوص راغلى دئ

وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا اَنْ يَنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنَاتِ فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمٰنُكُمْ مِنْ فَتَيٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ (النساء ۲۵)

تشريح: ددغه اية مفهوم مخالف دلالت كوي پر دې باندي چي نكاح دمينځي مؤمنې سره مباح نه ده هغه وخت كه تا قدرت درلودى پر نكاح دحرې باندي .

وَاِنْ كُنَّ اُوْلَاتِ حَمْلٍ فَاَنْفِقُوْا عَلَيْهِنَّ حَتّٰى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ (الطلاق ۶).

تشريح: ددغه اية مفهوم مخالف دلالت كوي پر دې باندي چي دغير حاملې دپاره نفقه نسته مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ (الفتح ۲۹) .

تشريح: اية مفهوم مخالف دلالت كوي پر دې باندي چي غير دمحمد ﷺ دخداي جل جلاله رسول نه دئ :

لَا تَأْكُلُوا الرِّبٰوا اَضْعَافًا مُّضَاعَفَةً (ال عمران ۱۳۰)

ترجمه: تاسو مه خوري سو د په دې حال چې دوه چنده پر دوه چنده وي :

تشريح: ددغه اية څخه داسي معلوميږي كه سود دوه چنده نه وو يعني اضعافا مضاعفة نه وو بيا يې خوري مثال زيد وعمرو ته لكه كالداري وركړي زيد وعمر ته وايي دمياشتي پر سر به ماته پريو لک اووه زره راكوي عمرو وزيد ته او وه زره وركړي دغه اووه زره ديوه لكه كالدراي څو چندي نه دئ ډيري كمي دي څو چندي داسي جوړيږي زيد وعمرو ته لک كالداري وركړي زيد وعمرو ته وايي دكال پر سر به ماته دوه لكه كالدراي راكوي كه تا (عمرو) را نه كړي پر بل كال به دري لكه كالداري راكوي اوس اضعافا مضاعفه سو ددغه اية مفهوم مخالف دادئ كه سود څو چنده نه وو بيا يې خوري دلته منها د مفهوم الوصف چليږي كه ته وايي اضعافا مضافعة دا حال دئ نو موږ وايو وصف كله د حال په شكل كي وي دلته وصف دحال په شكل كي دئ.

امام شافعي رحمه الله ويلي وه كه وصف نه وو نو حكم نسته كه وصف وو نو حكم سته امام شافعي رحمه الله ويلي وصف داسي دئ لكه شرط دشرط سره دحكم عدم او وجود كرځي او راكرځيَ دوصف سره هم داركم راكرځي او راكرځي اوس موږ امام شافعي رحمه ته وايو كه سود اضعافا مضاعفة نه وو بيا يې خوري دا مفهوم مخالف دئ موږ امام شافعي رحمه الله ته وايو كه سود اضعافا مضافعة نه وو اوس يې خوړل جائز دي كه نه دي جائز امام شافعي وايي جائز نه دئ موږ امام شافعي رحمه الله ته وايو كه سود لږ وو ولي دجواز اجازه نه وركوي :

جواب : امام شافعي رحمه الله ويلي وه موږ په مفهوم مخالف عمل كوو مګر دا مشروط دئ په شرائطو باندي په هغو شرائطو كي يو شرط دا وو چي قيد به اتفاقي نه وي دلته قيد اتفاقي واقعي دئ :

وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ (البقره ۲۲۲)

ترجمه: او مه نژدې کیږئ (په جماع سره) دوی ته تر هغه وخت پورې چې پاکې سي
دوي اوس راسه مفهوم موافق څوک دئ مفهوم مخالف څوک دئ مفهوم موافق دادئ
مه نژدې کیږئ (په جماع سره) دوي ته تر هغه وخته پورې چې پاکې سي دوي مفهوم
مخالف دادئ چې پاکې سي بیا نژدې کیږي (په جماع سه) دوی ته امام شافعي رحمه
الله دوي مسئلې را ایستلې یوه مسئله په مفهوم موافق بله مسئله په مفهوم مخالف :

دمفهوم موافق مسئله داده په حالت دحیض کښې ښځې ته نژدې مه ورځه یعني جماع
مه ورسره کوه دمفهوم مخالف مسئله داده چې ښه پاکه سوه بیا جماع ورسره کوه زموږ
هم داغه مذهب دئ امام شافعي او نور علماء چې په مفهوم مخالف مسئله ثابتوي موږ
به دغه مسئله په څه شي ثابتوو او حال دا زموږ مذهب هم دادئ چې ښځه پاکه سوه بیا
جماع ورسره کوه .

قاعده: په کوم ځای کې چې امام شافعيؒ او نور علماء دمفهوم مخالف څخه کار اخلي
موږ په هغه ټولو ځایو کې دنصوص څخه کار اخلو مثال دوی یو مسئله په مفهوم مخالف
ثابته کړه موږ ورته وایو دغه مسئله په بل نص باندي ثابته ده دوی چې کومه مسئله په
مفهوم مخالف ثابته کړه هغه مسئله په دغه نص سره ثابته ده هغه نص دادئ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ
فَأْتُوْهُنَّ نو هر کله چې ښه پاکې سي دوي نو راځي دوي ته (په جماع سره)

دا مثال دمفهوم الغایه دئ :

فائده: او الی اَن حتی مِن چې دا بتداء الغایه دپاره وي دا څلور سره که هر ځای راغله
او مفهوم ورڅخه ولاړیدي بس ودیته غایه والا مفهوم وایي فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ
مِنْ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ.

ترجمه: پس که چیري بیا یې طلاقه کړه دا ښځه پس نه ده حلاله (دا
وروسته تر هغه چې په نکاح واخلي (دا ښځه) میړه بل پر ته له ده نه :

تشریح: میره خپلي ښځي ته مغلظ طلاق ورکړي اوس دغه میره ته دغه ښځه حلاله نه ده ترڅو پوري چي نکاح ونه کړي دزوج اخر سره چي دزوج اخر سره نکاح وکړي بیا حلاله ده دا مفهوم موافق دئ که یې نکاح ونه کړه بیا ومیره ته حلاله نه ده دا مفهوم مخالف دئ هغه شپږ شرطونه پکښي پوره دي دلته دوې مسئلي دي یوه مسئله په مفهوم موافق ثابته ده بله مسئله په مفهوم مخالف ثابته ده موږ وایو دغه مسئله چي په مفهوم مخالف ثابته ده دا مسئله په بل نص سره ثابته ده هغه نص دا دئ حتي تذوقي ترڅو پوري چي تا دده خوند نه وي کتلي او ده ستا خوند نه وي کتلي دبل سره نکاح نسي کولای دا مثال دمفهوم الغایه دئ اِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ (التوبة ۸۰)

ترجمه: الله پاک نبی علیه السلام ته وایي که ته بخښنه وغواړي دوي ته او یا کرته نوله سره به بخښنه ونه کړي اللهجل جلاله دوی ته دا مفهوم موافق دئ مفهوم مخالف دادئ که ته یو اویا کرته بخښنه وغواړي دوي ته بیا الله پاک دوی ته بخښنه کوي او حالا دا الله پاک کافر مشرک نه بخښي دا مثال دمفهوم الشرط والعدد ددواړو دئ موږ امام شافعي رحمه الله ته وایو چي ته دمفهوم مخالف قائله یي دلته مفهوم مخالف دادئ که ته یو او یا کرته بخښنه وغواړي بیا الله پاک دوي بخښي امام شافعي دلته ته څه وایي امام شافعي وایي مشرک الله جل جلاله نه بخښي .

قاعده: دامام شافعي او نورو علماء په نزد دشپږم شرط سره بل شرط سته او وم شرط دادئ هرڅای که دشرط قید لګیدلې وو یا بل قید لګیدلې وو نو هغه به دمبالغي دپاره نه وي که دمبالغي دپاره وو بیا مفهوم مخالف کارنه کوي مبالغه داده که ته وایي وي بخښنه او مه یې بخښنه والله چي اویا کرته ووایي چي وي بخښنه زه یې نه بخښم :

څلور شپیتم سبق

فصل في الامر :

تشريح: دامر په باب کي يو څو پحثونه دي اول بحث په نفس امر کي، دوهم بحث په مؤمور به کي، دريم بحث مؤمور فيه څلورم بحث مؤمور پنځم بحث امير:

نو اول پنځه بحثونه دي اول بحث په نفس امر کي:

دامر تعريف قول القائل لغيره افعل على سبيل الاستعلاء يو سړی بل سړي ته وويل افعل دا کار وکړه خو ده ځان لوړ پر بلی بس دغه امر دئ يعني ته استاذيې دی شاگرد دئ يا ته پلار يې دی زوي دئ بس پر سبيله داستعلاء يو چاته ويل افعل دا کار وکړه دغه امر دئ قول القائل لغيره افعل على سبيل الاستعلاء دوي خبري په قول اللقائل لغيره کي کوو، يوه خبره په افعل کي کوو يوه خبره په على سبيل الاستعلاء کي کوو، اوله خبره: يو سړي بل سړي ته وويل افعل دا کار وکړه افعل ويل سوي دئ افعل وينا کول نه دي:

سوال: افعل قول دقائل لغيره نه دئ ځکه افعل ويل سوي دئ افعل قول نه دئ يعنی قول په معنی دمقول دئ لان الامر والنهی من قسم الانشاء والانشاء قسم من اللفظ:

جواب: دلته مصدر مبني للمفعول دئ قول القائل لغيره افعل اي مقول القائل لغيره لهذا افعل مقول القائل لغيره دئ دوهمه خبره په قول القائل لغيزه باندي فعل النبي ﷺ او اشارة النبي عليه السلام دا دواړه ووته ځکه فعل النبی عليه السلام او اشارة النبی عليه السلام په امر کي نسي راتلای افعل دافعل څخه زموږ مراد دامر څخه صيغه ده مثال لکه اضرب لتُضرَبْ ليَضرب ليُضرب ضَارِب لتُضارَب ليُضارِبْ ليُضَارَبْ يعني دهر باب په افعل باندي ووته هر هغه صيغه چي فضيرت او وجوب راولي مثلا كُتِبَ عَليكُمُ الصِّيَامُ كتبَ معنی فرضيت ده دا صيغه ووته په افعل باندی اوجبتُ عليک ان تفعل کذا داوجبتُ معنی وجوب ده داصغيه ووته په افعل باندي ځکه دادواړي دامر صيغي نه دي په على سبيل الاستعلاء باندي دعاء التماس ووتل طلب دادني داعلى څخه دعاء ده طلب دمساوي دمساوي څخه التماس دئ:

على سبيل الاستعلاء استعلاء عامه ده حقيقي وي که حکمي وي:

پنځه شپیتم سبق

وهو من قبيل الوجه الاول من القسم الاول الخ:

تشريح: په امر کي پنځه بحثونه وه:

اول بحث په نفس امر کي دئ:

وهو من قبيل الوجه الاول: دغه امر دقسم اول (خاص) دقبيلي څخه دئ، من القسم الاول: تقسيم اول هغه تقسيم اول چي په اعتبار دصيغې او لغت سره وو دتقسيم اول څلور اقسام وو خاص (۲- عام ۳- مشترک ۲- مؤول امر دتقسيم اول داول قسم دقبيلي څخه دئ دتقسيم اول اول قسم خاص دئ امر دخاص دقبيلي څخه دئ يعني امر خاص دي مما ذكرنا من الاقسام: هغه اقسام چي موږ ذكر كړه:

فائده: دخاص ډير اقسام دي خو موږ دخاص دوه اقسام بيانوو يو قسم امر بل قسم نهي ځکه احكام ددې دوو سره ډير تړلي دي

فان صيغة الامر لفظ خاص من تصاريف الفعل وضع لمعنى خاص:

دعبارت ترجمه: صيغه دامر لفظ خاص دي دفعل دګردانو څخه، داسي لفظ خاص چي وضعه کړه سوي دي دخاص معني دپاره:

الامر خاص فان صيغة الامر لفظ خاص: من تصاريف الفعل وضع لمعنى خاص:

تشريح: الامر خاص دامدعا ده فان صيغة الامر الخ دايې دليل دئ:

سوال: ستا دعبارت څخه مصادره على المطلوب معلوميږي مدعا په دليل کي استعمالول ديته مصادره على المطلوب وايي مصادره على المطلوب ناروا الامر خاص

مدعا ده دليل فان صيغة الامر لفظ خاص وضع لمعنى خاص کوره دلته مدعا په دليل کي استعمال سوه په پښتو کي چي مدعا په دليل کي استعمال وي مثال په ضرب زيد کي زيد فاعل دئ دا مدعا ده دليل که فاعل نه واي ما به نه واى ويلي چي دا فاعل دئ الامر خاص فان صيغة الامر لفظ خاص دلته مدعا په دليل کي استعمال ده؟

جواب: دلته مصادره على المطلوب نسته ځکه الامر خاص دلته دخاص څخه مراد خاص مصطلح دئ هغه خاص مصطلح لفظ وضع لمعني معلوم على الانفراد دئ فان صيغة الامر لفظ خاص وضع لمعنى خاص دلته دخاص څخه مراد دخاص لغوي دئ لهذا مصادره على المطلوب نسته:

من تصاريف الفعل په دغه قيد اسم حرف ووتل:

وهو طلب الفعل: معنى دامر طلب دفعل دئ، فان صيغة الامر لفظ خاص وضع لمعنى خاص مصنف دوه توري استعمالوي يو توري لفظ خاص دوهم توري لمعني خاص مصنف دا دوه توری استعمالوي ددې دپاره چي خصوص به ددوو اړو له خوا وي لفظ امر به تر معنى پوري خاص وي معنى به تر لفظ امر پوري خاص وي يعني لفظ به يوازي دغه معنى ورکوي معنى به ددغه لفظ څخه غير په بل چا نه وي حاصله دمصنف اصل مقصد نفى داشتراک او دترادف دي، ترادف ديته وايي لفظ تر معنى پوري خاص وي خو معنى تر دغه لفظ پوري خاص نه وي دغه معنى په بل لفظ باندي هم حاصله وي مثال اسد غضنفر دغه دواړه الفاظ مترادفه دي ددواړو معنى ده حيوان مفترس اسد تر حيوان مفترس پوري خاص دي حيوان مفترس يوه معنى ده دغه معنى تر اسد پوري خاص نه ده دغه معنى چي څرنګه په اسد باندي حاصله ده همدا رنګه په غضنفر هم حاصله ده:

نفى داشتراک لکه قروء دقرؤء دوې معناګاني دي ۱- حيض ۲- طهر حيض يوه معنى ده قروء يو لفظ دئ حيض تر لفظ پورى خاص دي خو لفظ (قرء) تر حيض پورى خاص نه دئ لفظ (قروء) بله معنى هم ورکوى هغه معنى طهر دئ:

فان صيغة الامر لفظ خاص وضع لمعنى خاص لفظ به تر معنى پوري خاص وي معنى به په لفظ پوري خاص وي مثال انسان، انسان يو لفظ معنى يې حيوان ناطق ده لفظ (انيسان) تر معنى پوي (حيوان ناطق) خاص دئ معنى (حيوان ناطق) تر لفظ پوري (انسان) خاص ده

دخبري خلاصه: داده لفظ به تر معنى پوري خاص وي داسي به نوي لكه قروء معنى به تر لفظ پوري خاص وي داسي به نه وي لكه حيوان مفترس امر به تر وجوب پوري خاص وي وجوب به تر امر پوري خاص وي فعل النبى ﷺ واشارة النبى ﷺ ووته ځكه داوجوب نه راولي:

وموجبُهُ عند الجمهور الالزام الابدليل:

دعبارت ترجمه: مقتضى دامر دجمهور علماء په نزد باندي وجوب دي دي مگر كه يو دليل وو دلالت يې كوي پر غير دوجوب بيا دامر مقتضي وجوب نه دي:

تشريح: په امر كي ډير مذاهب دي راجح مذهب دجمهور علماؤ دي جمهور علماء وايي امر حقيقة دوجوب دپاره دى دامر پر وجوب باندي قرا ن مجيد ، اجماع، لغة دلائل دي دامرپر وجوب باندي قران مجيد دليل دئ د امر پر وجوب باندي داقول دخداى جل جلاله دليل ﴿مَا مَنَعَكَ اَنْ لَّا تَسْجُدَ اِذْ اَمَرْ تُكَ﴾ دئ الله پاک ابليس ته وويل څه شي ته منعه كړې چي ته سجده مه كوه هغه وخت چي ماتاته امر وكړ چي سجده وكړه، ده ابليس سجده ونه كړه الله پاک دابليس ذ م ووايو پر دې چي ده سجده ونه كړه: داسي سجده چي مومور به ده:

ځكه استفهام دلته پر حقيقت نه دئ حمل بلكي مقصود په ده سره انكار دئ دغه انكار ذم او توبيخ فائده كوي ذم دابليس پر دې چي ده سجده پرينبود له هغه سجده چي مؤمور به ده دا دلالت كوي پر دې باندي چي سجده واجب وه پر ده باندي لهذا امر دال دئ پر وجوب باندي دوهم دليل دامر پر وجوب باندي دا قول دخداى جل جلال ﴿وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ ارْكَعُوْا لَا يَرْكَعُوْنَ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ﴾ دئ.

لا يركعون مقصود په دې قول دخداى جل جلاله باندي خبر نه دئ ځكه دا معلوم دئ ليكن مقصود لوم او ذم دئ:

لوم او ذم نه وي مگر پرپريښودلو دواجب نو دا دلالت كوي پر دې باندي چې صيغه دامر (اركعوا) وجوب فائده كوي دريم دليل دامر پروجوب باندي دا قول دخداي پاك ﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهِ اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ﴾ دئ.

وه دي ويريږي هغه كسان چي دالله دامر څخه مخالفت كوي ددې څخه دي وه ويريږي چي دوى ته به فتنه ورسيږي يا عذاب اليم:

مخالفت دامر موجب دعذاب دئ نو امر دال دئ پر وجوب دمومور به ځكه عذاب نسته مگر عذاب سته پ ترك دواجب:

څلورم دليل: دامر پر وجوب باندي داقول دخداي جل جلاله ﴿وَمَاكَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ اِذَاقَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الخيْرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ﴾ دئ

دمؤمن او دمؤمنې دپاره چي اختيار نسته دا دليل ددې دئ چي امر دوجوب دپاره دئ دامر دوجوب دپاره اجماع دليل ده دټول امت اجماع پر دې راغلي چي هر وخت فرضيت وجوب ثابتوي دا به په امر باندي وي:

زه بادار يم ماغلام ته وويل اِئْتِ بالماء ته اوبه راوړه كه غلام اوبه ماته رانه وړي نو زه غلام وهمه خوشكه ورته كومه كه امر دوجوب دپازه نه سي بيا دوهلو دخوشكي څه ضرورت سته نو معلومه سوه چي امر په لغاتو كي هم دوجوب دپاره دئ:

٢- مذهب وايي امر دندب دپاره واضع وضع كړي ٣- مذهب وايي امر واضع وضع كړي داباحت دپاره ۴- مذهب وايي امر مشترك لفظي دئ په مابين كي دوجوب:، ندب، اباحت، تهديد لكه عين چي مشترك لفظي دئ:

۵-مذهب وايي امرمشترک معنوي دئ داولو درو معنا ګانو (وجوب، ندب، اباحت):

فائده: اشتراک دوه قسمه دي ۱-اشتراک لفظي ۲-اشتراک معنوي:

اشتراک لفظي ديته وايي چې ډير الفاظ په ده کي سره شريکان وي مثال لکه لفظ دعين په لفظ دعين کي جاسوس ، باصره، ذهب فضه وغير ذالک داټول په لفظ عين کی سره شريکان دي اشتراک معنوي ديته وايي چي يو لفظ به ديوې معنی کلي دپاره وضع وي بيا به تر دغه معنی کلی لاندي افراد وي دغه افراد به په دغه معنی کلی کي سره شريکان وي:

لهذا يو مذهب وايي امر دندب اباحت وجوب دپاره جلا جلا وضع سوي په اشتراک لفظي باندي يو مذهب وايي ا مر داذن دپاره وضع سوي تر اذن لاندي بيا وجوب ندب اباحت دئ په اشترا ک معنوی باندي:

۶-مذهب وايي دامر يويشت معنا ګاني دی نو به په امر کي توقف کوي تر هغه وخت پوري چي يو دليل نه وي پر يو معنی باندي:

شپږ شپيتم سبق

دامر يو يشت معنا ګاني دي يعني دامر داستعمال يويشت ځايونه دي

تشريح ۱-: امر کله دوجوب دپاره وي مثال واقيمو الصلوة ۲-امر کله دندب دپاره وي ندب معنی ښه کار مثال فَكَاتِبُوْهُمْ اِنْ عَلِمْتُمْ فِيْهِمْ خَيْرًا ۳-امر کله داباحت د پاره وي اباحت معنی جائز مثال وَاِذَ حَلَلْتُمْ فَصْطَادُوْا ۴-امر کله دتهديد دپاره وي تهديد معنی زجر مثال اعْمَلُوْا مَاشِئْتُمْ تاسو يې کوي چي ستاسو خوښه وي بيا به يې سره ګورو:

۵-امر کله دتعجيز دپاره وي تعجيز معنی يو څوک ديو کار څخه عاجزه کول مثال لکه پښتانه وايي ونسه دايې ګز دايې ميدان::

امر كله دتعجيز دپاره وي مثال فَأْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِنْ مِثْلِهِ ۶- امر كله دارشاد د پاره وي ارشاد دمعاشري دصحت دپاره وي مثال وَاشْهِدُوْا ذَوَىْ عدْلٍ مِنْكُمْ تاسو دوه كسان ګواه كوي :

۷- امر كله دتسخير دپاره وي تسخير ديته وايي يو حقيقت په بل بدلول مثال كُوْنُوْا قِرَدَةً خَاسِئِيْنَ تاسو بزوګيان سي :

۸- امر كله دامتنان دپاره وي امتنان پر يو چا باندي احسان كول مثال كُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللهُ :

۹- امر كله داكرام دپاره وي اكرام معنى ديو چا عزت كول احترام كول مثال ستا ميلمانه را روان دي ته په دروازه كي ولاړ يې ته ميلمنو ته وايي تاسو راځي الله پاک فرمايي اُدْخُلُوْهَا بِسَلَامٍ اٰمِنِيْنَ تاسو جنت ته ور داخل سي په سلامتيا باندي دامن په حالت كي :

۱۰- امر كله داهانت دپاره وي اهانت يو څوک ذليله كول مثال الله پاک فرمايي ذُقْ ته وڅكه :

۱۱- امر كله دتسويه دپاره وي مثال اِصْبِرُوْا اَوْ لَا تَصْبِرُوْا كه تاسو صبر كوي كه يې نه كوي :

۱۲- امر كله د دعاء دپاره وي مثال اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ :

۱۳- امر كله د دتمني دپاره وي متكلم صرف تمني كوي مثال يٰمٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ اى مالكه ستا رب دي فيصله وكړي پر موږ باندي :

۱۴- امر كله داحتقار دپاره وي احتقار معنى يو كار حقير ګڼل بلل مثال اَلْقُوْا مَآ اَنْتُمْ مُلْقُوْنَ :

تاسو را وه غورځوي هغه شي چي تاسو يې راوه غورځوي يعني كوم شي چي تاسو را وه غورځوي دا دومره شي نه دئ :

١٥- امر كله دتكوين دپاره وي تكوين هغه امر ته وايي چي يو شي دعدم څخه ووجود ته راولي مثال كُنْ فَيَكُوْنُ :

١۶- امر كله د تاديب دپاره وي نبى عليه السلام فرمايي كُلْ مِمَّا يَلِيْكَ ته خوره مما يلينك يعني په كاسه كي خپله خوا خوره : :

١٧- امر كله دتعجب دپاره وي مثلاً اَسْمِعْ بِهِمْ وَابْصِرْ څومره ښه اوري څومره ښه ويني :

١٨- امر كله داخبار دپاره وي امر وي دخبر معنى وركوي مثال فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا وَّلْيَبْكُوْا كَثِيْرًا : دوي به لږ وخاندى ډير به وژاړي :

١٩- امر كله دانذار دپاره وي انذار معنى ويرول مثال تَمَتَّعُوْا فَاِنَّ مَصِيْرَكُمْ اِلَى النَّارِ :

٢٠- امر كله دالتماس دپاره وي التماس طلب دمساوي دمساوى څخه مثال د يو سف عليه السلام وروڼو په خپل وا پس كي سره وويل اِرْجِعُوْا اِلى اَبِيْكُمْ :

٢١- امر كله د افحام دپاره وي امر دافحام ديته وايي چي متكلم مخاطب ته امر وكړى وچ يې ودروي مثال : فَاِنَّ اللّٰهَ يَأْتِيْ بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِىْ كَفَرَ دلته فَأْتِ امر دئ دپاره دافحام .

اوه شپيتم سبق

والامر بعد الحظر وقبله سواء :

دعبارت ترجمه: امر بعد الحظر او قبل الحظر برابر دئ په وجوب کي يعني امربعد الحظر او قبل الحظر دوجوب دپاره دئ کوم ثوک چي وايي امر بعد الحظر داباحت دپاره دئ استدلال ددوي دادئ وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا چي کله تاسو حلال سي نو ښکار کوي دا حرام په صورت کي حظر وو منعه وه داحرام بعد بيا اجازه ده ښکار کوي ګوره امر بعد الحظر داباحت معنی ورکوي موږ وايو امر به بعد الحظر دوجوب دپاره وي مثال فَإِذَا انْسَلَخَ الْاَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوْا الْمُشْرِكِيْنَ : کله چي تيري سوې (څلور) مياشتي حرامی نو وژني اي مؤمنانو عهد ماتوونکي مشريکان :

اشهر الحرام څلور مياشتي دي ۱- رجب ۲- محرم ۳- ذي القعدة ۴- ذي الحجة په دغو څلورو مياشتو کي جنګ بند دئ ګوره دا پخوا بيا منسوخ سو :

چي کله دا څلور مياشتي تيري سوې نو بيا مشرکين وژنی دلته فاقتلوا المشرکين امر دئ دوجوب دپاره دئ بعد الحظر واذا حللتم فاصطادوا، فاصطادوا، امر دئ داباحت دپاره بعد الحظر موږ دی ګرو ته وايو چي دفاصطادوا اباحت ددغه اية دوجي نه دئ معلوم سوي دافاصطادوا اباحت ددغه اية څخه معلوم سوي أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ مخته منعه وه اوس احل لكم طَيِّبٰتُ اجازه ده ،

والامربعد الحظر وقبله سواء الخ :

تشريح: يو ګروف (يو جماعت) وايي امر دوجوب دپاره دئ مګر شرط دادئ قبل الحظر به وي بعد الحظر به نه وي يعني امر قبل الحظر دوجوب دپاره دئ نه بعد الحظر حظر معنی منعه : بعد الحظر دامعنی چي يو وار يو شي الله پاک منعه کړي بيا ددې شي اجازه وکړي چي اوس يې کوه که دغه رکم امر راغلی وو نو دا داباحت دپاره دئ، نو امرونه دوجوب دپاره دي دحسامي مصنف رد وربانديي وکړی

ولا موجب له فی التکرار ولا يحتمله :

درې جماعته دي ١- يو جماعت جمهور علماء ٢- دوهم جماعت ابو اسحاق الاسفرائي ٣- دريم جماعت بعض اصحاب الشافعي :

التكرار : تكرار څه معنى، تكرار دا معنى اقيمو الصلوة وايي ولاړ سه لمونځ وكړه بل وار بيا اقيمو الصلوة وايي ولاړ سه لمونځ وكړه بل واري بيا راسي وايي ولاړسه لمونځ وكړه تكرار معنى بار بار جمهور وايي امر دتكرار تقاضا نه كوي احتمال دتكرار نه لري ابو اسحاق الاسفرائى وايي امر دتكرار تقاضا كوي بعض اصحاحب الشافعي وايى امر دتكرار تقاضا نه كوي امر دتكرار احتمال لرى مصنف رد ور باندي وكړ ولا موجب له في التكرار ولا يحتمله : امر نه دتكرار تقاضا كوي نه احتمال دتكرار لري دا زموږ مذهب دئ:

ابو اسحاق اسفرائي وايي امر دتكرار تقاضا كوي دليل نبى عليه السلام حكم وكړي امر يې وكړ چي تاسو به حج كوي:

﴿وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ﴾ يو صحابي چي په ژبه پوه وو نوم يې اقراء بن حابس ﷺ داصحابي ولاړسو وايي صرف دا كال حج را باندي فرض دئ او كه داكال مي حج وكړ بيا هر كال راباندي فرض دئ ابو اسحاق الاسفرائي وايي كه امر تقاضا دتكرار نه كولاى نو بيا دغه صحابي ولى تكرا فهموي سره ددې چې دا صحابي صاحب اللسان وو په ژبه پوه وو نو ښكاره خبره ده چې امر دتكرار تقاضا كوي موږ ورته وايو دا داستدال طريقه نه ده نه په دې باندي ته استدلال كولاى سي ولى صحابي قياس وكړي داسي نه چې امر دتكرار تقاضا كوي:

صحابي قياس وكړ پر لمانځه باندي لمونځ بار بار مكرر كيږى سره ددې چي اقيمو الصلوة يو واري راغلى نو حج به هم مكرر كيږى :

لهذا هغه دلغاتو څخه استدلال نه دئ كړى هغه قياس كړي:

بعض اصحاب الشافعي وايي امر دتكرار تقاضي نه كوي امر دتكرار احتمال لري دليل اِضْرِبْ په اصل كي دئ اَطْلُبُ مِنْكَ ضَرْبًا زه ستا څخه طلب كوم دوهلو :

اضْرِبْ ددا دومره جملې (اطلب منک ضربا)

څخه را مختصر دئ : اطلب منک ضربا دلته ضرب نکره تحت الاثبات واقع ده نکره تحت الاثبات خصوص فائده کوي مګر خو دعموم احتمال لري نو دي وايي اضرب چي ضربا پکښې دئ دا دتکرار تقاضا نه کوی مګر احتمال دتکرار لري:

موږ ورته وايو دغه احتمال چي تا پیدا کړی دا ناشي ددلیل څخه دئ که نه دئ دي وايي دغه احتمال ناشي ددلیل څخه نه دئ موږ وايو هغه احتمال چي ناشي ددلیل څخه نه وی هغه احتمال ته اعتبار نسته زموږ دلیل دادئ امر (اِضْرِبْ)را مختصر دئ دا طلب منک ضربا څخه ضرب یو فرد دئ فرد دتکرار تقاضا نه کوي نه احتمال دتکرار لري :

لان الفظ الامر صیغة اختصرت لمعناها من طلب الفعل : ځکه لفظ دامر یو صیغه ده داسي صیغه چي را مختصره ده دوجي دمعنا دا اختصار هم دئ من طلب الفعل یعني امر مختصر دئ من اطلب منک الفعل ، **لکن لفظ الفعل فرد فلا یحتمل العدد** خو لفظ دفعل فرد دئ احتمال دعدد نه لري یو سړی وخپلي ښځي ته وویل طَلِّقِیْ نَفْسَکِ ته خپل ځان طلاقه کړه یعني ا طلب منکِ طلاقا ښځی ځان ته دوه طلاقه ورکړل اوس دا ښځه ځان ته دوه طلاقه نسي ورکولای ولي طلاقا فر دئ فرد احتمال دعدد نه لري ابنه چي دوه طلاقه ځان ته نسي ورکولاي نودرې به په طریقه اولی سره نسی ورکولای ځکه طلاقا فرد دئ فرد احتمال دعدد نه لري، دوه غدد دي دري هم عدد دئ او سره ددې چی تاسو ددرو جواز ورکړي دا ولی احنافو ؟

جواب: فرد پر دوه قسمه دئ ١- فرد حقیقي ٢- فرد حکمی فرد حقیقي دا معنی چي یو وي فرد حکمي دا معنی که دې په خپل ځان کي یو نه وي درې وي خو جنس یې یو وي مثال بقر فرس غنم دا درې دی مګر خو جنس یې یو دئ هغه جنس حیوان دئ لهذا یو والي یې دجنس له خوا دئ، اوس راسه که یې یو طلاق ورکړي دا فرد حقیقي دئ که یې درې طلاقه ورکړه دا فرد حکمي دئ دجنس له خوا یو دئ پاته سو دوه د وه نه فرد حقیقي دئ نه فرد حکمي دئ

لهذا ددوو طلاقو اجازه نسته ديوه يا ددرو اجازه سته، **ولهذا قلنا فى قول الرجل لامرأته طلقي نفسک:**

دعبات ترجمه: د اغه خو وجه ده موږ وايو سړی ښځي ته وويل خپل ځان طلاقه کړه، **انه يقع على الواحدة :** دا واقع کيږي پر يوه باندي، **ولا تعمل نية الثنتين فيه** نيت ددوو نسي کولای، لانه نية العدد: ځکه دا نيت دعدد دئ، **الا ان تکون المرأة امة:** مګر که ښځه مينځه وه بيا دوه طلاقه ځان ته ورکولای سي:

لان ذالک جنس طلاقها: ځکه دغه دوه طلاقه جنس طلاق د مينځي دئ:

فصار من طريقه الجنس واحداً: وه ګرځيدی عدد يو له طريقي د جنس څخه:

اجراء الامر

مثال	امر	معناګاني
وَإِذَاقِيْلَ لَهُمُ ارْكَعُوْا لَا يَرْكَعُوْنَ (المرسلات ٤٨)	(اركعوا)	وجوب
وَاَقِيْمُوْا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوْا الزَّكٰوة وَاَطِيْعُوْا الرَّسُوْلَ (النور ٥٦)	(اقيموا، اتوا، اطيعوا)	وجوب
رَبِّ اغْفِرْ لِيْ (نوح ٢٨)	(اغفر)	دعاء
وَاَقِيْمُوْا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوْا الزَّكٰوة (البقره ٤٣)	(اقيمو الصلوة)	وجوب
فَكَاتِبُوْهُمْ اِنْ عَلِمْتُمْ فِيْهِمْ خَيْرًا (النور ٣٣)	فکاتبوا)	ندب
فَانْتَشِرُوْا فِى الْاَرْضِ (الجمعه ١٠)	(فانتشروا)	اباحت

اِعْمَلُوْا مَاشِئْتُمْ (فصلت ۴۵) (اعملو) تهديد

وَاِذَاحَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا (المائده ۲) (فاصطادو) اباحت

وَجَاهِدُوْا فِيْ اللهِ حَقَّ جِهَادِهِ (الحج ۷۸) (جاهدو) وجوب

فَأْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِنْ مِثْلِهِ (البقره ۲۳) (فاتوا) تعجيز

وَاَشْهِدُوْا اِذَا تَبَايَعْتُمْ (البقره ۲۸۲) (واشهدوا) ندب ،ارشاد :

تشريح: يو ملا په كتاب كي ليكلي وايي دلته امر دندب دپاره دئ دليل يې داد ئ ان النبي ﷺ اشتري فرسا من اعرابي ولم يشهد .

اِعْمَلُوْا مَاشِئْتُمْ (حم السجدة) ۴۰ (اعملو)(تهديد)

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا (البقره ۱۲۷) (وتقبل) (دعاء)

الا ايها الليل الطويل الا انجلي (انجلي)تمني)

قال عليه السالم لعبد الله بن عباس وكان صغيرا : كل مما يليك (كل (تاديب)

اِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ اِلٰى اَجَلٍ مُسَمًّى فَاكْتُبُوْهُ (البقره ۲۸۲) (فاكتبوه) (ارشاد)

كُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ الله (الانعام ۱۴۲) (كلوا) (امتنان)

اُدْخُلُوْهَا بِسَلٰمٍ (الحجر ۴۶) (ادخلوها) (اكرام)

ذُقْ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْكَرِيْمُ (الدخان ۴۹) (ذق) (اهانت)

اَنۡفِقُوۡا طَوۡعًا اَوۡ كَرۡهًا لَّنۡ يُّتَقَبَّلَ مِنۡكُمۡ	(انفقوا) (تسويه)
فَاصۡبِرُوۡا اَوۡ لَا تَصۡبِرُوۡا (الطور ١٦)	(اصبروا) (تسويه)
كُلُوۡا وَاشۡرَبُوۡا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ (البقرة ١٨٧)	(كلوا واشربوا) اباحت
رَبِّ اَوۡزِعۡنِىۡۤ اَنۡ اَشۡكُرَ نِعۡمَتَكَ (النمل ١٩)	(اوزعني) دعاء)
فَكُلُوۡا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلٰلًا طَيِّبًا (النمل ١١٤)	(فكلوا) (امتنان)
كُوۡنُوۡا حِجَارَةً اَوۡ حَدِيۡدًا)(الاسراء ٥٠)	(كونوا) اهانت :
كُلُوۡا مِنۡ ثَمَرِهٖۤ اِذَاۤ اَثۡمَرَ وَيَنۡعِهٖ	(كلوا) (امتنان)
قُلۡ فَاۡتُوۡا بِعَشۡرِ سُوَرٍ مِّثۡلِهٖ مُفۡتَرَيٰتٍ ((هود ١٣)	(فاتوا) تعجيز
قُلۡ فَاۡتُوۡا بِسُوۡرَةٍ مِّثۡلِهٖ وَادۡعُوۡا (يونس ٣٨)	(فاتوا) تعجيز :
اَقِمِ الصَّلٰوةَ (الاسراء ٧٨)	(اقم) (وجوب

اته شپيتم سبق

ثم الامر المطلق عن الوقت:

دعبارت ترجمه: امر مطلق عن الوقت، كالامربالزكواة وصدقة الفطر والعشر والكفارات وقضاء رمضان والنذر المطلق :

لكه امر بالزكات، صدقة الفطر، عشر، كفارات قضاء، رمضان، نذر مطلق :

لا يوجب الاداء على الفور في الصحيح من مذهب اصحابنا: امر مطلق عن الوقت ادا ء على الفور نه واجبوي په صحيح مذهب کې چې دا مذهب زموږ د اصحابو دئ:

ثم الامر المطلق عن الوقت الخ:

تشريح: هر وخت چې امير امر وکړ دغه مؤمور به پر دوه قسمه دئ کله مؤمور به مطلق وي کله مؤمور به مقيد وي:

مثال اٰتوا الزكواة تاسو زكات ورکړي زكات مطلق دئ په وقت مقيد نه دئ اقيموا الصلوة الظهر تاسو دما سپښين لمونځ وکړي دلته صلوة مقيد دئ د ماسپښين په وقت باندي:

الامر المطلق: دوه مذهبه دي ١- امام كرخي رحمه الله ٢- جمهور علماء، امام كرخي رحمه الله وايي امر مطلق د فور تقاضا کوي مؤمور به به فورا کوي که يې فورا ونه کړي نو ګناه ګاره يې جمهور علماء وايي په امر مطلق عن الوقت کې فور نسته که تا مؤمور به وځنډوي ګناه ګار نه يې:

مثال زكات دروژې په مياشت کې درباندي فرض سو تا زكات دروژې په مياشته کې ورنه کړي د کوچني اختر په مياشت کې تا زكات ورکړ زموږ په نزد باندي ګناه ګاره نه يې ځکه امر مطلق دئ مګر که تا ته مرګ راغی او تا زكات نه وو ورکړي بيا ګناه ګاره يې،

امام كرخي رحمه الله وايي امر مطلق د فور تقاضا کوي مؤمور به به فورا کوي ځکه مرګ په باور نه دئ که ته مؤموز به پر ځای نه کړی کيدی سي چې ته مړ سي نو به تفويت راسي د دغه تفويت د مخنوي د پاره زه په امر مطلق عن الوقت واجبوم فور موږ فور نه واجبوو دنيا په اميد باندي خوړل کيږي چې ترڅو پوری مړ سوي نه وي ګناه ګاره نه دئ، که ته وايي چې مؤمور به فورا واجب سي نو څه تاوان يې دئ موږ وايو بيا قلب د موضوع راځي قلب د موضوع ناروا قلب موضوع ديته وايي خدای پاک مطلق کړي ته يې مقيد کوي خدای پاک مقيد کړي ته يې مطلق کوي د قلب موضوع مثال بنځه الله جل جلاله پيدا کړي دا استفراش

دپاره چي بچيان به راوړي ته را ولاړ سي بنځه د ملک باچا کړي دا قلب موضوع ده مطلق مقيد کړه مقيد مطلق کړه ديته قلب موضوع واي:

(والمقيد بالوقت انواع :

دعبارت ترجمه: مقيد بالوقت انواع دي، **نوع جعل الوقت ظرفا للمؤدّى** يو قسم دا دئ چي وخت به ظرف وي دمؤدّى دپاره ، **وشرطا للاداء وسببا للوجوب** شرط به وي داداء دپاره او سبب به وي دوجوب دپاره دماسپښين وخت دماسپښين دلمانځه دپاره درې وصفه لري هغه درې وصفه دادي ١- ظرف ٢- شرط ٣- سبب دما سپښين وخت دلمانځه دپاره هم ظرف دئ هم شرط دئ هم سبب دئ :

دظرف علامه وويل سوه دشرط علامه : دشرط علامه داده واذا فات الشرط فات المشروط دماسپښين وخت ووتى بس لمونځ فوت سو واذا وجد الشرط وجد المشروط :

دسبب علامه داده دماسپښين وخت په لمانځه کي مؤثر دئ دوخت په خرابيدو لمونځ خرابيږى دوخت په کميدو لمونځ سميږي دوخت په نقصان سره لمونځ نا قص کيږي دوخت په کمال سره لمونځ کامل کيږى ، **وهو وقت الصلوة** دغه نوعه مذکوره وخت دلمانځه دئ، **الا ترى انه يفضل عن الاداء :** ته نه ګوري چي وخت زياتيږي تر اداء فکان **ظرفا لا معيار :** نو وخت ظرف سو مؤدي دپاره وخت معيار نه دئ دمؤدى دپاره ، **والا داء يفوت بفواته** وخت فوت کيږي په فوت کيدو داداء **فکان شرطا:** نو وخت شرط سو داداء دپاره والاداء يختلف باختلاف صفة الوقت : اداء مختلفه کيږي په اختلاف دصفت دوخت، **ويفسد التعجيل قبله :** تر وخت مخته ادا کول فاسديږى **فکان سببا:** نو وخت سبب سو :

والمقيد بالوقت انواع الخ :

تشريح: مؤمور به مقيده ده په يو قيد باندي داقيد دمؤمور به دپاره کله ظرف وي کله معيار وي کله مشتبه وي، مؤمور به مقيد دئ په وقت باندي اوس که دا وقت تر مؤمور به زياتيدي نو دا وقت دمؤمرو به دپاره ظرف دئ که دا وقت دمؤمور به سره خوله په خوله وو

نو داوقت دمؤمور به دپاره معيار دئ که به يوه لحاظ زيات دئ په بل لحاظ باندي خوله په خوله دئ نو دا مشتبه دئ :

مثال ته يې فرض کړه دماپښين وخت پر دوولس بجې باندي راداخل سو دما شپين اخيري وخت ته يې فرض کړه دري بجې دئ الله تعالی حکم وکړي چي ته دماسپښين لمونځ وکړه ته را ولاړ سوي دما سپښين لمونځ دي پر يوه نيمه بجه وکړي :

اوس وخت يو ه نيمی بجې هغه خواته تر دوولسو بجو او ددغه خواته تر درو بجو پوری سته او لمونځ مؤمور به دئ وخت دمؤمور به دپاره ظرف دئ ځکه وخت تر مؤمور به زيات دئ دروژې وخت دصبح صادق څخه شروع دئ بيا تِرماښامه پوری روژه مؤمور به ده دروژې وخت دروژې دپاره معيار دئ ځکه دا دواړه خوله په خوله دي دمعيار علامه داده دوختِ په غځيدو سره مؤمور به غځيږی دوخت په کوچنی کيدو سره مؤمور به کوچني کيږي مثال په کنا ډا کي په دوبی کي روژه يويشت (٢١) ګانټې ده ولي سهار يې يوشت ګانټې دئ ماشام يې صرف درې ګانټې دي په ژمي کي روژه شپږ ګانټې ده ګوره مؤمور به غځيږی دوخت په غځيدو سره مؤمور به کميږی دوخت په کميدو سره پاته سو ظرف ظرف چي هر څومره وخت وي که دوي ګانټې وي که درې ګانټې وي مؤمور به (لمونځ) هغه لس رکعته کوي مؤمور به دوخت په غځيدو سره او دوخت په کميدو سره يو رکم وی

نهه شپتم سبق

والاصل في هذالنوع انه لما جعل الوقت ظرفا للمودي وسببا للوجوب :

دعبارت ترجمه: قاعده: په دغه نوعه کي داده چي خبره خودی ده هر کله چي وخت ظرف وو دمؤدی دپاره اوسبب وو دوجوب دپاره ، **لم يستقم ان يكون كل الوقت سببا:** نه صحيح کيږي دا چي ټول وخت دئ سبب سي :

لا ن ذالک یو جب تاخیر الاداء عن وقته او تقدیمه علی سببه: ځکه ټول وخت سبب کیدل دا ثابتوي تاخیر داداء تر سبب یعني اداء به ورسته سي سبب به مخته سي بل دا ټول وخت سبب کیدل دا ثابتوی تقدیم داداء پر سبب باندي:

فوجب ان یجعل بعضه سببا:

نو دا ضروري ده چې بعض وخت به سبب ګرځي : **وهو الجزء الذي یتصل به الاداء:**

دا بعض وخت هغه جزء دئ چيَ په مؤدی پوري متصل وي:

فان اتصل الاداء بالجزء الاول : که چیری اداء داول جزء سره متصله وه **کان هوالسبب:** نو جزء اول سبب دئ، ولاک که چیري اداء داول جزء سره متصله نه وه ، **ینتقل ا لسببیة الی الجزء الذي یلیه:** سببیت نقل کیږي وهغه جزء ته چي هغه وده ته یلي دئ نژدې دئ ،:

لانه لما وجب نقل السببیة عن الجملة ځکه هر کله چي دا ضروي وه چي سببیت به دپوره وخت څخه باسي **ولیس بعد الجملة جزء مقدر :** بعد الجمله مقدر جزء نسته لکه څلورمه یا پنځمه **وجب الاقتصار علی الادنی :** نو اقتصار واجب دئ پر ادنی باندي :

ولم یجز تقریره : نه دئ جائز تثبیت دسببیت **علی ما سبق قبیل الاداء** ، تر اداء لږ مخته ټول سبب نه جوړوو:

لان ذالک یؤدی الی التخطي عن القلیل :

ځکه دا تجاوز کول دي دقلیل څخه وکثیر ته بلا دلیله **ثم کذالک تنتقل الی ان یتضیق الوقت عند زفر رحمه الله** همدارنګه سبب ځي تردې پوري چي وخت تنګیږی دا مام زفر رحمه الله په نزد باندي. **والی اخر جزء من اجزاء الوقت عندنا:** زموږ په نزد باندي سببیت ځي دوخت تر اخیري جزء پوري :

فتعین السببیة فیه: سببیت متعین سو په دې وخت کي، **لما یلي الشروع فی الاداء :**

دهغه وجی چي شروع ته یلي دئ په اداء کي ، **اذلم يبق بعده ما يحتمل انتقال السببية اليه:** وروسته تر هغه پاته نه سو یو جزء چي سبب نقل سي و هغه جزء ته :

والاصل فى هذالنوع انه لما جعل الخ:

تشريح: ته یې فرض کړه دماسپښین دلمانځه وخت ديوړ بجې څخه شروع دئ بيا تر درو بجوپوري لمونځ پر دوې بجې باندي وسو :

سوال: زه ستا څخه پوښتنه کوم ټول وخت سبب دئ که بعض وخت سبب دئ و ايي ټول وخت سبب دئ مونږ وايو که ټول وخت سبب سي بيا دوه تاوانه پېښيږي يو تاوان دادئ سبب به تر مسبب مخته سي ځکه سبب ديوړ بجې څخه شروع دئ او لمونځ پر دوې بجې باندی ادا سو دوهم تاوان د ادئ مسبب تر سبب مخته سو ځکه مسبب په دوو بجې کي اداء سوي او سبب تر درو بجو پوري دئ وايي بعض وخت سبب دئ مونږ وايو بعض وخت څومره سبب کوي اوله حصه سبب کوی دوهمه حصه سبب کوي دريمه حصه سبب کوي وايي دويمه حصه يا دريمه حصه سبب کومه مونږ وايو پر دې دليل سته چي ته دويمه حصه سبب کوي يا دريمه حصه سبب کوي وايي ی ا دليل نسته لهذا نه ټول وخت سبب دئ نه بعض وخت سبب دئ مونږ وايو سبب جزء متصل دئ څه وخت چي تا الله اکبر شروع کړي هغه جزء چي په الله اکبر پوري ښتني متصل دئ دغه متصل جزء سبب دئ بس لمونځ چي ته په کوم وخت کي اداء کوي هغه جزء متصل دلمانځه سبب دئ يعني سبب دلمانځه سره روان دئ دامام زفر رحمه الله په نزد باندي سبب ځي دوخت تر تنګيدو پوري يعني تر هغه وخت پوي چي څلور رکعاته ځايږي ددې ما بعد سبب بيا نه ځي يعني که داسی وخت پاته وو چي هلته صرف تکبير الله ځايه دئ په دغه وخت کي سبب نسته سبب چټي دئ ځکه په دغه وخت کي څلور رکعاته نه ځاييږي زمونږ په نزد باندی سبب ځي دوخت تر اخيري جزء پوري يعنی که داسي وخت پاته وو چي هلته صرف تکبير الله ځايدی بس تر دغه وخت پوري سبب راځي يعني ددغه تکبير الله هغه جزء متصل سبب دئ :

دخبري خلاصه: داده سبب هغه جزء متصل داداء دئ دامام زفر رحمه الله په نزد باندي سبب ځي ځي دوخت تر تنګيدو پوري زموږ په نزد باندي سبب ځي ځي دوخت تر اخيري جزء پوري زموږ به نزد باندي واخيري جزء ته اعتبار سته اعتبار دا معنى سړي كافر دئ يو ه دقيقه : كم درې بجي يې وويل لااله الا الله محمد رسول الله بس پر دې سړي باندي دغه لمونځ فرض سو دى به دا لمونځ كوي :

اويا يم سبق

فيعتبر حاله فى الاسلام والبلوغ والعقل والجنون والسفر والاقامة والحيض والطهر عند ذالک الجزء :

دعبارت ترجمه: حال دمكلف معتبريږي په اسلا م كي په بلوغ كي ، په سم والى كي په ليوني والى كي، په مسافر والى كي په مقيم والى كي، په حيض كي، په طهر كى دا دمكلف حال په ټولو كي معتبر دئ په دغه جزء كي:

فيعتبر حاله فى الاسلام والبلوغ والعقل الخ :

تشريح: سبب دوخت تر اخيري جزء پوري ځي زموږ په نزد باندي واخيري جزء ته اعتبار سته اوس كه سړي په اخيري جزء كي اسلام را وړي بس ددغه وخت لمونځورباند فرض سو : هلک په اخيري جزء كي بلوغ ته ورسيدى بس ددې وخت لمونځ ورباندي فرض سو، سړى ليوني وو په اخيري جزء كي عقلمند سو ، سړي وو عقل مند مګر په اخيري جزء كي ليوني سو، سړي وو مقيم په اخيري جزء كي مسافر سو خو داسړى به دوه ركعاته كوى سړي وو مسافر په اخيري جزء كي مقيم سو بس دا سړى به څلور ركعاته كوي:

ويعتبر صفة ذالک الجزء:

دعبارت ترجمه: ددغه جزء صفت معتبر دئ په صحت او فساد كي ، **فان كان ذالک الجزء صحيحا كما فى الفجر :** كه چيري دغه جز صحيح وو موصوفه په كراهت نه وو لكه

دسهار وخت ، وجب كاملا : نو كامل واجب دئ **فاذا اعترض الفساد بطلوع الشمس** كه چيري فساد وو په وخت كي په را ختلو دلمر ، **بطل الفرض:** نو فرض باطل سو ، **وان كان ذالک الجزء فاسدا كما فی العصر :** كه چيرى دغه جزء فاسد وو لكه دمازديگر وخت **يستانف في وقت الاحمرار:** حال دا شروع وسوه داحمرار په وخت كي، وجب ناقصا: نوواجب سو ناقص: **فيتادي بصفة النقصان** اداء كيږي په صفت باندي دنقصان:

سږي دمازديگر په اول وخت كي لمونځ شروع كړي بيا يې دا لمونځ كش كړي تر دې پوري چي لمر و لويدى اوس سوال دادئ چي و اجب سوي كامل خو اداء ناقصه وسوه تاسو وويل كه واجب سوي كامل اداء به هم كامله وي كه واجب سوي ناقص اداء به هم ناقصه وي اوس دلته واجب سوي كامل ځكه اول وخت كامل دئ اداء سو ناقص موږ وايو الله جل جلا له وايي لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ فِي الدِّيۡنِ مِنۡ حَرَجٍ :

پر تاسو باندي په دين كي حرج نسته يو واري مكلف ته ټول وخت وركول سو بيا وايي دا حمرار ښخه ځان ساته داخو حرج دئ ، **ولا يلزم على هذا:** نه لازميږى پر دغه مذكور باندي، **ما اذا ابتدء العصر فی اول وقته :** هغه صورت چي سړي دمازديگر لمونځ شروع كړي په اول وقت كي، **ثم مده الى ان غربت الشمس :** بيا يې كش كړي تر دې پورى چي لمر ډوب سي ، **فانه لا يفسد:** لمونځ نه فاسديږى ، **لا ن الشرع جعل له حق شغل كل الوقت بالاداء:** ځكه شرعي وركړي ده ته حق دشغل چي ټول وخت په اداء باندي مشغوله كولاى سي **فجعل ما يتصل به من الفساد بالبناء عفوا :** شرعي هغه فساد چي متصل دئ په وخت باندي په سبب دبناء دا شرعي وګرځوي عفوه، **لان الاحتراز عنه مع الاقبال على الصوة متعذر :** ځكه ځان ساتل دفساد ښخه سره ددې چي سړى به لمانځه ته متوجه وي دا متعذر دي ليس عليكم فى الدين من حرَجٍ **واما اذا خلا الوقت عن الاداء** ته يې فرض كړه نن څوارلس تاريخ دئ نن پرڅوار لسم تاريخ باندي دمازديگرپه اخيري جزء كي په ناقص جزء كي پر ما باندي لمونځ واجب سو خو ما لمونځ ونه كړ په دغه ناقص وخت كي ناقص وختونه درې دي ١- استواء ٢- طلوع الشمس ٣- غروب الشمس اوس سوال دادئ چي پر ماباندي لمونځ پر څوارلسم

تاريخ په ناقص وخت کي لازم سوي اوس تاسو پر پنځلسم تاريخ دلمانځه جواز په ناقصو وختو کي نه راکوي داولي نو ستاسو قاعده غلطه ده ځکه په ناقص وخت کي پر ما لازم سوي نو پکار ده چي په ناقصو وختو کي ماته جواز راکړي يا داستواء په وخت کي يا دطلوع په وخت کی يا دغروب په وخت کي؟

جواب: زموږ قاعده غلطه نه ده چي په ناقص وخت کي لمونځ ونه کړي وخت ووتی لمونځ يې نه وکړي اوس ټول وخت سبب دئ خالي جزء سبب نه دئ ولی مخته چي موږ جزء سبب جوړوي هغه ډهغه مخکني تاوانو دوجي اوس وخت خالي سو داداء څخه ټول وخت سبب دئ ټول وخت کامل دئ دنقصان په وخت کي اجازه نسته **واما اذ خلا الوقت عن الاداء:**

دعبارت ترجمه: چيوخيخالي داداء څخه **فالوجوب يضاف الى كل الوقت** نو به وجوب مضاف سي وټول وخت ته **لزوال الضرورة الداعية لا نتقال السببية عن الكل الى الجزء:** دوجي دختميدو دضرورت داسي ضرورت چي داعيَ وو چي سببيت دکل څخه نقل کړه وجزء ته، **فوجب بصفة الكمال:**

نو واجب سو په صفت دکمال : **فلا يتادى بصفة النقصان في الاوقات الثلثة المكروهة بمنزلة سائر الفرائض** نه اداء کيږي په صفت دنقصان په درو اوقاتو مکروهه کي لکه دانور فرائض چی نه ادا کيږی په اوقات مکروهه کي اوقات مکروه دا دي وقت الطلوع والاستواء والغروب.

ويعتبر صفة ذالک الجزء:

تشريح: چي اخيري جزء معتبر دئ نو وصف يې هم معتبر دئ: که اخيري جزء په صفت دکمال وو نو مؤمور به واجب دئ په صفة دکمال که اخيري جزء په صفت دنقصان وو نو مؤمور به واجب دئ په صفت دنقصان دسهار په وخت کي ژړ والي نه راځي يو دم لمر را خيږي دسهار په وخت کي نقصان نسته دسهار په اخيري جزء کي پر تا کامل لمونځ فرض دئ ته په اخيري جزء کي پر لمانځه ودريدی يو دم لمر را وختی اوس ته دامؤ مور به ناقص اداء

کوي او واجب سوي کامل لهذا فرض مؤمور به دلمر په راختو سره باطل ځکه واجب سوي کامل خواداء يې ناقصه ځکه بل وخت داخل سو دمازديګر په اخيری جزء کي ژړوالي وي دغه اخيري جزء ناقص دئ اوس ته په اخري جزء کي پر لمانځه و دريدي کرار لمر پريوتي نو فرض، مؤمور به باطل نه دئ ځکه ناقص واجب سوی وو ناقص اداء سو :

دخبري خلاصه: دسهار وخت کامل اداء هم کامله دمازديګر وخت ناقص اداء هم نا قصه:

يو اوياېم سبق

الثانی ما جل الوقت معيار له وسببا لوجوبه :

دعبارت ترجمه: دويمه نوعه هغه ده چي وخت وګرځول سي معيار دپاره دواجب (مؤمور به) اوسبب وګرځول سي دپاره دوجوب **وهو وقت الصوم:**

دغه وخت معيار وخت دروژې دئ، **الا ترى انه قدر به واضيف اليه :** ته نه ګوري چي روژه اندازه کيږی ګزيږی په دغه وخت باندي (دغه دمعيار علامه ده)

اوروژه مضاف کيږي ودغه وخت ته (دادسبب علامه ده :

الثاني ما جعل الوقت معيار له وسببا لوجوبه الخ:

تشريح: دويمه نوعه هغه ده چي وخت به دمؤمور به دپاره درې صفته لرې ۱- معيار ۲- سبب ۳- شرط :

کله به وخت دمؤمور به دپاره معيار وي مثال کله دروژې وخت دروژي دپاره دمعيار يت علامه داده روژه په دا وخت ګچه کيږی اندازه کيږي که وخت غځيدی روژه ورسره غځيږی که وخت کميدی روژه ورسره کميږي چي روژه په دا وخت باندي ګچه کيږی اندازه کيږی نو دا علامه ددې ده چي دا وخت معيار دئ دمؤمور به (روژه) دپاره :

علامه دسبب داده روژه ودا میاشته مضاف کیږي قانون په فقه کي دادئ په سلو کی نهه نوي (۹۹) فیصده مسبب وسبب ته مضاف کیږی مثال لکه صوم شهررمضان دلته روزه مضاف ده وشهر رمضان ته دغه اضافت دمسبب وسبب ته علامه دسبب ده دشرط علامه داده چي دده په فوت کیدو دی فوت کیږي:

فائده: پنځه اقواله دي ۱-یو قول دادئ تهوله میاشت سبب ده دروزې دپاره دویم قول دادئ دمیاشتي خالي ورځي سبب دي دروژې دپاره :

دریم قول دادئ دورځو اول جزء سبب دئ دروژې دپاره څلورم قول دادئ دتهولي میاشتي اول جزء سبب دتهولي روژې دپاره پنځم قول دادئ دهري شپې اخیري حصه سبب ده درارواني روژې دپاره:

به سببیت کي دا پنځه مذاهب دي ددې مذاهبو دلائل به په مطولاتو کتابو کي ګورو :

ومن حکمه ان لا یبقي غیره مشروعا فیه :

دعبارت ترجمه: ددغه نوعي حکم دادئ نه پاتیږی پرته دده مشروع په دغه وخت کي فیصاب بمطلق الاسم ومع الخطاء فی الوصف : ادا کیږي مؤمور به په مطلق نامه سره دخطاء په وصف کي:

ومن حکمه ان لا یبقي غیره مشروعا فیه:

تشریح: به کوم ځای کي که ازدحام (رش) وو تزاحم وو هلته تعین دنیت شرط دئ په کوم ځای کي که ازدحام (رش) تزاحم نه وو هلته تعین دنیت شرط نه دئ

درمضان میاشت الله جل جلاله مقرره کړه ددې دپاره چي تاسو به په دغه میاشت کي روژه نیسي بله روژه نه ځاییږي نبی علیه السلام فرمایي فَإِذَا نْسَلَخَ الشَّعْبَانَ فالصوم الارمضان هر کله چي دشعبان میاشت تیره سوه نورو ژه نسته مګر درمضان دمیاشتي روژه سته نو شریعت راته وویل په دغه میاشت (رمضا ن) کي بله روژه نه ځاییږي سیوا ددغې فرضي

روژې درمضان په میاشت کي وچ په وچه داغه فرضي روژه ده نو یو نفر سو بله روژه نه ځاییږي نو تزاحم نسته تعین دنیت نه غواړي که بله روژه وایي نو به تزاحم واي په تزاحم کي تعین دنیت شرط دئ مثال دنه تزاحم په خارج کي یو نفر په کور کي په یو کوټه کي ناست دئ بل سړي پر ږغ کړي ورته وایي اي انسانه هغه نفر ږغ نه کوی سړي ورته وایي ولي ږغ نه کوي هغه نفر ورته وایي تا زما نوم نه دئ اخستي سړي ورته وایي بل څوک په دې کوټه کي نسته سیوا ستا څخه لهذا دلته به دي دانسان په نامه ږغ کوي ځکه تزاحم نسته درمضان په میاشت کي تزاحم نسته نو تعین دنیت پکښې شرط نه دئ :

دکوچني اختر په څلورمه ورځ ته قضائی روژه نفلی روژه نذری روژه دا ټول نیولای سي دا ختر په څلورمه ورځ ازدحام جوړ سو (قضائي، نفلی نذري روژه) چي ازدحام جوړسو نو تعین دنیت غواړی که تعین نه وو یوه روژه نه ده صحیح پاته سو درمضان میاشت درمضان په میاشت کي ازدحام نسته نو تعین دنیت نه غواړی بس صرف داووایه خدایه سبا زماروژه ده بس دا روژه صحیح ده دا تعین ضروري نه دئ چي فرضي روژه نیسم که سړي خطاء سي یاقصدا ووایی زه قضائي روژه نیسم بس دا روژه په فرضي روژه کی دریږی قضائي نه ده صحیح ولي درمضان په میاشت کي تزاحم نسته ،

فائده: دلته دري مذاهب دي ١- امام زفر رحمه الله ٢- امام شافعي رحمه الله ٣- امام صاحب رحمه الله امام زفر رحمه الله وایي چي یو واري معیار سو بل شي نه ځایږي نو دمطلق نیت ضرورت نسته دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي نیت هم ضروري دئ او په نیت کي تعین هم ضروري دئ داحنافو مذهب دادئ نیت ضرور دئ تعین ضروري نه دئ موږ امام زفر رحمه الله ته وایو په دنیا کي داسي عبادت نسته چي نیت نه غواړي غیر له نیته الله جل جلاله عبادت نه قبلوي مګر شرط دادئ عبادت مقصوده به وي عبادت غیر مقصوده به نه وي :

لکه اودس ، اودس عبادت مقصوده نه دئ امام زفر رحمه الله و ایي دعبادت مقصوده دپاره نیت ولی ضروري دئ : موږ وایو الله جل جلاله انسان پیدا کړي عادت او عبادت یې سره ګډ دئ نیت دعادت او عبادت دجلاکیدو دپاره دئ روژه نوم دئ ددرو امساکاتو ١-

خوراک به نه کوي ۲- څنباک به نه کوي ۳- جماع به نه کوي اوس زه ناست يم پر نس مي دردئ پر غابن مي درد دئ نه خورا ک کوم نه څنباک کوم نه جماع کوم دسهار څخه تر ما ښامه پوري مي دادرې امساکات وکړل اوس دا عبادت دئ که عادت دئ ددې دواړو امتياز به څنګه کيږی ددې دواړو امستيازپه نيت باندي کيږي که دادرې امساکات وه سره دنيته نو عبادت دئ که نيت نه وو نو عادت دئ نو موږ امام زفر رحمه الله ته وايو په دنيا کي داسي عبادت نسته چي نيت نه غواړی: :

فائده: نيت عجيبه شي دئ عادت عبادت ګرځوي عبادت عادت ګرځوی :

مثال دايو کور دئ په کور کي يو کوټه ده په دې کوټه کي لوړ يو روشندان يو کړکۍ ده يو کلکين دئ :

دخلکو دا عادت دئ چي وکوټي ته يو کړکي کولک ورکوي ددې دپاره چی کوټي ته هوا راسي اوس زه کوټي ته کړکي ورکوم خو په دئ نيت چی ددې کړکي داذان اواز راسي بس داعبادت دئ ګوره په نيت باندي عادت عبادت وګرځيدی نبی عليه السلام يو صحابي ته وايي دا کړکی ولی په دې نيت ورکوي چي هوا راسي دا کړکي په دې نيت باندي ورکړه چي داذان اواز راسی:

ته کتاب هر وخت ګورې عادتًا مګر که تا کتاب کتلی په دې نيت باندي چی خدای جل جلاله پېژنم دالله جل جلاله رسول وپيزنم بس دا عادت عبادت سو :

امام شافعي رحمه الله وايي نيت هم ضروری دئ وصف تعين هم ضروري دئ موږ وايو نيت هم ضروری وصف تعين هم ضروري دئ مګر که شريعت وصف تعين کړی وو بيا ستا دوصف تعين څه ضرورت سته نو خبره دا رکم نه ده لکه امام زفر رحمه الله چي وايي نه داسي ده لکه امام شافعي رحمه الله چي وايي بس خبره دارکم ده لکه احناف چي وايي:

دوه اويايم سبق

الا فی المسافر ينوي واجبا اخر عند ابی حنيفه رحمه الله الخ:

تشريح: مسافر مستثنا دى مسافر دواجب اخر نيت كولاى سي په رمضان كي دامام صاحب په نزد باندي نه دصاحبينو په نزد باندي مثال درمضان په مياشت كي زه په سفر روان يم پر ما باندي تير كال روژه پاته ده اوس زه په دې سفر كي دتير كال دروژې نيت كومه د صاحبينو په نزد باندي د اروژه په فرضي روژه كي دريږي يعني ددې مياشتي په فرضي روژه كي دريږي ده چې دواجب اخر نيت كړى د ابه دروژې دمياشتي وروسته ونيسى دحضرت امام صاحب په نزد باندي چي ده دواجب اخر نيت وكړي په فرضي روژه كي نه دريږى صاحبين وايي دالله جل جلاله حكم فمن شهد منكم الشهر فليصمه هر چا ته چي درمضان مياشت حاضره سوه نو دى به روژه نيسي دلته جوړ، مريض، مسافر، مقيم ټول پكښى راغلل مګر مسافر ته اجازه وركول سوه چي ته درخصته ګټه واخله منفعت واخله فعدة من ايام اخر مسافر به دارژوي بل وخت نيسي ليكن مسافر چي په دې مياشت كى روژه نيسى نو بيرته دغه ايت و رته متوجه سو فمن شهد منكم الشهر فليصمه ولى الله جل جلاله ورسته وايي ﴿يُرِيْدُ اللهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ﴾ الله جل جلاله په تاسي باندي داساتتيا اراده لري دسختيا اراده نه لري دا چي مسافره ته روژه نيسي نو اية درته متوجه سو فمن شهد منكم الشهر فليصمه حضرت امام صاحب وايي الله جل جلاله مسافر ته رخصت وركړي دمصالح بدني دپاره يعني ستا بدنى مصلحت دادئ چي ته روژه وخوره خداى پاک رخصت وركړي صرف دمصلحت بدني دپاره مسافر سوچ وكړي كه په دغه مياشت (رمضان) كي ما ورژه نه ونيوله نو خداى جل جلاله مانه مأخوذه كوي نه مي نيسي ولى زما د پاره حكم فعدة مِنْ اَيَّامٍ اُخَر دئ پاته سو دتير كال روژې چي په ماپاته دئ اوس كه زه مړ سوم او ما روزه نه ونيول نو خداي جل جلاله زماسره حساب كوي كرار مسافر را ولاړ سو ددينى مصلحت داخرت دجوړيدو دپاره يې دواجب اخر نيت وكي ولى ددې واجب اخر زما څخه سوال كيږى امام صاحب وايي چي دمصالح بدني دپاره اجازه ستهنو دمصالح ديني دپاره په طريقه اولى سره اجاز ه سته په دې وجه ده دواجب اخر نيت وكړي خداى جل جلاله يې ورڅخه قبلوي :

ولو نوى النفل ففيه روايتان: په رمضان کي دتمام ائمه دا مذهب دئ چي دنفلو نيت نه دئ صحيح که مسافر په رمضان کي دنفلو نيت وکړی دا ما م صاحب څخه دوه روايته دي زموږ دفقه دنا قلينو چي چا فقه رانقل کړي ده دوه غټ ملا يان دي :

۱- يو ابن صمعة رحمه الله ۲- دوهم حسن ابن زيا د رحمه الله ابن صمعه دا روايت را نقل کړي چی نفلي روژه الله جل جلاله نه ورڅخه قبلوي نفلي روژه په فرضو کی دريږی حسن ابن زياد دا روايت را نقل کړي چي نفلی روژه خدای جل جلاله ورڅخه صحيح کوي دمسافر څخه دواړه خپل دليل لري حضرت ابن صمعه ته موږ وويل ته څه دليل لري چي نفلی په فرضي کي دريږی دئ وايي موږ ده ته اجازه ورکړي دمصلحت بدنی د پاره مصلحت دينی تر مصلحت بدني زورور دئ نو مسافر ته دواجب اخر اجازه وه پاته سو نفلی روژه په نفلي روژه کي نه مصلحت بدني سته نه مصلحت دينی سته ولی دا الله جل جلا له حبيب وايي که دروژي په مياشت کي سړي روژه نه ونيوله که بيا او يا(۷۰) کاله روژه پر له پسي ونيسي نو ځای دروژې دمياشتي نه نيسي لهذا نفلي روژه په فرضي کي دريږي حسن ابن زياد وايي حضرت امام صاحب ويله خداي جل جلاله نفلی دنفلي په ځاي کي دروژې نفلی دفرضو په ځای کي نه دروی ځکه الله جل جلاله وويل فعدة من ايام اخر مسافر دي په نورو ورځو کي بيا روژه ونيسي څه معنی دا معنی رمضان يې وده ته شعبا ن کړی نو په شعبان کي خو سړي نفلی روژه نيولای سي ليکن فتوی په دې قول نه ده :

واما المريض فالصحيح عندنا انه يقع صومه عن الفرض بكل حال:

دعبارت ترجمه : هرڅه چی مريض دئ نو صحيح زموږ په نزد باندي دادئ چي دمريض روژه په فرضو کي دريږی په هر حال کي ای فی حال نية الواجب الاخر او النفل، لا ن رخصته متعلقة بحقيقة العجز: ځکه رخصت دده تړل دئ په حقيقي عجز باندي، **فيظهر بنفس الصوم فوات شرط الرخصة** نو په نفس روژه باندي ښکاره کيږی چي درخصت شرط نسته ، **فيلحق بالصحيح** مريض ملحق سي په جوړ سړي پوري **واما المسافر:** هرڅه چي مسافر دئ فيستوجب الرخصة بعجز مقدر : مسافر مستحق د رخصت دئ په عجز مقدر باندي، **لقيام سببه:** سبب يې پر ځای ولاړ دئ، **وهو السفر :**

دغه سبب سفر دئ **فلايظهر بنفس الصوم فوات شرط الرخصة** :نو په نفس روژه سره نه ښكاره كيږي فوت كيدل دشرط درخصت **وهو العجز التقديري فلايبطل الترخص** نو دمسافر رخصت په روژه باندي نه باطليږي **فيتعدى حينئذ بطريق التنبيه الى حاجته الدينية** :نو په دغه وخت كې به حكم متعدي سي په طريقه ددلالت دده و حالت ته داسي حالت چي دنيوي دئ :

واما المريض الخ

تشريح: الحكم يدور على العلة حكم دعلت سره ځي:

مسافر ته چي روژه معاف وه دعجز دوجی مريض ته روژه معاف ده دعجز دوجي په دواړو كي علت عجز دئ مريض را ولاړ سو دفرضي روژي پر ځای يې دنفلي يا دواجب اخر نيت وكړي چي سهار لس بجې سوې يو سړي مريض ته وويل روژه دي ده مريض ورته وويل وو روژه مي ده نو معلومه سوه چي مريضه والله كه عاجز يې دمريض روژه دال ده پر دې چي عجز نسته لهذا دمريض روژه په فرضو كي دريږي په هر حال كي كه دواجب اخر نيت وكړي كه دنفلي نيت وكړی:

سوال: كه ته سوال وكړي چي دغه علت (عجز) په مسافر كي هم نسته: ؟

جواب: دا حكم دئ دايي علت دئ ددې علت يو نائب دئ نائب دعلت پرځای ودريدی اوس حكم دنائب سره ګرځي

رخصت په مسافر كي حكم دئ علت يې عجز دئ مشقت دئ اوس سفر دعجز نائب قائمقامه ګرځيدلي بس رخصت دسفر سره ګرځي نه دعجز او مشتق سره ولی سفر دعلت پرځای ولاړ دئ اوس كه څه هم په مسافر كي عجز نسته سفر خو سته نائب سته ددې مثال اودس په باد پرې كيدو سره ماتيږی اوس كه سړي ويده سو نو دااودس يې مات دئ كه څه هم خروج من السبيلين نسته علت نسته ، اودس حكم دئ با د پرې كيدل دايو علت دئ ويد ه كيدل اودس ماتوي خوب دا ودس دماتيدو علت نه دئ خو بيا هم اودس ماتوی ولی شريعت خوب دباد

پر کيدو قائمقامه کړی اوس که سړی ویده سو اودس يې مات دئ برابره خبره په خوب کي يي باد پرې سوي وي که نه وي لهذا په مسافرکي سفر نائب دئ دعجز مشقت په مريض کي دعجزنائب نسته :

دروا وپايم سبق

ومن هذاالجنس :

دعبارت ترجمه: ددغه جنس څخه الصوم المنذور في وقت بعينه وخت دئ دنذري روژې په څلورمه ورځ .

ومن هذاالجنس ځکه وايي چي په مخکني نوعة کي وخت معيار هم وو سبب هم وو دلته وخت معيار دئ سبب وخت نه دئ سبب هغه اية کلمه دئ و ليو فوا نذورهم :

لانه لما انقلب بالنذر صوم الوقت واجبا: ځکه خبره خو دئ ده څه وخت چی په نذر باندي وګرځيده دڅلورمي ورځي روژه واجب وګرځيده لم يبق نفلا : نو پاته نه سو نفل دحسامي مصنف په دغه عبارت کي دا ويل غواړی وايي دروژې مياشت دفرضي روژي دپاره مقرره سوي دروژې دمياشتي وروسته دانوري درې سوه ديرش(٣٣٠) ورځي دنفلي روژې دپاره تاکل سوي دي ديرش ورځي دفرضي روژي دپاره دي :

اوس دسه شنبې ورځ دنفلي روژې ده او تا پرځان لازم کړه يوه روژه وصفين متضادين نه قبلوي چي هم دئ روژه نفلی سي هم دئ واجب سي چي تا پر ځان روژه د نذري کړه نو نفلي روژه ولاړه چتمي سوه چي نفلي روژه چتمي سوه نوبله روژه نه ځاييږي سيوا دذري روژې چي صرف دا ځاييږي بله نه نو دا علامت ددې دئ چي داوخت معيار دئ ديرش ورځي دفرضي روژې دئ دا نوري ورځي (٣٣٠) دنفلي روژې دی دليل يې دادئ لکه فرضي روژه چي په مطلق نيت صحيح کيږي نفلی روژه هم په مطلق نيت صحيح کيږی لکه په فرضي روژه کي چی نيت دپشلمي څخه ضروري نه دئ بس دزوال مخته نيت وکړه روژه صححی ده نفلي روژه هم دراکم ده نو معلومه سوه چي ديرش شپې دفرضي روژې دپاره مقرري دي دا نوری ورځي

دنفلي روژې دپاره دي دادري سوه ديرش شپې مکمل دنفلو دي مگر څه وخت چې تا پرځان نذر ومنلې اوس دنذر سره نفل نه ځاييږي ولې يو شي دصفات متضاده متحمل نسي جوړيدای لهذا دنذر سره چي نقل نه ځايږي نو دا علامت ددې دئ چې دا معيار دئ : ، دماسپښين په وخت کي دماسپښين دلمانځه نفلي لمونځ قضائی لمونځ دا ټوله ځايه ده نو دا علامت دظرفيت دئ دا چي يو نه ځاييږي نو دا علامت دمعيار دئ ، **لانه واحد :** ځکه روژه يوه ده ، **لا يقبل وصفين متضادين :**

وصفين متضادين نه قبلوي فصار واحدا من هذالوجه په دغه طريقه يوه ورژه متعينه وګرځيده بله نه ځاييږي **فاصيب بمطلق الاسم :** دمعيار علامه داده په مطلق نوم باندي روژه صحيح کيږی که په وصف کي خطا سي بيا هم صحيح کيږي ، فاصيب مطلق الاسم: صحيح کيږی په مطلق نوم باندي **ومع الخطاء فی الوصف :** صحيح کيږی سره دخطا په وصف کي (بان ينوي النفل) نذر خو تا پرځان باندي منلی اوس صرف وايه سبا روژه نيسم نور تعين نه غواړي که په وصف کي خطا سي يعني تانيت دنفلي روژې وکړي که په دغه وصف کي خطا سي بيا هم روژه صحيح ده، **وتوقف مطلق الامساک علی صوم الوقت :** دريږی خالي امساک دنذري روژې څخه **وهو المنذور :** دغه نذري روژه ده، **لکنه اذا صامه عن کفارة او قضاء عليه يقع عما نوی :** اوس دغه سړي دا نذر پرځان منلي چي زه به څلومه ورځ روژه نيسم اوس که دغه سړي په داڅلورمه ورځ دکفارې نيت وکړي ياېې دقضائی نيت وکړي نو دا نيت صحيح دئ دا روژه په کفاره کي دريږی په قضائی کي دريږی اوس که ته سوال وکړي چې تا خو ويل دا داسي ده لکه فرضي روژه په رمضان کی ديوې روژې نيت نه صحيح کيږی سيوا دفرضي روژي يعنی سيوا دصوم رمضان ؟

جواب : دريې سوه ديرش (٣٣٠) شپې دنفلو دپاره وي نفلي اختياري دي که يې کوي که يې نه کوي دا دسړي حق دئ سړي په خپل حق کي لاس وهنه کولای سي سړي دا کولای سي چي نفل ختم کړي نذر يې جوړ کړي پاته سو قضاء، کفاره دادسړي حق نه دئ دا دالله جل جلاله حق دئ په خپل حق کي سړي لاس وهنه کولای سي درب کريم په حق کي سړي لاس وهنه نسي کولای که څه هم سړي دنذر نيت کړي وي خو دخدای جل جلاله حق ورته ولاړ دئ ددې

دختميدو اختيار دسړي سره نسته اوس په څلورمه ورځ نفل چي دسړي حق دئ داسړي ختمولای سي پاته سو قضائيت کفاريت دا سړي نسي ختمولای ځکه دا دالله جل جلاله حق دئ لهذا که څه هم وخت معيار دئ نذري روژه داسي ده لکه فرضي روژه خو دقضائي روژې او دکفاري نيت کولای سي پاته سو په صوم رمضان کي ټول فرضي روژه دالله جل جلاله حق دئ نه قضائي سړي ته دريږی نه کفاره :

دخبري خلاصه: داده چي په يوم الاربعة کي سړي دنذر دمنلو دوجي نفل ختمولای سي ليکن قضائی او کفاره دنذر دوجي نسي ختميدای دديې وجی نفلی کول او نه کول دسړي حق دئ سړي ته اختيار دئ نفل کوی که يې نه کوي کفاره اوقضاء دا دسړی حق نه دئ ولکنه اذا صامه عن کفارة او قضاء عليه: ليکن ده روژه ونيوله دکفاري يايې قضائی روژه ونيوله يقع عما نوی: دا واقع کيږی عما نوای څخه چي ده يې نيت کړي دئ **لان التعيين انما حصل بولاية الناذر:**

ځکه تعين (څلورمه ورځ) حاصليږي په ولايت دناذر دغه تعين (څلورمه ورځ) دخدای جل جلاله دطرفه نه دئ **وولايته لا تعدوه:** ولايت ناذر تجاوز نه کوي دده څخه وبل چاته، **فصح التعيين فيما يرجع الى حقه:**

تعين صحيح دئ په هغه کي چي هغه راجع دئ وحق ته دناذر **وهو ان لا يبقي النفل مشروعا:** دغه تعين دادئ چي نفل مشروع په دغه وخت کي (څلورمه ورځ) پاته نه سوه فاما فيما يرجع الى حق صاحب الشرع: هغه چي راجع دئ وحق ته دصاحب الشرع، **وهو ان لا يبقي الوقت محتملا لحقه** هغه دا چي وخت محتمل نه سو دصاحب الشرع دحق چي وخت دئ دصاحب الشرع دحق څخه ويستل سي چي صاحب الشرع حق نه لری:

فلا اي فلايصح: نو تعين نه صحيح کيږي ناذر دصاحب الشرع په حق کي تصرف نسي کولای :

ومن هذا الجنس الصوم المنذور فی وقت بعينه الخ:

تشريح: مؤمور به چي مقيد بالوقت وي د اپر څلور نوع دئ ۱- يو ه نوعه داوه چي وقت به دمؤدى دپاره ظرف وو شرط وو داداء دپاره سب و و دوجوب دپاره ۲- دوهمه نوعه داوه چي وقت به معيار وو دمؤمور به دپاره اوسبب به وو دريمه نوعه ورسته را روا نه ده والنوع الثالث:

ومن هذالجنس دا څلورمه نوعه ده چي وخت معيار دئ سبب نه دئ مثال يوسړي وويل لله على ان اصوم يوم الاربعة خاص دخداى دپاره به زه دسه شنبې په ورځ روژه نيسم دغه نذر چي سړي پر ځان ومنلي چي زه به په څلورمه ورځ روژه نيسم دغه وخت معيار د ئ سبب نه دئ سبب څه شي دئ سبب دغه اية كريمه دئ ﴿وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ﴾ دغه اية سبب دئ وخت سبب نه دئ :

څلور اويايم سبق

والنوع الثالث الموقت بوقت مشكل توسُّعُهُ:

دعبارت ترجمه: دريمه نوعه موقته په وقت مشكل ده توسع به يې مشكل وي يعني ظرف جوړول يې مشكل دي :

وتضييقه : معيار يې جوړول مشكل دي وهو الحج ، هغه حج دئ :

اوس مصنف ظرفيت او معياريت جوړه وي موږ خو په اسانه طريقه باندي جوړ كړي، :

فانه فرض العمر : حج په ټول عمر كي يو وار فرض دئ، ووقته اشهر الحج: وخت دحج مياشتي دحج دي، **وحياته مدة يفضل بعضها لحج اخرى مشكل :** ژوند دمكلف په داسي مده كي چي بعض مده دبل حج دپاره زياته سي دغه ژوند دمكلف په داسي مده كي مشكل دئ پر پنځوسم كال باندي سړي دا حكم نسي كولاى چي زه به څو كاله ژوندى يم او دا حكم نسي كولاى چي زه دستي ژر مړ كيږمه :

ومن حكمه ان عند محمد رحمه الله يسعه التاخير : حكم ددغه نوعي دادئ دامام محمد رحمه الله په نزد باندي ده ته دتاخير فرصت سته ، **لكن بشرط ان لا يفوته في عمره:** خو شرط دادئ چي حج به نه قضاء كيږي دمكلف په خپل عمر كي:

وعند ابى يوسف رحمه الله يتعين عليه الاداء: دامام ابو يوسف رحمه الله نزد باندي پر ده باندي ادايي گي ضروري ده:

فى اشهر الحج من العام الاول :

دحج په مياشتو كي په اول كال باندي **احتياطا احترازا عن الفوات :** دوجي دا حتياطه يعني چي ځان وساتل سي دقضا كيدو څخه دامام ابو وسف رحمه الله او دامام محمد رحمه الله داختلاف ثمره دامام ابو يوسف رحمه الله په نزد باندي كه يې فورا حج وكړ، نو گناه گاره نه دئ كه يې په دويم كال حج وكړ يا يې په دريم كال حج وكړ نو گناه گاره دئ دامام محمد رحمه الله په نزد باندي كه هر وخت حج وكړي گناه گاره نه دئ دده په نزد باندي نفلي حج كولاى سي وروسته دئ فرضى حج وكړي، **وظهر ذالك فى حق الماثم لا غير :** په حق دگناه كي ثمره دا ختلاف ښكاره كيږى نه په غير كي **حتى يبقي النفل مشروعا:** نفلى حج مشروع دئ ددواړو په نيز باندي نفلى حج مشروع دئ صحيح دئ صرف دابو يوسف رحمه الله په نزد باندي گناه گار ه دئ كه يې حج فورا ونه كړي يعنى حج يې وځنډوي وبل كال ته دامام محمد رحمه الله په نزد باندي نه دئ گناه گاره كه يې حج وځنډوى :

سوال : دلته مزاحم سته هغه مزاحم نفلى حج دئ اوس سوال دادئ په ازدحام كي تعين شرط دئ ليكن تاسو واياست كه سړي مطلقا نيت وكړى نو دا په فرضي كي دريږي بس فرضي حج يې اداء سو داولي جواب: موږ وايو تعين ضروري دئ مگر كه دلته تعين په خوله نسته ليكن دلالة تعين سته :

وجوازه عند الاطلاق بدلالة تعين من المؤدي : جواز وركول حج ته چي مطلق ذكر سي هغه دمؤدي دطرفه تعين وركول سوي دئ: **اذالظاهر انه لا يقصد النفل وعليه حجة الاسلام:**

ځکه دا ښکاره ده چي مؤمن د نفلي حج قصد نه کوي حال دا چي پرده باندي فرضي حج هم وي:

والنوع الثالث الموقت بوقت مشكل توسعه الخ :

تشريح: دامرمؤمور به په اعتبار دمؤمور فيه پر دوه قسمه وو ۱- مطلق عن الوقت ۲- مقيد بالوقت مقيد بالوقت پرڅلور قسمه وو، دا اخيري قسم دئ هغه دامؤمور به مقيد بالوقت دئ دا وخت ته چي وګوري په يوه اړخه معيار دئ دمؤمور به دپاره په بل اړخه چي ورته وګورې نو ظرف دئ دمؤمور به دپاره په دغه وجه مشكل ورته وايي سړي ته نه معلوميږي چي ميعار ورته ووايم كه ظرف ورته ووايم مثال لكه دحج وخت نه يې تضييق كولای سو چي معيار ورته ووايو نه يې توسع كولای سو چي ظرف ورته ووايو اوس به موږ معيار را وظرف جوړوومعيار او ظرف په دوو طريقو جوړوو يوه طريقه اسانه ده دوهمه طريقه مصنف جوړه كړې ده د اطريقه لږ سخته ده:

اوله طريقه: دحج شپې دشوال داولي ورځي (دكوچني اختر دورځی) څخه شروع كيږي دليل يې دادئ كه سړی ددې مخته احرام وتړی نو مكروه تحريمي دئ كه يې وروسته احرام وتړی نومكروه تحريمي نه دئ ددې څخه دا معلومه سوه چي دحج شپې دكوچنی اختر څخه شروع دي بيا دذي الحجه تر لسو شپو پوري ټول اويا ورځي كيږي دحج مناسك په درو ياڅلورو يا پنځو ورځو كي ادا كيږي اوس چي ورته وګورې پنځه شپيته ورځي يا شپږ شپته ورځي ذاتي سوې ددې څخه دا معلومه سوه چي داوخت دحج دپاره ظرف دئ خو چي دغه ځای ته سړي وګوري چي په دغه اويا ورځو كي سيوا د فرضي حج نه نفلي حج كيږي نه نذري حج كيږي يعني په دغه اويا ورځو كي دوه حجه نه كيږي ددې څخه دا معلومه سوه چي دا وخت دحج دپاره معيار دئ ودغه ته وايي مشكل سړي ورته حيرا ن سي چي اوس ظرف ورته و ايي كه مَيعار ورته وايي زما ټوله زندګي پنځوس كاله ده پر پنځوسم كال الله جل جلاله ماته دحج پيسې راكړې په دغه كال ما حج ونه كړي دبل حج شپې پر ما نه راغلی زه مړ سوم يعني ديو پنځوسم كاله راتلو سره زه مړ سوم اوس ګوره زما په ټوله زندګي كي پر ما يو حج راغلی نو ددې څخه دامعلومه سوه چي دا وخت دحج دپاره معيار دئ ځكه زما په

زندګي کي يو حج ځای سو بل حج نه سو ځای پر يو پنځوسم کال پر ماباندي حج فرض سو ما حج پر يو پنځوسم کال ونه کړي پر دوه پنځوسم کال ما حج وکړپر دري پنځوسم کال ما حج ونه کړپر څلور پنځوسم کال ما حج وکړ :

پر پنځه پنځوسم کال مړ سوم اوس ګوره زما په زندګي کي ديوه حج پر ځای څلور نور حجونه ځای سوه ددې څخه دا معلومه سوه چي داوخت دحج دپاره ظرف دئ امام محمد رحمه الله دحج په کولو کي دتوسع قائله دئ په کوم کال کي چي پر تا حج فرض سو اوس که تا په دغه کال حج ونه کړ بل کال يې وکړه بل کال يې وکړه بل کال يې وکړه پر نبی علیه السلام باندي په شپږم هجري کي حج فرض سو خو نبی علیه السلام په شپاړسم هجري کي حج وکړ، امام ابو يوسف دتضييق قائله دئ چي څرنګه حج درباندي فرض سو بس فورا به حج کوي ددې دپاره چي ځان وساتل سي دفوت کيدو څخه تضييق علامت دمعيار دئ توسع علامت دظرف ده توسع يې هم مشکل ده تضييق يې هم مشکل دئ دحسامي مصنف توسع (تَوَسُّعُهُ) وايي تضييق نه وايي، جواب مصنف وايي دمشکل نسبت توسع ته ځکه کوم چي دامام محمد رحمه الله قول مي نه دئ خوښ ده قول مرجوح دئ راجح قول دامام ابو يوسف رحمه الله دئ ځکه مي دمشکل نسبت تضييق ته نه وکړو :

پنځه اوياسم سبق

فصل في حکم الواجب بالامر :

دعبارت ترجمه: فصل ثابت دئ په حکم کي دواجب بالامر **وهو نوعان :** دغه حکم دواجب بالامر دوي نوعي دئ يوه نوعه اداء ده بله نوعه قضاء ده : **اداء وهو تسليم عين الواجب بسببه الی مستحقه :** اداء ديته وايي عين واجب تسليمول په سبب دواجب داعين واجب تسليمول ومستحق ته دواجب ودغه ته اداء وايي چي ته معين واجب په سبب دواجب تسليم کړي ومستحق ته دواجب ، **وقضاء وهو اسقاط الواجب بمثل من عنده هو حقه:** واجب دزمي دغاړي اړول په مثل سره د اسي مثل چي دخپله طرفه به وي داسي مثل چي دا حق دده دې د مکلف دئ .

فصل فی حکم الواجب بالامر الخ

تشريح: دزيد پر عمرو باندي کړي (ساعت) باندي دئ عمرو حبّه بعينه دا غه کړي ساعت زيد ته يې ورکړه وديته وايي اداء دزيد پر عمرو باندي کړي ساعت باندي دئ دعمرو څخه دغه کړي ورکه سوه عمرو بازار ته ولاړي داغه رکم کړي ساعت يې واخيستي زيد ته يې ورکړه کړي ساعت وديته وايي قضاء عين هغه شی تسليمول ديته اداء وايي تسليم دمثل شي کول ديته قضاء وايي:

دخبري خلاصه: داده عين هغه شي تسليمول ديته اداء وايي مثل دهغه شي تسليمول ديته قضاء وايي.

مثال دماپښين لمونځ پرتاب باندی فرض سو اوس که تا دماسپښين لمونځ دماسپښين په وخت کي وکړي ديته اداء وايي او که پر تا باندي دما سپښين وخت تير سو تا لمونځ دما سپښين په وخت کي ونه کړي اوس که تا دماسپښين لمونځ دمازديګر په وخت کي يا دما خستن په وخت کي وکړي ديته قضاء وايي:

بمثل من عنده : مثل دخپله طرفه ورکول :

سوال: مثل خود خپل طرفه وي دمن عنده دقيد څخه ضرورت سته :

پر شل تاريخ باندي ما لمونځ قضاء کړي پر يو ويشتم تاريخ باندي زه دماپښين لمونځ کوم قضائی لمونځ نه کوم ددغه وخت لمونځ کوم وديته اداء وايي مګر ديو ويشتم تاريخ لمونځ ته بمثل ته ويلي سي ځکه ديو ويشتم تاريخ دماپښين لمونځ دشلم تاريخ دما پښين لمونځ ته سوي دئ ديو ويشتم تاريخ دما سپښين لمونځ اداء ده مګر دقضاء تعريف پر صادق ده ته ودغه اداء ته اسقاط الواجب بمثل ويلي سي . ځکه دا (ديو يشتم تاريخ دماپښين لمونځ دا داغه وخت) وده ته (دشلم تاريخ دما سپښين لمونځ) سوي دئ :

من عنده : مصنف جواب ورکړي هغه ادامثل به دخپله طرفه وي هغه دويشتم تاريخ دما سپښين لمونځ چي سړي کوي هغه پر ده واجب دئ من عند الله موږ وايو دخپله طرفه به وي دمن عنده صورت دارکم راځي دماز ديګر لمونځ قضاء سو ماسختن مي فرضي لمونځ وکړ اوس ويديږم تر سهار پوري دازما تيم وخت دئ زه را ولاړ سوم پخپل تيم وخت کي مي دخپله طرفه دخداى جل جلاله پور اداء کړي پاته سو دماسپښين لمونځ دما سپښين په وخت کي دامن عنده نه دئ دا دخداي جل جلاله حق دئ . **هو حقه** د **من عنده** معنى ورکوي زما څخه فرضي روژه قضاء سوه داختر شپږمه ورځ زما حق دئ چي زه خوراک وکړم،مګر ما خپل حق خپل وخت په روژه کي مشغوله کړ وديته وايي قضاء .

دخبري خلاصه داده: خپل وخت په زاړه پور کي مشغوله کول ديته قضاء وايي التسلم : تسليم ديته وايي شي نقل کول ديوه لاس څخه وبل لاس ته مثال لکه سړي وايي يار ه هغه پيسې دي څه کړي وايي پيسې مي فلانکي سړي ته ور تسليم کړي :

سوال : لمونځ ، روژه حج دا افعال دي افعال خو اعراض دي اعراض خو انتقال نه قبلوي ابنه نو په کوم قانون تاسو لمونځ کولو ته روژه نيولو ته حج کولو ته تسليم واياست :

لمونځ دا سي شي نه دئ چي په لاس ورکول سي لمونځ جسم نه دئ چي انتقال قبول کړي؟

جواب: تسليم دوې معنا ګاني ورکوي دتسليم يوه معنى داده يو جوهر نقل کول ديوه لاس څخه وبل لا س ته دتسليم بله ترجمه داده شي دعدم څخه په وجود کي را وستل په اصولو کي چي تسليم ذکر سي نو دوهمه معنى ورڅخه مراد ده يعني شي دعدم څخه په وجود کي را وستل لمونځ دعدم څخه په وجود کي را وستل روژه د عدم څخه په وجود کي را وستل حج دعدم څخه په وجود کي را وستل ودغه ته تسليم وايي:

فائده: اداء په خپل کور کي درې قسمه ده قضاء په خپل کور کي څلور قسمه ده ، اداء درې قسمه ده ١- اداء کامله ٢- قاصره ٣- اداء شبيه بالقضاء قضاء څلور قسمه ده ١- قضاء بمثل معقول کامل ٢- قضاء بمثل معقول قاصر ٣- قضاء بمثل غير معقول ٤- قضاء شبيه بالاداء :

دا او ه سره قسمونه (درې دادا څلور دقضاء) هم په حقوق الله کي چليږي هم په حقوق العباد کی چليږي نو ټول څوارلس قسمونه دي وټولو ته مصنف په عبارت کي اشاره کړې ده :

شپږ اويايم سبق

واختلف المشائخ فی ان القضاء يجب بنص مقصود ام بالسبب الذی يوجب الاداء :

دعبارت ترجمه: مشائخو اختلاف کړي په دې کي چی قضاء په نص مقصود يعنی په بل امر باندي واجب ده او که په هغه سبب باندي يعني په هغه امر باندي چي اداء په واجب وه يعنی هغه زوړ امر،

واختلف المشائخ الخ :

تشريح: يوتمهيد واوري مخته تر عبارت دا دماسپښين وخت دئ دا مکلف دئ چي څنګه د ماسپښين وخت پر مکلف باندي راغلی نو دما سپښين لمونځ پر مکلف باندي فرض سو وروسته امر (اقيموا الصلوة) ورته ودريدي هغه امر ورته وايي ولاړ سه ولاړ سه ولاړ سه لمونځ وکړه : دماسپښين وخت چي پر مکلف راغلی نو ورته وايي دماسپښين لمونځ در باندي فرض سو اقيمو الصلاوة چي درباندي راغلی وايي پاسه پاسه ولاړ سه ولاړ سه لمونځ وکه :

لهذا وخت به نفس وجوب راولي امر به اداء راولي:

دماسپښين وخت او امر (اقيمو الصلاة) دا دواړه اسباب دي

ليکن اصلی سبب امر (اقيمو الصلوة) دئ ته يې فرض کړه دما سپښين وخت ديوې بجې څخه بيا تر درو بجو پوري دئ چي څنګه دما سپښين وخت را داخل سو نو پر مکلف باندي نفس وجوب راغلی اقيمو الصلوة ديوې بجې څخه تر درو بجو پوري مکف ته ولاړ دئ ورته وايي ولاړ سه لمونځ وکړه ولاړ سه لمونځ وکړه ولاړ سه لمونځ وکړه کرار دماسپښين وخت ووتي خو مکلف لمونځ اداء نه کړ اداء په قضاء باندی بدله سوه اوس دغه قضاء نوې امر

غواړي که هغه زوړ امر غواړي بعض علماء وايي نوي امر غواړی بعض علماء وايي نوي امر نه غواړي هغه زوړ امر کار کوي:

قال عامتهم:

دعبارت ترجمه : يو جماعت حنابله، مالکيه شافعيه :

اکثر احنافو ويلی دي **بانه يجب بذالک السبب :**

قضاء واجب ده په دغه سبب يعني په هغه زوړ امر باندي يعني هغه سبب چي په هغه باندي اداء واجب وه، وهو الخطاب . هغه سبب خطاب دئ، **لان بقاء اصل الواجب للقدرة على مثل من عنده قربة :**

ځکه بقاء داصل واجب دډ وجی چي ته قدرت لري پر دې باندی چي ته مثل ورکړي دخپله طرفه ازروئي ثواب، **وسقوط فضل الوقت :** هغه دوخت فضيلت الله جل جلاله ساقط کړي، **لا الى مثل ولا الى ضمان للعجز :** نه يې مثل غواړي نه يې ضمان غواړي نه يي مثل غواړي چي دغه رکم وخت راوله نه ضمان غواړي چي ټيکس يې راکه دا دواړه دعجز دوجي نسته **امر معقول فی المنصوص عليه :** ځکه بقاء داصل واجب امر معقول دئ په منصوص عليه کي عقل يې مني. :

قال عامتهم بانه يجب بذالک السبب الخ :

تشريح: حنابله. مالکيه . شافعيه اکثر احناف دوي وايي په قضاء باندي هغه سبب وړيسې دئ يعني هغه زوړ امر وړيسې دئ دنوي امر ضرورت نسته زوړ امر دارکم وړيسې دي ديوې بجې څخه تر دروبجو پوي امر (اقيمو الصلاوة) مکلف ته وايي ولاړسه لمونځ وکړه و لاړ سه لمونځ وکړه ولاړ سه لمونځ وکړه دماسپښين وخت ووتي لمونځ قضاء سو بيا امر وړپسي دئ ورته وايي هغه چي تاونه کړاوس يې وکړه هغه چي تا ونه کړ اوس يې وکړه

هغه چي تا ونه کړ اوس يې وکړه انبه دا امر به په ده پوري تر څه وخته پوري وړپسې وي دا امر دده تر عمره پوري وړپسې دئ که ده لمونځ ونه کړ :

چي مرګ ورته راغلی مکلف ته زنکدن يې سو بيا امر ورڅخه ولاړ سی بعض شوافع بعض مشائخ العراق چي بعض احناف دئ معتزله ددوي په نزد باندي نوي نص يعني نوی ا مر ورته دريږي ولی نبی عليه السلام فرمايي من نام عن الصلوة او نسيها فليصلها اذا ذکرها : دغه فليصلها ورته دريږی تر درور بجو پوري اقيموا الصلوة ورته ويل ولاړ سه لمونځ وکړه ولاړ سه لمونځ وکړه ولاړ سه لمونځ وکړه تر درو بجو ورسته فليصلها ورته دريږي ورته وايي اوس نو راسه اوس نو راسه هغه لمونځ وکړه هغه چي تا ونه کړ، د اول جماعت دليل اقيمو الصلوة دغه امر په درو وختو کي ځي چتې کيږي دخداي جل جلاله ديوې بجې څخه تر درو پوري پر مکلف حق دئ مکلف منع عليه الحق دئ الله جل جلاله صاحب الحق منع عليه الحق را ولاړ سو خپل حق يې صاحب الحق ته وزکړ بس اقيمو الصلوة چتې سو مثال اقيمو الصلوة پر يوه بجه مکلف ته ودريږی ورته وي ويل ولاړ سه لمونځ وکړه ملکلف پر يوه لمونځ اداء کړ بس اقيمو الصلوة ولاړي وي ويل دخدای په امان امر چتې سو لهذا امر يو په هغه وخت کي چتې کيږی چي من عليه الحق خپل حق صاحب الحق ته ورکړي دويم صورت چي امر چتې کيږي هغه دا چي صاحب الحق (الله جل جلاله) ورته وايي نه يې غواړم مثال اتو الزکوة ورته ودريږي زکات ورکړه ه دی (مکلف) ورته وايي پور وړي يم بس اتو الزکواة چتې سي ولی مکلف پوروړي دئ دومره پيسې ورسره سته چي دی يی په پور کي ورکړي :

دريم صورت چي امر چتې کيږي هغه دا چي مکلف عاجزه سي بس امر چتې سي مثال اقيمو الصلوة مکلف ته ودريدی ورته وايی ولاړسه لمونځ وکړه مکلف عاجزه سو بې اوبنه سو بس امر چتې سو سړي ديوې بجې څخه تر درو بجو پوري لمونځ ونه کړي لمونځ يې قضاء کړي اوس دغه قضاء واجب ده په زوړ امر باندي په نوي امر باندي نه ځکه امر درې ځايه چتې کيږي دلته منع عليه الحق خپل حق صاحب الحق ته نه دئ ورکړي مکلف ته نه دئ ويل سوي چي نه يې غواړم عجز نسته لهذا قضاء نوی امر نه غواړي هغه زوړ امر ورته ولاړ دئ اوس که ته ووايي چي مکلف لمونځ قضاء کړي نو دی عاجزه دئ لهذا اقيمو الصلوة چتې

دئ اوس راسه دئ عاجزه دئ ځکه ديو بچي څخه بيا تر درو بجو پوري دا وخت دده څخه تير سو لاړی مکلف بيا دا وخت نسي را ګرځوي دغه نو عجز دئ موږ وايو دغه مکلف دنفس کار کولو څخه اجازه دئ که دوخت درا وستلو څخه عاجزه دئ مکلف دوخت دراوستلو څخه عاجزه دئ او داالله جل جلاله دده څخه نه غواړي وديته امر متوجه نه دئ امر وده ته وايي اوس ولاړ سه لمونځ وکړه او په لمونځ کولو کي مکلف عاجزه نه دئ لهذا امر چټي نه دئ هغه زوړ امر ورته متوجه دئ

اوه اويايم سبق

واختلف المشائخ فی ان القضاء يجب بنص مقصود ام بالسبب الذي يجب الداء قال عامتهم الخ :

تشريح دوهم جماعت وايي قضاء نص مقصود غواړي يعني بل نوی امر غواړي :

يوه خبره به موږ ودغه جماعت ته وکړو بله خبره به دوي مو بږ ته وکړي موږ ودغه جماعت ته وايو په کومو ځايو کي چي نص جديد راغلی هلته به په نص جديد کار وکړو په کوم ځای کي چي نص جديد نسته هلته به څه کوو :

فليصلها اذا ذکرها . فَلْيَصُمْهُ دغه دوه ځايه خو نص جديد راغلی په نورو احکامو کي چي نص جديد نه دئ راغلی لکه نذر معين دلته نص جديد نسته زوړ امر خو تاسو سبب نه بولي دوي (جماعت) جواب راکوي وايي دلته سبب تفويت دئ هر کله چي ده ونه کړ ده فوت کړي بس دغه تفويت ورته ودريدی چي اوس يې وکړه لهذا په کوم ځای کی چي نص جديد نسته سبب تفويت دئ که ته ورته ووايي چي تفويت تا دکومه کړ دوي وايي بس داقياس بويي دلالة يې بولي خو تفويت سبب که ته وايي دا خو نص جديد نه دئ دوي وايي دانص جديد نه دئ قائمقامه دنص جديد دئ موږ وايو څه ضروت سته ددومره اوږدو طريقو چي تاسو يې کوي :

زموږ او ددوي ثمره داختلاف چيري ښکاره کيږي زموږ او ددوي داختلاف ثمره ګټه نسته زموږ اوو او ددوي داختلاف ثمره ګټه صرف په تخريج کي ده تخريج معنی حواله نو داده موږ وايو قضاء واجب ده په هغه زاړه امر سره دوي وايي قضاء واجب ده په فليصلها باندي، اخيري خبره دکتابو دزوره اول جماعت (قال عامتهم) زورور دئ

پر دوهم جماعت باندي ځکه فرعي مسائل ددوي تائيد کوي مثال يو سړي مقيم دئ څلور رکعته لمونځ کوي اقيموا الصلوة ورته متوجه سو ورته وايي ولاړ سه څلور رکعاته لمونځ وکړه کرار دې سړي لمونځ قضاء کړي بيا مسافر سو اوس موږ دوهم جماعت ته وايو فليصلها اذا اذکرها ورته دريږي که اقيموا ورته دريږي وايي فليصلها اذا ذکرها ورته دريږي موږ ورته وايو فليصلها اذا ذکرها په سفر کي ورته ودريدی اوس به دوه رکعاته لمونځ کوي که څلور رکعاته وايي څلور رکعاته لمونځ به کوي موږ ورته وايو فليصلها اذا ذکرها داخو په سفر کي ورته ودريدي نو پکار ده چي دوه رکعته لمونځ وکړي دا چي دئ څلور رکعاته لمونځ کوي نو ددې څخه دا معلومه سوه چي اقيموا الصلوة وريسي دئ ورته سبب دئ فليصلها اذا ذکرها نه ورته دريږي:

زه مسافر يم دمازديګر دوه رکعته لمونځ به کوم کرار مي قضاء کړه بيا کورته راغلم مقيم سوم اوس به زه هغه قضائي لمونځ دوه رکعاته کوم په هغه زاړه سبب سره که فليصلها اذا ذکرها ورته دريدای بيا به ما څلور رکعاته کولای او حال دا زه به اوس دوه رکعاته لمونځ را ګرځوم نو معلومه سوه چي سبب هغه زوړ امر دئ جهري لمونځ مي په شپه کي قضاء کړي اوس زه دا دورځي را ګرځوم په جماعت نو هغه رکم جهر به کوو لکه په شپه کي سري لمونځ مي قضاء کړي اوس يې په شپه کي را ګرځوو نو هغه رکم به يې راګرځوو لکه په سرى کي يعني په ورځ کي که نوي امر دريدی بيا به يې جهري سري کولای سري به يې جهري کولای نو معلومه سوه چي سبب زوړ امر دئ ځکه دغه امر پر موږ باندي جهري راباندي جهري کوي سري را باندي سري کوي دامام شافعي رحمه الله ملګري راته وايي دار کم دلائل شروع سو ه راسه زموږ دلائل هم واوروه زه فلج سوم پښي مي کار نه کوي کرار مي لمونځ قضاء کړي بيا جوړ سوم اښه ستا څخه پوښتنه کوم قيامه ساقطه ده که نه ده ساقطه موږ وايو قيامه ساقطه نه ده دوي وايي که زوړ امر سبب واى بيا به قيامه ساقطه واى ځکه ده لمونځ

په ناسته قضاء کړي زه نن نا جوړي يم په اشاره لمونځ کوم کرار مي لمونځ قضاء کړي بيا وروسته جوړ سوم که زوړ امر را پسي واي نو ما به لمونځ په اشاره کولای او سره ددې چي زه لمونځ په اشاره نه کوم موږ وايو دا دومره دليل نه دئ ولي هلته ستا ضرورت وو نو شريعت اجازه وکړه چي په اشاره لمونځ کوه که ضرورت نه وي هلته شريعت تاته اجازه نه درکوي الضرورات تبيح المحظورات

ضرورات محضورات مباح کوي په ناستي لمونځ منعه دئ خو دضرورت په وجه منعه نه دئ:

اته اويايم سبق

وفيما اذا نذر ان يعتكف شهر رمضان

دعبارت ترجمه: په هغه ځای کي چي سړي نذر ومني چي زه به اعتکاف کوم درمضان په مياشت کي ، فصام ولم يعتكف : سړي روژه ونيوله اعتکاف يې نه وه کړي اِنَّمَا وجب القضاء بصوم مقصود : قضاء دا عتکاف واجب په جلا مقصودي روژه کي، لانه لما انفصل عن صوم الوقت : ځکه خبره خودی ده کوم وخت چي اعتکاف جلا سو دوخت فرضي روژې څخه عاد شرطه الى الكمال الاصلى : شرط داعتکاف ګرځي وکمال اصلى ته ، لا لان القضاء وجب بسبب اخر: داسی نه ده چي قضاء واجب ده په سبب اخر باندی :

وفيما اذا نذر ان يعتكف شهر رمضان الخ :

تشريح: مخته يوه قاعده تيره سوې پر دغه قاعده باندي يو سوال او دهغه سوال جواب هغه قاعده داده دجمهور علماء مذهب دادئ په کوم سبب باندي چي اداء واجبيږی په هغه سبب باندي قضاء واجبيږی دقضاء دپاره نوي سبب نسته دامام شافعي رحمه الله او دنورو دمذهب دا وو داداء دپاره جلا سبب دئ دقضاء دپاره جلا سبب دئ که دقضاء دپاره جلا امر راغلی وو بس دغه امريې سبب دئ :

که جلا امر نه وو راغلی بیا یې تفویت سبب دئ دغه قاعده تیره سوي پر دغه قاعده باندي یو سوال کیږي:

یو سړي وویل ددوه زره یوشت (۲۰۲۱) کال په روژه کي اعتکاف پر ما واجب لازم دئ نذر یې ومني کرار دې سړي روژې ونیولې او اعتکاف یې نه وکړ اوس به داسړي څه کوي دلته درې مذاهبه دي ۱- امام زفر رحمه الله ۲- امام ابو یوسف رحمه الله ۳- جمهور احناف امام زفر رحمه الله وایي داسړي به په را روان کال کي دروژې په میاشت کي اعتکاف وکړي امام ابی یوسف رحمه الله وایي پر دغه سړي باندي اعتکاف نسته جمهور احناف وایي دا سړي به داختر بعد نفلي روژې ونیسي په دغه نفلي روژو کي به اعتکاف را وګرځوي:

سوال: اوس یو سوال کیږي پر جمهور احنافو باندي پر دغه نورو دوو مذاهبو اعتراض نسته اعتراض پر جمهور باندي سته هغه سوال اعتراض دادئ که چیري په زاړه امر ﴿وَلْيُوفُوا نُذُورَهُم﴾ باندي نذر واجب کیدای نو بیا به داسي کیدی لکه دامام زفر رحمه الله یا لکه دامام ابی یوسف رحمه الله مګر جمهور وایي نفلي روژې به نیسي اعتکاف به پکښي راګرځوي نو ددې څخه دا معلومه سوه چي ولیو فوانذورهم نه دئ ورته متوجه تفویت ورته متوجه دئ ولی داعتکاف دپاره نوري مقصودي روژې نیسي اوس که ته وایي زه صرف اعتکاف کوم روژی نه نیسم موږ وایو نبی علیه السلام فرمایي لا اعتکاف الابصوم اعتکاف نسته مګر په روژه کي په دغه وجه باندي داعتکاف دپاره روژې نیسی لهذا دجمهور په نیز باندي زوړ سبب نه دئ ورته متوجه ولي که زوړ سبب ورته متوجه وای نو بیا به ده اعتکاف په فرضي روژه کي راګرځولی وای ولي ده اعتکاف په فرضی کي پر ځان نذر کړي:

دجمهور په نزد باندي نوي سبب ورته متوجه دئ ولی ده اعتکاف په فرضی کي نذر کړي او اداء کوي یې په نفلي کي نو ددې څخه دا معلومه سوه چي نوی سبب ورته متوجه دئ

جواب: چي څنګه سړي اعتکاف پر ځان نذر کړي نو پر ده باندي نفلي روژه ضروري سوه اعتکاف په حقیقت کي وضعه سوي دنفلي روژې دپاره مګر سړي په فرض کي اعتکاف

کوي د فرضي سره نفلي روژه نه ځاییږي ولی معیار دئ فرض فضیلت ورباندي لري څه وخت چی سړي په فرض روزه کي اعتکاف ونه کړي نو اعتکاف راګرځي وخپل اصل ته اصل د اعتکاف نفلي روژه ده لهذا نوي سبب ورته متوجه نه دئ هغه زوړ ورته متوجه دئ، :

نه اویایم سبق

دعبارت ترجمه : ثم الاداء المحض: اداء خالصه . **ما یؤدیه الانسان بوصفه علی ماشرع :** دا تقسیم شروع دئ داداء محض اداء کامله هغه ده چي انسان یې اداء کړي سره دوصفه پر هغه طریقه باندي چي مشروع سوي مثل اداء الصلوة بجماعة مثلا لمونځ اداء کول په جماعت باندي **واما فعل الفرد فاداء فیه قصور** هر څه چي اداء دمنفرد ده نو دا اداء ده داسي اداء چي په دې کي قصور دي ودیته وایي اداء قاصره **التزام باوصاف ماشرع کامل التزام بغیر اوصافو ما شرع قاصر** په جهر ي لمونځو نو کي جهر کول صفت کمال دئ په جهري لمونځونو کي جهر نه کول صفت نقصان دئ په هغه لمانځه کي چي په هغه لمانځه کي په قرات باندي جهر کیږي هلته جهر صفت کمال دئ دلیل یې دادئ په پرېښودلو دجهر سره سجودالسهو واجبیږي دمنفرد لمونځ قاصر دئ ولي جهر پاته سو جهر ساقط کول دا دلیل دقصور دئ :.

ثم الاداء المحض ما یؤدیه الانسان الخ:

تشریح : اداء پر دوه قسمه وه ۱- اداء محض ۲- اداء مشابه بالقضاء، اداء محض د یته وایي چي څنګه تا ا لتزام کړي وي هغه رکم یې اداء کړي اداء مشابه بالقضاء دیته وایي چي څنګه دي التزام کړي وي هغه رکم یې اداء نه کړي:

فائده: یو لزوم دئ بل التزام دئ لزوم دیته وایي چي دبل دخوا درباندي ضروري وي التزام دیته وایي چي ته خپله یو شي پر سر باندي واخلې چي دا کار زه کوم مثال استاذ شاګرد ته وویل سبا به دحسامي سبق زده کوي دالزوم دئ شاګرد دځان سره فیصله وکړه چي زه به دحسامي سبق سم زده کوم دا التزام دئ که سړي یو شي پر سر واخیستي بیا یې تر پایه

ورسوي دا اداء محض ده که سړي یو کار پر خپله ذمه واخیستي بیا يې دا کار تر سره ونه رسولي دا اداء مشابه بالقضاء ده اوس راسه زید امام دئ عمرو لمونځ ور سره شروع کړي عمرو لمونځ پر سر واخیستي تر پایه يې لمونځ دامام سره وکړ دا اداء محض ده، عمرو لمونځ دامام (زید) سره شروع کړي عمرو دا لمونځ پر سر واخیستي چي زه به دا لمونځ دامام سره تر پایه کوم مګر دعمرو څخه دلمانځه په مینځ کي اودس مات سو لمونځ يې دامام سره تر پایه ونه رسوي دا اداء مشابه بالقضاء ده:

اداء محض پر دوه قسمه ده ۱- کامله ۲- قاصره اداء کامله دیته وايي شریعت تاته وايي دغه مؤمور به متصفه ده په دغه اوصافو ته راولاړ سوي دغه مؤمور به دې سره داوصافو سره وررسول پوره دئ کړه:

اداء قاصره دیته وايي مؤمور به متصفه په اوصافو باندي وي ته مؤمور به سرته ورسوي غیر داوصافو یعني مؤمور به سره داوصا فو تر پایه رسول پوره کول دیته اداء کامله وايي مؤمور به تر پایه کول غیر داوصافو دیته اداء قاصره وايي مثال لمونځ شریعت په دې باندي متصفه کړي چي په جماعت به يې کوي جبرائیل علیه السلام چي نبی علیه السلام ته څو مره لمونځونه وښودل هغه دجماعت په شکل باندي وه جبرائیل علیه السلام به مخته وو نبی علیه السلام به شاته وو ددې دا معلومه سوه چي لمونځ دشریعت له طرفه په جماعت راغلی فرضي لمونځ په جماع کول اداء کامله فرضی لمونځ بې له جماعته کول اداء قاصر:

اوس پر دې تفریع کوي چي دمنفرد لمونځ قاصر دئ.

الا ترى ان الجهر ساقط عن المنفرد:

دعبارت ترجمه: ته نه ګوري چي جهر ساقط دئ دمنفرد څخه:

وفعل اللاحق بعد فراغ الامام اداء يشبه القضاء.

لمونځ دلاحق وروسته تر فارغه کیدو دامام اداء ده داسي اداء چي مشابه ده دقضاء سره **باعتبار انه التزم الاداء مع الامام** په دې اعتبار چي لاحق اداء پر ځان لازمه کړي سره دامامه.

حين تحرم معه **وقدفاته ذالک حقيقة:** په هغه وخت کي چي ده دامام سره تکبير ي تحريمه وکړه حال دا چي دده څخه دغه اداء فوت سوه

تشريح: يو مسبوق دئ بل لاحق دئ مسبوق ديته وايي چي داوله سره په جماعت کي حاضر نه وي يو يا دوه رکعاته ورڅخه تير وي : بيا دامام سره په جماعت باندي ودريږي لاحق ديته وايي چي داوله سره په جماعت کي حاضر وي خو دجماعت په مينځ کي مثلا دده اودس مات سي بيا ولاړ سي او دس وکړي بيرته راسي لمونځ وکړي دلاحق لمونځ اداء مشابه بالقضاء دئ ولی ده چي څنګه التزام وکړي هغه رکم يې ترپايه ونه رسوي:

ولهذا لا يتغير فرضه بنية الاقامة فی هذه الحالة:

دعبارت ترجمه: د اغه خو وجه ده فرض دده نه مغير کيږي په نيت داقامت په دغه حالت کي **کما صار قضاء محضا بالفوات :** لکه څنګه چي فرض قضاء محض ګرځي په فوات سره، ثم وجد المغير : بيا مغير موجود سي په سفر کي تادوه رکعاته قضاء کړه بيا راغلی مقيم سوي مغير موجود سو مګر دادوه رکعاته نه څلور کيږي **بخلاف المسبوق لانه مؤد فی اتمام صلوته** په خلاف دمسبوق ځکه دي مؤدي دئ په پوره کولو دلمانځه دده:

تشريح: اوس تفريع کوي پر دغه ځای چي مشابه بالقضاء ده زه دکوټي څخه چمن ته روان يم په سفر دما سپښين لمونځ دمازديګر لمونځ را څخه قضاء سو :

کرار ماخستن کوړته راغلم مقيم سوم اوس به زه دوه دوه رکعاته را ګرځوم هغه دوه دوه رکعاته چي زما څخه قضاء سوي دا دوه دوه رکعاته لمونځ په نيت داقامت نه څلور کيږي لکه دمقيم څخه څلور رکعاته لمونځ قضاء سوي دا څلو رکعاته په سفر کي نه دوه کيږي دغه دلاحق فعل قضاء ته سوي دئ لکه قضاء چي څنګه سوي هغه رکم به راګرځي په قضاء کي تغير نه راځي نه په سفر کي مثال ته مقيم وي څلور رکعاته لمونځ قضاء سو اوس ته په سفر کي يې په دغه سفر کي به ته هغه قضائي لمونځ څلور رکعاته کوي دوه به نه کوي،په قضاء کي تغير نه راځي نه په اقامت کي مثال په سفر کي دماسپښين لمونځ قضاء سو اوس ته مقيم سوي په دغه مقيم والی کي به ته هغه قضائي دوه رکعاته لمونځ کوي څلور به نه کوي يو

وخت داسي څای راغلی چي هلته دسفر او داقامت حدود سره نژدې دی سړي دسفر په حدود وكي دامام لمونځ شروع كړي كراريې اودس مات سو دا سړي داقامت حدودوته راغلی اودس يې وكړ بيرته ولاړي دسفر حدود وته په دې باندی دلاحق په فعل كي تغير نه راځي لكه په قضاء كي چي تغير نه راځي لاحق په فعل كي تغير نه راځي دمسبوق په فعل كي تغير راځي ولی دا اداء محض د ه مشابه بالقضاء نه ده مثلا زه په سفركي يم داقامت حدودو ته راغلم دامام سره ودريدم دوه ركعاته راڅخه تير دي مادوه ركعاته پر سر واخيسته دامام سره هغه مي سرته ورسول :

اتیایم سبق

والقضاء نوعان:

دعبارت ترجمه: قضاء پر دوه قسمه ده **قضاء بمثل معقول كما ذكرنا:** يو قسم قضاء بمثل معقول ده لكه موږ چي ذكر كړه ، **وبمثل غير معقول :** دوهم قسم قضاء بمثل غيرمعقول ده ، **كالفدية فى باب الصوم فى حق الشيخ الفاني واحجاج الغير بماله:** لكه فديه وركول په باب دروژه كي په حق دشيخ فاني كي يا په غير باندي حج كول پخپل مال باندي و **ثبتا بالنص :** فديه او حج دا دواړه ثابت دي په نصف باندي فديه په نص ثابته ده هغه نص دادئ وعلى الذين لا يطيقونه فدية طعام مسكين :

حج په نص ثابت دئ هغه نص دئ حديث الخثعمة وهی اسماء بنت ابی عميس الخ. **ولا نعقل المماثلة بين الصوم ولافدية ولا بين الحج والنفقة** : موږ درک دمماثلت نه سو كولی په مينځ كي دروژې او دفديي نه په مينځ كي دحج او دنفقي :

والقضاء نوعان : الخ

تشريح: قضاء پر دوه قسمه ده ۱- قضاء محض ۲- قضاء مشابه بالاداء قضاء محض بيا پر دوه قسمه ده ۱- قضاء بمثل معقول ۲- قضاء بمثل غير معقول قضاء مثال معقول ديته وايي چي دا اداء ده داقضاء ده عقل ددې درک كولې سي چي دا (قضاء) واقع دده (اداء) پر

ځای دریږی بس ودغه ته قضاء بمثلل معقول وایي مثلا دماسپښین څلور رکعات لمونځ سږي قضاء کړي مازدیګر سږي دا څلور رکعاته را ګرځوي عقل دا درک کوي چي دا څلور رکعاته قضائی دهغه څلور و رکعاتو پر ځای دریږي قضاء بمثل غیر معقول دیته وایي چي قضاء او ددغې اداء په مینځ کي عقل دمماثلت درک نسي کولای یعني عقل دادرک نسي کولی چي قضاء واقع اداء ته سوي:

مماثلت دیته وایي چي یو شي وبل شي ته سوي وي:

دخبري خلاصه داده: که دقضاء او داداء په مینځ کي عقل دمماثلت درک کولې سو بس دا قضاء بمثل معقول ده که عقل دقضاء او داداء په مینځ کي دمماثلت درک نه سو کولي بس دا قضاء بمثل غیرمعقول ده ، الله پاک فرمایي ﴿وَعَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِيْنَ﴾ یا خو د لته لام مقدر دئ وعلى الذين لا يطيقونه فدية طعام مسكين پر هغه کسانانو چي دروژې توان نه لري مسکنانو ته دئ ډوډی ور کړي سږیه روژه ونیسه وایي دروژې دنیولو توان نه لرم ښه نو دمسکین نس ور موړ کړه دغه قضاء ده دمسکین نس مړول او دروژې نیولو په مینځ کي هیڅ مماثلت نسته عقل یې درک نسي کولای ولي ددوي په مینځ تضاد دئ په روژه کي نس وږی کول مقصود دئ او په فدیه کي نس ډکول مقصود دئ ددوي دواړو په مینځ کي مماثلت نسته داوچ په وچه امر تعبدي دئ امر تعبدي دیته وایي دخدای جل جلاله دطرفه دبندګي په توګه به یې ته کوي ستا عقل یې مني که یې نه مني، واما فی الاحجاج فحديث الخثعمة وهي اسماء بنت ابي عميس زوجة جعفر بن ابى طالب ذات الهجرتين الحبشة والمدينة انت رسول الله عليه السلام وقالت ان ابي ادركه الحج الخ:

اسماء بنت ابى عميس نبى عليه السلام ته وایي زما پر بابا باندي حج فرض سوي خو زما بابا دولاړي نه دي وهو شيخ كبير لا يتمسک على الراحلة: اسماء وایي زه دبابا له طرفه حج کولي سم نبی علیه السلام وویل ستا پر بابا باندي که چیري دبل سړي پور باندي وای تا وراداء کولی سو وایي وو نو الله جل جلاله خو ددې ډیر حقداره دئ چي دده پور ور اداء سي نو دده پر ځای بل څوک واستوه :

پر سړي حج پاته دئ سړي بل چاته پيسي ورکړي دحج او دپيسو په مينځ کي مماثلت نسته عقل يې دمماثلت درک نسي کولی:

قاعده: کوم شي په نص ثابت سوا وعقل يې درک نه سو کولي په دغه کي قانون دادئ دی به پخپل مورد کي بند وي پر ده باندي بل شی نه سي قياسيدي صحابه پر لمانځه ولاړ دئ بل صحابي ځغار سو صحابه وخاندل نبی عليه السلام سلام وګرځوي وی ويل کوم چا چي خندا قهقهه وکړه دهغوي اودس مات سو دوي دي اودس وکړي بيا دي لمونځ وکړي په خندا قهقهه اودس ماتيدل عقل يې درک نسي کولای په خندا اودس څنګه ماتيږی اودس خو ماتيږي په خروج دشي من السبيلين اوس دغه پخپل مورد کي بند دئ بل شي نسي ورباندي قياسيدي هغه صحابه ټول مشران وه په خندا قهقهه باندي اودس ماتيدل دا بند دئ په مشرانو کي که کشر وخندل اودس يې نه ماتيږي:

هغه لمونځ درکوع او دسجودې خاوند وو اوس که يو لمونځ درکوع او دسجدي خاوند نه وو بيا په خندا قهقهه اودس نه ماتيږي دا داحنافو قاعده ده مګر دا قاعده احنافو ماته کړي اوس راسه اي احنافو دفديي حکم دروژې په باره کي راغلی دلمانځه په باره کي نسته:

احجاج په غير کول دا دحج په باره کي راغلی دبل شي په باره کي نسته دغه دواړه حکمونه په نص باندي ثابت دئ ي پکار داده چي دا دواړه پخپل مورد کي بند سي بل شي ورباندي قياس نه سي ليکن احنافو تاسو لمونځ ورباندي قياسوي دلمانځه فديه به ورکوي ولی احنافو لمونځ ورباندي قياسوي دلمانځه په باره کي خو نص نه دئ راغلی لمونځ نسي قياسيدلی ولی داخلاف القياس راغلی دغه سوال کيدی دحسامي مصنف ددغه سوال جواب ورکوي په لکنه باندي اسانه جواب يې دادئ دقياس او دلالة النص ډير فرق يې دئ موږ قطعا لمونځ پر روژه نه قياسوو دا په دلالة النص ثابتوو روژه تر لمانځه کوچني رکن دئ لمونځ ډير اهم رکن دئ چي په روژه کي فديه سته نو په لمانځه کي په طريقه اولی فديد سته مصنف يې بل طرز جواب ورکوي هغه دا منم قانون داغه دئ چي کوم شی چي په نص باندي ثابت سو هغه پخپل مورد کي بند وي بل نسي ورباندي قياسيداي مګر دايو شرط لري هغه دا چي دابه معلول بعلة نه وي که معلول بعلة وو بيا په دغه صورت کي بل ور باندي

قياسداي سي كيداى سي چي دفديي حكم دئ معلول بعلة وي چي هغه علت عجز دئ پر روژه باندي فديه وركړه په دې شرط چي په تاكي به عجز وي فديه دروژې په باره كي معلوله سوه په علت دعجز باندي فديه دلمانځه په باره كي هم معلوله ده په علت دعجز باندي لهذا هلته علت عجز دلته هم علت عجز خو بيا هم حكم يقينا نه كوو اميد لرو چي دلمانځه په باره كي به الله جل جلاله فديه قبوله كړي لكه دروژي په باره كي چي الله جل جلاله فديه قبلوي:

لكنه يحتمل ان يكون معلولا بعلة العجز :

دعبارت ترجمه: مگر خبره داركم ده دا امكان سته چي معلول دئ سي په علت دعجز باندي، **والصلوة نظير الصوم**، لمونځ دروژې نظير دئ ولى هر يو عبادة بدنيه محضه دئ، **بل هي اهم منه** بلكي لمونځ تر صوم ډير اهم دي دليل يې دادي لكونها تعظيما لله تعالى بنفسها والصوم عبادة بواسطة قهر النفس، **فامر ناه بالفدية عن الصلوة احتياطا:** موږ مكلف ته حكم وكړي چي دلمانځه فديه وركړه احتياطا نه قياسا، **ورجونا القبول من الله فضلا** موږ اميد لرو دقبوليت دالله څخه د ابه دالله جل جلاله پر موږ فضل او احسان وي، **وقال محمد رحمه الله فى الزيادات يجزئه ان شاء الله تعالى:** دا داحتياطا دپاره تائيد دئ امام محمد رحمه الله ويلي دئ په زيادت كي خداى جل جلاله به فديه ودروي دلمانځه په ځاى كي كه دخداي جل جلاله خوښه وه، **كما اذا تطوع به الوارث الخ** كه ته وايي په شريعت كي بل داسي مثال سته چي پر احتياط مبني وي او ته يې دقبول اميد لري موږ وايو ووسته مثال سړي مړ سو روژي ورباندي پاته دئ وارث را ولاړ سو دخپل طرفه يې دهغو روژو فديه وركړه اوس دقبليدو اميد سته، **كما اذا تطوع به الوراث فى الصوم :** لكه څنگه چي وارث په روژه كى دخپل له طرفه فديه وركړي :

يوتيا يم سبق

دعبارت ترجمه: **ولا يوجب التصدق بالشاة او بالقيمة باعتبار قيامه مقام التضحية:**

موږ تصدق نه واجبوو په شاة او په قيمت سره په دې اعتبار چي تصدق ولاړ دئ پر ځای داضحيې داسي نه ده ، **بل باعتبار احتمال قيام الاضحية في ايامها مقام التصدق اصلا:** بلکي موږ تصدق په شام ا و په قيمت واجبوو په دې اعتبار چي اضحيه ولاړ ه ده پر ځای دتصدق **اذ هو المشروع فی باب المال :** که ته وايي دلته دوه احتماله دي ته يوه احتمال ته ترجيح ورکوي نو موږ وايو تصدق په باب دمال کي مشروع دئ. **ولهذا لم يعد الی مثل بعود الوقت** اختري ولاړ دئ ولاړ دئ بل اختر ورباندې راغلی نو نه راګرځي چي اختري اوس حلال کړه ولی په دغه درو شپو کي اضحيه د تصدق پر ځای دريده چي دادري شپي تيري سوي اضحيه ختم سوه **لم يعد الی مثل بعود الوقت :** نه راګرځي ومثل ته په راګرځيدلو دوقت ، زموږ قاعده داوه چي عقل يې درک نه سو کولای دهغه قضاء نسته اوس راسه امام دکوچني اختر يا د لو ي اختر درې تکبيرونه ويلي دي امام رکوع ته ولاړی سړي راغلی پر رکوع ورسره ودريدی هغه درې تکبيرونه مثل نه لري ولی هغه درې تکبيرونه قيامه غواړي قيامه دسړي سره نسته لهذا درې تکبيرونه دسړي څخه فوت سوه اوس يې راګرځيدل نسته ، **ولهذا قال ابو يوسف فيمن ادرک الامام فی العيد راکعا لم يکبر** اغه خو وجه ده امام ابو يوسف ويلي دی دهغه چا په باره کي چي امام په اختر کي ونيسي درکوع په حالت کي نو دغه سړي دی تکبيرونه نه وايي ، **لانه غير قادر مثل من عنده قربة:** ځکه دغه من قادر نه دئ پر علی مثل من عنده باندي از روئي قربت خو طرفين وايي تکبيرونه به په رکوع کي راګرځوي سميع الله لمن حمده به پرېږدي ولی دا مستحب دئ تکبيرو نه به ووايي ولی دا واجب دئ فتوی دطرفينو پر قول ده اوس که ته ووايي داخو قضاء نه سوه ولی قضاء بمثل من عنده قربة ته وايي داخو بمثل من عنده قربة نه ده موږ وايو خبره واحتياطا ته راغله امام صاحب وايي رکوع دي د ه لکه قيامه قيامه هغه وخت ختميږي چي ګونډي کت سي ګونډي په سجده کي کتيږی لهذا احتياط دادی چي تکبيرونه به راګرځوی **لکنا نقول بان الرکوع يشبه القيام :**

مګر موږ وايو رکوع دقيامي سره مشابه ده، **فباعتبار هذه الشبهة لا يتحقق الفوات:** په اعتبار ددغه شبهې فوات نه متحقق کيږي، **فيوتي بها فی الرکوع احتياطا** په دغه تکبيراتو به راتګ کوي په رکوع کي احتياطا :

ولا توجب التصدق بالشاة او بالقيمة باعتبار قيامه مقام التضحية الخ

تشریح دا یو حکم دئ الله جل جلاله کړي خو ددې حکم درک عقل نسي کولای چي دکوم حکم درک عقل نسي کولای دهغه قضاء نه وي قضاء بمثل من عنده ته وايي اوس دلته مثل يې نسته نو قضاء به څنګه وکړي بزه دخدای جل جلاله مخلوق دئ غويي، اوښ دادخدای جل جلاله مخلوق دئ الله جل جلاله وايي دا بزه، غويي، اوښ دا اختر په ورځ را چپه کړي پر غاړه يې چاړه کښيږدي :

حلال يې کړي غوښه يې وخوري دخداي جل جلاله مخلوق (بزه، غويي، اوښ) ته عذاب ورکړي او ثواب هم ويسي ددې درک عقل نسي کولای ثواب هم داسي ثواب دئ چي دهر ويښته په بدله کي يوه نيکی يوه ګوناه معاف او په ورځ داخيرت به پر دغه بزه ، غويي، اوښ پر پلي صراط تيريږي لهذا قانون دادئ چي دکوم حکم درک عقل نسي کولای دهغه قضاء نسته مګر قضاء يې سته په هغه صورت کي چي په بل نص دا ثابته سي چي دايې مثل دئ لکه په مخکني سبق کي موږ وويل شيخ فاني دي دروژې پر ځای فديه ورکړي که څه هم عقل يې درک نسي کولای خو شريعت مثل ورته وويل زموږ عقلونه يې درک نسي کولای شريعت مثل ورته وويل که يوځای عقل درک نسو کولای په بل نص هم ثابت نه وو بيا يې قضاء نسته ا داحنافو قاعده ده :

اوس راسه داختر په دادرو ورځو کي که سړي اضحيه اختري وکړي نو اضحيه ، اختري سو که په دغه درو ورځو داختر کي سړي اضحيه، اختري ونه کړ نو به سړي دغه اختري را واخلي بل چاته به يې صدقه کړي که اختري هلاک سوی وو بيا به يې قيمت بل چاته ورکړي اوس راسه که ته وايي سړي چي اختري يا قيمت بل چاته ورکوي دا سړي بيا قضاء راوړي موږ وايو وو داسړي يې قضاء راوړي:

اوس سوال دادئ داختر په ورځ چي سړي اختري حلالوي مخلوق (اوښ) ته عذاب سړي ته ثواب عقل ددې درک نسي کولای چي عقل يې درک نسي کولای نو قضاء يې نسته چي قضاء يې نسته نو اختري يا قيمت بل چاته ورکول دا په کوم قانون قضاء ده ، جواب موږ وايو ډير احکام پر احتياط بناء دي سړي چي اختري يا قيمت بل چاته صدقه کوي دا

احتياطا كه ته وايي احتياطا څه معنى احتياط دا معنى داسي نه چي غاړي مي په بندي سي كه زه اختري صدق نه كړم يا يې قيمت ورنه كړم:

په اضحيه كي دوه احتماله دي يو احتمال دا دئ اختري (اوښ) حلالول اصل دالله جل جلاله اصل مقصود اختري حلالول دي غوښه خير اتول دا دى ده لكه فرعه دايي يو احتمال دوهم احتمال دادي اصل دالله جل جلاله په ما او تا باندي اختري حلالول نه دي اصل دالله جل جلاله په ما او تا باندي صدقه كول دي چي په موږ باندي تصدق كوئ نو موږ وايو الله جل جلاله اختري واخله الله جل جلاله وايي اختري دي راكړي نو تاسو زما ميلمانه ياست الله جل جلاله وايي زه پاك ذات يم زه غواړم چي زما ميلمستيا په پاك شي قبو له سي موږ الله جل جلاله ته وايو نو څه وكړو الله جل جالله وايي دا اختري واخله كراريې حلال كړه مر داره وينه يې توى كړه صفا غوښه وخورى زما ميلمانه ياست اوس راسه په اول احتمال كي اضحيه ذبجه اصل تصدق فرعه په دوهم احتمال كي تصدق اصل اضحيه فرعه:

مګر د كتابو له زوره تصدق اصل دئ اضحيه يې فرعه ده ولي اوښ مال دئ په مال كي اصل تصدق دئ ولى الله جل جلاله داسي نه وايي چي ماته لرګي پسي ماتي كړي الله جل جلاله وايي زما په لاره كي لرګي پيسي وركړي نو معلومه سوه تصدق اصل اضحيه فرعه اوس راسه په دغه درو ورځو كي چي سړي اضحيه ونه كړه دائي وخپل اصل ته چي تصدق دئ كه ته وايي اضحيه اصل كړه تصدق فرعه كړه موږ وايو احتياط په تصدق كي دئ:

دواتيايم سبق

دعبارت ترجمه وهذا الاقسام كله يتحقق فى حقوق العباد: دغه ټول اقسام سته چليږي په حقوق العباد كي لكه څرنګه چي دا اقسام وه چليدل په حقوق الله كي :زيد را ولاړسو : دعمرو څخه يې غلام په زور واخيستي قاضي وزيد ته وويل غلام بيرته عمرو ته وركړه كرار زيدرا ولاړ سو غلام يې وعمرو ته وركړي عين غلام مغصوب تسليمول وديته اداء كامله وايي فتسليم عين العبد المغصوب اداء كامل:

عين عبد مغصوب ورکول دا اداء کامله ده ، بکر دعمرو ، غلام دئ په دغه غلام کي هيڅ نقصان نسته يعني دغه غلام دچا څخه پيسي نه دي غلا کړی دغه غلام دچا سترګه نه ده ور ايستلې زيد را ولاړ سو دعمرو څخه يې دغه غلام غصب کړ اوس في الحال غلام دزيد سره دي کرار غلام ديو چا څخه روپۍ غلا کړي يا غلام ديوچا سترګه يې ور ويستله اوس زيد دغه غلام وعمرو ته ورکوي وديته اداء قاصره وايي ولی غلام چي مخته دعمرو سره وو جنايت يې نه وو کړي هيڅ نقصان نه وو اوس چي زيد ور تسليم کړي جنايت سته **وردَ مشغولا بالدين او بالجناية سبب كان في يدالغاصب اداء فصار:** عبد مغصوب ردول په داسي حال کي چي عبد مغصوب مشغوله وي په دين او يا په جنايت سره په داسي سبب سره چي دغه پور او يا جنايت دا به عبد مغصوب کړي وي دغاصب په لاس کي عبد مغصوب په داسي اوصافو ور تسليمول دا اداء قاصره ده،

واذا اَمهرَ عبدالغير

دعبارت ترجمه: سړی مهر کښيښودلو دعمرو پر غلام معين باندي يعنی دعمرو غلام يې مهر کړ، **ثم اشتراه**، بيا سړی دغه معين غلام و اخيستی، **كان تسليمهَ اداءً** نو تسليم ددغه غلام معين ښځي ته اداء ده ، مصنف دااداء علامت رانبيي **حتى تجبر على القبول**: ښځه به دغلام پر قبلولو مجبوره کيږي، **شبيها بالقضاء من حيث انه مملوكه قبل التسليم.**: داسي اداء چي مشابه بالقضاء ده په دې اعتبار چي دا غلام دزوج مملوک دئ مخکي تر تسليمولو دغلام وښځي ته يعني زوج غلام تر اوسه پوري ښځي ته نه دئ ورکړی غلام يو وار دزوج ملک ته ئي بيا دښځي ملک ته ځي ددې دپاره مصنف دليل وايي **حتي ينفذ اعتاقه دون اعتاقها**: نتيجه يې داده چي عتق دزوج ده چليږي دښځي عتق نه چليږي ولی نبی ﷺ فرمايي لا عتق لمن لا يملكه:

تشريح: دا يو ښځه ده ماورته وويل زما سره نکاح وکړه ښځي راته وويل نکاح درسره کوم په دې شرط باندي چی ته به ماته دغه دعمرو، غلام را کوي ما ورته وويل سمه ده کرار ما دعمرو څخه غلام رانيوی بيا مي دغه غلام وښځي ته ورکړي نو دا اداء ده ولي ښځي چي په کوم غلام زما سره نکاح کړي وه ما هغه غلام ورکړي دااداء علامت دادئ چي قاضی به

دابنځه مجبوره کوي پر دې باندې چې اوس به دغه غلام قبلوي ولی تا په دغه غلام نکاح ورسره کړې وه لهذا دا اداء ده لیکن مشابه بالقضاء ده اداء ځکه ده چې ښځي کوم غلام غوښتی وو هغه غلام مي ورکړ په بل لحاظ چې ورته وګوري عین هغه شي مي نه دئ ورکړي ولی قاعده داده تبدل دملک تبدل دعین راولي ما وښځي چې نکاح دعمرو پر غلام کړې وه په دغه وخت کې د غه غلام دعمرو په ملک کې وو ما چې دعمرو څخه غلام رانیوی نو غلام زما په ملک کې سو موږ دحسامي مصنف ته وویل ما چې غلام دعمرو څخه رانیوی داغه دارک دښځي ملک ته ځي زما ملک ته نه راځي مصنف وایي داسي نه ده یو وار به ته دغلام مالک جوړيږي بیا به دښځي ملک ته ئي ولي تا چې غلام را نیوئ غلام ستا سره موجود دئ تا و ښځی ته نه دي ورکړي اوس شریعت وایي پر دغه غلام في الحال ستا عتق چلیږي دښځي عتق نه پرچلیږي دا چې ستا عتق چلیږي دښځي عتق نه چلیږي نو دا علامت ددې دئ چې ته دغلام مالک یې ښځه د غلام مالکه نه ده ولي دالله جل جلاله حبیب ﷺ وایي لا عتق لمن لا یملکه عتق نسته دهغه چا دپاره چې دی یې مالک نه وي وروسته چې غلام وښځي ته ورکول سو بیا نو ښځه د غلام مالکه ده اوس راسه په کوم وخت کې چې ما غلام دعمرو څخه را نیوی هلته غلام دعمرو مملوک وو بیا چې ما غلام دعمرو څخه رانیوی اوس غلام زما ملک دئ نو دا اداء مشابه بالقضاء ځکه ده چې عین هغه شي ما وښځي ته ور تسلیم نه کړ ولي غلام مخته دعمرو مملوک وو بیا وروسته تر را نیولو زما مملوک سو بیا مي ښځي ته ورکړ ددې دپاره څه دلیل سته چې تبدل دملک تبدل دعین راولي دلیل واوره دنبی کریم ﷺ مینځه وه هغه مینځه بریره رضی الله عنها وه بریري رضی الله عنها نبی کریم ﷺ ته وچه خورما او څه نور شیان ورکړل نبی علیه السلام ورڅخه تسلیم کړل ورڅخه وایي خیستل او س دلته دیګ ایشي په دیګ کي غوښه پرته ده نبی علیه السلام ورته وویل دا خو دي خورما راکړه په هغه غوښه کي زما حصه نسته بریري رضی الله عنها ورته وویل دا غوښه دصدقي ده دزکات ده زکات خو تاته جائز نه دئ نبی علیه السلام ورته وویل دا ستا دپاره صدقه ده که تا ماته راکړه بیا فدیه سوه هغه دئ تبدل دملک تبدل دعین راولي یوه غوښه ده چې یو یې مالک سی نو صدقه سي چې بل یې مالک سو نو فدیه سوه :

اوس راسه ما او ښځي چي په کوم غلام نکاح کړې ما هغه غلام ورکړ په دې لحاظ اداء ده په دې لحاظ چي ورته وګوري چي دغه غلام مخته دعمرو مملوک وو بیا زما مملوک سو نو مشابه بالقضاء ده :

وهذا الاقسام كله يتحقق فى حقوق العباد الخ :

تشریح: اداء پر دوه قسمه وه ١- اداء محض ٢- اداء مشابه بالقضاء،قضاء هم پر دوه قسمه وه ١- قضاء محض ٢- قضاء مشابه بالاداء، اداء محض پر دوه قسمه وه ١- کامله ٢- قاصره : قضاء محض هم پر دوه قسمه وه ١- بمثل معقول ٢- بمثل غير معقول :

دغه ټول اقسام چي څرنګه په حقوق الله کي جاري کيدل همدارنګه په حقوق العباد کي جاري کيږي .

دعبارت ترجمه **وضمان الغصب قضاء بمثل معقول:** ضمان دغصب قضاء بمثل معقول ده، **وضمان النفس والاطراف قضاء بمثل غير معقول** ضمان دنفس او داطرافو قضاء بمثل غير معقول ده .

وضمان الغصب قضاء الخ:

تشریح: ماديو چا څخه يو شي په زور واخيستي دغه شى به ددوو حالو خالي نه وي يابه داشي زما سره فى الحال موجود وي يا به زما څخه داشي هلاک سوي وي که داشى زما سره موجود وو نو پر ما فرض دئ چي داشي به زه وخپل مالک ته ورکوم که داشي زما څخه هلاک سوي وو نو بيا به زه ددې شي ضمان ورکوم دغه شي چى هلاک سوي دئ دابه ددوو حالو خالى نه وي يا به دذوات القيم څخه وي يا به دذوات الامثال څخه وي ذوات القيم دا معنى چي کوم شي غصب سوي دى په هغو شيانو کي تفاوت سته يو شي دبل شي مثل نسي جوړيداى تفاوت پکښي وي ذوات القيم دا معني مثال دا بزه ده زيد را ولاړ سو دعمرو څخه يې په غصب کړه دزيد څخه بزه هلاکه سوه اوس چي زيد بله بزه اخلى عمرو ورته وايي زما بزه تردې ښه وه زيد په دشلو زرو بزه ورکوي عمرو به ددیرش زره بزه غواړي نو جنجال راځي

لهذا بزه دذوات القيم څخه ده نو زيد به وعمرو ته دبزي قيمت ورکوي بعضي شان دذوات الامثال څخه دي مثال دعمرو سره پنځه کيلو چيناپي بوز ده زيد راولاړ سو دعمرو څخه يې دا جوز غصب کړه بي دابوزه دزيد څخه هلاک سوه اوس به زيد و عمرو ته پنځه کيلو : چينايي جوز ورکړي د ذوات الامثال دي مثل لري غصب سوي شي چي چي هلاک سوي وي ددغه شي ضمان چي سړي ورکوي هغه که دذوت القيم څخه وي که دذوات الامثال څخه وي دا قضاء ده اداء نه ده ولي اداء خو عين هغه شي ورکول دي دا خو عيني هغه شی نه دئ :

قضاء پر دوه قسمه ده ١- قضاء بمثل معقول ٢- قضاء بمثل غير معقول زيد چي وعمرو ته دبزې قيمت ورکوي دا قضاء بمثل معقول ده بکر دعمرو ورور دئ زيد را ولاړ سو کرار يې دعمرو (بکر) ور مړ کړ اوس دزيد او دعمرو فيصله پر ديت وسوه ديت نن سبا څلويښت لکه کالدراي جوړيږي تقريبا اوس به زيد وعمرو ته څلويښت لکه ورکوي دغه څلويښت لکه عمرو ته ورکول دا قضاء ده اداء نه ده ولي عين هغه شي نه دئ ورکول سوي قضاء د ه ولي مثل ورکول سوي مګر دا قضاء بمثل غير معقول ده ولي عقل يې نه مني مماثلت په مابين دانسان او دمال کي بل مثال زيد راولاړ سو دبکر سترګه يې و وايستله بکر را ولاړ سو زيد ته وايي زه هم ستا سترګه درباسم زيد ورته وايي زما سترګه مه را باسه زه به ستا دسترګي په عوض کي شل لکه کالدراي درکړم دغه شل لکه کلداري ورکول دا قضاء بمثل غير معقول ده ولي عقل مماثلت نه مني په مابين کي دمال او دسترګي :

دفقه قاعده: پوره ديت نن سبا دورکي څلويښت لکه کالداري دئ که ته وايي څلويښت لکه ديت تاته دکوم ځای څخه را واخيستی موږ وايو دا احنافو مذهب دادئ چي پوره ديت کامل ديت (١٠٠) اوښان دي شل به بنت مخاض ورکوي شل به ابن مخاض ورکوي دايې څلويښت شل به بنت لبون ورکوي دايې شپيته شل حقي دي دايې اتيا شل جزعي دي دايې سل ددغه (سلو ١٠٠) اوښانو قيمت په پاکستان کي تقريبا نن سبا څلويښت لکه کلداري جوړيږي دا څلويښت لکه روپۍ دپوره نفس ديت دئ:

والاطراف : اطراف ديته وايي چي ديو انسان عضو ور پرې کړي يو څو داسي عضوه دي چي پوره ديت ورباندی راځي که سړي دبل سړي پوزه ور پرې کړه پوره ديت به ورکوي ژبه

يې ور پرې کړه پوره ديت به ورکوي، دواړه لاسونه يي ورپرې کړل پوره ديت به ورکوي، دواړې پښې يې ور پرې کړې پوره ديت به ورکوي دلاسو او د پښو شل ګوتي يې ورپرې کړې پوره ديت به ورکوي په دوو سترګو کي يوه سترګه ور ايستل بيا نيم ديت دئ په دوو غوږو کي يو غوږ ور پرې کول نيم ديت دئ په دوو لاسو کي يو لاس پرې کول نيم ديت دئ په دوو پښو کی يو پښه ور پرې کول نيم ديت دئ په دوو خايو کي يوه خايه کښل نيم دئ به دواړکي پوره ديت دئ په دوو شونډانو کي يو شونډ ورپرې کول نيم دئ دئ دلاسو او دپښو په ګوتو کي که لس ګوتي پرې سي نيم ديت دئ هغه لس ګوتي که دلاسو وي که دپوښو وي:

دلاسو په ګوتو کي يوه ګوته پرې کول بيا عشر ديت دئ يعني لسم دديت دئ يعني په څلويښت لکه کي به څلور لکه ديت ورکوي :

دعبارت ترجمه: **او اذا تزوج علی عبد بغير عينه:** څه وخت چي سړي دښځی سره نکاح وکړي پر غلام غير معين باندي، **كان تسليمه القيمة قضاء هو فی حكم الاداء حتي تجبر علي القبول:** نو زيد چي قيمت وښځي ته ورکوي داور کول د قيمت داقضاء ده داسي قضاء چي په حکم کی داداء ده علامت يې دادئ چي دا ښځه به مجبوره کيږی پر قبلولو باندي، **كمالو اتاها بالمسمی :** لکه ښځه چي مجبوره کيږي په عبد معينه باندی :

واذا تزوج علی عبد بغير عينه الخ :

تشريح: مصنف قضاء مشابه بالا داءشروع کړه ، دايو ه ښځه ده دې ښځي پخپل مهر کي وويل ماته به په مهر کي يو غلام راکوي څنګه غلام تر مينه غلام په بازار کي هر رکم غلام سته يو غلام په لس لکه کالدراى دي بل رکم غلام په دوه لکه کالدراي دئ بل رکم غلام په پنځه لکه کلداري دئ تر مينه غلام په پنځه لکه کلدراي دي دزيد او دښځي نکاح پر غلام وسوه زيد را ولاړ سو ښځی ته يې دغلام پرځای قيمت ورکړي داقضاء ده اداء نه ده ولي ده عين غلام نه دئ ورکړي زيد دغلام قيمت ورکړي دغلام قيمت ورکول داقضاء ده خو مشابه بالاداء ده اوس راسه مشابه بالاداء څنګه ده شبه بالاداء داسی جوړيږی زيد دښځی سره نکاح په عبد متوسط وکړه کرار زيد منډي ته لاړي په منډي کي غلام اعلی، متوسطه ادني

په پيسو معلوميږی ددې ځايه دا معلومه سوه چي په اصل حقيقت کي دزيد او د ښځي نکاح په قيمت سره سوې ده صرف غلام يې ياد کړي دغه ځای يې واداء ته سوي :

دروا تيايم سبق

: ثم الشرع فرق بين وجوب الاداء ووجوب القضاء:

دعبارت ترجمه شرعي فرق کړي دئ په مابين کي دوجوب الاداء او دوجوب القضاء فجعل القدرة الممكنة شرطا لوجوب الاداء دون القضاء شرعي قدرت ممکنه شرط ګرځولي دئ دوجوب الاداء دپاره نه دوجوب القضاء دپاره :

ثم الشرع الخ :

تشريح: ﴿لا يكلف اللهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا﴾ دالله جل جلاله عادة مبارکه دا نه دئ چي دسړي سره طاقت توان نه وي او داسړي دئ الله جل جلاله په فعل باندي مکلف کړي الله جل جلاله يو وار سړي ته ديو فعل توان او طاقت ورکړي بيا الله جل جلاله په دغه فعل باندی سړي مکلف کړي دغه طاقت قدرت په خپل کور کي پر درې قسمه دئ ۱- قدرت حقيقه ۲- قدرت متعارفه ۳- قدرت مجازيه دقدرت حقيقيه دويم نوم توفيق من الله دئ اول قدرت حقيقيه دئ دالله جل جلاله دطرفه توفيق ورکول کيدل وديته قدرت حقيقيه وايي سړي پر لمانځه ودريدي الله جل جلاله سړي ته دلمانځه ددريدلو توفيق ورکړي وما توفيقي الا بالله ی شي دالله جل جلاله دتوفيق پرته نسي کيدای ودغه سړي ته چي الله جل جلاله دلمانځه ددريدلو توفيق ورکړ ودغه ته قدرت حقيقيه وايي .

فائده: قدرت حقيقيه دفعل سره معي وي يعنی دفعل سره ښنتي وي دوهم قدرت متعارفه دئ قدرت متعارفه ديته وايي چي سلامة الالات والاسباب وي الله جل جلاله زيد ته حکم وکړ جهاد وکړه خو زيد لاسونه نه لري پښې نه لري سترګي نه لري زيد په سترګو ړوند دئ په لاسو او پښو شل دئ الله جل جلاله ودغه زيد ته دجهاد قدرت نه دئ ورکړي ولي دجهاد الات اسباب دزيد سره نسته چي دزيد سره سلامة الالات و الاسباب نسته نو دزيد سر

قدرت متعارفه نسته كه زيد په ستركو په لاسو په پښو جوړ دئ بيا الله جل جلاله دجهاد حكم وزيد ته وكړي په دغه صورت كي دزيد سره قدرت متعارفه سته ولي الالات او اسباب برابر دي الله جل جلاله حكم وكړ فاغسلوا وجوهكم اودس وكړه خو اوبه نسته چي اوبه نسته نو قدرت متعارفه نسته كه اوبه سته نو قدرت متعارفه سته قدرت حقيقيه دفعل سره معي وي قدرت متعارفه دفعل سره معي نه دئ هغه پر فعل مقدم وي. دريم قدرت مجازيه دئ قدرت مجازيه ديته وايي عين حقيقي سلامة الالات والاسباب نسته خو توهم يې سته.

فائده: دار او مدار دتكليف چي سړي مكلف كيږي دغه دار او مدار دتكليف قدرت متعارفه دئ كه ته يو سړي ته ووايي ولي لمونځ نه كوې كه دغه سړي درته ووايي الله توفيق نه دئ راكړي نو ته ورته ووايه قدرت حقيقيه شرط نه دئ داسي نسي كيداى چي الله جل به تاتر لاس نيسي اوپر لمانځه به دي دروي لهذا قدرت حقيقيه شرط نه دئ قدرت متعارفه شرط دئ ورسه لمونځ وكړه سلامة الالات والاسباب سته ولي لمونځ نه كوي لمونځ وكړه قدرت متعارفه پخپل كور كي پر دوه قسمه دئ ۱- ممَكِّنَه ۲- مُيَسِّره قدرت ممكنه ديته وايي چي صرف تاته قدرت پر دې دركړي چي مؤمور به ادا كړې قدرت ميسره ديته وايي چي دمؤمور به اداء كول درته اسانه كړي اوس راسه دزكات په باب كي الله جل جلاله وايي وَاتو الزكوة زكات وركړي په زكات كي يو قدرت ممكنه دئ بل قدرت ميسره دئ قدرت ممكنه دغه چي سړي صرف مال ولري كه مال نه وي بيا به سړي څه شي وركړي لهذا مال به سړي لري دغه قدرت ممكنه دئ ليكن الله جل جلاله موږته اسانه كړي په صرف مال درلودلو باندي زكات مه وركوي الله جل جلاله موږ ته اسانه كړي داركم يې اسانه كړي كال به پر تير سوي وي دپوره به خلاص وي دسړي په لاس كي به وي الله جل جلاله ډير راته اسانه كړي زكات الله جل جلاله په زكات كي قدرت غواړي خو په لمانځه كي قدرت ممكنه په زكات كي قدرت ميسره دغه ټول يو تمهيد وو يوه اداء ده بله قضاء ده اوس راسه دا يو سړي دئ لمونځ نه كوي نه كوي نه كوي بله ورځ كرار دكينسر مريض سو چي كنسر سو نه يې لاس كار كوي نه يې پښې كار كوي اودس نسي كولاى تا دې سړي ته وويل هغه لمونځونه را وګرځوه دي وايي قدرت نه لرم ته ورته و وايه په هغه وخت كي چي جوړ وي قدرت دي درلودى دي وايي وو قدرت مي درلودي ته ورته وايي اوس في الحال قدرت لري وايي يا

قدرت نه لرم ته ورته ووايه اوس به څه کوي دی وايي ما توبه کښلې ده اوس قدرت نه لرم چي قدرت نه لرم نو پر ما فرض نه دئ نو ته دی سړي ته ووايه قدرت ممکنه داداء دپاره ضروري دئ دقضاء دپاره نه دئ ضروري لهذا دا سړي په دې نه خلاصيږی چي زه قدرت نه لرم داسړي به فديه ورکوي دا قاعده ده قدرت ممکنه د اداء دپاره ضروري دئ دقضاء دپاه ضروری نه دئ دا سړي (عمرو) کنسر دِئ بلکي دلمانځه نه دئ الله جل جلاله دما پښين په وخت کي ورته وويل ولاړ سه لمونځ وکړه داسړي (عمرو) په اداء کي ورته ويلاي سي چي الله جل جلاله زه قدرت نه لرم اښه هغه زاړه قضاء سوي لمونځونه را ګرځوه ا وس به دا سړي (عمرو) داسي نه وايي چي زه قدرت نه لرم ولي قدرت داداء د پاره ضرروی دئ دقضاء دپاره ضروري نه دئ دا سړي. (عمرو) به فديه ورکوي :

لان القدرت شرط الوجوب: **دعبارت ترجمه:** قدرت ممكن شرط دوجوب الاداء دئ ولايتكرر الوجوب فى واجب واحد : په يوه واجب کی وجوب نه مکرر کيږي :

تشريح: چي شرط مکرر سي نو مشروط ورسره مکرر کيږي قدرت ممکنه داداء دوجوب دپاره شرط دئ اوس که قدرت ممکنه دقضاء دپاره شرط سي نو به وجوب مکرر سي چي وجوب مکرر سي نو به شرط مکرر سي ولي قدرت ممکنه شرط دئ دوجوب دپاره او حال دا شرط نه مکرر کيږي ولی شرط وسيله ده دپاره دحصول دمشروط او مقصود هر کله چي مقصود (وجوب) نه مکرر کيدی نو وسيله (شرط) هم نه مکرر کيږی مثال دماسپښين په وخت کي الله جل جلاله زيد ته وويل ولاړ سه لمونځ وکړه اوس راسه دلمانځه دوجوب او فرضيت دپاره قدرت ممکنه شرط دئ اوس که قدرت ممکنه دقضاء دپاره شرط سي نو به وجوب هم راځي ولی چي شرط مکرر سي نو مشروط هم مکرر کيږی او وجوب په يوه واجب کي نه مکرر کيږي :

دعبارت ترجمه: **والشرط كونه متوهم الوجود:** شرط دوجوب الاداء دادئ چي قدرت به متوهم الوجود وي، **لا كونه متحقق الوجود** دا ضروري نه ده چي قدرت به متحقق الوجود وي، **فان ذالک لا يسبق الاداء** دغه متحقق الوجود تر اداء سبقت نه کوي ولي دا دار او مدار دتکليف نه دئ، **ولهذا قلنا اذا بلغ الصبي او اسلم الكافر فى اخر الوقت**، داغه خو وجه د:

موړ وو ایو چي کوچني بالغه سي یا کافر اسلام راوړي په اخیر وخت کي، **تلزمه الصلوة** پر ده (صبي کافر) لمونځ لازم دئ **لجواز ان یظهر فی الوقت امتداد بتوقف الشمس** ولی دا امکان سته چي ښکاره دئ سي په وخت کي کشوالی په دریدلو سره دلمر، **کما کان لسلیمان علیه السلام:** لکه سلیمان علیه السلام ته **فصار الاصل مشروعا:** اصل به وربانديمشروع سي فرض به سي که کوچني بالغه سو یا کافر اسلام را وړي یا حائضه صفا سو مګر فی الحال دوي عاجز دي اداءنسي کولی **ووجب النقل للعجز فیه** د اداءڅخه به نقل سي وقضاء ته ولي دوي ظاهرا عاجزه دي:

والشرط کونه متوهم الوجود الخ

تشریح: قدرت خو دوجوب الاداء دپاره شرط دئ اوس راسه دغه قدرت چي شرط دئ دابه بالفعل لري که به یې صرف توهم وي دا کافر دئ دما سپښین لمونځ پر پوره درې بجې قضاء کیږي مثلا دي کافر اسلام راوړي دې دقیقي کم درې بجې قدت ممکنه سلامة الالات والاسباب ته وایي دغه سړي تر دوې دقیقي لري په دوې دقیقي کي لمونځه نه کیږي بالفعل دده سره قدرت نسته چي قدرت نسته نو لمونځ پر ده فرض نه دئ مګر لمونځ پر ده فرض دئ ولی بالفعل قدرت شرط نه دئ صرف توهم به یې وي اوس دده سره قدرت توهمه سته ولي دا امکان سته چي الله جل جلال به داددوې دقیقي سره کش کړي وده ته یې فراخه کړي او دی پوره لمونځ پکښی وکړي همدارنګه که ښځه هغه وخت صفا سي چي صرف دوې دقیقي پاته وي نو لمونځ پر دغه ښځي فر ض دئ ولي قدرت بالفعل شرط نه دئ صرف قدرت توهمه به وي که ته وایي الله جل جلاله یو وخت داسي کار کړي دئ چي وخت یې سره کش کړي موړ وایو وو الله جل جلاله په کراتو مراتو سره کړي یو وار یې دسلیمان علیه السلام سره کړي بل وار یې دیشع علیه السلام سره کړي بل وار یې دعلی ﷛ سره کړي سلیمان علیه السلام په اسانو باندي لګیا دئ دا اسانو ډیر شوق وو سل اسان وه هلته مازدیګر لموځ ورڅخه قضاء سو سلیمان علیه السلام ته درد ورغلی چي لمونځ څنګه قضاء سو وې ویل اسان راولي دټولو اسانو یې پښي اوسرونه ورکاټ کړل ویي ژړل الله جل جلاله بیرته لمر ورته راوه خیژوي بیا یې دمازدیګر لمونځ وکړ دموسی علیه السلام داکازوي یشع علیه

السلام پر بیت المقدس باندي جنګ جهاد شروع کړ په بنی اسرائیلو کي قانون داوو چي لمر به پرېوتی بیا به یې جنګ نه کاوو یشع علیه السلام جنګ شروع کړ صرف یوه غونډي ورته پاته ده الله جل جلاله دی امر کړی چي ته به دا ترما ښامه پوري نیسي یشع علیه السلام به دغونډي سرته ځان رسوي ولی دالله جل جلاله حکم دئ اوس چي دی دغونډۍ سرته ځان رسوي نو لمر او غرسره ورغله نو حیران سو که دغونډي سرته ځان رسوي نو لمونځ پاتیږي دا هم دالله جل جلاله حکم دئ که لمونځ کوي نو دغه غونډي پاتیږي داهم د الله جل جلاله حکم دئ نو یشع علیه السلام لمر ته وکتل وي ویل ته هم دالله جل جلاله مخلوق یې زه هم دالله جل جلاله مخلوق یم (لمر) مؤمور به په پر یوتو یی زه (یشع علیه السلام) مؤمور په فتح کیدو یم لهذا زه په دې کار لګیایم چي پرېږ نه وځي لمر دپریوتلو پر ځای نور پورته سو ښکاره سو:

حضرت علی ﷺ دالله جل جلاله حبیب پروت دئ علی ﷺ حیران دئ که دالله جل جلاله حبیب را کښینوم نو خوب یې خرابیږي که دده خوب نه خرابوم نو لمونځ قضاء کیږي حیران دئ صحابه وایي لمر پریوتي صرف دغرو پر سرو ژړه رڼا کوي نبی کریم ﷺ چي را کښینستي ورته وایي تا لمونځ وکړي هغه ورته وایي یا دالله جل جلاله رسول ما لمونځ نه دئ کړي نبی علیه السلام وایي یا الله علی ستا او ستا درسول په خدمت کي لګیا وو لمر را پورته کړه چي علی ﷺ لمونځ وکړي صحابه وایي لمر ورته را پورته سو علی ﷺ لمونځ وکړ:

لهذا دا امکان سته چي په سړي کي دي الهیت تام وي بیا دي الله جل جلاله دوې دقیقي سره کش کړي بیا دي دل لمونځ پکښي وکړي.

څلور اتیایم سبق

کما في الحلف علی مس السماء الخ:

یو وار به اصل خطاب سړي ته متوجه وي مګر في الحال سړي دفعل کولو څخه عاجزه دئ چي سړي عاجزه دئ نو به حکم نائب خلیفه ته ځي مثال یوه دقیقه یا دوې دقیقې پاته دي

اقيموا الصلوة سړي ته متوجه سو مګر سړي فی الحال عاجزه دئ دلمانځه کولو څخه چي سړي عاجزه سو نو به حکم لاړ سي وقضاء ته :

پر یوه سړي باندي دلمانځه وخت داخل سو مګر سړي په صحرا په غرو کي دئ یو وار به خطاب ورته متوجه سي چي هغه خطاب فاغسلوا وجوهکم وایدیکم دئ دغه حکم به سړي ته متوجه سي مګر دسړي دعجز حالي دوجي به حکم واوړي ونائب خلیفه ته چي هغه تیمیم دئ :

فصار الاصل مشروعا:

دعبارت ترجمه: اصل به یو وار مشروع سي، **ووجب النقل للعجز فیه ظاهرا :** نقل به واجب سي وخلیفه ته ځکه په دغه اصل کي سړي عاجزه دئ ظاهرا که څه هم دا متداد امکان سته خو ظاهرا دئ عاجزه دئ **کما في الحلف علی مس السماء:** یو سړي قسم وکړي وي ویل زما دئ دخداي په ذات قسم وي چي زه به اسمان په لاس مسه کړم اوس امکان سته مګر فی الحال عجز سته نو به حکم حنث ته لاړ سي، **وهو نظیر من هجم علیه وقت الصلوة:** دغه نظیر دئ دهغه چا چي پر هغه باندي داخل سي دلمانځه وخت، **وهو فی السفر** حال دا چي دئ په سفر په صحرا کي دئ **ان خطاب الاصل یتوجه علیه :**

اصل خطاب (فاغسلو وجوهکم وایدیکم) ده ته متوجه سي **ثم یتحول الی التراب :** بیا به دا حکم نائب (تیمم) ته لاړ سي، **للعجز الحال:** دعجز حالي دوجي فی الحال د ئ عاجزه دئ. بعضي احکام داسي دي چي الله جل جلاله واجب کړي دي په قدرت ممکنه سره قدرت ممکنه دیته وایي چي محض قدر ت پیدا کړي قدرت میسره دیته وایي چي دا مکان سره سره سهولت هم پکښي وي مثال سړي مال پیدا کړي فی الحال زکات نسته صرف امکان دزکات پیدا سو پر دغه مال به کال تیریږي دپور ه به خالي وي اوس به دغه سړي زکات ورکوي کال پر تیریدل دپور څخه خالی کیدل دغه زیاتوب دئ په قدر ت میسره کي زیاتوب راځي په قدر ت ممکنه کي صرف امکان وي که پر امکان زیاتوب راغلی نو میسره دئ که پر امکان زیاتوب نه راغلی بیا ممکنه دئ، **ومن الاداء ما لایجب الا بقدرة میسرة للاداء:**

يو څه اداء يه ګي هغه ده چي واجب نه ده مګر واجب دئ په قدرت ميسره للاداء سره **وهي زائدة على الاولى بدرجة:** قدرت ميسره زائده ده پر قدرت ممکنه باندي په يوه درجه سره هغه درجه اسانتيا ده په قدرت ممکنه کي اسانتيا نسته په ميسره کي سته په قدرت ممکنه او ميسره کي فرق سته هغه فرق دا دئ قدرت ميسره د واجب په صفت کي تغير راولي قدرت ممکنه تغير نه راولي تغير دا معنى صفت ديسر ته يې واړوی ، **وفرق ما بينهما ان بالثانية تتغير صفة الواجب:** د دوي دواړو په مابين کي چي فرق سته هغه دا چي په قدرت ميسره باندي صفت د واجب بدليږي يعني عسر په يسر بدل کړي **فيصير سمحا سهلا :** نو واجب وګرځي اسانه:

قاعده: چي يو وار ی يوشي پر سړي باندي د سهولت په صفت باندي واجب سو بيا د دغه يسر (اسانتيا) څخه وعسر (سخت) ته په زندګي نه اوړي ، **فيشترط دوامها لبقاء الواجب:** دوام دقدرت ميسره شرط دئ چي تر څو واجب باقي پاته وي لان الحق : دخداي دطرفه چي يو شي درباندي راغلی **متى وجب بصفة لا يبقي واجبا الا بتلک الصفة :** څه وخت چي په يو صفت باندي واجب سو هغه واجب نه پاتيږي مګر په هغه صفت سره **ولهذا قلنا بانه يسقط الزكوة بهلاک النصاب :** داغه څو وجه ده موږ وايو پر دارکم باندي زکات ساقط کيږي په هلاک والی دنصاب چي څنګه نصاب ختم سو بس زکات ختم سو ولي الله جل جلاله مطلق مال نه دئ ويلي مال به وي کال به پر تيرسوي وي دقرض به خالي وي در سره موجود به وي، **والعشر بهلاک الخارج :**

عشر ساقط دئ په هلا ک والي دخارج ولی الله جل جلاله داسي نه دئ ويلي چي محض ځمکه ولري نو عشر به ورکوي بلکي داسي ويل سوي دي ځمکه به لري دا ځمکه به ناميه وي دا ځمکه به تا کرلې وي دځمکي څخه به هغه شي راوتلي وي تا به صفا کړي وي اوس نو عشر (لسمه) ورکړه ولي چي يو وار يسر راغلی بيا به دايسر تر پايه پوري وي که تا غنم واخيسته ودغه غنمو ته يو چا اور ور واچولي بيا عشر نسته ، **والخراج اذا اصطلم الزرع افة :** خراجي ځمکه چاته وايي مثال دا هندستان دئ د اپاکستان دي مسلمان را ولاړ سو دکافر پرځمکه يې حمله وکړه ځمکه يې وه نيوله امير المؤمنين راولاړ سو ځمکه يې پر

مسلمانانو تقسيم کړه چي دکافر څخه په جنګ ونيول سوه او پر مسلمانانو تقسيم سوه ودېته ټيکس خراج والا ځمکه وايي امير المؤمنين سړي ته و ايي دا ځمکه درکوم خو دکاله به ماته دومره ټيکس را کوي يعني لس جريبه ځمکه درکوم خو ته به ماته دکاله شل زره کالداري راکوي ودغه شل زره ته خراج وايي ودغه ځمکي ته خراجي والا ځمکه وايي عشري ځمکه هغه ته وايي چي دمسلمان خپله پدري ځمکه وي يعني کافر څخه په جنګ نه وي نيول سوی په خراجي ځمکه کي شريعت وايي خراج غواړم مګر سهولت پکښي دئ هغه دا ځمکه به وي متمکن الزراعة به وي اسباب دزراعت به وي يعني او به به وي ، **والخراج اذا اصطلم الزرع افة** : ټيکس نسته هغه وخت که کښت افت ووهلي کښت يې خراب سو، لا ن الشرع اوجب الاداء بصفة اليسر : ځکه شرعي اداء واجب کړي په صفت ديسر (اسانتيا) سره **الا ترى انه خص الزكواة بالمال النامي الحولي**، ته نه ګوري چي شارع زکات خاص کړي دئ په مال باندي داسي مال چي نا مي به وی داسي مال چي حولي به وي؛ **والعشر بالخراج حقيقة**: عشر يې خاص کړي دئ چي حقيقة به راوتلي وي، **والخراج بالتمكن من الزراعة** خراج يې خاص کړي دي په تمکن من الزراعة يعني دزراعت قابله به وي :

دعبارت ترجمه : **ولهذا قلنا ان الحانث فى اليمين** دغه خو وجه ده موږ وايو چي حانث په يمين کي اذا ذهب ماله که چيري مال دده ولاړ سي، **كفّره بالصوم** :نو کفاره دئ په روژي باندي ورکړي **لان التخيير فى انواع التكفير بالمال** :

ځکه اختيار ورکول دي په انواعو دتکفير بالمال کي دايي يو دليل ديسر دوهم دليل **والنقل عنه الي الصوم للعجز فى الحال مع توهم القدرة فيما يستقبل** نقل کيدل دتکفير بالمال څخه وروژي ته ولي في الحال دئ عاجز ه دئ سره ددې چي دپيسو دقدرت توهم په زمان مستقبل کي سته، **تيسير للاداء**: دغه تخيير او نقل دا اسانتيا ده داداء دپاره ، **فكان من قبيل الزكواة** نو دا سو دزکات دقبيلي څخه کله زکات چي واجب وو په صفت ديسر باندي نو کفاره ديمين هم واجب ده په صفت ديسر باندي

ولهذا قلنا ان الحانث فى اليمين الخ :

تشریح: مالي عبادت متصف دي په صفت ديسر باندي اوس راسه كفاره ديمين په يسر باندي متصفه ده الله جل جلاله فرمايي ﴿فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِيْنَ﴾، كفاره ددولس مسكينان مړول دي اَوْكِسْوَتُهُ يا كفاره دده كپړي وركول دي اَوْتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ يا كفاره دده رقبه ازادول دي كفاره دحنث ديمين واجب ده په صفت ديسر باندي ددې دپاره چي كفاره ديمين واجب ده په صفت ديسر باندي ددې دپاره مصنف دوه دليل وايي يو دليل يي دادي چي الله پاک تخيير وركړي دئ كه دا كوي كه دا كوي كه دغه اختيار دليل ديسر دئ دويم دليل دادئ كه پيسي نه لري نو روژې ونيسه دغه نقل دپيسو ځخه وروژو ته دا دليل ديسر دئ اوس كه ته ووايي عسر څنګه جوړيږي نو ته ورته ووايه عسر داركم جوړيږي كه ته نن پيسي نه لري چي لس مسكينان ماړه كړي نو انتظار سه روژه مه نيسه چي پيسي پيدا كړي بيا لس مسكينان ماړه كړه داركم الله پاک نه دئ ورته ويلي بلكي كه پيسي نه لري روژې ونيسه :

كفاره ديمين متصفه ده په صفت ديسر باندي نه په صفت دعسر باندي ددغه دعوى دپاره مصنف دوه دليله وايي:

دعبارت ترجمه **الا ان المال ههنا غير عين :** مگر خبره دي ده چي مال په كفاره كي معين نه دئ ، **فايّ مال اصابه من بعد :** هر مال چي وده ته ورسيدى وحانث ته وروسته تر هلاک، **دامت به القدرة :**

نو بيرته قدرت راوه ګرځي حاصل سي:

ولهذا سوي الاستهلاک الهلاک ههنا:

دغه خو وجه ده استهلاک او هلاک سره برابر دي په كفاره كي ولي ده چي پيسي هلاكي كړي دبل حق نه وو ورباندي تړلي، **لانعدام التعدي على محل مشغول بحق الغير**، ولي ده تيري نه دئ كړي پر داسي محل چي په هغه پوري دي دبل حق تړلي وي **واما الحج فالشرط فيه الممكنة من السفر الخ** حج من وجه مالي دئ من وجه بدني دئ په داغه وجه باندي حج

مشروع سوي دئ په قدرت ممكنه سره نه په ميسره سره صرف دومره توان به لري چي ترحج پوري ځان ورسوي يعني سوارلي او څه خرچه به لري پيسي به لري ميسره دا رکم جوړيږي ستا سره به خادمان درسره وي مددګاره به درسره وي اشپز به درسره وي سوارلي به لري واما الحج: هر څه چي حج دئ ، **فالشرط فيه القدرة الممكنة من السفر المعتاد براحلة وزاد:** نو شرط په حج کي قدرت ممكنه دئ چي هغه عبارت دئ دعادي سفر څخه داقدرت ممكنه به پر سوارلي سره وي او په يو توښه سره به وي يعني دده سره به دلاري سوارلي او توښه وي **واليسر لا يقع لا بخدم وأعوان ومراكب:**

اسانتيا په سفر کي نه حاصليږي مګر حاصليږي په خادمانو او په مددګارانو اوپه سوارليو سره **وليس ذالک بشرط بالاجماع:**

دغه (دخدم، اعوان، مراکب) په حج کي شرط نه دئ په اجماع سره :

اوس راسه په ميسره کي قانون دا وو چي يو وار په صفت يسر باندي واجب سو بيا تر پايه په صفت ديسر باندي چليږي په ممكنه کي قانون دادئ چي يو وار يوشي په ممكنه باندي واجب سو بيا تر پايه تمكين چليږي يو سړي سږ کال حج ونه کړ شريعت سړي ته داسي نه وايي چي تا پر کال مضبوطه توان پيدا کړ سوارلي دي پيدا کړی زاد دي پيدا کړه نو به حج ته لاړ سي شريعت سړي ته په دغه کال کي وايي چي صرف راحله اوزاد دي پيد اکړه بس حج ته به ځي ، فلذالک لم يكن شرطا لدوام الواجب داغه خو وجه ده دوام د قدت ممكنه شرط نه دئ دواجب ددوام دپاره **وكذلک صدقة الفطر الخ** صدقة الفطر دغه يو مالي دئ چي په قدرت ممكنه باندی واجب په قدرت ميسره باندي نه دي واجب امام شافعي رحمه الله صدقة الفطر دومره سخت کړی وای چي صرف دسبا پيسې و لري چي ډوډۍ په وخوري وايي هم به صدقة الفطر ورکوي زموږ په نزد باندي چي تر څو پوري غني نه يې يعني صاحب النصاب نه يې نو پر تا باندي صدقة الفطر واجب نه ده مګر دنصاب دپاره حولي شرط نه دئ دنصاب دپاره دا شرط نسته چي ته به دپوره خلاص يې صرف صاحب النصاب به يی دپر خالص نصاب باندي پر سړي باندي صدقة الفطر واجب ده چي پر محض صاحب النصاب باندي صدقة الفطر واجب ده نو دا علامت دممكنه دئ **وكذالک صدقة الفطر** دحج په مثل

باندي صدقة الفطر ده **لم تجب بصفة اليسر**: په صفت ديسر باندي واجب نه ده، **بل بشرط القدرة الممكنة** بلکي په قدرت ممكنه سره واجب ده، **وهو الغناء**: دغه شرط دقدرت غناء ده يعني دى به صاحب النصاب وي، ليصير الموصوف به اهلا للاغناء: ددې دپاره چي موصوف بالغناء وګرځي اهل داغناء اغناء دا معني چي بل موړ کړي بل ته هغه وخت مړولی سي چي ته پخپله غني يې او که سړي پخپله مسکين وي نو بيا به بل څنګه موړ کړي که ته وايي زه دانه منم چي صدقة الفطر واجب نه ده په صفت ديسر سره موږ وايو ددې قول (لم تجب صدقة الفطر بصفة اليسر) مصنف تائيد کړي په دې قول باندي الا ترى انه يجب بثياب البذلة: ته نه ګوري چي دغه واجب (وهو صدقة الفطر) واجبيږي داستعمال په جامو باندي پر دغه جامو کي نمو نسته ګټه نسته دغه نمو ګټه چي داستعمال په جامو کي نسته او بيا هم صدقة الفطر په واجبيږي نو دا علامت دممكنه دئ **ولا يقع بها اليسر**: په دغه جامو باندي يسر نه واقع کيږي، **لانها ليست بنامية**: ځکه دغه جامي ناميه نه دي يعني په دغه جامو کي نمو ګټه نسته حصول ديسر په مال ناميه کي وي، **فلم يكن البقاء مفتقرا الى دوام شرط الوجوب**:

دصدقة الفطر دوجوب بقاء محتاجه نه ده دوام ته دشرط الوجوب چي يو وار سړي غني سو بس صدقة الفطر به ورکوي وروسته بيا که ته غني يې که نه يې مثال داختر په ورځ ته غني سوي بس صدقة الفطر به ورکوي اوس دا ضروري نه ده چي ستا سره به نصاب هميشه وي:

الا ان المال ههنا غير عين الخ

تشريح: ته وايي کفاره ديمين کټ مټ داسيده لکه زکات ته کفاره ديمين پر زکات څنګه قياسوي اوس سوال دادئ دزيد سره څلور لکه کالداري دي پر دغه پيسو باندي کال تير سو قرض نسته شريعت زيد ته وويل زکواة راوړه زيد ورته وويل سبا زکات درکوم کرار دزيد کور ته دشپې غله ور واوښته هغه څلور لکه غلو ورځخه يوړي دزيد موټر په بازار کي ولاړ دئ زيد را ولاړ سو موټر يې خرڅ کړ کراريې څلور لکه پکښې وګټلې اوس شريعت وزيد ته نه دريږي چي ددغه څلورو لکو زکات راکړه چي تر څو پوري پر دغه پيسو کال نه وي تير سوي يعني نن ددغه پيسو زکات نه غواړم چي پر دغه پيسو بيا کال تير سي بيا زکات راکړه

دمال په عَود دزکات عود نه کيږي مګر په کفاره باليمين کي نن زيد لس مسکينان مړ ولای سي خو کرار پيسي هلاکي سوي سبا زيد بيا پيسي پيدا کړي اوس شريعت ورته دريږي چي په دغه پيسو لس مسکينان ماړه کړه لهذا سوال دادئ چي په زکات کي شريعت نن ما ته نه دريږي په کفاره باليمن کي نن شريعت ماته دريږي نو دکفاره باليمن قياس پر زکات باندي ديسر په اعتبار نه سو صحيح لهذا دکفاره باليمن او زکات فرق سته :

جواب: موږ وايو اصل کي دلته يو بله نکته سته په هغه نکته که ستا سره خلاص سو بيا ته اعترض نه کوي هغه نکته دا ده شريعت چي ماته وايي کفاره ديمين ورکړه داسي نه راته وايي چي ددغه پيسو کفاره ورکړه بلکي شريعت ماته وايي چي پيسې ولري نو لس مسکينان ماړه کړه پاته سو زکات په زکات کي شريعت وايي ددغه پيسو زکات راکړه دغه څلور لکه چي هلاکي سوي نوري څلور لکه پيد اسوي نو دغه څلور لکه هغه څلور لکه (هلاکي سوي) نه دي دزکات په باب کي دشريعت حق په متعينو پيسو کي دئ دکفاره باليمين په باب کي دشريعت حق په متعينو پيسو کي نه دئ په مطلقا پيسو کي دئ په کفاره باليمين کي نن پيسي هلاکي سوې سبا دي پيسي پيدا کړي دغه دسبا پيسي مطلقا پيسي دي :

خبره په تعين کي ده په دې وجه باندي په زکات کي شريعت نه ورته دريږي په کفاره باليمين کي شريعت ورته دريږي مصنف يوه تفريع کوي هغه دا په زکات کي استهلاک جلا حکم لری هلاک جلا حکم لري په کفاره باليمين کي استهلاک او هلاک سره برابر دي اوس راسه استهلاک دا معنی چي تا په خپله ضائع کړي او بو ته دي وغورځوي هلاک دا معني چي غله درڅخه واخيستي او يا افت و وهلي دزيد سره څلور لکه دي شريعت دزيد د دغه پيسو زکات غواړي کرار زيد را و لاړ سو ودغه پيسو ته يې اور ور واچولي شريعت وزيد ته وايي په دغه څلور لکو کي دمسکين حق وو ژر پيسي راکړه تا ولي دبل وحق ته اور ور واچوي په زکات کي داستهلاک په صورت کي مواخذه سته په کفاره باليمين کي استهلاک او هلاک على السويه دي که استهلاک راغلی هم به صوم لره ځي که هلاک راغلی هم به صوم لره ځي :

اجراء المؤموربه

مثال امر مأمور به

اَقِمِ الصلوة لِدُلِکِ الشَّمْسِ (الاسراء ٧٨) (اقم) الصلوة

تشریح: دلته مامور به مقید بالوقت دئ دلته لام (لدلوک) دوقت دپاره دئ:

مقید بالوقت مأمور فیه څلور قسمه دئ یو قسم دادئ چي مأمور فیه بهٔ دمأمور به دپاره ظرف سبب شرط وي:

دوهم قسم دادئ چي مأمور فیه دمأموربه دپاره معیار اوسبب وي:

دریم قسم د ادئ چي مامور فیه دمومور به د پاره صرف معیار وي څلور قسم دادئ چي مامور فیه دمامور به دپاره من وجه ظرف من وجه معیار وي:

دلته مامور فیه (لدلوک الشمس)

دمامور به (الصلوة) دپاره ظرف هم دئ شرط هم دئ سبب هم دئ:

ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّیَامَ اِلَی اللیل (البقره ١٧٨) (اتموا) (الصیام)

تشریح: دلته مأمور به مقید بالوقت دئ مقید بالوقت څلورمه دئ دلته مأمور فیه دمأمور به دپاره معیار ا وسبب دئ:

وَاَقِیْمُوا الصَّلوة (البقره ٤٣) (اقیموا) الصلوة

تشریح: دلته مأمور به مقید بالوقت دئ مقید بالوقت څلورقسمه دئ دلته اول قسم دئ اول قسم هغه دئ چي مامور فیه دمامور به دپاره سبب هم وي شرط هم وي ظرف هم وي:

وَلْيُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ (الحج ٢٩) (وليوفو) (نذورهم)

تشريح: که سړي مطلق نذر منلي وو چي زه به يوه ورځ روژه نيسم په دغه صورت کي مامور به مطلق دئ، که سړي نذر معين منلي وو چي زه به دجمعې په ورځ روزه نيسم په دغه صورت کي مامور به مقيد بالوقت دئ مقيد بالوقت څلور قسمه دئ دلته مامور فيه دمامور به دپاره:

فَاقْطَعُوْا اَيْدِيَهُمَا (المائده ٣٨) (فاقطعوا) (ايديهما)

تشريح: دلته مأمور به مطلق دئ :

فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِأَةَ جَلْدَةٍ (النور ٢) (فاجلدوا) (مائة جلدة)

تشريح: دلته مأمور به مطلق دئ :

واٰتُوْا الزَّكٰوةَ (البقره ٤٣) (اتو) (الزكواة)

تشريح: دلته مامور به مطلق دئ :

وَاَتِمُّوْا الحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ (القبقره ١٩٦) (اتموا) (الحج والعمرة)

تشريح: دلته مامور به مقيد بالوقت دئ مقيد بالوقت څلور قسمه دئ دلته مامور فيه دمامور به دپاره مشكل دئ.

شپږ اتيا يم سبق

فصل فى صفة الحسن للمؤمور به :

دعبارت ترجمه: فصل دئ په صفت كي دحسن دمؤمور به چي په كوم شي الله تعالى حكم كړي وهغه ته مؤمور به وايي **المؤمور به نوعان:** مؤمور به دوي نوعي دئ، **حسن لمعنى فى عينه** يوه نوعه داده چي حسن به دده په ذات كي وي، **وحسن لمعني في غيره:** دوهمه نوعه داده چي حسن به دده په ذات كي نه وي حسن به ودده ته دخارج څخه راغلى وي، **والذي حسن لمعني في عينه نوعان:** هغه چي حسن دده په ذات كي وي دادوي نوعي دئ يعني حسن لعينه دوى نوعي دي:

ما كان المعنى فى وضعه كالصلوة :

يوه نوعه هغه ده چي حسن دده په جوړكي وي لكه لمونځ ، **فانها تتأدي بافعال واقوال وضعت للتعظيم :**

ځكه دغه لمونځ اداء كيږى په افعالو او اقوالو باندي داسي افعال او اقوال چي وضعه سوي دئ دپاره دتعظيم **والتعظيم حسن فى نفسه** تعظيم فى نفسه حسن دئ **الا ان يكون فى غير حينه او حاله الخ** اوس سوال دادئ لمونځ حسن لعينه دئ لمونځ پخپل ځان كي ښه كار دئ ابنه كه ښځي ته حيض راغلى اوس ولي اجازه نسته او حال دا لمونځ ښه كار دئ حسن لعينه دئ او داغه ركم په اوقات مكروهه كي دلمانځه كولو اجازه نسته اوحال دالمونځ حسن لغينه دئ ښه كار دئ ، ؟

جواب: لمونځ حسن لعينه دئ ښه كار دئ مگر دغه لمونځ به فى حينه او حاله په خپل وخت او حالت كي به وي:

الا ان يكون فى غير حينه او حاله مگر كه لمونځ پخپل وخت كي نه وو بيا لمونځ حسن نه دئ لكه لمونځ په اوقات مكروهه كي همدارنگه كه تعظيم في غير حاله وو بيا حسن نسته لكه لمونځ مع الحدث و الجنابة :

فصل في صفة الحسن للمؤمور به الخ :

تشريح الله تعالى حكيم ذات دئ حكيم ذات چي په کوم شي باندي امر کوي په هغه کي به خامخا حسن وي او دا حکيم ذات چي دکوم شي څخه نهي کوي په هغه کي به خامخا قبحه وي مؤمور به به حسن وي منهي عنه به قبيح وي دغه فصل په دې باره کي دئ اوس راسه دغه حسن (ښايسته والی) دغه قبحه (بيکاروالي) پخپل کورکي درې قسمه دئ ١- طبعي ٢- کمالي ٣- شرعي اول طبعي دئ طبعی ديته وايي چي دانسان په طبيعت باندی دبعضو شيانو حسن او قبحه معلوميږي مثال لکه په پشلمی باندي غوښه خوړل حسن دئ او ګوبي خوړل قبيح دئ دانسان طبيعت وايي په پشلمي باندي غوښه خوړل ښه دئ او ګوبي خوړل بد دئ بعضو انسانانو ته تريخ شي خوند نه ورکوي ددوي په طبيعت کي تريخ شي بد دي داشيان په طبيعت معلوميږي چي داشي ښه دئ دا شی بد دئ دا په شريعت نه معلوميږی چي ګوبي قبيح دئ دويم کمالي دئ صفت کمال حسن دئ صفت نقصان قبيح دئ مثال لکه علم او جهل علم صفت کمال دئ جهالت صفت نقصان دئ علم صفت کمال دئ نو حسن دئ جهالت صفت نقصان دئ نو قبيح دئ دريم شرعي دئ يو کار مستحق دمدعي او ثواب دئ نو داحسن دئ يو کار مستحق دذم او عقاب دئ نو دا قبيح دئ داولو دوو (طبعي کمالي) حسن ا و قبحه بالاتفاق عقلي دئ په عقل باندی معلوميږی داخيري (شرعي) حسن ا و قبحه په عقل باندي معلوميږي که په شرعي معلوميږي نو په دې کي اختلاف دئ داشاعريه په نزد باندي په افعال شرعيه کي حسن او قبحه صرف او صرف په شرعي معلوميږي دعقل په دې کي هيڅ دخل نسته شريعت راته وويل لمونځ وکړه نو موږ په پوه سو چي لمونځ ښه کار دئ شريعت راته وويل زنامه کوه نوموږ په پوه سو چي زنابد کار دئ دا دشرعي کار دي شرعه به راته وايي چي داښه کار دئ دا بد کار دئ په عقل نه معلوميږي معتزله او په اهل السنة والجماعة کي ما تريديه احناف وايي داعقلي دئ په عقل باندي حسن او قبحه معلوميږی يعني عقل راته وويل زنا بد کار دئ عقل راته وويل لمونځ ښه کار دئ مګر دمعتزله او دما تريديه په مينځ کي فرق سته معتزله وايي عقل فيصل دئ فيصَل دا معنی بس عقل فيصله کوي ما تريديه وايي حسن او قبحه عقل رانښيي مګر فيصله شرعه کوي يعني فيصل شرعه ده، په کوم شي کي چي حسن دئ داپر دوه قسمه دئ يو قسم هغه دئ چي ذاتي حسن پکښي وي دويم قسم هغه دئ چي دخارج څخه حسن ورته راغلی وي يو ته حسن لعينه وايي وبل ته حسن لغيره وايي مثال لکه لمونځ په لمانځه کي ذاتي حسن دئ

ولي دلمانځه ارکان دلمانځه اقوال دلمانځه افعال دا ټول دتعظيم دپاره وضع سوي دي تعظيم دمنعم عقل وايي دا ښه کار دئ اقوال الله اکبر الله جل جلاله ډير لوی دئ هغه ذات چي منعم دئ دهغه تعظيم په وسو .دحسن لغيره مثال لکه اودس په اوداسه کي ذاتي حسن نسته ما سي اوبه ضايع کيږي مګر په اوداسه کي چي حسن راغلی هغه دلمانځه دوجي په زکات کي ذاتی حسن نسته ولي سړي مزدوري وکړي خواري باسي بيا پيسي بل ته ورکوي مګر په زکات کي چي حسن راغلی لدفع حاجة الفقير دفقير دحاجت دپوره کولو دوجي :

قاعده : يو شي به حسن لعينه وي مګر که دنبی عليه السلام پر طريقه نه وو نو دا قبيح لعينه ګرځي ولي دين نوم دئ دنبی دطريقي : مثال نبی عليه السلام د سهار دوه رکعاته فرض کړي دي سجده ښه کار ده حسن لعينه ده که سړي دڅلور و سجدو پرځای اته (۸) سجدي وکړي يعني ددوو رکعاتو پرځای څلور رکعاته وکړی ولي ودغه سړي ته اجازه نسته او حال دا سجده حسن لعينه ده موږ وايو ددوو پرځای څلور رکعاته کول په دې کي قبحه ده ولي دنبی عليه السلام نه دئ محمد ﷺ ويل ښه کار دئ که سړي په لا اله الا الله محمد رسول الله کي محمد وه نه وايي دا سړي مسلمان نه دئ ويل يې فرض دي مګر په اذان کي نه ويل کيږي سړي په اذان کي داسي نسي ويلي لا اله الا الله محمد رسول الله ولی دنبي عليه السلام په طرز نه دئ :

نبی عليه السلام ناست دئ صحابي راغلی لمونځ يې وکړ نبی عليه السلام ورته وويل صل فانک لم تصل لمونځ وکړه تا لمونځ نه دئ کړي هغه ورته وويل ما لمونځ وکړ او ته وايي تا لمونځ نه دي کړي نبی عليه السلام ورته وايي تا لمونځ نه دئ کړي ولی دده لمونځ دنبی عليه السلام پر طريقه نه وو ولي قومه او جلسه نه وه دين په حقيقت کي دنبی عليه السلام دطرز نوم دئ که دنبی عليه السلام صحابي تابعي په طرز وو نو صحيح دئ که ددوي په طرز نه وو نو دا بې دينی ده :

پر تلاوت قران عوض پيسې اخيستل حرام پر تدريس قران پيسې اخيستل دمتقدمينو و په نزد حرا م دمتاخرينو په نزد باندي جائز دئ :

که قاري تراويح ختم کړي اوبيا ووايي ماته شل زره يا ديرش زره روپۍ راکړي بس دقاري دغه تراويح قبيح سوې ولي دنبی علیه السلام په طرز نه دي ولي نبی علیه السلام په ټول وخت په تراويحو کي چاته نه دي ويلي چي ماته پيسې راکړي.

اوه اتيايم سبق

وما التحق بالواسطة

دعبارت ترجمه : دويم حسن لعينه هغه دئ چي ور ملحق وي بالواسطه **بما كان المعنى في وضعه :** معنى به دده په وضعه کي وي **كالزكواة والصوم والحج** لکه زکات، روژه، حج **فان هذه الافعال بواسطة حاجة الفقير واشتهاء النفس وشرف المكان :** دغه افعال چي حسن يکښي راغلی بالواسطه هغه واسطه په زکات کي دفقير حاجت پوره کول په روژه کي نفس اماره مغلوبه کول په حج کي شرافت دبيت الله دئ، **تضمنت اغناء عباداللّٰه وقهر عدوّه، وتعظيم شعائره :** دغه افعال په بلغه کي اخلی درې کاره يو اغناء عباداللّٰه دا په زکات کي دوهم دخداي دوښمن مغلوبه کوي دا په روژه کي دريم تعظيم دشعائر اللّٰه دا په حج کي، **فصارت حسنة من العبد :**

دغه افعال حسن دي صادر دي دبنده څخه **للرب** دغه افعال حسن دئ دخداي دعبادت دوجي عزت قدرت : عزت منده دئ قدرت درب **بلا ثالث معني:** دريمه معنی نسته :

لكون هذه الوسائط ثابتة بخلق الله تعالى ومضافا اليه: ځکه دغه وسائط ثابت دئ په پيدا کيدو دالله تعالی او منسوب دئ والله تعالی ته، **وحكم هذين النوعين واحد:**

حکم ددغه دواړو نوعينو (الحسن لمعني في نفسه والملحق به) يو دئ :

وهو ان الوجوب متى ثبت لا يسقط : هغه حکم دادئ څه وخت چي وجوب ثابت سو بيا نو ذمي څخه نه ساقط کيږي :

مثلا لکه روژه ونيسه حج وکړه لمونځ وکړه دغه وجوب چي ثابت سو بيا نو دذمي څخه مثال لکه روژه ونيسه حج وکړه لمونځ وکړه دغه وجوب چي ثابت سوبيا نه ساقط کيږي، **الا بفعل الواجب:** مگر ساقط کيږي دذمي څخه په کول و دواجب يعني په اداء سه دواجب:

او باعتراض مايسقطه بعينه:

وجوب ساقط کيږي دذمي څخه هغه وخت چي تاته درپيش سو داسي شي چي وجوب بذاته ختموي:

مثال لکه جنون مطبق جنون مطبق ديته وايي چي دټول عمر دپاره ليوني سي دجوړيدو امکان نه وو په دغه صورت کي نه زکات سته نه روژه سته نه لمونځ سته نه حج سته يا وښځي ته حيض او نفاس ورپيش سو په دغه صورت کي لمونځ ساقط کيږي دذمي څخه په حيض او نفاس باندي

وما التحق بالواسطة بما کان المعني في وضعه الخ:

تشريح: حسن لعينه پر دوه قسمه دئ:

۱- حسن لعينه بالواسطة ۲- حسن لعينه بلا واسطة حسن لعينه بالواسطة لکه زکات حسن لعينه بلاواسطة لکه لمونځ زکات حسن لعينه بالواسطة دئ په زکات کي ذاتي حسن نسته وزکات ته حسن راغلی دبلي خوا خو بيا هم حسن لعينه بالواسطة دئ لغيره نه دئ ځکه په دغه واسطه کي دبنده دخل نسته که دبنده دخل وای بيا به لغيره وايي:

زکات حسن لعينه بالواسطة دئ په زکات کي ذاتي حسن نسته:

په زکات کي حسن راغلی لدفع حاجة الفقير دفقير دحاجت دپوره کيدو دوجي:

دزکات دحسن دپاره لدفع حاجة الفقر واسطة ده مگر وفقير ته چي فقر راغلی په دې کي دفقير دخل نسته دا فقر الله رب العزت په ده کي پيدا کړي دئ روژه حسن لعينه بالواسطة ده وروژې ته حسن راغلی دواسطي دوجي هغه واسطه ده مړه کول دنفس اماره نفس امّاره

انسان به بدو امر کوي په نفس امّاره کي دبنده دخل نسته ، حج حسن لعينه بالواسطة دئ وحج ته حسن راغلی بالواسطه هغه واسطه ده شرافت دبیت الله په شرافة بیت الله کي دبنده دخل نسته دا درې مثالونه (زکات، روژه، حج) دحسن لعینه بالواسطه دي :

والذي حسن لمعنى فى غيره نوعان:

دعبارت ترجمه **ما يحصل المعني بعده بفعل مقصود** دحسن لغيره يو قسم هغه دئ چي په ده کي حسن حاصليږي په فعل مقصود باندي دده دپاره به جلا فعل کوي، **كالوضوء والسعي الي الجمعة:** لکه اودس ددې دپاره به لمونځ کوي لکه منډي وجمعې ته ددې دپاره به دجمعې لمونځ کوی :

وما يحصل المعني بفعل المومور به :

دوهم قسم هغه دئ چي حسن حاصليږي په کولو دمؤمور به **كالصلوة على المية :** لکه دجنازي لمونځ کول دجنازي لمونځ پخپل ځان کي قبيح دئ ځکه دا مشابهت دئ دهغه چاسره چي هغه عبادت کوي دبتانو مگر دجنازي په لمانځه کي حسن راغلی دبلي وجي هغه دا چي په دې باندي دمسلمان يو حق پوره سو بل دئ جهاد بل اقامة الحدود دئ **فان مافيه الحسن من قضاء حق المسلم وكبت اعداء الله تعالى والزجر عن المعاصي:** په دې کي چي کوم حسن دئ هغه دا دئ چي دمسلمان حق به اداء کي دجنازي په لمانځه کي په جهاد کي به دالله ددښمن سر ټيټ والی راسي په اقامة الحدود کي را ګرځيدل دئ دمعاصي څخه، **وحكم هذين النوعين واحد ايضا:** ددغه دواړو نوعينو حکم يو دئ :

وهو بقاء الواجب بوجوب الغير وسقوطه بسقوط الغير: هغه حکم دا دئ وده ته چي دکومه ځايه حسن راغلی چي ترڅو هغه واجب وي نو دی به هم واجب وی که هغه ساقط سو بس دئ هم ساقط دئ مثال تر قيامته پوري به کفر وي الله تعالی فرمايي ولکن اكثر الناس لا يؤمنون نو ځکه نبی عليه السلام فرمايي الجهاد ماض الى يوم القيامة که مړي وو نو دجنازي لمونځ به وي که دجمعې ورځ وه نو سعيه به وي وسقوطه بسقوط الغير:

دي ساقط کیږي په سقوط سره دغير مثال دحيض په حالت کي لمونځ ساقط کیږي نو اودس هم ساقط کیږي :

والذي حسن لمعنى فى غيره نوعان:

تشریح: په هر امر کي حسن وي په هر نهي کي قبحه وي ځکه امير او ناهي حكيم دئ حكيم دحکمته ډک حکم کوي والذي حسن لمعني فى غيره نوعان: دويم حسن لغيره دئ په ده کي يوه ذره حسن نسته حسن لغيره پر دوه قسمه دئ دايو فعل دئ مثال په دغه فعل کي حسن نسته وده ته حسن دبله ځايه راغلی دئ دغه نو حسن لغيره دئ، دا حسن لغيره پر دوه قسمه دئ يو قسم د ادئ چي دا فعل دي وکړي په ده کي حسن نه راځي وده ته چي دکومه ځايه حسن راغلی که تا هغه وکړي بيا نو په ده کي حسن راځي بل قسم دادئ دايو فعل دئ په ده کي حسن نسته وده ته حسن دبله ځايه راغلی دئ اوس که تا دا فعل وکړی بس په ده کي حسن راغلی هغه بل کول نه غواړي دول مثال اودس دئ ددوهم مثال جهاد دئ په اوداسه کي حسن نسته واوداسه ته حسن راغلی دلمانځه کولو دخوا په اوداسه کولو سره په اودس کي حسن نه راځي :

ترڅو پوري چي په دغه اوداسه سره لمونځ ونه سي چي لمونځ په دغه اودسه سره وسو بيا نو په دغه اوداسه کي حسن راغلی لهذا اودس جلا عمل غواړي لمونځ جلا عمل غواړي ددوهم مثال جهاد دئ جهاد په خپل ځان کي قبيح دئ ځکه په دې کي ښارونه تخريب کیږي انسانان وژل کیږی مګر په جهاد کي حسن راغلی دا علاء کلمة الله دوجي خو جهاد يو داسي عمل دئ چي څنګه جهاد وکړي بس اعلاء کلمة الله راځي اعلاء کلمة الله جلا عمل نه غواړي اوس که يو څوک سوال وکړي چي موږ جهاد وکړي مګر اعلاء کلمة الله نه راغله نوته ورته ووايه اعلاء کلمة الله دالله کار دئ زموږ کار نه دئ زموږ کار جهاد دئ، :

اجراء المؤمور به

مثال مأمور به حسن

اَقِمِ الصَّلوٰةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ (الاسراء ۱۸) (الصلوة) حسن لعينه

تشريح: لمونځ حسن لعينه بلا واسطه دئ ځکه دا شکر د منعم دئ :

ثُمَّ اَتِموا الصِّيَامَ اِلَى الَّيْلِ (البقره ۱۸۷) (الصيام) حسن لعينه)

واقيمو الصلوة (البقره ۴۳) (الصلوة) حسن لعينه)

تشريح: لمونځ حسن لعينه بلا واسطه دئ ځکه دا شکر دمنعم دئ .

اته اتيايم سبق

فصل فى النهي:

دعبارت ترجمه: دافصل دئ په نهي کي، **وهو فى صفة القبيح ينقسم انقسام الامر فى صفة الحسن :**

نهي په صفت دقبحه کي تقسيمیږي لکه تقسيم دامر په صفت دحسن کي نهی په صفت دقبحه کي څلور قسمه ده قبيح لعينه بالواسطة قبيح لعينه بلا واسطة قبيح لغيره مجاورة قبيح لغيره وصفا :

دعبارت ترجمه: **ما قبيح لعينه وضعا كالكفر و العبث :** يو قسم قبيح لعينه هغه دئ چي په په ده کي قبحه وي ازروي وضع لکه کفر د کفر په ذات کي قبحه ده له دي وجي دمنعم شکر ضرروی دي دمنعم نا شکري قبيحه بده ده :

لان قبح كفران المنعم مركوز فى العقول :

بل مثال لکه عبث عبث ديته وايي چي نه دنيوي ګټه لري نه اخروي ګټه لري:

وما التحق به بواسطة عدم الاهلية والمحلية شرعا كصلوة المحدث وبيع الحرم المضامين والملاقيح : دويم قسم هغه دئ چي په قبيح لعينه پوري ملحق سي په واسطي دنه اهل يعني اهل يې نه يې په واسطي دنه محليت يعني محل يې نه يې منى حيث الشرع :

شرعه وايي داسړي يې اهل نه دئ شرع وايي د ايې محل نه دي :

مثال لکه لمونځ د محدث لمونځ پخپل ځان کي ښه دئ مګر قبحه په ده کي دبى اودس والي دوجي راغلى شرعه وايي بي اوداسه يې اهل نه دئ دلمانځه بل مثال بيعه دحر (ازاد) بيعه پخپل ځان کي قبحه نه لري مګر قبحه په ده کي دحريت دوجي راغلى شرعه وايي حر (رازاد) محل دبيعي نه دئ بل مثال مضامين دئ مضامين ديته وايي دنر اوبښ مثلا په ملا کي مني خرڅل بل مثلا ملا قيح ، ملا قيح ديته وايي داوښي په رُحم کي مني خرڅول ددې داسيُ صورت جوړيږي زيد وعمرو ته وايي ستا داوښ په ملا کي مني ده دا مني په لس زره راکړه زه په دې اوښ اوښه وهم ددې اوښي په رحم کي مني دئ ددې منى څخه چي هر بچي پيدا کيږي اوس دا مني ماته په شل زره راکړه :

لهذا مضامين ملا قيح محل دبيعي نه دئ ، **وحكم النهي فيهما بيان انه غير مشروع اصلا :**

حکم دنهي په دواړو قسمينو کي دادئ چي هيڅ وخت نه رواکيږي، **وما قبح لمعنى فى غيره :**

هغه چي قبيح وي دداسي معنى دوجي چي هغه په غير دده کي وي دا قسم قبيح لغيره دئ، **وهو نوعان :**

قبيح لغيره دوي نوعي دئ

فصل فى النهي الخ :

تشريح: الله جل جلاله امير او ناهي دئ الله جل جلاله حکيم ذات دئ حکيم ذات چي سړي په يو شى باندي امر کړي نو په هغه کي حسن وي حکيم ذات چي سړي ديو شي څخه منعه

كړي نو په هغه کي قبحه وي الله جل جلاله په قران کي وايي ﴿وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِاِنَّ اللهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْاَحْسَانِ﴾ نهي په لغت کي منعي ته وايي په اصطلاح داهل اصولو کي نهي وايي قول القائل لغيره لا تفعل على سبيل الاستعلاء مثال ﴿لا تَقْرَبُوا الزِّنَا وَلَا تَأْكُلُوا اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى﴾ :

ماقبيح لعينه وضعا الخ :

تشريح قبيح لعينه پر دوه قسمه دي ١- قبيح لعينه وضعي ٢- قبيح لعينه شرعي قبيح لعينه وضعا ديته وايي چي دده په ذات کي قبحه وي لکه کفر دکفر په ذات کي قبحه ده قبيح العينه شرعا ديته وايي چي دده په ذات کي قبحه نه وي شرعي قبحه ورته ويلي وي لکه لمونځ دمحدث :

دعبارت ترجمه: **ما جاوره المعني جمعا:** يو ه نوعه داده دمنهي عنه سره به مجاوره وي معني داسي معني چي موجب دقبحي ده ورسره مجاوره به وي جمعا :

كالبيع وقت النداء سعيى لکه بيعه په وخت دمنډي کي دجمعې لمانځه ته ﴿اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلوٰةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللهِ﴾ بيعه پخپل ځان کي قبحه نه لري مګر قبحه پکښي راغلى دنه سعيه دوجي سعيه خرابيږي دسعي دخرابيدو په وجه په بيعه کي قبحه راغلى مګر نه سعيه دبيعي سره لازم نه ده ولي بيعه به وي عدم السعي به نه وي سعيه به وي لکه دوه کسان دجمعې لمانځه ته سعيه کوي بيعه هم کوي سعيه به وي بيعه به نه وي بيعه به وي سعيه به نه وي **والصلاوة فى الارض المغصوبة** لمونځ کول په مغصوبه ځمکه کي لمونځ به سړي کوي ارض مغصوبه به نه وي لکه په مسجد کي لمونځ کول لمونځ به نه کوي ارض مغصوبه به وي دواړه به وي لکه سړي په مغصو به ځمکه کي لمونځ کوي **والوطي فى حالة الحيض :** وطي کول په حالت دحيض کي وطي به وي حيض به نه وي حيض به وي وطي به نه وي :

وحكمه انه يكون صحيحا مشروعا بعد النهى: حكم دد غه نوعي دادئ چي دا صحيح مشروع دئ وروسته د نهي:

فائده: قبيح لعينه وضعا ا وشرعا هيڅ وخت نه روا کيږي پاته سو په دغه نو عه کي دمشروعيت احتمال سته کوم شي چي هيڅ وخت نه روا کيږي هغه شي دبل حکم شرعي دپاره سبب نسي جوړيدای کوم شي چي د نهي بعد مشروع کيدای سي هغه دبل حکم شرعي دپاره سبب جوړيدای سي : **ولهذا قلنا:** داغه خو وجه ده موږ وايو : **ان وطيها فى حالة الحيض:** دښځي سره وطي کول په حالت د حيض کي **يحللها للزوج الاول** زوج اول ته حلاله ده:

ويثبت به احصان الواطي په وطي باندي په حالت د حيض کي ثابتيږي :

احصان د واطي يعني واطي شادي شده ګرځي ، **وما اتصل به المعني وصفا** بله نوعه داده معنى به ورسره متصل وي وصفا يعني هغه چي موجب د قبحي ده دابه وسره لازم وي داريم قسم دئ :

كالبيع الفاسد وصوم يوم النهر :

لکه بيعه فاسده ا و داختر دورځي روژه داختر دورځي روژه منعه ده دروژې منعه داختر دورځي څخه نه جلا کيږي ولي ضيافة الله خرابه وي دا ورځ دضيافة الله ده .

ما جاوره المعنى جمعا كالبيع وقت النداء والصلوة فى الارض المغصوبة والوطي فى حالة الحيض :

تشريح: يوه شي ته دبل شي دوجي قبحه راغلى هغه بل شي ددې شي وصف دئ او دا وصفة لازم نه دي انفکاک قبلوي بس ديته مجاورة وايي که دا وصف لازم وو انکاک يې نه قبلوي بس ديته وصف وايي دا څلورم قسم دئ :

نه اتيايم سبق

دعبارت ترجمه: **والنهي عن الافعال الحسيه يقع على القسم الاول:** نهي د افعال حسيه ثخه حمل كيږي پر قبيح لعينه باندي **والنهي عن الافعال الشرعيه يقع على القسم الاخير :** نهي دافعال شرعيه ثخه حمل كيږي پر قبيح لغيره وصفا باندي، **وقال الشافعي رحمه الله في البابين** امام شافعي رحمه الله ويلي دي په افعال حسيه او افعال شرعيه كي، **انه ينصرف الى القسم الاول :** دنهي مطلق انصراف كيږي وقبيح لعينه ته **الا بدليل :** كه چيري يو قرينه يو دليل وو بيا قبيح لغيره وصف دئ.

لان النهي في اقتضاء القبح حقيقة كالامر في اقتضاء الحسن: ځكه دنهي حقيقي تقاضا قبحه ده لكه دامر حقيقي تقاضا حسن دئ **فينصرف مطلقه الى الكامل منه كالامر :** دمطلق نهي انصراف كيږي وكامل ته دنهي فرد كامل دنهي قبيح لعينه دئ :

لكه دامر انصراف چي كيږي وفرد كامل ته فرد كامل دامر حسن لعينه دئ :

والنهي عن الافعال الحسية الخ :

تشريح: نهي پر دوه قسمه دي ۱- النهي عن الافغال الحسية ۲- النهي عن الافعال الشرعية افعال حسيه هغه بولي چي پيزندل كيږي حسا تحقق دده موقوفه نه وي پر شرع باندي لكه زنا ، قتل ، شرب الخمر افعال شرعي هغه بولي چي تحقق دده موقوفه وي پر شرع باندي، ددواړو تفصيل دادئ نهي عن الافعال الحسية ديته وايي چي يو شي تر نهي مخكي وجود لري نهي شرعه چي ور باندي راغله دده شي په مفهوم كي په تعريف كي په وجود كي يې تغير تبديل رانه وستي هغه ركم ثابت پاته سو چي شرعه نه وه ورباندي راغلى هم دده شي دغه مفهوم وو چي شرعه ورباندي را غله هم يې دغه مفهوم دئ دشرعي مخكي دزنا چي كوم حكم وو دشرعي وروسته دزنا هغه حكم دئ دنهي شرعي مخكي دغلا چي كوم حكم وو دنهي بعد هم هغه حكم دئ دشرابو دنهي دراتلو مخته چي كوم مفهوم وو دنهي دراتلو وروسته هم هغه مفهوم دئ ، نهي عن الافعال الشرعيه ديته وايي چي دشرعي دراتلو

مخکي دشي یو مفهوم و چي شرعه ورباندي راغله قیودات یې ور ولګول بدل یې کړي دې شي مفهوم مثال لکه لمونځ دلمانځه معنا وه دعاء شرعه چي ور باندي راغله مقید یې کړي په دې قیوداتو ارکان مخصوصه وقت مخصوصه حالت مخصوصه :

فائده : زموږ مذهب دادئ نهي عن الافعال الحسیه دا قبیح لعینه دي قبیح لعینه باطل باطل دبل حکم شرعي دپاره سبب نسي جوړیدای : نهي عن الافعال الشرعیه دا قبیح لغیره وصف دئ قبیح لغیره وصفا فاسد ، فاسد دبل حکم شرع دپاره سبب جوړیدای سي دامام شافعي رحمه الله مذهب دادئ مطلقا نهي قبیح لعینه دئ مګر که قرینه ولاړه وه بیا قبیح لغیره دئ موږ امام شافعي رحمه الله تهوایو څه دلیل لري وایي لکه امر په امر کي حسن ذاتي دئ په نهي کي قبحه ذاتي ده دحسن ذاتي فرد کامل حسن لعینه دئ دقبحي ذاتي فرد کامل قبیح لعینه دي یو شي چي مطلق ذکر سي انصراف یې فرد کامل ته کیږي لهذا مطلقا نهي قبیح لعینه دئ قبیح لعینه باطل، باطل دبل حکم شرعي دپاره سبب نسي جوړیدای.

فائده: دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي نهي شي دبیخه باسي چي شي دبیخه باسي نو باطل سو باطل دبل حکم شرعي دپاره سبب نسي جوړیدای زموږ پر مذهب باندي نهي په افعال حسیه کي شي دبیخه باسي چي شي دبیخه باسي نو باطل دئ باطل دبل حکم شرعي دپاره سبب نسي جوړیدای نهي په افعال شریعه کي شي دبیخه نه باسي فاسد سي فاسد دبل حکم شرعي دپاره مسبب جوړیدای سي:

سوال: بیع المضامین و الملاقیح فعل شرعي دئ ولي دبیعي تعریف دشرعي مخکي مبادلة المال بالمال وو چي شرعه ورباندي راغله قیودات یې ور واغوستل نو فعل شرعي سو اوس سوال دادي چي نهي دبیعی المضامین و الملاقیح څخه دادئ قبیح لغیره سي سره له دي چي دا قبیح لعینه دئ :

جواب : دلته دبیعي تعریف پر بیع المضامین و الملاقیح باندي صادق نه دئ :

ولی په بیعه کي به ددواړو خواوو مال وي دلته دیوې خوا مال سته دبلي خوا مال نسته نو بیعه باطله سوه نو ځکه قبیح لعینه دئ :

الابدليل:

تشريح: وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ امام شافعي رحمه الله وويل مطلقا نهي قبيح لعينه دئ مګر دا نهي قبيح لغيره دئ ولي دليل سته هغه دليل دا دئ قُلْ هُوَ اَذًا.

نويم سبق

ولايلزم الظهار :

دعبارت ترجمه : دظهار الزام پر امام شافعي رحمه الله باندي نسي كيداى :

لان كلامنا في حكم مطلوب : ځكه زموږ اختلاف په حكم مطلوب كي دئ تعلق بسبب مشروع له : دحكم تعلق به دسبب سره وي داسي سبب چي دحكم دپاره به مشروع وي مثال وطي كول په حالت دحيض كي وطي في حالة الحيض داسبب مشروع دئ په دې باندي احصان دواطي ثابتيږي احصان حكم مطلوب دئ چي نهي ورباندي راغلى پر وطي في حالة الحيض زموږ په نزد باندي داسبب داحصان دپاره جوړيداى سي دامام شافعي رحمه الله په نزد نه سي جوړيداى ايبقي سببا ام لا اختلاف په دغه ځاى كي دئ ايا سبب ګرځي كه نه ګرځي والحكم به مشروعا مع وقوع النهي عليه : ايا حكم په دغه سبب باندي مشروع دئ سره دوقوع دنهي پر سبب باندي اوكه حكم په دغه سبب باندي مشروع نه ګرځي سره دوقوع النهي پر ده باندي واما ما هو جزاء شرع له : هر څه چي هغه حكم جزاء ده مشروع ده جزاء زجرا فيعتمد حرمة سببه القصاص:

نو تقاضا كوي دده د سبب دحرمت لكه قصاص.

ولايلزم الظهار الخ :

تشريح : پرامام شافعي رحمه الله باندي معترض يو اعتراض كړي دحسامي مصنف پخپل عبارت كي وايي معترضه پر امام شافعي رحمه الله باندي اعتراض مه كوه اوس راسه

پر امام شافعي رحمه الله باندي معترض اعتراض څنګه کوی او د حسامي مصنف وايي پر امام شافعي رحمه الله باندي اعترض مه کوه امام شافعي رحمه الله يوه خبره کړي هغه دا الله جل جلاله او نبی عليه السلام چي يو شي منعه کړي ديو شي څخه يې نهي وکړه دا قبيح لعينه ګرځي چي قبيح لعينه سو نو باطل سو چي باطل سو نو معدوم سو دبل حکم شرعي دپاره سبب نسي جوړيدای معترض را ولاړ سو پر امام شافعي رحمه الله باندي يې اعتراض وکړ مصنف ورته ودريدی وايي اعتراض مه ورباندي کوه دا اعتراض يې ورباندي وکړ په ظهار کي څه وايي وايي ظهار منعه بولم الله جل جلاله فرمايي وَإِنَّهُمْ لَيَقُوْلُوْنَ مُنْكَرًا مِنَ الْقَوْلِ وَزُوْرًا : دوي وايي بيکاره قول او درواغ يعني دامه کوي:

ظهار ديته وايي چي دمحللي تشبيه ورکول سي دمحرمي سره مثال يو سړي خپلي ښځي ته ووايي پر ما داسي يې لکه زما خور يا زما مور خپله ښځه محلله ده خور مور محرمه ده ده تشبيه د محللي ورکړه دمحرمي سره دظهار څخه الله جل جلاله موږ منعه کړي يو ظهار منهي عنه دئ ستا په نزد امام شافعی رحمه الله عنه دبل شي سبب نسي جوړيدای اوس سوال دادئ امام شافعي که چا ظهار وکړ داسړي به کفاره ورکوي که نه وايي کفاره به ورکوي من قبل اَنْ يَّتَمَاسَّا ظهار منهي عنه دئ کفاره حکم شرعي دئ ظهار چي منهي عنه دئ دا دکفاري دپاره چي حکم شرعي دئ دا څنګه سبب سو دحکم شرعي دپاره ستا په نزد باندي خو سبب نسي جوړيدای دحسامي مصنف وايي اعتراض مه ورباندي کوه وايي زموږ او د امام شافعي رحمه الله چي په کوم ځای کي اختلاف دئ په هغه مختلف فيه ځای ځان پوه کړه بيا به اعتراض ورباندي وه نه کړي زموږ او دامام شافعي رحمه الله اختلاف په دې کي دئ سبب به في نفسه مشروع وي حکم به في نفسه مطلوب وي اوس راسنه ظهار سبب دکفاري دئ کفاره حکم دئ خو دغه سبب چي ظهار دئ داسبب مشروع نه دي ولي خداي جل جلاله داسي نه دي ويل چي ظهار کوه سبب مشروع نه دئ کفاره مطلوب نه ده درب کريم زموږ اختلاف په هغه ځای کي دئ چي سبب به مشروع وي حکم به مطلوب وي معترضه تاداسي ځای سوال وکړي چي نه سبب مشروع دئ نه حکم مطلوب دئ که ته وايي

كفاره ولي ضروري ده موږ وايو كفاره ضروري ده زجرا مثال قتل حرام دئ موږ قصاص ورکوو قصاص مطلوب نه دئ قصاص ورکوو زجرا .

يو نويم سبق

ولنا : **دعبارت ترجمه** : زموږ دپاره دليل دادئ، **ان النهي يراد به عدم الفعل مضافا الى اختيار العبد و كسبهم :**

بيشكه په نهي سره طلب كيږى دنه فعل حال دا چي دا نه فعل به مضاف وي واختيار ته دبندګانو وكسب ته دبندګانو، **فيعتمد التصور :** نهي تقاضا كوي چي منهي عنه به متصو الوجود وي ، **ليكون العبد مبتلي** ،ددې دپاره چي بنده په ازمايش امتحان كي سي **بين ان يكون عنه باختياره فيثاب عليه :** په مابين ددې كى چي بنده بند منع سي دمنهي عنه څخه پخپل اختيار باندي نو به ثواب وركول سي پر دغه منع، **وبين ان يفعله باختياه فيعاقب عليه** او په مابين ددې كي چي د ى منهي عنه وكړي پخپل اختيار نو به عذاب وركول سي پر دغه فعل **هذا هو الحكم الاصلى فى النهي :** دغه حكم اصلى دئ په نهي كي **فاما القبيح :** هر څه چي قبحه په منهي عنه كي ده **فوصف قائم بالنهي :** نو د غه قبحه يو وصف خارجي دئ داسى وصف چي منهي عنه ته ثابت دئ په سبب دنهى سره يثبت مقتضى به : داسي وصف چي په نهي سره اقتضاء ثابتيږى **تحقيقا لحكمه :** چي تاكي دنهي حكم ثابت سي **فلا يجوز تحقيقه على وجه يبطل به ما اوجبه واقتضاه** تحقيق دقبحي نه دئ جائز پر داسي ډول باندي چي په دې قبحه باندي باطل سي هغه نهي چي دقبحي تقاضا يې كوله ، **بل يجب العمل بالاصل فى موضعه :** بلكي عمل په اصل باندي چي نهي دئ واجب دئ په خپل موضع كي **وهو ما ورد فيه النهي** موضع دنهي هغه دئ چي په هغه موضع كى نهي وارد وي **والعمل بالمقتضى بقدر الامكان** عمل په مقتضى باندي چي قبحه ده واجب دئ بقدر الامكان، **وهو ان يجعل القبح وصفا للمشروع :** قدر الامكان دادئ چي قبحه وصف وګرځول سي دمنهي عنه دپاره يعني منهي عنه چي مشروع ده په دې باندي به سړي عمل كوي هغه وصف دمنهي عنه په دې باندى به هم سړي عمل كوي بقدر الامكان:

فيصر مشروعا باصله غير مشروع بوصفه : نو به منهي عنه مشروع سي په اعتبار داصل خپل غير مشروع به سي بوصفه . **فيصير فاسدا** :

نو به منهي عنه فاسد سي ولې وصف دده فوت دئ **مثل الفاسد من الجواهر** :

مثال دفاسد لکه دياقوت غمي، **ولا تنافي بينهما**: دمنهي عنه او دقبحي په مابين کي منافات نسته **فالمشروع يحتمل الفساد بالنهي كالاحرام الفاسد** : مشروع (منهي عنه) فساد قبلوي په نهي سره لکه احرام فاسد ، **فوجب اثباته على هذا الوجه** پر دغه ډول واجب دئ اثبات دده چي منهي عنه مشروع ده **رعاية المنازل المشروعات** دمشروعاتو منازلو رعايت به وسي **ومحافضة لحدودها** محافظة به وسي دده دحدودو :

ولنا ان النهي يراد به عدم الفعل مضافا الى اختيار العباد وكسبهم الخ :

تشريح: لمونځ مشروع دئ پر دغه مشروع باندي چي نهي راغلی چي لمونځ مه کوه دغه مشروع چي منهي عنه دئ دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي قبيح لعينه دئ زموږ په نزد باندي قبيح لعينه نه دئ قبيح لغيره دئ دامام شافعي رحمه الله دليل دا وو چي نهي حقيقة تقاضا کوي دقبحي لکه امر چي حقيقة تقاضا کوي دحسن موږ چي وايو پر مشروع شي نهي راسي داقبيح لغيره دئ ولي دليل څه دئ دليل دادئ که قبيح لعينه سی بيا به قلب موضوع راسي تاوان ورځخه پيښيږي ، يو تاوان دادئ که پر مشروع نهي راغلی اوس که داقبيح لعينه سي نو به نهي نفي سی يعني نهي به ورځخه نفي سي، مخته موږ ويلي وو مُتقضی دمقتضِی دصحت دپاره وي دبطلان دپاره نه وي قبحه چي موږ ونهي ته راوړي داصرف له دې وجي چي موږ ناهي ته وکتل ناهي حکيم ذات دئ حکيم ذات موږيې مجبوره کړو چي په دې شي کي قبحه وبوله ولي چي قبحه نه وي پکښي بيا حکيم ذات نهي نه کوي :

قبحه په دې شي کي موږ دخارج ځخه راوړي دناهي دوجي په امر کي حسن دخارج ځخه راوړل سوي ولی امر حکيم ذات دئ حکيم ذات په ښه شي باندي امر کوي، امام شافعي پر مشروع شي چي نهي راسي اوس که داقبيح لعينه وبولي بيا نهي نفی سي دايي يو تاوان دوهم تاوان مقتضی دصحت دپاره راځي امام شافعي ته يې دبطلان دپاره راولي دريم تاوان

وصف دخارج څخه راځي داوصف که دحسن وي که دقبحي وي، په ذات کي دغه وصفت نسته ولي که په ذات کي واى بيا به نه مشروع کيدى که دلمانځه په ذاات کي قبحه واى بيا به الله پاک مشروع کړي نه واى مسجد ته راځه اوس که تا پياز خوړلي وو نو مه راځه مسجد ته فلا يقربن مسجدنا که دمسجد په ذات کي قبحه واى بيا به مشروع نه واي :

فائده: په نهي کي به منهي عنه متصور الوجود وي ممکن العمل به وي مثال زما ترمخ ډوډۍ پرته ده ګوره ډوډۍ فى الحال موجوده ده ممکن العمل ده زه يې خوړلاى سم تاماته وويل لاتاکل الطعام اوس نهي سوي زه په محبس کي يم په جيل کي يم دډوډۍ درک نه معلوميږي نسته ډوډۍ اوس که ته ماته وو ايي ته ډوډۍ مه خوره دا نهي نه ده ولي منهي عنه (ډوډۍ) نسته دا نفي دئ دبنده به په منهي عنه کي اختيار وي که بنده په خپل اختيار دمنهي عنه څخه بند سو منع سو نو بنده ته پر دغه بنديدو ثواب ورکول کيږي که بنده په خپل اختيار منهي عنه وکړ نو دغه بنده ته پر دغه فعل کولو عذاب ورکول کيږي که داوله سره شى معدوم وي بيا دثواب او دعقاب څه معنى نهي راځي دثواب او دعقاب دپاره ستا په نزد امام شافعي رحمه الله چي يو شي مشروع سو بيا نهي ور باندي راغلى او بيا يې ته قبيح لعينه بولي دغه شي چي مشروع دئ او نهي ورباندي راغلى دغه شي معدوم سو چي معدوم سو نو غير متصور الوجود دئ غير ممکن العمل دئ نو ګوره امام شافعي رحمه الله نهي ده په نفي بدلي کړي دايې يو تاوان ، نهي مقتضٰى ده قبحه يې مقتضِى ده مقتضى موږ راوړو ددې دپاره چي مقتضى په صحيح سي امام شافعي ته په مقتضى باندى مقتضى ختموي تا چي قبحه ودغه منهي عنه ته راوړه او ذاتي دئ کړه نهي ختمي سوي نفي سوي او حال دا متقتضى دمقتضى دصحت دپاره وي او ته يې ختموي امام شافعي رحمه الله مقتضى (نهي) داسي ختموي په کوم شي کي چي قبحه ذاتي راسي هغه باطل وي معدوم وي فاسد نه وي باطل ختم وي فاسد يو څه وجود لري صرف په وصف کي يې تاوان وي دده په نزد په مقتضى باندي مقتضى ختم سي دايې بل تاوان :

دخبري خلاصه داده: دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي چي قبحه و مشروع ته راغله باطل سو زموږ په نزد چي قبحه و مشروع ته راغله فاسد سو :

باطل څه معنی فاسد څه معنی باطل دا معنی چي په ذات او وصف کي مردار دئ بس ختم دي فاسد دا معنی په ذات کي سم دئ په وصف کي خراب دئ مثال سړي او خپله ښځه حج ته ولاړل د وقوع الحرم مخته يې جماع وکړه اوس شريعت وايي احرام به نه غورځوي عمل ته دوام ورکړه ټول احکام به پوره کړي پر کال به يې بيرته را وګرځوي که ته وايي ټول احکام به ولي پوره کوي موږ وايو ذات يې نه دئ خراب وصف يې خراب دئ امام شافعي ته هم وايي ټول احکام به پوره کوي نو د دې دا معنی چي ذات يې پاته دئ مثلا په محسوساتو کي د ياقوت يا د مرجان غمی دئ غمی تر خاورو تر ختو لاندي سوي دئ د غه غمی چي د خاورو څخه را وايستل سي چمک ځليدل دا د غمي وصف دئ د غه وصف ختم سوی مګر ذات د غمي باقي پاته دئ :

و د غه غمي ته فاسد ويل کيږي باطل نه ويل کيږي ولی ذات يې باقي دئ صرف وصف يې ختم دئ:

مخکنی سبق او دا سبق يقيني مشکل دي :

دو نويم سبق

وعلى هذا الاصل قلنا :

دعبارت ترجمه: پر د غه قاعده باندي موږ وايو ، **ان البيع بالخمر مشروع باصله** : بيعه بالخمر مشروع ده باصله ، **وهو وجود ركنه فى محله** د بيعي رکن موجود دئ په خپل محل کي د بيعي رکن مبادلة المال بالمال دئ محل د بيعي مبيعه ، **غير مشروع بوصفه** : بيعه بالخمر غير مشروع ده بوصفه ، وهو الثمن : هغه وصف ثمن دئ **لان الخمر مال غير متقوم** : خمر مال غير متقوم دئ **فيصر ثمنا من وجه**: د ثمنو صلاحيت لري من وجه : **وهو باعتبار كونها مال فى ذاتها**: و دون وجه د ثمنو صلاحيت لري من وجه وهو كونها غير متقوم ، **فصار فاسدا لا باطلا** نو بيعه وګرځيده فاسده نه باطله :

و كذالک بيع الربوا غير بوصفه وهو الفضل فى العوض:

داغه ړکم دئ سو غیر مشروع بوصفه دغه وصف زیادت دئ په عوض کي زید وعمرو ته لس زره کالدراي ورکړي زید وعمرو ته وویل بیا به ته (عمرو) ما ته دوولس زره راکړي دغه دوه زره په عوض کي داوصف دئ، **وکذلک الشرط الفاسد فی معنی الربوا:** هرشرط فاسد په معني کي دربا دی مثال زید دعمرو څخه موټر سیکل واخیستي په دیرش (٣٠٠٠) زره عمرو داشرط پر کنبیښودی موټر سیکل واخله مګر زه پر دې موټر سیکل دمازدیګر خوا منظره کوم دغه شرط فاسد دئ دغه بیعه مشروع باصله ده ممنوع بوصفه ده دا دفساد تقاضا کوي دبطلان تقاضا نه کوي اوس دزید او عمرو سو دا وسوه که چیري زید او عمرو قاضي صاحب ته لاړل اوس که قاضي شافعي المسلک وو نو قاضي به ورته وایي ستا سو سودا دلویه سره نه ده سوي که قاضي حنفي وو نو قاضي به ورته وایي ستاسو سود اسوي ده صرف دعمرو شرط ختم سو هغه شرط داوو چي زه (عمرو) دمازدیګر له خوا پر موټر سیکل منظره کوم دغه شرط ولاړی بل مثال زید خپل سرای پر عمرو باندي خرڅ کړ مګر زید داشرط ولګوی چي زه به په دې سرای کي درې میاشتي تیروم اوس که دوې قاضي ته سره ولاړ سي نو حنفي قاضي به دوي ته وایي سوداسوي ده صرف هغه شرط ختم د ئ یعني سرای زیده ور ایله کړه شافعي قاضي به ورته وایي سودا دلویه سره نه ده سوی .

وعلی هذا الاصل قلنا الخ:

تشریح: یو شي مشروع سو او بیا ممنوع سو ودیته مشروع لذاته او ممنوع لغیره وایي کوم شي چي مشروع لذاته او ممنوع لغیره سو دا تقاضا کوي دفساد دبطلان تقاضا نه کوی مثال بیعه دخدای جل جلاله له طرفه مشروع ده سړي راولاړ سو موټر سیکل یې پر شرابو ورکړي الله تعالی وایي دابیعه مه کوه نو دا مشروع لذاته ممنوع لغیره ده اوس راسه مشروع لذاته ولي ده مشروع لذاته ځکه ده چي دبیعي تعریف ور باندي صادق دئ دبیعي تعریف دادئ مبادلة المال بالمال بالتراضی شراب مال دئ موټر سیکل هم مال دئ اوس که ته ووایي چي شراب کله مال وو موږ وایو شراب مال دئ ولي دمال تعریف وباندي صادق دي دمال تعریف دادئ دانسان ما طبعا میلان ورته کیږي حرص یې لري دمؤمن مسلمان که میلان نه ورته کیږي حرص یې نه لري دکافر خو میلان ورته کیږی حرص یې لری ممنوع لوصفه ولي دئ ممنوع لوصفه ځکه دی چي شراب مال غیر متقوم د عند المسلم عند

المسلم غير متقوم ځکه دی الله تعالی وايي که دمسلمان په لاس کي دشرابو بوتل وو بل مسلمان ور باندي راغلی په لغته يې ووهلی او ځغوار سو شراب يې توی سوه اوس پر دغه لغته والا مسلمان تاوان نسته داغه ددې دليل دئ چي دامال غير متقوم دئ اوس راس بيعه خو ده ولي مبادلة المال بالمال راغلی خو نقصان يې په دغه ځای کي راغلی چي په دغه دوو مالو کي يو مال غير متقوم د ئ چي غير متقومَ سو نو من وجه مال دئ دکافر په نسبت من وجه مال نه دئ دمؤمن په نسبت ګټه نسي پر اخيستي که ته سوال وکړي چي دا خو دلويه سره بيعه نه ده ولي بيعه وايي مبادلة المال بالمال دمسلمان په نزد باندي دا داسي سو لکه مال چي نه وي ولي دا غير متقوم دئ موږ وايو قانون واوره په بيعه کي اصل مقصود مبيعه وي ثمن نه وي نو ته مجبوره يې شراب به ثمن جوړوي چي ثمن جوړ سوه په دې ثمنو به بل موټر سيکل واخلي چي موټر سيکل يې واخيستي موټر سيکل مبيعه ده دا مال متقوم دئ دبيعي اهم رکن صحيح دئ ضعف يې په دغه ځای کي دئ من وجه ثمن دئ دکافر په نسبت من وجه ثمن نه دي دمسلمان په نسبت :

دخبري خلاصه داده : يو شي مشروع لذاته دئ ممنوع لوصفه دئ مشروع لذاته ممنوع لوصفه دا تقاضا کوي دفسا د دبطلان تقاضا نه کي، زموږ مذهب دادئ که مسلمان موټر سيکل وکافر ته پر شرابو باندي ورکړ او قبض راغلی بس سو دا تامه سوه بيا نسي ختميدی دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي دا قبيح لعينه دئ چي قبيح لعينه سو نو باطل سو چي باطل سو نو دلويه سره سودانه ده سوي شراب پر موټر سيکل ورکول دا بيعه فاسده ده فساد يې په دغه ځای کي دئ چي شراب من وجه ثمن جوړيږی من وجه نه جوړيږي دبيعي فاسدي حکم دادئ دقبض بعد تامه سي فسخه نه قبلوي دامام شافعي رحمه الله په نزد داوله سره بيعه نسته :

درونويم سبق

دعبارت ترجمه: **وكذال صوم يوم النحر مشروع باصله :** داغه رکم روژه داختر دورځي مشروع باصله ده **وهو الامساک لله تعالی فی وقته :** هغه اصل دادئ چي خوله بندول

دخدای جل جلاله دپاره په خپل وخت کي **و غیر مشروع بوصف:** روژه داختر په ورځ غیرمشروع ده بوصفه ، **وهو الاعراض عن الضیافة الموضوعة فی هذالوقت بالصوم:**

هغه وصف اعراض کول دئ دالله جل جلاله دضیافت څخه داسي ضیافت چي مقرر سوي دئ په دغه وخت کي دا اعراض هم دی په روژه سره الایری ان الصوم یقوم بالوقت ولا خلل فیه:

دیته نه کتل کیږی چي صوم موجود یږي په وخت سره په وخت کي خلل نه وي، **والنهي یتعلق بوصفه :** نهي تعلق نیسي دوخت دوصف سره چي دا داختر ورځ ده ولي روژه نیسي، هو أنه یوم عید: هغه وصف دادئ چي دا داختر ورځ ده، **فصار فاسدا :** نو داختر دورځي روژه وګرځیده فاسده نه باطله ، **ولهذا یصح النذر به عندنا :** داغه خو وجه ده چي نذر په دغه ورځ صحیح دئ زموږ په نزد باندي ، **لانه نذر بالطاعة** ځکه دغه نذر نذر دئ بالطاعة ، **وانما وصف المعصیة متصل بذاته فعلا لا باسمه ذکرا** بیشکه خبره هم داده وصف دمعصیت متصل دئ دده په ذات پوری فعلانه دده په اسم باندي ذکرا یعني معصیت په نفس نذر منلو سره نسته که سړي په دغه ورځ باندي نذر ومني چي زه به روژه نیسم او بیا یې عمل ورباندي وکړ او س معصیت راغلی :

څلور نویم سبق

دعبارت ترجمه: ووقت طلوع الشمس ودلوکها صحیح باصله : لمونځ دلمر دختو په وخت کي کول او دزوال په وخت کی کول او دلمر دلویدولو په وخت کي دا لمونځ صحیح دئ باصله ددلوک اطلاق پر زوال او پر لویدلو دواړو کیږی ، **فاسد بوصفه :** فاسد دئ بوصفه :

وهو انه منسوب الی الشیطان هغه فساد دادئ چي داوخت منسوب دئ وشیطان ته ، **کما جاءت بالسنة :** لکه په حدیث کي چي راغلی داوخت منسوب دئ وشیطان ته ، **الا ان اصل الصلوة لا یوجدالا بالوقت** مګر اصل لمونځ نه موجودیږي مګر په وخت سره **لانه ظرفها لا معیار ها:** وخت ظرف دلمانځه دپاره وي معیار نه دي، وهو سببها دغه وخت سبب دلمانځه

دئ **فصارت الصلوة فيه ناقصة لا فاسدا** نو لمونځ په دغه وخت کي وګرځيدلي ناقص نه فاسد، **فقيل لا يتادي بها الكلام :** نو وويل سوه چي په دغه اوقات مکروهه کي نه اداء کيږي کامل لمونځ:

ويضمن بالشروع : دی ضامن کيږی په شروع باندي **والصوم يقوم بالوقت** روژه په وقت سره قائميږي ، **ويعرف به :** د روژي د مقدار معرفت کيږی په وخت سره: فاذا زداد الاثر: چي څه وخت د روژې د فساد اثر زيات سو ، **فصار فاسدا** ،نو روژه د اختر په ورځ وګرځيده فاسده **فلم يضمن بالشروع :** نو روژه نيونکي ضامن نه د د اختر په ورځ باندي په شروع باندي ضامن نه دئ

د ټول سبق خلاصه داده : د اختر په ورځ روژه قبيح لغيره وصفا لمونځ د اوقات مکروه قبيح لغيره وصفا اوس پکار داده چي د دواړو فرق ونيسي او سره د دې چي فرق يې سته يو مضمون بالشرع دئ بل مضمون بالشروع نه دئ نو موږ وايو په يوه کي نقصان دئ ځکه مضمون بالشروع دئ په يوه کي فسا د دئ ځکه مضمون بالشروع نه دئ :

ووقت طلوع الشمس ودو لوكها صحيح باصله فاسد بوصفه الخ :

تشريح: د اختر دورځي روژه مشروع ده باصله غير مشروع ده بوصفه هغه دا که په دغه ورځ روژه ونيول سي نو به اعراض عن ضيافة الله راسي، لمونځ په اوقا ت مکروهه کي کول هغه اوقات مکروهه دادئ وقت طلوع الشمس ودلوکها وغروبها : لمونځ باصله مشروع دئ ولی لمونځ د سره ښخه تر پایه د الله تعظيم دئ مګر و دغه لمانځه ته فسا د راغلی د وخت دوجي دا وخت بيکاره دئ ولي په دغه اوقات مکروهه کي شيطان لمر د خپلو دوو ښکرو په مينځ کي راولي شيطان په دغه وخت کي خوشحال سي چي زما عبادت شروع دئ که ته وايي موږ کله د لمر عبا ت کوو نو موږ وايو کوم خلک چي د لمر عبادت کوي دی وهغه ته په حقيقت کي خوشحاله وي چي دا زما عبادت کوي نو موږ به په دغه وخت کي عبادت نه کو ولي دا وخت منسوب دئ وشيطان ته :

دخبري خلاصه داده: داختر دورځي روژه مشروع ده باصله فساد ورته راغلی دوصف دوجي هغه وصف اعراض عن ضيافة الله دئ لمونځ داوقات مكروهه مشروع دئ باصله فساد ورته راغلی دوصف دوجي هغه وصف دادئ چي دا وخت منسوب دئ وشيطان ته كه روژه ده كه لمونځ دئ دواړو ته فساد راغلی دوصف دوجي:

سوال: اوس سوال دادئ چي لمونځ اوروژه دي دواړه يو ركم سي مگر احنافو تاسو يې فرق كوي هغه فرق يې دادئ كه سړي داختر په ورځ روژه ونيوله تر يوولسو يا تر دوولسو (١١-١٢) بجو پوري اوس دي دغه سړي روژه ماته كړي چي روژه يې ماته كړه تر سره يي ونه رسوله اوس به دغه سړي روژه نه راګرځوی ولي داوله سره فساد پكښی دئ كه سړی لمونځ په اوقات مكروهه كي شروع كړي نو دغه لمونځ به تر سره رسوي كه يې دغه لمونځ تر سره ونه رسوي بيا به يې راګرځوی، لزم النزول بالشروع نفل په شروع باندي لازميږي لهذا تاسو يې ولي فرق كوي هلته په روژه كي كه سړي روژه ماته كړي بيا راګرځلاونه غواړي په لمانځه كي كه سړي لمونځ ترسره ونه روسي نو بيرته به يې راګرځوي ؟

جواب: موږ له تا سائله پوښتنه كوو كه سړي داختر پر ينځمه روژه ونيسي پروا لري وايي ياپروانه لري داختر پر ينځمه باندي نو ددې دا معلومه سوه چي داختردروژې په فساد كي لوی دخل دوخت دئ پاته سو لمونځ كه سړي لمونځ داوقات مكروهه لږ مخته وكړی نو تاوان پكښی نسته كه سړي لمونځ په اوقات مكروهه كي وكړي نو تاوان پكښی سته نو ددې دا معلومه سوه چي داوقات مكروهه دلمانځه په فساد كي دوخت دخل سته:

دجواب خلاصه داده په روژه كی دوخت دخل ډير دئ په لمانځه كي دوخت دخل لږ دئ ولی دروژې دپاره وخت معيا دئ دلمانځه دپاره وخت ظرف دئ ظرف په مظروف كي دومره دخل نه لري لكه معيار چي په روژه په حكم كي دخل لري كه ته وايي معيار ولی په حكم كي ډير دخل لري موږ وايو خبره دئ ده دمعيار په مفهوم كي وخت دننه ور داخل دئ دمظروف په مفهوم كي ظرف دننه ور داخل نه دئ :

ولی روژه دیته وایي چي دسهار څخه تر ماښام پوري به امساکات ثلثه کوي خوله بنده کړه ۲- شرب مه کوه ۳- جماع مه کوه نو ګوره دروژې په مفهوم کي دننه وخت پروت دئ ولی که سړي مطلق ا مساکات ثلثه وکړي روژه ورته نه ویل کیږی هغه وخت روژه ورته ویل کیږي چي سړي امساکات ثلثه وکړي دسهار (صبح صادق) څخه تر ماښام پوري یعني تر لمر تر لویدو پوري پاته سو لمونځ ولاړ سه، ودریږه رکوع وکړه سجده وکړه کښینه دوخت تغیر نه پکښی راځي نو ګوره وخت یې په مفهوم کي دننه ور داخل نه دئ اوس راسه چي وخت دروژي په مفهوم کي ورننه وتي او وخت داختر ورځ ده خرابه ده نوروژه دلویه سره فاسده ده دبیخه ختلي چي روژه دبیخه وختله نو ځکه موږ وایو روژه نه راګرځوي پاته سو لمونځ په لمانځه کي وخت دننه په مفهوم کي ننوتلي نه دئ نو ځکه موږ وایو لمونځ به راګرځوي اوس که ته وایي په اوقات مکروهه کي وخت په لمانځه کي دخل نه لري نو بیا یې ولي نه خوشوي نو موږ وایو منم چي وخت دلمانځه په مفهوم کي دخل نه لري مګر وخت دلمانځه دپاره سبب دئ:

دخبري خلاصه داده: داختر په ورځ روژه نیول فاسده ده په اوقات مکروهه کي لمونځ کول ناقص دئ فاسد نه دئ دناقص اوفاسد فرق سته نو ځکه موږ وایو داختر په ورځ که سړي روژه ماته کړه بیا راګرځلاو نسته په اوقات مکروهه کي که سړي لمونځ ترسره ونه رسوي بیابه یې راګرځوي:

پنځه نویم سبق

دعبارت ترجمه: **ولا یلزم النکاح بغیر شهود** دا سوال زموږ پر قاعده باندي نه کیږي **لانه منفي:** ځکه دا منفي دئ **بقوله علیه السلام** په دې قول دنبی علیه السلام **لانکاح الا بشهود** نکاح نسته مګر په ګواهي سره، **فکان نسخا** نو نسخه سو نهی نه سو،

ولا یلزم النکاح بغیر شهود الخ:

تشریح: موږ یوه قاعده ویلي وه هغه دا چي یو شي مشروع سو بیا نهی ور باندي راغلی دا مشروع بذاته دئ ممنوع بوصفه دئ دا من وجه موجود وي من وجه معدوم وي دا فاسد وي باطل نه وي:

سوال: اوس سوال دادئ که چیری نکاح وسوه ګواهان نه وه دا ممنوع باصله ده مشروع باصله نه پاتیږی یعني دا معدوم ده من کل وجه حالانکي نکاح یو مشروع شي ده چي نهي ور باندي راسي پکار خو داده چي مشروع بذاته سي ممنوع بوصفه سي یعني دادئ فاسد سي من وجه به معدوم سي من وجه به موجود سي تا سو وایاست دا دبطلان تقاض کوي من کل وجه معدوم د ئ مشروع باصله نه پاتیږي ستاسو قاعده په نکاح کي ماته ده دحسامي مصنف دد ې سوال جواب په دوه طرزه ورکوي یو جواب دولایلزم څخه ورکوي بیا تر ولاَنّ پوري دوهم جواب دولانّ څخه ورکي:

اول جواب دادئ موږ له تاسو پوښتنه کوو زموږ قاعده په نهي کي ده که په نفي کي ده وایي ستاسو قاعده په نهي کي ده موږ وایو دا نفي دي نبی علیه السلام فرمایي لانکاح بغیر شهود نکاح به غیر دګوهانو نسته او حال دا نفي شي ختموی زموږ قاعده په نهي کي وه پر یو شي چي به نهي راغلی نو به مشروع بذاته سو ممنوع بوصفه سو دلته پر نکاح نفي راغلي ده نفی شي دبیخه باسي نبی علیه السلام لا نکاح ویلي لا تنکح یې نه دئ ویلي:

دعبارت ترجمه: **ولان النکاح شرع لملک ضروري لا ینفصل عن الحل :** نکاح مشروع سوي ده دملک ضروي دوجي داسي ملک ضروري چي نه جلا کیږي د حل څخه ، **والتحریم یضاده:** تحریم د حل ضد دئ ، **بخلاف البیع :**

په خلاف دبیعي ، **لانه شرع لملک العین** ځکه که دا مشروع بالذات دئ، **والحال فیه تابع:** حل پکښي تابع دئ، **الا تری انه شرع : فی موضع الحرمة** ته نه ګوري چي بیعه مشروع ده دحرمت په ځای کي چي حل استمتاع حرام دئ، **وفیما لایحتمل الحل اصلا** په هغه ځای کي چي د حل احتمال نه وي بلکل ، **کالامة المجوسیة والعبید والبهائم:** لکه مجوسیه لکه غلام لکه بهائم: ددغه سبق په حقیقت سر خلاصول یو څه مشکل دي ..

ولان النكاح شرع لملك ضروري الخ :

تشريح:دوهم جواب: ښځه ازاده ده دښځي اندامونه هم ازاد دي سړي دښځي ديوه اندام مالک نسي جوړيدای صرف الله جل جلاله دضرورت په بنياد باندي چي بقاء دنوع البشر پاته سي نسل باقي پاته سي دنسل دپاته کيدو دضرورت پر بنياد ملک متعه ومېړه ته ورکول سوه مېړه دښځي دنورواندامو مالک نه دئ که ته وايي دا څه معنی؛ چي مېړه دښځي دنورو اندامو مالک نه دئ نو موږ وايو دا دا معنی که يو سړي دښځی گوتي وړپړې کړي بيا ديت ورباندي راغلی دغه ديت دمېړه نه دئ دغه ديت دښځي دئ نو ددې څخه دا معلومه سوه چي مړه دښځی دلاس مالک نه دئ دښځي سترګه چا ور ويستل بيا يې ديت ورکړي دغه ديت پيسي دا به ښځه اخلي مېړه به داپيسي نه اخلي نو ددې څخه دا معلومه سوه چي مېړه دخپلي ښځی دسترګي مالک نه دئ يو غلام دئ دغلام که چا ګوتي ورپري کړي دغلام که چا سترګه ور ويستله دا پيسي دا ديت ومالک ته ځي لهذا دښځي ملک متعه مېړه ته حواله ده ملک متعه هم په اصل کي حرامه وه ملک متعه مېړه ته صرف ددې دپاره ورکول سوه چي نوع البشر باقي پاته سي حل دملک متعي چي مېړه نفعه پر اخلی دا دضرورت پر بنياد ورکول سوي دئ ملک متعه په اصل کي مشروع نه ده ممنوع ده دملک متعي مشروعيت صرف ددې دپاره دئ چي نوع انساني باقي پاته سي اوس راسه لا نکاح الا بشهود داته نهي فرض کړه چي نهي فرض سوي اوس زه سوال کوم نهي څه شي راولي وايې نهي حرمت راولي په ملک متعه کي دضرورت پر بنياد دحل اجازه وه چي نهي ورباندي راغلي ضرورت وويل حل سته نهی وويل حرمت دئ غير دګواهي حلت او حرمت دا دواړه سره ضدين دي په يوه محل کي نسي جمعه کيدای چي فرج دئ هم حلال وي هم دي حرام وي نو خامخا به يا حل ختميږي يا به حرمت ختميږی دواړه نه ثابتيږي :

که ته وايي زه حلت ثابتوم حرمت نه ثابتوم موږ وايو ته قاعده واوره دحلت او دحرمت معارضه چي سره راسي ترجيح حرمت ته روکول کيږی حلت ته ترجيح نه ورکول کيږی دا حلت سو دا حرمت سو حرمت چي راغلی حلت يې وخوړی صرف حرمت پاته سو حرمت شي معدوم کوي چي معدوم سو نو باطل سونه فاسد که ته وايي بيعه خو هم دا. ي ده مثال ما موټر سيکل واخيستي په بېکاره سودا باندي نهي را ته ودريدی ويل دامه کوه حلت سودا

ثابت کړی نهي چي ور ته ودریدی حرمت یې ثابت کړي اوس سوال دادئ دلته حرمت ولي حلت نه ختموي لهذا دنکاح او دبیعي څه فرق دئ جواب: دنکاح او دبیعي فرق سته په مبیعه کي عین مال چي موټر سیکل دئ دا مقصود بالذات دئ موټر سیکل نفعه اخیستل دایي تابع وي که ته وایي دازه نه منم موږ وایو ډیر داسي ځایونه سته سودا به جائز وي حل داستماع به نه لري مثال مجوسیه مینځه غلام چرپایه دا تاراینول دداټولو سره جماع کول دا دحلت احتمال نه لري مجوسیه احتمال دحل نه لري غلام احتمال دحل نه لري بهائم احتمال دحل نه لري ګوره دلته مقصود عین مال دئ:

استمتاع یو تابع شی دئ دا کله وي کله نه وي په نکاح کي مقصود عین حل داستمتاع دئ په مبیعه کي مقصود عین مال دئ حل پکښی تابع دئ که ته وایي ته څه ویل غواړي موږ داویل غواړو نهي چي راسي تابع ختموي شي نه ختموي پر بیعه چي نهي راغلی تابع یې وخوړي پرنکاح چي نهي راغلی دلته عین شي حل استمتاع دئ:

او حال دا نهي عین شي نه ختموي تابع ختموي پرنکاح چي نهي راغلی وحل استمتاع ته ورردیدی ویل داحرام پاته سو حل یې وخوړي:

دعبارت ترجمه: **ولا يقال في الغصب بانه يثبت الملک مقصودا به :** نه ویل کیږی په غصب کي پر دا رکم چي غصب ملک ثابتوي په داسي حال کي چي ملک دئ مقصودا ثابت سي په غصب باندي، **بل ثبت شرطالحكم شرعي**: بلکي ملک ثابتیږی وغاصب ته چي دا شرط دئ دحکم شرعي دپاره **وهو الضمان** هغه حکم شرعي ضمان دئ **لانه شرع جبرا**، دغه ضمان مشروع سوی دئ جبرا، **فيعتمد الفوات**: نو تقاضا کوي ضمان چي ملک مغصوب دئ فوت سي دمالک څخه دده دپاره چي عوض اومعوض جمعه نسي په ملک کي دشخص واحد:

ولايقال في الغصب بانه يثبت الملک مقصودا به الخ :

تشريح: موږ یوه قاعده ویلي وه چي کوم شی فعل حسي وي او بیا نهي ورباندي راغلی نو داقبیح لعینه دئ قبیح لعینه دبل حکم دپاره سبب نسي جوړیدای الله جل جلاله یو حکم

کړي دئ مثال لا تأكُلُوا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ تاسو پخپله مابين کي په باطله طريقه ديو بل مالونه مه خوري نو غصب حرا م سو دبل مسلمان مال په غصب اخيستل حرا م .

سوال: اوس سوال دادئ غصب فعل حسي بلکل غصب فعل حسي دئ دغصب دشرعي دراتلو بعد هم هغه مفهوم دئ دشرعي دراتلو مخکي هم هغه مفهوم دئ، دبل مال په زور اخيستل ديته غصب وايي دشرعي دراتلو مخته دغصب داغه مفهوم وو دشرعي دراتلو وروسته دغصب هم دغه مفهوم دئ زيد را ولاړ سو دعمرو څخه يې ګړي ساعت په زور واخستی ساعت دزيد سره موجود دئ اوس به شريعت دزيد څخه ګړي ساعت اخلی وعمرو ته به يې ورکوي که ګړي ،(ساعت) دزيد څخه خرابه سوې وه يا ګړي ورڅخه ورکه سوې وه ددغه ساعت قيمت څلور زره وو که دزيد څخه ګړي ساعت خراب سوي وه نو به زيد ددغه ګړي څلور زره روپۍ وعمرو ته ورکوي زيد چي غاصب دئ ددغه ساعت مالک سو غصب يې سبب دئ اوس سوال دادئ زيد دساعت مالک جوړيدل دا حکم شرعي دئ سبب يې جوړ سو ی دئ غصب عصب فعل حسي دئ نهي چي ورباندي راغلی نو قبيح لعينه سو قبيح لعينه دبل حکم دپاره سبب نسي جوړيدای :

سوال: اوس سوال دا دئ دلته غصب څنګه دملک دپاره سبب جوړ سوي دئ او حال دا دقاعدي څخه مخالفه دئ، :

جواب: سائله ته يو وار زموږ په قاعده سر خلاص کړه يو ځای قبيح لعينه دئ قبيح لعينه دبل حکم دپاره سبب نسي جوړيدای ا وس راسه قبيح لعينه دبل حکم دپاره سبب ولي نسي جوړيدای ځکه نسي جوړيدای دی خو قبيح لعينه دئ بل حکم چي راځي هغه هم قبيح دئ په دغه وجه سبب نسي جوړيدای ولي داسي نسي کيدای چي سبب دئ قبيح وي مسبب دي حسن وي :

مګر که حسن ودغه حکم ته دبهر څخه ددباندي څخه ورته راغلی بياسبب جوړيدی سي اوس راسه دا ملک پر غصب باندي تفريع سو غصب بنه شی نه دئ نو ملک جوړيدل هم بنه شي نه دئ په داغه وجه خو سبب نسي جوړيدای مګر که حسن دبهر څخه ورته راغلی بيا

سبب جوړیدای سي اوس ورته ورګوره شریعت وزید ته وویل ساعت یې ستا وعمرو ته څلور زره روپۍ ورکړه که ته وایي ساعت او روپۍ دي دواړه ورکړي موږ وایو په شریعت کي دا نسته چي عوض او معوض دواړه ورکړه دعوض او دمعوض دنه یو ځای کیدلو حل دادئ ساعت یې دزید څلور زره دئ زید وعمرو ته ورکړي عمرو ته پیسي ورکول په دې کي حسن دئ ولي دمسلمان حق اداء سو زید به وعمرو ته پیسي ورکوي په دې شرط باندي چي ګړي (ساعت) به شریعت زید ته ورکوي ګړي دزید کیدل دا شرط دئ دپیسو ورکولو وعمرو ته په پیسو ورکولو کي حسن دئ نو په دغه شرط کي هم حسن راغلی ددغه حسن دوجي غصب سبب جوړ سوي دئ:

دخبري خلاصه داده :په غصب باندي ضمان راغلی ضمان هم حکم شرعي دئ ملک دئ حکم شرعي نسي دادئ دحکم شرعي تابع سي ضمان خو حکم شرعی دئ که دا سوال وکړي نو موږ مخته ویلي وه واما ماهو جزاء شرع زاجرا موږ وایو ضمان چي ورکول کیږي دا زجرا وشرط الحکم تابع له :شرط دحکم تابع دئ دحکم شرط تابع ضمان یې مقصود موږ چي ملک زید ته ثابتوو دا مقصود نه ثابتوو ملک تابع دئ په تابع کي شرط دا دئ چي دمتبوع حکم به اخلی ضمان ورکول حسن وو نو په ملک به کي هم حسن راغلی :

فصار حسنا بحسنه

نو ملک دغاصب وګرځیدی حسن په حسن سره دضمان :

شپږ نویم سبق

وکذالک الزنا لا یوجب حرمة المصاهرة اصلا بنفسه :

دعبارت ترجمه :زنا حرمت مصاهرة نه ثابتوي بالکل بذاته خود زنا سبب نه ده: بل انما هو سبب للماء: بلکي زنا سبب ده داوبو ، والماء سبب للولد: او به سبب دي دولد و الولد هو الاصل فی استحقاق الحرمات: ولد اصل دئ په مستحق والي کي دحرماتو یعني حرمات ولد راولي:

ولا عصيان ولا عدوان فيه: په ولد کي هيڅ عصيان نسته چي نظر وحقوق الله ته وسي او په ولد کي هيڅ عدوان نسته چي نظر وحقوق العباد ته وسي **: ثم تتعدي منه الى اطرافه :** بيا حرمات دولد څخه ځي واطرافو ته دولد ، که ته وايي زنا نه ده سوي خالی مچه اخيستل سوي ده بيا ولي حرمت مصاهرة ثابتوي مصنف وايي **ويتعدي الى اسبابه :** ايجاب دحرمت : ځي واسبابو ته دولد مچه سبب دزنا ده زنا سبب دماء ده ماء سبب دولد دي دا ټول اسباب دي اوس به مصنف دنائب خبره شروع کړي، **وما قام مقام غيره انما يعمل بعلة الاصل :** هر هغه شی چي دريږی دبل پرځای دغه شي کردار اداء کوي لکه اصل چي هغه کر دار ادار کوی لکه په ولد کي عصيان نه وو نو په اسبابو دولد کي هم عصيان نسته **الا ترى ان التراب لما قام مقام الماء** ته نه ګوري چي خاور ه هر کله ودريده داوبو پر ځای **نظر الى كون الماء مطهراً** وسقط عنه وصف التراب : نو موږ وکتل ودې ته چي اوبه پاکوونکي دي او دخاوري څخه ختم سو هغه وصف دخاروی چي هغه وصف دخاوري تلويث دئ، **فكذالك ههنا يهدر وصف الزنا بالحرمة لقيامه مقام ما لا يوصف بذلک:**

دغه رکم په دې مقام کی نړيږي وصف دزنا بالحرمة ځکه زنا ولاړه ده پر ځای دهغه چا (ولد) چي هغه په دغه وصف نه موصوفه کيږی، **فی ايجاب حرمة المصاهرة :** دا وصف دحرمة دزنا څخه نړيږی په حق دثابتولو کي دحرمت مصارهة:

ولذالک الزنا لا يوجب حرمة المصاهرة اصلا الخ:

تشريح: زنا فعل حسي ده الله جل جلاله حکم کړي مثال لا تقربوا الزنا تاسو زناته نژدی مه ورځي نهي راغلی پر زنا باندي زنا فعل حسی ده نهي چي پر فعل حسي راسي دا قبيح لعينه دئ قبيح لعينه دبل حکم شرعي دپاره سبب نسي جوړيدای احناف وايي که چا زنا وکړه داسبب دحرمت مصاهرة ګرځي يعني دخيښي سبب ګرځي او حرمت مصاهرة درب کريم دطرفه يو نعمت دئ الله جل جلاله وايي ﴿فَجَعَلَهُ نَسَبًا وَصِهۡرًا﴾ الله پاک ماء دبشر چي انسان ور څخه پيدا سي دا فجعله نصبا وصهرا ګرځي يعني دا معني حرمت مصاهرة پر دې تفريع کوي لهذا حرمت مصاهرة دايو نعمت دئ نعمت يو حکم دئ يعني ما ديو ښځی سره نکاح وکړه اوس ددې ښځي مور پر ما باندي حرامه سوه فی الحال يي خور را باندي حرامه سوه او

لوریې دهمیشه دپاره را باندي حرامه سوه داڅول احکام شرعیه دي یو سړي زنا وکړه داڅول احکام پر زنا باندي تفریع دئ خو زنا سبب سوه دحرمت مصاهرة دپاره حرمت مصاهرة حکم شرعي دئ نو سوال دادئ احنافو تاسو وویل قبیح لعینه دبل حکم شرعي دپاره سبب نسي جوړیدای او دلته سبب څنګه جوړ سو:

جواب: موږ وایو سبب دحرمت مصاهرة زنا وطي نه دئ بلکي سبب دحرمت مصاهرة بچي ولد دئ مګر زنا وطي دا سبب داوبو دئ اوبه سبب دولد (بچي) دئ ولد (بچي) سبب دحرمت مصاهرة دئ اوس راسه ولد څنګه سبب دئ دپاره دحرمت مصاهرة دمور اوپلار او به سره ګډي سوې بیا بچي ورڅخه پیدا سو بچي دپلار جز دئ دمو رهم جزء دئ ددواړو جزء دئ اوپر جزء استمتاع کول حرام دي نبی علیه السلام وایي ناکح الید ملعون کوم سړي چي دخپل لاس سره نکاح کړي وي پر دې سړي باندي دالله جل جلاله لعنت دئ لاس جزء دئ پر دې باندي استمتاع کول حرام دئ نوبچي دمورا ودپلار جزء دئ که انجلۍ ده پلار استمتاع نسي ورباندي کولای که هلک دئ مور استمتاع نسي ورباندي کولای همدارنګه که هلک دئ پرمور استمتاع نسي کولاي که انجلۍ ده پر پلار استمتاع نسي کولای اوس راسه ددغه یوه حرمت څخه نور حرمات پیدا سوه بچي که هلک وو پر دغه هلک باندي چي څنګه مور ورباندي حرامه وه همدارنګه پر دغه هلک باندي دمور اصول اوفروع هم ور باندي حرام دي یعني پر دغه هلک باندي دمور مور هم حرامه سوه دمور انا هم ورباندي حرامه سوه دایي اصول دي پر غه هلک باندي دمو لور اولمسي حرام دي دایي فروع دي لهذا اصول او فروع دواړه وراباندی حرام دي که دغه بچي انلجي ده پر دغه انلجی باندي دپلار اصول او فروع دواړه ورباندي حرا م دي پر دغه انجلۍ چي څنګه پلار حرام وو همدارنګه دپلار پلار دپلا نیکه پر انجلي حرا م دئ پر دغه انجلۍ باندي دپلار زوي او لمسي حرام دئ پر هلک دمور اصول او فروع حرام سول پرډا نجلۍ دپلار اصول اوفروع حرام سول ولی جزئیت پکښې دئ اوس سوال کیږ ي هغه دا سړي چي دښځي سره وطي وکړي بیا هلک ور څخه پیدا سو هلک حرمت سره کش کړي ور لره هم مور لره حرمت پلار لره هم ولاړي:

سوال: اوس سوال دادئ پکار دا ده چي مینه خپله ښځه دیو وار بعد حلاله نسي؟

جواب: خبره داغي ده لكه سائله ته چي وايي مګر مينه خپله ښځه چي حلاله ده دضرورت پر بنياد باندي چي نوعه انساني باقي پاته سي لكه بي بي حوا عليها السلام دادم عليه السلام دپښتۍ څخه پيدا سوه بي بي حوا عليها السلام دادم عليه اسلام جزء ده مګر بيا هم ادم عليه السلام پر بي بي حوا عليها السلام باندي ا ستمتاع كوي دغه استمتاع وده ته حلاله ده دا جواز د استمتاع دضرورت پر بنياد باندي چي نوع انساني باقي پاته سي داوس راسه دحرمت مصاهرة دپاره سبب ولد دئ په ولد كي هيڅ قصور نسته دليل يې دادئ دا هلک قاضي جوړيداى سي، امام جوړيداى سي عالم جوړيداى سي ، شاهد جوړيدا ى سي لهذا په هلک كي قبحه نسته، يو سړى را ولاړ سو دښځي يې مچه واخيسته يا يې ښځي ته لاس وروړي دسړي ذكر په حركت كي راغلى احنافو تاسو واياست په دې باندي حرمت مصاهرة راغلى او حال داسړي جماع ورسره نه ده كړي اوس پر دغه سړي باندي ددغه ښځي مور دهميش دپاره حرامه سوه:

جواب: مور وايو سړي چي ويده سي باد يې نه يې پري كړي اودس يې مات سو اودس په باد پريک يدو سره ماتيږى دلته باد نه دئ پرې سوې بيا اودس څنګه مات سو مور وايو خوب قائمقامه دباد پرې كيدو دئ اوس راسه دلته لمس قائمقامه دزنا او دوطي دي زنا او وطي قائمقامه دولد دي نو ځكه داحرمت مصاهرة راولي:

اخيري نكته: دايو شي دئ په دې شي كي بد خوي دئ داشي فى الحال نائب دئ خو په منوب كي دابد خوى نسته بس په دغه صورت كي دابد خوى دنائب څخه خپله ختميږى مثال لكه خاوره په خاوره كي تلويث دئ تلويث معنى لړل مګر خاوره داوبو قائمقامه نائبه ده په اوبو كي تلويث نسته په اوبو كي طهارت سته اوس نو چي خاوره نائبه ده نو په خاوره كي تلويث نسته طهارت سته ولى خاوره نائبه ده نائب لره حكم دمنوب وي په منوب (ماء) كى طهارت نو په نائب (تراب) كي هم طهارت :

زنا قائمقامه دولد ده بيا كه ولد وي كه نه وى او په ولد كي هيڅ تاوان نسته اوس كه زنا فى الحال سبب السبب جوړيږي كه څه هم نفس زنا بده ده مګر په دې اعتبار چي زنا سبب

السبب ده، قائمقامه دولد ده په دغه اعتبار په زنا كي قصور نسته ولي دا قائمقامه دولد ده دولد په اعتبار په زنا كي قصور نسته:

اوه نويم سبق

فصل فى حكم الامر والنهي في ضد ما نسبا اليه :

دعبارت ترجمه: فصل دي په حكم كي دامر او دنهي او حال دا چي دا حكم دامر او نهي په ضد دهغه مؤمور به منهي عنه كي دئ چي دواړه منسوبه دي وده ته يعني امر (حرِك) حركت ته متوجه سي په ضد (سكون) كي څه كوي نهي (لا تسكن) وسكون ته متوجه سي په ضد (حركت) كي څه كوي، **واختلف العلماء فى ذالک علماء** په دغه كي اختلاف كړي دي، **والمختار عندنا ان الامر بالشي يقتضي كراهة ضده،** مختار ه زموږ په نزد باندي دادئ چي امر بالشي تقاضا كوي دخپل ضد د كراهت **لا ان يكون موجبا له او دليلا عليه:** امر بالشي موجب نه دئ دخپل ضد دكراهت او نه پر كراهت باندي دلالت كوي **لانه ساكت عن غيره :** ځكه امر بالشي ساقط دئ دغير څخه يعني حرک دلا تسكن څخه خاموشه دئ ، **لكنه ثبت به حرمة الضد ضرورة حكم الامر :** خو په دغه امر باندي ثابتيږي حرمت دخپل ضد يعني كراهت تحريمي به په امر باندي ثابتيږي له دې وجي چي دا حكم دامير دئ **والثابت بهذالطريق يكون ثابتا بطريق الاقتضاء دون الدلالة :**

ثابت په دغه طريقه باندي دا ثابت دئ په طريقي داقتضاء نه په دلالت :

فصل فى حكم الامر والنهي فى ضد مانسبا اليه الخ:

تشريح: حَرِكْ ته حركت وكړه دحرک ضد سكون راځي يعني حركت مه كوه دحرک ضد سكون دئ دسكون نهي راځي لا تسكن، ما تاته وويل حرک ته حركت وكړه اوس دغه حرِک په خپل ضد كي چي سكون دئ څه كردار اداء كوي ما تاته وويل لا تسكن اوس ددغه لا تسكن په خپل ضد كي چي حرک دئ څه كردار اداء كوي، الله جل جلاله ما او تاته وايي دسهار په وخت كي مه ويديږه په ويښ يې مؤمور كړم اوس راسه دنوم(خوب) په يقضة (

ويښتيا) كي څه كردار دئ ديقضة (ويښتيا) په نوم (خوب) كي څه كردار دئ اختلاف دعلماء په دې كي نه دئ چي امر مفهوم څه دئ دنهي مفهوم څه دئ ولي دا مفهومين ښكاره سره ضد دئ دامر مفهوم دئ قول القائل لغيره افعل على سبيل الاستعلاء دنهي مفهوم دئ قول القائل لغيره لا تفعل على سبيل الاستعلاء اختلاف د امر او دنهي په تقاضا كي نه دئ ولي تقاضا ددوي ښكاره دي دامر تقاضا ده ايجاب دنهي تقاضا ده حرمت ما وويل حَرِّك اوس خبره په نفس شي كي يعني په حركت او عدم حركت كي خبره نه ده اختلاف دشي په ضد كي دئ چي حركت او سكون دئ نوم او يقضة ده اختلاف په دې كي دئ چي تا وويل حَرِّك ته حركت وكړه اوس دغه امر ماته وايي سكون وكړه كه ماته وايي سكون مه كوه نو په دې كي څلور پنځه مذاهبه دي اول قول وايي امر (حَرِّك) چي د حركت په ماده كي وسو نو امر پخپل ماده كي وجوب ثابت كړي د غه امر (حرِّك) پخپل ضد كي چي سكون دئ په دغه ضد كي يې حرمت ثابت كړي كه ته وايي امر څنګه وجوب او حرمت ثابتوي نو موږ وايو دا په دلالت مطابقي سره كه ته وايي څه معنى موږ وايو امر په يوه وار ه سره دوي معنا ګاني دځان سره را اخلي امر پخپل ماده كي وجوب غورځوي پخپل ضد كي حرمت غورځوی نهي (لا تسكن) پخپل ماده كي حرمت غورځوي پخپل ضد كي به وجوب وغورځوي يعني نهي هم په يوه وار باندي دوي معناګاني را اخلي پخپل ماده كی به حرمت وغورځوي په خپل ضد كی به وجوب وغورځوي دوهم قول وايي ا مر (حرِّك) پخپل ماده كي وجوب ثابتوي حرمت دده موجب دئ يعني امر پخپله ماده كي دلالة وجوب ثابتوي حرمت امر په بغل كي را اخلي نهي هم (لا تسكن) پخپله ماده كي حرمت ثابتوي وجوب نهي په بغل كي اخلی دريم قول وايي امر (حَرِّك) چي وسو دغه امر دسكون څخه ساقط دئ چي دسكون څخه ساقط دئ نو دغه امر (حرك) يوازي پخپل مدلول كي وجوب ثابتوي پخپل ضد كار نه لري نهي (لا تسكن) چي وسوي دغه نهي دحركت څخه ساقطي دي چي نهي دحركت څخه ساقطي سوي نو دغه نهي يوازي پخپل مدلول كي حرمت ثابتوي پخپل ضد كار نه لري څلورم قول وايي امر (حرِّك) وجوب غورځوي پخپله ماده كي دغه حرمت په نهي كي غورځوي مګر په دې شرط باندي چي په دنيا كي دده يو ضد وي مثال لكه دحركت يو ضد دئ هغه ضد سكون دئ كه دامر دمدلول يو ضد نه وو ډير اضداد يې درلودل بيا امر په نهي كي حرمت نه غورځوي

مثال ما تاته وويل قم ته ودريږه دقيام اضداد ډير دي دقيام اضداد قعود ، ركوع استجاع ، سجده، استناد ده :

دخبري خلاصه داده: كه يې ضد يو وو بيا امر په خپل مدلول كي وجوب غورځوی په نهي كي حرمت غور ځوي كه يې اضداد درلودل بيا يوازي په خپل ماده كي وجوب غورځوي دحسامي مصنف وايي امر پخپل مدلول كي وجوب ثابتوي پخپل ضد كي امر تحريم نه ثابتوي امر پخپل ضد كي كراهت تحريمي ثابتوي خلاصه داده ماتاته وويل حَرِّك اوس پر تا حركت ضروری دئ اوسكون درباندي مكروه تحريمي دئ اوس راسه امر (حَرِّكْ) پر وجوب باندي دلالت كوي پر كراهت باندي دلالت نه كوي ورته متضمن نه دئ دغه امر دكراهت تقاضا كوي دلته داقتضاء څخه اقتضاء النص نه دئ مراد هغه اقتضاء النص جعل غير المنطوق منطوقا لتصحيح المنطوق دلته داقتضاء څخه بله معنى مراد ده هغه دا چي امر دي وكړي دا داتقاضا كوي چي زما ضد دئ مكرو ه تحريمي سي دغه دمصنف په نزد باندي مختار ه دئ :

وفائدة هدالاصل ان التحريم لما لم يكن مقصودا بالامر :

دعبارت ترجمه: فائده ددغه اصل داده چي تحريم هر كله مقصود نه وو په امرباندي ، **لم يعتبر :** نو دغه تحريم معتبر نه دئ **الا من حيث انه يفوت الامر :** مګر تحريم معتبر دئ په دې حيث كه دغه ضد (سكون) مؤمور به (تحرک) فوت كولای : **فاذا لم يفوته كان مكروها:** كه چيري دغه ضد (سكون) تحرک (مؤمور به) يې نه فوت كولای نو بيا دغه ضد مكروهه دئ حرام نه دئ:

كالامر بالقيام ليس بنهي عن القعود قصدا :

لكه امر په قيامه باندي ودويم ركعت ته دا امر نهي نه دئ دقعود څخه قصدا : **حتى اذا قعد ثم قام لا تفسد صلوته:** فائده يي داده كه سړی كښيناستي بيا ولاړ سو نو دده لمونځ نه فاسديږي په ناستي سره، **ولكنه يكره :** مګر ناسته مكروه كيږي ولي تاخير دواجب راغلی

تشريح: مخته موږ يو قول وويلي هغه دا وو امر پخپل ماده کي وجوب ثابتوي حرمت دامر موجب دئ يعني ا مر متضمن دئ حرمت لره حرمت په بغل کي رااخلي پاته سو دلته امر دکراهت تحريمي تقضا کوي، دموجب او دتقاضا فرق سته هغه دا په موجب کي امر پخپله حرمت به بغل کي اخيستي په اقضتاء کي چي امر دخپل ضد دکراهت تحريمي تقضا کوي دا موږ واميرته وکتل چي دا دامير حکم دئ که ته سوال وکړي چي ددې قاعدې ګټه فائده څه ده جواب کله چي امر په يو شي باندي وسو نو دده وضد ته وګوره دغه هغه مؤمور به فوت کوي که يانه يې فوت کوي مثال امر په تحرک وسو اوس دده ضد چي سکون دئ دغه سکون تحرک فوت کوي که يانه يې فوت کوي که دغه ضد (سکون) تحرک فوت کوي نو بيا حَرام دئ که دغه ضد (سکون) تحرک نه فوت کوي نو بيا مکروه دئ :

دعبارت ترجمه: وعلى هذا القول پر دغه قاعده باندي **يحتمل ان يكون النهي مقتضيا في ضده اثبات سنة تكون فى القوة كالواجب:** دا احتمال سته چي نهي دئ تقاضا وکړي پخپل ضد کي دثابتولو دسنة داسي سنة چي دغه سنة په قوت کي داسي دئ لکه واجب:

وكذا قلنا ان المحرم لما نهي عن ليس المخيط : داغه خو وجه ده موږ وايو بيشکه احرام تړونکي څه وخت چي دى منعه سو دګنډلو جامو څخه **كان من السنة لبس الازار والرِّداء،** نو سو سنة مؤکده لبس دازار او درداء :

تشريح: نهي پخپل ماده کي حرمت ثابتوي په خپل ضد کي سنة مؤکده ثابتوي سنة مؤکده په قوت کي داسي دئ لکه واجب:

اجراء النهي

مثال	نهي	قبيح
لَا تَنَازَعُوْا (الانفال۴۶)	(لا تنازعوا)	قبيح لعينه

تشريح: نزاع (جګړه) کول قبيح لعينه ده

ولي ناهي حكيم ذات دئ حكيم ذات چي دكوم شی څخه منعه وكړه بس په هغه كي قبحه وي نهي دعدم النزاع څخه دانهي دافعال حسيه څخه دئ او نهي عن الافعال الحسيه دا قبيح لعينه دئ :

قبيح لعينه دبل حكم شرعي دپاره سبب نسي جوړيداى :

لا تنابذوا : (لا تنابذو) قبيح لغيره

تشريح: نبى عليه السلام فرمايي تاسو بيعه منابذه مه كوي دلته نهي عن الافعال الشرعيه راغلى نهي عن الافعال الشرعيه قبيح لغيره وي :

دلته منهي عنه قبيح لغيره مجاورةً دئ ولى سودا ا به وي نبذ به نوي :

ولا يسرقن ولايزنين ولايقتلن اولادهن (الممتحنه ۱۲) (لا يزنين) قبيح لعينه

تشريح: لايسرقن ولا يقتلن ولايزنين دادري سره قبيح لعينه دئ قبيح لعينه دبل حكم شرعي دپاره سبب نه سي جوړيداى كه ته وايي غلا دلاس دپرې كيدو دپاره سبب ده او تاوويل قبيح لعينه دبل حكم دپاره سبب نسي جوړيداى نو ته به ورته ووايي چي موږ ويلي وه سبب به مشروع وي حكم به مطلوب وي دلته نه سبب مشروع دئ نه حكم مطلوب دئ موږ چي لاس ورپري كوو هغه زجرا زنا قبيح لعينه ده قبيح لعينه دبل حكم دپاره سبب نسي جوړيداى كه ته وايي په زنا سره حرمت مصاهرة راځي نو ګوره زنا دبل حكم دپاره سبب سوه نو ته به ورته ووايي چي موږ ويلي وه سبب به مشروع وي حكم به مطلوب وي دلته نه زنا مشروع ده نه حرمت مصاهرة مطلوب ده :

بهتان به دزنا نه تړي كه ښځي بهتان دزنا تړي پر بلي ښځي باندي نو حد قذف وركول كيږي ګوره دبل حكم شرعي دپاره سبب جوړ سوي نو ته به ورته ووايي سبب مشروع نه دئ حكم مطلوب نه دئ ولا يقتلن اولادهن دلته هم سبب مشروع نه دئ حكم مطلوب نه دئ .

اته نویم نویم سبق

فصل فی بیان اسباب الشرائع:

دعبارت ترجمه: فصل دئ په بيان كي دا سباب الشرئع شرائع معنى احكام مشروعة مشروعه معني دخداي را استولي سوي احكام يعني دا فصل دا احكام مشروعه په اسبابو كي دئ **اعلم ان اصل الدين وفروعه مشروعة باسباب** ته پوه سه په دې چي عقائد او احكام دامشروع دي په اسبابو باندي يعني عقائد هم اسباب لري احكام هم اسباب لري كه ته سوال وكړي چي اسباب چا جوړ كړي دي مصنف دد‌ې جواب وركوي وايي جعلها الشرع اسبابا لها: شريعت ګرځولي دئ اسباب دعقائد واو داحكامو دپاره، **كالحج بالبيت والصوم بالشهر والصلوة باوقاتها:**

لكه دحج دوجوب دپاره كعبه سبب ده دسبب علامت اضافت دئ مثلا الله جل جلاله فرمايلي دي ﴿ولله على الناس حِجُّ البَيْتِ﴾ دروژې دوجوب دپاره درمضان مياشت سبب ده عرب وايي صوم رمضان دلمانځه دوجوب دپاره وخت سبب دئ عرب وايي صلوة الفجر، صلوة الظهر، صلوة العصر، صلوة المغرب، صلوة العشاء، **والعقوبات باسبابها:** دحدودو وجوب دپاره زنا سرقه دغه يې اسباب دئ مثال حد الزنا وحد السرقة يو سړي زنا وكړه نو حد به ور باندي جاري كيږي دحدودو وجوب دپاره زنا سبب دئ سړي غلا وكړه نو به يې لاس پرې كيږي دلاس دپرې كيدو دوجوب دپاره غلا سبب ده،

فصل فی بیان اسباب الشرائع الخ :

تشريح: الله جل جلاله احكام را اساتولي دي لمونځ وكړه، حج وكړه روژه ونيسه، جهاد وكړه، زكات وركړه الله جل جلاله چي دغه احكام مشروع كړي را ستولي دي الله جل جلاله ددې دپاره اسباب ټاكلي دي مثلا ددې حكم دغه سبب دئ ددې حكم دغه سبب دئ ددې حكم دغه سبب دئ دغه احكام پر دغه اسبابو تاويږي را تاويږي اوس راسه سبب چاته وايي سبب په لغت كي ذيته وايي هر هغه شي چي سړي ومقصود ته رسوي وديته په لغت كي سبب

وايي مثال زما مقصود دادئ چي زه اوبه دڅا څخه را وکاږم اوس دغه اوبو ته ما رسي رسوي ودغه رسي ته سبب وايي ولی دغه سړي ومقصود ته رسوي الله جل جلاله په قران كريم كي پر رسۍ دسبب اطلاق کړي ورسۍ ته الله جل جلاله سبب ويلي دئ الله جل جلاله فرمايي ﴿فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ إِلَى السَّمَاءِ﴾ واسمان ته رسي وغورځوه كه له اخوا ته معجزه راوړه بل مثال سړي دكوټي څخه چمن ته ځي چمن دسړي مقصود دئ دغه لاره سړي چمن ته رسوي ودغي لاري ته په لغت كي سبب وايي په شريعت كي سبب هغه وصف ته وايي چي سړي ومقصود ته رسوي مفضي الى الحكم وي اوس راسه دايو حكم دئ دده حكم دپاره الله دغه سبب ټاكلى دئ سبب بالذات موجب نه دئ بالذات موجب الله جل جلاله دي دالله جل جلاله رسول دئ يعني موجب دحكم الله جل جلاله او دالله جل جلاله رسول دي سبب يوم وسيله ده دجمهور اهل السنة والجماعة مذهب دادئ تمام احكام شرعيه په اسبابو باندي تړلي دئ بل مذهب دادئ موجب دحكم الله جل جلاله دي دالله جل جلاله رسول دي سبب په حكم كي هيڅ دخل نه لري ددوي دليل دادئ دوي وايي سبب به وي حكم به نه وي دا چي سبب وي وي حكم نه وي نو دا علامت ددې دئ چي سبب او حكم يو دبله انفكاك قبلوي چي انفاك قبلوي نو دا كاريگر نه دئ مثال څه وخت چي دالله جل جلاله حكم دلمانځه نه وو زاغلى دا پنځه وختونه موجودوه حكم نه وو لمونځ نه وو همدارنگه حربي نوي مسلم دغه نوي مسلمان پر ده احكام نسته چي تر څو دى په احكامو نه وي پوه سوي گوره دلته اسباب سته احكام نسته پر دغه نوي مسلمان باندي لهذ دا څنگه اسباب دي چي بعضي ځايونه كاركولى بعضي ځايونه كار نه كوي دحسامي مصنف يو عبارت وويلي جواب يې وركړي هغه عبارت دادي جَعلها الشرع اسباب لها : شريعت را ولاړ سو اسباب يې وټاكل دعقائدو او داحكامو دپاره اوس كه ته وايي سببونه وه دخداي جل جلاله حكمونه نه وه موږ وايو تر دغه وخت پوري سببونه نه وه چي خداى جل جلاله سبب كړي هغه سبب دي يعني چي شارع سبب وگرځوي اوس انفكاك نه قبلوي كه ته وايي په حربی نوي مسلم كي انفكاك سته موږ وايو قطعا انفكاك نسته ولي چي اسباب وه پر ده حكم فرض دئ صرف حكم في الحال چوټي دئ ولی حرج راځي دده احكام نه دئ زده تكليف بما لا يطاق راځي ولي دي په احكامو نه دئ پوه چي څنگه لمونځ زده كړي بس سبب ورته ولاړ دئ :

والكفارة التي هي دائرة بين العبادة والعقوبة بما تضاف اليه من سبب متردد بين الحضر والاباحة،

دعبارت ترجمه: لکه کفاره هغه کفاره چي دغه کفاره دائره ده په مابين کي دعبادت او دعقوبت او حال دا چي کفاره متعلقه ده په هغه سبب متردد بين الحظر والاباحة پوري چي کفاره ورته مضاف ده ودغه سبب متردد ته

والكفارة التي هي الخ :

تشريح: کفاره دوه رنګه لري قانون دادئ چي حکم شرعي دوه رنګه ولري نو سبب شرعي به هم دوه رنګه لري، هغه دا کفاره من وجه عبادت دئ من وجه عقوبت دي سړي قسم وکړي بيا حانث سو اوس به دغه سړي درې روژي نيسي يا به پيسي ورکوي يا به غلام ازادوي دادري سره عبادات دي په بله وجه سزا ده هغه دا که دغه سړي قسم نوي کړي بيا به روژي نيول نه واى پيسي ورکول به نه واى غلام ازادول به نه واى يعني کفاره سزا ده دفعل ممنوع ، کفارة القتل دلته دکفاري ورکولو سبب قتل دي دغه سبب به هم دوه رنګه لري دوه اړخه لري په يوه وجه په يوه اړخ به ناروا وي په بل اړخ به رواوي په کفاره کي چي عبادت دي په سبب کي چي اباحت دي دغه عبادت او اباحت دا دوه به سره ونيسي په کفاره کي چي سزا ده په سبب کي چي حضر (منع) دئ دغه سزا او حضر دا دوه به سره ونيسي لهذا په کفاره (حکم) کي دوه جهته دي په سبب کي هم دوه جهته دي :

قتل دکفاري دپاره سبب دئ په دغه سبب کي دوه جهته دي يو جهت حظر (منع) بل جهت اباحت (روا) مثال زه په ټوپک ښکار کوم ښکار ماته روا مګر په ټوپک بل مسلمان ويشتل احتياط نه کول دا منعه دي ګوره په قتل کي دوه جهته راغله يو جهت ښکار کول دارو ادي بل جهت نه احتياط کول دا منعه دي بل مثال لکه ښکار په احرام کي دا دوه جهته لري يو جهت دادئ ښکار مباح دئ په اعتبار داصل بل جهت ښکار کول حرام دي په اعتبار دا حرام :

دعبارت ترجمه والمعاملات بتعلق البقاء المقدر و بتعاطيها :

لکه معاملات په تعلق سره :

والمعاملات بتعلق البقاء المقدور بتعاطيها :

تشريح: معاملات مسبب دي سبب يې لبقاء ده بقاء پر دوه قسمه ده ۱- بقاء جنسي ۲- بقاء فردي دانسان نسل چي باقي پاته سي ددې دپاره معامله نکاح ده نکاح دي وکړي چي انسانيت باقي پاته سي بقاء دنسل انساني داسبب ده دنکاح دايي يوه معامله انسان چي واده وکړي بيا يې زوي پيدا سي په دغه زوي بچي کي بقاء فردي ده اوس به دغه انسان د غه بچي ژغوري په دراکم باندي چي دغه انسان به کار کوي خواري به کاږي سودا به کوي ددې دپاره چي پيسي وګټي بيا هغه بچي په وژغوري دانسانيت دبقاء دپاره نکاح سوه :

دبچي دژغورولو بچولو دپاره سودا کاربار سو دغه بيعه سودا خريد فروخت دايو حکم شرعي دئ بقاء دفر د انساني دايي سبب دئ نکاح دايو معامله ده حکم شرعي د ئ ددې دپاره سبب بقاء دنسل انساني ده که نکاح ده که بيعه خريد فروخت دئ دا دوړه معاملات دي:

دعبارت ترجمه: والايمان بالايات الدالة على حدوث العالم: وجوب دايمان په الله تعالى باندي دده پر صفاتو باندي دا متعلق دئ په اياتو باندي داسي ايات علامات چي هغه دال دئ پر حدوث دعالم :

والايمان الخ

تشريح الله جل جلاله سته موجود دي دايې يو الله جل جلاله يو دي شريک نه لري دايي دوه الله جل جلاله سته دايو حکم شرعي دي دوهم حکم شرعي الله جل جلاله يو دئ شريک نه لري ګوره دا اصول دي فروع نه دي وتمام کائنات ته چي وګوري امکان پکښي معلوميږي کوم دلائل چي پر امکان دعالم دلالت کوي دغه دلائل سبب دي دايمان دپاره اوس راسه زيد ممکن دي ممتنع نه دي ولي ممتنع ديته وايي چي دوجود ځخه يې محال

پيښبږي زيد واجب نه دئ ولي واجب ديته وايي چي دعدم څخه يې محال پيښبږي لهذا زيد ممکن دئ :

ممکن ديته وايي چي وجود او عدم يې على السويه وي وجود ته پر عدم ترجيح ورکول دايو مرجح غواړي نن زيد موجود دي چي موجود دي نو يو مرجح سته هغه مرجح نه دي مگر صرف الله دئ الله جل جلاله واجب دي وجود دالله ذاتي دي دده ووجود ته چا ترجيح پر عدم نه ده وکړي گوره دا ثابته سوه چي الله جل جلاله سته د دې دپاره دليل چي الله جل جلاله يو دي شريک نه لري:

دليل يې دادئ په ټولو کائناتو کي چي هر ممکن ته وگوري نو هغه ممکن وايي الله جل جلاله يو دئ شريک نه لري:

قاعده: هر معلول دخپل علت عکس وي الله جل جلاله علت دئ مخلوق يې معلول دئ قانون ددئ علت په معلول کي ښکاره کيږي او هر معلول په خپل ځان کي يو دي نو علت يې هم يو دئ که علت دوه يا دري واي:

نو به معلول هم دوه درې واي ولي چي علت مکرر سي نو معلول هم مکرر کيږي مگر خو علت يو دې نو معلول هم يو دئ مثال زيد معلول دئ الله جل جلاله علت دئ معلول (زيد) په خپل ځان کي يو دي نو علت (الله) هم يو دئ لهذا هر شي ته چي وگوري هغه دتوحيد ناري وهي وايي الله جل جلاله يو دئ :

گوره دا ثابته سوه چي الله جل جلاله سته او الله جل جلاله يو شريک نه لري :

دعبارت ترجمه: **وانما الامرلا لزام اداء ما وجب علينا بسببه السابق:** بيشکه خبره همداسي ده امر پر سړي لازموم هغه اداء چي واجب سوي د ه پر موږ باندي په سبب سابق باندي بسبب سابق دا معني چي څنگه وخت داخل سو بس امر په موږ باندي د دغه نفس وجوب اداء لازموي ، کالبيع يجب به الثمن ثم يطالب الاداء : لکه په بيعه باندي يو وار ثمن واجب سي بيا ورته وايي هغه ثمن راکړه :

وانما الامر :

تشريح: که ته سوال وکړي چي ټول کاريګر سبب دئ امر به چوټي وي :

په صلوة الظهر کي داوخت سبب دئ دلمانځه دپاره دغه سبب وايي لمونځ وکړه په **اقيموا الصلوة** امر هسي ولاړي جواب يو وجوب دئ بل وجوب الاداء نفس دئ وجوب سبب راولي وجوب اداء امر راولي:

لهذا سبب چي وخت دئ دا ايي لمونځ درباندي فرض سو امر (اقيمو الصلوة) وايي ولاړ سه لمونځ اداء کړه :

نه نويم سبق

دعبارت ترجمه: **ودلالة هذاالاصل اجماعهم على وجوب الصلوة على النائم والمجنون والمغمى عليه اذالم يزد الجنون والاغماء على يوم وليلة** : دليل دغه قاعدې اجماع ده زموږ دفهاء پر وجوب دلمانځه چي لمونځ واجب دئ پر نائم ليوني، بي هوښه باندي هغه وخت که ليونتوب اوبې هوښی زياته نه وه پر يوه ورځ او شپه باندي

ودلالة هذاالاصل اجماعهم على وجوب الصلوة الخ

تشريح : سبب په وجوب کي دخل لري ددې دپاره به مثال پيش سي داسي نه ده چي سبب چوټي دي بلکي سبب په وجوب کي دخل لري مثال يو سړي ويده سو يو سړي ليوني سو پر سړي باندي بې هوښي راغله ليوني بې اوښی دابه تر يوې ورځي او شپي کمه وي اوس راسه ويده ته ليوني ته بې هوښه ته امر نه متوجه کيږي ځکه امر مخاطبه ده دادري سره دخطاب اهل نه دي مثال اقيموا الصلوة: تاسو ولاړ سي ولمانځه ته دغه امر (اقيموا) :

ودوي (نائم ، مجنون اغماء) ته څنګه متوجه سي ددوي عقل کار نه کوي دوي دخطاب اهل نه دي چي دخطاب اهل نه دي نو دصيغي اهل نه دي مګر صيغه نسته خطاب نسته امر نسته خو بيا هم پر دوي (نائم مجنون ، اغماء) باندي ددغه يوې ورځي او شپي لمونځ فرض

دئ نو ددي دا معلومه سوه چي سبب په وجوب كي دخل لري مثال زه بې هو بنه سوم ماته امر (اقيموا)) متوجه نه سو مكر خو پر ما باندي دما سپښين وخت تير سو چي دما سپښين وخت تير سو پر مابندي لمونځ فرض سو سره ددې چي مخاطبه نسته چي مخاطبه نسته بيا هم پر ماباندي دماسپښين لمونځ فرض سو نو دا ددې دليل دئ چي سبب په وجوب كي دخل لري :

دعبارت ترجمه : **وانما يعرف السبب بنسبة الحكم اليه وتعلقه** : بيشكه خبره داسي ده سبب پيژندل كيږي په اضافت سره دحكم وسبب ته او په تعلق سره دحكم دسبب سره **لا الاصل فى اضافة الشئ الى الشئ ان يكون سبب له** : ځكه قاعده په اضافت دشى كي چي يو شي وبل شي ته مضاف سي داشي به دهغه شي دپاره سبب وي، **وكذا اذا لازمه** : داغه ركم يې لازموي دده به لزوم دهغه لزوم راتلئ : **فتكرر بتكرره** دي مكرر كيدى دهغه په تكرار سره

، وانما يعرف السبب بنسبة الحكم اليه الخ :

تشريح : اوس به مصنف دسبب علامه بيان كړي دسبب علامه داده كه دحكم نسبت وسبب ته كيدى او حكم تعلق ورسره نيولي بس داسبب دئ دماسپښين لمونځ دما سپښين د وخت سره تعلق لري او ورته مضاف كيږي دغه ورته مضاف كيدل دهغه (حكم) راتلل دده (سبب) لازميدل دهغه (حكم) مكرر كيدل دده (سبب) مكرر كيدل دا ټول دسبب علامات دي :

دل انه يضاف اليه :

نو دا دلالت كوي چي دغه حكم به وده ته مضاف وي، **وانما يضاف الى الشرط مجاز الخ** دغه عبارت دسوال مقدر جواب دئ موږ وويل اضافت دسببيت علامه ده اوس سوال دادئ تاسو وويل اضافت علامه دسبب ده اوس راسه دا حكم دئ دا حكم كله شرط ته مضاف وي كله سبب ته مضاف وي تاسو وويل اضافت علامت دئ دسبب او حال دا دا شرط ته هم مضاف كيږي مثال سر سايه په دوو عباراتو ويل سوي ١- صدقة الفطر ٢- صدقة الراس گوره رأس

سبب دئ فطر شرط دئ تاسو وويل اضافت علامت دئ دسبب او دلته شرط مضاف سوي مصنف جواب ورکړ وانما يضاف الى الشرط مجازا : اضافت وشرط ته دا مجاز دئ حقيقت نه دئ حقيقت هغه دئ چي مضاف به وي وسبب ته اوس راسه اضافت وشرط ته څنګه مجاز دئ سبب چي څومره په حکم کي دخل لري شرط هم دومره په حکم کي دخل لري نو مشابهت راغلی ددغه مشابهت پر بنياد حکم وشرط مضاف سي مثال دما سپښين وخت چي څومره په لمانځه کي دخل لري اودس هم په لمانځه کي دومره دخل لري ددغه دخل دوجي مشابهت راغلی ددغه مشابهت دوجي حکم وشرط مضاف سي

دعبارت ترجمه: **وفی صدقة الفطر** په صدقة الفطر کي **انما جعلنا الرأس سبب والفطر شرطا مع وجود الاضافة اليهما** : جزی نيست موږ سر سبب ګرځوو او فطر شرط ګرځوو سره ددې چي اضافت ودواړو ته موجود دئ **لا ن وصف المؤنة يرجح الرأس فی کونه سبب** ځکه وصف دمونت ترجيح ورکوي په سبب جوړيدو کي :

تشريح: صدقة الفطر صدقة الشرط دواړو ته يې اضافت کيږي سوال دادئ څه وجه ده چي فطر شرط جوړوي راس سبب جوړوي دواړه برابر دي فطر هم په صدقه کي دخل لري رأس هم په صدقه کي دخل لري قانون دادئ څه وخت چي دوه شيان ويوه شئ ته برابر سي بيا به وجه دترجيح پيدا کوي اوس موږ ورأس ته پر فطر ترجيح ورکو و بيا رأس سبب جوړوو ترجيح مُرَجِّح غواړي مرجح څوک دئ :

مرجح به تهول وخت وصف وي دغه وصف به راولاړ يږي ويو ه ته به ترجيح ورکوي اوس راسه رأس سبب دئ فطر شرط دئ وراس ته پر فطر ترجيح ورکول سوي مرجح درأس وصف دئ هغه وصف مؤنة دئ دمؤنة ترجمه دپالنی بار عمرو دزيد زوي دئ زيد عمرو پالي دپلاني باريې دزيد پر غاړه دئ دمونة دوجي ورأس ته پر فطر ترجيح ورکول سوه رأس سبب سو فطر شرط سو که ته وايي دغه وصف دمؤنة تاله کومه کړ موږ وايو دغه وصف دمونة موږ دحديث شريف څخه را واخيستي نبی عليه السلام فرمايي اَدّوا صدقة الفطر عمن تمونونه ، تاسي ادا کړي سر سايه دهغه تمام انسانانو څخه چي تا سو مؤنت پر غاړه اخيستي وي يعني د پالني بار يعني هلک چي کوچنی وی بلوغ ته نه وي رسيدلي ددغه

کوچني روزي پر پلار ده دغلام ده پر پلار ده دميني ده پر پلار ده دلور ده پر پلار د ه ددغه پالنه پر پلار ده لهذا دغي پالني موږ ته وويل سر سبب جوړ کړه ولي داختر ورځ پالنه نه غواړي سر پالنه غواړي :

دعبارت ترجمه: **وتكرر الوجوب بتكرار الفطر بمنزلة تكرر وجوب الزكوة بتكرر الحول:** مکرر والی دوجوب په تکرر دفطر سره دادئ په منزله دتکرر دوجوب الزكاة لکه وجوب دزکات چي مکرر دئ په تکرر دحول سره **لان الوصف الذي لاجله كان الرأس سببا وهو المونة يتجدد بتجدد الزمان :** ځکه هغه وصف چي ددغه وصف د وجي راس سبب دئ چي هغه وصف مؤنت دئ دغه وصف متجدد کیږي په تجدد دزمان سره كما ان النماء الذي لاجله كان المال سببا لوجوب الزكوة **يتجدد بتجدد الحول** لکه هغه نماء چي دده دوجي مال سبب دئ دپاره دوجوب الزكواة دغه نماء متجدد کيږي په تجدد دحول سره ، **فيصير السبب بتجدد الوصف بمنزلة التجدد بنفسه :**

سبب دوصف په تجد د سره ګرځي په منزله دمتجدد بنفسه يعني لکه خپله چي مکرر کيږيَ :

وعلى هذا تكرر العشر والخارج مع اتحاد السبب وهو الارض النامية فى العشر حقيقة بالخارج

بناء پردغه باندي عشر او خراج مکرر کيږي سره داتحاده دسبب چي هغه سبب ځمکه ده داسي ځمکه چي نماء کوونکي وی وصف دنماء بدليږي نو ګويا کي ځمکه بدليږي نو ګويا کي عشر ور سره بدليږي :

فى العشر حقيقة بالخارج وفى الخرارج حكما بالتمكن من الزراعة : داسي ځمکه چي نماء کونکي به وي په عشر کي از روئي حقيقت په سبب دخارج سره او په خراج کي به ځمکه نماء کونکي وي حکما صرف دزراعت قابله به وي :

تشريح: موږ ويلي وو دسبب په تکرار سره دمسبب تکرار راځی دا علامت دسبب وو :

اوس سوال دادئ په فطر کي دسبب علامت سته په سرکي دسبب علامت نسته ولي هلک چي ديو ه کال وي نو سر سايه به ورکوي که هلک ددوو کالو وو بيابه صدقه ورکوی چي اختر راځی صدقة راځی چي اختر راځي صدقة راځي نو ګوره په فطر کی دسبب علامت سته پاته سو سر، سر هغه يو سر دئ دهلک سر په يوه کال په دوو کلو کي په هر وخت کی سر هغه يوسر دئ نو دسبب علامت نسته لهذا په سرکي تکرار نسته په فطر کي تکرارسته نودسببيت علامت په سر کي نسته جواب: موږ وايو په رأس کي تکرار سته که يو کال پر هلک تير سو يو سر يې دئ که دوه کلونه پر تير سو دوه سرونه يې دي چي هر څومره کلونه پر تيريږي هغو مره سرونه يې دي ولی په حقيقت کي دسر تکرار دمونت دتکرار سره کارلري چي مونت تکراريږی سر هم تکراريږي ولی کوچنی چي ديوه کال سي يو رکم مونت يې وي چي ددوو کلونو سي بل رکم مونت يې وي چي ددرو سي بل رکم مونت يې دئ چي دڅلورو کلونو سي بل رکم مونت يې دئ ولي کوچني چي ديو ه کال وي خولی نه غواړي صدری نه غواړي لږ خرڅ غواړي يعني کو چني چي ديو ه کال وي يو رکم خر چه کوي چي ددو سي بل رکم خرچه کوي چي ددروسي بل رکم خرچه کوي چي دلسو کلوسي بل رکم خرچه کوي چي ځوان سي بيا بل رکم خرچه کوي دغه خر چه هر کال دده سربد لوي نو ګور ه په حقيقت کي يو سر نه دئ په ظاهره يو دئ په حقيقت کي تکرار سته لهذا د سر په تکرار سره دصدقي تکرار راځي دفطر دوجي دصدقي تکرار نه راځي فطر اوس هم شرط دئ که ته وايي داخبره دي دځانه جوړه کړه خطا دئ کړم موږ وايو داخبره يقني ده خطا يستل نسته بل مثال به درکړو دزيد سره څلور لکه کالداري دي په دوه زره يو (۲۰۰۱) کي چي کال پر تير سو شريعت راته ودريدی ويل يې راکړه زکات زيد زکات ورکړ په دوه زره دوه (۲۰۰۲) کي دزيد سره هغه نصاب دئ بل نسته چي کال پر تير سو شريعت وايي راکړه زکات زيد زکات ورکړي په دوه زره دري (۲۰۰۳) کي يې بيا زکات ورکړ، په دوه زره څلور (۲۰۰۴) کي يې بيا زکات ورکړ دلته حولان (کال) شرط دئ نصاب سبب دئ دا ته هم مني دلته سبب يو دئ بيا زکات ولی هر کال ورڅخه اخلي وايي دلته سبب (نصاب يو نه دئ ولي نصاب ته وصف نماء متوجه ده نماء وايي غټيدلو او وده کولو ته :

په دوه زره (۲۰۰۳) کي ده هغه نصاب په کار واچولي چي کال پر تیر سو ویل یې راکړه زکات که ته وایې نصاب هغه نصاب دی نه دئ ډیري سوي مور وایو نماء عامه ده که حقیقة وي که حکماوي ده پیسي ولی ایښوولي دغه پیسي به ده په کار اچولي واي ګټه به یې کړي واي لهذا دوصف نماء دوجي سبب مکرر کیږي که څه هم سبب یو دئ دلته دوصف مونت دوجي سبب (راس) مکرر کیږي :

سلم سبق

فصل فی العزیمة والرخصة

دعبارت ترجمه: دا فصل په عزیمت او رخصت کي دئ وهي فی احکام الشرع اسم لمال هو اصل منها غیر متعلق بالعوارض دغه عزیمت په احکامو کي دشرعي نوم دئ دهغه حکم چي هغه حکم به اصل وي دا حکامو څخه دشرعي تر عوارضو پوري به متعلق نه وی یعني پر عذر باندي به مبني نه وي :

فصل فی العزیمة والرخصة الخ :

تشریح: عزیمت دعزم څخه دئ عزم پخي ارادي ته وایي الله جل فرمایي ﴿وَلَمْ نَجِدْ لَهُ عَزْمًا﴾ مور ادم علیه السلام لره پید ا نه کړه پخه اراده دا دعزیمت لغوي معنا ده رخصت په عربی کي یسر (اسانتیا) ته وایي دا درخصت لغوي معنا ده، دعزیمت اصطلاحي معنی عزیمت دشرعي هغه حکم ته وایي چي اصل وي پر عذر مبني نه وي درخصت اصطلاحي معني رخصت دشرعي هغه حکم ته وایي چي پر عذر مبني وي اصل نه وي مثال دروژي په میاشت کي روژه نیول دا اصل ده عذر نه دئ دروژي په میاشت کي سړي مسافر دئ روژه خوړلاي سي روژه خوړل داپر عذر مبني دئ اصل نه دئ روژه نیول روژه خوړل دا دواړه دشریعت حکمونه دي خو یو (دروژه نیول) اصل دئ هغه بل (روژه خوړل) پر عذر مبني دئ دغه پر عذر چي مبني نه دئ دا عزیمت دئ دا چي پر عذر مبني دئ دا رختصت دئ :

پر اصلٌ باندي يو سوال او دهغه جواب داصل څه ترجمه ده داصل ترجمه مقصود بالذات مقصود بالذات څه معنی مقصود بالذات دا معني مقصود بالغير به نه وي:

معترض وايي زه به يې مثال درکړم وايي لمونځ مقصود بالذات دئ اودس مقصود بالغير دئ دجمعي لمونځ مقصو د بالذات دئ سعي (منډه وهل) الی الجمعة مقصو د بالغير ده اوس سوال دادئ چي تا داصل ترجمه په مقصود بالذات باندي وکړه نوستا تعريف جامع نه سو وخپلو افرادو ته ولي اودس اوسعي الی الجمعة ووتل ولی دا دواړه مقصود بالذات نه دئ دا دواړه مقصود بالغير دي او حال دا که اودس دي هم عزيمت دئ که سعي الی الجمعة ده دا هم عزيمت دئ:

جواب: دلته داصل ترجمه مقصود بالذات نه ده دلته داصل ترجمه داده چي ابتداءً به مشروع وي مثال ﴿فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ﴾ په تاسو کي چي کوم چا درمضان دمياشتي ګواهي ورکړه نو روژه دي ونيسي دا ابتداءً مشروع دئ﴿ فَمَنْ کَانَ مِنْکُمْ مَرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ اَيَّامٍ اُخَر﴾ دا ابتداءً مشروع نه دئ، والرخصة اسم لم بني علی اعذار العباد: رخصت نوم دئ دهغه چي ولاړ وي مبنی وي پر عذر باندي دبندګانو:

فائده: عزيمت تر رخصت زورور دئ:

والعزيمة اقسام اربعة فرض وواجب وسنة ونفل: عزيمت څلور قسمه دي ١- فرض ٢- واجب ٣- سنت ۴- نفل:

وجه دحصر په څلورو اقسامو کي څه ده وجه دحصر يې داده که يې منکر کافر وو دافرض دئ که يې منکر کافر نه وو بيا ورته ګورو که يې تارک (پريښونکي) فاسق وو نو داوجب دئ که يې تارک (پريښونکي) فاسق نه وو بيا ورته ګورو تاريک (پريښونکي) يې ملامت کيږي که نه که يې تارک (پريښونکي) ملامت کيدی نو دا سنت دئ:
که نه ملامت کيدی نو دا نفل دئ اوس سوال دادئ مصنفه تا دعزيمت څلور اقسام بيان کړل دري نورو اقسام تا بيان نه کړه هغه دري اقسام دادي ١- حرام ٢- مکروه ٣- مباح او حال

دا نو او مصنفینو دغه اووه اقسام بیان کړي دي جواب: مصنف د غه دري اقسام ځکه بیان نه کړه چې دغه اقسم په فرض واجب نفل کي داخل دئ حرام په فرض کي داخل دئ ولي ددوارو منکر کافر دئ الله جل جلاله فرمایي ﴿وَلَا تَقْرَبُوْا الزِّنَا﴾ تاسو به زنا ته نژدې نه ورځي اوس زنا حرامه نه بلل دا کافر دئ مکروه تحریمي داخله ده په واجب کي ولي دواجب تارک فاسق دئ دمکروه تحریمي کوونکي فاسق دئ مباح په نفل کي داخل دئ ولي دنفلو پر تارک او کولو ملامتیا نسته مباح هم داسي دئ: فالفرض ما ثبت الخ فرض په عربي کي وایي ۱- اندازه کول ۲- پریکول ۳- نازلول ﴿ان الله فرض علیک القران﴾ الله جل جلاله پر تاباندي قران نازل کړي دئ دلته فرض په معنی دنازلیدو سره دئ:

﴿قَدْ عَلِمْنَا مَافَرَضْنَا﴾: دلته فرض په معنی دتقدیر سره دئ یعني ما قَدَّرْنَا كِتَابًا مَفْرُوْضًا دلته فرض په معنی دمقطوع دئ فرض په اصطلاح کي دیته وایي **ماثبت وجوبه بدلیل لا شبهة فیه**:

وجوب دده به ثابت وي په دلیل باندي داسي دلیل چي په ده کي به شبهه نه وي اوس راسه دا یو شي دئ داشي په خبرواحد باندي ثابت سو خبر واحد ترما او تا پوري را رسیدل دا یو داسي دلیل دئ چي شبهه یې په اتصال کي سته دنبی علیه السلام څخه چي تر موږ پوري را رسیدلي شبهه پکښي ده په دې وجه باندي فرض نه په ثابتیږی:

چي فرض په ثابتیږي هغه دري دلائل دئ ۱- کتاب الله ۲- حدیث متواتر ۳- اجماع دغه دري سره دلائل قطعیه دي په دې باندي فرض ثابتیږي منکر یې کافر دئ:

که په قران یو شي فرض سو نو دا ددې دلیل دئ چي شبهه پکښي نسته منکر یې کافر دئ ټول قران مجید نه منل او دقران مجید یوه ټوټه نه منل فرق نه کوي دغه نه منل پر دوه قسمه دئ عقیدة نه منل قران دا کافر دي عقدة منل عملا نه منل داسړي کفر ته نه رسوي کفر داعتقاد سره کار لري **وحکمه اللزوم علما وتصدیقا بالقلب وعملا بالبدن**:

حکم د فرضو لزوم دئ علم وربانديرا وستل ضروري دئ دزړه له کومي منل ضروري دي عمل ور باندي کول ضروري دي علم او تصديق بالقلب دا د واړه به وي ولی د يهوداو نصارای سل په سل کي يقين وو چي قران مجيد حق دئ مگر خو دوي په زړه باندي نه منلي ،

حتى يكفر جاحده ويفسق تاركه بلا عذر :

فائده يې داده منکر دده کافر کيږي تارک دده بلا عذر فاسق کيږی يو سړي دي سخت مريض دئ لمونځ په يو ه طريقه نسي کولای اوس دغه سړي (مريض) چي دلمانځه تارک دئ ودغه سړي ته فاسق نه ويل کيږي ولی عذر سته:

والوجوب ماثبت وجوبه بدليل فيه شبهة : واجب هغه دئ چي وجوب دده ثابت وي په داسي دليل باندي چي په هغه کي شبهه وي هغه دليل چي وجوب په ثابتيږی او په ده کي شبهه وي مثال لکه خص عنه البعض ولی خص عنه البعض ظني دئ بل لکه مجمل ، مؤول قياس داټول ظني دي په دې باندي فرض نه ثابتيږي وجوب په ثابتيږي يو مثال الله جل جلاله فرمايي:

﴿وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ﴾ قرءَ امام شافعي رحمه الله په طهر مؤول کړي دا ظني دي موږ په حيض باندي مؤول کړي دا هم ظنی دئ ولي په دې دليل کي شبهه سته د سر مسحه موږ وايو څلورمه ده امام مالک او امام احمد بن حنبل وايي د سر مسحه ټول سر امام شافعي رحمه الله وايي دري ويښتان دا ﴿وَامْسَحُوْا بِرَءُوْسِكُمْ﴾ دټولو استدلال دئ مگر دا مجمل دئ هريو چي دخپلي مدعا دپاره دليل نيسي ظني دئ:

وحكمه اللزوم عملا بالبدن لا علما على اليقين حکم دده لزوم دي از روئي عمل يعني عمل کول ورباندي لازم دئ علم يقيني نه دئ لازم :

اوس مصنف تفريع کوي **حتى لا يكفر جاحده ويفسق تاركه :**

فائده: يې داده منکر دده نه دئ کافر تارک دده فاسق دئ، **اذا استخف باخبار الاحاد** هغه وخت که خبر واحد ده کمزوري بللی **واما متاولا فلا :**

اوکه ده تاویل پکښې کوي پر دارکم باندي چي داضعیف دئ یا غریب دئ نو بیا فاسق نه دئ که یو مذهب یو شي په خبر واحد ثابت کړي اوس که بل مذهب والا ووايي خبر واحد زه نه منم سپک والی یې وکړي بیا خبره خطرناکه ده که ده داسي وویل چي زه په دې خبر واحد کي تاویل کوم بیافاسق نه دئ:

والسنة الطريقة المسلوكة فی الدين:

سنت دا یو طریقه ده داسي طریقه چي چلول سوي ده په دین کي مثال لمونځ کول دنبی علیه السلام پر طریقه باندي وحكمها ان يطالب المرء باقامتها من غير افتراض ولاوجوب دسنت حکم دادئ چي سړي به مطالبه کوي په قائمیدو دسنتو غیر دافتراض او دوجوب څخه لانها طريقة أمرنا باحيائها: ځکه دا یو طریقه ده چي موږ امر کړل سوي یو په ژوندي کي دو ددغي طریقي فنستحق اللائمة بتركها: موږ متستحق یو چي خلک موږ ملامت کړي په پرېښولو ددغه طریقي والسنة نوعان:

یوسل او یو سبق

تشريح: سنة مطلقه پردوه قسمه دئ ۱- سنة الهدي ۲- سنة الزوائد سنة الهدي دیته وايي وتاركها يستوجب اساءة وكراهة چي پر پرېښونکي ددغه سنت دا مستحق دئ دملامتیا دیوالي، والزوائد وتاركها لا يستوجب الاساءة وكراهة: سنة زوائد دیته وايي چي پر پرېښونکي ددغه سنت دا مستحق نه دئ دبدوالي مثال لکه لنګوټه تړل لنګوټه تړل سنة زوائد دئ ګول کالی جوړول سنت زوائد دي تقي عثمان یو اصل لیکلي دئ وايي یو پلار او استاذ سړي پر لنګوټه تنبیه کولای سي چي لنګوټه ولي نه تړي دغه دواړه سړي ته ویلي سي چي لنګوټه ولي نه تړي بل څوک سړي ته نسي ویلای، كسير النبي عليه السلام فی قيامه وقعوده ولباسه: لکه دنبی علیه السلام خویونه خصلوته په ولاړه کي په ناسته کي په لباس کي دا ټول سنة زوائد دي، وعلى هذا تخرج الالفاظ المذكورة فی باب الاذان من قوله يكره او قد اساء اولا باس به: امام محمد رحمه الله په مبسوط کي یو څو الفاظ ذکر کړي دي که

يې داسي لفظ ويلي وو ويكره ددې دا معني چي سنة الهدى يې پري ايښي كه يې داسي لفظ ويلي وو قد اساء ددې دا معني سنة الهدي يې پري ايښي كه يې داسي لفظ ويلي وو :

ولابأس به ددې دا معنى معنى سنة الزوائد يې پر ايښي كه چيري امام محمد داسي ويلي وه يكره الاذان قاعدا ويكره تكرار الاذان في مسجد محلة وان صلى اهل مصر بجماعة بغير اذان و اقامة فقد اساؤا ولا بأس بان يؤذن رجل يقيم اخر نو اول دوه (يكره قد اساء) دئ من حكم سنة الهدي دريم (ولا بأس به) دي من حكم سنة الزوائد (الحاشية الثانية للحسامي)

وحيث قيل يعيد فذالک من حكم الوجوب: كه يې هر ځاى داسي وويل بيرته به يې را ګرځول دغه اعاده ده من حكم الوجوب:

اذان سنت دئ كه سړي اذان وكړي مخته تر وخت بيرته به اذان راګرځوي په خپل وخت كي اوس كه ته سوال وكړي چي يو شي پخپل ځان كي سنت وي بيا څنګه واجب كيږي جواب موږ وايو ته دوه ركعته نفل كوي په دغه نفلو كي قيامه څه شي ده وايي فرض ده دماسپښين په څلور ركعته كي قيامه څه شي ده وايي فرض ده لهذا دا كيږي چي يو شي پخپل ځان كي سنت وي بيا دي واجب سي:

اذان قبل الوقت جائز نه دئ اذان به په خپل وخت كي بيرته را ګرځوي ځكه مقصود چي هغه خبرتيا ده دخلګو په وخت باندي دغه مقصود نه دئ حاصل نو ګويا كي اذان سابق پر وخت موجود نه دئ **والنفل اسم للزيادة:** زياتي شي ته نفل وايي، الله جل جلاله مال غنيت ته نفل ويلي دي په دې وجه ورته ويل سوي چي دجهاد اصل مقصود اعلاء كلمة الله دي غنيمت يو زيا ت شي دئ زوي اصل دئ لمسي زيات شي دئ واده دزوي دپاره كيږي دلمسي دپاره نه كيږي ځكه الله وايي ﴿وَوَهَبْنَا لَهُ اِسْحَاقَ وَيَعْقُوْبَ نَافِلَةً﴾ موږ وده ته اسحاق وركړي يعقوب نافله دئ لمسي دئ:

فنوافل العبادات زوائد مشروعة لنا لا علينا نفلي عبادات زموږ دګټي دپاره دي پر موږ لازم نه دئ يعني زموږ دپاره وبال نه دئ **وحكمه انه يثاب المرء على فعله ولا يعاقب على تر كه :**

حکم يې داده سړي ته يې پرکولو ثواب ورکول کيږي عذاب نه ورکول کيږي پر پريښوول دنفلو ليکن قاعده داده لزم النفل بالشروع :

ويضمن بتركه بالشروع عندنا: زموږ په نزد باندي سپه سبب دشروع باندي سړي ضامن ګرځي په ر پريښولو دنفلو **خلافا للشافعي رحمه الله** الله جل جلاله فرمايي لا تبطلوا اعمالکم خپل اعمال مه باطلوي که سړي په نفلو شروع وکړه بيا يې پريښودل نو دي سړي بطلان عن العمل وکړ دې وايي دا بطلان عن العمل نه دئ ديته امتناء عن العمل وايي ولی بطلان عن العمل ديته وايي چي سړي صدقه وکړي بيا مَنْ او اذی ورپسي وکړي: لهذا دا بطلان عن العمل نه دئ بلکي دا امتناء عن العمل دئ :

دحسامي مصنف دليل وايي په سخته طريقه باندي په اسانه طريقه دليل دادئ سړي په نفلو باندي شروع ابتداء وکړه قانون دادئ چي څنګه په کار شروع وسوه بس دا الله جل جلاله ته حواله کيږی ﴿إِلَيۡهِ يَصۡعَدُ ٱلۡكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ﴾ والله جل جلاله ته کلم الطيب پورته کيږی اوس راسه سړي ابتداء دفعل وکړه اوس چي دي نيمي کار کوي نو الله جل جلاله ته پوره حواله نه سو نيم حواله سو پوره نه سو حواله ، لان المؤدي صار لله تعالی مسلما اليه : سړي چي اداء کړي دغه مؤدی ګرځي والله جل جلاله ته مسلما اليه والله جل جلاله ته حواله سي په نفلو باندي شروع کول بيا بيرته پريښول دا نيمي کار دئ نيمي کار به سړي نه کوي بل دليل وايي سړي چي الله اکبر په نفلو کي وويلي ددې دا معني چي دي سړي عملا نذر ومنی ولي نذر ديته وايي چي سړي مباح شي پر ځان لازم کړي په نذر کي قانون دادئ چي دابتداء صيانت يې ضروري دئ دانتهاء صيانت به په طريقه اولي سره وي سړي چي دابتدءا النفل نذر ومني دابتداء صيانت ضروري سو نو دانتهاء صيانت په طريقه اولی سره ضروري دئ، **وهو**

كالنذر : دغه مشروع فی النفل داداسي دئ لکه نذر :

صار الله تسمية لا فعلا: خاص دالله جل جلاله دپاره وګرځيدی چي صرف ده نوم واخيستي چي زه نفل کوم نه فعلا تر اوسه پوري ده لانه دئ کړي ثم **وجب لصيانته ابتداء الفعل** ابتداء

الفعل ضروري دئ دصيانة دوجي فلان يجب لصيانة ابتداء الفعل چي ابتداء الفعل دصيانة دوج ضروري دئ بقاءه اولى بقاء يې په طريقه اولی سره ضروري ده :

يو سل او دويم سبق

واما الرخص فانواع اربعة :

دعبارت ترجمه: هر څه چي رخصت دئ نو دا څلور نوعي دي ، **نوعان من الحقيقة** دوي نوعي دحقيقت دی **واحدها احق من الاخر** يوه نوعه ددغه دوو نوعو څخه ډير حقداره ده تر ابلي نوعي:

ونوعان من المجاز : دمجاز هم دوي نوعي دي **احدهما اتم من الاخر** ، يوه تر هغه بلي اتمه ده **فاما احق نوعي الحقيقة فما استبيح مع قيام المحرم وقيام حكمه جميعا:**

هغه ډير حقداره نوعه دحقيقت دانواعو څخه نو هغه يو فعل دئ داسی فعل چي هغه فعل به مباح وي سره ددې چي سبب (محرم) او حکم (حرمت) به دواړه ولاړ وي يعني دواړه به موجود وي خو بيا به هم هغه فعل درته مباح وي **مثل اجراء المكرَه بما فيه التجار كلمة الشرك على لسانه :** الله جل جلاله فرمايي﴿ لا تُشْرِكُوا بِاللهِ شَيْئًا﴾ تاسو دالله جل جلاله سره هيڅ څوک مه شريک کوي دلته محرم هم ولاړ دئ حرمت هم سته ولي شرک حرام دئ خو بيا هم کلمه دکفر ووايه په ژبه سره که کافر پر دا سر ويشتلي يعني په دغه صورت کي چي کافر ستا پر سر ټوپک نيولي وي او درته وايي کلمه دکفر ووايه نوتاته مباح ده چي ته کلمه دکفر ووايي په ژبه سره که څه هم محرم او حرمت دواړه ولاړ دي دغه نو رخصت حقيقی اتم دئ ولي لا تشركوا او حرمت دشرک دا دواړه ولاړ دي:

مثال اجراء المكره بما فيه التجاء كلمة الشرك على لسانه: مثال درخصت لکه اجراء دمکره په هغه فعل باندي چي په هغه کي اضطرار وی مکره دې ووايي کلمه دشرک په خوله باندي مکره معنی هغه څوک چي مجبوره سوي وي:

وافطاره فی نهار رمضان : الله جل جلاله فرمايي﴿ اَتِمُّوا الصِّيَامَ اِلَى اللَّيْلِ﴾ الاية ولا تكلو اوَلَاتُشْرِبُوْا وَلَا تُجَامِعُ فِيْ نَهَارِ رَمضَانِ نه به سړی څښاک کوي نه به سړي خوراک کوي نه به سړي جماع کوي د روژي په ورځ کي دلته محرم هم ولاړ دئ خوراک څښىل وجماع دا شيان به نه کوي اوس که دسړي پر سر يو چا تهوپک ونيوی نو شريعت وايي روژه وخوره محرم او حرام دواړه ولاړ دي مګر بيا هم شريعت اجازه ورکړي چي روژه وخوره **وافطاره في نهار رمضان صائم مكرَه دي** روژه ماته کړي د رمضان په ورځ کي **واتلافه مال الغير :**

دبل مال تلف کول حرام محرم هم ولاړ دئ چي دبل په مال به کار نه لري حرمت هم ولاړ دئ مګر يو سړي دبل سړ پر سر تهوپک ور نيولی دئ چي دده مال ته اور وراچوه :

په دغه صورت شريعت وده ته اجازه ورکوي چي دبل ومال ته اوُر ور واچوي **واتلافه مالالغير :** مګر دبل مال ورتلف کولای سي، **وجنايته علی الاحرام** په احرام کي ښکار کول حرام مګرکه سړی پر ښکار کولو مجبوره سو په احرام کي نو دغه سړي ته رخصت دئ دښکار **وتناول المضطر مال الغير :**

دبل مال خوړل حرام لا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل محرم هم ولاړ دئ حرمت هم ولاړ دئ مګر دسړی اخري وخت دئ مړ کيږی شريعت ودغه سړي ته اجازه ورکړيي چي په دغه وخت دبل مال وخوره چي مړ نه سي وتناول المظطر مال الغير، خوري مجبوره دبل مال **وترک الخائف علی نفسه الامر بالمعروف** ، امر بالمعروف نهي عن المنکر دا به سړي په زندګي نه پريږدی خامخا به سړي دا دوه کاره کوي مګر که سړي پر سر باندي تهوپک در ونيوي چي امر بالمعروف به نه کوي، په دغه صورت کي شريعت وايي تاته اجازه ده امر بالمعروف مه کوه ، وترکِ الخائف علی الامر بالمعروف چي پريږدي ويريدونکی پر خپل ځان باندي امربالمعروفَ پريږدي

واما الرخص فانواع اربعة الخ

تشريح: كلمه پر دې قسمه ده ١- اسم ٢- فعل ٣- حرف ابن حاجب رحمه الله اول وار دكلمې تعريف كړي بيا يې كلمه درې قسمه كړي قانون دادئ يو وار به دشي تعريف كيږي بيا به يې تقسيم كيږي اوس سوال دادئ چې دحسامي مصنف اول درخصت تقسم كړي تعريف يې نه دئ كړي داولي څه و جه ده مخته تر جواب يوه فائده وايو هغه دا اشتراك پر دوه قسمه ١- اشتراك لفظي ٢- اشتراك معنوي اشتراك لفظي ديته وايي چې يو لفظ دډيرو معنا ګانو دپاره وضعه سوى وي په اوضاعو متعدده سره مثال لكه لفظ دعين لفظ دعين دجاسوس ، لمر، سترګي، دځنګانه ټكي، ددغه ټولو دپاره وضعه سوي دئ په اوضاعو متعدده سره، اشتراك معني، ديته وايي چې يو لفظ ديو مفهوم كلي دپاره وضعه سوي وي خو ددغه مفهوم كلي لاندي افراد وي هر وخت كه دافرادو نفرو مقسم يې مشترك معني وو بيا په يو وار تعريف كيږي بيا به تقسيم كيږی كه يې مقسم مشترك معنوي نه وو بيا دمقسم اول وار تقسيږي مثال انسان واضع وضعه كړي دئ دحيوا ن ناطق دپاره زيد، عمرو، خالد، بكر، په جيوان ناطق كي سره شريكان دي زيد عمرو، خالد بكر، دايو مابه الاشتراك لري خو هغه اشتراك اشتراك معنوي لري قانون دادئ كه ته انسان فرضا زيد عمرو خالد بكر ، ته تقسيموي نو يو وار به ته دانسان تعريف په حيوان ناطق سره كوي ولي دايې ما به الاشترا ك دئ پاته سو لفظ عين لفظ عين يو معنوي مفهوم تعريف نه لري چې دټولو دپاره ما به الاشتراك سي كه په كوم ځاى كي اشتراك لفظي ووهلته به اول وار تقسيم كيږى كه اشتراك معنوي ووهلته به اول وار تعريف كيږي بيا به تقسيم كيږى اوس جواب دا دئ دلته مصنف رخصت تقسيم كړ وڅلورو اقسامو ته دوه اقسام حقيقي دوه مجازي دغه څلور اقسام اشتراك لفظي لري اشتراك معنوى نه لري نوځكه مصنف اول وار تقسيم وكړي كه ته وايي بل چا داسي كار كړي دئ موږ وايو وو ابن حاجب رحمه الله اول وار مستثني تقسيم كړي ده ودوو اقساموته ١- متصله ٢- مستقطعه ځكه دامابه الاشتراك نه لري رخصت پر دوهقسمه دئ ١- حقيقت ٢- مجاز، حقيقت بياپر دوه قسمه دئ مجاز هم پر دوه قسمه دئ نو ټول څلور اقسام دي اوس راسه موږ به څه وخت وايو چې دا رخصت حقيقي دئ دا رخصت مجازي دي نو ته به ووايي درخصت حقيقي او درخصت مجازي دار او مدار پر عزيمت باندي دئ كه درخصت په مقابل كي عزيمت سته ودغه رخصت ته رخصت حقيقي وايي كه درخصت په مقابل كي عزيمت نسته ودغه رخصت ته رخصت مجازي وايي اوس

راسه که په مد مقابل کي عزيمت څومره ډير وو همدومره به رخصت حقيقي ډير وي که په مد مقابل کي عزيمت کم وو نو رخصت حقيقي هم کم دئ يعني که په مد مقابل کي عزيمت اتم دئ نو رخصت حقيقي هم اتم دئ که په مد مقابل کي عزيمت ناقص دئ نو رخصت حقيقي هم ناقص دئ که په مد مقابل کي دعزيمت بلکل بوي نسته نو رخصت مجازي اتم دئ که په مد مقابل کي دعزيمت لږ بوي سته نو رخصت مجازي ناقص دئ اوس راسه رخصت حقيقي اتم هغه وخت دئ چي په مد مقابل کي په جانب مقابل کي عزيمت اتم وي دعزيمت تماميت هغه وخت راځي چي دعزيمت سبب او حکم دواړه وي سبب او حکم دواړه سته نو عزيمت تام سو خو بيا هم درخصت اجازه سته ودغه رخصت ته رخصت حقيقي اتم وايي اوس راسه په جانب مقابل کي چي عزيمت دئ دلته سبب څوک دئ حکم څوک دئ نو ته به ووايي سبب محرِم دئ چي کوم شي يو شی يې حرام کړي وي وديته محرم وايي سبب محرم دئ حکم يې حرام دئ دعزيمت په خوا کي سبب (محرم) هم سته حکم (حرام) هم سته نو بيا هم تاته درخصت اجازه سته ودغه ته رخصت حقيقي اتم وايي که دعزيمت په خوا کي سبب (محرم) سته في الحال حکم(حرام) نسته حکم وروسته دئ خو بيا هم درخصت اجازه سته ودغه ته رخصت حقيقي ناقص وايي ولي په عزيمت کي سبب سته حکم نسته که درخصت په مد مقابل کي عزيمت بلکل نسته نو رخصت مجازي اتم دئ که دعزيمت لږ بوي سته نو رخصت مجازي ناقص دئ که ته وايي درخصت په مقابل کي عزيمت نسته نو بيا څنګه رخصت ورته وايي نو ته ورته ووايه زه چي رخصت ورته وايم مجازا.

وحکمه ان الاخذ بالعزيمة اولی دسړي دپاره مړګ ښه دئ تر کلمه الکفر مړګ دبل دمال تر خوړلو ښه دئ امر بالمعروف پريښول تر دې مړګ ښه دي عمل په عزيمت باندي اولی دي تر رخصت وحکمه ان الاخذ بالعزيمة اولی حکم ددغه نوعي من الحقيقة دادئ چي اخذ په عزيمت باندي اولی وي ولی که مړ سو نو شهيد يې خو ند دي پخپله غاړه نه دئ مثال زيد توپک پر عمرو باندي را خيستي ورته وايي دبل مال وخوره عمرو، ورته وايي زه دبل مال نه خورم زيد کرار وويشتي نو عمرو شهيد دئ خون يې په غاړه نه دئ دعمرو **واماالنوع الثاني فما يستباح مع قيام السبب وتراخي حکمه:**

درخصت په مقابل کي عزيمت سته خو دغه عزيمت اتم نه دئ په عزيمت کي صرف سبب (محرم) سته حکم (محرم) نسته حکم وروسته دئ وديته رخصت حقيقي ناقص وايي رخصت حقيقي ځکه دئ چي په مقابل کي يې عزيمت سته ناقص ځکه دئ چي عزيمت اتم نه دئ ولي په عزيمت کي حکم نسته حکم وروسته دئ مثال ﴿فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾ چی سړي مريض دئ يا مسافر دئ محرم ولاړ دئ چي روژه به نه خوري مګر حکم يې ورسته دئ هغه حکم دادئ دکوچني اختر وروسته فعدة من ايام اخر، شريعت مريض مسافر ته اجازه ورکړه چي وزژې وخوري واما النوع الثاني فما يستباح مع قيام السبب وتراخي حکمه درخصت حقيقي دويمه نوعه هغه ده چي يو فعل سړي ته مباح وي سره ددې چي سبب (محرم) به ولاړ وي حکم (حرمت) به وروسته وي، **كفطر المريض والمسافر يستباح مع قيام السب وتراخي حكمه فيهما:**

لکه مريض چي روژه ماته کړي يا مسافر روژه ماته کړي سره ددې چي سبب ولاړ دئ او حکم وروسته دئ په دواړو کي اوس مصنف يوه تفريع ورباندي کوي هغه دا سبب ولاړ دئ که سبب ولاړ نه واي بيا ددوي روژه نه وه صحيح لکن ددوی روژه صحيح کيږی نو دا علامت ددې دئ چي سبب سته **ولهذا صح الاداء منهما:** داغه خو وجه ده اداء صحيح کيږي د مريض او مسافر څخه **في الحال ولو ماتا قبل ادارک عدة من ايام أُخَرَ لم يلزمهما الامر** بالفدية که چيري دوي دوه مړه سول مخته دکوچني اختر ورځي يې نه دي نيولي نو پر مسافر او مريض باندي امر بالفديه نه دئ لازم ، **وحكمه ان الصوم افضل عندنا لكمال سببه وتردد في الرخصة،** حکم د دغه نوعي دادئ روژه نيول زموږ په نزد باندي افضله ده ولي سبب يې کامل دئ په رخصت کي تردد دئ که ته وايي تردد معني شک نو شک په رخصت کي څنګه دئ اوسره ددې چي درخصت اجازه سوي فعدة من ايام اخر نو موږ وايو تردد دامعني نه ده چي رخصت موږ ته راکول سوي دی دپاره ديسر په رخصت کي يسر او عسر دواړه سته تردد سته په عسر اويسر کي عزيمت همداسي دئ په رخصت کي يسر سته مګر دئ ستړي پر ځان وړي که سړي درمضان په مياشت کي روژه وخوري نو دايسر دئ مګر بيرته چي دی روژه راګرځوي دا ډير زور غواړي ولي دعالم سره غم نه غم چي سړي دټولو سره روژه نيسي دا

دومره زور نه غواړی لکه سړي چي روژه وروسته یوازي نیسي لهذا په رخصت کي یسر او عسر دواړه سته په عزیمت کي لږ سختي وي چي سړي مریض یا مسافر وي او روژه نیسي مگر یسر هم سته چي هغه موافقه ده دمسلمانانو سره ولي دعالم سره غم نه غم، **فالعزیمة تودي معني الرخصة من حیث تضمنها یسر موافقة المنسلمین** په عزیمت کي درخصت معني ځاي ځلیږي چي هغه یسر دئ په دي وجه چي عزیمت متضمن دئ ویسر ته دموافقي دمسلمانانو، **الا ان یخاف الهلاک علی نفسه** عزیمت تر رخصت اولی دئ مگر رخصت تر عزیمت اولی دئ په دې شرط چي مسافر به ویریږي پر هلاکیدو د خپل ځان **فلیس له ان یبذل نفسه لاقامة الصوم** جائز نه دئ دمسافر دپاره دا چي دئ خپل نفس ختم کړي دپاره داقامة **الصوم لان الوجوب عنه ساقط بخلاف النوع الاول** ځکه وجوب دده څخه ساقط دئ په خلاف دنوعي اولی ولی په اوله نوعه کي سبب او حکم دواړه ولاړ وه :

یو سل او دریم سبق

دعبارت ترجمه: واما اتم نوعي المجاز فما وضع عنا من الاصر والاغلال:

دمجازپه انواعو کي اتمه نوعه هغه مشقتونه هغه سترې دي چي زموږ څخه پورته سوي دي، **فان ذالک یسمي رخصة مجازا :** ودغه ته رخصت مجازي اتم وایي، **لان الاصل ساقط لم یبق مشروعا، :** ځکه اصل دلویه سره ساقط دئ زموږ څخه اصل مشروع نه دئ پاته، **فلم یکن رخصة الا مجازا،** نو رخصت نه سو مگر رخصت دئ مجازا ، **من حیث نسخ تمحض تخفیفا :** په دې اعتبار چي دا منسوخه دي دلویه سره نسته دا ساتتیا دوجي نسخ تمحض دیته وایي چي دلویه سره نسته:

واما النوع الرابع: هرڅه چي څلورمه نوعه ده **فما سقط عن العباد مع کونه مشروعا فی الجملة** دبندګانو څخه ساقط سي سره ددې چي په یو طریقه له طریقو بل ځای مشروع وي، **کالعینیة المشروطةفی البیع :** لکه تعین دمبیعی مشروط دئ په مطلقا بیعه کي **سقط اشتراطها فی نوع منه اصلا :**

مګر په بیوعو کي یو ه نوعه بیعه ده په دغه نوعه دبیعي کي تعین دمبیعي ساقط دئ بلکل

وهو السلم : هغه بیعه بیع السلم ده :

حتی کانت العینیة فی المسلم فیه مفسد اللعقد :

فائده یې داده عینیت په مسلم فیه کي مفسد للعقد ده مثال یو سړي ووایي دري لکه راکړه سبا دغه غنم ورته وګوره د غه غنم **درکوم و کذالک الخمر والمیتة سقط حرمتهما فی حق المکره والمضطر اصلا للاستثناء:** دشرابو او دمړي حرمت ساقط دئ په حق کي دمکرَه او دمضطر بلکل ددوي په حق کي حرمت ساقط دئ داستثناء دوجي داسي استثناء چي واقع ده په دې قول کي دالله جل جلاله ﴿قَدْ فَصَّلَ لَكُمْ مَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ اِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ﴾ الله جل جلاله داضطرار صورت دماقبل څخه مستثني کړي دئ په ماده دمکره او مضطر کي حرمت نسته دمکره او دمضطر دمادې څخه په بله ماده کي حرمت سته لهذا دادبیع السلم دکورني څخه دئ. **حتی لا یسعها الصبر عنهما** فائده یې داده چي مکره او مضطر قدرت نه لري چي صبر وکړي دشرابو او میتتي څخه که سړي په حالت داضطرار کي یا به حالت د اکراه کي شراب ونه څښل یا یې مړه ونه خوړله نو اوبال یې پخپله غاړه دئ:

وکذالک الرجل سقط غسله فی مدة المسح اصلا همدارنګه دپښې پرې مینځل ساقط دي په مده دمسحي کي دسره دغسل حکم په دغه پښه کي چي موزه یې په پښو وي دلته نسته مګر چي موزه یې نه وي په پښو هلته دغه حکم سته دا هم دبیع السلم دکورنۍ څخه دئ :

لعدم سرایة الحدیث الیه :

ځکه حدث ودغي پښي ته سرایت نه کوي :

وما اتمُ نوعی المجاز فما وضع عنا من الاصر والاغلال الخ :

تشریح: اوس مصنف شروع کوي په رخصت مجازي باندي که درخصت په مقابل کي عزیمت بلکل نسته ودغه رخصت ته رخصت مجازي اتم وایي که درخصت په مقابل کي

دعزیمت بوي سته ودغه رخصت ته رخصت مجازي ناقص وايي اوس راسه درخصت په مقابل کي دعزیمت بوي څه معنی نو ته به ووایي دایو ماده ده په دغه ماده کي موږ رخصت ورکړي دئ په دغه ماده کي عزیمت نسته مګر خو ودغي مادې ته ورته دئ او ورته سوي دئ بله ماده ده په هغه ماده کي عزیمت سته مثال دابیعه سلم ده ته ماته پیسی راکوي زه تاته دري میاشتي وروسته مبیعه (غنم) درکوم نوري سودا ګاني دراکم دئ یو وار مبیعه راکړه بیاپیسي واخله په کومو غنمو کي چي سودا سوي هغه ته مسلم فیه وايي په بیعه سلم کي شرط دادئ چي عینیت به نه وي یعني معلوم به نه وي چي دغه غنم دي اشاره به ورته نه وي چي دغه غنم دي ولي عینیت عقد فاسدوي په تمام بیوعو کي تعین دمبیعي ضروري دئ جهالت دمبیعي بیعه ختموي صرف په بیعه سلم کي جهالت دمبیعه جائز دئ رخصت دئ اوصاف به یې معلوم وي عین ذات دابه معلوم نه وي اوس راسه په بیعه سلم کي رخصت دئ په دغه بیعه سلم کي عینیت دمبیعه نسته مګر دابیعه سلم چي نوررو بیوعو ته سوي هلته عزیمت سته بس دغه یې بوي دئ که په مد مقابل کي عزیمت بلکل نسته ودغه رخصت ته رخصت مجازي اتم وایي مثال ستا کالی په وینو یا په بولو یا په مني ولړل سوه نو پرې یې وله غچي کوه یې مه دبنی اسرائلو کالی چي به په ولړل سوه نو دوي به غچي کول دغه غچي کیدل زموږ دسره څخه پورته سوي دي دغه حکم پر موږ نسته موږ ته رخصت دئ او په مد مقابل کي عزیمت نسته ولي عزیمت به دراکم واي چي یو وار راباندي مقرر سوي واي بیا به پورته سوي واي دغه غچي کیدل د احکم داوله دلویه سره زموږ څخه پورته سوي دئ هغه مشقتونه چي پر امم سابقه وه هغه زموږ څخه پورته سوي هغه مشقتونه دوولس دي دهغوي لمونځ بېله مسجده نه صحیح کیدی دهغوی اودس په خاوره نه صحیح کیدی هغوي به کالي غچي کول ، چي شرک به یې وکړ نو قتل کیدی چي قتل به یې وکړ دیت به نه وو خامخا به مړ کیدی چي ګناه به یې وکړه هغه به سهار دکور پر دروازه لیکلې وه ، پر زکات څلورمه روپۍ وه دغه مشقتونه یې دنبی علیه السلام په برکت سره زموږ څخه پورته کړل دا داسي رخصت دئ چي عزیمت نه لزي :

يوسل او څلورم سبق

دعبارت ترجمه: **وكذالك قصر الصلوة فى حق المسافر رخصة اسقاط عندنا:** داغه ركم قصر الصلوة په حق كي دمسافر رخصت اسقاط دئ زموږ په نزد باندي ، **وعندالشافي رحمه الله رخصة ترفيه ولهذا قلنا ان ظهر المسافر وفجره سواء:** داغه خو وجه ده موږ وايو چي دمسافر دماسپښين لمونځ او دسهار لمونځ برابر **دي لا يحتمل الزيادة عليه** په د ې سره برابر دي چي دزيادت احتمال نسته پرد ه باندي يعني مسافر به تر دوو ركعتو زيادت نه كوي، **وانما جعلنا ها اسقاطا محضا استدلالا بدليل الرخصة** مصنف شروع وكړه په دغه عبارت كي په دليل الرخصة او معنا الرخصة وانما جعلنا ها **اسقاطا محضا استدلال بدليل الرخصة ومعناها :** موږ دغه رخصة اسقاط محض ګرځوو :

استدلالا چي موږ دليل نيسو په دليل الرخصة او معنا الرخصة باندي **اما الدليل فما روي عن عمر** رضي الله عنه **انه قال انقصر الصلوة ونحن امنون فقال النبى** ﷺ **هذه صدقة تصدق الله بها عليكم فاقبلوا صدقته سماه صدقة:** هر څه چي دليل الرخصة دئ نو روايت سو دعمر رضي الله عنه څخه ده وويل موږ په لمانځه كي قصر وكړ او حال داچي موږ په امن كي وو: نبى عليه السلام وويل داصدقه ده الله پاک پر تاسو تصدق كړي نو تاسو دده صدقه قبوله كړي عمل ور باندي وكړي نبى عليه السلام وقصر ته نوم وركړ دصدقي **والتصدق بما لا يحتمل التمليک اسقاط محض :** تصدق كول په هغه څه باندي چي دتمليک احتمال نه لري وديته اسقاط محض وايي **لا يحتمل الرد كالعفو عن القصاص والتصدق بما لا يحتمل التمليک** دا احتمال درديدو نه لري لکه عفوه دقصاص ولي دقصاص هر كله چي وو يايي وهغه چا ته چي پر هغه قصاص وي داسي ورته ووايي وهَبتُ القصاص لک بس قصاص ختم سو غير دقبليدو بيا نه رديږي دده په ريدو سره **واما المعنى :** هر څه چي استدلال بمعنا الرخصة دئ **فهو ان الرخصة لطلب الرفق** نو هغه دادئ چي رخصت ددې دپاره وي چي اسانتيا په طلب سي **والرفق متعين فى القصر :** اسانتيا په دوو كي ده نه په څلورو كي، **فسقط الاكمال اصلا :** اكمال دبيخه وختي، **لان الاختيار بين القصر والاكمال من غير ان يتضمن رفقا لا يليق**

بالعبودية بخلاف الصوم: ځکه بنده مختاره کول په مابين کي دقصر او داکمال غير ددي چي دغه اختيار متضمن دئ و اسانتيا ته دغه اختيار مناسب نه دئ دعبوديت سره ځکه مقتضا دعبوديت احتياج دئ لهذا بنده به دانه ردوي چي زه دوه نه غواړم په خلاف دروژي

لا ن النص جاء بالتاخير دون التصدق :

ځکه نص داسي نص چي دال دئ پر وخت باندي په روژه کي دا دلالت نه کوي پر اسقاط باندي بلکي هغه راغلى دئ په تاخير باندي **لقوله تعالى فعدة من ايام اخر** نه په تصدق باندي، **واليسر فيه متعارض،** يسر په روژه کي متعارض دئ که يسر په نيولو کي سته نو په خوړلو کي هم سته که په خوړلو کي سته نو په نيولو کي هم سته ، **فصار التخيير فيه لطلب الرفق،** نو اختيار بين الافطار والصوم دغه تخير دئ دپاره دطلب داسانتيا .

وكذالك قصر الصلوة فى حلق المسافر رخصة اسقاط عندنا الخ :

تشريح: قصر الصلوة دامام شافعي رحمه الله په نزد رخصت ترفيه ده قصر الصلوة زموږ په نزد رخصت اسقاط دئ اوس راسه رخصت ترفيه څه معنى رخصت اسقاط څه معنى رخصت ترفيه ديته وايي الله تعالى رخصت ورکړي داسانتيادپاره چي اسانتيا ورته جوړه سي نو دا دى سو لکه روژه په روژه کي مريض مسافر ته اسانتيا جوړه کړي وه اوس که مسافر يا مريض را ولاړ سي په عزيمت باندي عمل وکړي يعني روژه ونيسي نو دا روژه صحيح ده بلکل اولى ده مريض مسافر دوي دواړو ته رخصت هم دئ چي روژه و خوري مګر که روژه ونيسي په عزيمت باندي عمل وکړي نو اولى دي همدا رنګه که مسافر دڅلورو رکعتو پرځاى دوه رکعته وکړي نو صحيح دئ اوکه ددوو رکعتو پرځاى څلور رکعته وکړي دا هم صحيح دئ ومسافر ته اختيار دئ دوه رکعته کوي څلور رکعته کوي دغه درخصت ترفيه معنى ده زموږ په نزد باندي رخصت اسقاط دئ وچ په وچه به مسافر ددوو رکعتو اسقاط کوي او دوه رکعته به کوي نو زموږ په نزد مسئله داسوه که مسافر ددورکعتو پر ځاى څلور رکعته وکړل بيرته به يې راګرزوي دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي که يې دوه وکړل

صحیح دئ که یې ځلور وکړل هم صحیح دئ زموږ په نزد هغه وخت به مسافر لمونځ راګرځوي چې په قصد ا ځلور رکعته وکړي یا په دویم رکعت کښې نه کښینستي مګر که مسافر دوه رکعته کول په دویم رکعت کښې کښینستي خو دده څخه ځلور رکعته سول نو په دغه صورت کې به هغه دوه اخیري رکعته نفل سي قصدا به نفل په فرضو نه ګډوي لهذا زموږ په نزد باندي رخصت اسقاط دئ دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي رخصت ترفیه ده امام شافعي رحمه الله ددې دپاره دا دلیل نیسي ﴿وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلٰوةِ﴾ عدم مباح عدم اثم په ترفیه او مباح کې استعمالیږي یعني پرتاسو ګناه نسته که دوه وکړي که ځلور وکړي دغه ګناه چې نسته ددې دا معنی چې اصل کې دئ ځلور که دوه وکړي پروا نه لري موږ وایو دا رخصت اسقاط دئ رخصت ترفیه نه ده خامخا به مسافر دوه رکعاته کوي:

دامام شافعي رحمه الله دخبري دجواب دادئ عدم جناح کله دواهمي دختم کیدو دپاره وي او کله داباحت دپاره وي ددوي دا وهم وو چې دی خو ځلور که موږ دوه وکړل ګناه ګاره کیږو خو به نه الله تعالی وویل فليس عليكم جناح دغه وهم یې لري کړ، زموږ دپاره دلیل څه دئ چې دارخصت اسقاط دئ موږ دوه دلیله لرو یودلیل ددلیل الرخصة دوهم دلیل معنا الرخصة:

دلیل الرخصة دادئ عمر فاروق رضی الله عنه نبی علیه السلام ته وایي الله تعالی وایی دوه وکړه او زه په خوف کې نه یم که زه ددوو پرځای ځلور وکړم څنګه دي نبی علیه السلام ورته وایي هذه صدقة تَصَدَّق الله بِهَا دا دالله جل جلاله دطرفه صدقه ده داصدقه قبوله کړي اوس راسه صدقه کول بما لا تملیک فیه صدقه کول په داسي شي باندي چې په هغه کې تملیک نه وي اسقاط محض دئ دا مشهوره قاعده ده موږ یې هم منو دي یې هم مني او کوم شي چې اسقاط محض وي هغه دردیدو احتمال نه لري صدقة بما لا تملیک فیه دا معنی ځلور مي درباندي وه بس دوه ختم سره صدقه بما لا تملیک فیه دا اسقاط محض دئ او کوم شي

اسقاط محض وي هغه دردیدو احتمال نه لري نو موږ هم په دا څلور ځې ددغه دوو دریدو احتمال نه لرو چې دا دوه زه نه غواړم خامخا به سړي دا دوه قبلوي :

مثال زید او بکرسره ورونه دي عمرو را ولاړ سو زید یې وویشتي بکر عمرو، ته وایي ما دزید قصاص درمعاف کړ، دقصاص په معافي کي تملیک نسته دغه معافي دقصاص دردیدو احتمال نه لري عمرو به دا قبلوي عمرو به دا نه وایي چې ماقصاص کړه اوس راسه چې تملیک پکښي وي هغه ته اسقاط محض نه وایي په دې کې نه ردیدل معتبر نه دي په دې کې رجوع کیدای سي مثال زید مړ سو دزید دوه وارثان دي یو عمرو دئ بل بکر دئ عمرو بکر ته وایي زه دزید میراث نه غواړم دغه میراث ردولای سي میراث بکر واخیستي تملیک راغلی چې تملیک راغلی نو بیرته واپس کیدای سي دوهم دلیل معنا الرخصة دئ اوس راسه زه ستا څخه پوښتنه کوم درخصت اصل مقصود څه شي دئ دی وایي درخصت اصل مقصد یسر (اسانتیا) ده ابنه نو په څلورو کي یسر کله وو نسته یسر په دوو کي دئ معنا الرخصة سړي دیته نه پرېږدي چې دوه څلور کړي امام شافعي تا چې قیاس پر روژي باندي کړي دا قیاس قیاس مع الفرق دئ ولي دروژي په نیولو کي هم یسر دئ په خوړلو کي هم یسر دئ په نیولو کي یسر دئ ولي موافقه ده دمسلمانانو سره په خوړلو کي هم یسر دئ ولی فی الحال به سړي په اسرات سي پاته سو څلور رکعته په دې څلورو رکعتو کي یسرنسته او دبنده سره دا خوند نه کوي چې خدای اسانتیا پر راولي او دی وایي زه یې نه غواړم، :

یوسل او پنځم سبق

دعبارت ترجمه: **ولا یلزم العبد الماذون فی الجمعة** پر موږ باندي اعتراض نسي کیدای دهغه عبد په باره کي چې ماذون فی الجمعه وي **لان الجمعة غیر الظهر** : ځکه جمعه غیر ظهر ده ، **ولهذا لا یجوز بناء احدهما علی الاخر** : دا غه خو وجه ده بناء دیوه پر هغه بل جائز نه ده **وعند المغایرة لا یتعین الرفق فی الاقل عددا** دمغایرت په وخت په اق عددا کي رفق (اسانتیا) متعین نه دئ چیشی یو وي بیا به رفق متعین وي، واما ظهر المسافر والمقیم واحد : ظهر دمسافر (وهو رکعتان) او ظهر دمقیم یو دئ :

بالتخيير بين القليل والكثير :

كه سړي اختيار ورکړي په قليل او کثير کي **لا يتحقق شئ من معنى الرفق** نو بيا درفق اساتيا) معنى نه متحقق کيږي ځکه رفق په اقل عددا کي متعين دئ يو سړي وويل که دا کار مي وکړيو کال روژي نيسم کرار سړي دا کار وکړ دغه عبارت که داکار مي وکړ والله يو کال به روژي نيسم دغه عبارت دقسم احتمال هم لري دنذر احتمال هم لري دغه سړي مسکين دئ په دغه دوو کي دي يوه کفاره اداء کړي که دنذر کفاره اداء کوي نو يو کال به ورژي نيسي که دقسم کفاره اداء کوي نو دري روژي دي ونيسي اوس سوال دادئ احنافو تاسو وایاست وده ته اختيار دئ دري روژي نيسي که يو کال روژي نيسي رفق په درو روژو کي د ه په کال کي نه دئ اوشي يو دئ بيا احنافو تاسو ولي اختيار ورکوي :

جواب: په ظاهره يو شي معلوميږي مگر په حقيقت کي دوه دي هغه دري ورځي چي روژه نيسي دا کفاره ده هغه يو کال چي روژه نيسي هغه عبادت مقصوده دئ ولي نذر يې منلي دئ په کفاره کي قدرتي ستړي وي په عبادت کي ستړي نه وي که بيا هم ته دا يو شي بولي نو بيا په دواړو کي يسر سته په کفاره کي که دري روژي اساني ده مر زجر يې سختي په هغه بل کي که ديو کال سختي ده مگر عبادت اساني ده :

وعلى هذا يخرج من نذر بصوم سنة ان فعل كذا: بناء پر دغه باندي تخريج کيږي دهغه چا چي نذر ومني ديوه کال دروژي که چيري دا کار ما وکړ:

ففعل دا کار ده وکړي **وهو معسر** او دئ تنگ دسته دئ ولي که هست مند وو بيا به پيسي ورکوي ، **يخير بين صوم ثلثة ايام وبين سنة** وده ته اختيار دئ دري روژي نيسي او که يو کال روژي نيسي، **فى قول محمد** دا دامام محمد رحمه الله قول دئ وهو **رواية عن ابي حنيفة انه رجع اليه قبل موته بثلثة ايام :** دا دامام ابو حنيفه رحمه الله يو قول هم دئ مگر امام ابو حنيفه رحمه الله دامام محمد رحمه الله قول ته رجوع وکړه مخته تر مرگ دري ورځي

لانهما مختلفان حكما: ځکه دا دواړه مختلف دئ حکما : احدهما **قربة مقصودة:** يو قربة مقصوده دئ ، **والثاني كفارة** دويم کفاره ده، **وفي مسسألتنا سواء،** زموږ په مسئله کي قصر او اکمال برابردئ **كالمدبر اذا جني لزم مولاه الاقل من الارش ومن القيمة** مدبر راولاړ سو جنايت يې وکړي ديو چا سترګه يې ور ويستله دمدبر قيمت اته لکه دئ ده چي دبل سترګه ور ايستلي دهغه قيمت لس لکه دئ او دا دواړه دپيسو دکورني څخه دي دلته رفق متعين دئ اوس که مدبر جنايت وکړي نو به مولی اقل ورکوي **فصار كالمدبر :** وګرځيدی لکه مدبر **اذا جنى :** چي کله جنايت وکړي، **لزم مولاه الاقل من الارش ومن القيمة** نو به مولا اقل ورکوي هغه که ارش (تاوان) دئ که قيمت دمدبر دئ **بخلاف العبد لما قلنا :**

عام غلام مدبر نه دئ عام غلام که جنايت وکړ نو شريعت وايي وده ته اختيار دئ پيسي ورکوي که غلام ورکوی :

ولايلزم العبدالماذون فى الجمعة الخ :

تشريح: دا يو شي دئ دوه جهته لري په هر جهت کي رفق (اسانتيا) سته دلته اختيار دئ ولی اختيا په هغه ځای کي وي چي شی يووي دوه جهته لري او په هر جهت کي يسر وي په دغه صورت ستا خوښه ده دا کوي که دا کوي اختيار معنی رخص او درخص سره يسر وي که يو شي دوه جهته لری په يو ه جهت کي يسر نسته په بل جهت کي يسر سته بس دا يسر چي پکښي دئ دا متعين دئ دا به مخامخا کوي ديوه مثال روژه ده دبل مثال لمونځ دئ په لمانځه کي په څلورو رکعتو کي يسر نسته په دوو رکعتو کي يسر سته نو دلته اختيار نسته چي اختيار نسته نو به دوه رکعته کوي په روژه کي دو ه جهته دي په دواړو جهتو کي يسر سته نو اختيار دئ که دا کوي که هغه کوي بس قاعده دا ده که شي يو وو او دوه جهته يې درلودل په دواړو جهتو کي يسرهم وو بس دلته اختيار دئ اوس پ انافو يو سوال کيږي هغه دا دا غلام دئ دا يې مولی (بادار) دئ بادار غلام ته اجازه ورکړه چي ته دجمعي لمونځ کولای سي اوس سوال دادئ احنافو تاسو وايا ست ودغه غلام ته اختيار دئ دجمعي لمونځ کوي که دماسپښين لمونځ کوي او حال دا يسر دجمعي په لمانځه کي دئ نه دماسپښين په لمانځه کي ولي دماسپښين لمونځ څلور رکعته دئ لهذا ستاسو قاعده ماته سوه ولي تاسو

وويل په دواړو جهتينو کی به يسر وي بيا وده ته اختيار دي دلته په يوه جهت کي يسر سته ا وبيا هم تاسو اختيار ورکړي دئ که دجمعي لمونځ کوي که دماسپښين لمونځ کوي:

جواب : زموږ قاعده به يوه شي کي ده چي شي په يو وي دوه جهته به لري داخو دوه شيان دي دجمعي لمونځ ځان ته دئ دماسپښين لمونځ ځان ته دئ داغه خو وجه ده چي يو پر بل نه بنا کيږي لهذا دادوه دي يو نه دئ خير ته يې فرض کړه دايو شي دئ مګر رفق (اساتنيا) په طرفينو کي سته دماسپښين په لمانځه کي رفق دادئ چي خطبه پکښي نسته سعي الى الجمعة پکښي نسته په کور کي لمونځ وکړه دجمعي په لمانځه کي خطبه سته سعيه لري سام لري قدرتي سترې لري مګر دغه دوه رکعته کول دغه يې اساتنيا ده مګر سعيه سام خطبه دغه يې يسر نه دئ دماسپښين په څلورو رکعتو کي يسر نسته يسر يې دادئ خطبه نسته سعيه نسته لهذا په طرفينو کي يسر سته نو ځکه اختيار دئ.

يوسل اوشپږم سبق

باب فى بيان اقسام السنة

دعبارت ترجمه: باب دئ په بيان کي داقسامو وسنت دلته دسنت څخه مراد دي قول نبى عليه السلام فعل نبى عليه السلام تقرير نبي ، قول صحابه فعل صحابه قول تابعي فعل تابعي:

باب فى بيان اقسام السنة :

تشريح: درې الفاظ استعماليږي ١- سنت ٢- خبر ٣- حديث يوه اصطلاح دمحدثينو ده بله اصطلاح داصولينو اوفقهاء ده دمحدثينو په اصطلاح سنة رسول خبر رسول حديث رسول دا دري سره يوه شي ته وايي داصولينو او دفقهاء په اصطلاح باندي خبر رسول حديث رسول دا دواړه قول نبى عليه السلام ته وايي قول رسول ،فعل رسول تقرير رسول ، قول صحابي ، فعل صحابي قول تابعي فعل تابعي ودغه ټوولو ته سنت وايي تقرير نبى

عليه السلام ديته وايي دنبی عليه السلام مخته يو کار وسي نبی عليه السلام انکار پرونه کړي،

اعلم ان سنة رسول الله عليه السلام جامعة للامر والنهي والخاص والعام وسائر الاقسام التي سبق ذكرها :

دعبارت ترجمه: ته پوه سه چي سنة رسول الله عليه السلام جامع دئ دامر، نهي، خاص، عام باقي اقسام هغه چي ذکر يې مخته تير سو، يعني هغه ټول اقسام دکتاب الله امر نهي وجوه فاسده دا ټول په سنة رسول کي جاري کيږي، **وهذالباب لبيان ما يختص به السنن :** دغه باب دئ دپاره دبيانولو دهغه چي سنن په هغه پوري خاص دي. **فنقول السنة نوعان مرسل ومسند:** موږ وايو سنت پردوه قسمه دئ ۱- مرسل ۲- مسند **فالمرسل من الصحابي محمول على السماع :**

فالمرسل من الصحابي محمول على السماع :

دعبارت ترجمه: مرسل من الصحابي دا محمول دي پر سماع باندي تابعي لکه امام صاحب تبع التابعي لکه امام محمد رحمه الله

تشريح: پنځه راويان دي مثلا پنځم دڅلورم څخه روايت کوي څلورم ددريم څخه روايت کوي دريم ددوهم څخه روايت کوي دوهم داول څخه روايت کوي اول دنبی عليه السلام څخه روايت کوي دراويانو په مينځ کي يو راوي را ولاړ سي واسطه کاټ کړي مثال دڅلورم او ددوهم په مينځ کي دريم راوي واسطه ده دغه واسطه کاټ کړي څلورم راوي ووايي دوهم راوي داسي ويلي دي که واسطه کاټ سوه دراويانو په مينځ کي ودغه معضل ته محدثين منقطع وايي دمحدثينو په اصطلاح که دوي واسطي کاټ سوي ودغه ته وايي که تابعي را ولاړ سو دده او دنبی عليه السلام په مينځ کي واسطه صحابي وو تابعي دغه واسطه (صحابي) يې کاټ کړه ودغه ته محدثين مرسل وايي لکه حسن بصري رحمه الله ووايي قال رسول الله ﷺ کله يو ه واسطه کاټ سی کله دوي کاټ کله تابعي واسطه کاټ کړي دغه

واسطي چي کاټ سي ودغه ټولو ته فقهاء او اصوليين مرسل وايئ که واسطي کاټ نه سوي پوره پوره تر پايه په سند ورسيدی ودغه ته دفقهاء په اصطلاح باندي مسند وايي مرسل په خپل کور کي پر دري قسمه دئ يا به صحابي واسطه کاټ کړي وي يا به تابعي واسطه کاټ کړي وي يا به تبع التابعي واسطه کاټ کړي وي :

مراسيل دصحابه وو بالاتفاق مقبول دي مثال ديو صحابي او دنبی عليه السلام په مينځ کي بل صحابي واسطه ده صحابي را ولاړ سو دغه واسطه (صحابي) يې کاټ کړه وي ويل قال رسول الله مراسيل دصحابه وو بالاتفاق مقبول دي ولی دا پر سماع محمول دي پر سماع محمول دا معنی کيدای سي چي ده دي ډارک دنبی عليه السلام څخه اوريدلي وي :

دعبارت ترجمه: **ومن القرن الثاني والثالث على انه وضح له الامر واستبان له الاسناد:** تابعي او تبع التابعي دا حجت دئ زموږ او دامام مالک په نزد باندي داموږ قبلوو بناء پر دې چي راوي مُرسل چي دي ودې راوي (مرسل) ته امر واضح دي او ده ته اسناد ښکاره دئ، **وهو فوق المسند:** دغه مرسل تر مسند په بعضو احوالو زورور دي **فانْ من لم يتضح له الامر:**

بيشکه هغه څوک چي وده ته امر واضح نه وي، **نسبه الى من سَمِعَهُ منه:** نو دي يې منسوبه کوي وهغه چاته چي دغه راوي يې سماع کړي دهغه څخه **ليُحمِّلَهُ ما تحمل عنه:** ددې دپاره چي دي وربار کړي وده ته هغه چي ده بار کړي دهغه څخه يعني دهغه پر اوږو يې ورباروي چي دا زه نه وايم دادی وايي په مسانيد مشهوره باندي پر قران مجيد باندي زيادت صحيح دئ په مراسيل مشهوره باندي ولی نه دئ صحيح دا سوال کيدی جواب يې دادئ چي په دې کي ضرب اجتهادي دي يعني يو څه دقياس دخل پکښي دي هغه دا چي موږ عقل وجنګوو چي مرسل تر مسند زورور دي په حقيقت کي نه دي تر زورور نو په دغه وجه باندي نسخ نه ده په جائز ، **لكن هذا ضرب مزية يثبت بالاجتهاد،** مګر په دې کي يو نوعه زيادت دي پر اجتهاد باندي ثابتيږي ، فلم يجزالنسخ بمثله : نسخه دده په مثل باندي نه ده جائز ، **واما مراسيل من دون هؤلاء :** هغه مراسيل چي تر دوي کښته وي فقد اختلف فيه ، نو په دې کي اختلاف دئ بعضی يې قبلوي بعضي يې نه قبلوي که نه صحابي دئ نه تابعي دي نه تبع

التابعي دي بلکي دقرون ثلثه بعد دي بعضي علماء وايي دقرون ثلثه زمانه دفسق څخه خلاص وي ددې وروسته دفسق او دفجور زمانه وه لهذا دا کيداي سي چي يو سړي دئ تقوّل وکړي په نبی عليه السلام پسي دئ حديث وتړي لهذا دا موږ نه قبلوو بعضي علماء وايي موږ يه قبلوو مګر شرط دادئ چي ثقاتو به نقل کړي وي امام بخاري امام مسلم امام نسائي امام ترمذي دوي به نقل کړي وي دوي په مراسيل ورڅخه داسي قبلوي لکه مسانيد چي قبلوي **الا ان يروي الثقات مرسلَهُ** مګر که ثقاتو دده مرسل راويت کړی وو :

كما رَوَوا مسندَهُ لکه دوي چي روايت کړي دئ دده دمسند **مثل ارسال محمد ابن الحسن وامثاله** مثال لکه ارسال دمحمد بن حسن رحمه الله او دده دامثالو لکه سفيا ن الثوري ليکن حسامي دا مثال غلط ورکړي ځکه محمد رحمه الله تبع التابعي دئ دسفيان الثوري رحمه الله مثال صحيح دئ **وقال الشافعي رحمه الله لا اقبل الامراسيل سعيد بن المسيب** امام شافعي رحمه الله وايي زه دبل چا ده نه قبلوم مګر دسيعد بن المسيب دا قبلوم ، **فاني تَتَبَّعْتُهَا :**

يقينی ما تفتيش کړي دده دمراسيلو **فوجد تها مسانيد:** ما دغه مراسيل مسانيد پيدا کړل ټول په سند رسيدلي وو :

تشريح: که تابعي يا تبع التابعي دوي ارسال وکړي داحنافو په نزد باندي مراسيل دمن دون الصحابه لکه تابعي يا تبع التابعي دا مراسيل من دون الصحابه دا به قبلوو بلکي تر مسند هم زورور دي ځکه تر مسند زورور دي چي تر څو پوري تابعي يا تبع التابعي ته حديث پوره پوره واضح سوي نه وي نو دوي يې پر سر نه اخلی نو دستي وايي دي داسي وايي دا چي دوي (تابعي يا تبع التابعي) يې پر اوږو اخلي او ځان ته يې منسوبه کوي نو ددې دا معني چي داحديث دوي ته پوره پوره واضح سوي دئ سل په سل کي يې يقين دي که پوره واضح نه وي نو دوي دا دخپلو اوږو څخه غورځوي وهغه چاته چي دوي دکوم چا څخه اخيستي وي لکه په بلاغت کي چي قرزويني وايي قال السکاکي داهغه وخت وايي چي کله په يو خبره کي ضعف وي مراسيل دمن دون الصحابه مقبول دي په يوه حواله تر مسند هم زورور دي ليکن امام شافعي رحمه الله مراسيل نه قبلوي مګر ديو څو خلګو

مراسيل قبلوي لكه دسعيد بن المسيّب رحمه الله مراسيل قبلوي دي وايي ما دسعيد بن المسيب دمراسيلو تفتيش وكړ ما وكتل ټولو مسانيد په سند رسيدلي وختل لهذا ځکه دا قبلوم:

يوسل او اوم سبق

دعبارت ترجمه: **والمسند اقسام مسند** دري قسمه دي، اول متواتر: **المتواتر دي، وهو ما يرويه قوم لا يحصى عددهم:** متواتر هغه حديث دئ چي يو قوم به دهغه روايت کړي وي داسي قوم چي عدد به ددوي نه شمارل کيږی، **ولا يتوهم تو اطؤهم على الكذب لكثرتهم وعدالتهم وتباين اماكنهم:** توهم به نه کيږی چي دوي دي اتفاق کړي وي پر کذب باندي ځکه توهم نه کيږي چي دوي ډير دي دوي عادلان دي ددوي ځايونه متباين دي، ويدوم **هذالحد الى ان يتصل برسول الله ﷺ** دغه حد به چليدلی وي تر دې پوري چي متصل به وي په رسول ﷺ باندي په هره هره زمانه کي به قوم دومره وي چي تعداد به يې نه شمارل کيږي توهم داتفاق ددوي پر کذب باندي به نه راځي ولې دوي ډير دي عادلان دي ځاي يو نه يې مختلف دي دا قوم به تر دغه اندازي پوري وي چي تر رسول الله ﷺ پوري به رسيږي ودغه ته موږ متواتر وايو که ذاسي نه وي بيا متواتر نه رته ويل کيږي

والمسند اقسام الخ:

تشريح: مرسل ختم سو مسند شروع سو مسند داصولينو په اصلاح هغه حديث ته وايي چي انقطاع پکښی نه وي يعني راوي نه وي کاټ سوي مسند پر درې قسمه دئ ١- متواتر ٢- مشهور ٣- خبر واحد اول متواتر دي متواتر معني پر لپسي الله جل جلاله فرمايي اِنَّا اَرْسلنَا رُسُلَنَا تَتْرًا موږ خپل پيغمبران پر لپسيَ در استولي دي، مشهورمعنی مستفيض مستفيض معنی شائع ، شائع معنی مشهور سوي منتشر سوی ، ا حاد دوحدت څخه دي وحدت معنی يو :

لايُحصى عددهم: لاندي ناكت وايي هذا شرط عندالبعض والجمهور ليس عندهم شرط هذا:

تشريح: دلته څو مذاهب دي ١- بعض علماء وايي په خبر متواتر كي به كم ازكم څلور كسان وي دوي قياس كوي پرشهودالزنا باندي په زنا كي به كم ازكم څلور ګواهان وي لكه څلور ګواهان چي راسی بيا يقين راځي نو په متواتر كي به هم څلور كسان وي بيا نو يقين فائده ٢- بعض علمار وايي په متواتر كي به كم ازكم پنځه كسان وي دوي وايي څه وخت چي دقاضي مخته څلور ګوهان دزنا پيش سي قاضي يې مُزكي ته حواله كړي مزكي ودوي ته ګوري بيا قاضی ته وايي دا خلګ دشريعت مطابق دي دا خلګ رښتيا وايي نو دا پنځه كسان سول نو په متواتر كي به هم پنځ كسان وي ٣- بعض علماء وايي په متواتر كي به كم ازكم اووه كسان وي دوي قياس كوي پر هغه كاسه باندي چي سپي خوله پكښي وهلی وي كاسه به سړي اووه واره پريمينځي بيا يقين دصفا ولي راځي ۴- بعض علماء وايي دوولس كسان به وي دوي قياس كوي پر دوولس مياشتو دالله جل جلاله په نزد داشهر مقدار اثناً عَشَرَ شَهْرًا دئ ۵- دبعض علماء په نزد په متواتر كي اويا كسان شرط دي واختار موسی قومه سبعين رجلا :

۶- بعض علماء وايي عدد به يې نه شمارل كيږي دايو مذهب لا هم صحيح نه دئ صحيح مذهب دادئ چي عقل تاته وويل چي دومره خلګ راجمعه سوي دي دمختلفو ځايو دي دا دومره خلګ به څنګه پرکِذب باندي راجمعه سي بس دغه تواتر دئ په خبر متواتر كي شرط دادئ چي سر او پای به يې وی ركم وي سر به يې دپای ركم وي پای به يې دسر ركم وي ما بين به يې دطرفينو ركم وي دنبی عليه السلام په زمانه كي چي صحابه دي هغه به هم ډير وي بيابه هغه ډير وي دتبع التابعين په وخت كي به هم ډير وي دسلف الصالحين په وخت كي به هم ډير وي چي تر تا رارسيږي هم به ډير وي **وذالک مثل نقل القران والصلواة الخمس واعداد الركعات ومقادير الزكواة وما اشبه ذالک.**

مثال دمتواتر لکه نقل دقران نقل په تواتر سره سوي نقل دپنځو لمونځو په تواتر سره سوي اعداد الرکعات په تواتر سره سوي مقادیر الزکوة په تواتر سره سوي او هغه چي دده سره مشابه وي.

وانه يوجب علم اليقين بمنزلة العيان علما ضروريا خبرمتواتر علم يقين فائده کوي په منزلة دعيان لکه په سترګو چي معلوميږي او بدهي علم فائده کوي علم نظري نه فائده کوي دبعض علماء په نزد باندي علم نظري فائده کوي ليکن دجمهور علماء په نزد باندي علم بدهي فائده کوي علم نظرى استدلال غواړى نظر غواړي نظر او استدلال دارکم جوړيږي ويل يې داخبره يقينى ده ولي دا په تواتر ثابته ده اوکوم شي چي په تواتر ثابت سو هغه به يقيني وي نو دا يقين ده صغرى او کبرى جوړه سوه وروسته تنبيه ورکول سوه لکين جمهور علماء وايي چي کوم شي په تواتر ثابت سو دا دليل نه غواړي.

المشهور : دويم خبر مشهور دئ بل نوم يې خبر مستفيض دئ، **وهو ماكان من الاحاد فى الاصل** دنبى عليه السلام څخه يوه او دوو صحابه روايت کړي وي دتابعينو په زمانه کي يا دتبع التابعين په زمانه کي دومره ډير و خلګو دغه ورايت رانقل کړي چي توهم نه کيږي چي دوي دي اتفاق کړي وي پرکذب باندي يعني په قرن اولى کي داحاد څخه نقل سوي په قرن ثاني او ثالث کي دتواتر څخه سي:

وهو ماكان من الاحاد فى الاصل :

خبر مشهور هغه دئ چي په قرن الصحابي کي داحاد څخه وي:

ثم انتشر : وروسته بيا منتشر سي خور سي **فصار ينقله قوم** : نو وګرځي داسي قوم يې نقل کړي:

لا يتوهم تواطؤهم على الكذب توهم نه کيږي چي دوي دي اتفاق وکړي پر کذب باندي وهم القرن الثاني ومن بعدهم دغه نو تابعين ا و تبع التابعين دي، **واولئك قوم ثقات ائمة لا يتهمون** دغه قوم (**قرن ثاني او ثالث** يوقوم دي ثقات دى ائمه دي دوي مُتهم نه دي په

کذب باندي، **فصار بشهاد تهم وتصديقهم بمنزلة المتواتر:** دغه خبر ددوي په ګواهي او په تصديق باندي وګرځي پر منزله دمتواتر : **حتى قال الجصاص انه احد قسمي المتواتر :** فائده يي داده چي جصاص ويلي دي چي دغه مشهور دمتواتر دقسمو څخه يو قسم دئ ، **وقال عيسى بن ابان يضلل جاحده ولا يكفر:** عيسى بن اٰبان ويلي دي چي دا ځان ته جلا قسم دئ دا دمتواتر قسم نه دئ عيسى بن ابان ويلي دي چي ددې مشهور ه منکر ګمراه دئ کافر نه دئ دابو بکر جصاص په نزد باندي کافر دئ ولی دمتواتر منکر دئ عيسى بن ابان وايي خبرونه درى دي يو هغه دي چي يقين فائد ه کوي هغه متواتر دئ او دوهم هغه دئ چي ظن فائده کوي هغه واحد دئ دريم هغه دئ چي طمانية فائده کوي هغه خبر مشهور دئ ابو بکر جصاص وايي خبرونه دوه دي يو هغه دي چي يقين فائده کوي بل هغه دي چي دظن فائده کوي:

دابوبکر جصاص په نزد خبر مشهور منکر کافر دئ دعيسى بن ابان په نزد منکر يې کافر نه دي او فتوی دعيسى بن اٰبان پر مذهب ده:

وهو الصحيح عندنا: دغه (اى ماقال عيسى بن ابان) صحيح دئ زموږ په نزد باندي، **لان المشهور بشهادة السلف صار حجة للعمل به بمنزلة المتواتر:** ځکه مشهور دسلفو په ګواهی باندي ګرځيدلی دي حجت دعمل په مشهور باندي عين متواتر نه دي په منزله دمتواتر دي **فصحت الزيادة به على كتاب الله تعالى** په مشهور باندي زيادت پر کتاب الله باندي صحيح دئ **وهو نسخ عندنا:** زموږ په نزد باندي دانسخه ده او په نسخه کي قانون دادئ چي نسخ او منسوخ به برابر وي په قوت کي يا به ناسخ تر منسوخ زورور وي په خبر مشهور کي يو قسم تواتر دئ او په کتاب الله کي هم تواتر دئ په دغه وجه پر ده باندي نسخه جائز ده ، **وذالک مثل زيادة الرجم** مثال دد غه زيادت لکه زيادت درجم په قران مجيد کي رجم نسته :

قران مجيد داسي وايي الزانية والزاني فاجلدو كل واحد منهما :

مأة جلدة رجم په حديث باندي ثابت دئ دغه حديث خبر مشهور دئ او په خبر مشهور باندي زيادت پر كتاب الله باندي جائز دئ **والمسح علي الخفين :**

مسح على الخفين خبر مشهور دئ ، په دې باندي زيادت دئ پر كتاب الله باندي كتاب الله وايي پښې پرې مينځي موږ وايو كه يې خفين په پښو وي بيا دې مسحه وكړي پر خفينو باندي، **والتابع فى صيام كفارة اليمين** دعبدالله بن مسعود قراءت دئ اول وار دا احاد ځخه وو بيا مشهور سو كتاب الله وايي فصيام ثلثة ايام عبدالله بن مسعود متابعات وراچولي دي، **لكنه لما كان من الاحاد فى الاصل ثبت به شبهة سقط بها علم اليقين :**

سوال: سوال دادئ چي دومره زورور دئ زيادت په جائز دي نو بيا يې منكر كافر ولي نه دئ دعلم يقين فائده ولي نه كوي دعلم طمانيه فائده كوي، جواب مګر دومره خبره ده هر كله چي په اصل كي داحاد ځخه وو نو په ده سره شبهه ثابته سوه په دغه شبهي سره علم اليقين ساقط سو، **وخبر الواحد** دريم خبر واحد دئ **وهو الذى يزويه الواحد او الاثنان فصاعدا بعد ان يكون دون المشهور والمتواتر:** خبر واحد هغه دئ چي يو يې رانقل كړي يا يې دوه رانقل كړي يا زيات يې رانقل كړي مګر دمشهور او دمتواتر ځاى ته به نه وي رسيدلي :

يوسل او اتم سق

وحكمه اذا ورد غير مخالف للكتابه والسنة المشهورة فى حادثة الخ :

تمهيد: خبر واحد معتبر دئ په اتو (٨) شرطو سره ځلور شرطونه په خبر كي دئ ځلور په مخبر كي دي :

دعبارت ترجمه: **وحكمه اذا ورد غير مخالف للكتاب :** حكم دخبر واحد دادئ چي كله واردسي مخالف به دكتاب ځخه نه وي اول شرط يې دادئ چي خبر واحد به دكتاب الله ځخه مخالف نه وي، **والسنة المشهورة** دويم شرط يې دادئ چي دسنة مشهوره ځخه به مخالف نه وي، فى حادثة لا تعمُّ بها البلوى : دريم شرط يې دادئ چي خبرواحد به په داسي حادثه كي

وما يظهر من الصحابه رضي الله عنهم الاختلاف فيها و ترک المحاجّه به : نه وي چي هلته عموم البلوى وي

ځلورم شرط يې دادئ خبر واحد به په داسي حادثه کي نه وي چي په هغه حادثه کي دصحابه اختلاف ښکاره سوي وي او يو هم په خبر واحد دليل نه نيسي که دغه ځلور شرطونه پکښي ورک وه بيا خبر واحد مقبول نه دئ مثال دهغه خبر واحد چي دکتاب الله څخه مخالف وي خبر واحد دادئ مَنْ مَسَّ ذَكَرَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ: کوم چا چي ذکر مسه کړي نو اودس دئ وکړي داخبرواحد دکتاب الله څخه مخالف راغلى دئ کتاب الله دا دئ فِيْهِ رِجَالٌ يُحِبُّوْنَ اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا په دې کي خلک پوره پاکي خوښوي دغه اية نازل دئ په استنجاء بالماء کي کوم څوک چي استنجاء بالماء کوي نو دا ممکنه نه ده مګر خامخا به فرج کر مسه کوي خبر واحد وايي ذکر مسه کول اودس ماتوي الله تعالى وايي:

داپول پاکي راولي خبرو احد دکتاب الله څخه مخالف دئ نو خبر واحد معتبر نه دئ مثال دهغه خبرواحد چي دسنة مشهور څخه مخالف وي :

خبر واحد دادئ قضى بشاهد ويمين نبى عليه السلام فيصله وکړه په شاهد او يمين سره مثال مدعي دئ ومدعي ته يې وويل ګواه هم راوله او قسم يې هم ورکړي داخبرواحد دخبر مشهور څخه مخالف دئ خبر مشهور دادئ البينةُ للمدعي واليمين على من انکر پر مدعي باندي صرف ګواهان وي قسم پر مدعي باندي نه وي دغه خبر واحد (قضي بشاهد ويمين) دخبر مشهور (البينة على لمدعي واليمين على من انکر) څخه مخالف دئ دغه خبر و احد موږ نه قبلوو ، مثال دهغه خبرو احد چي په داسي حادثه کي راغلى وي چي هلته عموم البلوى وي:

مثال لکه لمونځ ټولو صحابه وو لمونځ کولاى ټولو په جماعت باندي کوي يو صحابي وايي نبى عليه السلام چي به جماعت ته مخته سو نو بسم الله به يې په جهر (زوره) ويله دا لمونځ عموم البلوى ده ټولو کوي دايو ه بسم الله دنبي عليه السلام څخه جهرا واوريده بل يو هم په ټولو کي بسم الله دنبى ﷺ څخه جهرا نه ده او ريدلي دلته عموم البلوى دهبه کوم

ځای کي چي عموم البلوی وي هغه خبر مشهور دئ دصحابي خبر واحد دلته مقبول نه دئ مثال دهغه خبرواحد چي په داسي حادثه کي وي چي هلته دصحابه څخه اختلاف ښکاره وي او يوه هم دليل نوي په نيولي ښځه مينځه ده دمينځي دوه طلاقه دي يو نيم طلاقه نه دئ ځکه طلاق تجزي نه قبلوي زيد بن ثابت يو حديث پيش کړي هغه حديث دادئ الطلاق بالرجال دصحابه اختلاف دئ هغه دا دطلاق اعتبار دنر سره دئ که دښځي سره دئ عمر فاروق ﷺ عثمان ﷺ عائشه رضی الله عنها ددوي مذهب دادئ اعتبار دطلاق دنر سره دئ که نر غلام وو دوه طلاقه به ورکوي ښځه که مينځه وي که ازاده وي که نر ازاد و نودري طلاقه به ورکوي ښځه که مينځه وي که ازاده وي علی ﷺ عبدالله بن مسعود ﷺ ددوي مذهب دادئ اعتبار دطلاق دنساء سره دئ که ښځه مينځه وه دوه طلاقه يې دئ نر که هر شي وي که ښځه ازاده وه دري طلاقه يې دئ نر که هر شي وي په دغه خبر واحد کي دصحابه اختلاف ښکاره سو او يوه په دې باندي دليل نه دئ نيولي دغه ترک داحتجاج دلالت کوي پر دې باندي چي دا ثابت نه دئ او يا دا منسوخه دئ ،انه يوجب العمل بشروط تراعي في المخبر :

خبر واحد واجبوي عمل په داسي حال کي چي خبر واحد به مطلق وي په شروطو باندي دا سي شروط چي مراعت به وي په مخبر کي څلور شرطونه به په مخبر کي وي:

وهي اربعة: دغه شرطونه څلور دي، **الاسلام** اول شرط اسلا م به وي يعنی مسلمان به وي کافر به نه وي ولی کافر تقوّل کوي په نبی عليه السلام پوری دروا غ تړي:

والعدالة دوهم شرط عادل به وي فاسق به نه وي ولی فاسق سړي ددرواغو ډير خيال نه ساتي **والعقل الكامل :** دريم شرط عقل به يې کامل وي دچا چي عقل کامل نه وي هغه تميز نس کولای . **والضبط** څلورم شرط حافظه به يې قوی وي ولي دچا چي حافظه قوي نه وي هغه نيمه خبره راوړي نيمه نه راوړي، هر کله چي وجوب دعمل په خبر واحد باندي مشروط وو په څلورو شرطو باندي **فلايجب العمل بخبر الكافر** نو عمل واجب نه دئ دکافر په خبر باندي ولي اول شرط نسته چي هغه اسلام دئ **والفاسق:** دفاسق په خبر باندي عمل واجب نه دئ ځکه دوهم شرط نسته چي هغه عدالت دئ **والصبي :** دصبي په خبر عمل واجب نه دئ ځکه

دریم شرط نسته چي هغه عقل کامل دئ **والمعتوه** خبر د معتو به نه وي ځکه معتوه داسي دئ لکه کوچني کله خبره سمه کوي کله خرابه **والذي اشتدّت غفلته خلقة او مسامحة او مجازفة** خبر د هغه چا چي غفلت یې زیا ت وي از روئي خلقت یا خبره کوي مسامحة بې محله خبره کوي یعني عدم المبالات بالسهو والخطاء یا خبره کوي اټکلن دده په خبر باندي عمل واجب نه دئ ځکه ځلورم شرط نسته :

والمستور : متسور هغه دئ چي دده فسق او عدالت نه سره ښکاره کیږي **والمستور كالفاسق لا يكون خبره حجة في باب الحديث ما لم يظهر عدالته** :

مستور داسي دئ لکه فاسق خبر د مستور حجت نه دئ په باب د حدیث کي ترڅو پوري چي عدالت دده ښکاره سوي نه وي، **الا في صدر الاول على مانبين** : مګر د متسور خبر حجت دئ په اولو دروز مانو کي ولي په اولو د روزمانو کي عدالت غالبه وو فسق مغلوبه وو ددې زمانو وروسته فسق غالبه سو عدالت مغلوبه سو، **وروي الحسن عن ابى حنيفة** : حسن بن زیاد روایت کړي دامام ابو حنیفه څخه **انه مثل العدل فيما يخبر عن نجاسة الماء** :

مستور دعدل په شان دئ په هغه مسله کي چي دی خبر ورکړي دنجاسة الماء څخه : **وذكر في كتاب الاستحسان انه مثل الفاسق فيه وهو الصحيح** امام محمد رحمه الله په کتاب الاستحسان کي ذکر کړي دئ چي دغه مستور داسي دئ لکه فاسق او پر دغه باندي فتوی هم ده :

مثال زید راغلی یو ځای یو کډوه اوبه پرتې دي نوري نسته دلته مستور سړي هم سته دغه مستوره سړي که ږیره خریلي وو نو ښکاره خبره ده چي دا فاسق دئ که یې ږیره نه وه خریلي بیا دغه مستور الحال سړي وزید ته وویل داکډوه اوبه مرداري دي اودس مه په کوه امام صاحب وایي دی دعادل په شان دئ خبره یې ومنه بس اودس مه په کوه امام محمد رحمه الله وایي یادی داسي دئ لکه فاسق دده وخبري ته اعتبار نسته، **وقال محمد رحمه الله فى الفاسق يخبر بنجاسة الماء** : امام محمد رحمه الله ویلي دي په فاسق کي که فاسق خبر ورکړي دا وبو په نجاست سره، **انه يحكم السامع رايه** : حکم د فاسق دادئ چي خبره خو دی

ده سامع به پخپله رايه فيصله كوي، **فان وقع فى قلبه انه صادق يتيمم من غير اراقة الماء:** كه چيري دسامع په زړه كي داور ولويده چي داخبر صادق دئ نو سامع دئ تيمم ووهي داوبو دتويولو ضرورت نسته **فان اراق و تيمم وهو احوط للتيمم** كه چيري سامع اوبه توي كړي او بيا تيمم ووهي نو دغه فعل ډير احوط دئ دتيمم دپاره ، **وفى خبر الكافر والصبي والمعتوه اذا وقع فى قلب السامع صدقهم بنجاسة الماء يتوضا والا يتيمم :**

په خبر دكافر او كوچني او صبي كي چي كله دسامع په زړه كي واقع سي چي دوى رښتيا وايي په نجاست داوبو كي نو سامع دي اودس وكړي په اوبو باندي تيمم دي نه **وهي فان اراق الماء ثم تيمم فهو افضل** كه چيري سامع اوبه توى كړي او بيا تيمم ووهي نو دغه كار ډير افضل دئ .

يوسل او نهم سبق

دعبارت ترجمه: وفى المعاملات التى تنفک عن معنى الالزام كالوكالات والمضاربات والاذن فى التجارة : په معا ملاتو كي هغه معاملي چي جدا كيږى دالزامي معني څخه لكه وكالت مضاربت اذن فى التجارة **يعتبر خبر كُلِ مُمَيِّزٍ لعموم الضرورة الداعية الى سقوط سائر الشرائط** معتبريږي خبر دهر مُمَيِّز چي امتيازكولاى سي دهر مميز خبر معتبريږي دعام ضرورت دوجي داسي ضرورت چي داعى دئ وسقوط ته دباقي شرطو **فان الانسان قلما يجدُ المستجمع لتلک الشرائط** بيشكه انسان ډير كم داسي شخص پيدا كړي چي هغه به مستجمع ددغه شرائطو وي **يبعثه الى وكيله وغلامه** په داسي حال كي چي دغه انسان دغه شخص مستجمع واستوي وخپل وكيل ته يا غلام ته دغه فاسق چي سامع ته ور واستول سو دسامع سره سواى دفاسق بل داسي دليل نسته چي سامع عمل ورباندي وكړي او كه دلته شرائط معتبر وي نو به حرج راسي **ولا دليل مع السامع يعمل به سوي هذا الخبر :** دسامع سره دليل نسته چي سامع په هغه باندي عمل وكړي سوا دغه خبر :

ولان اعتبار هذه الشرائط دغه دويم دليل دئ پرسقوط دسائر الشروط باندي فان الانسان دا اول دليل دئ دلته فاد تعليل دپاره ده اى لان الانسان **ولان اعتبار هذه الشرائط** : ځكه

اعتبار ددغو شرائطو چې دغه شرائط به مغتبر وي **ليترجح جهة الصدق فى الخبر**: ددې دپاره چې دصدق وجهت ته ترجيح ورکول سې په خبر کې **فيصلح ان يكون ملزما**: ددې دپاره چې خبرد اصلاحيت پيدا کړي چې ملزوم سي:

وذالک فيما يتعلق به اللزوم: اعتبار دشرائطو په هغه ځای کې کيږی چې دلزوم تعلق وي په هغه سره **فَشَرَطْنَاهَا فِيْ أُمُورِ الدِّيْنِ** موږ دغه شرائط شرط کړل دحديثو په سلسله کې **دون ما لا يتعلق به الزوم من المعاملات**: نه په هغه معاملاتو کې چې دلزوم تعلق دهغه سره نسته يعني موږ دغه شرائط نه دي شرط کړی په هغه معاملاتو کې چې دلزوم څخه خالي دي، **وانما اعتبر خبر الفاسق فى حل الطعام الخ** دفاسق سړي خبره په امور الدين کې نه قبليږي سوال زه به يې دروښيم ددين په معاملاتو کې به دفاسق سړی خبره قبوله وي مثال په دفتر کې ډوډی پرته ده او فاسق سړی په دفتر کې ناست دئ زه دفتر ته ورغلم ما ډوډی را واخسته هغه فاسق سړي ماته وايي دا ډوډی حرامه ده زه ورته وايم ولی حرامه ده فاسق سړي وايي دا ډوډی هغه فلانکي سودګر راوړې دی چې روزي پيدا کوي نو په سود يې پيدا کوي شريعت وايي دلته دفاسق سړي خبره معتبريږ. حلت او حرمت امور دين دي شريعت وايي دلته دفاسق خبره معتبره ده لهذا تاسو دفاسق خبرپه امور دين کې ولی قبلوي مصنف جواب ورکوي وايي **وانما اعتبر خبر الفاسق فى حل الطعام وحرمته وطهارة الماء ونجاسته اذا تايّد باكبر الراي**: بيشکه خبره همداسي ده خبر دفاسق معتبر ده په حل دطعام کې چې دا طعام حلال دئ او په حرمت دطعام کې چې دا طعام حرام دئ او په طهارت داوبو کې چې دا اوبه پاکي دي او په نجاست داوبو کې چې دا اوبه مرداری دي داخبر دفاسق معتبر دئ هغه وخت چې اکبر الرای تائيد وکړي يعني فاسق ماته وويل چې دا ډوډی حرامه ده نو اوس به زه دماغ جنګومه که دماغ وويل چې دا ډوډی حرامه ده اوس به زه دفاسق خبره منم که دماغ نه وويل چې دا ډوډی حرامه ده نو اوس به زه ډوډی خورم وچ په وجه دفاسق خبرمعتبر نه دئ دفاسق دخبر سره اکبر الراي ورسره ده که ته وايي اکبر الرای په اوريدلو سره کيږی لهذا دفاسق خبر خو تا واوريدی ولی اکبر الرای په اوريدو سره کيږي لهذا دفاسق خبر داکبرالرای سره تا خو معتبر کړي ولی دفاسق خبر په اوريدي کې معبتر وي جواب موږ وايو که دا معتبر نه سي بيا خرج راځي ولی بزرګان نيکان اولياء دا ټوله ورځ په

دين اخته وي بهر ډيرنه ګرځي فاسقان دي ګرځي په دې شيانوباندي فاسقان ډير پوهيږي چي دا حلاله ده دا مردار ه ده كه سړي وفاسقانو ته بلكل اعتبار ورنه كړي بيا به په حلال ا او مردار مونږ څوک خبروي دخبر ذريعه به ودريږي لهذا لږ اعتبار وفاسقانو ته سته پاته سو ددين په مسئله كي دحديث په مسئله كي دفاسق هيڅ ضرورت نسته :

لان ذالک امرُ خاصُ لا يستقيم تلقيه من جهة العول: ځكه دا يو امر خاص دئ چي ددې اخذ نه كيږي دعادلانو دطرفه ، **فوجب التحرى فى خبره** تحرى واجب ده دفاسق په خبر كي للضرورة، دضرورت په خاطر **وكونه مع الفسق الخ** ګواهي وركول جلا شی دئ ګواهي قبلول جلا شی دئ دفاسق سړي ګواهي به سړي اخلي اكبر الراى به سه وي دفاسق ګواهي به سړي نه قبلوي فاسق اهل دشهادت دئ دی چي دكوم شي خبر تاته ډركوي نو ته به اكبر الراى ورسره وي كړي لكه قاضي چي يې مُزكي ته حواله **كړي وكونه مع الفسق اهلا للشهادة** ددې وجي چي فاسق سره دفسقه اهل دشهادت دئ چي زما دپاره كوم شي حرام بولي دځان دپاره يې هم حراموي:

وانتفاء التهمة بالاصل ممكن: تهمت نسته **حيث يلزمه بخبره ما يُلزَمُ غيرهُ** ولی دی پرما په خپل خبر هغه لازموي هغه شي چي دی يې پر غير لازموي : **الا ان هذه الضرورة غير لازمة** مګر دغه ضرورت لازم نه دئ **لان العمل بالممكن** : ځكه عمل په اصل باندي ممكن دئ داصل څخه استسحاب الحال مراد دئ **وهو ان الماء طاهر فى الاصل**:

دغه اصل دادئ چي اوبه پاكي دَي په اصل كي **فلم يجعل الفسق هدرا** : فسق هدر نسو يعني بلكل نه ونړيدی **ولا ضرورة فى المصير الي روايته فى امور الدين اصلا** هيڅ ضرورت نسته په مصير كي دده وروايت ته په امور ددين كي بلكل : **لا ن فى العدول من الرواة كثرة** ، ځكه په عدول من الرواة كي كثرت دي **وبهم غنية** په دوي باندي زه مستغني يم **فلا يصار اليه بالتحرى** :

په امور ددين كي دفاسق وخبر ته په تحري باندي دتللو ضرورت نسته :

وفى المعاملات التي تنفکُ عن معنى الالزام الخ :

تشريح: په خبر کي يو شرط داوو چي عادل به وي يعني دشريعت مطابق به وي بکر دزيد غلام دئ يا يې وکيل دئ يا يې مضارب دئ مضاربت ديته وايي چي زيد وبکر ته ووايي چي زما پيسې په مضاربت واخله عمرو ړيره خريلې ده زيد وعمرو، ته وايي چي ورسه زما غلام ته ووايه چي زيد وايي تاته د تجارت اجازه ده يعني اذن فى التجارة يا ورته ووايه چي زيد وايي هغه زما پيسې په مضاربت واچوه يا ورته ووايه چي زيد وايي هغه زما دکيس وکيل ته يې، په دغو ټولو صورتو کي دفاسق خبره قبوله ده اوس سوال دادئ چي په دغه معاملاتو کي تاسو دفاسق خبره قبلوي عمرو ړيره خريلي ده عمرو وبکر ته خبر ورکړ بس دغه خبر قبليږي او تاسو په خبر کي داشرط لګولي وو چي عدالت به پکښي وي تاسو ولي په معاملاتو کي دفاسق خبر قبلوي دغه سوال کيدی مصنف به ددغه سوال جواب ورکړي جواب يو څه هغه معاملې دي چي په هغه کي الزام راځي يو څه هغه معاملې دي چي په هغه کي الزام نه راځي دفاسق خبره په هغه ځای کي معتبره ده چي هلته الزام نه راځي دفاسق خبره نه ده معتبره په هغه ځای کي چي هلته الزام راځي مثال زيد وويل زما پر بکر باندي لس زره روپۍ باندي دي عمرو ړيره خريلې ده وي ويل وو دزيد پر بکر باندي لس زره روپۍ باندي دي دالس زره روپۍ پر بکر باندي لازمي سوي په کوم ځای کي چي الزام راولي هلته دفاسق خبري ته اعتبار نسته پاته سو هغه معاملات چي دالزام څخه خلاص وي مثال زيد وبکر ته وايي زما مضارب سه دی وايي زه مضاربت نه کوم زيد ورته وويل زما وکيل سه هغه ورته وايي زه وکالت نه کوم زيد وايي ته زما غلام يې ما تاته دتجارت اجازه کړې هغه وايي زه يې نه کوم ګوره دلته الزام نسته په کوم ځای کي چي الزام وي هلته موږ دعدالت شرط لګولي دئ يو سړي فاسق دئ دنبی عليه السلام قول يې رانقل کړ دی واي دالله حبيب وايي تاسو به دمابنام پنځه رکعته کوي که يې موږ ورسره ومنو نو دا پنځه به پر موږ لازم کړي پاته سو دغه معاملات لکه وکالت مضاربت، اذن فى التجارة دغه معاملات دالزام څخه خلاص دئ دلته دفاسق خبره قبليږي که ته وايي تاسو ګرسره دفاسق خبره ولی قبلوي لزوم دئ نه راولي ولي

دفاسق خبره قبلیږي ددې دپاره دحسامی مصنف دوه دلیله وایي یو دلیل یې دادئ که موږ یو څوک بل چاته استوي چې ته ورته ووایه ته زما وکیل یې یازما مضارب یې یا تاته په تجارت کي اذن دئ اوس به نو موږ هرځای په بزرګ پسي ګرځو دومره بزرګان له کومه دي دلته عموم ضرورت دئ موږ وفاسق ته ضرورت لرو معاملات زیاتره فاسقان کي بزرګان ددین په کارو مصروفه وي دویم دلیل شریعت دا رباندي ضروري کړي چې خامخا به عادل وي خو به حرج راسي لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ فِى الدِّيۡنِ مِنۡ حَرَجٍ عدالت ددې دپاره شرط د ئ چې دصدق خوایي پر کذب باندي درنه سي چې روښتني دئ د رواغ نه وایي دا دصدق خواته چې موږ ترجیح ورکوو ددغه دپاره چې دی لزوم را وړلي که یې دصدق خوا درنه نسي بیا لزوم نه راولي چې دصدق خوا یې درنه سي نو لزوم راولي :

یوسل او لسم سبق

واما صاحب الهوی الخ :

تمهید: زندګي دوه قسمه ده ۱- چې زړه دي غواړي ۲- چې رب یې درڅخه غواړي:

زړه چې یې غواړي: معنی دخپل خواهش مطابق زندګي تیرول چې زړه څه درته وایي هغه کوي زړه وایي غیبت وکړه ته غیبت وکړي زړه وایي سود وخوره ته سود وخوري زړه وایي زنا وکړه ته زنا وکړي ودغه ته دزړه غوښتلو والا وایي :

چې رب یې درڅخه غواړي: معني دالله دفرامینو مطابق ژوند تیرول ودیته رب درب په غوښتنه زندګي تیرول وایي:

صاحب الهوی : چې دهوا ډک وي دخواهشاتو بنده وي ددغه سړي خبر څنګه دئ صاحب الهوی تقول کوي تقول معني پر نبی علیه السلام باندي په زوره خبري تړي ولي دی دخواهشاتو مطابق چلیږي بل هم دغه خواهشاتو ته رابولي مثلا یو سړي تیوي ګوري دلائل هم ور باندي وایي دلائل چې دی وای په نقل باندي به یې وایي خو نقل نسته نو دی به

مجبوره سي دځان څخه په دخواهشاتو مطابق درواغ وتړي پر نبی علیه السلام باندي، لهذا دصاحب الهوی روایت معتبر نه دئ:

دعبارت ترجمه: **واما صاحب الهوی**: کوم څوک چي دهوا ډک وي صاحب د خواهشاتو وي **فالمذهب المختار انه لا تقبل روايةِ من انتحل الهوی ودعا الناس الیه**:

نو مذهب مختار دادئ چي نه قبلیږي روایت دهغه چا چي دین یې خواهشات ګرځولي وي او باقاعده خلک وخواهشاتو ته رابولي ددغه صاحب الهوی خبر نه دئ **قبول لان المحاجة والدعوة الی الهوی سبب داعٍ الی التّقَول** ځکه دلیل نیول دصاحب الهوی او دعوت دصاحب الهوی چي دئ خلک رابولي خواهشاتو ته دا نو یو داسي سبب د ئ چي سړي مجبوره کوي وتقول ته :

فَلا يُؤتَمَنُ علی حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم اعتبار نه ورکول کیږي پر حدیث د رسول الله **واذا ثبت اَنَّ خبر الواحد حجة الخ** که دخبرواحد اوقیاس ټکر راغلی چا ته به ترجیح ورکول کیږي نو موږ وایو راوي ته کتل کیږي کوم راوي چي خبر رانقل کړي دئ دغه راوي که داجتهاد درجي ته رسیدلي وو په دغه صورت کي ددغه راوي خبر به پر قیاس مقدم وي قیاس به پاتیږي ددغه په خبر باندي به عمل کیږي که راوي په عدالت مشهوره دئ په ضبط هم مشهور ه دئ بزرګ هم دئ دالله جل جلاله ولي هم دئ صحابي رسول هم دئ لیکن معروف بالاجتهاد نه دئ په دغه صورت کي قیاس پر خبر باندي مقدم دئ ولي ځکه تقریبا غالبا روایت بالمعنی کیږي بالالفاظ ډیر کم دئ سیوا دقرا ن څخه مثال داراوي دئ دنبی علیه السلام څخه یې خبره واوریده دهغه څخه یې معني وفهموله دغه معنی دي په خپلو الفاظو باندي تعبیر کړي ودیته ویل کیږي روایت بالمعنی ولی داحبّه بعینه هغه الفاظ نه دي کوم چي دالله حبیب ویلي دي دغه سړي چي دنبی علیه السلام څخه نقل کوي کیدای سي چي ده دي هغه معني نه وي فهمولي مجتهد سړي هغه معني دستي فهموی لهذا ددې وجي قیاس ته دده پر خبر تر جیح ورکوي مګر که راوي روایت وکړ معروف بالاجتهاد نه دئ اوس که ده دیوه قیاس مخالفت کړي دئ مګر دبل قیاس مخالفت ده نه دئ کړي په دغه صورت کي دده وخبر ته ترجیح ورکوو ولي په یو طریقه دطریقو دقیاس سره

موافقه لري اوس كه ده انسداد دباب الراي كولي دقياس درووازه يې بندوله په دغه صورت كي ددغه راوي وخبرته اعتبار نسته: :

دعبارت ترجمه: واذا ثبت خبر الواحد حجة:

هركله چي داثابته سوه چي خبرو احد حجت دئ، **قلنا ان كان الرواي معروفا بالفقه والتقدم في الاجتهاد:** نو مونږ وايو كه چيري راوي معروف بالفقه وو او تقدم في الاجتهاد وو ، **كالخلفاء الراشدين:** لكه خلفاء راشدين (ابو بكر وعمر وعثمان وعلى رضي الله عنهم) داڅلور سره مجتهدين دي، **والعبادلة الثلثة :**

(عبدالله بن مسعود وعبدالله بن عباس وعبدالله بن عمر) رضي الله عنهم كه په فقه كي عبادله ثلثه ذكر سوه عبدالله بن عمر عبدالله بن مسعود عبدالله بن عباس دا ورڅخه مراد دي كه دمحدثدينوپه اصطلاح كي عبادله ثلثه ذكر سول په دغه صورت كي دعبدالله بن عباس پرځاى عبدالله بن زبير مراد دئ :.

دبعضو علماؤ په نزد باندي عبادله څلور دي هغه د ادي ۱-عبدالله بن عباس ۲-عبدالله بن عمر ۳- عبدالله بن مسعود ۴- عبدالله بن عمرو بن العاص دا هم په مجتهدينو كي دي: وزيد بن ثابت ومعاذ بن جبل وابو موسى الاشعري وعائشة رضوان الله عليهم اجمعين وغيرهم (ا بن كعب وابى الدرداء) ممن اشتهربالفقه والنظر : هغه صحابه چي په فقهه باندي مشهوره دي او باقاعد دا خلگ يو نظر لري **كان حديثهم حجةً يترك به القياس :** حديث ددوي حجت دئ او په دې باندي قياس پريښودل كيږي **خلافا للمالك رحمه ا لله** امام مالك رحمه الله مطلقا قياس مقدم بولي تر خبر واحد بس كه دهر چا خبر واحد دقياس مخالف سو نو حديث متروک دئ: **وانكان الراوي معروفا بالعدالة والحفظ والضبط دون الفقه مثل ابى هريرة وانس بن مالک رضى الله عنهما** كه چيري راوي معروف وو په عدالت او حفظ او ضبط باندي دون الفقه لكه ابى هريرة وانس بن مالک **فان وافق حديثه القياس عمل به :** كه چيري حديث دراوي دقياس سره موافق وو نو به په دغه باندي عمل كيږي **وان خالفه لم يترک الا لضرورة وانسداد باب الراى:**

ک چیري حدیث دقیاس څخه مخالف وو نو نه پریښنول کیږي حدیث مګر پریښنودل کیږي دضرورت دوجي هغه ضرورت دادئ چي د قیاس درګاه بندیږی ، **وذالک مثل حدیث ابی هریرة فی المصرّاة** مثال لکه حدیث دابی هریره په مصرّاة کي نبی علیه السلام فرمایي دمصرة په باره کي مصراة هغه اوښه یا هغه غوا یا بزه چي تا خرڅه کړه په غولانځه کي اوښه یا غوا یا بزه دابه یې څو ورځي وساتله چي غولانځه به یې دشیدو ډکه سوه بیا به یې بازارته بوتله خرڅه به یې کړه مشتري به ورته وویل دا دڅو ورځو دئ ده به ورته وویل دا دنن سهار دي حالانکي دغه شیدې په غولانځه کي ددرو ورځو دي سړي چي به دا واخیسته نو دوهمه ورځ به یې دومره شیدې نه کولې لکه په اوله ورځ نبی علیه السلام وایي که دهر چا سره دغه رکم چم وسو دمصراة رکم نو دی دي دا بیرته ور واپس کړي که یې خوښه نه ده که یې خوښه ده بیا دئ واپس کوي نه :

که ده ورواپس کړه هغه شیدې چي ده خوړلې دي دهغه په بدله کي دې یوه کاسه.خرما ورکړی قیاس خودا دئ چي کوم شي تا خوړلي دئ یا هلاک کړی دئ اوسورته وګوره دا دذوات الامثال څخه که دذوت القیم څخه که دذوات القیم څخه دئ نو قیمت به ورکوي که دذوات الامثال څخه دئ نو مثل به ورکوي اوسکه شیدې دذوات القیم څخه دئ نو نبی علیه السلام به ویلی وای قیمت ورکړه که دذوات الامثال څخه دئ نونبی علیه السلام به ویلي وای چي دغه شیدې د اوښي یا دغوا یا دبزې ده ورکړي : پاته سو یوه کاسه خرما دا نه مثل دئ نه یې قیمت دئ وایي کیدای سی چي دایي په هغه شپو کی قیمت وو نوموږ وایو که داقمیت وای بیا به نبی علیه السلام ویلی وای چي نن ددغه تي دومره قیمت دئ که شیدې زیاتي سوي بیا به قیمت ورسره زیاتیږي مګر دالله حبیب وایي چي وچ په وچه به یوه کاسه خرما ورکوي نو ددې څخه دا معلومه سوه چي دغه حدیث منسوخه دئ ولی دقیاس مخالف دئ **وان کان الراوي مجهولا لا یعرف الا بحدیث او بحدیثین مثل وابصة بن معبد وسلة بن المحبة** که چیري راوي مجهوله وو محدیثین یې نه پېژنی مګر پیژندل کیږي په یوه حدیث باندي یا په دوو حدیثو باندي یعني یو حدیث یې روایت کړي یا یې د وه حدیثه راویت کړي وي لکه وابصه بن معبد او سلمه بن المحبة که دغه رکم وو چي په یوه حدیث یا په دوو حدیثو پیژندل کیدی نو پنځه صورتونه دي، **فان روي عنه السلف وشهدوا بصحته :** اول

قسم که چیري د غه راوي مجهول څخه سلفو روایت کړي وو مثلا امام بخاري رحمه الله روایت ورڅخه کړي او دوي ګواهي ورکوي په صحت ددغه مجهول چي داصحیح دئ **وسکتوا عن الطعن صار حدیثه مثل حدیث المعروف:** دوي ساکت دئ د طعن څخه طعن نه وربانديکوي که دوی روایت هم ورڅخه کوي او دوي ساکت هم دي د طعن څخه په ده کي نو دغه حدیث دده ګرځي لکه معروف حدیث یعني دغه مجهول دئ دی لکه معروف **وان اختلف فیه مع نقل الثقات عنه:** دریم قسم که چیري اختلاف وو په حدیث دده کي خو سره ددې ثقاتو نقل ورڅخه کړي دئ فکذلک عندنا: داهم زموږ په نزد باندي معتبر دئ **وان لم یظهر من السلف الا الرد لم یقبل حدیثه وصار مستنکرا:**

څلورم قسم که چیري د سلفو څخه نه وو ښکاره سوي مګر رد ول طعن ښکاره وو نو حدیث دراوي مجهول مقبول نه دئ او وګرځیدی مستنکر قابل داستدلال نه دئ وانکان لم یظهر حدیثه فی السلف ولم یقابل برد ولا قبول:

پنځم قسم که که چیري حدیث په سلفو کي ښکاره سو ی نه وو او مقابله یې نه په رد سره سوي نه په قبول سره سوي **لم یجب العمل به لکن العمل به جائز** نو په دغه حدیث باندي عمل واجب نه دئ خو عمل باندي جائز دئ **لان العدالة اصل فی ذالک الزمان** ځکه عدالت اصل دئ په هغه زمانه کي **حتی ان روایة مثل هذالمجهول فی زماننا لا یحل العمل به لظهور الفسق:**

فائده: یې داده زموږ په زمانه کي ددغه مجهول په مثل باندي یو سړي روایت وکړ عمل په جائز نه دئ ځکه فسق ښکاره سو ظاهره سو فصار المتواتر یوجب علم الیقین : متواتر علم یقین واجبوي علم یقین دیته وایي چي د جانب مخالف احتمال نه لري:

والمشهور علم الطمانینة مشهور علم طمانیه واجبوي علم طمانینه دیته وایي چي د جانب مخالف احتمال لري خو جانب مخالف یې مرجوح وي جانب موافق یې راجح وي یعني په سل فیصده کي ۹۸ فیصده یقین وي دوه فیصده ګمان وي:

دطمانيه او دظن فرق دادئ په طمانينه كي جانب مخالف مرجوح وي خو ډير زيات مرجوح وي په ظن كي جانب مخالف مرجوح وي خو ترهغه بل په مرجوحيت كي يو څه كم وي مثال ستا پر يو ه واقعه باندي اته نوي(٩٨) فيصده يقين دئ، صرف دوه فيصده جانب مخالف رائي دغه طمانينه دئ، كه ستا نوي فيصده يقين وو لس فيصده جانب مخالف دئ دغه ظن دئ:

وخبر الواحد غالب الراي:

خبر واحد واجبوي علم دغالب الراى يعني ظن، **والمستنكر منه يفيد الظن:** مستنكر دخبر واحد وهم فائده كوي:

وان الظن لا يغني من الحق شيئًا وَهم دحق هيڅ فائده نه كوي **والمستتر منه فى حيز الجواز للعمل به دون الوجوب:** مستتر دخبر واحد په دې باندي عمل كول جائز دى واجب نه دئ:

يوسل يولسم سبق

دعبارت ترجمه: **ويسقط العمل بالحديث اذا ظهر مخالفته قولا او عملا من الراوي بعد الرواية :** عمل كول په حديث باندي ساقط دئ كه چيري دحديث مخالفت قولا يا عملا دراوي څخه ښكاره سو وروسته تر روايت

ويسقط العمل بالحديث الخ :

تشريح : مثلا دايو راوي دئ دايي روايت كړي دئ بله ورځ چي راوي ته ګوري دخپل روايت خلاف فتوى يې وركړي وي يا ده روايت كړي دئ مګر موږ چي دده عملي زندګي ته ګورو دده دروايت مطابق نه ده او ده ته چي ګوري ټول شرطونه پكښى پوره دئ نو ښكاره خبره ده چي دغه روايت موضوع بولي له ځانه جوړ كړي حديث يې بولي ځكه دى ددغه راوي خلاف فتوى وركوي او خلاف عمل كوي اوكه يې موضوع نه بولي نو منسوخ يې بولي او يا راوي چي روايت كوي او دې يې په قصه كي نه دئ نوفسق پكښى دئ حديث

کمزوري بولي نو فاسق سو د فاسق سړي خبر معتبر نه دئ او يا دئ سړي حديث روايت کړي دئ مګر نن يې هير دئ ضبط او اتقان نه لري په دغه ټولو صورتو کي عمل دده په روايت باندي ساقط دئ:

دغه راوي چي دروايت خلاف فتوی ورکوي نو موضوع يا يې منسوخ بولي يا روايت کمزوري بولي نو فسق پکښي راغلی يا يې هير دئ نو ضبط نه لري دغه ټول مشروط دئ بعدالرواية يعني دغه کار ونه به په راوي کي وروسته تر روايت وي مګر که دغه رواوي دا کارونه کوله قبل الرواية مثال يو راوي فتوی ورکوي څو وخت بعد دغه راوي يو روايت وکړي:

اوس دغه روايت دراوي دفتوی مخالفه د ئ ګور ه دلته فتوی مخته ده روايت وروسته دئ په دغه صورت کي دغه حديث مقبول دئ، :

دعبارت ترجمه: **او من غيره من ائمة الصحابه والحديث ظاهر لا يحتمل الخفاء عليهم ويُحمل على الانتساخ :**

يا غير دراي چي هغه عبارت دئ دائمه صحابه څخه دوی قولا او عملا دحديث مخالفت کوي او حال دا چي حديث ښکاره وو دحديث دخفاء احتمال پر دوي باندي نه وو چي پر دوي دئ حديث خفی سي ولی د غه حديث حمل کيدای پر منسوخ باندي:

او من غيره من ائمة الصحابة :

تشريح: غټ کُبّار صحابه مجتهدين صَحابه ددغه روايت قولا او عملا مخالفت کوي نو دغه خبر غير مقبول دئ مګر يو شرط پکښي دئ هغه دا چي دغه روايت دده به دوي ته ښکاره پروت وي دوي (صحابه) ددغه راوي دحديث خلاف فتوی ورکوي:

واختلف فيما اذا انکره المروي عنه :

دعبارت ترجمه: اختلاف سوی دئ په هغه صورت کي چي مروي عنه (شيخ) انکار کړي وي **قال بعضهم يسقط العمل به :**

بعضي وايي عمل کول ورباندی ساقط دئ، **هو الاشبه :**

دغه قول اشبه دئ يعني مفتي به دئ بس عمل ختم سو :

وقد قيل ان هذا قول ابی يوسف رحمه الله خلافا لمحمد : په تحقيق سره ويل سوي دي چي دغه قول (بس عمل ختم سو) دامام ابي يو يوسف رحمه الله دئ خلافا لمحمد رحمه الله دده په نزد باندي عمل نه دئ ساقط :

اوس راسه دغه اختلاف په حقيقت کي پر بل اختلاف مبني دئ :

په اصل کي دامام ابو يوسف رحمه الله او دامام محمد رحمه الله بل ځای کي اختلاف دئ دغه اختلاف پر هغه باندي موقوفه دئ ، **وهو فرع اختلافهما فی شاهدين شهدا علی الارضی بقضية :**

دغه اختلاف فرعه داختلاف ده چي دوی دوو اختلاف کړي په دوو ګواهانو کي چي دواړه ګواهي ورکړي علی القاضي دا ګواهي به وي په يو قضيه باندي چي تا دافيصله کړې ده ، وهو لا يذكرها : دقاضي دغه قضيه يادونه ده ، **قال ابو يوسف لا تقبل** امام ابو يوسف رحمه الله ويلي دانه ده قبوله ، **وقال محمد تقبلُ :** امام محمد رحمه الله ويلي د ا قبوله ده ، زيد قاضي دئ دعمر او بکر سره دعوی ده په يو شي کي زيد فيصله وکړه دعمرو په باره کي عمرو بله ورځ راولاړ سو وقاضي ته يې وويل قاضي صاحبه هغه فيصله چي تا زما په حق کي وکړه هغه نه ده عملی سوي قاضی صاحب ورته وايي هغه قضيه چی ما ستا په باره کی فيصله وکړه هغه زما په ياد نه ده عمرو ولاړي دوه ګواهان يې را وستل دادوه ګواهان قاضي صاحب ته وايي تا زموږ په مخ کي دعمر په باره کي فيصله وکړه امام ابو يوسف رحمه الله وايي که دقاضي خپله فيصله ياده نه وه نو دا به نه قبلوي چي هر څومره ګواهان وي بيرته به

دسره محکمه چليږی امام محمد رحمه الله وايي دا مقبوله ده نو قاضي داسی سو لکه هغه شيخ :

واختلف فيما اذا انکر ه المروي عنه الخ :

تشريح: مثلا داراوي دئ دايي روايت دئ دغه راوي دغه روايت ددغه شيخ څخه کړي دئ کرار ماشيخ ته وويل چي دغه راوي دغه روايت ستا دخولي څخه رانقل کړي ته څه پکښي وايي شيخ وايي دا درواغ وايي بس دغه روايت ختم سو يا شيخ وايي زما په يادنه دي چي دی دئ زما شاګردوي دئ ګر سره زما شاګر نه دئ په دغه دواړو صورتو کي روايت ختم سو دريم صور ت ماشيخ ته وويل دغه راوي ستا څخه دغه روايت کوي شيخه ته څه پکښي وايي شيخ وايي کيدای سی چي دغه راوي دغه روايت او ريدلی وي خو زما په ياد نه دئ په دغه دريم صور ت کي اختلاف دئ امام ابو يوسف رحمه الله وايي دغه روايت يې نه قبلوو امام محمد رحمه الله وايي قبلوو يې :

والطعن المبهم لا يوجد جرحا فی الراوي :

دعبارت ترجمه: طعن مبهم نه واجبوي جرحه په راوي کي **کما لا يوجبه فی الشاهد:** لکه طعن مبهم چي جرحه نه واجبوي په شاهد کي **ولايمنع العمل به :** عمل په دغه حديث باندي منعه نه دئ :

عمر دزيد ګواه دئ بکر وايي دا ستاګواه نه منم که ته وايي ته يې ولي نه مني بس نه يې منم ولي داسم سړي نه دئ **الا اذا وقع مفسرا بما هو جرح متفق عليه** مګر که طعن واقع سو مفسد په هغه څه باندي چي هغه جرحه متفق عليه ده يعني واقعي جرحه وي :

بس وايي ددغه راوي راويت نه منم که ته وايي داولي نه مني دی وايي بس نه يې منم ولي داسم سړي نه دئ پايځې يې په پښو کي دئ ږيره يې خريلې ده لهذا دا فاسق دئ مثلا داسي جرحه يې پيش کړه لهذا دا روايت نه منم ، **ممَن اشتهر بالنصيحة والاتقان دون التعصب والعداوة من ائمة الحديث :**

داجرحه به هغه جارح کړي وي چي دی به په خیرخواهي سره مشهوره وي او دی به په ضبط سره مشهوره وي نه په تعصب او عداوة سره دتعصب او دعداوة والا جرحه مقبوله نه ده هغه من عبارت دئ دمن ائمة الحدیث څخه:

اولطعن المبهم لا یوجب جرحا فی الراوي الخ :

تشریح: جرحه مبهم نه ده معتبره دا یو راوي دئ روایت یې وکړ بل مولوی را ولاړ سو وایي دا روایت نه منم که ته ورته ووایي مولوي صاحب ولي دانه مني مولي صاحب وایي بس دانه منم ځکه دا اسم سړي نه دئ:

یوسل دولسم سبق

وهذه الحجج التي سبق وجوهها من الکتاب والسنة :

دعبارت ترجمه: دغه دلائل چي تیر سول چي کتاب الله دئ ا وسنة رسول دئ، **لا تتعارض فی انفسها وضعا ولا تتناقض** په خپل ځان کي حقیقة تعارض نه لري او نه تناقض لري **لان ذالک من امارات العجز، تعالی الله عن ذالک:** ځکه دغه دعجز دعلاماتو څخه دئ او الله جل جلاله د دغه څخه پاک دئ **وانما یَقَعُ التعارض بینهما لجهلنا بالناسخ والمنسوخ :**

بیشکه خبره همدا سي ده تعارض د دلائلو په مینځ کي واقع کیږي د دې وجې چي موږ جاهله یو په ناسخ او منسوخ باندي اول وار مصنف دمعارضي حکم بیانوي **وحکم المعارضة بین الایتین المصیر الی السنة :** د دوو ایاتو په مینځ کي تعارض راغلی د دې حکم دادئ چي ولاړ به سي وحدیث ته حدیث به خپله تعارض ورختم کړي مثال الله جل حکم وکړ ﴿فَاقْرَءُوْا مَاتَیَسَّرَ مِنَ القرانِ﴾ تاسو به وایاست هغه قران چي اسانه وي امر دوجوب دپاره راغلی دئ قران به وایي نو معنی دا که امام وي که دامام شاته په امام پسي ولاړ وي خامخا به قران وایي بل ایة کي الله جل جلاله حکم کړي دئ ﴿وَاِذَاقُرِءَ القُرْانُ فَاسْتَمِعُوْالَهُ وَاَنْصِتُوْا﴾ : څه وخت چي قران ویل کیږي نو تاسو غوږ ورته ونیسي او تاسو به چوپ سي موږ ته دانه

رامعلومیږي چي کوم یو مخته دئ او کوم یو وروسته دئ ، دغه دواړه ایتونه متعارضان دي نو موږ به دجابر رضی الله عنه او دابو هریرة رضی الله عنه حدیث ته ولاړ سو دري حدیثونه دي دغه حدیثونه دایتو په مینځ کي معارضه ختموي یو حدیث دادئ انما جعِلَ الامام لیُؤتَمَّ بِه امام د دغه دپاره دئ چي په ده پسي اقتداء وسي اِذَا کَبَّرَ فَکَبِّرُوْا چي امام تکبیر ووایي نو تاسو به هم تکبیر وایاست وَاِذَا رَکَعَ فَارْکَعُوا چي دی رکوع وکړي نو تاسو هم رکوع وکړی واذا قَرَءَ فَانْصِتُوْا چي کله دی تلاوت شروع کړی نو تاسو چوپ سي دغه حدیث موږ ته وایي چي رایه ددغه ایة (وَاِذَا قُرِءَ القرانَ فَاسْتَمِعُوْا لَهُ وَانْصِتُوْا) ده په بل حدیث کي راځي من کان له امامٌ فقراءة الامام له قراءةٌ کوم چا لره چي امام وي نو دامام قرات دده دپاره قراءت دئ په بل حدیث کي راځي واذا قُرِءَ فانصتوا :

هغه وخت چي دقران تلاوت شروع سي نو تاسو چوپ سي دایاتو چي کوم تعارض وو حدیثو ته ولاړو تعارض یې راختم کړ :

وبین السنتین المصیر الی القیاس واقوال الصحابة ددوو سنتو په مینځ کي تعارض راغلی بعضی علماء وایي اثار صحابه مقدم دي نو به دوی ته ځي بعضي علماء وایي قیاس مقدم دئ دحسامي مصنف خپله رأیه ودغه ته ورکړي ده چي قیاس ته به ځي **علی الترتیب فی الحجج ان امکن** :

په دلائلو کي چي کوم ترتیب دئ دهغه مطابق به ځي که چیري مصیر ممکن وی مثلا اول کتاب الله دئ دوهم سنت دئ د نبی علیه السلام څخه صلوة الکسوف رانقل دئ یوه چي رکوع وکړه دوي یې سجدي وکړي حضرت عائشه رضی الله عنها وایي مانبی علیه السلام ولیدی څلور یې رکوع وکړي څلور یې سجدې وکړي یعني یو وار به یې رکوع وکړه بیا یې رکوع و کړه موږ چي وکتل صلوة الکسوف کتې متې لمونځ دئ او په لمانځه کي یوه رکوع کیږی دوي رکوع نه کیږي نو قیاس دغه تقاضا کوي چي یوه رکوع دي وسي نه دوي زموږ احناف په صلوة الکسوف کي دیوې رکوع قائله دي مالکیه شافعیه ددوو رکوع قائله دي :

قاعده : **اذا تعارضا فتساقطا** څه وخت چي تعارض راسي نو تساقط راسي چي تساقط راسي نو مجبوره يې چي بل ځای ته به ځي **لان التعارض لما ثبت بين الحجتين تساقطا** : ځکه تعارض هر کله چي ثابت سي په مينځ کي د حجتينو نو دواړه حجتين ساقط سي **لاندفاع كل واحدة منهما بالاخرى** ولي هر يو د دغه دواړو څخه دفعه سي په هغه بل باندي :

فيجب المصير الى مابعد هما من الحجة نو ته به ځي وهغه دليل ته چي وروسته دئ تر دوي دواړو يعني چي هر دليل وي هغه ته به رجوع کوي **وعند تعذر المصير اليه يجب تقرير الاصول** په دوو سنتو کي تعارض راغلی نو ولاړ به سي قياس ته که په دوو قياسو کي بيا تعارض سره راغلی لاندي بل شي نسته اوس به سړي څه کوي نو اوس به تقرير الاصول کوي تقرير الاصول معنی ابقاء ما کان علی ماکان مثال لکه حمار (خر) په حمار کي دصحابه داقوالو تعارض راغلی يوه يو حديث پيش کړ بل يوه بل حديث پيش کړ يوه وويل دخره پس خور ده مرداره ده بل وويل دخره پس خور ده حلاله ده کرار په دو حديثو کي تعارض راغلی ويل يې درځي قياس ته ولاړ سو خو قياس هم متعارض دئ ولی که دده پس خورده دده پر خوله ورقياس کړي نو پاکه ده اوکه پس خورده دده پر شيدو ور قياس کړي نو ناپاکه ده ولي شيدې يې مرداري دي نو پس خورده يې هم مرداره ده يو قياس وايي پاک دئ سي بل قياس وايي ناپاکه دئ سي که دغه ځای ته ګوري چي غوښه يې مرداره ده او دسپي غوښه هم مرداره ده نو دي نجس سو مردار سو که دغه ځای ته وګوري چي دی داسي دئ لکه پيشو هر ځای ګرځي طواف کوي نو حلاله دي سي دپيشو غوښه هم مرداره ده او دسپي غوښه هم مرداره ده نو دی نجس سو مردرا سو که دغه ځای ته وګوري چي دی داسي دئ لکه پيشو هر ځای ګرځي طواف کوي نو حلاله دي سي دپيشي غوښه هم مرداره ده دخره غوښه هم مرداره ده دسپي غوښه هم مرداره ده دپيشي غوښه هم مرداره ده ته چي مرداري ته ګوری وايي پس خورده دي هم مرداره سي وبل مرداري ته چي يې وګوري وايي حلاله دي سي مګر دی دومره نه ګرځي لکه پيشي چي ګرځي دغه پوره علت پکښی نسته خو حديثين پکښي متعارض دي اوس به موږ تقرير الاوصول کوو په دارکم داوبو پاکي يقيني ده ده چي خوله پر کښيښودل موږ يقني داسي نه سو ويلي چي دامرداري دي ولي اوبه په اصل کي پاکي دي او يقيني حلالي نه سو ورته ويلي نو به دا مشکوکی سي نو به اودس هم تازه کړي او تيمم به

هم ووهي كه خالي تيمم ووهي كيداى سي چي پاكي دي وي كه خالي اودس وكړي كيداى سي چي دده پس خورده مرداره وي، **كما في سؤر الحمار:** لكه دخره په پس خورده كي:

لما تعارضت الدلائل: دلائل متعارض دي، **ولم يصلح القياس شاهدا:** قياس پريوه دليل نسي جوړيدا :

لانه لا يصلح لنصب الحكم ابتداء ځكه قياس صلاحيت نه لري چي حكم دي ابتداءً ثابت كړي پر بل به يې قياسوي : **قيل ان الماء عرف طاهرا في الاصل** ويل سوي دي چي اوبه پاكي دي په اصل كي:

فلا يتنجس بالتعارض په تعارض باندي نه مرداريږي **ولم يزل به الحدث** په دغه اوبو سره نه دئ زائل حدث **فوجب ضم التيمم** نو واجب دئ ضم كيدل دتيمم واوداسه ته **سمي مشكوكا** ودغه ته مشكوك وايي :

فصل في المعارضة:

وهذه الحجج التي سبق وجوهها من الكتاب والسنة لا تتعارض الخ:

تشريح: ددوو دليلو داسي مقابله راغله چي يوه دبل ممانعت او تدافع يې كوله ودغه مقابلې ته معارضه وايي داغه خو وجه ده وريځي ته الله جل جلاله عارض ويلي دي ﴿فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ قَالُوا هَٰذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا﴾:

عارض وويل عارض يې ځكه ورته وويل وريځ دلمر رڼا منعه كوي موږته يې رڼا نه را ايله كوي :داغه وجه ده موانع ته عوارض وايي په اصطلاح كي معارضه ديته وايي دوه برابر دليلونه سره راغلل يو دبل ضد حكم ثابتوي په يوه محل كي وو په يوه وخت كي وو بس ودغه ته معارضه وايي دوه دليلونه به سره برابر وي كه دواړه سره برابر نه وه مثلا يو كتاب الله دئ بل قياس دئ ددوي دوو په مينځ كي معارضه نسي راتلاى ځكه يو (كتاب الله) زورور دئ بل (قياس) كمزروي دئ يا يو كتاب الله دئ بل سنة دئ يو،زوررو دئ تر هغه بل

لهذا ددوي معارضه نسي راتلای دمعارضي دوهم شرط دادئ چي پر یوه محل به راغلی وي په جلا جلا محل کي به نه وي مثال دا یو اجنبي ښځه ده دزید خور ده أُحِلَّ لَكُمُ النِّسَاءُ تاسو ته ښځي حلالي سوي دي دغه اجنبيه تاته حلاله ده دغه خور په دغه ايات کي حرامه ده ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهٰتُكُمْ وَبَنٰتُكُمْ وَاَخَوٰتُكُمْ﴾ په یو محل کي حلت راغلی دئ په بل محل کي حرمت راغلی دئ دلته دوه محله دي ودیته معارضه نه وايي دمعارضي دريم شرط دادئ په یوه وخت کي به وي یو وخت په شرابو کي حکم داوو چي حلال دئ یو وخت په شرابو کي داسي حکم راغلی چي شراب حرام دي ودیته معارضه نه وايي ولي وختونه يې سره جلا دي دمعارض څلورم شرط دادئ چي یو دلیل به دبل دلیل ضد ثابتوي که یو حلت ثابتوي بل اباحت ثابتوي ودیته معارضه نه وايي یو دلیل دبل دلیل ضد نه ثابتوي ولي حلت او اباحت سره ضد نه دي که یوه دلیل حرمت ثابتوي بل دلیل حلت ثابتوي ودغه ته معارضه وايي:

موږ دحسامي مصنف ته وويل الله جل جلاله يو حکم دبل حکم معارض ولي راوړي:

نو خودی به ووايي چي الله جل جلاله قدرت نه درلودي العياذ بالله چي معارض رانه وړي:

یا الله جل جلاله په خبر نه وو نعوذبالله جعل هم عجز دئ نه راوړل هم عجز دئ دغه دواړه عجز ثابتوي او حال دا چي الله جل جلاله دعجز څخه پاک دئ:

نو معارضه که سره په دنیا کي نسي کیدای نو دی وايي حقیقية معارضه نسته ولي حقیقي معارضه عجز ثابتوي معارضه صوري معارضه ده که ته وايي صوري معارضه ولي راغله نو موږ وايو صوري معارضه ددئ وجي راغله چي موږ په ناسخ او منسوخ علم نه لرو دغه معارضه زموږ دوجي راغلی ولي موږ ته تاريخ مجهول موږ ته نه معلوميږي چي کوم یو ناسخ او کوم یو منسوخ دئ:

دغه صوري معارضه دالله جل جلاله دطرفه نه ده راغلی:

يو سل او ديارلسم سبق

دعبارت ترجمه که چيري تعارض واقع سو په مينځ کي ددوو قياسينو **لم يسقطا بالتعارض ليجب العمل بالحال:**

نه ساقط کيږي په تعارض باندي چي عمل واجب سي په استصحاب الحال باندي **بل يعمل المجتهد بايهما شاء بشهادة قلبه :** بلکي دمجتهد خوښه ده چي په هر يوه باندي عمل کوي خو شرط دادئ چي تحری به کوي **لان القياس حجة يعمل به اصاب المجتهد الحق به او اخطأ :**

ځکه قياس حجت دئ په قياس باندي به عمل کيږی مجتهد حق ته رسيدل او نه رسيدل دابرابر دئ په حق دعمل کي **فكان العمل باحدهما وهو حجة اطمانّ قلبه اليها بنور الفراسة اولى من العمل بالحل:** نو عمل په يوه دقياسينو او حال دا چي دغه قياس حجت دئ داسي حجت چي دمجتهد زړه ودغه حجت ته دا به مطمئن وي په نور دفراست باندي دغه عمل په يوه دقياسينو ډير اولی دئ تر دې چي عمل وسي په استصحاب الحال باندي،

واما اذا وقع التعارض بين القياسين الخ :

تشريح: که ددوو قياسينو په مينځ کي تعارض سره راغلی بيا به سرې څه کوي په تعارض کي قانون دادئ اذا تعارضا فتساقطا چي کله تعارض سره راسي نو دوي سره ځغار کړي نو ته به لاندي راسی په هغه باندي به عمل وکړي په کتاب الله کي به تعارض راغلی وی نو سنة رسول ته لاړ سه په سنة رسول کي به تعارض راغلی وي نو به قياس اقوال الصحابه يااحوال الصحابه ته و لاړ سي په اقوال الصحابه کي به تعارض راغلي وي نو به قياس ته و لاړ سي په قياس کي چي تعارض راسي اوس به څه کوي تر دې لاندي بل دليل نسته لهذا په قياس کي داقاعده نه چليږي اذا تعارضا فتساقطا که ته وايي بل دليل سته هغه دليل دادئ استصحاب الحال موږ وايو استصحاب الحال داحنافو په نزد باند دليل نه دئ ادله ټول څلور دي ١- کتاب الله ٢- سنة رسول ٣- اجماع: قياس :

۱-ابنه كه ددوو قياسينو تعارض سره راغلی اوس به مجتهد څه كوي نو ته به وايي دمجتهد خوښه ده كه پر هر قياس باندي عمل كوي نو عمل دي وكړی كه په هر قياس باندي په قياسينو كي عمل وكړي نو تر استصحاب الحال ښه د ه كه دمجتهد سره نور الفراسة ورسره وو بيا په طريقه اولی تر استصحاب الحال ښه دئ كه ته وايي نور الفراسة څه شي دئ نونه به ورته ووايي چي دی به دوه قياسه جوړ كړي بيا به په هر قياس كښي تحری وكړي وروسته تر تحری بيا چي هر قياس ته دماغ ولاړی نو په هغه باندي به عمل وكړي غيرتر تحری او سوچ قياس تر استصحاب الحال اولی دئ بيا چي تحری سوچ پكښي وكړی په طريقه اولی تر استصحاب الحال اولی دئ لهذا مجتهد ته اختيار دئ كه په هر قياس باندي عمل كوي مگر شرط د ا تحری به كوي ليكن امام شافعي رحمه الله وايي تحری ته هيڅ ضرورت نسته كه په هر قياس عمل كوي ولی مجتهد كله يصب وي كله يخطی وی كه يصيب وي هم ثواب لري كه يخطي وي هم ثواب لري داحنافو په نزد باندي به تحري كوي :

واما اذا وقع التعارض بين القياسين :

اوس به مصنف دتعارض په شرائطو باندي شروع وكړی :

ثم التعارض انما يتحقق بين الحجتين بايجاب كل واحد منهما ضد مايوجبه الاخری فی وقت واحد فی محل واحد مع تساويهما فی القوة تعارض ددوو دليلينو په مينځ كي متحقق كيږي يو شرط يې دادئ (بايجاب كل واحد مهما ضد ما يوجبه الاخری)

چي هريو ددليلينو څخه به ضد دهغه بل ثابتوي:

كه دواړو حلت ثابتوي بيا تعارض نسته كه دواړه حرمت ثابتوي بيا تعارض نسته.

لهذا يو به حلت ثابتوي بل به حرمت ثابتوي و دوهم شرط يې دادئ (فی وقت واحد) چي په يوه وخت كي به وي شراب ووته ولي ډير دليلونه مخته دشرابو پر حلت باندي وه وروسته دشرابو پر حرمت راغله وختونه يې سره جلا وه :

دریم شرط یې دادئ فی محل واحد) چې په یوه محل کې به وي یو اية به په خور کې حرمت ثابتوي بل اية به په خور کې حلت ثابتوي بیا نوتعارض دئ که یو اية په خور کې حرمت ثابتوي او بل ایة په اجنبیه کې حلت ثابتوي نو تعارض نسته ولی محل یو نه دئ :

ځلورم شرط یې دادئ (مع تساويهما فی القوة)) چې دواړه به په قوت کې سره برابر وي یعني که یو قطعي وو هغه بل به هم قطعي وي که یو ظنی وو هغه بل به هم ظني وي احترازي مثال یو ځای عام خاص عنه البعض دئ بل ځای خاص دئ عام خص عنه البعض ظني دئ خاص دکتاب الله قطعي دئ عام خص عنه البعض دخاص من کتاب الله مقابل نسي جوړیدای :

یوي خواته مفسر ولاړ دئ بلي خواته محکم ولاړ دئ محکم او مفسر مقابل نسي جوړیدای معارضه حقیقي نسی کولای ولی محکم پر زورور دي یوې خواته مؤول دئ بلي خواته عام ولاړ دئ عام پر مؤول زورر دئ ولي مؤول ظنی وي :

یوې خواته کتاب الله ولاړ دئ بلي خواته سنة رسول ولاړ دئ : ددوي په مینځ کي تعارض نه راځي یوې خواته خبر واحد ولاړ دئ بلي خواته خبر مشهور ولاړ دئ دا مقابله نسي کولای یوې خواته خبر مشهور ولاړ دئ بلي خواته خبر متواتر ولاړ دئ دا مقابله نسي کولای :

یو سل او څورلسم سبق

واختلف مشائخنا فی ان خبر النفي هل یعارض خبر الاثبات ام لا :

دعبارت ترجمه : زموږ بزرګانو اختلاف کړي دئ په دې کي چې خبر دنفي معارض جوړیدای سي دخبر الاثبات سره که نسي جوړیدای امام کرخي رحمه الله و ایي هرځای به په مثبت باندي عمل کوو عیسی ابن ابان وایي په دواړو به عمل کوو ولي خبر دنفي او اثبات سره کار نه لري صرف هغه شرطونه به پکښي وي لکه عدالت سو همداسي نور شرطونه **واختلف عمل اصحابنا المتقدمین فی ذالک:** زموږ دمتقدیمنو اصحابو عمل مختلف دئ په دې کي **فقد روي ان بَرِیرة اعتقت وزوجها عبد وروي انها ا عتقت وزوجها حرُ مع**

اتفاقهم على انه كان عبدا دلته احناف په مثبِت باندي عمل کوي دحضرت عائشې رضى الله عنه څخه روايت دئ بريرة رضى الله عنها چي ازاده سوه اوس خاوند يې غلام وو که ازاد وو يو روايت وايي غلام وو نو نافى سو بل روايت وايي ازاد وو نو مثبِت سو سره ددې چي اتفاق درواياتو پر دې دي چي زوج دبريره غلام وو لهذا يو روايت دادئ چي خاوند يې غلام وو بريره ازاده سوه بل روايت دادئ چي خاوند يې ازاد وو بريره ازاده سوه نبى عليه السلام ودېته اختيار ورکړ ورته وې ويل که پر دغه ميړه کښېنې او که نه کښېنې امام شافعي رحمه الله دلته عمل په نافي باندي کوي موږ عمل په مثبِت باندي کوو اوس دادئ معنى که ښځه ازاده سوه او ميړه يې غلام وو اوس وښځې ته اختيار دئ که ميړه يې ازاد وو بيا وښځې ته اختيار نسته موږ وايو که ښځه مينځه وه بيا ازاده سوه او ميړه يي ازاد وو هم ودېته اختيار سته که ميړه يې غلام وو بيا په طريقه اولى اختيارورته سته موږ په هر صورت کي اختيار ورکوو او دى (امام شافعي رحمه الله) صرف عبد په حالت کي اختيا ورکوي دبريرة رضى الله عنها دميړه په باره کي دوه روايتونه راغلل يو دا چي خاوند يې غلام وو بل روايت دا چي خاوند يې ازاد وو امام شافعي رحمه الله په نافي باندي عمل کوي موږ په مثبت باندي عمل کوو **فاصحابنا اخذوا بالمثبت :** زموږ درې ملګرو اخذ کړي دئ په مثبِت باندي چي هغه خبر دحريت دئ :

مسئله داده ښځه ازاده سوه ميړه يې غلام دئ که ازاد دئ ودېته اختيار دئ

واختلف مشائخنا فى ان خبر النفي هل يعارض خبر الاثبات ام لا الخ :

تشريح دايو شي دئ همدا رکم داشي پريږده نوى شي مه ورته ثابتوه ودېته خبر النافي وايي دايو شي دئ پر دې شي باندي يو زيات شي ثابت کړه ودېته خبر المُثبِت وايي :

دخبري خلاصه داده: خبر پر دوه قسمه دئ ١- خبرا لنافي ٢- خبرالمثبت دايو شي دئ امر زائد ورته ثابت کړه ودېته مثبِت وايي امر زائد مه ورته ثابتوه ودېته نافي وايي دنافي څخه دلته مرا د دادئ چي زائد شي مه ورته ثابتوه مثال زيد غلام وو ا وس زه وده ته زيات شي ثابتوم زه وايم نن زيد ازاد دئ ودغه ته مثبِت وايي زيد پرون غلام وو نن هم غلام دي

ودغه ته نافي وايي ولي حريت ورته ثابت نسو عيسى ابن ابان داحنافو داضولو لوى ملا دئ عيسى ابن ابان وايي نافي او مثبت دواړه معارض سره جوړيداى سي احناف كله په نافى عمل كوي كله په مثبِت باندي عمل كوي امام كرخي رحمه الله وايي نافى دمثبِت مقابل نسي جوړيداى په هر ځاى كي به په مثبِت باندي عمل كيږي ليكن خبر داسى نه ده لكه امام كرخي رحمه الله چي وايي ،خبره داسي ده لكه امام عيسى ابن ابان رحمه الله چي وايي :

احناف كله په نافي باندي عمل كوى كله مثبِت باندي عمل كوي مصنف حسامي دري مثالونه راوړي كله به په نافي باندي عمل وي كله به په مثبت باندي عمل وي :

دعبارت ترجمه: **وري ان رسول الله ﷺ تزوّج ميمونة وهو حلال:** ديزيد بن الاصم څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ دميمونة رضى الله عنها سره نكاح وكړه حال دا چي نبى عليه السلام حلال وو يعني داحرام څخه خارج وو **وروى انه عليه السلام تزوجها وهو محرم:** دابن عباس څخه روايت دئ چي نبى عليه السلام دميمونه سره نكاح وكړه حال دا چي نبى عليه السلام په احرام كي وو، **واتفقت الروايات انه لم يكن فى الحل الاصلى :** عام روايات متفق دي پر دې باندي چي عليه السلام په حل اصلى كي نه وو **الذي يكون قبل الاحرام بل فى الاحرام:** هغه چي وي قبل الاحرام بلكي وي په احرام كي لهذا احرام امر اصلي دئ حل طاري امر عارضي دئ **فجعل اصحابنا العمل بالنافي اولى** زموږ اصحاب عمل په نافى باندي اولى بولي من العمل **بالمثبت وقالوا فى الجرح والتعديل ان الجرح اولى وهو المثبت** دتزكي په صورت كي موږ عمل په مثبت باندي كوو ګوره دا ګواه پيش سو دوه مُذكيان دي يو جرحه كوي وايي په ده كي دا عيب سته هغه بل وايي عيب نسته :

دعبارت ترجمه: **وقالو فى الجرح والتعديل :** دوي وايي په جرحه او تعديل كي يو جرحه كوي بل تعديل كوي ان الجرح اولى جرحه اولى ده تر تعديل وهو المثبت حال دا چي دا مثبت دئ :

وروي ان رسول الله ﷺ تزوج ميمونة رضی الله عنها وهو حلال، وروي انه علیه السلام تزوجها وهو محرم

تشريح: نبی علیه السلام دحضرتِ میمونة رضی الله عنها سره نکاح وکړه میمونه ام المؤمنین ده دلته دوه روایته دي یو روایت دادئ چي نبی علیه السلام دمیمونه سره نکاح وکړه حال دا چي نبی علیه السلام داحرام څخه خارج وو دوهم روایت دادئ چي نبی علیه السلام په احرام کي وو بیا یې نکاح وکړه اوس راسه احرام ئې خلاص کړ بیا یې نکاح وکړه دامثبِت دئ ځکه دا دلالت کوي پرا مر عارض علی الاحرام باندي دوهم روایت دادئ چي نبی علیه السلام دمیمونه سره نکاح وکړه حال دا چي نبی علیه السلام په احرام کي وو دغه روایت نافی دئ زموږ اصحابو عمل په نافي باندي اولی ګرځولي تر دې چی عمل په مثبت باندي وسي لهذا زموږ داصحابو په نزد باندي نکاح داحرام په حالت کي جائز ده وطي کول حرام دي:

یو سل اوپنځلسم سبق

والاصل فی ذالک ان النفي متی کان من جنس ما یعرف بدلیله:

دعبارت ترجمه: **قاعده** په جنس ددغه مسائلو کي داده چي نافي وي دداسي جنس څخه چي پیژندل کیږي په دلیل باندي یعني مبنی به وي پر دلیل باندي دایې یو قسم **اوکان مایشتبه حاله:** او یا نافي مشتبه الحال وي، **لکن عرف ان الراوي اعتمد علی دلیل المعرفة** خو موږ ته دا معلومیږي چي راوي اعتماد کړي دي پر دلیل باندي دایې دوهم قسم **کان مثل الاثبات:** نو نفي دئ مثل الاثلات یعني نافي دمثبت معارض جوړیږی **والا فلا** که چیري نفي دارکم نه وي نو بیا نا فی داثبات معارض نسي جوړیدای په دوو صورتو کي نافي دمثبت معارض جوړیدای سي خو وجه دترجیح به پیدا کوو:

فالنفي في حدیث بریرة رضی الله عنها مما لا یعرف الابظاهر الحال:

حديث كي نا في دهغه كورنى. څخه دئ چي نه پيژندل كيږي په دليل باندي مګر پيژندل كيږي په استصحاب الحال باندي ياره ا وس غلام دئ ولي پخوا غلام وو دلته موږ ونافي ته اعتبار نه وركوو ومثبت ته اعتبار وركوو **فلم يعارض الاثبات** نو نافي دمثبت معارض نه دئ **وفى حديث ميمونة مما يعرف بدليله وهو هيأة المحرم** : دميمونة رضى الله عنها په حديث كي نا فى دهغه كورنى. څخه دئ چي پيژندل كيږي په دليل باندي **وهو هيأة المحرم:** هغه دليل هيئت دمحرم دئ اوس راسه نافي او مثبت دواړه په دليل باندي ثابت دي :

نو معارضه راغله اوس به وجه ترجيح پيدا كوو موږ چي وكتل په يوه خوا كي راوي ابن عباس رضي الله عنه دئ وبلي خواته راوي يزيد بن الاصم ﷺ دئ يزيد بن الاصم پول صحرائى سړي دئ چيرته ابن عباس او چيرته يزيدن بن الاصم موږ تر جيح پيداكړه دابن عباس قول ډير زورور دئ ديزيد بن الاصم تر قول لهذا يو مرجح پيدا سو نو موږ په نافي باندي عمل كوو :

والاصل فى ذالک ان النفي متى كان من جنس ما يعرف بدليله الخ

تشريح دليل النافي دمثبت معارض جوړيداى سي كه نسي جوړيداى نن قاعده به په دي كي وايو نافي پر دري قسمه دئ يو قسم هغه دئ چي اعتماد يې كړي وي پر دليل باندي دوهم قسم هغه دئ چي مشتبه الحال وي يعني داسي معلوميږي چي ده اعتماد كړي دئ پر دليل باندي دريم قسم هغه دئ چى صرف يې اعتماد پر استصحاب الحال كړي وي په اولو دوو قسمو كي نافي دمثبِت معارض جوړيداى سي دريم قسم دنافي دمثبت معارض نسي جووړيداى اوس راسه نافي دمثبِت معارض سونه به وجه دترجيح ورته پيدا كوي نو كله يونافي ته ترجيح وركوو كله ومثبِت ته ترجيح وركوو كه نافي ترجيح پيدا كړه نو په نافى باندي به عمل كوو كه مثبِت ترجيح پيدا كړه نو په مثبت باندي به عمل كوو مخته دوه مثالونه تير سول په يوه كي موږ په مثبت باندي عمل وكړ په يوه كي موږ په نافي باندي عمل وكړ ولي دلته يوځاى نافي ترجيح پيدا كړي بل ځاى مثبت ترجيح پيد ا كړي:

فوقعت المعارضة معارضه واقع سوه **وجعل رواية ابن عباس انه تزوجها وهو محرم اولى من رواية يزيد بن الاصم** دابن عباس دغه روايت (انه تزوجها وهو محرم) وګرځي دی اولی دیزید بن الاصم تر روایت : **لانه لا يعدله في الضبط والاتقان** ځکه یزید بن الاصم دابن عباس سره برابر نه دئ په ضبط او اتقان کي ، يو سړي وايي دغه اوبه حلالي دي بل سړي وايي دا اوبه مردراي دي که نافي دئ که مثبت دئ دواړه پر دليل ولاړ دي ما يوه ته وويل اوبه ولي پاکی دي دليل يې ووايو وي ويل دغه اوبه مادڅا څخه په لوښه کي پخپل لاس راوړلي دا اوبه حلالي دي ګوره نافي دليل ووايو ماهغه بل ته وويل اوبه ولی مرداري دي دی دليل وايي وي ويل مابزه وليده چي بولي يې پکښي وکړي ګوره مثبت دليل وويلي اوس به وجه دترجيح پيدا کو هغه وجه دترجيح داده چي دنافي خبره به منو ولي اوبه په حقيقت کي پاکي دي اوس که ته وايي داخو تا په استصحاب الحال ګوزاره وکړه او تا وويل استصحاب الحال دليل نه دئ مونږ وايو استصحاب الحال دليل نه دئ مګر مرجح جوړيداى سي :

دعبارت ترجمه: وطهارة الماء وحل الطعام والشراب من جنس ما يعرف بدليله دا ټول پيژندل کيږي په دليل باندي **مثل النجاسة والحرمة** لکه نجاست او حرمت يعني لکه نجاست او حرمت چي پيژندل کيږي په دليل باندي **فيقع التعارض بين الخبرين فيهما:**

واقع کيږي تعارض په مابين دخبر ينو کي چي خبر نافي او مثبت دئ فيهما : په اوبو او طعام کي **وعند ذالک يجب العمل بالاصل** ددغه تعارض په وخت کي عمل واجب دئ په استصحاب الحال باندی :

دخبري خلاصه داده امام کرخي رحمه الله وايي نافي دمثبت معارض نسي جوړيداى عيسى ابن ابان وايي نافي دمثبت معارضي جوړيداى سي او صحيح مذهب دعيسى ابن ابان دئ.

يوسل او شپږسم سبق

ومن الناس من رجح بفضل عدد الرواة :

دعبارت ترجمه: ځيني خلک (وهم اكثر اصحاب الشافي وعبدالله الجراجاني من اصحابنا وابو الحسن الكرخي رحمهم الله) هغه دي چي ترجيح ورکي، د رواتو عددته ، **لان القلب اليه اميَل** ځکه قلب و ديته(فضل عدد الرواة) ډير ميلان کوي، **وبالذكور والحرية في العدد** بل اعتبار په عدد کي ورکوي وذکور او حريت ته ، **دون الافراد** په افرادو کي اعتبار نه ورکوي چي يوې خواته يو ازاد دئ وبلي خواته يو غلام دئ په عدد کي اعتبار ورکوي چي يوې خواته دوه ازاد وي وبلي خواته دوه غلامان وي **لان به تَتِمُ الحجةَ في العدد** ځکه په ده (اى بوصف الذكورة والحرية) سره په عدد کي پوره کيږي ثابتيږي حجت **واستدل بمسائل الماء :** او استدلال کوي په مسائل الماء باندي **الا ان هذا متروک باجماع السلف** مګر دغه ترجيح متروکه ده په اجماع السلف باندي يعني دوي اعتبار عدد ته ورکوي دوي اعتبار وضبط اتقان عدالت ته نه ورکوی:

مخته چي ځومره دلائل تير سول که کتاب الله دي که سنة رسول دئ که خبر متواتر دئ که خبر مشهور دئ که خبر واحد دئ دغه دلائل ټول دبيان احتمال لري ددې دپاره به باب البيان کښيږدي فصل **وهذه الحجج بجملتها تحتمل البيان:**

دغه دلائل بتمامها احتمال لري دبيان وهذا باب البيان:

دغه باب دبيان دئ

ومن الناس من رجح بفضل عدد الرواة الخ

تشريح: امام شافعي رحمه الله دامام محمد رحمه الله شاګرد دئ امام محمد رحمه الله دامام اعظم ابو حنيفه رحمه الله شاګرددئ نو امام شافعي رحمه الله دامام ابو حنيفه رحمه الله شاګرد دئ بالواسطه په کومه ورځ چي امام صاحب وفات سو په هغه ورځ امام شافعی

رحمه الله پيدا سو امام محمد رحمه الله يو مسئله بيان کړي امام شافعي رحمه الله پر هغه باندي قياس کړي دهغه قياس څخه يوه قاعده جوړه سوي ده نن مصنف هغه قاعده بيانوي امام محمد رحمه الله پخپل کتاب کي يو قاعده ويلي ده هغه قاعده داده دااوبه يوسړي راولاړ سو دنجاست خبر يې ورکړ بل را ولاړ سو دطهارت خبر يې ورکړ مګر دنجاست خبر چي ورکوي هغه درې کسان دي دطهارت خبر چي وکوي هغه يو دئ يوې خواته روايت زيات دئ تر هغه بلي خوا نو په دغه صورت کي كثرة الروات ته اعتبار دئ دوهمه خبره داده ودې خواته چي کوم ځوک خبر ورکوي هغه ازاد دئ وهغه بلي خواته چي کوم ځوک خبر درکوي هغه غلامان دي ودې خواته چي کوم ځوک خبر ورکوي هغه نران دي وهغه بلي خواته چي کوم ځوک خبر ورکوي هغه ښځې دي په دغه صورت کي امام محمد رحمه الله وايي دښځو تر خبر دنرانو خبر معتبر دئ او دغلامانو تر خبر دازاد و خبرمعتبر دئ ده دغه مسئله په مسائل الماء کي کړي ده دوي راولاړ سو دحديث قياس پر مسائل الماء باندي کړي ده دوي وايي لکه په اوبو کي چي وكثرة ته ا عتبار دئ نو په رواتو کي هم وكثرة ته اعتبار دئ يعني که ديو حديث راويان څلور دئ دبل حديث را ويان درې دي نو په دغه صورت کي وڅلورو راويانو ته اعتبار دئ ودرو راويانو ته اعتبار نسته :

که يوې خواته دوه راويان دي وبلي خواته هم دوه راويان دي مګر دايوې خواته دوه راويان ازاد دي وهغه بلي خواته دوه راويان غلامان دئ نو په دغه صورت کي وازادو ته اعتبار دئ که يوې خواته نران دي وبلي خواته ښځي دي په دغه صورت کي ونرانو ته اعتبار دئ دحسامي مصنف فتوا ورکړه وايي دمحديثينو په اتفاق سره په اجماع سره دا ملحوظ لحاظ نه دئ معتبر نه دئ دروايت په باب کي ضبط اتقان عدالت ته اعتبار دئ وكثرة ته اعتبار نسته که يوې خواته پنځه راويان دي وبلي خواته يو راوي دئ مګر په دا پنځو کي ضبط اتقان عدالت نسته په دغه يوه کي ضبط اتقان عدالت سته په دغه صورت کي ودغه يوه ته اعتبار سته يعني ضبط اتقان عدالت والاته اعتبار دئ :

مثال امام بخاري رحمه الله يوې خواته دئ ډير ملايان بلي خواته دي دامام بخارى رحمه الله ضبط اتقان عدالت پر زيات دئ لهذا كثرة ته اعتبار نسته :

دحسامي مصنف به دليل په اجماع وړاندي کړي :

وهو على خمسة اوجه بيان تقرير وبيان تفسير وبيان تغيير وبيان تبديل وبيان ضرورة :

تشريح: بيان په عربي کي ظهور او اظهار ته وايي ظهور لازمي دئ اظهار متعدي دئ ظهور معنى خپله ښکاره کيدل اظهار معنى ته به يې ښکاره کوي الله جل جلاله فرمايي ﴿ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ﴾ :

ته يې صرف ياد کړه بيا يې اظهار پر موږ دئ يعني موږ يې ښکاره کوو احکام:

بيان پر پنځه قسمه دئ ۱- بيان تقرير ۲- بيان تفسير ۳- بيان تغيير ۴- بيان تبديل ۵- بيان ضرورة :

که ته وايي دبيان اضافت ومابعد ته کوم اضافت دئ نو زه درته وايم په اولو څلورو کي دبيان اضافت ومابعد ته اضا فت دجنس دئ ونوعي ته تقرير دبيان يوه نوعه ده تفسير دبيان بله نوعه ده تغيير دبيان بله نوعه ده تبديل دبيان بله نوعه ده بيا ن پخپله جنس دئ دارکم اضافت مثال په خارج کي حيوان الانسان دحيوا ن اضافت وانسان ته اضافت دجنس دئ ونوعي ته حيوان جنس دئ انسان دحيوان نوعه ده :

بيان ضرورة دلته اضافت دمسبب دئ وسبب ته وايي بيا ن کول په سبب دضرورت ضرورت دبيان دپاره سبب دئ لهذا دلته اضافت دشي وخپل سبب ته سوی د ئ :

يوسل او اولسم سبق

اما بيان التقرير :

دعبارت ترجمه: هرڅه چي بيان التقرير دئ **فهو توكيد الكلام بما يقطع احتمال المجاز او الخصوص :** نو دغه پخول دکلام دي په هغه څه سره چي احتمال دمجاز ا و خصوص ختموي **فيصيح موصلا ومفصولا بالاتفاق :** بيان تقرير په اتفاق سره موصول هم صحيح دئ

مفصول هم صحيح دئ **وكذلک بيان التفسير :** دا عبارت تير سو مګر په دغه عبارت کي ابهام دئ بل عبارت ورپسي راغلی هغه ابهام يې ختم کړ دغه ابهام ختموي ودغه ته بيان التفسير وايي وکذلک بيان التفسر: بيان التفسير موصولا او مفصولا صحيح کيږی **وَهُوَ بَيَانُ الْمُجْمَلِ و المشترک :** مجمل تير سو په هغه کي ابهام دئ بيان التفسيرليري کړي مشترک تير سو ابهام پکښې دئ بيان التفسير ليري کړي بس که دمجمل مشترک مشکل بيان وسو ودغه ته بيان التفسير وايي:

مثلا الله جل جلاله پخپل کلام کي وايي ﴿ثَلٰثَةَ قُرُوْء﴾ درې قرء به تير کړي په قرءَ کي ابهام دئ چي طهر به يادوی که به حيض يادوي موږ چي حديث وکتلي هلته وايي طلاق الامة ثنتان وعدتها حيضتان ددغه ځای ښخه دا معلومه سوه چي دقروء ښخه حيضونه مراد دي بس ودغه ته بيان التفسير وايي بيان التفسير موصولا هم صحيح کيږی مفصولا هم صحيح کيږي :

فاما بيان التغيير :

دايو عبارت تير سو دغه عبارت يو څه وايي ته راولاړ سوې ودغه عبارت ته دې شرط و وراچولي يادي استثناء ورښخه وکړه بس په دغه عبارت کي پخپله تغير راځي بس ودغه ته بيان التغيير وايي مثال ما زيد ته وويل لکَ عَلَّى اَلْفٌ ستا پرماباندي زر روپۍ دي اوس زه ددغه عبارت استثناء کومه داسي وايمه اِلاَّ مِأَةٌ مګر سل نه دي ګوره دغه عبارت (الا مأة) زريي په نهه سوه (٩٠٠) واړولې بس دابيان التغيير دئ يو سړی ښځی ته وايي انت طالق اوس دلته انجاز راغلی انجاز معنی فی الحال طلاقه سوي سړي دستي وويل ان دخلت الدار سړي چي دا عبارت (ان دخلت الدرا) وويلي نو فی الحال طلاقه نه سوه :

فاما بيان التغير نحو التعليق والاستثناء هرڅه چي بيان التغيير دئ لکه تعليق او استثناء **فانما يصح بشرط الوصل :** نو بيشکه خبر همداسی د ه صحيح کيږي په شرط ددې چي

موصول به وي نه مفصول يعنى سړي به داسي نه کوي چي ښځي ته ووايي انت طالق بيا څو وخت وروسته ورته ووايي ان دخلت الدار لهذا بيان التغيير مفصولا نه دئ صحيح .

اما بيان التقرير فهو توكيد الكلام بما يقطع احتمال المجاز او الخوص الخ :

تشريح : بيان پر پنځه قسمه دئ ١- بيان تقرير ٢- بيان تفسير ٣- بيان تغيير ٤- بيان تبديل ٥- بيان ضرورة وجه دحصر په داپنځو کي داده :

دابيان دئ داشي راته بيانوي دابيان به خالي نه وي يا به منطوق وي يا به منطوق نه وي که چيري بيان غير منطوق وو نو ديته بيان ضرورة وايي که چيري منطوق وو بيا به ورته گورو ترده مخته يو کلام تير سوي دئ دغه بيان دکلام معنى راته بيانوي او که دکلام لازمي معنى بيانوي که چيري دکلام لازمي معنى بيانوي ودغه ته بيان تبديل وايي که چيري دکلام عين معنى بيانوي، بيا به ورته گورو تغير پکښي راولي که يې نه راولي که چيري تغير پکښي راولي وديته بيان تغيير وايي که چيري دکلام معنى بيانوي اوتغير پکښي نه راولي بيا به ورته گورو دکلام معنى معلومه ده که مجهوله ده که معنى دکلام معلومه ده وديته بيان تقرير وايي که معنى دکلام مجهوله ده وديته بيان تفسير وايي :

اول بيان تقرير دئ ، دا عبارت تير سو په دي عبارت کي دمجاز احتمال سته بل عبارت ورپسي راغلی دمجاز احتمال يې ختم کړ وديته بيان تقرير وايي دا عبارت تير سو په دې عبارت کي دتخصيص احتمال سته بيا ن ورپسي راغلی احتمال دتخصيص يې ختم کړ وديته بيان تقرير وايي ددواړو مثال الله جل جلاله فرمايي ولا طَائِرٍ طائر معنى الوتل دطائر اطلاق پرمرغانو هم کيږي دطائر اطلاق پر تيز سړي هم کيږی ليکن دطائر اطلاق پر مرغه باندي حقيقت دئ دطائر اطلاق پرتيز سړی باندي مجاز دئ لهذا دغه عبارت (ولا طائر) د مجاز احتمال يې درلودي خو الله جل جلاله داسي وويل وَلَا طَائِرٍ يَّطِيْرُ بِجَنَاحِيْهِ په دغه عبارت (يطير بجناحيه)باندي تيز سړي يعني دمجاز احتمال په د غه عبارت(يطير بجناحيه) ختم سو يطير بجناحيه د ابيان تقرير دئ دولاطائر دپاره فَسَجَدَ الْمَلٰئِكَةُ فريشتو

سجده ولګوله ليکن د ا عبارت دتخصيص احتمال لري دا احتمال سته نيمو فريشتو دي سجده لګولې وي كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ دغه عبارت احتمال دتخصيص ختم کړ او دغه ته بيان تقرير وايي بيان تقرير موصول هم صحيح دئ مفصول هم صحيح دئ :

يوسل او اتلسم سبق

فامابيان التغيير نحو التعليق والاستثناء الخ :

تشريح: دايو عبارت دئ دغه عبارت يو څه وايي ته راولاړ سوې تعليق دي وراچولي يا دي استثناء ورواچوله دغه تعليق او استثناء په کلام کي تغير راولي بس ودغه ته بيان التغيير وايي مثال داستثناء ما وزيد ته وويل لک عَلَيَّ مِأَةٌ اِلَّا عَشْرٌ ستا پر ماباندي سل دي مګر لس نه دي ګوره سل (١٠٠) نوي (٩٠) سوي نو تغيير پکښي راغلی بس دا بيان التغيير دئ زيد وخپلي مينځي ته وويل انتِ حرّةٌ ان دخلت الدار ته ازاده يې دلته في الحال ازاد والي راغلی زيد دستي وويل ان دخلتِ الدار نو کلام يې دستي وتړی نو تغير پکښي راغلی بس وديته بيان التغيير وايي تعليق او استثناء دادواړه په کلام کي تغير راولي مګر شرط دادئ چي موصول به وي مفصول به نه وي دټولو مسلکو دټولو ائمه مذهب دادئ چي بيان التغيير به موصولا وي مفصولا به نه وي صرف دابن عباس ﷺ مذهب دادئ چي بيان التغيير مفصولا هم کيدای سي ابن عباس يو دليل وای لَأَرْضُوْنَّ قَرِيش ډير وخت بعد نبی عليه السلام وويل ان شاء الله اوس راسه ان شاء الله استثناء ده مفصولا نو ددې څخه دا معلومه سوه چي تعليق او استثناء موصولا او مفصولا دواړه جائز دی موږ وايو که چيري مفصول جائز سي نو به طلاق عتاق نکاح معاملات دا ټول به ګډوډ سي مثال زيد او عمرو سودا سره وکړه ايجاب او قبول وسو څلور ورځي تيري سوې عمرو پښيمانه سو عمرو زيد ته وايي ما او تاسو دا وکړه زيد ورته وويل زما اوستا سودا وسوه عمرو ورته وايي ان اشاء الله زيد ورته وايي زما او ستاسو دا خو وسوه عمرو ورته وايي ما ان شاء الله وويله زيد

ورته وايي تا خو ان شاء الله دسودا په وخت كي نه ده ويلي عمرو ورته وايي موصولا او مفصولا دواړه جائز دي عمر و دښځي سره نكاح وكړه بيا يې جماع ورسره وكړه بله ورځ يې ښځه ناخوښه ده وايي ان شاء الله طلاق يې ښځى ته وركړي ځلوركاله تير سول بيا وايي ان شاء الله لهذا كه مفصولا جائز سي نو بيا يې دغه ټاوانونه دي ابن عباس چي كوم دليل پيش كړي دئ هغه د ليل يا منسوخه دئ يا دنبى عليه السلام خصوصيت دئ لهذا په بيان التغيير كي وصل شرط دئ كه ته وايي يو سړي مينځي ته وويل انت حرةٌ بيا دستي اربمي ورغله يا يې پرچ وهل بيا يې وويل ان دخلت الدار دغه دي فصل راغلى نو موږ وايو دا عرفا فصل نه بلل كيږي ف**اما بيان التغيير نحو التعليق والاستثناء** هرڅه چي بيان التغيير دئ لكه تعليق يا استثناء **فانّما يصح بشرط الوصل :** نو دا صحيح كيږي بشرط الوصل

واختلف فى خصوص العمون فعندنا لا يقع متراخيا:

دعبارت ترجمه: په خصوص العموم كي اختلاف دئ زموږ په نزد باندي تخصيص مفصولا نه واقع كيږى **وعند الشافعي يجوزفيه التراخي:** دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي په خصوص العام كي تاخير جائز ده يعني دا جائز دئ چي دعام تخصص دي مفصولا وي **وهذا بناء على ان العموم مثل الخصوص عندنا فى ايجاب الحكم قطعا :**

دغه اختلاف پربل اختلاف مبني دئ زموږ په نزد باندي عام لم يخص عنه البعض قطعي دئ دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي تمام عامونه ظني دي زموږ په نزد باندي عام داسي قطعي د ئ لكه خاص چي قطعي دئ په ايجاب دحكم كي قطعا **وبعد الخصوص لا يبقى القطع :** عام ورسته تر خصوص بيا قطعي نه دئ بلكي ظني د ئ **فكان تغيُرا من القطع الى الاحتمال** نو تخصيص مغير سو دقطعي څخه واحتمال ته **فتقيد بشرط الوصل** نو تخصيص مقيد سوپه دې باندي چي موصول به وي نه مفصول ځكه دا تغير راولي او بيان التغير صحيح كيږى موصولا نه مفصولا

تشريح: دا عام دئ زه ددې عام څخه يو څه تخصيص كوم دغه مُخَصِّص داحنافو په نزد باندي متصلا صحيح دئ ولى دا بيان التغيير د ئ منفصلا نه دئ صحيح دشوافع وغيرهم په

نزد باندي موصولا او مفصولا دواړه جائز دئ ولي دشوافعو په نزد باندي عام ظني دئ چي يو وار عام ظني سو اوس که ته مخصص موصولا راوړي که مفصولا راوړي تخصيص په کولای سي ولي عام پخوا هم ظني وو موږ وايو هرعام ظني نه دئ عام قطعي دئ چي عام قطعي دئ نو ته به دده بيان موصولا کوي ولي زموږ په نزد باندي مخصص بيان التغيير دئ او دده په نزد باندي مخصص بيان التقرير دئ چي بيان التقرير سو نو بيان التقرير موصولا او مفصولا دواړه جائز دي زموږ په نزد باندي بيان التغيير دئ بيان التغيير موصولا صحيح دئ مفصولا صحيح نه دئ فَمَنۡ شَهِدَ مِنۡكُمُ الشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُ وَمَنۡ كَانَ مِنۡكُمۡ مَرِيضًا اَوۡ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنۡ اَيَّامٍ اُخَرَ موږ وايو دغه رکم به سره ښنتي وي دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي ښنتوالي ضروري نه دئ ولي چي اول وار څه ناڅه تخصيص پکښي سوي وي اوس چي بيا تخصيص پکښی کوي نو دا تخصيص دهغه تخصيص تقرير کوي پخول کوي چي څنګه عام ذکر سو نوعقل وايي تخصيص پکښي سوی دئ بيا چي بالفعل تخصيص پکښي کيږي نو عقل وايي دا تخصيص هغه تخصيص دئ چي کوم تخصيص پکښی سوي وو نو تقرير سو پخول سوه زموږ په نزد باندي په عام کي تخصيص نه دئ سوي اوس چي بالفعل ته تخصيص کوي نو تغير و نو په تغيير کي اتصال ضروري دئ نه انفصال اوس که يو څوک سوال وکړي چي داحنافو په نزد باندي تخصيص منفصل ولی نه دئ صحيح او دامام شافعی رحمه الله په نزد باندي مخصص منفصل صحيح دئ داولي نو ته به ورته ووايي احناف مخصص مغير بولي او په تغير کي شرط دادئ چي متصل به وي دشوافعو په نزد باندي مخصص بيان التقرير دئ په بيان التقرير کي موصول او مفصول دواړه جائز دئ يو څوک به سوال درباندي وکړي وبه وايي زه به ډير ځايونه در وښيم مخصص به مفصولا راغلی وي او تاسو احناف به ودغه مفصول ته تخصص واياست احنافو تاسو ولي ورته واياست او ستاسو په نزد باندي دا بيان التغيير دئ بيان التغير خو موصولا وي نو ته به ورته و وايي هغه عام چي يو وار تخصيص پکښي سوی وي بيا چي ته په دغه عام کي تخصيص کوې نو دا تخصيص موصولا او مفصولا دواړه جائز دئ هغه عام چي پر خپل عموم باقي پاته وي اوس که تا تخصيص پکښي کوي نو مخصص به موصولا وي مفصولا به نه وي ولی هغه عام چي يو وار تخصيص پکښی وسو نو ظنی سو اوس چي ته تخصيص

کوي نو دغه مخصص موږ هم بیان التقریر بولو او بیان التقریر موصولا او مفصولا دواړه جائز دي :

وعلى هذا قال علماؤنا فيمن اوصى بخاتمه لانسان وبالفص منه لاخر موصولا ان الثاني يكون خصوصا للاول ويكون الفصُ للثاني :

زموږ علماؤ ویلي دي چی یو سړي وصیت وکړی دګوتمۍ وانسان ته چي دا ګوتمۍ دزید ده او ددې ګوتمي غمي يې دعمرو دئ يعني يوه انسان ته يې دګوتمي وصيت وکړ وبل انسان ته يې دغه ګوتمې دغمي وصيت وکړ خو دغه وصيت دسړي موصولا وو ذغه سړي اول وار عام ذکر کړ چي ګوتمۍ ده بيا يې موصولا وويل چي ددغي ګوتمۍ غمي دعمرو دئ په دغه صورت کي د غه ثاني (غمی) تخصيص دئ داول (ګوتمي) اوس به غمي دثاني (عمرو) سي يو سړي وصيت وکړ چي دا ګوتمۍ دزيد ده موصی یو څه وخت بعد وويل زيده ددغه ګوتمۍ غمي وعمرو ته ورکړه فصل يې وکړ يو وار موصی ټوله ګوتمۍ وزيد ته وروسپارله يو څه وخت وروسته موصی دګوتمۍ غمي وعمرو ته وروسپارۍ دا دواړه سره معارض سول اوس به څه کيږی ا وس به غمي دزيد او دعمرو سره شريک سي په دغه صورت کي ټول غمي دعمرو نسي کيدای ولي دلته بيان التغيير نسي جوړيدای :

دعبارت ترجمه: **وان فصل** که چيري موصی فصل وکړ **لم يكن خصوصا للاول** ثاني داول دپاره تخصيص نه دئ **بل صار معارضا** : بلکي ثاني به داول دپاره معارض سي **فيكون الفص بينهما** : نو به غمي مشترک سي دزيد او دعمرو.

يو سل اونولسم سبق

واختلفوا فى كيفية عمل الاستثناء ايضا :

دعبارت ترجمه : داستثناء دعمل په کيفيت کي علماؤ اختلاف کړي دئ ، **قال اصحابنا الاستثناء يمنع التكم بحكمه بقدر المستثنى** : زموږ ملګرو ويلي دي چي استثناء تکلم منعه کوي سره دحکمه دا استثناء هم تکلم منعه کوي په قدر دمستثنی ، **فيكون تكلما**

بالباقي بعده: نو تكلم په مستثنی منه باندي دا تكلم بالباقي سو وروسته تر استثناء **وقال الشافعي رحمه الله الاستثناء يمنع الحكم بطريق المعارضة بمنزلة دليل الخصوص:** امام شافعي رحمه الله وايي استثناء حكم منعه كوي پر طريقه دمعارضي سره يعني په دغه (الف درهم) زرو درهمو كي سل درهمه دي دغه (الامائة) سل درهمه معارض دي دهغو سلو درهمو چي په الف درهم كي دي بمنزلة دليل التخصص استثناء داسي ده لكه دليل الخصوص مثال فمن شهد منكم الشهر فليصمه ټول به روژه نيسي ومن كان منكم مريضا او على سفر په دغه عام (فمن شهد) كي چي مريض او مسافر دئ دغه (من كان منكم مريضا او على سفر) مريض او مسافر دهغه مريض او مسافر معارض دئ استثناء هم دغه رنگ حكم منعه كوي پر طريقه دمعارضي سره **كما اختلفوا فى التعليق بالشرط على ما سبق:**

ددوي داسي اختلاف دئ لكه په تعليق بالشرط كي چي دذوي اختلاف وو على ماسبق:

فصار عندنا تقرير قوله لفلان عليَّ الف درهم الا مائة له عليَّ تسعمائة زموږ په نزد باندي تقرير ددغه قول (له على الف درهم) وگرځيدی له على تسعمائة گويا كي دی داسی وايي له على تسعمائة. **وعنده الامائة فانها ليست عليَّ:** دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي الا مائة چي دی دغه مائة نسته پر ماباندي دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي صدر كلام ثابت پاته دئ زموږ په نزد باندي په صدر كلام گويا كي تكلم نه دئ په سوي

واختلفوا فى كيفية عمَل الاستثناء ايضا قال اصحابنا الاستثناء يمنع التكلم بحكمه بقدر المستثنى الخ:

تشريح: انت حرَّةٌ ان دخلتِ الدار په دغه صورت كي زموږ او دامام شافعي رحمه الله سره اختلاف وو دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي دغه شرط (ان دخلت الدرا) دغه عبارت (انت حرة) حكم لري هغه به وتړي زموږ په نزد باندي ان دخلت الدار سبب تړي حكم نه تړي موږ وايو ان دخلت الدرا دغه عبارت (انت حرَّةٌ) وقوع ته دحكم نه يله كوي دغه عبارت (انت حرة) گويا كي گر سره ويل سوي نه دئ چي څنگه اختلاف په شرط اوسبب كي وو همدارنگه اختلاف داستثناء په كيفيت كي زموږ او دامام شافعي رحمه الله دئ مثال لهُ عَلَيَّ

اَلف درهمٍ اِلَّا مِأَةٌ دزيد پر ما باندي زر درهمه دي مګر سل نه دي پکښې زموږ په نزد باندي ګوا کي په الف درهم کي داوله سره په مائة خبره نه ده سوې دالف درهم څخه چي سل درهمه وباسي نو نهه سوه (٩٠٠) درهمه کيږي زموږ په نزد باندي ګوا کي ده داوله سره تکلم په تسعمائة کړي دئ يعني ده داوله سره داسي ويلي دي له علّی تسعمائة ددغه عبارت (له عَليّ الف درهم) چي استثناء وسوه په دغه عبارت (الا مائة) باندي نو ګويا کي په دغه عبارت (لهُ عليّ الف دزهم) باندي داوله سره تکلم نه دئ سوی لکه هلته چي ان دخلت الدار به راغلی نو په انت حرة به ګرسره تکلم نه وو سو ی دلته هم دا رکم دئ ګويا کی دلته داوله سره تکلم بالباقي سوي دئ داسي تکلم سوي د ئ له عليّ تسعمائة امام شافعي رحمه الله وايي د ا عبارت (لهُ عَلَيّ الفُ درهم) پخپل ځای کي صحيح دئ دغه عبارت (الا مائة) چي راغلی نو دغه عبارت (له عليّ الف درهم) نه ختموي دغه عبات (له عليّ الف درهم) به زر درهمه کړي دغه عبارت (الا مأة) چي راغلی په دغه (الف درهم) زرو درهمو کي سل درهمه دي دغه (الا مائة) سل درهمه به دهغه سلو درهمو معارض سي دغه (الف درهم) زر درهمه به باقي پاته وي صرف سل درهمه به ورځني وايستل سي زموږ په نزد باندي چي دغه عبارت (ا لا مائة) راغلی نو دغه عبارت (لهُ عَليّ الف درهم) يې ختم کړ ګويا کي تکلم بالباقي سوی دئ دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي دغه عبارت (لهُ عَلَيّ الف درهم) باقي پاته دي .

وعلى هذا اعتبر صدر الكلام فی قوله عليه السلام لا تبيعوا الطعام بالطعام الا سواءً بسواءٍ عاما فی القليل والكثير :

دعبارت ترجمه امام شافعي رحمه الله دنبی عليه السلام ددغه قول (لا تبيعوا الطعام بالطعام الا سواء بسواء)

صدر الكلام معتبر کړي دئ عاما فی القليل والكثير دا قليل او کثير دواړو ته شامل دئ قليل هغه دئ چي ترکيل لاندي نه راځي لکه يو مټ غنم يا دوه مټه غنم کثير هغه دئ چي ترکيل لاندي راځي دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي يو مټ په دوو مټانو ورکول جائز نه دئ **الا ان الاستثناء عارضه فی المكيل** خاصة مګر استثناء په مکيل کي خاصة دصدر

الکلام معارضه ده **فبقي عاما فيما وراءه** :صدر الکلام په ماورا دمکيل کي باقي پاته سو
وقلناهذا استثناء حال :

موږ وايو دا دحال استثناء ده دا ديوه مټ دوومټانو خبره نه کوي دا استثناء دحلال ده يو صورت جائز نه دئ نه مجازفهٔ جائز دئ نه مفاضلة جائز دئ نه مساواة جائز دئ الا سواء بسواء سره برابر برابر دغه يو صورت ورځخه وتلي دئ ورځخه مستثنی دئ **يکون الصدر عاما فی الاحوال** نوصدر الکلام عام سو په ټولو احوال کي ګوياکي نبی عليه السلام داسي وويل لا تبيعوا الطعام بالطعام فی جميع الاحوال من المفاضلة والمجازفة والمساواة الا حالة المساواة ، **و ذالک لا يصلح الا فی المقدار** دغه صدر الکلام صلاحيت نه لري مګر صلاحيت لري په مکيل کي امام شافعي رحمه الله وايي مستثنی منه هغه رکم پاتيږي صرف استثناء يې معارضه سي بيا يې قياس وکړه پر خصوص باندي څه وخت چي تا دعام څخه تخصيص وکړ نو عام به هغه رکم باقي پاته وو بل مثال مسلمون دمسلمون څخه که درې افراد ووتل مسلمون هغه رکم پاته دئ که څلور افراد ورځخه ووتل مسلمون هغه رکم پاته دئ په عام کي فرق نه راځي دلته هم دمستثني منه څخه مستثنی ووتله مستثنی منه هغه رکم پاته ده :

موږ وايو راسه الله جل جلاله دنوح عليه السلام په باره کي وايي ﴿فلبِثَ فِيۡهِمۡ اَلۡفَ سَنَةٍ اِلَّا خَمۡسِيۡنَ عَامًا﴾ نوح عليه السلام په دوي کي زرکاله تير کړل مګر پنځوس کاله نه وه پکښي امام شافعي ته راسه دزرو څخه پنځوس وباسه بيا ته زر داغه رکم پريږده امام شافعي ته خو وايي مستثنی منه هغه رکم پاتيږي ته راسه دزرو څخه پنځوس وباسه بيا دي زر پاته سي لهذا که دزرو څخه پنځوس وباسي بيازر نه پاتيږی نهه نيم سوه (۹۵۰) پاتيږي پاته سو يو عام خاص دئ په عام او خاص کي چي هرڅومره خصوص وسي عام هغه رکم پاته وي لهذا ستا قياس قياس مع الفارق دئ ته مستثنی په عام او خاص مه قياسوه :

دعبارت ترجمه: **واحتج اصحابنا رضى الله عنهم بقوله تعالى فلبث فيهم الف سنة الا خمسين عاما:** زموږ ملګرو احتجاج کړی دئ په دې قول دالله تعالى فلبث فيهم الف سنة الاخمسين عاما)

فالخمسين تعرض للعدد المثبت بالالف لا لحكمه مع بقاء العدد :

پنځوس معارضه سول دعدد سره داسي عدد چي مثبت بالالف دئ نه دحکم سره، سره ددې چي عدد باقي پاته دئ، **لان الالف متى بقيت الفا** ځکه زر چي څه وخت زر باقي پاته سي **لم تصلح اسما لما دونها :** نو دغه زر بيا صلاحت نه لري چي ودې ويل سي ومادون ته دزر يعني نهه نيم (۹۵۰) سوه ته زر نه ويل کيږي:

بخلاف العام كاسم المشركين اذا خص منه نوع: په خلاف دعام لکه نوم دمشرکينو هغه وخت چي دده څخه يوه نوعه خاص سي، **كان الاسم واقعا على الباقي بلا خلل** نو نوم دمشرکينو واقع کيږی پر باقي باندي غير دخلله يعني په باقي کي خلل نه راځي ثم الاستثناء نوعان مستثنى پر دوه قسمه ده **متصل وهو الاصل وتفسيره** ما ذكرنا : يو مستثنى متصله ده دغه متصله اصله ده تفسير دمتصلي موږ ذکر کړ :

ومنفصل وهو ما لا يصلح استخراجه من الاول :

دوهم مستثنى منقطعه ده دغه منقطع صلاحت نه لري چي د مستثنى منه څخه را وايستل سي مثال جائنى القوم الا حمارًا ولی مستثنى دمستثنى منه دجنس څخه نه ده **لان الصدر لم يتناوله:**

ځکه صدر الكلام ومنفصل ته شامل نه دئ. **فجُعِلَ مبتدأ مجازا:** دا به وګرځي مستقل کلام ازروئي مجاز، قال الله تعالى ﴿فَاِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِيْ اِلَّا رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ لكن رب العلمين : الله جل جلاله وايي ټول بتان زما دوښمنان دي الا رب العلمين :

الا رب العلمين مستثنى منقطع ده ولی رب العلمين په بتانو کي داخل نه دئ نو دامعنی لکنّ رب العلمين ليس بِعَدُوٍ لِيْ .

وعلی هذا الخ :

تشريح: مختلف فيها مسئله زموږ په نزد باندي چي کوم شي تر وزن لاندي نه راتلی تر کي بل لاندي نه راتلی لکه يو مټ په دوو مټانو زموږ په نزد باندي په دغه کي سود نسته که سړي يو مټ غنم په دوو مټانو غنمو ورکړل نو په دې کی سود نه راځي دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي په قليل او کثير په دواړو کي سود راځي دغه مسئله مختلف فيهاده اوس راسه نبی عليه السلام دا جمله ويلي ده لا تبيعوا الطعام بالطعام الا سواءً بسواءٍ تاسو به طعام په طعام نه ورکوي مګر که سره برابر وه بيا يې ورکړي دامام شافعي رحمه الله به نزد باندي دغه عبارت (لَا تَبِيْعُوْا الطَّعَامَ بِالطَّعَامِ) باقي پاته دئ دغه الا سواءً بسواءٍ دغه صورت مستثنی دئ که سره برابر وه بيا يې ورکوه که سره برابر نه وه بيا يې نه ورکوي موږ وايوپه دغه عبارت (لاتبيعوا الطعام بالطعام) باندي دسره ګويا کي تکلم نه دئ سوی داوله سره نبی عليه السلام وويل چي کوم شيان سره برابر سول هغه سره ورکوي چي نه سره برابريده په خوراک کي هغه به نه سره ورکوي اوس راسه برابري په څه شی باندي راځي نو ته به و وايي چي سړي وبل سړي ته غنم ورکوي يا دخوراک شي ورکوي هغه پر درې قسمه دئ ١- مساواة سره برابر برابر ٢- مفاضله، مفضاله زياتوب کول ٣- مجازفة مجازفة په اټکل باندي ورکول چي نه يې زياتوب معلوم وي نه يې کمبوت معلوم وي په لا تبيعوا الطعام بالطعام کي نبی ﷺ وايي يوصورت جائز نه دئ نه به يې مساواة ورکوي نه به يې مجازفة ورکوي نه به يې مفاضلة ورکوي دا يو صورت جائز نه دئ صرف يو صورت ورڅخه وتلی دئ سره برابر برابر داصورت جائز دئ اوس راسه دغه سره برابر برابر دا هغه وخت کيږي چي سره وتلل سي يا په کاسه باندي يا په پيمانه باندی سره اندازه سي ګويا کي نبی عليه السلام وايي په ټولو احوال کي دغنمو ورکول جائز نه دي مګر هغه وخت جائز دئ چي سره برابر وي برابر څه معنی يعني په مال کي سره برابر وي حال دغنمو طبيعت دغنمو دادئ چي دا په وزن سره خرڅيږي په پيمانه سره خرڅيږي اوس يو مټ غنم په دوو مټو غنمو دا ګرسره په پيمانه

کي نه راځي نو ګويا کي ددې ځخه حديث ږغيدلې نه دئ ولي حديث ددې ځخه ږغيدلې دئ مفاضلةً به يې نه ورکوي مجازفة به يې نه ورکوي صرف مساواة به يې ورکوي :

نبی علیه السلام اصلا خبره: دموزون او دمکيل کوي.

يوسل او شلم سبق

دعبارت ترجمه : **واما بيا ن الضرورة** هر څه چي بيان الضرورت **فهو نوع يقع بمالم يوضع له :** نو دغه يو قسم دبيان دئ د اسي بيان چي واقع کيږي په داسی شی باندي چي دغه شي دبيان دپاره نه دئ وضعه سوي.

واما بيان الضرورة فهو نوع بيان يقع بما لم يوضع له الخ :

تشريح: بيان الضرورة ديته وايي چي ته بيان وکړي په داسي شي باندي چي دهغه شي وضعه دبيان دپاره نه وي سوي :

وهذا على اربعة الانواع : دغه نوعه پرڅلورو انواعو ده:

منه ماهو فى معنى المنطوق به

دعبارت ترجمه: نحو قوله تعالى وورثه اَبَوَاهُ فلامه الثلث :

يو قسم دبيان الضرورة هغه دئ چيپه معنى کي دمنطوق به دئ عين منطوق نه دئ په معنى کيد منطوق دئ کله داقول ه دالله جل جلاله وَوَرِثَهُ اَبَوَاهُ موراوپلار يې دواړه وارثان دي فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ مور به يې دريمه وړي صدر الكلام اوجب الشركة صدر شرکت يئې واجب کړ ثم تخصيص الامر بالثلث بيا مور په دريمه خاص سوه چي ته (مور) به دريمه وړي دل على ان الابَ يستحق الباقي: دا پر دې باندي دلالت کوي چي پلار دباقي مستحق دئ فصار بيانا بصدر الكلام لا بمحض السكوت تخصيص دور دپلار حصې دپاره بيان وګرځيدی خو دغه په صدر الكلام سره چي الله جل جلاله ددوي دواړو کلام کي ذکر کړه په محض سکوت سره

نه ولي که چیري د مور حصه این سوي وای شرکت په صدر الکلام کي نه وای بیان سوی نو
به دپلار حصه نه وایي معلومه سوې لهذا تخصیص دمور او دپلار دصحصح دپاره بیان دئ
په صدر الکلام سره نه په محض سکوت سره:

منه ماهو في معنى المنطوق به الخ

تشریح: مخکي موږ ویلي وه چي کوم شي په اقتضاء النص سره ثابت سي نو هغه به غیر منطوق وي: دبیان الضرورة یو قسم هغه دئ چي منطوق نه دئ خو معنی یې دمنطوق ده مثال دا دوه ملایان (زید بکر) دي ما ورته وویل دا شپږ (۶۰۰۰) زره روپۍ ستاسو دي بیا مي وویل وزید ته په دا شپږ (۶۰۰۰) زره کي دوه (۲۰۰۰) زره ستا دي نو ددې دا معنی چي څلور (۴۰۰۰) زره دبکر دي دغه عبارت چي څلور زره دده (بکر) دي دا منطوق نه دئ خو په معنی کي دمنطوق دئ سړي مړ سوي مور او پلار یې وراثان دي لکه الله رب العزت فرمایي ﴿وورثَهُ اَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ﴾ مور به یې دریمه وړي پلار یې یاد نه کړ نو ددې دا معنی چي هغه پاته میراث دپلار دئ:

منه مایثبت بدلالة حال المتكلم

دعبارت ترجمه: دوهم قسم دبیان الضرورة هغه دئ چي ثابتیږي په دې باندي چي دمتکلم حال دلالت وباندي کوي مثل سکوت صاحب الشرع عند امر یعاینه عن التغیر:
مثال لکه صاحب الشرع چي سکوت وکړي دهغه کار چي دی یې په سترګو ویني دا سکوت وکړي دتغیر څخه تغیر نه پکښي راولي یدل علی الحقیقة دغه سکوت دصاحب الشرع دا دلالت کوي پر حقیقت دامر باندي یعني دغه کار منعه نه دئ دا کار دمنعي څخه خارج دئ

منه ما یثبت بدلالة حال المتكلم الخ:

تشریح: قاعده السكوت فی موضع البیان بیان دئ یو ځای دبیان ضرورت دئ او ته بیان نه کوي چپ یې نو دغه چپه خوله بیان دئ زما دا ښځه ده موږ ښځي ته وویل چي هغه فلانکي تاته پیغام را استولې دی چي زما سره نکاح وکړه ته (ښځي) هغه فلانکي که یې نه

کوې ښځه چپه خوله ناسته ده او دغه ځای ددې دئ چې ښځه ووايي يا زه يې نه کوم دا چې ښځه چپه خوله ده بېغ نه کوي نو ددې دا معني چې وودغه فلانکي سړی کومه ولي السکوت فی موضع البيان بيان بل مثال نبی عليه السلام او ياد صحابه مخته يو شي کيږی او دوي څه نه وايي اوس دغه ځای خو دبيان دئ او دوي څه نه وايي دغه سکوت ددوي بيان دئ دغه ددوي خوبښ دئ بل مثال دا استاذ مخته دئ يو کار وکړي او استاذ څه نه وايي چپه خوله دئ نو ددې دا معنی چې دا ستاذ اجازه ده.

وفي موضع الحاجة الى البيان يد على البيان

دعبارت ترجمه: په ځای دحاجت الى البيان کي دلالت کوي پر بيان باندي

مثل سکوت الصحابه عن تقويم منفعة البدن فی ولد المغرور مثلا لکه صحابه رضي الله عنهم دوي سکوت کړي دئ دبدن دمنفعت دتقويم دضما ن څخه په ولد مغرور کي

وفي موضع الحاجة الى لبيان يدل على البيان مثل سكوت الصحابة عن تقويم منفعة البدن فی ولد المغرور :

تشريح: يو ځای يو بيان ته حاجت سته ضرورت سته او ته بيان نه کوي نو دغه سکوت دلالت کوی پر بيان باندي مثال يو ښځه مينځه ده يوصحابي ته راغله وي ويل زه ازاده يمه کرار صحابي واده ورسره وکړ بيا يې بچيان پيدا سوه ډېروخت بعد يو سړي ديو قبيلې (بني عذرة) څخه راغلی وي ويل دغه ښځه زما مينځه ده دې ښځي درواغ ويلي دي چې زه ازاده يمه عمرو فاروق ﷺ دغه مينځه بيرته ودغه سړي ته ورکړه چې مينځه يې دصحابي څخه و اخيسته وهغه سړي ته يې ورکړه نو بچيان وصحابي ته ور پاته سول اوس دغه صحابي چې پر دغي ښځي منفعت اخيستي او خود يې اخيستي او بچيان يې وهغه سړي ته په لاس ورنه کړل او هغه پيسي ضمان هم نه دئ ورڅخه اخيستي اوصحابه هم بېغ نه کوي دوی سکوت وکړ نو ددې څخه دا معلومه سوه چې دولد مغرور پر منفعت خرچه نه راځي ضمان نه راځي ولد مغرور وهغه سړي ته وايي چې بل چا دوکه وکړي وي چې زه ازاده يمه و هغه مينځه يې او بيا ددغه سړي څخه بچي پيدا سي اوس چې ده کوم منفعت اخيستي دئ دهغه منفعت اجر

يې نه ورڅخه واخيستي او عمر ﷺ نه دئ ورڅخه اخيستي او صحابه دوي سکوت وکړ لهذا پر منفعت باندي ضمان نسته:

بل مثال: زيد را ولاړ سو دعمرو څخه يې موټر سيکل واخيستي موټر سيکل ته يې تيل ورواچول بيا يې موټر سيکل وچلوي وچلوي وچلوي کرار زه را ولاړ سوم دزيد څخه مي موټر سيکل واخيستي وعمرو ته مي ورکړ اوس دغه زيد چي پرموټر سيکل کوم منفعت اخستي دهغه منفعت اجر ضمان نسته

دعبارت ترجمه: **ومنه ما يثبت ضرورة دفع الغرور**: دريم قسم دبيان الضرورة هغه دئ چي ثابتيږي دډ وجي چي غرور دفعه سي **مثل سكوت الشفيع** مثال لکه دشفيع خاموشي :

ومنه ما يثبت ضرورة الخ

تشريح: دزيد او دعمرو سرايونه سره ښنتي دي اوس زه دزيد څخه سراى اخلم اوس عمرو دشفعي حق لري چي ووايي چي زيده دغه پيسي واخله داسراى زه وده ته نه ورکوم داسراى زه رانيسم دشفيع دپاره قانون دادئ چي څنګه سراى خرڅ سو نوي دئ به دستى وايي چي وروره داسراى زه رانيسم دا سراى زما دئ دا سراى زه راګرځوم او که زه دزيد څخه سراى رانيسم او عمرو هلته خاموشه ناسته دئ ساکت دئ نو ددئ دامعنى چي عمرو زما او دزيد په سودا راضي دئ بس دعمرو سکوت عين بيان دئ ولي که دده سکوت عين بيان نه وکړو نوبيا غرور راځي دو که راځي ددفع الغرور دوجي سکوت په عين بيان سي مثال ما سراى دزيد څخه رانيوى اوس که عمروشفعه کوي نو بړغ دي وکړي چي داسراى زه راګرځوم ما سراى دزيد څخه رانيوى عمرو خاموشه دئ کرار ما په سراى خوراي وکښلي سراى مى نور سم کړ اوس چي عمر ووايي زه شفعه کوم اوس ماته تاوان سو ددغه تاوان ددفعي دپاره سکوت عين بيان دئ :

دعبارت ترجمه: **وسكوت المولى حين يرى عبده يبيع ويشتري** مثال لکه سکوت دمولى هغه وخت چي مولى خپله غلام ويني خريد فروخت کوي

وسكوت المولى حين يرى عبده يبيع ويشتري :

تشريح: عمرو زما غلام دئ عمر و دزيد سره خريد فروخت شروع کړی د اوس زه خپل غلام په سترګو باندي وينم چي دزيد سره يې سودا شروع کړې ده او زه بوغ نه لرم خاموشه يم دغه زما سکوت پر دې باندي دلالت کوي چي ما خپل غلام ته دتجارت ا جازه ورکړې ده لهذا دغه سکوت عين بيان دئ که عين بيان نه سي بياوزيد ته تاوان دئ :

ومنه ما يثبت بضروة كثرة الكلام :

دعبارت ترجمه: دبيان الضرورة څلورم قسم هغه دئ چي ثابتيږی په ضروت سره دکثرة الكلام **مثل قول علمائنا فيمن قال له على مأة ودرهم او مائةٌ وقفيز حنطة** لکه دا قول زموږ دعلماء دهغه چا په باره کي چي ووايي دفلانکي پر ماباندي سل (١٠٠) دي او درهم دي امام شافعي وايي دابيان بيا ن دده دئ چي ښتا دمائة څخه څه شي مراد دئ زموږ په نزد باندي دده وبيان ته اعتبار نسته ولي درهم پر دې باندي دلالت کوي چي دمائة څخه درهم مراد ئ لهذا يا داسي يی وويل له على مائة ورهم چی يايې داسي وويله له على مائةٌ وقفيز حنطة **لان العطف جعل بيانا للمائة :** بشکه عطف بيا ن ګرځيدلې دئ دمائة دپاره . **وقال الشافعي رحمه الله القول قوله فی بيان المائة** امام شافعي رحمه الله وايي دمائة په بيان کي دده قول معتبر دئ، **كما اذا قال له على مائة وثوب :**

امام شافعي رحمه الله قياس کړي دئ پر دغه قول (له علىّ مائة وثوب) باندي :

قاعده: په معطوف عليه او معطوف کي معطوف پر معطوف عليه باندي دلالت کوي په مکيلې او موزوني شيانو کي په غير مکيلي او موزوني کي بيا دلالت نه کوي په غير مکيلي او موزون کي بيا دده دقول اعتبار دئ :

سړي داسي وويل له على مائة وثوب دفلانکی پرما باندي سل (١٠٠) دي او يوه جوړه کالي دي موږ او امام شافعي رحمه الله دواړه په مائة کي دقائل قول معتبر وو چي دسل څخه دده څه شي مراد دئ امام شافعي رحمه الله درهم مسئله او دقفيز حنطة مسئله دايې قياس کړي

ده پر ثوب باندي موږ وايو قياس مه کوه ولي ثوب (کالى) نه مکيلي دي نه موزوني دئ په مکيلي او موزوني کي کثرة ضرورت دئ په غير مکيلي او موزوني کثرة ضرورت نشته ولي دا کله کله پيښيږي دا په بيع السلم کي پيښيږي او بيع السلم ډيره کمه کيږي نوري سوداوي ډيري کيږي هلته دکثرة الکلام دکمولو ضرورت شته دلته دکثرة الکلام دکمولو ضرورت نشته **قلنا ان حذف المعطوف عليه متعارف ضرورة كثرة العدد وطول الكلام :** موږ وايو بيشکه حذف دمعطوف عليه متعارف دئ ولي عدد ډير استعماليږي کلام اوږديږي که يې موږ ذکر کړو. **وذالک فيما يثبت وجوبه فى الذمة فى عامة المعاملات** دا به موږ کوو په هغه ځاى کي چي وجوب دده ثابتيږى په ذمه کي په عام معلاماتو کي **كالمكيل والموزون دون الثياب :** لکه مکيل او موزون دون الثياب نه ثياب **فانها لا تثبت فى الذمة الا بطريق خاص وهو السلم :**

ځکه کالى په ذمه کي نه راځي مګر په يو خاص طريقه سره هغه خاص طريقه بيع السلم ده

ومنه مايثبت بضروة كثرة الكلام الخ :

تشريح: څلورم قسم دبيان الضرورة عطف دئ دا معطوف عليه دئ دا معطوف دئ خو په معطوف کي شي متعين دئ معلوم دئ دغه شي زه په معطوف عليه کي ورک کړم بيان يې نه کړم نو ښکاره خبره ده چي دمعطوف عليه څخه دغه معطوف مرا د دئ که ته وايي تاولي حذف کړى دئ نو ته به ورته ووايي ما د دې دپاره حذف کړي چي کثرة الکلام رانه سي:

دعبارت ترجمه: **واما بيان التبديل :** هر څه چي بيان التبديل دئ فهو النسخ: نو دغه نسخه ده ، **والنسخ فى حق صاحب الشرع بيان لمدالحكم المطلق الذي كان معلوما عند الله تعالى :** نسخه دصاحب الشرع په حق کي بيان دئ دپاره دنيتهې دحکم مطلق هغه حکم مطلق چي معلوم وو والله تعالى ته ، **الا انه اطلقه :** مګر الله تعالى حکم مطلق ذکر کړ، **فصار ظاهره البقاء فى حق البشر** دبشر په حق کي ظاهر دحکم دا به باقى وي **فكان تبديلا في حقنا بيانا محضا فى حق صاحب الشرع :** نو زموږ په حق کي تبديل سو په حق دصاحب الشرع کي بيان محض سو **وهو كالقتل** دغه نسخه لکه قتل **فانه بيان محض** **للاجل فى حق صاحب**

الشرع : دغه قتل بيان محض دئ د نيټې دپاره دصاحب الشرع په حق کي **تغيير وتبديل فى حق القاتل :** تغير او تبديل دئ دقاتل په حق کيَ :

واما بيان التبديل فهو النسخ الخ :

تشريح: بيان التبديل نسخه ده ونسخي ته بيان التبديل وايي هر وخت که نسخه وشوه دغه نسخه دالله جل جلاله دپاره نيټه بيانول دي وخت بيانول دي زموږ دپاره نسخه باقاعده دحکم تبديلي ده الله جل جلا له يو حکم کړي دئ دغه حکم ختم سو اوس دا حکم دئ نو ددې دا معنى چي ددغه مخکني حکم هم دومره نيټه وه همدومره وخت وو زموږ په نزد باقاعده يو حکم په بل حکم باندي بدل سو مثال يې لکه قتل ما يو سړي وويشتي سړي مړ سو دخداى دطرفه ددغه سړي بس همدومره وخت وو نور نه وو زموږ په نزد باندى حيات په ممات باندي بدل سو .

يوس او يوشتم سبق

او محله حکم يکون فى نفسه محتملا للوجود والعدم :

دعبارت ترجمه : محل دنسخي دايو حکم دئ داسي حکم چي في نفسه محتمل دئ دوجود او عدم

يکون فى نفسه محتملا للوجود والعدم الخ :

تشريح: دا نسخه ده دايې محل دئ دنسخي دمحل النسخ شرط دادئ چي محتمل به دوجود او دعدم ددواړو وي، او که صرف وجود يقيني دئ دعدم احتمال نه لري او يا صرف عدم يقيني دئ دوجود احتمال نه لري په دغه دواړو صورتو کي نسخه نسي کيداى مثال لکه کفر او اسلام : ، کفر عدم دئ په ټول وخت يي الله جل جلاله مطالبه نه کوي نه يې رواکوي هر شي الله جل جلاله بخښي شرک نه بخښي شرک الله جل جلاله سړي ته نه معاف کوي او الله جل جلاله سړي ته دشرک کولو اجازه نه ورکوي دکفر عدم متيقن دئ دوجود

احتمال په كفر كي نسته يعني دمشروعيت احتمال نه لري اسلام توحيد ددې وجود متيقن دئ دعدم احتمال پكښې نسته په دغه دواړو صورتو كي هيڅ وخت نسخه نه راځي :

ولم يلتحق به ما بنا في النسخ من توقيت او تابيد:

دعبارت ترجمه: په دغه حكم پوري به نه وي ملحق سوي هغه توقيت او تابيد چي دنسخي سره منافي دئ، ثبت نصا كما فى قوله تعالى خلدين فيها ابدا باقاعده به په نص سره ثابت وي لكه دا قول دالله جل جلاله خلدين فيها ابدا يا به په نص سره ثابت نه وي دلالة به ثابت او دلالة كسائر الشرائع التي قبض عليها رسول الله ﷺ يا دلالة ثابت وي لكه باقي شرائع هغه شرائع چي پر هغه باندي رسول ﷺ قبض كړل سو :

ولم يلتحق به ما ينافي النسخ من توقيت او تابيد ثبتَ نصًّا كما فى قوله تعالى خلدين فِيْهَا اَبَدًا الخ :

تشريح: الله جل جلاله فرماي ﴿وَلَا تَنْكِحُوْا اَزْوَاجَهُ مِنْ بَعْدِهِ اَبَدًا﴾ په ټول وخت به تاسو دنبى عليه السلام دبي بي گانو سره نكاح نه كوي دغه دتابيد (ابدا) لفظ چي راغلى نو ددې دا معنى چي دا هيڅ وخت نسي منسوخه كيداى محكم هيڅ وخت نسي منسوخه كيداى محكم پر دوه قسمه دئ يو هغه دئ چي فى الحال دتابيد لفظ ورملحق وي بل هغه دئ چي دنبى عليه السلام دوفات وروسته يو حكم محكم گرځيدلي وي دا دواړه نسخه نه قبلوي :

والشرط التمكن من القلب عندنا

دعبارت ترجمه: شرط تمكن دئ دعقد القلب زموږ باندي يعني صرف دومره به وي چي ته عقيده ور باندي ولري دون التمكن من الفعل : نه تمكن من الفعل ، خلافا للمعتزلة: رايه او عقل ددوي په نسخه كي دخل نسته

والشرط التمكن من عقد القلب عندنا دونَ التمكن من الفعل خلاف للمعتزلة الخ :

تشريح:دايو حكم دئ دا حكم راغلی تر اوسه پوري لا عمل نه دئ په سوی خو حکم منسوخه سو دا رکم کیدای سي چي حکم دي راسي بیا دي منسوخه سي پرته له عمله دمعتزله پر نزد شرط دادئ چي تمکن من العمل به وي یو وار به سړي ته دعمل قدرت ورکوي بیا به منسوخه کیږي زموږ په نزد باندي تمکن من العقد غواړي چي څنګه راغلی بس عقیده ورباندي ولره بیا دئ منسوخه سي :

ولا خلاف بين الجمهور ان القياس لا يصلح ناسخا :

دعبارت ترجمه :هیڅ اختلاف نسته په مابین کي دجمهور علماء چي قیاس صلاحیت نه لري چي ناسخ دئ سي قیاس ناسخ نسي جوړیدای صرف نص به ناسخ وي **وكذلك الاجماع عند اكثرهم** همدارنګه د قیاس په مثل باندي اجماع ده په نیز داکثرو اجماع احتمال نه لري چي ناسخ دي سي **لان الاجماع عبارة عن الاجتماع الاراء** : ځکه اجماع عبارت ده داجتماع الاراء څخه مثال ځلور کسان جلا جلال را یه وړاندي کوي نو دغه رایه بیرته عقل دئ عقل په نسخه کي دخل نه لري **ولا مدخل للرأي معرفة نهاية وقت الحسن والقبح فى الشى عندالله تعالى**: هیڅ دخل نسته ورأیه ته په پېژندلو کي دنهایة وخت الحسن والقبح فی الشئ عندالله عقل په دې کي دخل نه لري چي دا دالله په نزد باندي تر دغه وخت پوری حسن وو اوس قبیح سو په دې کي دعقل دخل نسته **وانما يجوز النسخ بالكتاب والسنة** نسخه دکتاب الله په کتاب الله باندي جائز ده او نسخه دکتاب الله په سنة رسول ﷺ جائز ده دامام شافعي رحمه الله نزد باندي سنت دکتاب الله نسخه نسي کولای ځکه دغه نسخه وطعن ته مدرجه ده زینه ده خلګ به وایي دخداي جل جلاله حکم راغلی اول یې نبی علیه السلام نه مني نو موږ یې څنګه ومنو لهذا حدیث ناسخ نسي جوړیدای موږ وایو دالله بنده نسخه خو نیتّه معلومول دي لهذا حدیث ناسخ جوړیدای سي **ويجوز نسخ احدها بالاخر عندنا:**

زموږ په نزد باندي نسخه دیوه په هغه بل جائز ده یعني کله به حدیث ناسخ وي دکتاب الله دپاره کله به کتاب الله ناسخ وي دحدیث دپاره امام شافعي رحمه الله وایي کتاب الله دحدیث دپاره ناسخ نسي جوړیدای ولي بیابه خلګ وایي داڅنګه نبی دئ چي اول واریې الله جل جلاله تکذیب وکړ، **وقال الشافعي رحمه الله لا يجوز** امام شافعي رحمه الله وایي

نسخه ديوه په هغه بل جائز نه ده **لانه يكون مدرجة الى الطعن** ځكه دغه مدرجه ده وطعن ته **وانانقول النسخ بيان مدّةِ الحكم :**

موږ وايو نسخه دحكم نيته بيانوي :

وجائز للرسول عليه السلام بيان مدة حكم الكتاب :

جائز دئ چي دكتاب الله دحكم مده بيان كړي **فقد بُعث مبينا :** نبى عليه السلام مُبَيِّنُ را استول سوي دئ **وجائزُ ان يَتَوَلّٰى الله تعالى بيان ما اجرى على لِسان رسو له ﷺ** دا جائز دئ چي خداى يې حواله كړي نبى عليه السلام ته بيان دغه خبري چي هغه جاري سوي پرژبه درسول **ويجوزنسخ التلاوة والحكم جميعا** دتلاوت او دحكم ددواړو نسخه جائز ده ويجوز نسخ احدهما دون الاخر ، ديوه نسخه جائز ده نه دغه بل ده ولي دقران مجيد دوه مقصده دي يو نفس توري بل معنى اوس راسه لفظ دئ منسوخ سي معنى دي پاته وي معنى به حكم فائده كړي معنى دي منسوخه سي لفظ دي پاته وي په هغه الفاظو به لمونځ وكړو مثال لكه لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ، **لان للنظم حكمين** ځكه نظم لره دوه حكم دئ.

جواز الصلوة: يو جواز الصلوة دئ **وما هو قائم بمعني صيغته :** بل هغه دئ چي دده په صيغه باندي كومه معني ولاړه ده **وكل واحد منهما مقصود بنفسه** هر يو مقصود دئ بنفسه **فاحتمل بيان المدة والوقت** هر يو احتمال لري چي مده او وخت دي بيان كړي يعني الله جل جلاله وايي ددغه الفاظو هم دومره وخت وو نور به داالفاظ نه وايې مثال الشيخ والشيخة اذا زنيا فارجموهما ددغه الفاظو هم دومره وخت وو نور به دا الفاظ نه ويل كيږي يا الله جل جلاله وايي ددې الفاظو دمعنى هم دومره وخت نور وخت يې نسته.

يوسل اودوويشتم سبق

والزيادة على النص نسخ عندنا خلاف للشافعي :

دعبارت ترجمه: زموږ په نزد زيادت پر نص باندي نسخه ده خلاف للشافعي دده په نزد باندي بيان دئ **لان بالزيادة يصير اصل المشروع بعض الحق** ځکه په زيادت باندي اصل مشروع چي مزيد عليه دئ هغه اصل مشروع ګرځي بعض حق **وما للبعض حكم الوجود فيما يجب حقا لله تعالى :**

دبعض دپاره کل حکم نه دي داسي حکم چي واجبيږي او حال دا چي دا خاص دخداي حق دئ **لانه لا يقبل الوصف بالتجزي :** ځکه دخداي حق وصف بالتجزي نه قبلوي **حتى ان المظاهر اذا مرض بعدما صام** مظاهر يوه مياشت روژې ونيولې بيا وروسته مظاهر مريض سو **فَأَطْعَمَ ثلثين مسكينًا** بيا يې ديرشو (۳۰) مسكينانوته ډوډۍ ورکړه ، لم يجز ه : دغه تجزي جائز نه ده **فكانت الزيادة نسخا من حيث المعني** نو زيادت نسخه سو من حيث المعنى ، **ولهذا لم يجعل علماؤنا قراءة الفاتحة ركنا فى الصلوة بخبر الواحد:** داغه خو جه ده زموږ علماؤ قراءت دفاتحې رکن نه دئ ګرځولي په لمانځه کي په خبرواحد باندي **لانه زيادة على النص :** ځکه دغه زيادت دئ پر نص باندي، **وأبوا زيادة النفى حدًّ فى زنا البكر :**
زموږ علماؤ انكار كړي دئ دتغريب عام څخه نص دادئ فاجلدو كل واحد منهما مائة جلدة خبر واحد دادئ البكر بالبكر جلد مائة دغه تغريب عام چي په خبر واحد كي راغلى دئ ددې زيادت پر كتاب الله باندي دا نسخه ده او خبرو احد دكتاب الله ناسخ نسي جوړيداى **وزيادة الطهارة شرطا فى طواف الزيارت** په طواف زيار ت كي دطهارت شرط لګول دغه زيادت زموږ علماؤ منعه كړي دئ **وزيادة وصف الايمان فى رقبة الكفارة بخبر الواحد او القياس** دايمان وصف په رقبة الكفاره كي شرط كول په خبر واحد يا په قياس باندي زموږ علماؤ دغه زيادت منعه كړي دئ ولى دا نسخه ده او په نسخه كي تساوا شرط ده.

والزيادة على النص نسخ عندنا خلافا للشافعي رحمه الله الخ :

تشريح: نص مطلق راغلی دئ ته ودغه نص مطلق ته قید ور ولګوي اوس زیادت پر دغه نص باندي زموږ په نزد باندي نسخه ده دزیادت څخه زیادة غیر مستقله مراد دئ لکه زیادت دقید او شرط لهذا زیادت پر نص باندي دا نسخه دئ زموږ په نزد باندي دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي زیادة علی النص بیان دئ مثال الله جل جلاله فرمایي﴿فَاقْرَءُوْ مَاتَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ﴾ تاسو وایاست هغه قران چي اسانه وي فاقرءوا ماتیسر من القران دا نص دئ نبی علیه السلام فرمایي لاصلوة الا بفاتحة الکتاب د غه زیادت دئ پر نص باندي ددغه خبر واحد (لا صلوة الا بفاتحة الکتاب) زیادت پر نص (فاقرءوا ما تیسّر من القران باندي زموږ په نزد باندي نسخه ده دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي دغه زیادت پر نص باندي بیان دئ :

﴿وَلْيَطَّوَّفُوْا بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ﴾ موږ وایو طواف زیارت فرض دئ امام شافعي وایي طواف زیارت په اودسه باندي فرض دئ دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي دغه خبرواحد(الطواف بالبیت صلوة وشرطه شرط الصلوة الا ان الله تعالی اباح فیه النطق) بیان دئ دو الیطوفوا بالبیت العتیق دپاره زموږ په نزد باندي زیادة علی النص دا نسخه ده اوس راسه موږ چي زیادة علی النص نسخه بولو ددي دپاره دلیل څه شی دئ ددې دپاره دلیل دادئ مثال الله جل جلاله فرمایي والیطّوّفوا بالبیت العتیق دغه نص الله جل جلاله مطلق ویلي دئ دغه خبر واحد (الطواف بالبیت صلوة وشرطه شرط الصلوة الخ) زیادت دئ پر نص باندي نو مطلق مقید سو قانون دادئ چي مطلق او مقید سره ملګري سي نو مجموعه دحکم سي کل حکم سي یو جزء یې مطلق حکم سو بل جزء یې مقید حکم سو :

قاعده: جزء لره حکم دکل نه وي وجود دجزء وجود دکل نه بلل کیږي دیوه جزء په راتللو سره کل حکم نه ورته ویل کیږي دواړه جزئین به وي بیا نو کل حکم دئ که یو راغلی نو جزء راغلی دالله جل جلاله په حقوقو کي تجزي نسبي راتلي یعني تجزي نه قبلوي دبنده حقوق یې قبلوي مثال پر ما باندي کفاره باندي ده زه به دوي میاشتي روژې نیسم مایوه میاشت ونیوله دوهمه میاشت مي دلاسه نه کیږی زه مسکینانو ته ډوډۍ ورکوم یوه میاشت مي

روژې ونيولې بلِه مياشت مي مسکينانو ته ډوډۍ ورکړه دخداي په حقوقو کي مي تجزي وکړه په دغه صورت کي نه روژه قبليږی نه ډوډۍ ورځخه قبليږي ولي دالله جل جلاله په احکامو کي تجزی نه جوړيږي دبنده په حقوقو کي تجزي جوړيږی مثال ما دعوه وکړه پرزيد باندي دپنځلسو (۱۵) روپو دوه ګواهان مي راوستل عمرو وايي زه ګواهي ورکوم چي لس (۱۰) روپۍ يې ورباندي دي بکر وايي زه ګواهي ورکو م چی پنځلس (۱۵) روپۍ يي ورباندي دي اوس شريعت وايي زيد به لس (۱۰) روپي ورکوي ولي په هغه پنځو کي دوه ګواهان وارندي نه سول ګوره دبنده حق پنځلس وو موږ تجزي پکښي وکړه هغه دا چي لس به ورکوي پنځه به نه ورکوي دالله جل جلاله حقوق تجزي نه قبلوي او جزء پور ه حکم نه راځي دامام شافعي رحمه الله خبري پر دې باندي دلالت کوي چي نص بعض حکم دئ زيادت بعض حکم دغه بعضيت نسي جوړيدای زموږ په نزد باندي چي څنګه زيادت راغلی بس دغه زيادت دهغه مخکني حکم وصف ختم کړي اوس راسه په نسخه کي شرط دادئ چي ناسخ او منسوخ به سره برابر وي يا به ناسخ تر منسوخ زورور وی اوس راسه کتاب الله قطعي الدلالة دئ خبر واحد قطعي الدلالة نه دئ نو نسخه زيادت دخبر واحد پر کتاب الله باندي ناروا ده پاته سو خبر واحد دکتاب الله دپاره بيان کيدای سي اوس که ته سوال وکړي چي امام شافعي رحمه الله زيادت دخبر واحد پرکتاب الله جائز بولي او موږ يې جائز نه بولو جواب موږ يې زيادت بولو امام شافعي رحمه الله يې بيان بولي او په بيان کي تساوا شرط نه ده پاته سو نسخه په نسخه کي تساوا شرط ده او خبرو احد دکتاب الله سره مساوي نه دئ په قوت کي نو ځکه موږ په خبر واحد باندي زيادت پر کتاب الله باندي جائز نه بولو :

يوسل اودرويشتم سبق

والذي يتصل بالسنن افعال رسول الله ﷺ الخ :

دعبارت ترجمه: هغه چي متصل کيږي په سننو پوري هغه افعال درسول الله دي **وهي اربعة اقسام مباح ومستحب وواجب وفرض :** دغه افعال په نسبت وموږ ته څلور قسمه دي ۱- مباح ۲- مستحب ۳- واجب ۴- فرض :

تشريح: كه ته سوال وكړي چي تا حرام او مكروه ولي ذكر نه كړل نو موږ وايو چي حرام او مكروه دا دانبياء عليهم السلام په افعالو كي نه دئ موجود يعني نسته ولي انبياء عليهم السلام معصومون دئ دكبائر او صغائر څخه **وفيها قسم اخر:** دنبى عليه السلام په افعالو كي بل قسم هم سته **وهو الزلة** دغه قسم اخر زلة دئ زلة النبى ديته وايي چي په خطاء يو كار ور څخه وسي په قصدا نه وي ددغه اتباع ضروري نه ده ولي نبى عليه السلام فورا وايي چي خطاء وتم ولي نبى عليه السلام چي يو كار وكړ او پكښې خطاء سي نوفورا يې بيان كوي چي خطاء وتم مثال موسى عليه السلام راولاړ سو قبطي يې په سوك وواهو كرار هغه مردار سو موسى عليه السلام دمرداريدو اراده نه وه كړي موسى عليه السلام صرف يو سوك وواهو بيا موسى عليه السلام وويل هذا عمل الشيطان دا شيطاني عمل وسو بس فورا بيان وربسي كوي كه يو ځاى بيان وربسي نه وو نو پوه سه چي دا حق دئ زلت نه دئ:

لكنه ليس من هذا الباب فى شئ: دغه قسم اخر په دغه څلورو اقسامو كي يو هم نه دئ هغه څلور اقسام هغه احكام اربعة دادئ مباح، مستحب ، واجب، فرض يعني دغه قسم اخر داقتداء دباب څخه نه دئ **لانه لا يصلح للاقتداء:** ځكه دا داقتداء صلاحيت نه لري، **ولا يخلو عن الاقتران ببيان انه زلة** دغه قسم دبيان څخه نه خالي كيږي بيان په پسې وي چي دغه قسم زلة دئ

واختلف فى سائر افعاله :

دعبارت ترجمه: سيوا دزلة په نورو افعالو كي اختلاف سوى دئ.

والصحيح ما قاله الجصاص صحيح مذهب هغه دئ چي په هغه باندي جصاص قول كړي دئ. **ان ما علمنا من افعال الرسول ﷺ واقعا على جهة** بيشكه هغه افعال درسول الله ﷺ چي موږ په پوه سو چي پر دغه طريقه باندي واقع دي **نقتدي به فى ايقاعه على تلك الجهة** موږ به دنبى عليه السلام اقتداء كوو چي دغه فعل پر دغه صفت واقع دئ

واختلف فى سائر افعاله والصحيح ما قاله الجصاص الخ :

تشريح: نبی علیه السلام یو فعل کړي دئ اوس ددغه فعل اتباع واجب ده که نه ده واجب نو په دې کې اختلاف دئ څوک وايي واجب الاتباع دئ څوک وايي واجب الاتباع نه دئ صحیح مذهب دجصاص دئ هغه دا نبی علیه السلام یو فعل وکړ نو ته به یې اول معلوم کړې چې دا فعل پر کومه طریقه واقع دئ نو موږ به په هغه طریقه دده اتباع کوو که یو فعل دده څخه واقع وو پر طریقه دوجود یا پر طریقه داباحت یا پر طریقه دندب نو موږ به پر دغه طریقه دده اتباع کوو .

وما لم نعلمه على اي جهة فعله

دعبارت ترجمه : که موږ ته دا معلومه نه وه چې د افعل ده پر کومه طریقه کړي دئ **فَلَنَا**

فِعْلُهُ عَلَى اَدْنٰى مَنازِلِ افعاله ﷺ نو موږ وایو چې فعل دنبی علیه السلام دا محمول دئ پر ادنی منازلو دافعالو درسول الله ﷺ **وهو الاباحة** دغه نو اباحت دئ :

لان الاتباع اصل: ځکه اتباع اصل ده **فوجب التمسک به :** نو دلیل نیول ثابتیږي په دغه اصل باندې **حتى يقوم دليل خصوصه به :**

تر دې پورې چې قائم سي دلیل دخصوص چې دا فعل تر ده پورې خاص دئ

ومالم نعلمه على اى جهة :

تشریح: که موږ ته دا نه وه معلومه چې نبی علیه السلام دا فعل پر کومه طریقه وکړي اوس راسه چې نبی علیه السلام یو فعل وکړ نو کم ازکم دا فعل خو مباح دئ حرام خو نه دئ نو موږ به دا فعل کوو چې ترڅو پورې دا معلومه نه سي چې دا تر نبی علیه السلام پورې خاص دئ مثال نبی علیه السلام تر څلورو زیات ودونه کړي دي دغه فعل تر نبی علیه السلام پورې خاص دئ نو موږ ته دا جائز نه دئ چې تر څلورو زیات ودونه وکړو .

ويتصل بالسنن بيان طريقة رسول الله ﷺ في اظهار احكام الشرع بالاجتهاد :

دعبارت ترجمه: په سنت پورى متصل كيږي بيان دطريقي درسول الله ﷺ په دې كي چي دشرعي احكام به ښكاره وى په اجتهاد باندي ، **واختُلِفَ فى هذا الفصل :** په دې فصل كي اختلاف سوي دئ **والصحيح عندنا انه كان يعمل بالاجتهاد** ، صحيح زموږ داكثرو ملگرو په نزد باندي دادئ چي نبى ﷺ عمل په اجتهاد باندي كولاى سي **اذا انقطع طمعه عن الوحي فيما ابتلي به** هغه وخت چي دنبى عليه السلام طمعه دوحى څخه قطعه سوه په هغه حادثه كي چي دى په مبتلي وو ، **وكان لا يقرّ على الخطا:**

نبى عليه السلام پر خطاء باندي قرار نه نيسي، فاذا اقرّ على شئ من ذالك ولى نبى عليه السلام چي پر يو شي باندي برقرار سو چي بس كوه يې، كان ذالك دلالة قاطعة على الحكم : بس دا قطعي دليل دئ پر حكم باندي ، بخلاف ما يكون من غيره من البيان بالراى ، په خلاف دهغه بيان بالرأى چي هغه وي غير دده څخه يعني باقي مجتهدين چي يو حكم بيان كړي نو دا مجتهدين كله په اجتهاد كي حق ته ورسيږي كله په اجتهاد كي خطاء سي وحق ته نه ورسيږي **وهو نظير الالهام :**

دغه اجتهاد دنبى عليه السلام نظير دالهام دئ ونبى عليه السلام ته چي الهام وسي هغه قطعى دئ دنبى عليه السلام څخه غير وبل چا ته چي الهام وسي هغه قطعي نه دئ دا لهام تعريف دا دئ القاء الخير فى قلب الغير بلا نظر واكتساب . مثال الله جل جلاله په قران مجيد كي وايي ﴿لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا اَرَاكَ اللهُ﴾ چي الله جل جلاله تاته ښكاره كړي وي په هغه باندي ته فيصله وكړي دا الله ښكاره كيدل وده ته الهام دئ . فانه حجة قاطعة فى حقه: دغه الهام دنبى عليه السلام په حق كي دليل قطعي دئ. **وان لم يكن فى حق غيره بهذالصفة :** دبل چا په حق كي الهام دليل قطعي نه دئ **وما يتصل بسنة نبينا عليه السلام شرائعُ من قبله :** شرائع مخته ترنبى عليه السلام چي متصل سي بسنة نبينا عليه السلام **والقول الصحيح فيه ان ما قص الله تعالى اورسوله منها من غير انكار :**

صحيح قول په دې کي دا دئ چي الله جل جلاله او يا دالله رسول ددغه شرائع من قبله څخه قصه بيان کړي غير دانکار **يَلْزَمُنَا عَلى انَهُ شريعة لرسولنا ﷺ** پر موږ باندي لا زميږي پر دې بنياد باندي چي دا شريعت دئ زموږ درسول ﷺ **ومايقع به ختم باب السنة باب متابعة اصحاب رسول الله ﷺ** هغه چي په هغه باندي باب السنة ختميږي هغه دئ باب متابعة اصحاب رسول ﷺ **قال ابو سعيد البردعي رحمه الله تقليد الصحابي واجب:** ابو سعيد البردعي رحمه الله ويلي دي ، دصحابي تقليد واجب دئ ويترک به القياس قياس دصحابي په قول باندي پاتيږي **لاحتمال السماع ولاتوقيف** ولي دا احتمال سته چي صحابي دي پخپله دنبی څخه اوريدلي وي او يا دي صحابي علم حاصل کړي وي چي خبره دراکم ده، **ولفضل اصابتهم فی نفس الرای** ددې وجي چي ددوي (صحابه وو) اصابه زياته وه په نفس رايه کي **بمشاهدة احوال التنزيل:** قران مجيد چي نازليدی دوي په سترګو ليدلي ومعرفة اسبابه: ودوي ته اسباب التنزيل ومعلوم دي چي دغه اية نازل سو دغه يې شان نزول دئ **وقال ابو الحسن الکرخي رحمه الله لا يجوز تقليد الصحابي :** ابو الحسن کرخي رحمه الله ويلي دي تقليد دصحابي جائز نه دئ **الا فيما لايدرک بالقياس :** مګر په هغه ځای کي جائز دئ چي په قياس يې درک نه کيږي لکه اعداد او مقدارات ولي دا په قياس نه معلوميږي **وقال الشافعي لا يُقَلَّد احد منهم** امام شافعي رحمه الله ويلي دي ديوه تقليد به نه **کيږي** **وهذا الخلاف فی کل ماثبت عنهم من غير اختلاف بينهم** دغه خلاف په هر هغه شي کي چي ددوي څخه ثابت وي غير دا ختلافه په مابين ددوي کي که دصحابه په مينځ کي اختلاف راغلی يوه يو رکم ويله بل يوه بل رکم ويله اوس به خامخا ديوه تقليد کوي په قياس به کارنه کوي مثال ته يې فرض کړه دابن عباس او دابن عمر سره اختلاف دئ خامخا به ديوه ذقول تقليد کوي **ومن غير ان يثت انه بلغ غير قائله فسکت مسلما له** داركم به نه وي يو صحابي خبره وکړه ونورو ته ورسيده هغه ټول چپ سول نو خبره يې ومنله ودغه ته اجماع سکوتي وايي په دغه صورت کي به خامخا ددوي تقليد کيږي **من غير ان يثبت انه بلغ غير قائله :** غير ددې چي دا ثابته سي چي دا حکم ورسيدی ونورو ته غير دحکم دقائل **فسکت مسلما له** په وخت دسماع کي غير دقائله ساکت سوه او حال دا چي غير دقائله دا حکم يې تلسم کړي **واما ا ن اختلفوا فی شئ** که چيري دوی په يو حکم کي ا ختلاف سره وکړ **فالحق لا**

يعدوا اقاويلهم نو حق د دوي تر وينا تجاوز نه كوي **ولا يسقط البعض بالبعض بالتعارض** په تعارض باندي بعض په بعض نه ساقطيږي يعني كه ته وايي د دوو صحابه اختلاف سره راغلی اذا تعارضا فتساقطا دا دواړه به ساقط کړو قياس ته به ولاړ سو نو موږ وايو د دوي دواړو قولونه داسي دي لکه قياس په قياس كي دا قاعده (اذا تعارضا فتساقطا) نه چليدل :

لانه تعين وجه الراي ځکه وجه الراي متعين دئ **لما يجز المحاجة بينهم بالحديث** څه وخت چي د دوي په مينځ كي محاجه په حديث باندي جائز نه وو ، **محلُ محل القياس** نو دا د دوي ځای د قياس ځای دئ، **واما التابعي** هر څه چي تابعي دئ **فان زاحَمَهُمُ في الفتوى** كه چيري تابعي په فتوا كي د دوي (صحابه وو) مزاحم سو **يجوز تقليد ه عند بعض مشاخنا رحمهم الله خلاف للبعض** د تابعي تقليد جائز دئ په نزد د بعضو مشائخو زموږ خلاف للبعض دا تابعي دئ دا صحابي دئ د تابعي او د صحابي په خبره كي تعارض سره راغلی بعض وايي د تابعي تقليد جائز دئ بعض وايي نه دئ جائز مثال د زوی ګواهي د پلار په حق كي نه قبليږي د قاضي شُريح په نزد باندي د زوي ګواهي د پلار په حق كي قبليږي د علی ﷺ په نزد باندي ليكن موږ فتوا د شريح پر قول باندي ورکو او حال دا قاضي شريح تابعي دئ او علی ﷺ صحابي .

ويتصل بالسنن بيان طريقة رسول الله ﷺ الخ :

تشريح: يو څو ورځي د نبی عليه السلام څخه وحيي بندي سوې اوس نبی عليه السلام اجتهاد كولای سي كه يې نه سي كولای كه اجتهاد كولای سي نو موږ به دده د اجتهاد اتباع كوو كه به يې نه كوو اصوليينو په دې كي اختلاف كړي دئ د معتزله مذهب دا دئ چي نبی عليه السلام په تول وخت ا جتهاد نه دئ كړي ولی ﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى﴾ موږ وايو نبی عليه السلام باقاعده اجتهاد كړی دئ هغه وخت چي وحي به بندې سوې د نبی عليه السلام د اجتهاد او د عامو مجتهدينو د اجتهاد فرق سته كه عام مجتهدين اجتهاد وكړي نو په دغه اجتهاد كي يصيب او يخطي راځي كه نبی عليه السلام اجتهاد وكړ

هغه صرف يصيب وي يخطي نه وي ولى كه خطاء وتي بس فورا تنبيه پر راځي وحي ورته راځي چي دا مه كوه لهذا دنبى عليه السلام اجتهاد صرف يصيب وي يخطي نه وي ولى پر خطاء باندي فورا تنبيه راځي مثال لكه هغه بنديان په بدر كي عمر فاروق ووېل دغه بنديان دي تقسيم سي هريو دې خپل عزيز قتل كړي نبى عليه السلام كرار فديه ورڅخه واخيسته دغه بنديان يې ايله كړل بس فورا وحى راغلي مثال ﴿عَفَا اللهُ عَنْكَ لِمَ أَذِنْتَ لَهُمْ﴾ الله پاک دي تا ته عفوه وكړي تاولي دوى ته اجازه وركړه.

يوسل او څلرويشتم سبق

باب الاجماع

تمهيد: داجماع دوي (٢) ترجمي دي ١- پخه اراده كول ٢- اتفاق كول دادا اجماع لغوي معنا ګاني دي مثال نبى عليه السلام فرمايي لاصيام لمن لم يجمع الصيام من الليل روژه نسته دهغه چا دپاره چي دشپې څخه درژوي پخه اراده ونه كړي دلته لم يجمع په معنى دپخې ارادې سره دئ:

اجماع كله په معنى داتفاق سره وي مثال عرب وايي اجمعوا على الامر اي اتفقوا عليه دلته اجمعوا په معني داتفاق سره دئ داجماع اصطلاحي تعريف دادئ اتفاق المجتهدين الصالحين من امة محمد ﷺ فى كل عصر على امر من الامور مراد داتفاق څخه اشتراک دئ قولا او فعلا او اعتقادا، اشتراک معنى ګډون مجتهدينو صالحينو پر يو شي باندي ګډون كړي ودېته اجماع وايي كه دمجتهدينو صالجينو پر يو شي باندي اشتراک او ګډون قولى وو ودېته اجماع قولي وايي او كه ددوي اشتراک او ګډون فعلا وو ودېته اجماع فعلى وايي او كه ددوي اشتراک او ګډون اعتقادي وو ودېته اجماع اعتقادي وايي نبى عليه السلام يو وينا كړي او دوي اتفاق ورباندي كړي نو اجماع قولي سوه په يوه معاشره كي يو فعل چليږي او دوي اجماع ورباندي وكړه نو اجماع فعلي سوه لكه مضاربت دوي اجماع پر دې كړي ده چي ابو بكر صديق ﷺ او عمر فاروق ﷺ تر ټولو امت افضليت لري ودېته اجماع اعتقادي وايي:

لهذا اجماع په اصطلاح کي ديته وايي اتفاق المجتهدين الصالحين من امة محمد ﷺ في كل عصر على امر من الامور په دې قيد (المجتهدين) باندي عوام ووته ځکه دعوامو واجماع او اتفاق ته اعتبار نسته په دې قيد (الصالحين) باندي بدعتيان علماء ووتل سلفيان علماء ووتل برليان علماء ووتل ددوي اجماع معتبره نه ده ولي دوي صالحين نه دي په دې قيد (من امة محمد ﷺ) باندي اجماع دهغه امتو ووته چي دنورو خلګو امتونه وي ددوي اجماع معتبره نه ده ولي اجماع معتبره ده من امة محمد ﷺ دنبی علیه السلام دامت اجماع معتبره ده **في كل عصر** صالحينو علماء پر يو شي باندي اجماع کړي ده يو څو کاله بعد نور علماء را پورته سوه وايي موږ ددغه صالحينو اجماع نه منو لهذا اجماع من امة محمد ﷺ دابه په هره زمانه کی وي دمخکني خلګو او دمابعد خلګو انکار دزماني واجماع ته تاوان نه رسوي **على امر من الامور** دا قول بيان دئ لتناوله القول والفعل والاحکام العقلية والشرعية :

اوس راسه اجماع دليل شرعي دئ که نه دئ روافض خوارج نظام معتزلي ددوي پر مذهب اجماع دليل حجت نه دئ معتبر نه دئ داکثرو مسلمانانو په نزد باندي اجماع دليل حجت دئ

اوس راسه دا اجماع دليل په قران او په حديث باندي مثال الله جل جلاله فرمايي ﴿وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلّٰى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيْرًا﴾ . ثوک چي دمؤمانو دلاري ماسيوا دبل چا دلاري تابعداري وکړي نو به موږ دې وګرځوو هغه لور ته چي دی ور ګرځيدلې دي او موږ به دئ داخل کړو جهنم (دوزخ) ته اوبد ځای دئ دورتلو دلته وعيد راغلی دئ پر کومه ګناه چي وعيد راسي هغه حرام دئ نو دا معنی دمومنانو دلاري څخه ما سيوا بله لاره مختاره کول هغه حرامه ده او دحرام ضدواجب دئ نو دا معنی دمؤمنانو لاره مختاره کول واجب ده ټول مؤمنان پر يوه لاره روان دي او ته پر بله لاره ځي نو ګمراه يې

دوهم دليل دا اجماع دپاره ﴿وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيْعًاوَّلَاتَفَرَّقُوْا﴾ او منګولي ولګوي (مؤمنانو) په رسي دالله جل جلاله چي (قران دئ) ټول او مه سره مختلف کيږي دا اجماع دليل په حديث باندي نبی علیه السلام فرمايلي دي لا تجتمع امتي على الضلالة زما امت پر ګمراهي نه سره جمعه کيږي بل حديث عليکم بالسواد الاعظم من شَذَّ شُذَ فِيْ النَّارِ بل حديث

لم يكن الله يجمع امتي على الضلالة دخداي پاک عادت دانه دئ چي زما امت جمع کړي پر ضلالة باندي بل حديث ما راه المؤمنون حسنا فهو عندالله حسن چي کوم شي مؤمنانو حسن بنه بولی هغه دالله په نزد هم حسن بنه دئ.

يوسل او پنځويشتم سبق

دعبارت ترجمه: **اختلف الناس فيمن ينعقد بهم الاجماع** خلګو اختلاف کړي دئ دهغه چا په باره کي چي اجماع په دوي باندي منعقده کيږي

اختلف الناس فيمن ينعقد بهم الاجماع الخ :

تشريح: روافض، خوارج نظام معتزلي ددوي مذهب داوو چي اجماع دليل حجت نه دئ داحنافو پر مذهب داکثرو مسلمانانو پر مذهب اجماع دليل حجت دئ کوم ثوک چي اجماع دليل حجت بولي نن سبق په دوي کي دئ.

قال بَعْضُهُمْ لا اجماع الا للصحابه ﷺ

دعبارت ترجمه: بعضو ويلي دي نه ده اجماع مګر اجماع ده دصحابه ﷺ **وقال بعضهم لا اجماع الا لاهل المدينة :**

بعضو ويلی دي نه ده اجماع مګر اجماع ده داهل المدينة، **وقال بعضهم لا اجماع الا لعترة الرسول ﷺ** اجماع نه ده مګر اجماع ده دعترة الرسول ﷺ **والصحيح عندنا ان اجماع علماء كل عصر من اهل العدالة و الاجتهاد حجة** زموږ په نزد باندي صحيح مذهب دادئ چي دهري زماني دعلماء اجماع حجت دئ مګرصرف علماء به اهل عدالت اهل اجتهاد والا وي، **ولا عبرة بقلّة العلماء و كثرتهم** بعض علماء وايي چي دهري زماني دعلماء اجماع معتبره ده مګر شرط دادئ چي دا علماء به دومره ډير وي چي تواتر ته به رسيدلي وي ليکن فتوى پر دي قول نه ده دجمهور علماء په نزد باندي ولږ علماؤ او ډيرو علماؤ ته اعتبار نسته مثال په

کندهار کي ټول پنځه علماء دي که دغه پنځه علماء پر يو شي باندي اجماع وکړي بس دا اجماع معتبره ده :

ولا بالثبات على ذالک حتى يموتوا :

پنځو علماء پريو شي باندي اجماع وکړه داضروري نه ده چي دا اجماع هغه وخت معتبر وم چي دوی به پر دغه اجماع وفات سوي وي که چيري يو سړي په ژوند کي جلا سو چي زه دا اجماع نه منم بس جلا دي سي ثبات على الاجماع ضروري نه ده وثبات على الاجماع ته اعتبار نسته داوله سره به په اجماع کي داخل وي بيا که يې مخالفت وکړ جلا سي بس جلا دي سي ولي ثبات على الاجماع وديته اعتبار نسته مثال نصيب الله ، حزب الله عبدالله عبدالرحمن نقيب الله دا پنځه سره ديو علاقي غټ معتبر علماء دي دوي ټولو پر يو شي باندي اجماع وکړه په مابين کي عبدالله ووتي عبدالله جلا سو موږ وايو بس جلا دي سي ولي ثبات على الاجماع ضروري نه ده وديته اعتبار نسته :

ولا بالثبات على ذالک حتى يمتوتوا : اعتبار نسته وثبات على الاجماع ته چي بيانوو وروسته مړه سي اهل الاجماع **ولا بمخالفة اهل الهوى فيما نسبوا به الى الهوى :** په بلوچستان کي دعلماء پر يو شي باندي اجماع راغله کرار په بلوچستان کي يو سيفي عالم وو هغه وويل زه دا اجماع نه منم موږ وايو ته يې ګرسره مه منه ولا بمخالفة اهل الهوى داهل الهوى ومخالفة ته اعتبار نسته :

فيما نسبوا به الى الهوى په داسي امر کي چي دوی منسوبه کړي وي په دغه امر سره وخواهيشاتو ته **ولا بمخالفة من لارأى له فى الباب** په يو ځای کي علماء پر يوشي باندي اجماع وکړه دکلي ملک وايي زه يې نه منم موږ وايو ستا (ملک) ورايه ته اعتبار نسته ولا بمخالفة من لارأىَ له فى الباب اعتبار نسته ومخالفت ته دهغه چا چي ده لره ګر سره رايه نسته په دغه باب کي سته **الا فيما يستغني عن الراى :** مګر که داسي ځای وو چي هلته رايه نه غواړي اوس دملک ومخالفت ته اعتبار نسته مثال لکه نقل القران واعداد الرکعات په

دې كې عوامو اقوال معتبر دي او دهغه چا ده معتبر دي چې مجتهد نه وي فائده يې داده كه چيرې يوه ددوي څخه مخالفت وكړنو بيا اجماع نه منعقده.

قال بعضهم لا اجماع الا للصحابة رضي الله عنهم وقال بعضهم لا اجماع الا لاهل المدينة وقال بعضهم لا اجماع الا لعترة الرسول ﷺ الخ:

تشريح: داهل الظواهر (وهو رواية عن احمد بن حنبل) مذهب دادئ چې اجماع صرف دصحابه رضى الله عنهم معتبره ده دامام مالک مذهب دادئ چې اجماع صرف داهل المدينة والا معتبره ده الزيدية والامامية من الروافض ددوي مذهب دادئ چې اجماع صرف دعترة الرسول ﷺ معتبره ده يعني دنبي ﷺ دخاندان او اهل اجماع معتبره ده كوم څوک چې وايي چې صرف دصحابه اجماع معتبره ده دليل يې دادئ مثال الله جل جلاله صحابه ته په قران كريم كې واي ﴿كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ﴾ بل ځاى الله جل جلاله وايي ﴿وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ اُمَّةً وَسَطًا لِتَكُوْنُوْا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ﴾.

دكُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ مخاطبين صرف صحابه رضي الله عنهم دي:

لتكونوا شهداء على الناس ددې خطاب مخاطبين صرف صحابه دي ولي كوم څوک چې په هغه وخت كې نه وه نو هغه به څنګه دخطاب مخاطبين جوړ سى موږ په هغه وخت كې نه وو نو موږ به څنګه مخاطبين جوړ سو.

موږ وايو دا دليل كمزورى دئ ولي دغه اية چې نازليدى هغه صحابه چې تر دئ مخته وفات سوي دي نو ددې دا معنى نعوذ بالله من هذا هغه صحابه چې وفات سوي دي هغه ددغه اية مخاطبين نه دي دوهم هغه صحابه چې تر اوسه يې ايمان نه وي راوړي دكنتم خير امة للناس ددغه دنزول وروسته يې ايمان راوړي وي نو ددې دا معنى چې دغه صحابه دكنتم خير امة مخاطبين نه دي ولي داصحابه دخطاب په وخت كې نه وه او ددې ته (اهل الظواهر وهو رواية عن احمد بن حنبل) هم نه يې قائله ته وايي چې هغه وفات سوي دئ او يا يې وروسته

ايمان راوړي وي دا ټول د خطاب مخاطبين دي دريم په كنتم خير امة كي داجماع خبره كومه ده كه ګر سره خطاب تر صحابه پوري محدود سي دلته د اجماع خبره كومه ده لهذا دلته داجماع خبره نسته صرف كه خطاب تردوي پوری متعين سي نو به ددوي پر وصف باندي دلالت وكړي پر دې باندي دلالت نه كوي چې ددوي څخه ماسيوا دبل چا اجماع نه ده معتبره:

بل دليل په حديث باندي وايي نبی عليه السلام وايي اصحابي كلهم عدول: زما ټول صحابه عادلان دي بل ځای وايي اصحابي كالنجوم بِأَيِّهِمُ اقْتَدَيْتُمُ اهْتَدَيْتُمُ موږ وايو صحيح دئ دايي تعريف دئ مګر دلته دا ښكاره نه ده چي دصحابه اجماع معتبره ده دبل چا اجماع نه ده معتبره بله دا اجماع دا راء او دعلم او دضبط او اتقان او دعدالت سره كار لري:

دخلګو سره كار نه لري كه دغه خويونه په بل چا كي جمعه سي دهغو اجماع معتبره ده :

بله دا چي ددې معنى دمسائلو ضرورت صرف تر صحابه پوری وو ددې مابعد دنوي مسائلو ضرورت نسته حالانكي دصحابه په زمانه كي دنوي مسائلو دومره ضرورت نه پيښيدی لكه اوس چي دنوي مسائلو ضرورت پيښېږي ولي دصحابه په زمانه كي سيرون نه وو طياري نه وي ګوياوي نه وي ددې احكام به موږ له څه شي پيژنو ، چي دنيا څومره پرمخ ځي دا غونه مسائل پيدا كيږي او مسائل په وسائلو پسي ځي امام مالک رحمه الله وايي صرف داهل المدينه والا اجماع معتبره ده دليل يې دادئ نبی عليه السلام فرمايي المدينة طيبة تنفي خبثها كما تنفي الكبر خبث الحديد :

موږ وايو دا خو دمدينې فضيلت دئ په دې كي داجماع څه خبره ده دا داجماع سره كار نه لري دی وايي دبل ځای د اسي فضيلت نبی عليه السلام نه دئ بيان كړي موږ وايو خالي دځای په فضيلت اجماع معتبريږي دی وايي وو موږ وايو بيا خو فضائل په مكه معظمه كي ډير دي په مكه معظمه كي بيت الله سته په مدينه كي نسته په مكه معظمه كي د زم زم اوبه سته په مدينه كي نسته په مكه معظمه كي مقام ابراهيم سته په مدينه كي نسته دلته صفا او مروا سته په مدينه كي نسته لهذا دځای په فضيلت باندي اجماع نه معتبريږي ولي دځای

فضيلت جلا شي دئ دسړي فضيلت جلا شي دئ لهذا اجماع دځای سره کار نه لري اجماع دخلکو سره کار لري ولې يو سړي به په مدينه کي اوسيږي مګر جاهله به وي يو سړي به په بلوچستان کي اوسيږي بنه عالم به وي دخبري خلاصه داده اجماع خلکو سره کار لري دځای سره کار نه لري:

الزيد ية الا مامية من الروافض دوي وايي اجماع صرف دعترة الرسول ﷺ حَسَنين ددغه ځلورو اجماع معتبره ده ولي الله تعالى دوي ته وايي ﴿إِنَّمَا يُرِيدُ اللهُ لِيذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ﴾ الله تعالى دا اراده لري چي ستاسو څخه رِجس ليري کړي که ته وايي رِجس څه شي دئ وايي رِجس معنى خطاء يعني دوي خطا کيږي نه دانبياء عليهم السلام ددوي وروسته ددغه ځلورو (على رضي الله عنه فاطمه حسنين) څخه ما سيوا نور معصومه نسته دغه ځلور معصومه دي په دې وجه ددوي اجماع معتبره ده دبل چا اجماع معتبره نه ده موږ وايو چا ويل چي درِجس دا معني (خطاء) ده خطاء درِجس معنى نه ده رجس دا معنى چي بد نامي دربانذي راسی هغه الله تعالى درڅخه ليري کوي :

دخبري خلاصه داده: دهر چا اجماع معتبره ده مګر خپل شرطونه لري :

يوسل او شپږويشتم سبق

ثم الاجماع على مراتب :

دعبارت ترجمه: اجماع پرمراتبو ده **فالاقوى اجماع الصحابه نصا :** تر ټولو زوروره اجماع دصحابه رضي الله عنهم ده تصريحا **لانه لا خلاف فيه:** ځکه په دغه قسم اجماع کي اختلاف نسته **ففيهم اهل المدينة وعترة الرسول** ﷺ ځکه په دوي کي اهل المدينه دي عترة الرسول ﷺ دي **ثم الذي ثبت بنص بعضهم وسكوت الباقين** دوهم قسم دا اجماع هغه ده چي بعضو تصريح په کړي وي بعضو سکوت کړی وي سکوت تقرير فائده کوي تقرير تر نص کم دئ نص پر زورور دئ **لان السكوت فى الدلالة على التقرير دون النص** سکوت په دلالت کي پر تقرير دحکم وي تر نص کم وي از روئي وضاحت

ثم الاجماع على مراتب فالاقوى اجماع الصحابة رضي الله عنهم نَصًا لانه لا خلاف فيه الخ

تشريح : په کتاب الله کي دظاهر یوه مرتبه ده دنص بله مرتبه ده دمفسر بله مرتبه ده دمحکم بله مرتبه ده په اجماع کي هم مراتب دي تر ټولو زوروره اجماع دصحابه وو ده ځکه په دوي کي اهل المدینه والا هم دئ عترة الرسول والا هم دئ :

او هم صحابه ﷺ دي او هم دوخت علماء دي دا اتفاقي اجماع ده امام مالک رحمه الله یې هم مني شعیه ګان یې هم مني موږ خو یې منو چي منو .

دصحابه اجماع پر دوه قسمه ده اول قسم اجماع هغه ده چي ټولو تصریح په کړې وي چي خبره همداسي ده دغه قسم اجماع قطعي ده دا خاص داسي ده لکه قران ددې انکار کول کفر دئ په داغه وجه موږ شعیه ګان کافران بولو ولی دوي ددغه اجماع نصي مخالفه دي ټول صحابه را ټول سوه وي ویل زموږ خلیفه صدیق اکبر ﷺ دئ تصریح یې په وکړ لیکن شعیه ګان یې نه مني ددغه اجماع څخه یې مخالفت وکړ نو ځکه یې مشهوره قاعده جوړه کړه من انکر صحبةِ ابی بکر فهو کافر کوم څوک چي دابوبکر دصحبت څخه انکار کوي نو هغه کافر دئ .

دعبارت ترجمه : **ثم اجماع من بعد الصحابه على حكم لم يظهر فيه اجماع من بعد الصحابه** پر داسي حکم باندي چي نه وي ښکاره سوي په دې حکم کي قول من سبقهم مخالفا : تر دوي مخته چي کوم صحابه تیر سوي د ي په دغه حکم کي به ددغه صحابه وینا به مخالفه نه وي دتابعینو داجماع څخه یعني تابعینو پر یوشی اجماع کړې ده په دغه شي کي دصحابه مخالف قول نه پیدا کیږي

ثم اجماع من بعد الصحابة على حكم لم يظهر فيه قول من سبقهم مخالفا :

تشریح: دمبیع معدوم سودا نه ده صحیح مګر دتابعینو اجماع راغله پر استصناع باندي استصناع ودیته وایي زه چمپل ګوټونه جوړوم عمرو ماته راغلی نور ګوټونه یې ماته راوړه

راته وايي دارکم گوټونه را جوړ کړه يعني پردغه ناف گوټونه راته جوړ کړه ما او عمرو چې پر دغه گوټو سودا وکړه هغه گوټونه في الحال نسته مگر تابعينو وويل استصناع جائز ده :

ثم اجماعهم على قول :

دعبارت ترجمه: تابعينو اجماع کړې پر داسي قول باندي **سبقهم فيه مخالف :** چې مخته به وي تر دوي په دې قول کي مخالف **فقد اختلف العلماء في هذالفصل :** زموږ علماء اختلاف کړي دئ په دغه فصل کي **فقال بعضهم هذا لا يكون اجماعا:** بعضي وايي دغه اجماع نه ده ، **لان موتَ المخالف لا يبطل قوله** دمخالف دموت (مرگ) قول نه باطليږي دده قول ژوندي دئ چې قول دده ژوندي دئ گويا کي دی ژوندی دئ چې دی ژوندی دئ خلکو پريو شي باندي اتفاق وکړي او دې نه دئ ورسره دی ور څخه مخالفه سو نو اجماع نه ده معتبره **وعندنا اجماع علماء كل عصر حجة** زموږ په نزد باندي دهري زماني دعلماؤ اجماع حجت ده ، **فيما سبق فيه الخلاف وفيما لم يسبق :** که اختلاف وي او که اختلاف نه وي **لكنه فيما لم يسبق فيه الخلاف بمنزلة المشهور من الحديث وفيماسبق فيه الخلاف بمنزلة الصحيح من الاحاد:** موږ يې هم فرق کوو که مخالف قول په اجماع کي تېر سوي نه وو هغه اجماع زوروره ده که مخالف قول تير سوي وو هغه اجماع کمزوري ده لکه حديث چې يو مشهور ووبل خبر واحد وو که مخالف قول نه وو تير سوي هغه اجماع په منزله دمشهور من الحديث ده که مخالف قول تير سوی وو هغه اجماع پر منزله دخبر صحيح من الاحاد ده په دوه زره (٢٠٠٠) سنه کي علماء پر يو شي باندي اجماع وکړه په دوه زره يو (٢٠٠١) سنه کي موږ ته اجماع را نقل سوه اوس به دغه نقل ته گورو يا به دغه اجماع موږ ته را نقل سوي وي په طريقي دتواتر که په طريقي دتواتر سره نقل سوي وه وموږ ته نو اجماع متواتره ده :

ثم اجماعهم على قول سبقهم فيه مخالف الخ :

تشريح: ته يې فرض کړه سفيان الثوري رحمه الله حسن بصري رحمه الله حضرت امام صاحب رحمه الله دا دامت غټ علماء دي دوي پر يو شي باندي اجماع وکړه ليکن دعلى ﷺ

قول ددغه اجماع څخه مخالف دئ اوس دغه اجماع څنګه ده دغه اجماع څلورمه رتبه لري لیکن ا ختلاف پکښې دئ بعضي علماء یې نه مني بعضي علماء یې مني احناف یې مني ولی احنافِ وايي دهري زماني دعلماؤ ا جماع معتبره ده امام صاحب وویل نحن رجال وهم رجال موږ هم خلک یو دوي هم خلک دي :

دعبارت ترجمه: **واذا انتقل الینا اجماع السلف باجماع علماء کل عصر علی نقله:**

که چیري وموږ ته را نقل سوه اجماع دسلفو په اجماع سره دعلماء دهري زماني ددې پر نقل باندي یعني په دونفره کي اجماع سوي وه په دوه زره یو کي بیا علماء ا جماع وکړه داسي ده لکه حدیث متواتر چي را نقل سوي وي **واذا انتقل الینا بالافراد** که چیري اجماع موږ ته رانقل سوه په طریقه داحادو **کان کنقل السنة بالاحاد :**

نو دغه اِجماع داسي ده لکه نقل دسنة بالاحاد **وهو یقین باصله** اجماع پخپل اصل کي یقیني ده مګر پر طریقه داحاد چي را نقل سوه نو ظن پکښې پیدا سو : **وهو یقین باصله :** دغه اجماع یقیني ده باصله ، **لکنه لما انتقل الینا بالاحاد:** مګر دغه اجماع چي وموږ ته رانقل سوه پرطریقه د احادو **اوجب العمل دون العلم** نو عمل کولورباندي واجب دئ اعتقاد ورباندي درلودل واجب نه دئ **وکان مقدما علی القیاس:** دغه اجماع که څه هم ظني ده خو داغه اجماع به بیا هم مقدمه وي پر قیاس باندي .

یوسل او اوویشتم سبق

باب القیاس

دعبارت ترجمه: **وهو یشتمل علی بیان نفس القیاس وشرطه ورکنه وحکمه ودفعه :**

باب القیاس مشتمل دئ پر بیان دنفس قیاس پر بیان دشرط قیاس پر بیان درکن قیاس پر بیان دحکم قیاس بربیان ددفع قیاس .

وهو یشتمل علی بیان نفس القیاس وشرطه ورکنه وحکمه ودفعه الخ :

تشريح: سلفيان قياس نه مني خوارج قياس نه مني روافض قياس نه مني معتزله قياس نه مني اهل الحديث قياس نه مني ددوي دليل دادئ ﴿وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ﴾ موږ نازل کړي دئ پر تا (اي محمد) کتاب (چي قران دئ) بيان واضح دپاره دهر شي چي قران هر شي بيانوي بيا دقياس څه ضرورت سته بل ځای الله جل جلاله فرمايي ﴿وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ اِلَّا فِيْ كِتَابٍ مُبِيْنٍ﴾ نه لنده خبره سته نه وچه خبره سته مګر دا لنده خبره او وچه خبره په قران مجيد کي سته موږ دوي ته جواب ورکوو هغه دا که موږ قياس مثبت بللي بيا به تاسو اعتراض کولای موږ قياس مثبت نه بو لو موږ قياس مظهر بولو که موږ داوله سره په قياس باندي دچرسو حرمت ثابت کړي وای نوبيا به تاسو ويلی وايي چي تاسو په قياس باندي دمسئلي اثبات وکړي موږ داسي وايو شراب حرام دي ولي دا حرمت په قران کريم ثابت دئ ولي په شرابو کي نشه سته نو موږ وويل دغه نشه په چرسو کي هم سته شراب حرام نو چرس هم حرام ګوره موږ په قياس باندي دشرابو حکم په چرسو کي ښکاره کړ لهذا موږ صرف په قياس باندي دقران کريم حکم بل ځای ښکاره کړو لهذا قران بلکل تبيان دئ دهر شي دپاره مګر په دې حواله باندي چي په بعضو ځايو کي مثبت دئ په بعضو ځايو کي معلل دئ بل شي ورباندي قياس سي چي ورباندي سي نو هغه بيرته په قران ثابت دئ موږ وايو قياس حجت دئ دقياس دحجت دپاره يو دليل کتاب الله بل دليل حديث شريف دئ قياس حجت دئ ددې دپاره دليل دادئ ﴿فَاعْتَبِرُوا يَا اُولِي الْاَبْصَارِ﴾ تاسو عبرت واخلي اي خاوندانو دسترګو اعتبار څه شي ته وايي اعتبار وايي يو مثل پر بل مثل ورعارضول چرس پر شرابو ورعارضو ودغه ته اعتبار وايي بل دليل حديث دئ نبی عليه السلام چي معاذ استوی ويمين ته قال بم تقضي. ته په څه شي فيصله کوي قال بکتاب الله معاذ ورته وايي دالله جل جلاله په کتاب فيصله کوم قال فان لم تجد نبی عليه السلام ورته وايي که تا نه کړې پيدا قال بسنة رسول الله: معاذ ورته وايي درسول الله په سنت فيصله کوم قال فان لم تجد: که تا نه کړې پيدا قال اجتهد برايي معاذ وايي پخپله رايه اجتهاد کوم فقال عليه السلام الحمد لله الذي وفق رسول رسوله بمايرضی به رسوله:

مگر دوي پر دغه حديث باندي اعتراض کوي هغه دا په قران کريم کي الله تعالی فرمايي مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْئٍ ما په کتاب الله کي هيڅ شي نه دئ پرې ايښي :

نو موږ وايو صحيح ده په قران کي هر شي سته مگر په ظاهره چرس نسته شيشه نسته موږ به اجتهاد بالرای کوو لهذا قياس صرف مظهر داحکامو دئ قياس مثبت داحکامو نه دی نبی عليه السلام ومعاذ ته داسي وويل فان لم تجد که تا پيدا نه کړ داسي نه ورته وايي که نه وو ونی په قران کي هر شي سته بلکي داسي ورته وايي فان لم تجد .

يوسل او اتويشتم سبق

دعبارت ترجمه: **اما الاول** : اول بيان دنفس قياس دئ. **فالقياس هو التقدير لغة يقال قس النعل بالنعل ای قدره به واجعله نظير الاخر** نو قياس وايي اندازه کولو ته از روئي لغت عرب وايي دوهمه چوټه داولي چوټي اندازه کړه او دوهمه چوټه داولي چوټي نظير وګرځوه

اما الاول فالقياس هو التقدير لغة يقال قِس النَعلَ بالنَعلِ اي قدِرهُ به اجعلَه نظير الاخر الخ

تشريح: دقياس دوي ترجمې دي يوه ترجمه يې ده مساوات دوهمه ترجمه يې ده اندازه مثال عرب وايي قِس النَعْلَ بالنَعْلَ ته چوټه دچوټي سره برابره کړه يعني عمرو موچي دئ زيد وعمرو ته چوټه ورکړه زيد ورته وويل چي بله چوټه پر دغي چوټي راجوړه کړه نو عمرو به دوه کاره کوي يو دا چي ددغي چوټي اندازه به اخلي دوهم دا چي چوټه به ددغي چوټي سره برابر وي ګوره په قياس کي دواړي معنا ګاني راغلی هم دمساوات معني هم داندازي معنی :

دعلامه ابن حاجب رحمه الله په نزد باندي دقياس معنی ده برابري کول دجمهور په نزد باندي دقياس معنی ده اندازه کول موږ چي دقياس دوې معا ګاني بيان کړي په دې کي په دواړو مذاهبو باندي عمل وسو .

والفقهاء اذا اخذو حكم الفرع من الاصل:

دعبارت ترجمه : فقهاء چي هر كله واخلي حكم دفرعي داصل څخه **سمّوا ذالک قياسا** نو فقهاء ودغه ته دقياس نوم وركوي.

سوال : دا لغوي معنا ده دا اصطلاحي معنا ده قانون دادئ چي ته اصطلاحي معنى اخلي نو لغوى معنى به په معنى اصطلاحي كي ملحوظ وي يعني دمعني لغوي او دمعني اصطلاحي به څه ناڅه مناسبت وي اوس سوال دادئ چي دلته دمعني لغوي (اندازه) او دمعني اصطلاحي (اخذ) څه مناسبت دئ مصنف جواب وركړي وي ويل **لتقديرهم الفرع بالاصل فى الحكم والعلة** دډ وجي چي دوي (الفقهاء) فرعه په اصل باندي اندازه كوي په حكم او علت كي اوس راسه حكم او علت زده كړو مثال شراب حرام دغه (حرام) حكم دئ لانه مُخمرٌ دغه (لانه مخمر) علت دئ چرس حرام دغه (حرام) حكم دئ لانه مخمر دغه (لانه مخمر) علت دئ دغه دواړه يعني اصل (شراب) او فرعه (چرس) سره اندازه كوي په حكم او علت كي :

والفقهاء اذا اخذوا حكم الفرع من الاصل سمّوا ذالک قياسالتقدير هم الفرع بالاصل فى الحكم والعلة الخ :

تشريح: دقياس مشهور تعريف دادئ تعدية الحكم من الاصل الى الفرع حكم داصل څخه متعدي كول وفرعي ته يعني ته په دماغ كي اصل شراب كنبيږده فرعه چرس كنبيږده دشرابو حكم حرمت دئ تعدية الحكم من الاصل الى الفرع داصل (شراب) څخه حكم (حرام) وړل وفرعي (چرس) ته دغه د قياس مشهوره تعريف دئ مګر پر دغه مشهوره تعريف اعتراض كيدئ مصنف را ولاړ سو تعبير يې بدل كړ هغه اعتراض دادئ چي حكم واصل ته ورعارض سو يعني حكم چي حرمت دئ دغه واصل ته چي شراب دي ودغه اصل ته ورعارض سو اوس اعتراض دادئ چي عرض انتقال نه قبلوي چي انتقال نه قبلوي نو بيا تاسو څنګه دغه عرض (حرمت) داصل (شراب) څخه نقل كوي وفرعي (چرس)ته دغه اعتراض كيدئ ددغه اعتراض ددفع دپاره مصنف تعبير يې بدل كړئ دتعدية پرځاى يې

اخذ وويلي يعني دفرعي حكم دِاصل څخه اخيستل يعني هلته يو حکم لګيدلې دئ نو دلته يې هم ولګوه :

فائده : که په قياس کي اصل راغلی نو مقيس عليه ورڅخه مراد دئ که په قياس کي فرعه راغله نو مقيس ورڅخه مراد دئ :

دعبارت ترجمه: **فان لا يکون الاصل مخصوصا بحکمه بنص اخر** اصل به مخصوص نه وي بحکمه چي دا حکم تر دغه اصل پوري خاص دئ دنص اخر په ذريعه باندي **کقبول شهادة خزيمه ﷺ وحده:**

لکه يو ازي دخزيمه ﷺ ګواهي چي قبوله ده **کان حکما ثبت بالنص اختصاصه به کرامة** له دايو داسي حکم دئ چي ثابت دئ په نص باندي اختصاص دحکم په ده (خزيمه ﷺ) پوري ولي دا دخزيمه ﷺ کرامت دئ دا دعدمي يو شرط وو.

واما شرطه فان لا يکون الاصل مخصوصا بحکمه بنص اخر الخ :

تشريح :دقياس څلور شرطونه دي دوه عدمي دي دوه وجودي دي اول به عدمي **شرطونه** بيان کړي بيا به وجودي بيان کړي اوس که ته سوال وکړي چي عدمي ولي پر وجودي مقدم کوي نوته به جواب ورکړي چي په ممکناتو کي عدم پر وجود مقدم وي نبی عليه السلام داعرابي څخه اوښه اخيستي وه نبی عليه السلام پيسي ورکړي يوڅو وخت بعد اعرابي دعوه وکړه وي ويل تا (نبي عليه السلام) ماته پيسي نه دي راکړي اوس راسه نبی عليه السلام ناست دئ اعرابي ناست دئ يو صحابی ﷺ (خزيمه ﷺ) ناست دئ دا دري سره ناست دي اعرابي ورته وايي که تا ماته پيسي راکړي دي نو ګواه راوله خزيمه ﷺ ورته وويل زه ګواهي ورکوم چي نبی عليه السلام تاته پيسې درکړي دي ،نبی عليه السلام ورته وکتل ورته وې ويل ته کله وي خزيمه ﷺ ورته وويل چي ته (نبی عليه السلام) داسمان مکمل وحي راته بيانوي آو زه ګواهي ورکومه نو اوښ څه شي دئ لهذا زه ګواهي ورکومه بس چي تا وويل زه حاضر يم ددغه (خزيمه ﷺ) انداز نبی عليه السلام ته ډير

خوند ورکړ نبی علیه السلام وویل دکوم چا په حقله چي خزیمه ﷛ ګواهي ورکړي بس دا ګواهي یې بس ده :

حالانکي قانون خو دادئ واستشهدوا شهیدین من رجالکم : ګواهان به دوه کسان وي که دوه کسان نه وه نو بیا به یو نر او دوې ښځي وي .

مګر دلته دیوه خزیمه ﷛ ګواهي قبلیږي ولي دا په نص سره ثابت دئ :

اوس راسه خزیمه ﷛ اصل دئ او ته صدیق اکبر ﷛ پر قیاسوي ته داسي ووایي دخزیمه ﷛ ګواهي ددوو پرځای ده نو دصدیق اکبر ﷛ ګواهي هم ددوو پرځای ده موږ وایو داسي قیاس نسي کیدای ولی اصل په نص سره ثابت دئ دا تر ده پوري خاص دئ تر بل چا پوري نه دئ خاص اوس راسه دا مقیس علیه دئ نص راغلی وي ویل دا حکم تر ده پوری خاص دئ په دغه رکم ځای کي پرده باندي بل ثوک نسي قیاسیدای ولي نص وایي دا حکم تر ده پوري خاص دئ دا حکم به بل ځای نه وړي.

یوسل او نه ویشتم سبق

دعبارت ترجمه: **وان لایکون الاصل معدولا به عن القیاس** دوهم شرط دعدمي دادئ چي اصل به مخالفه نه وي دقیاس ثخه **کایجاب الطهارة بالقهقهة فی الوصلوة** لکه په لمانځه کي ایجاب دطهارت په قهقهه باندي

وان لا یکون الاصل معدولا به عن القیاس الخ :

تشریح دا اصل دئ دا فرعه ده ته را ولاړیږي دفرعي حکم داصل ثخه اخلي ددغه اصل شرط دادئ چي حکم به داصل مخالف نه وي دقیاس ثخه که چیري دقیاس ثخه مخالف وو بیا پر دغه اصل باندي بل ثوک نه قیاسیږي ولي که په دغه اصل کي علت واي بیا به موږ په فرعه کي دغه علت پیدا کړي واي بیا به موږ قیاس کړي وای اوس په اصل کي خپله علت نسته چي علت نسته نو بل به ثنګه وربانديقیاس سي مثال صحابه ﷛ پر لمانځه ولاړ دي

يو ړوند صحابي را روان دئ په کډي کي ولويدى صحابه وو ورباندي وخندل نبی علیه السلام ورته وويل اَلا مَنْ ضَحَکَ مِنکُمْ قهقهة فی الصلوة فلعيد الوضوء والصلوة جميعا :

خبر دار چا چي خندا قهقهه وکړه په لمانځه کي نو اودس او لمونځ دواړه دي را وګرځوي په قهقهه باندی اودس ماتيدل ددې عقل درک نسي کولای طهارت په نجاست باندي ختميږي يعني اودس په خروج من السبيلين باندي ماتيږي او دلته نجاست نسته لهذا په قهقهه باندي اودس ماتيدل دا دعقل او قياس څخه مخالفه دئ اوس که لمونځ ذات الرکوع والسجود والا وو بيا نو اودس په قهقهه باندي ماتيږي اوس پر دغه لمانځه باندي دجنازي لمونځ نه قياسيږي دسجدة التلاوة لمونځ نه قياسيږي په دغه دواړو لمونځونو (صلوة الجنازه وسجدة التلاوة) کی اودس په خندا قهقهه باندي نه ماتيږي يعني که سړي دجنازي په لمانځه کی وخاندي اودس يې نه ماتيږي په سجدة التلاوة کي که سړي وخاندي اودس يې نه ماتيږي ولي دا دواړه پر اصل باندي نه قياسيږي ولی اصل خپله دقياس او عقل څخه مخالفه دئ که کو چيني په لمانځه کي و خندل نو اودس يې نه ماتيږي ولی دنبی عليه السلام سره چي کوم صحابه ولاړ وه هغه ټول غټان وه دا پخپل مورد کي بند دئ کوچني نسي ورباندي قياسيدای دعدمي ددوهم شرط خلاصه داده چي حکم داصل به مخالفه نه وي دقياس او عقل څخه که چيري مخالفه وو بيا بل څوک نسي ورباندي قياسيدای :

دعبارت ترجمه: **وان يتعدي الحکم الشرعي الثابت بالنص بعينه الی الفرع هو نظيره ولا نص فيه:** وړل کيږی به حکم داسي حکم چي شرعي به وي داسي حکم چي ثابت به وي په نص باندي کټ مټ به دغه حکم وړل کيږي وفرعي ته تغير دحکم به نه وي په فرعه کي دغه فرعه به نظير داصل وي او نص به په فرعه کي نه وي.

وان يتعدى الحکم الشرعي الثابت بالنص بعينه الى فرع هو نظيره ولا نص فيه الخ :

تشريح: عدمي شرطونه ختم سول اوس مصنف په وجودي شرطو باندي شروع کوي دوجودي شرطو څخه اول شرط متضمن دئ وپنځو شرطو ته :

اول شرط دوجودي متضمن دئ وپنځو شرطو ته اول شرط د ادئ : دااصل دئ دا فرعه ده ته چي داصل ځخه حکم وړي وفرعي ته نو دا حکم به شرعي وي لغوي به نه وي يعني په عقل به ثابت نه وي په نص به ثابت وي دوهم شرط دادئ تا داصل ځخه حکم و فرعي ته يوړي دغه حکم به په فرعي کی تغير نه وي خوړلي دا حکم به په فرعه کي داسي وي لکه په اصل کي چي وي :

دريم شرط دادئ : دا اصل دئ دا فرعه ده دا فرعه به داصل نظير وي ځلورم شرط دادئ: دا فرعه ده ته چي دغه فرعي ته حکم راوړي نو به په دغه فرعه کي نص نه وي ولي که په فرعه کي نص وو بيا دقياس ځه ضرورت دئ پنځم شرط دادئ چی نص به معلول په داسي علت وي چي هغه به متعدي وي قاصر به نه وي لهذا متعدي به وي لکه نص دربار قاصر به نه وي لکه په ثمنو کي ، علت په ثمنو کي ثمنيت دئ دغه ثمنيت پر ده قاصر دئ وغيرته دده نه متعدي کيږي .

فلا يستقيم التعليل لاثبات اسم الخمر لسائر الاشربة :

دعبارت ترجمه : امام شافعي ته چي تعليل کوي ددې وجې چي ته دشرابو نوم وړي وباقي اشربه ته دغه تعليل نه دئ صحيح نه دئ مستقيم **لانه ليس بحکم شرعي :** ځکه دغه تعليل حکم شرعي نه د ئ بلکي دا حکم لغوي دئ **ولا لصحة ظهار الذمي** پر دوهم شرط باندي تفريع ده تعليل کول ددې وجی چي ظهار دذمی صحيح سي دا تعليل صحيح نه دئ مستقيم **لکونه تغيرا للحرمة المتناهية بالکفارة فی الاصل الي اطلاقها فی الفرع عن الغاية :** ځکه دغه تعليل تغير دئ وحرمت ته داسي حرمت چي متناهي دئ په کفاره باندي په اصل کي دا تغير دئ ومطلق حرمت ته په فرعه کي د ا مطلق هم دئ دغايي ځخه **ولا لتعدية الحکم من الناس فی الفطر الی المکر ه والخاطی** تعليل کول ددې دپاره چي ته دناسی فی الفطر ځخه حکم وړی ومکره ا وخاطي ته دغه تعليل نه دئ صحيح نه دئ متقيم **لان عذرهما دون عذره** ځکه دمکره او دخاطي عذر کم دئ دناسي تر عذر ه **فکان تعديته الی ما ليس بنظيره :**

نو تعديت دناسي دحكم ومكره او خاطي ته دا تعديت سو وهغه ته چي هغه دناسي نظير نه دئ دا تفريع وه پر دويم شرط **ولشرط الايمان فی رقبة كفارة اليمين والظهار** دظهار او ديمين د كفارې په رقبه كي دايمان شرط لګول د غه تعليل نه دئ صحيح نه دئ متستقيم ولي په فرعه کی نص راغلی دئ :

مختلف فيها مسئله: زموږ داحنافو مذهب دا دئ چي صدقه واجبه چي زكات دئ دغه صدقه واجبة وكافر ته نسي وركولاي پاته سو صدقه نافله صدقه نافله سړي كافرته وركولاي سي امام شافعي رحمه الله صدقه نافله پر صدقه واجبه باندي قياسوي وايي لكه څنګه چي كافر ته زكات نسي وركولای نو نور ښه هم نسي ور سره كولای موږ وايو په صدقه نافله كي نص راغلی دئ چي نص راغلی دئ بيا د قياس څه ضرورت سته هغه نص دادی ﴿لَا يَنْهَاكُمُ اللّٰهُ عَنِ الذِيْنَ لَم يُقَاتِلُوْكُمْ فِيْ الدِّيْنِ وَلَمْ يُخْرِجُكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ اَنْ تَبَرُّوْهُمْ وَتُقْسِطُوْا اِلَيْهِمْ اِن اللهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ﴾:

تاسي نه منع كوي (اي مومنانو) الله جل جلاله له هغو كسانو چي ستاسو سره يې جنګ نه دي كړي په دين كښي او تاسو يې نه ياست ايستلي دخپلو كورنو څخه تاسو له دوي سره نيكي كوي او تاسو عدل كوي له دوي سره بيشكه الله جل جلاله خو ښوي انصاف عدل كوونكي وفی مصرف الصدقات : نه دئ صحيح پنځه مصرف كي دصدقاتو :

لانه تعدية الی مافيه نص :

په دغه امورو كي دامام شافعي رحمه الله تعليل تعدية دحكم دئ وفرعي ته هغه فرعه چي په دغه فرعه كي نص ثابت دئ **بتغير** په تغير سره دده په دغه باندي نص مغير كيږي .

فلا يستقيم التعليل لاثبات اسم الخمر لسائر الاشربة الخ :

تشريح : امام شافعي رحمه الله چرس ، روين، شيشه ودغه ټولو ته امام شافعي رحمه الله شراب وايي ولي شراب مخامرة العقل راولي دوي (چرس روين، شيشه) هم مخامرة العقل راولي لهذا امام شافعي رحمه الله دشرابو نوم ودوي (چرس ، روين ، شيشه) ته ثابتوي

يعني امام شافعي رحمه الله وټولو ته شراب وايي موږ امام شافعي رحمه الله ته وايو چي تا خو نوم يوړي حکم شرعي تا نه دئ وړي داغه خو وجه ده دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي شراب حرام دي بياشراب که لږ وي که ډير وي همدارنګه چرس که لږوي که ډير وي حرام دي موږ وايو چي ترڅو پوري چرس سړي نشه نه کړي نو حرام نه دئ موږ حکم شرعي دشرابو وړو چي نشه ده نوم نه وړو دئ نوم وړي بيا حکم ورسره وړي.

دوهم شرط داوو چي ته داصل څخه حکم وړي وفرعي ته دغه حکم به په فرعي کي تغير نه وي خوړلي که يې تغير خوړلي وو بيا قياس نه دئ صحيح مثال په افغانستان کي سيکان او هندوان اوسيږي دا ذمه والا دئ دولت (حکومت) يو حکم شرعي صادر کړي دئ هغه دا چي دمسلمان طلاق معتبر دئ نو دذمي طلاق هم معتبر دئ ذمي طلاق ورکړي دغه طلاق داسي دئ لکه دمسلمان ده ، امام شافعی رحمه الله پر طلاق باندي ظهار قياسوي ، دخپلي ښځي تشبيه ورکول دمحرماتو سره وديته ظهار وايي موږ وايو دا مقيس عليه دئ دا مقيس دئ ته چي دمقيس عليه څخه حکم وړي ومقيس ته دا حکم به په مقيس کي تغير نه خوري بدليږي به نه ليکن ته (امام شافعي) چي ظهار کافرته وړي نو دا حکم بدليږي ولي دا مسلمان مقيس عليه دئ ذمي مقيس دئ مسلمان چي ظاهر وکړي نو دده ظهار غايه لري هغه دا کفاره به ورکړي يا به غلام ازاد کړي يا به مسکينانو ته ډوډۍ ورکړي يا به روژې ونيسي ليکن دغه ظهار چي ته کافر ته يوسي نو کافر خو روژه نسي نيولي که ته وايي کافر به غلام ازاد کړي موږ وايو دغلام ازادي هم نه ده معتبره ولي کفاره من وجه عبادت دئ من وجه عقوبت دئ او کافر دعبادت اهل نه دئ او که کافر شپيته مسکينان مړوي نو داهم من وجه عبادت دئ من وجه عقوبت دئ اوکافر دعبادت اهل نه دئ لهذا دکافر ظهار بلا غايه سو دمسلمان ظهار سره دغايي سو لهذا دمسلمان حکم چي ظهار دئ که دا حکم وذمي ته يوړل سي نو تغير به پکښي راسي ولي دمسلمان ظهار غايه لري دکافر ظهار غايه نه لري لهذا دا قياس نه دئ صحيح .

دريم شرط داوو چي فرعه به داصل نظير وي مثال دا خاطي دئ خاطي ديته وايي چي په حافظه کي دده يو شي سته دئ کوشش کوي چي ځان وساتي خو بيا هم پکښي واقع سي مثال زما رورژه ده زه کوشش کوم چي ځان داوبو څخه وساتم ما اوبه په خوله لغړولي کرار

اوبه راشخه تیري سوي ماته خاطي وايي ناسي ديته وايي چي دسړي دحافظي څخه یو شي وتلي وي سړي را ولاړ سي ډيري اوبه او څښبي بل یو ورته ووايي ستا خو روژه وه دی ورته وايي والله كه مي په يادوه مكرَه ديته وايي چي سړي ديو چا پر سر توپنچه ور ونیسي او ورته وايي ژر سه اوبه وڅښه كني ولم دي امام شافعي رحمه الله وايي دناسي روژه نه ماتيږی نو دخاطي او مكرَه روژه هم نه ماتيږي وايي دخاطي او دمكره روزه ځكه نه ماتيږي چي په ناسي كي څه قصد سته په قصدا يې اوبه څښلي دي په خاطي او مكره كي قصد نسته ولي دوي كوشش كوي چي ځان داوبو څخه وساتي چي دناسي روژه نه ماتيږی نو دخاطي او دمكره دا په طريقه اولی سره نه ماتيږي نو موږ وايو قانون واوره هغه قانون دا دئ چي فرعه به داصل نظير وي يعني موږ دريم شرط دا لګولي وو چي فرعه به داصل نظير وي دلته فرعه داصل نظير نه ده ولي نبی عليه السلام دناسي په حقله وويل چي الله جل جلاله په تا وخوړله الله جل جلاله په تا باندي اوبه اوڅښلي دخاطي او دمكره په حقله يې نه وي ويلي خاطي او مكره درسول په نزد كم دئ تر ناسي چي كم دئ نو نظير يې نه سو څلورم شرط داوو چي په فرعه كي به نص نه وي كه په فرعه كي نص راغلی وو بيا قياس نه دئ صحيح مثال الله جل جلاله فرمايي ﴿فَتَحۡرِيۡرُ رَقَبَةٍ مُّؤۡمِنَةٍ﴾ كوم چا چي قتل خطاء وكړ نو به تحرير درقبي مومني كوي په كفاره دقتل كي دمؤمنة قيد راغلی امام شافعي رحمه الله دغه دمؤمني حكم كفاره د يمن او كفاره دظهار ته وړي موږ وايو چي كوم شي پر مقيس عليه باندي قياسيږی په هغه شي كي به نص نه وي راغلی او دلته په فرعه كي نص راغلی دئ مثال الله جل فرمايي ﴿فَتَحۡرِيۡرُ رَقَبَةٍ مِّنۡ قَبۡلِ اَنۡ يَّتَمَآسَّا﴾:

اوس به مصنف پر هر شرط باندي تفريع وكړي:

يوسل اوديرشتم سبق

والشرط الرابع ان يبقي حكم الاصل بعد التعليل على ما كان قبله

دعبارت ترجمه: څلورم شرط دادئ چي حكم به د اصل باقی پاته وي وروسته تر تعليل دا حكم به باقي وي پر هغه حال چي مخته تر تعليل وو **لا ن تغير حكم النص فى نفسه بالراى**

باطل ځکه نص حکم بذاته مغير کو په رايه سره دا باطل دئ کما ابطلناه فی الفروع لکه موږ چي تغير باطل کړي دئ په فروع کي

والشرط الرابع ان يبقي حکم الاصل بعد التعليل على ماکان قبله الخ :

تشريح: دا مقيس عليه دئ دا مقيس دئ تا دمقيس عليه ښخه حکم ومقيس ته يوړي اوس ځلورم دادئ چي ودغه حکم ته به په مقيس عليه کي وروسته تر تعليل تاوان نه رسيږي که چيري وحکم ته په مقيس عليه کي تاوان رسيدی نو بيا قياس نه دئ صحيح ولي هغه حکم چي په مقيس عليه کي دئ ودغه حکم ته تغير رسيږی :

وانما خصصنا القليل من قوله عليه السلام لا تبيعوا الطعام بالطعام الا سواء بسواء :

دعبارت ترجمه: موږقليل (لږ) ويستي دعليه السلام ددې قول (لا تبيعوا الطعام بالطعام الا سواء بسواء) ښخه **لان استثناء حالة التساوي دل على عموم صدره فی الاحوال :** ځکه تساوي دحالت استثناء دلالت کوي پر عموم دصدر الاستثناء يعني صدر کلام په احوالو کي دئ هغه احوال عبارت دئ دتساوي او دتفاضل او دمجازفه ښخه **ولن يثبت اختلاف الاحوال الا فی الکثير :** او حال دا چي اختلاف داحوال نه ثابتيږي مګر اختلاف داحوالوو ثابتيږي په کثير کي يعني په احوال مخصوصه کي هغه احوال مخصوصه دادي تساوي تفاضل مجازفة **فصار التغيير بالنص مصاحبا للتعليل** نو تغيير حاصل سو په دلالة النص باندي حال دا چي دغه نص موافق دئ دتعليل سره يعني زموږ تعليل بالکيل موافق دئ دهغه تغير سره چي حاصل دئ په دلالة النص سره ځکه استثناء پر دې باندي دلالت کي، چي قليل مراد نه دئ تعليل هم دلالت کوي چي قليل مراد نه دئ نو تعليل او نص سره موافق سول **لا به :** په تعليل سره تغير نه دئ راغلی .

وانما خصصنا القليل من قوله عليه السلام لا تبيعوا الطعام بالطعام الاسواء بسواء الخ :

تشريح : دقياس ځلورم شرط داوو چي دمقيس عليه حکم به ورسته تر تعليل باقي پاته وي پر هغه حال به وي چي مخته تر تعليل وو اوس يو سوال کيږي پر احنافو باندي نبی عليه

السلام فرمايي لا تبيعوا الطعام بالطعام الا سواء بسواء موږ احناف وايو سود هغه وخت راځي چي جنس او قدر يې يو وي جنس دا معنى غنم په غنمو وركول دداړو جنس يو دئ :

قدر دا معنى په كاسه تلل په چاراكي باندي تلل په پاو باندي تلل په شياړس (١٦) پاوي تلل چي كوم شي په څوني سره وركول كيدى يا په كاسو وركول كيدى يا په پاو وركول كيدى ودغه ته قدر وايي اوس راسه په لا تبيعوا الطعام بالطعام الخ كي موږ احناف تعليل كوو په جنس او قدر باندي يو يادوه موټه غنم ترپيمانه لاندى نه راځي دلته جنس يو دئ قدر يې يو نه دئ اوس سوال دادئ احنافو تاسو چي كوم تعليل په جنس او قدر باندي كړي دئ په دغه تعليل باندي دمقيس عليه حكم ته ضرر ورسيدى ولي حديث (لا تبيعوا الطعام بالطعام الا سواء بسواء) مطلق دئ وقليل او كثير دواړو ته شامل دئ يعني نه به لږ په لږ وركوي نه به ډير په ډير وركوى لهذا احنافو تاسو تعليل كړي دئ په جنس اوقدر باندي كه يې جنس اوقدر يو وو بيا تفاضل جائز نه دئ كه يې جنس او قدر يو نه وو بيا تفاضل جائز دئ دالله رسول نص مقيس عليه مطلق ويلي دئ وقليل او كثير دواړو ته شامل دئ مګر احنافو تاسو په مقيس عليه كي تغير راوستي هغه دا چي دتعليل بعده دمقيس عليه حكم په كثير پوري خاص سو ولي احنافو تاسو واياست كه تر پيمانه لاندي راتلي بيا تفاضل جائز نه دئ كه تر پيمانه لاندي نه راتلى بيا تفاضل جائز دئ لكه يو موټ غنم په دوو موټانو غنمو وركول :

جواب: موږ وايو سائله ته ددغه حديث عبارت ولګوه نو به معلومه سي چي موږ په مقيس عليه كي تغير راوستى دئ كه نه دئ راوستي موږ به دحديث عبارت ولګاوو نو به خپله معلومه سي چي په مقيس عليه كي تغير نسته لا تبيعوا الطعام بالطعام الا سواء بسواء:

موږ وايو الا سواء بسواء دا مستثنى د ه مستثنى پر دوه قسمه ده ١- متصله ٢- منقطعه په دغه دواړو كي مستثنى متصله معتبره ده مستثنى متصله ديته وايي چي مستثنى د مستثنى منه دجنس څخه وي مثال لكه جائني القوم الا زيدا :

دلته سواء بسواء دا دالطعام بالطعام دجنس څخه نه دئ ولى الطعام بالطعام اعيان دي سواء بسواء احوال دي اوس چي ته دغه احوال داعيان دجنس څخه كوي نو به په دوو كارو كي يو كار كوي يا به داكار كوي چي دغه احوال به اعيان كړي نو به دواړه اعيان سي دايي

يوصورت دوهم صورت دادئ چی سواء بسواء دا احوال دي مخته عبارت ورسره احوال کړه يعني الطعام بالطعام احوال کړه نو به دواړه احوال سي.

اوس راسه موږ داسي صورت جوړوو سواء بسواء دا احوال دي لا تبيعوا الطعام بالطعام دا هم احوال جوړوو :

امام شافعي حمه الله لاتبيعوا الطعام بالطعام داخو اعيان دي امام شافعي رحمه الله سواء بسواء دا هم اعيان جوړ وي دي داسي عبارت وايي لا تبيعوا الطعام بالطعام الا طعاما مساويا بطعام مساو :

موږ راولاړيږو احول جوړ وو داسي عبارت وايو لا تبيعوا الطعام بالطعام بحال من الاحوال الاسواء بسواء امام شافعي رحمه الله دواړه اعيان کوي موږ دواړه احوال کوو موږ وايو دالله حبيب مخته خبره په غنمو کي نه ده کړي د الله حبيب خبره په احوالو کي کړي ده احوال به سره برابر وی احوال دري دي ١- تساوي ٢- تفاضل ٣- مجازفه د الله حبيب وايي دايو هم نه دئ جائز نه تساوی جائز ده نه مفاضله جائز ده نه مجازفة جائز ده دالله حبيب يو صورت ورڅخه مستثنی کړ هغه صورت د تساوی دئ :

اوس راسه مراد دتساوي څخه په حديث کي تسويه بالکيل ده ځکه تسويه بالکيل شرعا معتبره ده او حال داچي دانه متصور کيږي مګر متصور کيږی په کثير کي داسي کثير چي قابل به وي دکيل پاته سو يو مټ غنم دوه موټه غنم دا قليل دئ دا ترکيل لاندي نه راځي لهذا داعبارت داوله سره يوه مټ دوه موټه ته ګرسره ورشامل نه دئ که ور شامل واي بيا به تاويلي واي چي په مقيس عليه کي تغير راغلی :

لهذا د ا اعتراض سائله پر موږ باندي نسی کولای : دټول جواب خلاصه داده چي تغير په دلالة النص باندي راغلی دئ په تعليل باندي نه دئ راغلی :

يوسل او يو ديرشتم سبق

وكذلك جواز الابدال في باب الزكواة ثبت بالنص لا بالتعليل

دعبارت ترجمه: داغه رکم جواز دابدال په باب دزکات کي ثابت دئ په نص باندي نه په تعليل باندي **لان الامر بانجاز ماوعد للفقراء رزقالهم** ځکه چي حکم خداي پاک کړي چي وربوره کړي هغه وعده چي خداي پاک دفقيرانو سره کړه دوجي درزق چي د ارزق دئ دفقيرانو و **مما اوجبه لنفسه على الاغنياء :**

دادغه کور ني څخه دئ چي الله جي جلاله دخپله ځانه واجب کړي دئ پر غنيانو باندي **من مال سمي لا يحتمله مع اختلاف المواعيد** هغه لفظ ما عبارت دئ دمال مسمي معين څخه داسي مال مسمي چي احتمال به نه لري دا نجاز سره ددې چي مواعيد مختلف دي يتضمن **الاذن بالاستدلالتضمن الاذن باستبدال** دغه حکم په انجازباندي دا په بغل کي رااخلی اجازه **بالاستدلال** الله جل جلاله موږ ته اجازه راکړي چي شاة بدل کړه په پيسو باندي يعني ته پيسي ورکړه نو به دده ښه حاجت په پوره سي **فصار التغيير بالنص مجامعا للتعليل :**

نوبه تغير راسي په دلالة النص باندي حال دا چي نص مجامع دئ دتعليل سره **لابه :** تغير په تعليل سره نه دئ راغلی اوس يو سوال کيږي مصنف جواب ورکوي هغه سوال دادئ چي کار په دلالة النص باندي کيږي نو دتعليل څه ضرورت سته مصنف په عبارت کي جواب ورکوي **وانما التعليل لحكم شرعي :** جزي نيست تعليل دئ دحکم شرعی دپاره **وهو صلاح المحل للصرف الى الفقير بدوام يده عليه بعد الوقوع لله تعالى بابتداء اليد :**

هغه حکم شرعي دادئ چي محل به صلاحيت لري چي ته يې ورکړي و فقير ته چي وردي کړي بيا به فقير ددې تول وخت مالک وي مګر اول وار به دالله جل جلاله لاس ته ځي بيا به دفقير لاس ته ځي.

وكذالك جواز الابدلا فى باب الزكوة ثبت بالنص لا بالتعليل الخ :

تشريح : څلورم شرط داوو چي دنص او داصل حکم ته به دتعليل ورسته تغير نه رسيږي:

اوس سوال دادئ احنافو تاسو دتعليل ورسته دنص وحکم ته تغير رسوي او حال دا احنافو تاسو واياست دتعليل وروسته به دنص وحکم تغير نه رسيږي مګر احنافو تاسو پخپله

دتعليل ورسته دنص وحكم ته تغير رسوي داولي مثال نبی عليه السلام فرمايي فی خمس منَ الابل شاةٌ په پنځو اوښانو کي يو شاة (پوسه) دئ احنافو تاسو يو تعليل کړي دئ دهغه تعليل ترتيب دادئ:

احنافو تاسو واياست چي دنبی عليه السلام اصل مقصد دادئ چي په دغه شاة سره دفقير حاجت دفعه سي احنافو تاسو وايا ست لکه څنګه چي دفقير حاجت په شاة سره دفعه کيږي نو دفقير حاجت په پيسو سره په طريقه اولی دفعه کيږی ولي په شاة سره فقير هغه حاجت پوره کيږي چي دفقير غوښه پکار وي او حال دا چي دفقير ډير ضرورتونه دي هغه ضروتونه دادي فی الحال دي دفقير غوښه نه وي پکار دفقير دئ کالی پکار وي ولی کالي به نه لري دوهم ضرورت دفقير دئ کوټ په کاروي ولی يخ دې دريم ضرورت دفقير بچان به لځي پښي وي څپلي به يې پکار وي څلورم حاجت ضرورت فقير به مريض وي هسپتال ته به ځي پيسی به نه لري چي دوا په وکړي همدا سي نور حاجتونه دفقير موږ وايو چي په پنځو اوښانو کي زکات په شاة سره وځي نو پسو سره په طريقه اولي زکات اداء کيږي ولی داشاة دفقير دحاجت ددفعي دپاره دئ حاجت په شاة سره پوره کيږي نو پيسو سره په طريقه اولی پوره کيږي ولي په پيسو ډير حاجتونه دفع کيږي موږ احناف وايو که دشاة پرځای سړي پيسي ورکړي دا ډير خوندور دئ اوس سوال دادئ احنافو تاسو واياست چي دشاة پر ځای وفقير ته پيسي ورکړي داډير ښه دئ ګوري احنافوتاسو ددتعليل وزسته دنص وحکم ته تغير ورسوي ولي دنص حکم شاة دئ اوتاسو واياست چي دشاة پرځای پيسي ورکړي دا ډير ښه دئ:

جواب: موږ وايو دالله جل جلاله مقصود شاة نه دئ دالله جل جلاله اصل مقصود دفقير حاجت ورپوره کول دي دفقير حاجت چي څنګه په شاة دفعه کيږي نو دفقير حاجت په پيسو په طريقه اولي دفعه کيږي اوس راسه دالله جل جلاله اصل مقصود دفقير حاجت ورپوره کول دي ځکه الله جل جلاله فرمايي ﴿وَمَا مِنْ دَابِةٍ فِيْ الاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللهِ رِزْ قُهَا﴾ الله جل جلاله وايي دځمکي پر سر داسي دابه نسته مګر رزق ددابي پر مادئ:

الله جل جلاله و چاته رزق ورکوي دتجارت په ذريعه باندي چي دی تجار ت وکړي الله جل جلاله يو چاته رزق ورکوي دزراعت په ذريعه باندي الله جل جلاله يو چاته رزق ورکوي دملازمت په ذريعه باندي يعني دسرکار ملازم وي هغه تنخا و رکوي الله جل جلاله يو چاته رزق ورکوي دصنعت په ذريعه باندي مثلا سړي بناي داټول رزقونه الله جل جلاله ورکوي الله جل جلاله يو سړي يې مسکين کړي دئ نه يې تجارت سته نه يې راعت سته نه يې ملازمت سته الله جل جلاله ددغه مسکين رزق فرض کړي دئ دا رزق الله جل جلاله دمړو دلاس څخه باسي ومسکين ته يې ورکوي نو ګويا کي ا الله جل جلاله خپله وعده پر ځای کړ ه:

الله جل جلاله هغه نوروته خپله وعده پر ځای کړه دتجار ت په ذريعه يا دزارعت په ذريعه يا دصنعت په ذريعه يا دملازمت په ذريعه الله جل جلاله په خپله وعده ومسکين ته داسي پر ځای کوي چي الله جل دمړو دلاس څخه رزق باسي ومسکين ته يې ورکوي اوس که ته سوال وکړي چي الله جل جلاله وويل زه پخپله رزق ورکومه دلته خو ومسکين ته ماړه رزق وکړي الله جل جلاله نه دئ ورکړي جواب: موږ وايو قانون واوره ته چي صدقه ومسکين ته ورکوي نو ددغه مسکين تر لاس مخته دالله جل جلاله کف (لاس) دئ يو وار به صدقه دالله جل جلاله وکف (لاس) ته لويږي بيا به صدقه درحمان دکف (لاس) څخه لويږي وکف (لاس) ته دمسکين داددې دپاره چي سبا موړه ته ونه وايي چي دارزق ما ورکړي لهذا الله جل جلاله وايي دا رزق ما ومسکين ته ورکړي.

دخبري خلاصه داده: اصل مقصد دزکات ورکولو ومسکين ته دادئ چي دفقير حاجت په دفعه سي دغه حاجت په شاة سره دومره نه پوه کيږي لکه په پيسو سره چي پوره کيږي يعني دلالة النص وايي چي دفقير حاجت په شاة باندي پوره کيږي نو په پيسو باندي په طريقهٔ اولی پوره کيږي:

دټول جواب خلاصه داده چي دنص وحکم ته تغير رسيدلي د ا په دلالة النص سره نه په تعليل سره دلالة النص موږ ته وايي دفقير حاجت په شاة باندي دفعه کيږي نو په پيسو

باندي په طريقه اولي دفعه کيږي مګر دا جلا خبره ده چي زموږ تعليل او دلالة النص پر يوه لاره روان دي :

اوس که ته سوال وکړي چي دنص وحکم ته خو تغير په دلالة النص باندي رسيدلي دئ ستاسو د تعليل څه ضروت سته چي ته تعليل کوي موږ جواب ورکوو چي دلالة النص دا کار وکړي چي دشاة پر ځای پيسي ورکولاي سي مګر تعليل دا کار وکړ چي ته به وفقير ته هغه شي ورکوي چي دفقير حاجت په دفع کيږي پر دارکم باندي چي ته کوم شي ورکوي هغه به محل دصرف وي دده ولا س ته به ورځي او دې به دد ې ټول وخت مالک جوړيږي که تا دئ شي ورکړي چي دده حاجت نه په دفعه کيدای او دې يې ټول وخت مالک نه جوړيدای داسي شي به وفقير ته نه ورکول کيږي مثال دا مسکين دئ زه موږ يم زه مسکين ته وايم زکات پر ماباندي لس (۱۰۰۰۰) زره خيژي مسکينه دغه زما اس لس (۱۰) ورځي واخله ته پر ګرځه ورځ په زر کالداري ده لس ورځي وروسته زما اس راکړه زه صرف زکات په اداء کومه په دغه باندي زکات نه اداء کيږي ولي دا خو منفعت دئ په منفعت باندي دفقير حاجت نه دفعه کيږي ولي په زکات کی شرط دادئ چي دټول وخت تصرف به ومسکين ته ورکوي:

يو سل او دوه ديرشتم سبق

وهو نظير ماقلنا

دعبارت ترجمه: دغه ايجاب دمطلق مال نظير دهغه دئ چي موږ وايو په مسئله دازالة النجاسة کي ان الواجب ازالة النجاسة بيشکه واجب دنجاست زائليدل دي والماء الة صالحة للازالة او به يوه الة صالحه دازالي ده

وهو نظير ما قلنا ان الواجب ازالة النجاسة الخ :

تشريح: درې سوالونه کيږی مصنف به يې جوابونه ورکړی نبی ﷺ ورته وويل ثمّ اغسليه په اوبو يې پرې مينځه يو سوال دادئ چي نبی عليه السلام ورته وويل په اوبو يې پرې مينځه احنافو تاسو واياست که دګل ګلاب په اوبو پرې مينځل کيدی نو پرې يې مينځه که

په پطرولو پرې مینځل کیدی نو پرې یې مینځه که په ګاسلیټ پرې مینځل کیدی نو پرې مینځه ولي مقصود طهارت دئ طهارت چي په هر شي باندي حاصلیدی نو حاصل دي سي اوس سوال داد چي احنافو ستاسو دتعلیل بعد دنص ؤحکم ته تغیر ورسیدی ولی نص داوو چي په اوبو یې پرې مینځه او تاسو وایاست چي په ماء الورد یې په مینځلای سي په پطرول یې پرې مینځلای سي په ګاسلیټ یې پرې مینځلای سي جواب : موږ وایو دنص وحکم ته تغیر په دلالة النص باندي راغلی دئ نه په تعلیل باندي هغه دلالة النص دادئ چي په اوبو باندي طهارت حاصلیږي نو په پطرول په ګاسلیټ باندي طهارت په طریقه اولی حاصلیږی اوس راسه اصل مقصود طهارت دئ موږ دامام شافعي رحمه الله څخه پوښتنه کوو. هغه دا څادر یو ځای نجس دئ زه راولاړ سوم هغه نجس ځای مي غوچي کړي اوس دغه څادر پاک سو وایي وړ پاک سو موږ وایو دلته خو اوبه نه دي استعمال سوي بیا څنګه پاک سو دڅادر په یوه طرف نجاست دئ زه را ولاړ سوم دڅادر پر بل طرف مي لمونځ وکړ اوس امام شافعي ذا لمونځ صحیح دئ که نه دئ صحیح وایي صحیح موږ وایي دلته خو ازالة النجاسة په اوبو باندي نه دئ راغلی لهذا دلالة النص وایي اصل مقصود پاکي ده پر نجس ځای به لمونځ نه کوي نجس به لیري کوي دا که په اوبو سره وي که په غوچي سره وي که په پطرول سره وي که په ګاسلیټ سره وي پاته سو اوبه او په صرف الة صالحه ده دازاله دپاره دغه الة که اوبه وي که پطورل وي که ګاسلیټ وي:

دخبري خلاصه داده: چی اصل مقصود طهارت دئ دغه طهارت چي په هر شي باندي حاصلیږي حاصل دي سي دغه طهارت دغه ازالة النجاسة په اوبو سره هم راځي په پطرول سره هم راځي مګر دلالة النص وایي پاکي چي په اوبو باندي حاصلیږي نو په پطرول او په ګاسلیټ باندي په طریقه اولی حاصلیږي :

دټول جواب خلاصه: داده ونص ته چي تغیر رسیدلی وروسته دتعلیل دا تغیر په دلالة النص باندي رسیدلي د نه په تعلیل باندي :

والواجب تعظیم الله تعالی بکل جزء من البدن واجب

دعبارت ترجمه: تعظيم بيانول دي په هر جرء دبند ، **والتكبير الة صالحة لجعل فعل اللسان تعظيما:** تكبير يوه الة صالحه ده د دې دپاره چي فعل دژبي وګرځول سي تعظيم يعني دئ به په ژبه عمل مخصوصه کوي يعني واجب ثناء ده په ژبه باندي

تشريح: دوهم سوال : دلمانځه دشروع دپاره شرعي تکبير بعينه واجب کړي دئ په دې قول دالله تعالى وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ الله جل جلاله وايي ته ستا درب لويي بيان کړه نبى عليه السلام فرمايى تحريمها التكبير که سړي دالله اکبر پر ځاى الله اجل ووايي يا الرحمن اعظم ووايي نو داصحيح دئ اوس سوال دادئ چي احنافو تاسو دنص وحکم ته تغير ورسوي دنص حکم وجوب دتکبير وو مګر احنافو تاسو واياست که سړي دالله اکبر پر ځاى الله اجل يا الرحمن اعظم ووايي نو دا جائز دئ جواب مونږ وايو اصل مقصود دالله تعالى تعظيم بيانول دئ تکبير يو اله صالحه ده تعظيم دبيانولو که بله يو داسي اله پيدا اسي چي دالله تعالى تعظيم په بيانيږي بس دا الة صحيح ده الله تعالى په هر جزء دبدن دا واجب کړي چي ته به دالله جل جلاله تعظيم بيانوي داسي به وايي الله اکبر الله اجل :

والافطار هو السبب

دعبارت ترجمه: افطار سبب دئ دکفارې دپاره **والوقاع الة صالحة للفطر :**

جماع اله صالحه ده د فطر دپاره دنص وحکم ته به مونږ هغه وخت تغير ورکولاى چي د تعليل بعد صلاحيت نه واى دلته دتعليل بعد هم صلاحيت سته يعني دلته جماع داليت صلاحيت لري بعد التلعيل :

وبعد التعليل يبقى الصلاحية على ما كان قبله : وروسته دتعليل صلاحيت باقي پاته دئ پر هغه حال چي مخته تر تعليل وو :

والا فطار هو السبب الخ :

تشريح: يو اعرابي نبي عليه السلام ته راغلی ورته وايي په روژه کي جماع راڅخه وسوه اوس څه وکړم نبی عليه السلام ورته وايي کفاره ورکړه نبی عليه السلام کفاره ترجماع پوري محدوده کړه احنافو تاسو واياست که سړي ښځباک وکړي يا يې خوراک وکړي يا يې جماع وکړه نو به کفاره ورکوي احنافو تاسو دنص وحکم ته تغير ورورسوي:

جواب: موږ وايو اصل مقصود افطار دئ جماع ضرف اله ده دافطار نوري الی هم دافطار سته يوه اله دافطار خوراک دئ بله اله دافطار ښځباک دئ.

يوسل او دري ديرشم سبق

دعبارت ترجمه: وبهذا تبين ان اللام فى قوله تعالى انما الصدقات للفقراء لا العاقبة: په ما ذکرناسره دا ښکاره سوه چي لام په دې قول دالله جل جلاله (وانما الصدقات للفقراء) کي لام العاقبة دئ:

اي يصير لهم بعاقبته: دا واجب به دوي ته ځي په اخيري کي اولانه اوجب الصرف اليهم بعد ما صار صدقة: خدای پاک صدقه ورته وويل بيا داصدقه دوي ته ځي وذالک بعد الاداء الى الله تعالى چي يو وار الله جل جلاله ته ورکول سي فصار واعى هذا التحقيق مصارف باعتبار الحاجة:

بناءپر دغه تحقيق دوي وګرځول سوه په اعتبار دحاجت چي دوی حاجت لري هريو ورته مجبوره دئ يو المؤلفة قلوبهم منسوخ دئ لهذا هر يو علت ده صدقي دئ بس چي هر يوه ته صدقه ورکړي بس هلته علت سته صدقه صحيح ده ددې داسي مثال دئ لکه کعبه دکعبي وهر طرف ته چي لمونځ وکړی بس صحيح دئ دا صدقه هم چي هر يوه ته يې ورکړي بس صدقه صحيح ده وهذه الاسماء اسباب الحاجة: دغه نو مونه اسباب دحاجت دئ، وهم بجملتهم للزكواة بمنزلة الكعبة للصلواة: دوي ټول دزکات دپاره دئ بمنزلة دکعبي دلمانځه دپاره کلها قبلة للصلوة: ټوله کعبه قبله ده دلمانځه دپاره وكل جزء منها قبلة: هر جزء دکعبي قبله ده.

وبهذا تبيَّن ان اللام فى قوله تعالى اِنَّمَا الصَّدَقَاتُ للفُقَرَاءِ العاقبة الخ:

تشريح: مختلف فيها مسئله داده دا دزكات مصارف دي انما الصدقات للفقراء دايې يو د مصارفو ، والمساكين دايي دوهم دمصارفو: والعاملين عليها دايي دريم دمصارفو والمؤلفة قلوبهم دايي څلورم دمصارفو والغارمين دايي پنځم دمصارفو وفى سبيل الله دايي شپږم دمصارفو وابن السبيل دايي اووم دمصارفو امام شافعي رحمه الله وايي په انما الصدقات للفقراء كي لام دتمليک دپاره دي چي لام دتمليک دپاره سو نو دا دئ دي لکه المال لزيد امام شافعي رحمه الله وايي دا اووه سره دزكات مالكان دي اوس كه ته يوه ته زكات وركړې ونورو ته يې ورنه كړې نو تاسو دنورو حق وخوړي لهذا وتهولو ته به لږ لږ وركوي مونږ وايو لام دعاقبت دپاره دئ زمونږ داحنافو مذهب دادئ چي په دغه اوو كي هريوه ته صدقه وركړي بس صحيح دئ اووه سره نه غواړي بس په اوو (٧) مصارفو كي يو كافي دئ لهذا مونږ وايو لام د عاقبت دپاره دئ عاقبت معني په اخير كي امام شافعي رحمه الله وايي لام دتمليک دپاره دئ امام شافعي رحمه الله داسي ترجمه كوي انما الصدقات للفقراء والمساكين والعاملين عليها الى اخره صدقات ددوغو دوغو دي يعني دوي دزكات مالكان دي مونږ وايو انما الصدقات للفقراء زكات اخير دوي لره ځي خو زكات اول وار دالله جل جلاله لاس ته لويږي بيا دفقير لاس ته لويږي يعني اخير دوي لره ځي اول دالله جل جلاله لاس ته ځكه ځي چي سبا ته وه نه وايي چي دا رزق ما فقير ته وركړي بل دا چي الله جل جلاله انما الصدقات وويل انما الاداء يې نه وويل صدقه هغه وخت ورته ويل كيږي چي يو وار صدقه وسي يو وار دالله جل جلاله لاس ته ورسي بيا ددوي لاس ته ورسي:

يوسل اوڅلور ديرشم سبق

دعبارت ترجمه: واما ركنه هر څه چي دقياس ركن دئ فما جعل عَلَمًا عَلى حكم النص مِمَّا اِشْتَمَلَ عَلَيهِ النَّص نو دايو وصف دئ داسي وصف چي دا وصف به علت او علامه ګرځيدلې وي پر حكم دنص باندي مما اشتمل عليها النص پر دغه وصف او علت باندي به نص مشتمل وي ته په ذهن دطواف وصف كښيږده طواف يو وصف دئ داسي وصف چي علت او علامه

ګرځيدلې دئ دنص پر حکم باندي چي هغه حکم نه حرمت دئ او س راسه طواف علت دئ دنه حرمت دپاره طواف علامت نه دئ دنه حرمت دپاره اوس که ته سوال وکړي چي طواف خو علت دئ دنه حرمت دپاره علامت نه دئ دنه حرمت دپاره نو مصنف ولي علما ذکر کوي يعني علامت يې بولي نو ته به جواب ورکړي چي دمصنف مقصد په علما کي دا دئ چي قياس مظهر داحکامو دئ مثبت داحکامو نه دئ علامت دشي پر اظهار باندي ويل کيږي داثبات دپاره نه ويل کيږي صرف ودغه ځای ته اشاره کوي ليکن اصل مقصود دمصنف علت دئ مما اشتمل عليها النص: نص به پر وصف يعني پر علت باندي مشتمل وي يعني تابه وصف دنص څخه راخيستي وي دغه اشتمال دنص پر علت باندي دابيا پر دوه قسمه دئ ١- صراحة ١- اشارة کله نص صراحة په دې باندي تعبير کړي وی چي دغه يې علت دئ کله دنص څخه اشارة علت معلوميږي چي صراحة نص پر علت باندي موجود وي دهغه مثال نبی عليه السلام وويل سؤر الهرة ليست بنجسة دپيشو پس خورده نجسه نه ده ولی فانها من الطوافين والطوافات عليکم ګوره په نص کي صريح عبارت دئ پر علت باندي کله دنص څخه اشارة علت معلوميږي مثال نبی عليه السلام فرماي لا تبيعوا الطعام بالطعام الا کيلا بکيل طعام په طعام مه ورکوه مګر کيل په کيل ورکړه موږ چی وکتل ويل طعام په طعام مه ورکوه ولي جنس يې يو دئ کيل په کيل ورکړه ولی قدرت يې يو دئ دا لطعام بالطعام څخه جنس راووتي دالا کيلا بکيل څخه قدرت راووتی دغه جنس او قدر ددغه عبارت (لا تبيعوا الطعام بالطعام الا کيلا بکيل څخه راووته **اشارة وجعل الفرع نظيرا له وهو الوصف** ته فرعه مار وبوله اصلا پشو وبوله دغه مار به ګرځول سوي وي نظير دنص چي هغه نص پيشو ده ، فی حکمه بوجوده فيه دغه مار به دپيشو نظير وي په حکم کي دپيشو په سبب دئ چي هغه علت په فرعه کي موجود دي .

واما رکنه فما جعل علما على حکم النص الخ :

تشريح: رکن د قياس رکن چاته وايي رکن ديته وايي چي شی دده به غيره تماميدی نسي پوره کيدای نسي:

فائده: رکن دشي کله پوره ماهيت وي کله دماهيت يو جزء وي که جزء پاته سي دشي که پور ه ماهيت وه نسي دشي نو دغه شي نه دئ صحيح نه دئ اداء: لهذا يو شي دبل شي بغير په وجود کي نسي راتلی ودغه بل شي ته ويل کيږي چي ته ددغه شي رکن يې:

دغه رکن دشي کله پوره ماهيت وي کله دپوره ماهيت يو جزء وي:

مثال داروژه ده روژه نوم دئ دامساکات ثلثة يعني نه به څښناک کوي نه به خوراک کوي نه به جماع کوي دغه درې سره نه کول دادروژې پوره ماهيت او حقيقت دئ په لمانځه کي رکوع نه کول رکوع دلمانځه پوره ماهيت نه دئ رکوع نه کول دا دلمانځه دپوره ماهيت يو جزء دئ که رکوع نه وسوه نو لمونځ نه دئ سوي رکن وايي وديته که دئ وو نو به دی وي که دی نه و نو به دی نه وي اوس راسه دقياس رکن څه شي دئ نو ته به ووايي اصلاً دقياس څلور ارکانه دي ١- مقيس عليه ٢- مقيس ٣- حکم ۴- علت جامعه نکته يو علت جامعه دي بل جهة جامعه دئ علت جامعه په قياس کی وه جهة جامعه په فصل وصل کي راځي لهذا دقياس اصلاً څلور ارکانه دي ١- مقيس عليه ٢- مقيس ٣- حکم ۴- علت جامعه مثال دپيشو پس خورده حلاله ده نو دمارپس خورده حلاله ده پيشو مقيس عليه ده مار مقيس دئ ددواړو پس خورده حلاله ده حرامه نه ده دايي حکم دئ علت جامعه يې دادئ فانها من الطوافين والطوافات عليکم طواف يې علت جامعه دئ پيشو چي په کور کي ګرځي اوراګرځي نو مار هم ګرځي اوراګرځي اوس راسه موږ دقياس څلور ارکان بيان کړه مصنف دقياس يو رکن بيان کړي دئ هغه رکن علت دئ:

اوس که ته ووايي مصنف دقياس يو رکن بيانوي داولي نو ته به ورته ووايي مصنف دقياس يو رکن ځکه بيانوي چي د قياس اصل موږ علت جامعه دئ مصنف داسي نه وايي چي دقياس نور ارکان نسته دقياس نور ارکان سته خو مصنف دقياس يو رکن بيانوي چي علت دئ ځکه علت دقياس اصل موږي دي.

يوسل او پنځه ديرشم سبق

وهو الوصف الصلاح المعدل بظهور اثره فى جنس الحكم المعلل به:

دعبارت ترجمه: هغه وصف دي داسي وصف چي صلاحيت به لري داسي وصف چي معدل به وي يعني معتبر معتمد مشهور بالعدل به وي لهذا معدل به وي په دې چي اثر دوصف به ښکاره وي په جنس دحکم کي داسي حکم چي هغه معلل دئ په دغه وصف باندي:

وهو الوصف الصالح المعدل بظهور اثره فى جنس الحكم المعلل به الخ

تشريح: دار مدار دقياس پر علت او وصف باندي دئ دوصف دپاره دوه شرطونه دي اول شرط : داوصف به صالح وي دوهم شرط : داوصف به معدل وي دوصف دپاره دغه دواړه شرطونه داسي دئ لکه دشاهد چي دوه شرطونه دي دشاهد اول شرط دادئ چي دگواهي صلاحيت به لري کافر پر مسلمان باندي دگواهي صلاحيت نه لري کوچني پرغټ باندي دگواهي صلاحيت نه لري غلام پرازاد باندي دگواهي صلاحيت نه لري لهذا دشاهديو شرط دادئ چي دگواهي صلاحيت به لري دوهم شرط دشاهد دادئ چي دشريعت به مطابق وي ږيره به يې نه وي خريلي اوس راسه قاضي چي شاهد ته وگوري نو په شاهد کي يو وصف وي چي هغه صلاحيت دئ په شاهد کي دوهم شرط نسته نو په دغه صورت کي قاضي ته اختيار دئ دده په گواهي فيصله کوي که يې نه کوي که په شاهد کي دواړه شرطونه پوره وه بيا به خامخا دده په گواهي فيصله کيږي: که په وصف کي دواړه شرطونه وه هم صلاحيت ووهم عدل وو نو په دغه صورت کي په دغه قياس باندي عمل کول واجب دي ليکن که دغه وصف صالح دئ مگر معدل نه دئ نوپه دغه صورت کي پر مجتهد باندي پر خپل قياس باندي عمل کول واجب نه دئ :

لهذا وصف به صالح وي او معدل به وي اوس راسه صلاحيت څه معنى عدل څه معنى نو ته به ووايي صلاحيت معنى ملا يمت مناسبت عدل معنى ظهور الاثر يعني عدل به اثر ښکاره کړي وي .

فائده: وصف چي اثربنكاره كوي داپرڅلور قسمه دئ ١- عين وصف عين حكم ٢- عين وصف جنس حكم ٣- جنس وصف عين حكم ۴- جنس وصف جنس حكم مثال دعين وصف عين حكم ، سور الهرة نا پاكه نه ده داعين حكم دئ ولى نا پاكه نه ده ځكه هرة طواف كوي دغه طواف عين وصف دئ دغه عين وصف اثر ښكاره كړي دئ په عين حكم كي مثال دعين وصف جنس حكم:

يو كوچني هلک دئ مړاندي نه دئ وهلى اوس زه دده په مال كي تصرف كولاى سم ولى دى (هلک) صغرلري صغر عين وصف دئ ولايت حكم دئ په دغه حكم كي عموم دئ ولي كه هلک وو نو زه ولايت دمال لرم ولى په ده كي صغر دئ كه انجلىٔ ده نو ولايت پر نكاح لرم ولى په دې كي صغرى ستهګوره ولايت جنس دئ يوه نوعه يې مال دئ بله نوعه يې نكاح ده :

ګوره دلته عين وصف اثربنكاره كړي په جنس دحكم كي چي هغه ولايت دنكاح دئ يا ولايت دمال دئ مثال دجنس وصف عين حكم يو سړى ليوني سو نو اسقاط الصلوة راغلى لمونځ ساقط سو اسقاط الصلوة عين حكم دئ ولي لمونځ ساقط سو وصف يې دادئ چي ليونتوب راغلى دئ اغمىٰ (بې هوښي) داسي ده لكه جنون ، جنون يو وصف دئ اغمىٰ بل وصف دئ نو وصف جنس سو مګر حكم يو دئ چي هغه اسقاط الصلوة دئ مثلا دجنس وصف جنس حكم دا اسقطا الصلوة دوي نوعي ١- نيم لمونځ ٢- پوره لمونځ نيم لمونځ ساقط پوره لمونځ ساقط ګوره دحكم دوي نوعي سوى حكم جنس سو دوصف هم دوي نوعي دي سفر لمونځ نيمي كوي ولى مشقت پكښي دئ حيض ګرسره لمونځ ختموي ولي مشقت پكښى دئ نو جنس وصف سو مصنف وايي ته چي كوم شي وصف جوړ وي نو دغه وصف به اثر ښكاره كړي وي دغه اثر ښكاره كول دا پر څلور قسمه دئ اول عين وصف به په عين حكم كي اثر ښكاره كړي وي دوهم عين وصف به په جنس حكم كي اثر ښكاره كړي وي: دريم جنس وصف به په عين حكم كي اثر ښكاره كړي وي څلور م جنس وصف به په جنس حكم كي اثربنكاره كړي كه وصف اثر ښكاره نه كړي په حكم كي ودغه قياس ته اعتبار نسته اوس راسه چي اثر يې ښكاره كړي وي دهغه مثال چي اثر يې نه وي ښكاره كړي دهغه مثال :

صغر علت د ولاية المال دئ امام شافعي رحمه الله وايي كه دانجلۍ پر ده وه باكره وه نو سړي ولايت پر لری كه دانجلۍ پرده نه وه نو سړي ولايت نه پر لري امام شافعي بكر وصف علت جوړوي موږ وايو كه انجلي كوچني وه نو سړي ولايت پرلري بيا كه يې بكر وي او كه نه وي كه نجلۍ غټه وه نو دسړي ولايت نسته بيا كه يې بكر وي او كه نه وي موږ دولايت دارمدار پر صغر بولو امام شافعي دولايت دار مدار پر بكر بولي موږ وايو دغه صغر په بل ولايت كي اثر ښكاره كړي دئ چي ولاية المال دئ داته هم مني نو په ولاية النكاح كي هم اثر ښكاره كوي امام شافعي ته چي وصف علت بكر بولي ته ماته دا ښكاره كړه چي دغه وصف يو ځای كی اثر ښكاره كړي دئ لهذا تا چي كوم وصف جوړ كړي دئ هغه معدل نه دئ زموږ په نزد وصف علت (صغر) په جنس حكم كي اثر ښكاره كړي دئ چي ولاية المال دئ **ونعني**

ونعني بصلاح الوصف ملايمته

دعبارت ترجمه: موږ قصد كړي ده بصلاح الوصف څخه چي دا وصف به دحكم سره ملايم وي مناسب وي **وهو ان يكون على موافقة العلل المنقولة عن رسول الله ﷺ وعن السلف**: دغه حصول الملائمة فی الوصف دادئ چي وصف به دعللو سره موافق وي داسي علل چي را منقول دي درسول الله ﷺ او دسلفو څخه **كقولنا فی الثيب الصغيرة**: لكه داقول زموږ په ثيب صغيرة كي **انها تُزوجُ كرها** دغه صغيره مذكوره سړي جبرا ودولاي سي **لانها صغيرة**: ځكه داصغيره ده ، فاشبهت البكر نوثيب صغيره مشابه سوه دبكر صغيره سره ولي صغرپه دواړو كي موجود دئ **فهذا تعليل بوصف ملايم**: دغه تعليل سو په وصف ملايم باندي **لان الصغری مؤثرُ فی ولاية المناكح**: ځكه صغر مؤثر دئ اثر يې ښكاره كړي دئ په ولاية المناكح كي .

بصلاح الوصف ملا يمته:

تشريح: وصف علت دا به دحكم سره ملايم وي مناسب به وي هغه ملايمت مناسبت دادئ چي نبی كريم ﷺ چي په كوم ځای كي كوم شيان وصفونه جوړكړی دي اوس چي ته وصف

جوړوي نو ستا وصف به دالله دحبيب دوصفو سره سمون خوري يا به ستا وصف دسلفو دوصفو سره سمون خوري كه تا هسي دځانه وصف جوړ كړي نو داوصف نه دئ معتبر :

يوسل او شپږ ديرشم سبق

فهذا تعليل بوصف ملايم:

دعبارت ترجمه: دغه تعليل دئ په وصف ملايم باندي لان الصغر مؤثر فی ولاية المناكح: ځكه صغر مؤثر دئ په ولاية المناكح كي **لما يتصل به من العجز** : دهغه عجز دوجي چي هغه متصل دئ په صغر پوري **تاثير الطواف** لكه تاثر دطواف **لما يتصل به من الضرورة** :

دهغه ضرورت دوجي چي هغه متصل دئ په طواف پورى **فی الحكم المعلل به فی قوله عليه الصلوة والسلام** : په حكم كي داسي حكم چي معلل دئ په طواف باندي په دې قول دعليه السلام كي:

الهرة ليس بنجسة انما هي من الطوافين والطوافات عليكم : پيشي نجسه ده ولي پيشی طواف كوي پر تاسو باندي **ولا يصح العمل بالوصف قبل الملايمة** مختته تر ملايمت عمل په وصف باندي نه دئ صحيح ، **لانه امر شرعي** ځكه دغه وصف امر شرعي دئ عقلي نه دئ **واذا ثبت الملايمة لم يجب العمل به الا بعد العدالة عندنا :**

ځه وخت چي ملايمت ثابت سي نو عمل په دغه وصف صالح باندي واجب نه دئ مګر واجب دئ ورسته تر عدالت زموږ په نزد باندي خلاف ثابت دئ واما شافعي رحمه الله ته دده په نزد عدالت نه دئ ضروری چی صرف اثر ښكاره سي بس عمل په ضروري دئ وهي الاثر دغه عدالت اثر دئ يعني اثر به يي ښكاره كړي وي په يو ځای دځايو كي لانه يحتمل الردّ مع قيام الملايمة ځكه دغه وصف احتمال درديدو لري دشارح دجانبه پر دا ركم باندي چي شارح دئ وصف علت معتبر نه كړي . **مع قيام الملايمة فيتعرف صحته بظهور اثره فی**

موضع من المواضع : پيژندل كيږي صحت دوصف په ظهور داثر چي وصف به اثر ښكاره كړي وي په يو ځاى دځايو كي **كاثر الصغر فى ولاية المال :**

لكه صغر چي اثر ښكاره كړي دئ په ولايت دمال كي وهو نظير صدق المشاهد :

دغه نظير دئ دشاهد دربتيا ويل، **يتعرف بظهور اثر دينه فى منعه عن تعين محظور دينه**

صدق دشاهد پيژندل كيږي په ظهور سره چي دده ددين اثر ښكاره سي په دې كي چي شاهد ځان منعه كړي ددين دمحظور اتو څخه :

فهذا تعليل بوصف ملايم:

تشريح: ته چي كوم تعليل كوي داغه ركم تعليل نبى عليه السلام او سلفو كړي دئ كه يې نه دئ كړي كه دار كم تعليل نبى عليه السلام اوسلفو كړي دي كه يې نه دئ كړي كه داغه ركم تعليل نبى عليه السلام اوسلفو كړي دئ نوستا تعليل دنبى عليه السلام او دسلفو دتعليل سره ملايم سو مناسب سو او كه ستا تعليل دنبى ﷺ دتعليل او سلفو دتعليل سره ملايم نه دئ مناسب نه دئ نو ستا قياس معتبر نه دئ مثال ما دانجلى په ولاية النكاح كي صغر وصف جوړ كړي تاراته وويل ولى دي جوړ كړي مادرته وويل ضرورت دئ حاجت دئ عجز دئ ددغه صغرى دوجي ما ولاية النكاح واخيستي ولي په غه صغر پوري ضرورت متصل و وحاحت متصل وو عجز متصل وو :

ولي انجلى په ځان نه پوهيږي چي زه ځان سم ځاى وركومه كه خراب ځاى ځان وركومه لهذا په صغر كي عجز وو ضرورت وو حاجت وو ددغه صغر دوجي ماولايمة النكاح واخيستي داغه ركم نبى عليه السلام وصف جوړ كړ ي مثال دپيشو غوښه مردار ده ليكن پس خورده يې پاكه ده داولي وايي پس خورده يې پاكه ده ددې وجي چي موږ عاجزه يو موږ ضرورت ورته لرو ولي دا پيشو پر موږ باندي طواف كوي ددغه ضرورت پر بنياد ددغه حاجت پر بنياد موږ مجبوره يو چي موږ داپس خورده حلاله كړو كه يې نه كړو لحاله بيا حرج راځي

دپیشو دپس خوردي دحِلت وصف طواف وو دضرورت پر بنیاد دحاجت پر بنیاد دلا چارګي پربنیاد :

همدا رنګه موږ صغر علت جوړ کړ ي دئ دضرورت پر بنیاد دحاجت پر بنیاد دلا چرګي پر بنیاد لذا زموږ وصف دنبی کریم ﷺ دوصف سره ملایم سو مناسب سو پاته سو بکر بکر وصف جوړول دا دنبي کریم ﷺ دوصف سره ملایم نه دئ:

یوسل او اوه دیرشم سبق

العلة عندنا علة بالاثر :

دعبارت ترجمه: زموږ په نزد باندي علت هغه وخت علت ګرځي چي علت یو اثر ښکار کړي ، **قدمنا على القياس الاستحسان الذي هو القياس الخفي** نو موږ پر قیاس باندي استحسان کله کله مقدم کړو هغه استحسان چي هغه قیاس خفي دئ :

اذا قُوِيَ اثره : هغه وخت چی اثردده قوی (زورور) وي **وقدمنا القياس لصحة اثره الباطن على الاستحسان الذى ظهرَ اثرُهُ وخفي فسادُهُ :**

نو موږ مقدم کوو قیاس ولي دده باطنی اثر صحیح دئ موږ قیاس مقدم کوو پر استحسان هغه استحسان چي اثر دده ښکاره دئ او فساد دده پټ دئ:

لان العبرة لقوة الاثر وصحته دون الظهور:

ځکه اعتبار دئ وقوي اثر ته وصحت ته داثر وظهور ته اعتبار نسته .

ولما صارت العلة عندنا علةً بالاثر الخ :

تشریح: دلائل څلور دي ۱- کتاب الله ۲- سنة رسول ﷺ ۳- اجماع الامة ۴- قیاس ، سائل سوال کوي وایي امام صاحب پنځم دلیل جوړ کړی هغه پنځم دلیل استحسان دئ لهذا دامام صاحب په نزد دلائل پنځه سوه دپنځو دلائلو په دنیا کي هیڅوک قائله نه دئ صرف

امام صاحب دلائل پنځه بولي داولي ، مصنف سائل ته جواب ورکوي مصنف وايي استحسان ځان ته جلا شي نه دئ استحسان عين قياس دئ ولي قياس پر دوه قسمه دئ ١- قياس جلي ٢- قياس خفي قياس جلي چا ته وايي قياس خفي چاته وايي قياس جلي ديته وايي چي علت پکښي ښکاره وي، قياس خفي ديته وايي چي علت پکښي پټ پروت وي:

فائده: کله کله دا دواړه سره ټکر سي ظاهره ښکاره علت يو ه اقتضا کوي پټ علت بله تقاضا کوي ، دکوم علت چي اثر زورور وي هغه به راګير کړي که داستحسان ده زورور وو استحسان به راګير کړي که دقياس جلي ده زورو وو قياس جلي به راګير کړي داغه خو وجه ده په بعضو اوقاتو کي موږ په استحسان باندي عمل کوو په بعضو اوقاتو کي مو په قياس جلي باندي عمل کوو ولي موږ دوصف اثر ته ګورو دوصف دپاره شرط داوو چي صالح به وي او معدل به وي معدل دا معني چي اثر به يې ښکاره کړی وي لهذا که داستحسان اثر زورو وو نوپه استحسان باندي عمل کوو که دقياس جلي اثر زورور وو نو په قياس جلي باندي علم کوو :

يوسل او اته ديرشم سبق

وبيا ن الثاني:

دعبارت ترجمه: بيان دقسم ثاني چي هغه قسم ثاني تقديم دقياس دئ پر استحسان باندي ولي دقياس اثرقوي وي داستحسان اثر ضعيف وي **في من تلا اية السجدة في صلوته :**

بيان دقسم ثاني دئ په حق دهغه چاکي چي تلاوت کړي اية دسجدې په لمانځه کي **انه يركع به قياسا :**

دغه تالی به رکوع کوي بسبب داية يا په سبب دتلاوت يا دغه تالي رکوع وکړه دسجدې پر ځای قياسا يعني دغه حکم ثابت دئ دقياس په اعتبار :

لان النص قدورد به قياسا: ځکه نص په دغه وار باره کي ددې ای بالركوع مقام السجود : قال الله تعالى ﴿وخَرَّ رَاكِعًا وَّ اَنَابَ﴾ الله جل جلاله ويلي دي چي ولويدي داؤد عليه السلام حال دا چي داؤد عليه السلام سجده كوونكي وو او بيرته راجع سو :

وفي الاستحسان لا يجزيه :په استحسان كي ركوع كافي نه ده دمصلي دپاره يعني په استحسان كي كه مصلي اية دسجدې تلاوت كړي نو ركوع دسجدة التلاوة دپاره كافي نه ده ، **لان الشرع امر نا بالسجود**: ځكه شرعي موږ امر كړي يو په سجده باندي **والركوع خلافه:** ركوع خلاف دسجدې ده، **كسجود الصلوة:** لكه دلمانځه سجده په ركوع باندي نه اداء كيږى **فهذا اثر ظاهرٌ:**

دده اثر ښكاره دئ **فاما وجه القياس فمجاز محض:** هر څه چي وجه دقياس ده نو دا مجاز محض دئ، **لكن القياس اولى باثره الباطن :**

خو قياس اولى دئ بالعمل چي سړي عمل په وكړي دا قياس اولى دئ تر استحسان په سبب ددې چي اثر دقياس په باطن كي قوي دئ اثر داستحسان ضعيف دئ بيانه **انّ السجود عند التلاوة لم يشرع قربة مقصودة :** بيان دا اثر باطن دادئ چي سجده دتلاوت عبادة مقصوده نه دئ حتي **لا يلزم بالنذر:** دليل يې د ادئ چي په نذر باندي نه لازميږى په نذركي عبادة مقصوده شرط دئ **وانما المقصود مجرد ما يصح تواضعا :** مقصود دسجدة التلاوة دمشروعيت څخه خالي اتيان دهغه دئ چي صلاحيت به دتواضع لري يعني خالي ټيټ سه متكبرمه جوړيږه، **والركوع فى الصلوة يعمل هذاالعمل :** ركوع په لمانځه كي دغه كردار كولاى سي:

بخلاف سجود الصلوة والركوع په خلاف دلمانځه دسجدې او دركوع ، **فى غيرها :** په غير دلمانځه كي **فصار الاثر الخفي مع الفسا د الظاهر اولى من الاثر الظاهر مع الفساد الخفي** اثر خفي سره دفساد ظاهر ولى قياس پر مجاز روان دئ دا اثر خفي وګرځيدى اولى تر اثر داسي

اثر چي ظاهر دئ سره ذفساد خفي ولي په استحسان كي غير مقصود (سجدة التلاوة) دريږي پر ځاى دمقصود (سجدة الصلوة)

وهذا قسمُ عزّ وجوده: دغه قسم كم دئ وجود دده ، **واما القسم الاول فاكثر من ان يحصى**

قسم اول ډير دئ من ان يحصى :

وبيان الثاني فى من تلا اية السجدة فى صلوته الخ :

تشريح: دارمدار دوصف پر تعديل دئ تعديل معنى اثر به يې ښكاره كړي وي كه استحسان په اثر كي زورور وو نو استحسان ته اعتبار دئ كه قياس په اثركي زورور وو نو قياس ته اعتبار دئ ، په بعضو اوقاتو كي استحسان په اثر كي ظاهرا زورور معلوميږى مګر پټ فساد پكښي وي هغه پټ فساد چي را وباسي نو اثر داستحسان كمزوري سي قياس پر زورو سي ولي په قياس كي پټ فساد نسته لهذا په دغه صورت كي قياس جلي پر قياس خفي زورو دئ او قياس جلي ته به اعتبار وركول كيږي مثال دداسي قياس او استحسان چي استحسان په ظاهره پر قياس زورور وي او په استحسان كي پټ فساد وي او بيا ته هغه پټ فساد را وباسي او استحسان كمزوري سى اوقياس پر زورور سي چي قياس پر خفي باندي زورور وي دا ډير كم ځايونه پيدا كيږي يعني دغه قسم ثاني كم دئ قسم اول زيات دئ اوس راسه مثال ووايو يو سړي را ولاړ سو كرار يې په لمانځه كي اية دسجدې وويلي كرار دغه سړي ركوع وكړه په سبب ددغه اية او ياد تلاوت مګر نيت يې دسجدې وكړى قياس وايي داصحيح دئ استحسان وايي داصحيح نه دئ دا سړي به سجده لګوي دلته استحسان پرقياس زورور دئ ولي قياس دمجازه كار اخلي استحسان دحقيقت څخه كار اخلي ا و حقيقت پر مجاز زورور دئ نو استحسان پرقياس زورور دئ قياس وايي الله جل جلاله پر سجده باندي دركوع اطلاق كړي دئ الله تعالى وايى وخرَّ رَاكِعًا وَّ اَنَابَ ولويدى داود عليه السلام او حال داچي دئ سجده كوونكي ؤ وَاَنابَ او بيرته راجع سو الله پاک دركوع اطلاق پر سجده كړي دئ لهذا ركوع چي وسي لكه سجده چي وسي قياس

دمجاز څخه كار اخلي استحسان وايي نه دئ صحيح ولي دركوع خپله حقيقت دئ دسجدې خپل حقيقت دئ كه سړي ركوع وكړه سجده يې نه وكړه نو په ركوع باندي دسجدي كار نه كيږي كه سړي سجده وكړه ركوع يې نه وكړه نو په سجده باندي دركوع كار نه كيږي نو ددې څخه دا معلومه سوه چي هر يو ځان ته جلا جلا شي دئ لهذا استحسان پر حقيقت باندي روان دئ قياس پر مجاز باندي روان دئ او حال دا حقيقت پر مجاز باندي زورور دئ نو استحسان پر قياس پاندي زورور دئ استحسان وايي باقاعده به سجده لګوي قياس وايي بس ركوع كافي ده صحيح ده ، اوس راسه په استحسان كي پټ فساد دئ په قياس كي پټ فساد نسته په استحسان كي پټ فساد دادئ استحسان سجدة التلاوة قياسوي پر عامه سجده باندي په دغه قياس كي دئ خطا وتلي دئ ولي عام سجده عبادة مقصوده دئ ليكن سجدة التلاوة عبادة مقصوده نه دئ عامه سجده چي كوم احكام لري سجدة التلاوة هغه احكام نه لري پاته سو قياس جلي قياس جلي وايي دالله پاک اصل مقصود انحناء ده چي ته عجز كوي كه تكبر كوي چي څنګه ته ټيټ سوي بس الله جل جلاله وايي دغه بنده عجز وكړي لهذا په ټيټ والی كار كيږی هغه دسجدې په شكل وي كه دركوع په شكل وي:

په قياس كي پټ فسا د نسته په استحسان كي پټ فساد سته نو قياس پر استحسان باندي زورور سو داستحسان اثر كمزوري سو :

يوسل او نه ديرشم سبق

ثم المستحسن بالقياس الخفي:

دعبارت ترجمه: مستحسن په قياس خفي باندي **يصح تعديته :** تعديت دده صحيح كيږی :

بخلاف المستحسن بالاثر او الاجماع او الضرورة : په خلاف دمستحسن بالاثر يا متسحسن بالاجماع يا مستحسن بالضرورة **كالسلم والاستصناع و تطهير الحياض والا باروالاواني**

دمستحسن بالاثر مثال لكه بيع السلم دمستحسن بالاجماع مثال لكه استصناع دمستحسن بالضرورة مثال لكه تطهير دحوضو او دڅاګانو او داوانو(لوښو).

ثم المستحن بالقياس الخفي يصح تعديته بخلاف المستحسن بالاثر او الاجماع او الضروة الخ:

تشريح: دا استحسان دئ دا استحسان كله په قياس باندي ثابتيږي كله په اثرباندي ثابتيږي كله په اجماع باندي ثابتيږي كله په ضرورت باندي ثابتيږي:

كه چيري په قياس باندي حاصل سو وديته مستحسن بالقياس وايي كه چيري په نص باندي حاصل سو وديته مستحسن بالاثر وايي، كه چيري په اجماع باندي حاصل سو وديته مستحسن بالاجماع وايي، كه چيري په ضرورت باندي حاصل سو وديته مستحسن بالضرورة وايي نو استحسان پرڅلور قسمه سو ١- مستحسن بالقياس ٢ مستحسن بالاثر ٣- مستحسن بالاجماع ۴- مستحسن بالضرورة، اوس راسه قياس يوه تقاضا كوي قياس وايي داشي دي حرام سي اثر وايي روا دي سي يعني نص وايي روا دي سي بس وديته مستحسن بالاثر وايي:

عقل قياس وايي داشي ذي روا نه سي اجماع پر دې باندي راغله چي داشي دي رواسي بس وديته مستحسن بالاجماع وايي:

قياس وايي داشي دي روانه سي ضرورت وويله داشي دي رواسي بس وديته مستحسن بالضرورة وايي نو درې سوه ١- مستحن بالاثر ٢- مستحسن بالاجماع ٣- مستحسن بالضرورة:

په دا درو (مستحسن بالاثر وبالاجماع وبالضرورة) كي قانون دادئ چي دا پخپل مورد كي حصر بندي دئ ددې تعديت وبل ځاى ته ناروا دئ پاته سو مستحسن بالقياس دمستحسن بالقياس تعديت روادي د ابل ځاى ته وړلاي سي:

اوس راسه چي مثال وو ايو چي سر دي په خلاص سي، عقل وايي چي كوم شي ستا سره نه وي نو ددې بيعه خرڅلاو ناروا دئ ولی دابيعه دمعدوم ده او بيعه دمعدوم ناروا ده ليكن نبی عليه السلام وايي په بيع السلم كي رخصت دئ يعني بيع السلم جائز ده په دغه بيع السلم كي چي نبي عليه السلام جوازورکړي دئ ليکن دا د عقل خلاف دئ وديته مستحسن بالاثر وايي دزيد سره موټر سيكل نسته زيد موټر سيكل پر عمر باندي خرڅوي اوس كه ته ووايي وزيد ته چي موټر سيكل خو نسته زيد وايي موټرسيكل دي نه وي په بيع السلم كي خوهم مبيعه نسته نوته به ورته ووايي هغه په خپل مورد كي بند دئ هغه دلته نه سې راوړلاي زيد وعمرو ته ورغلی زيد ورته وايي ورورہ داركم چمپل را جوړ كړه چمپل خو نسته ليكن اجماع پر دې راغلي ده چي استصناع جائز ده استصناع وديته وايي چي ناف او اډر وركړي چي داركم شي راجوړ كړه وديته مستحسن بالاجماع وايي ددې تعديت بل ځای ته روانه دئ ددې دتعديت صورت دا ركم راځي مثال دا هزاره دئ زيد وهزاره ته چمپل وركړه چي داركم چمپل راجوړ كړه كرار هزاره مړ سو دهزاره زوي را ولاړ سو دهزاره پر ځای كښيناستي زيد دهزاره زوي ته وايي هغه چمپل راكړه دهزاره زوی ورته وايي چمپل كومه دئ زيد ورته وايي ما ستا پلار ته وركړي وه دهزاره زوي وزيد ته وايي چي دا مستحسن بالاجماع دئ دا پخپل مورد كي بند دئ دا بل ځای ته نه ځي لهذا تاخوزما پلار ته وركړي وه تاماته نه دئ راكړي .

دمستحسن بالضرورة مثال : وڅاته سپي ور ولويد ی مردار سو اوس ته دڅا څخه په سولاغه باندي اوبه راباسي دسولاغې چي هر څومره مقدار دئ لهذا ته چي په سولاغه باندي اوبه راباسي را كاږي نو دغه اوبه دڅا داطرافو سره هم مبتلي درسی سره هم مبتلي ته وايي بس دڅا ديوالونه هم صفا سوه رسی هم صفا سوه چي اوبه را وكښل سي عقل خو وايي دادئ صفا نسي ولي مراداري او به درسی ا و ديوالو سره مبتليدلې دي مگر ضرور ت وايي اوبه هم صفا دي ديوالونه هم صفا دي رسی هم صفا ده ولی كه صفا نسي بياحرج راځي لهذا دا مستحسن بالضرورة دئ ددې تعديت بل ځای ته جائز نه دئ :

يوسل او څلويښتم سبق

الا ترى ان الاختلاف فى الثمن قبل قبض المبيع :

دعبارت ترجمه: ته نه ګورې چي اختلاف په ثمنو کي دمبيعي دقبض مخته ،:

لا يوجب يمين البائع قياسا دا اختلاف نه واجبوي قسم دبائع قياس يعني قياس داتقاضا کوي چي بائع ته به قسم نه ورکول کيږي :

لانه هو المدعي: ځکه بائع مدعي دئ دون المشتري، ويوجبه استحسانا :

دا اختلاف مذکور يمين دبائع واجبوي استحسانا يعني استحسان وايي دواړه منکر دي دواړه به قسم خوري **لانه ينكر تسليم المبيع بما ادعاه المشتري ثمنا :**

ځکه بائع انکار کوي دمبيعي دورکولو څخه په هغه څه باندي چي دهغه مشتري دعوه کړي ده ا ز روئي ثمن **وهذاحكم تعدي الى الوارثين والى الاجارة:** دايو حکم دئ داسی حکم چي متعدي کيږي ووارثينو ته او اجاري ته ، **فامابعد القبض :**

وروسته تر قبض ، **فلم يجب به يمين البائع:** نو قسم د بائع واجب نه دئ په اختلاف باندي :

الا بالاثر: مګر واجب دئ په اثر باندي يعني استحسانا واجب دئ **بخلاف القياس** په خلاف دقياس حال دا چي دغه **اثر مُتَلَبِّس** دئ په مخالفت دقياس :

عند ابى حنيفة وابي يوسف فلم يصح تعديته : ددوي (ابی حنيفه وابی يوسف) په نزد باندي تعديت نه دئ صحيح ووارثانو ته دامام محمد رحمه الله په نزد تعديت صحيح دئ، خو فتوی دامام صاحب او دامام ابی يوسف پرقول ده :

الا ترى ان الاختلاف فى الثمن قبل قبض المبيع لا يوجب الخ :

تشريح: داشي مستحسن بالقياس دئ دمستحسن بالقياس تعديت صحيح دئ دمستحسن بالاثر او بالاجماع او بالضروة ددادرو تعديت نه دئ صحيح دادري سره پخپل مورد کي بند دئ دمستحسن بالقياس تعديت صحيح دئ مثال زيد پر عمرو باندي يوه پياله خرڅه کړه قبض نه دئ راغلی دمبيعي (پياله) دقبض مخته دزيد او دعمرو په پيسو کي سره اختلاف سو بائع (زيد) ومشتري (عمرو) ته وايي ما پياله پر تاباندي په لس زره (١٠٠٠٠) خرڅه کړي وه مشتری (عمرو) وبائع (زيد) ته وايي تا پياله پر ما باندي په پنځه زره (٥٠٠٠) خرڅه کړي وه اوس راسه په قياس چي وړته وګوري زيد مدعي دئ دلسو زرو عمرو منکر دئ قانون دادئ چي منکر ته به قسم ورکول کيږي لهذا قياس دا وايي چي بائع ته به قسم نه ورکول کيږی منکر ته به قسم ورکول کيږي ليکن داستحسان په ذريعه چي پټ پکښي وګوري نو بائع هم په حقيقت کي منکر دئ ولي بائع (زيد) ددې انکار کوي چي پيا له په پنځه زره نه درکومه لهذا استحسان وايي دواړه منکر دي دواړو ته به قسم ورکول کيږی ودغه استحسان ته مستحسن بالقياس وايي په مستحسن بالقياس کي تعديت صحيح دئ:

دمبيعي دقبض مخته دزيد (البائع) او دعمرو (المشتري) په ثمنو کي سره اختلاف دئ دواړه به قسم خوري کرار عمرو مړ سو بکر خالد دعمرو وارثان دی دعمرو ځخه قسم ولاړي وبکر او خالد ته اوس به بکر خالد دوي دوه به قسم خوري يا بائع (زيد) مړ سو ملاخدايداد ملا خټ ګل دزيد وارثان دي قسم دزيد ځخه ولاړي ودوي دوو ته اوس به دوي دوه قسم خوري لهذا دا مستحسن بالقياس دئ دمستحسن بالقياس تعديت صحيح دئ:

پاته سو مستحس مستحسن بالاثر تعديت نه قبلوي دده تعديت نه دئ صحيح نبی کريم ﷺ وايي چي تا پياله ورحواله کړه بيا دمتبائعانو په مينځ کي اختلاف راغلی نبی عليه السلام وايي اذا اختلف المتبايعان والسلعة قائمة تحالفا وترادا : څه وخت چي متبايعانو اختلاف سره وکړ او سلعه ولاړه ده يعني مبيعه قائمه ده نو دواړه به قسم خوري او يو به مبيعه ورکړي هغه بل به پيسي ورکړي قياس وايي مشتري منکر دئ خود به قسم خوري ليکن اثر وايي دواړه منکر دي دواړه به قسم خوري لهذا دغه مستحسن بالاثر دئ دا

تعديت نه قبلوي که په بائع او مشتري کي هر يو مړ سو ددوي (بائع مشتري) وو ارثانو ته قسم نه ورکول کيږي ولي دا مستحسن بالاثر دئ دا تعديت نه قبلوي .

يوسل او يو څلويښتم سبق

ثم الاستحسان ليس من باب خصوص العلل :

دعبارت ترجمه: استحسان نه دئ له بابه د خصوص العلل يعني استحسان له دې کورني څخه نه دئ چي علت د حکم څخه جلا کړي، **لان الوصف لم يجعل علة فى مقابلة النص والاجماع والضرورة** ځکه هغه وصف علت چي په قياس کي دئ دا علت نه ګرځي په مقابل دنص کي چي نص راغلی علت ختم سو علت نه ګرځي په مقابله دا جماع کي په مقابله دضرورة کي که ته وايي دا منم چي نص به راوړل سي علت به ختم کړي اجماع به څنګه علت ختم کړي ضرورت به څنګه علت ختم کړي موږ وايو ضرورت په قوت کي داسي دئ لکه اجماع اجماع په قوت کي داسي ده لکه نص چي ضرورت د اسي دئ لکه اجماع اجماع داسي ده لکه نص نو ضرورت داسي دئ لکه نص ، **لان فى الضرور : اجماعا** ځکه په ضرورت کي اجماع ده **والاجماع مثل الكتاب والسنة** اجماع د کتاب او دسنت په مثل ده ، وکذا اذا عارضه استحسان داغه رکم څه وخت چي د قياس جلی سره استحسا ن معارض سي **اوجب عدمه:** نو استحسان واجبوي عدم دقياس **فصار عدم الحكم :** وګرځيدی عدم الحکم په موضع د استحسان کي **لعدم العلة** دوجي دنه علت ، **لا لمانع مع قيام العلة** نه د مانع دوجي سره ددې چي علت قائم دئ، **وكذا نقول فى سائر العلل المؤثرة** داغه رکم موږ وايو په ټولو عللو کي داسي علل چي مؤثره وي:

ثم الاستحسان ليس من باب الخصوص العلل الخ :

تشريح: قاعده : په قياس کي تخلّف روا دئ که نه دئ روا :

تخلف ديته وايي چي علت وي حکم نه وی علت پر ذوه قسمه دئ ١- علت مستنبطه ٢- علت منصوصه په سود کي جنس او قدر موږ علت جوړ کړي ودغه علت ته علت مستنبطه

وایي په پیشو کي علت دا وو فانها من الطوافین والطوافات علیکم دغه علت، علت منصوصه دئ:

زه مجتهد یم ما قیاس وکړ اوس داسي کیدای سي چي زه یوځای قیاس وکړم او علت مستنبطه را وباسم یعني علت مستنبطه به وي حکم به نه وی لهذا دا کیدای سي که نسي کیدای نو ته به ووایي په علت منصوصه کي کیدای سي مثال الزانیة والزانی فاجلدوا کل واحد منهما مائة جلدة زنا علت دئ جلد حکم دئ السارق والسارقة فاقطعوا ایدیَهُمَا سرقه علت دئ تطع الید حکم دئ دا کیدای سي چي یو ځای دئ زنا وي حکم دي نه وي یو ځای دي سرقه وي حکم دئ نه وي: مثال ته یې فرض کړه په زنا کي ثلور ګواهان وي ثلور سره ګواهان ضروري دي په ثلورو ګواهانو کي په یوه ګواه کي لږ فرق راغلی سمه تصریح یې نه کوله اوس زنا سوې ده مګر حکم نه لګیږی نو ګوره علت (زنا) سته حکم (جلد) نسته:

همدارنګه په سرقه کي سرقه سته مګر ګواهان نسته یا په دوو ګواهانو کي یو ګواه سم تصریح نه کوي یا ګواهي بل رکم ورکوي اوس علت (سرقه) سته حکم (قطع الید) نسته لهذا په علت منصوصه کي خبره نه ده:

ولي په علت منصوصه کي تخلف روا دئ:

خبره په علت مستنبطه کي ده په علت مستنبطه کي تخلف روادئ که نه دئ روا بعضي علماء وایي تخلف نه دئ روا بعضي علماء وایي تخلف روا دئ:

موږ ودې خوا ته تللي یو چي تخلف روا نه دئ دانسي کیدای چي قیاس دئ وي علت مستنبطه دي وي او حکم دي نه وي دانسي کیدای که علت وو نو حکم به خامخا وي هغه بعضي علماء راته ودریده وایي نسي کیدای موږ وایو وو نسي کیدای دوي (بعضی علماء) وایي تاسو داستحسان قائل یاست موږ وایو وو داستحسان قائل یودوي وایی داستحسان قائله کیدل دا عین دغه معنیٰ ده چي وو دا کیدای سي تخلف روا دئ لهذا داستحسان قائله کیدل داعین دغه معنی ده چي وو دا کیدای سي تخلف روا دئ ولی موږ ویلي وه چي استحسان بالاثر یا استحسان بالاجماع یا استحسان بالضروة راغلی نو ددې

په مقابل کي به قیاس متروک وي چي قیاس متروک سو نو ددې خو دا معنی قیاس ولاړ دئ علت سته حکم نه پر جاري کیږي لهذا په استحسان قائله کیدل دا عین دا معنی چي علت به وي حکم به نه وي لهذا تاسو تخلف روا بولي دحسامي مصنف ددې سوال جواب ورکړ مصنف وایي استحسان دخصوص العلل دکورنۍ څخه نه دئ :

ولی دا استحسان دئ داقیاس دئ استحسان را ولاړ سي په قیاس کي چي کوم علت دئ استحسان دا علت و خوري ختم یې کړي چي علت ختم سو نو تخلف نه سو پاته تخلف هغه وخت راځي چي علت وي حکم نه وي دلته خو استحسان علت یې وخوړي چي علت یې وخوړي نو علت نسو پاته چي علت نسو پاته نو تخلف نسو پاته تخلف نسته لهذا زموږ په نزد استحسان دقیاس دعلت دپاره عادم (نیستي کونکي) دئ ددوي (بعضي علماء) په نزد استحسان دقیاس دپاره عادم نه دئ استحسان مانع دئ عادم نه دئ استحسان ورته ودریدی چي ورته ودریدی نو علت ختم نسو چي علت ختم نسو نو تخلف راغلی :

وبیان ذالک فی قولنا فی الصائم اذا صبَّ الماءُ فی حلقه :

دعبارت ترجمه: بیان ددغه په دې قول زموږ کي داسي قول چي واقع دئ په حق دصائم کي چي کله اوبه دده په حلق کي تويي سي **انه یفسد صومه :**

دده روژه فاسده ده ، **لفوات رکن الصوم** ولی دروژې رکن فوت سو :

ولزم علیه الناسي: پر ده باندي دناسي اعتراض کیږي **فمن اجاز خصوص العلل :**

کوم څوک چي دخصوص العلل اجازه ورکوي **قال امتنع حکم هذا التعلیل ثمه لمانع :**

نو هغه وایي حکم ددغه تعلیل په ناسي کي بند دئ منعه دئ دمانع دوجي:

وهو الاثر : هغه اثر دئ وقلنا موږ وایو **نحن انعدم الحکم لعدم هذه العلة :** موږ وایو حکم نسته ځکه علت نسته ، **لان فعل الناسي منسوب الی صاحب الشرع :** ځکه فعل دناسي منسوب دئ وصاحب الشرع ته ، **فسقط عنه معنی الجنانیة :**

فبقى الصوم دناسي ځخه ساقطه سوه معنى دجنايت **وصار الفعل عفوا** فعل دناسي عفوه سو **لبقاء ركنه** روژه باقي پاته سوه ځکه دروژې ركن باقي پاته دئ لا لمانع مع قوام ركنه : داسي نه ده چي مانع ورته ولاړ دئ سره ددې چي ركن دروژې فوت دئ نسته **فالذي جُعِلَ عندهم دليل الخصوص** هغه چي ددوي په نزد باندي دليل دخصوص ګرځي **جعلناه دليلالعدم** : موږ هغه ګرځوو دليل دعدم :

وهذا اصل هذالفصل :

ددغه فصل اصل قاعده داده **فاحفظه** : ته دا قاعده ياده كړه **واحكمه** : ته دا اصل مضبوطه كړي **ففيه فقه كثير** په دې كي ډيره پوهي ده **وملخص كبير** : ډير دخلاصيدو ځاى پكښى دئ : .

وبيان ذالک فی قولنا فی الصائم الخ :

تشريح: زيد دعمرو په خوله كي په زوره او به ورتوي كړي نو روژه يې ماته سوه اوس راسه روژه يه ماته سو ه داحكم دئ ولي ماته سوه ځكه مفطر ولاړي دده وجوف ته مفطر يې علت دئ تخلف نه راځي بس روژه يې ماته سوه اوس به زه داسي ځاى دربنكاره كړم چي علت به وي حكم به نه وي مثال دسړي روژه هيره ده او به يې وڅښلي مفطر راغلى مګر حكم (ماتيدل) نسته ګوره تخلف دحكم د علت ځخه راغلى موږ وايو دلته خو دالله دحبيب نص راغلى دئ چي نص راغلى دئ نو علت يې وخوړى :

نو تخلف نه راغلى دالله حبيب وايى اطعمَکَ الله وسقاک الله جل جلاله په تا وخوړه او الله جل جلاله په تا او څښلي لهذا افطار دغه نص ختم كړ چي افطار ختم سو نوروژه ماتيدل نه راغله :

يوسل او دوه څلويښتم سبق

واما حكمه فتعدية حكم النص الى ما لا نص فيه :

دعبارت ترجمه : حکم دقیاس اثر مرتب دقیاس نوو ړل کیږي به حکم دنص حکم د اصل دا تعدیت به وی وداسي محل ته چي په هغه کي نص نه وي نبی کریم ﷺ شپږ شیان ذکر کړي دي الحنطة بالحطنة والشعير بالشعير والتمر بالتمر والملح بالملح والفضة بالفضة والذهب بالذهب سواءً بالسواءٍ والفضل ربا:

موږ جنس اوقدر علت ګڼو :

دغه علت که هر ځای پیدا سو یعني دغه علت په داسي محل کي پید اسو چي هلته نص نه وو مثال لکه چینه :

بس دربا حکم به ودغه محل ته راوړل کیږي چي په دغه محل کي نص نسته یعني یوه کاسه غنم په دوو کاسو غنمو ورکول سو د دئ سود حرام دئ یوه کاسه چینه په دوو کاسو چینو ورکول سود دئ سود حرام دئ.

ليثبت فيه بغالب الرأى على احتمال الخطأ:

ددي دپاره چي حکم دنص ثابت سي په داسي محل کي چي هلته نص نسته او دا حکم به ثابت وي په غالب الرأى سره دا احتماله دخطاء ولی مجتهد کله یصیب وي کله یخطي وي:

فالتعدية حكم لازم للتعليل عندنا :

تعدیت یو حکم دئ داسي حکم چي لازم دئ دتعلیل سره زموږ په نزد باندي که سړي قیاس جوړ کړی وو بیا به خامخا حکم دمقیس علیه وړي ومقیس ته که سړي حکم یو نه سي نو بیا سړي پالتوقیاس کړي امام شافعي رحمه الله و ایي که سړي قیاس وکړي علت جامعه یې پیدا کړ اوس سړي حکم دمقیس علیه څخه ومقیس ته یو نه سي نو دغه تعلیل غیر دتعدیته صحیح دئ، **وعند الشافعي هو صحيح بدون التعدية :**

دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي تعلیل صحیح دئ تعدیت به نه وي امام شافعي رحمه الله دربا طعم او ثمن علت جوړ کړی دئ ، ثمنیت علت دئ دربا دپاره او ثمنیت بند دئ په

دنانير او دراهم کي لهذا دلته تعليل سته دا بل ځای ته نه ځي چي حکم ورسره ولاړ سي نو تعليل دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي صحيح به غير دتعديته **حتی جوّزَ التعليل بالثمنية :**

امام شافعي رحمه الله جواز ورکړي وتعليل ته په ثمنيت باندي:

دامام شافعي رحمه الله په نزد تعليل تر قياس اعم دئ، قياس دتعليل يوه نوعه ده ځکه تعليل پر دوه قسمه دئ که چيري علت علت متعدي وو په دغه صورت کي په دغه علت باندي حکم په فرعه کي ثابتيږي دامام شافعي رحمه الله او زموږ په نزد باندي او دا قياس دئ، که چيري علت علت متعدي نه وو نو دا تعليل محض دئ يعني مجرد دئ دتعديت څخه ودغه علت ته علت قاصره وايي حکم په اصل کي بند دئ دامام شافعي رحمه الله په نزد باندي تعليل تعليل متسقيم دئ زموږ په نزد باندي نه دئ زموږ په نزد باندي که علت جامعه وو علت وو نو حکم به ورسره متعدي کيږی ذامام شافعي رحمه الله په نزد باندي په تعليل صحيح دئ غير ددې چي حکم ورسره ولاړ سي :

لکه امام شافعي رحمه الله چي جواز ورکړي دئ وتعليل ته په حرمت درباء کي چي رباء حرامه په نقدينو کي علت يې ثمنيت دئ دلته تعليل سته تعديت نسته واحتج بان هذا : امام شافعي رحمه الله ددې دپاره دليل وايي ، قياس يو واري پريږده نص راواخله نص چي يو ځای ذکر سي حکم ثابت کړي دنص سره دا ضروري نه ده چي ته به دنص حکم بل ځای ته وړي اجماع چي راغله حکم ثابت کړي داجماع سره دا ضروري نه ده چي ته به حکم بل ځای ته وړي سنة رسول چي ذکر سي حکم ثابت کړي دسنة رسول سره دا ضروري نه ده چي ته به حکم بل ځای ته وړي دقياس سره ولي ضروري ده چي حکم بل ځای ته وړي قياس خو هم ددوي رکم حجت دئ لهذا په دوي کي داضروری نه ده چي ته به حکم بل ځای ته وړې نو په قياس کي هم داضروري نه ده چي ته به حکم بل ځای ته وړې:

دوي (نص اجماع سنة رسول) ايجاب كوي يعني حكم ثابتوي **واحتج** امام شافعي رحمه الله دليل نيولي دئ ، **بان هذا لما كان من جنس الحجج :** په دې باندي چي دغه قياس هر كله چي وو دحججو دجنس څخه **وجب ان يتعلق به الايجاب :**

داضروي ده چي په تعليل باندي به ايجاب متعلق وي، **كسائر الحجج** لكه باقي حجج بل دا چي په قياس كي دا معلومه ده چي وصف علت دئ .

پاته سو تعديت او نه تعديت دايو زيات شي دئ :

الا ترى : ته نه ګوري **ان دلالة كون الوصف علة لا يقتضي تعديته :** دلالت ددې چي وصف علت دئ دا دلالت تقاضا دتعديت نه كوي، **بل يعرف ذالک بمعنى فى الوصف** بلكي دغه تعديت پيژندل كيږي په معنى الوصف باندي:

دعبارت ترجمه: ووجه قولنا : زموږ دقول وجه داده ، **ان دليل الشرع لا بد وان يوجب علما او عملا:**

بيشكه دليل دشرعي خامخا به فائده كوي يا علم يا عمل ، **وهذا لا يوجب علما بلا خلاف :** دغه تعليل يقين نه فائده كوي بالاتفاق بلا خلاف **ولا يجب عملا فى المنصوص عليه :**

اونه عمل واجبوي په منصوص عليه كي **لانه ثابت بالنص :** ځكه دا ثابت دئ په نص باندي **والنص فوق التعليل** نص تر تعليل زورور دئ **فلا يصح قطعه عنه :**

نه صحيح كيږى چي حكم دي قطعه سي دنص څخه مضاف دئ سي وعلت ته **فلم يبق للتعليل حكم سوي التعدية :** تعليل لره حكم نه سو پاته سيوا دتعديت څخه يعني تعديت به وركوي بيا عمل فائده كوي

ووجه قولنا ان دليل الشرع الخ :

تشريح: دا قياس دئ او ته يې حکم نه متعدي کوي هر حجت چي راغلى يا علم فائده کوي يا عمل فائده کوي او تا چي کوم قياس کړي دئ او حکم يې نه متعدي کوي دا نه علم فائده کوي نه عمل فائده کوي که ته وايى علم ولي نه فائده کوي نوموږ وا يو قياس ظني دئ يقين نه فائده کوي، عمل هم نه فائده کوي ځکه په منصوص عليه کي عمل په نص سره ثا بت دئ په علت سره نه دئ ثابت لهذا دا څنګه حجت ا و دليل دئ چي نه علم فائده کوى او نه عمل فائده کوي ولي دليل به خامخا يا علم فائده کوي يا به عمل فائده کوي مثال ته يې فرض کړه هغه اياتونه چي منسوخ دئ يعني حکمونه يې منسوخ دي تلاوت يې باقى دئ دا که عمل نه فائده کوي ليکن علم خو فائده کوي، که زموږ رکم چم وسي چي موږ يې حکم متعدي کوو نو په دغه صورت کي که علم نه فائده کوي ليکن عمل فائده کوي .

: فان قيل التعليل بما لا يتعدي يفيد اختصاص حكم النص به :

دعبارت ترجمه که چيري سوال وسي چي تعليل په ما لا يتعدي دا فائده کوي چي حکم دنص تر نص پوري خاص دئ، **قلنا هذا يحصل بترك التعليل** موږ وايو دغه حاصليږى په پريښودلو دتعليل :

فان قيل التليل بما لا يتعدي الخ :

تشريح: يو سوال کيږى پر دې خبرى باندي چي تا سوويل چي دليل دشرعي خامخا يا علم فائده کوي يا عمل فائده کوي، هغه سوال دا دئ چي دغه انحصار دفائدې موږ نه منو يو بله فائده هم سته هغه فائده داده ما دحکم دپاره يو تعليل وکړي دا فائده به وکړي چي دا حکم تر دغه علته پوري خاص دئ موږ وايو که ته دغه تعليل نه وکړي بيا هم دا فائده حاصليږي .

على ان التعليل بما لا يتعدي لا يمنع التعليل بما يتعدي

دعبارت ترجمه : علاوه لا دادرته وايم چي تعليل په ما لا يتعدي دا منعه نه راولى دهغه تعليل څخه چي تعليل په ما يتعدي سره وي **فتبطل هذه الفائدة :** نو دغه فائده باطله سوه.

على ان التعليل الخ :

تشريح: ته وايي چي دا فائده به وکړي چي دا حکم به تر ده پوری خاص سي موږ وايو که تا داسي تعليل کړي دئ چي لا يتعدي دئ نو موږ وايو يو مجتهد به رأ ولاړ سي په دغه نص کي به داسي تعليل وکړي چي هغه به يتعدی وي نو اختصاص دحکم تر علته پوری نه راغلی:

قانون دا دئ اجتهاد په ما لايتعدي دا مانع نه دئ داجتهاد په ما يتعدي باندي :

يوسل او درو څلويښتم سبق

دعبارت ترجمه: **واما دفعه :** هرڅه چي دفعه دقياس ده، **فنقول :** نو موږ وايو چي په بيان کي ددفع القياس، **العلل نوعان:**

علتونه دوه دي، **طرديه ومؤثرة :** يو طرديه دئ بل مؤثره دئ، **وعلى كل واحد من القسمين ضروبُ من الدفع :** هريو دقسمينو (طرديه ومؤثرة) څخه د دفعي قسمونه پر واقع کيږي **اما وجوه دفع العلل الطرديّة فاربعة:** دعلل طردية ددفعي طريقي څلور دي، يعني ده (امام شافعي) علت طردية کړي دئ ته دا دفعه کوي دد دفعي دپاره څلور طريقي دئ .

واما دفعه فنقول العلل نوعان طردية ومؤثرة الخ :

تشريح: حضرت امام شافعي رحمه الله يو قياس کړي دئ حضرت امام صاحب هم يو قياس کړی دئ امام ابو حنيفه به دامام شافعي رحمه الله قياس څنګه دفعه کوي اَمّا دفعهُ دغه معنی :

لهذا قياس به څنګه دفعه کيږی مخته تر دي چي اما دَفعُهُ وايو تر دي مخته به يوه قاعده ووايو قاعده مصنف بيان کړي ده:

قاعده: امام شافعي هم قياس کوي موږ هم قياس کوو مګر امام شافعي چي په قياس کي کوم علت پکار اچوي وهغه علت ته علت طرديه وايي موږ چي کوم علت پکار اچوو وهغه علت ته علت مؤثره وايي اوس راسه علت طرديه چاته وايي علت مؤثره چاته واي:

١- علت طرديه ديته وايي چي چيري علت وي نو حکم به وي که علت نه وو نو حکم به نه وي ، يعني حکم دعلت سره تاويږي را تاويږي :

٢- علت مؤثره ديته وايي چي کوم علت په يو حکم کي اثر وکړي نو ددې حکم په جنس کي به بل ځای نص يا اجماع اثر ښکاره کړي وي امام شافعي رحمه الله استدلال کړی په علت طرديه باندي اوس به ددې دفعه ته څنګه کوي نو ددې دفعه په څلور و طريقو باندي کيږي مصنف به څلور سره طريقي راته بيان کړي موږ به نن يوه طريقه ورڅخه ووايو.

فائده: مصنف په ظاهره موږ ته اصول راښيي مګر په حقيقت کي موږ ته مناظره راښيي :

القول بموجب العلة ثم الممانعة ثم بيان فساد الوضع ثم المناقضة

ددفعي څلور طريقی دئ ١- قول بموجب العلة ٢- الممانعة ٣- فساد الوضع ٤- المناقضة:

اما القول بموجب العلة :

دعبارت ترجمه: هر څه چي قول دئ په موجب العلة باندي **فالتزام ما يلزمه المعلل بتعليله :** نو پر سرا خيستل ورسره منل هغه شي چي معلل هغه لازموي پخپل تعليل باندي يعني ورسره منل چي ته څرنګه وايي زه هم هغه رکم وايم :

وذالک مثل قولهم فی صوم رمضان : دغه قول په مثل ددې قول ددوي چي دوي قول کړي دئ په صوم درمضان کي **انه صوم فرض :** دغه صوم رمضان فرضي روژه ده **فلا يتادي الی بتعيين النية :**

صوم رمضان نه ادا کیږي مگر ادا کیږي په تعین د نیت سره :

فيقال لهم عندنا لا يصح الا بتعين النية: موږ ودوي ته جواب ورکوو زموږ په نزد باندي صوم رمضان نه صحیح کیږی مگر صحیح کیږي په تعین د نیت سره ، **وانما نجوزهٗ باطلاق النية على انه تعين** مگر موږ دصوم رمضا ن جواز ورکوو په مطلق نیت سره بناء پر دې چي دا اطلاق تعین دئ دشارح دجانبه :

اما القول بموجب العلة الخ:

تشريح: دا معلل دئ تعلیل یې کړي دئ قیاس یې جوړ کړي دئ :

ته راولاړ سي ورته ووایی ستا علت هم منم حکم دئ هم منم دواړه دي صحیح کړي دئ مگر دلته پر دغه علت چي دغه حکم تفریع کیږي هغه دارکم دئ دارکم نه دئ لکه ته چي وایي بس ودغه ته قول بموجب العلة وایي موجب العلة دا معني دعلت چي کومه تقاضا ده تا هغه رکم وکړي بس درسره منم یې کیسه دا غه رکم ده لهذا علت دئ منم حکم دئ منم لیکن خبره بل رکم ده دارکم نه ده لکه ته چي وایي امام شافعي رحمه الله طرديه قیاس کړي دئ روژه عبادت ده په عبادت کي فرضی عبادت دئ هر ځای چي فرضی عبادت وي نو هغه تعین دنیت غواړي،فرض علت دئ تعین دنیت حکم دئ، موږ وایو دا منو چي روژه فرض ده او دا هم منو چي فرض دنیت دتعین د پاره علت دئ موږ دواړه منو :

امام شافعی رحمه الله وایي چي دا دواړه (فرض تعين النية) راسره مني نوبيا تاسو ولي مطلق نیت کافي بولي یعني تاسو وایاست که په روژه کي یو چا مطلق نیت وکړي بس دده روژه صحیح ده تعین دنیت ضروري نه دئ موږ جواب ورکوو موږ وایو علت دئ هم صحیح دي حکم دئ هم صحیح دئ مگر خبره دا رکم نه ده خبره بل رکم ده خبره دارکم ده موږ وایو تعین پر دوه قسمه دئ یو تعین هغه دئ چي تا کړي وي بل تعین هغه دئ چي شارح کړي وي دلته په روژه کي که سړي تعین وکړي او که یې نه وکړي الله جل جلاله تعین کړي دئ لهذا خبره دارکم نه ده چي خامخا به زه تعین کوم بنده به تعین کړي وي که الله جل جلاله تعین کړي وو بس صحیح دئ :

يوسل او څلوريښتم سبق

واما الممانعة فهي اربعة اقسام الخ :

دعبارت ترجمه: هر څه چي ممانعه ده نو دغه ممانعه څلور قسمه ده **ممانعة فی نفس الوصف وفی صلاحه للحکم وفی نفس الحکم وفی نسبته الی الوصف** يوه ممانعه په نفس الوصف کي ده دوهمه ممانعه فی صلاحه للحکم کي دريمه ممانعه په نفس الحکم کي ده ،څلورمه ممانعه فی نسبته الی الوصف کي ده :

تشريح: اول ممانعة فی نفس الوصف ديته وايي چي مجتهد کوم علت جوړ کړي دئ داعلت نه دئ علت بل شي دئ :

مثال دامام شافعي رحمه الله په نزد دکفاري دفرض کيدو دپاره جماع علت ده که يو چا جماع وکړه نو کفاره وربانذي فرض ده :

کفاره حکم ده جماع علت ده موږ وايو امام شافعي رحمه الله ته چي ته کوم شي علت بولي هغه علت نه دئ علت بل شئ ذی : پاته سو حکم حکم داغه دئ يعني حکم کفاره ده ليکن علت جماع نه ده علت بل شي دئ هغه علت افطار دئ سړي دورځي په مينځ کي روژه ماته کړه ددغه ماتيدو دوجي کفاره فرض سوه :

لهذا علت عين جماع نه ده علت افطار دئ هغه افطار که په خوړلو راغلی که په څښلو راغلی که په جماع راغلی ممانعه فی نفس الوصف : ونفس الوصف ته ودريدو چي دغه علت نه دئ علت بل شي دئ وفی صلاحه للحکم :

دوهم ممانعه فی صلاحه للحکم ديته وايي چي تا کوم وصف علت جوړ کړی دئ بس صحيح دئ ليکن دغه علت چي تا جوړ کړی دئ دا ددئ حکم صلاحيت نه لري، مثال امام شافعي رحمه الله بکر علت جوړ کړي دئ دولاية الاجبار دپاره موږ وايو امام شافعي بکر دولاية الاجبار دپاره صلاحيت نه لري صغر صلاحيت لري دولاية الاجبار دپاره موږ په علت باندي کار نه لرو موږ په دې باندي کار لرو چي بکر صلاحيت نه لري دولاية الاجبار دپاره يعني

دحکم صلاحیت نه لري دریم ممانعه فی نفس الحکم دیته وایي چي نفس حکم ته ودریږي چي دا حکم ثابت نه دئ بل حکم ثابت دئ مثال دسر مسحه په اوداسه کي فرض ده دسر مسحه په اوداسه کي رکن دئ رکن علت دئ دتثلیث دپاره او تثلیث حکم دئ چي هر ځای رکنیت راغلی تثلیث به وي تثلیث معني دري واره مینځل لهذا دسر مسحه رکن دئ نو په سر کي به هم سري تثلیث کوي موږ وایو په سر کي تثلیث نسته که څه هم رکن دئ :

ځکه قانون دادئ چي تافرض اداء کړي اوس به دافرض مکمل کوي چي تا یو وار پري مینځلي نو فرض اداء سو خو اکمال دفرضو په تثلیث باندي راځي لهذا اصل حکم اکمال دئ تثلیث نه دئ دسر دمسحي اکمال په تثلیث باندي نه راځي د سر دمسحي اکمال راځي په استیعاب باندي چي ټول سر راکښي باسي :

لهذا اکمال په نورو کي په تثلیث باندي راځي په سر کي اکمال په استیعاب باندي راځي لهذا امام شافعی رحمه الله وایي رکن علت دئ دتثلیث موږ وایو رکن علت دئ داکمال اکمال حکم دئ تثلیث حکم نه دئ :

څلورم ممانعه فی نسبته الی الوصف دیته وایي چي تا کوم حکم وکوم وصف ته منسوبه کړي دئ دغه حکم ودغه ووصف ته نه منسوبه کیږي مثال امام شافعي رحمه الله وویل رکنیت وصف دئ تثلیث حکم دئ موږ وایو دغه حکم (تثلیث) چي تا (امام شافعی رحمه) ووصف (رکن) ته منسو به کړي دئ دا حکم ودغه وصف ته نه منسوبه کیږی ولی زه به داسي ځایونه دروښیم چي تثلیث به وي رکنیت به نه وي :

مثال لکه په خوله اوبه ګرځول خوله رکن نه دئ په پوزه اوبه ګرځول :

دلته تثلیث سته رکنیت نسته رکنیت به وي تثلیث به نه وي مثال لکه قیامه په لمانځه کي رکن سته تثلیث نسته لهذا یوځای به رکن وي تثلیث به نه وي تثلیث به وي رکن به نه وي لهذا ته چي تثلیثت رکنیت ته منسوبه کوي په دغه نسبت کي غلط یې :

يوسل او پنځه څلويښتم سبق

واما فساد الوضع

دعبارت ترجمه: هرڅه چي فساد دوضعي دئ **فمثل تعليلهم** نو شافعيه و تعليل کړي دئ **لايجاب الفرقة باسلا م احد الزوجين** ددې دپاره چي ثابت سي فرقت په سلام ديوه دزوجينو ، **ولا بقاء النكاح مع ارتداد احدهما :** ددې دپار ه چي باقي پاته سي نكاح په ارتداد ديوه د زوجينو **فانه فاسد فى الوضع :** ځکه تعليل ددوي (شافعيه) په دواړو صورتو کي فاسد دئ په وضعه کي **لان الاسلام لا يصح قطعا للحقوق** ځکه اسلا م صلاحيت نه لري چي قطعه دحقوقو راولي اسلام جوړ راولي:

والردة لا تصلح عفوا : رِدَت صلاحيت نه لري دعفوي .

واما فساد الوضع فمثل تعليلهم لا يجاب الفرقة باسلام احد الزوجين الخ :

تشريح دا مجتهد دئ مجتهد دقياس وضعه کړي ده ددغه قياس و ضعه پر فساد ده ولي دقياس دارمدار پر علت باندي دئ او تا چي کوم علت جوړ کړي دئ دغه علت غلط دئ ولي ته چي په علت باندي کوم شي ثابتوي دغه علت ددې شي نقض ثابتوي :

مثال لکه ميړه او خپله ښځه په ميړه او ښځه کي يوه اسلام راوړي چي څنګه يو ه اسلام راوړي نو اما شافعي رحمه الله وايي فرقت راغلی ، فرقت دزوجينو جلا والي دزو جينو امام شافعي رحمه الله مبني کړي دئ پر اسلام باندي امام شافعي رحمه الله اسلام علت جوړ کړي دئ دفرقت دپاره فرقت حکم دئ ، زموږ ا حناف وايي خبره دا رکم نه ده احناف و ايي که په دواړو کي يوه اسلام راوړي نو پر هغه بل باندي به يې وړاندي کړي که هغه بل وويل چي زه اسلام نه راوړم زه کفر کوم بس دغه کفر دده علت دئ دفرقت دپاره دجلاوالي دپاره لهذا دده انکار دده اسرار علی الكفر يعني دده کفر به علت جوړسي دفرقت دپاره جداوالي دپاره اسلام الله جل جلاله راوستلي دئ دجوړ دپاره نه دفرقت دپاه کفر دفرقت دپاره ذريعه ده امام

شافعي رحمه الله اسلام دجوړ دپاره ذريعه نه ده ګرځولي امام شافعي رحمه الله اسلام دفرقت دپاره ذريعه ګرځولي ده :

موږ وايو كفر دفرقت ذريعه ګرځي دجوړ ذريعه نه ګرځي اسلام دجوړ ذريعه ده دفرقت ذريعه نه ده ، همدارنګه ښځه او خاوند دواړه مؤمنان دي كرار يو پكښې مرتد سو موږ وايو چې څنګه يو مرتد سو بس فرقت راغلى يعني چي څنګه يو كافر سو بس فرقت راغلى جدا والى راغلى امام شافعي وايي خاوند تر درې حيضه پوي نه جلا كيږي لهذا كه عدت وو فرقت نه راځي امام شافعي رحمه الله عدت معاف بولي موږ وايو چې څنګه يو مرتد سو نو كفر راغلى چي كفر راغلى نو فرقت راغلى :

يوسل او شپږ څلويښتم سبق

واما المناقضه:

دعبارت ترجمه: هرڅه چي مناقضه ده قولهم **فمثلفى الوضوء والتيمم :**

مثال شوافعو چي قول كړي دئ په اوداسه او تيمم كي **انهما طهارتان :**

دواړه طهارت دي دلمانځه د وجي **فكيف افترقا فى النية :** نو به څنګه جلاسي په نيت كي، **قلنا هذا ينقص بغسل الثوب والبدن عن النجاسة** موږ وايو دغه تعليل ما تيږى په غسل دجامي او دبدن دنجاست څخه، **فيَضْطَرّ الى بيان وجه المسئلة معلل به** مجبوره سي وديته چي بيان كړي وجه دمسئلي **وهو ان الوضوء تطهيرُ حكميُ :**

هغه وجه دمسئلى داده چي اودس تطهير حكم دئ **لانه لا يعقل فى المحل نجاسة:**

ځكه نجاست غير معقول دئ په محل دغسل كي :

فكان كالتيمم فى شرط النية ليتحقق التعبد :

نو اودس داسی سو لکه تیمم په شرط والی کی دنیت تیمم امر غیر معقول دئ او دس هم امر غیر معقول دئ دتیمم دپاره نیت شرط دئ نو داودس دپاره هم نیت شرط دئ لهذا اودس داسي دئ لکه تیمم په شرط والی کي دنیت ددې دپاره چي متحقق سی امر تعبدي

واما المناقضة فمثل قولهم فی الوضوء والتیمم انهما طهارتان الخ :

تشریح: دا مجتهددئ، مجتهد اجتهاد وکړ په دغه اجتهادکي مجتهد دغه علت یې راویستي حکم پر دغه علت باندي تفریع کوي موږ ورته وایو دغه علت دلته هم سته نو یا دغه حکم ولي نه ورباندي تفریع کیږی بیا به مجتهد مجبو ره سي چي دواړو فرق به کوي چي دلته پر دغه علت باندي حکم ځکه تفریع کیږي پر هغه علت باندي حکم ځکه نه تفریع کیږي بیا به موږ اعتراض ورباندي وکړو دده د خبري نقض به ور وکړو ودیته مناقضه وایي مثال امام شافعي رحمه الله وایي اودس طهارت دئ او هر طهارت تعین دنیت غواړي لهذا لکه ځنګه چي په تیمم کي نیت شرط دئ نو په اوداسه کي هم نیت شرط دئ ولی دواړه دطهارت دکورنۍ ځخه دي طهار ت علت دئ نیت حکم دئ موږ ورته وایو دغه طهارت په غسل الثوب کي هم سته په غسل البدن کي هم سته په غسل المکان کي هم سته موږ ورته وایو دغه حکم (نیت) ولی نسته لهذا دلته علت سته حکم نسته ده (امام شافعی) یې فرق بیان کړي دئ وایي په اوداسه او تیمم کي نجاست طهارت حکمی دئ په کوم ځای کي چي نجاست حکمي سي دهغه پري مینځل امر تعبدي سي امر تعبدي معنی غیرمعقول دئ تر عقل لاندي نه راځي وچه په وچه رب کریم ورته ترلي یو یو پاته سو په غسل الثوب کي په غسل البدن کي په غسل المکان کي په دوي کي نجاست مرئی دئ په سترګو لیدل کیږي امر تعبدي نه دئ معقول دئ په سترګو لیدل کیږي چي دلته نجاست دئ لهذا جامه پري مینځل بدن پرې مینځل مکان پرې مینځل دا دري سره فرق لري داوداسه او دتیمم دطهار ت سره په دي دواړو کي نجاست حکمي دي دلته امر تعبدي دئ په دوی درو کي نجاست حقیقي دئ او امر تعبدي نه دئ امر معقول دئ په امر تعبدي کي نیت شرط دئ په امر معقول کي نیت شرط نه دئ موږ رد وورباندي کوو فرق ور ختموو موږ ورته وایو تیمم او اودس دا دوړه امر تعبدي نه دئ اودس امر معقول دئ که ته وایي ځنګه موږ وایو الله جل جلاله وایي چي ځنګه دبدن ځخه خروج دنجاست وسي نو ټول بدن ته نجاست ورسي چي ټول بدن ته نجاست

ورسي نو به ته هر لمانځه ته غسل کوي ولي ټول بدن مردار سوي دئ مګر ټول بدن پرې مینځل وهر لمانځه ته په دې کي حرج دئ دحرج دختمدو پر ځای الله جل جلاله څلور اندامونه راوښودل ١- مخ ٢- لاسونه ٣- پښې ۴- سر داپرې مینځه بس ته صفا یې که ته وايي چي مني ووځي دبدن څخه نو بیا ولي ټول بدن پرې مینځي مونږ وايو دلته حرج نسته ولي مني کله کله وځي لهذا داټول امر تعبدي نه دئ چي امر تعبدي نه دئ نو بیا امام شافعي ته څنګه په اوداسه کي نیت شرط بولي په غسل کي نیت شرط نه بولي که ته وايي په تیمم کي نیت ولی شرط دئ مونږ وايو په تیمم کي نیت په دې وجه شرط سوي دئ چي عقل یې درک نسی کولای چي خاوره دي سړی صفا کړي خاوره خو سړي نور لړي لهذا دغه امر تعبدي دئ نو ځکه مونږ وايو په اوداسه کي په بدن کي په ثوب کي نیت شرط نه دئ په تیمم کي نیت شرط دئ :

فهذه الوجوه تُلجِئُ اصحاب الطَّرد الی القول بالتأثیر :

دعبارت ترجمه: دغه وجوه اربعة مجبوره کوی اصحاب دعلت طردیه وقول ته په علت مؤثره باندي .

فهذه الوجوه الخ :

تشریح: په دغه څلور و طریقو چي ته دفعه په وکړی نو دئ دطردیة پر ځای لاس اچوي مجبوره کیږي وعلت مؤثره ته :

یوسل او اوه څلویښتم سبق

واما العلل المؤثرة فلیس للسائل فیها بعد الممانعة الا المعارضة .

دعبارت ترجمه: هر څه چي علل مؤثره دئ نو په علل مؤثره کي وسائل ته وروسته تر ممانعتیوه لاره نسته سیوا دمعارضي یعني په علل مؤثره کي دوه شیان دي یو ممانعه

کولای سي بله معارضه کولای سي، **لانها لا تحتمل المناقضة وفساد الوضع بعد ماظهر اثرهابالكتاب او السنة او الاجماع :**

ځکه علل مؤثره احتمال نه لري دمناقضې دفساد الوضع وروسته تر هغه چي اثر دعلل مؤثره ښکاره سی په کتاب باندي یا په سنت باندي یا په اجماع الامة باندي فساد الوضع دیته وايي چي نه يې نقل مني نه يې عقل مني، **لكنه اذا توصر مناقضة :**

سوال : تاویل علل مؤثره دمناقضي احتمال نه لري او دلته وايي **لكنه اذ اتصور مناقضة** يعني که چیري مناقضه متصور سوه :

جواب: دلته صوري مناقضه مراد ده حقیقي مناقضه نسته، **يجب دفعه من وجوه اربعة** نو دنقض دفعه واجب ده په څلورو طریقو باندي هغه څلور طریقي دادي ١- الوصف ٢- الثابت بالوصف ٣- بالحكم ٤- بالغرض:

كمانقول فى الخارج من غير السبيلن انه نجس خارج من بدن الانسان :

دعبارت ترجمه: لکه موږ چي وايو په خارج من غير السبلين کي چي دا نجس دئ داسی نجس چي خارج دئ دانسان دبدن څخه **فكان حدثا كالبول:** نو دا حدث دئ لکه بولي يعني د ابي اودسي راولي لکه بولي چي بې اودسي راولي:

فيرد عليه ما اذا لم يسل : پر دغه تعليل باندي وارديږی داسي خارج چي نه وبهيږي ، **فندفعه اولا بالوصف :** اول وار موږ دغه ایراد دفعه کووپه وصف باندي **وهو انه ليس بخارج :** دغه دفعه بالوصف داده چي غيرسائل (نه بهيدونكي) دا خارج نه دئ، **لان تحت كل جلدة رطوبة** ځکه لاندي تر هر جلد (پوښت) رطوبت دئ لوندوالی دئ، **وفى كل عرق دما** ، په هر رګ کي وینه ده، **فاذا زال الجلد كان ظاهرا لا خارجا:** چي هر کله جلد لري سي نو ويني ښکاره سي خارج نه وي.

كمانقول فى الخارج من غير السبيلن انه نجس خارج من بدن الانسان الخ .

تشريح : امام شافعی رحمه الله وايي که خروج من غير السبلين وسو نو اودس نه په ماتيږی لکه دم (وينه) دامام شافعی رحمه الله په نزد باندي اودس نه ماتيږی زموږ په نزد باندي اودس په ماتيږي اوس دی سوال کوي وايي پر تاباندي دانه راختلي ده په هغه دانه کي وينه ښکاره سوه وينه دخپل محل څخه نه ده بهيدلې ګوره دلته خروج دنجس سوي دئ ليکن تاسو اودس نه به ماتوي موږ جواب ورکوو هغه دا چي دا خروج نه دئ داظهور دئ صرف وينه ښکاره سوي ده خروج يې نه دئ کړي ولی په ټول بدن کي رګونه دي او رګونه دويني ډک دي چي څنګه پوست چمړه ليري سي نو وينه ښکاره سي پاته سو خروج، خروج هغه وخت وي چي وينه دخپل محل څخه وبهيږي لهذا دغه نقض موږ په دغه وصف باندي وکړي چي ظهور دئ خروج نه دئ :

ثم بالمعنى الثابت بالوصف دلالة :

دعبارت ترجمه: دوهم موږ نقض دفعه کوو په معنى باندي د اسي معني چي ثابت بالوصف دئ ازروئی دلالت .

ثم بالمعنى الثابت بالوصف دلالة الخ :

تشريح: کله موږ نقض دفعه کو و دوصف په معنى سره موږ وايو څه وخت چي وينه را ووته نه وبهيده نو دداغه ځای پرې مينځل واجب نه دئ نو دټول بدن پرې مينځل به څنګه واجب سي .

وهو وجوب غسل ذالک الموضع للتطهر :

دعبارت ترجمه: دغه المعنى الثابت بالوصف وجوب دئ دپري مينځلو ددغه ځای دپاره دپاکي . فبه صار الوصف حجة ددغه مذکور معنى دوجي وصف وګرځيدئ علت دحکم:

من حيث ان وجوب التطهير في البدن باعتبار ما يكون منه :

وجوب دتطهير به بدن كي داوي په هغه اعتبار چې حاصل سي له ده ځخه پر داركم باندي چې دبدن ځخه خارج سي، يعني چې ددغه موضع پرې مينځل ضروري نه دئ نو دټول بدن پرې مينځل په طريقه اولى ضروري نه دئ :

كه ته وايي دده پرې مينځل دئ ضروري نه وي نو ر بدن دي پرې مينځي موږ وايو يا ولي وصف تجزي نه قبلوي **لايحتمل الوصف بالتجزي**: وصف احتمال دتجزى نه لري **وهناك لم يجب غسل ذالک الموضع**: دلته ددغه موضع پرې مينځل واجب نه دئ، **فانعدم الحكم لانعدام العلة** حكم مندفع دئ ولي علت نسته **ويورد عليه صاحب الجرح السائل** :يو سوال كيږي هغه داچي تاسو ددې قائله نه واست چي تخلف دعلت دئ وي دحكم ځخه مثال ديو سړي ديو ځاى ځخه وينه بهيږي نه بنديږي كرار دغه سړي اودس وكړ نو ددغه سړي اودس نه ماتيږي دلته علت سته حكم داودس ماتيدل نسته دغه سوال كيږي، **ويورد عليه صاحب الجرح السائل** :

پردغه تعليل مذكور باندي وارديږي صاحب دجرحى چي دزخم ځخه يې وينه بهيږي **فندفعه**

فندفعه بالحكم ببيان انه حدث موجب للطهارة بعد خروج الوقت

دعبارت ترجمه: موږ نقض دفعه كوو په حكم باندي پر داركم چي دا حدث دئ داسي حدث چي موجب دطهارت دئ وروسته دوخت تر وتلو .

بالحكم ببيان انه حدث موجب للطهارة بعد خروج الوقت

تشريح: موږ دغه نقض دفعه كوو په حكم باندى موږ وايو چي وينه وبهيده بس اودس مات سو مگر شريعت وايي ترڅه وخت پورى حكم مه ورته متوجه كوه چي وخت ووتي بيا حكم ورته متوجه كړه موږ له تا ځخه پوښتنه كوو ديو سړي باد جارى دئ كرار دې سړي اودس وكړ اوس ددغه سړي اودس مات دئ وايي يا ددې سړي اودس نه دئ مات ولي بيا حرج راځي ديوڅه وخت دپاره حكم نه دئ ورته متوجه لهذا چي ته دلته ورته دريږى نو موږ

په وينه کي ورته دريږو چي وخت ووتي بيا به حکم ورته متوجه کيږی لهذا تخلف دعلت دمعلول څخه نه دئ راغلی .

دعبارت ترجمه: فان غرضنا التسوية بين الدم والبول:

زموږ غرض تسويه ده بين الدم والبول، وذالک حدث: دغه بې اودسي ده. فاذا لزم: څه وخت چي لازم سو صار عفوا:

نو عفوه وگرځيدی ، لقيام الوقت : ځکه وخت ولاړ دئ فکذالک ههنا : نو دلته هم دغه رکم خبره ده .

وبالغرض الخ:

تشريح: څلورم موږ نقض دفعه کوو په غرض باندي زموږ اصل غرض دادئ چي تسويه وکړو ددم او دبولو په مينځ کي لکه دسړي چي بولي جاري وي نو حکم تريو وخت پوري ورته ولاړ دئ نو موږ وايو وينو ته هم حکم تر يو وخت پوری ورته ولاړ دئ زموږ غرض هم تسويه ده :

يوسل او اته څلويښتم سبق

اما المعارضة فهي نوعان:

دعبارت ترجمه: معارضة پر دوه قسمه ده. معارضة فيها مناقضة ومعارضة خالصة:

يوه هغه معارضه ده چي مناقضه پکښي وي بله معارضه خالصه ده :

اما المعارضة فهي نوعان معارضة فيها مناقضه ومعارضة خالصة :

تشريح: معارضه پر دوه قسمه ده يوه معارضه هغه ده چي مناقضه پکښی وي دوهمه معارضه خالصه ده هغه معارضه چي مناقضه پکښي وي وهغه ته قلب وايي :

قلب په عربي کي اړولو ته وايي نو ته به اړول وکړي حکم به علت جوړ کړي علت به حکم جوړ کړي .

امام شافعي رحمه الله به يو شي علت جوړ کړي وي حکم به يې پر تفريع کړي وي موږ وايو خبره ولټه وه ده چي کوم شی تا علت جوړ کړی هغه حکم جوړ کړه چي کوم شي تا حکم جوړ کړي هغه علت جوړ کړه :

اما المعارضة التي فيها مناقضة فالقلب :

هغه معارضه چی مناقضه پکښی وي وهغه ته قلب وايي **وهو نوعان:** قلب پر دوه قسمه دئ احدهما قلب العلة حکما والحکم علة علت حکم کړه حکم علت کړه **وهو ما خوذ من قلب الاناء:** دا راما خوذ دئ د قلب الاناء څخه لوښی پړمخي پروت دئ لوړي لاندي کړه لاندي يې لوړه کړه **وانما يصح هذا فيما يکون التعليل فيه بالحکم** دغه قسم قلب صحيح کيږي په هغه ځای کي چي تعليل په هغه ځای کي په حکم باندي سوی وي يعني حکم يې علت جوړ کړی وي:

مسئله : مختلف فيها زموږ داحنافو په نزد باندي داحصان دپاره اسلا م شرط دئ سړی هغه وخت محصن ګرځي چي مسلمان وي که مسلمان نه وو بيا محصن نه ګرځي غير محصن ته به کوړي ورکول کيږی په دروَ به وهل کيږی پاته سو محصن محصن به رجم کيږی :

دخبري خلاصه داده: غير محصن : به سل دري وهل کيږی محصن به رجم کيږی پاته سو کافر کافر محصن نسي جوړيدای ولی په کافر کي اسلام نسته کافر که شادي شده دئ که غير شادي شده دئ ودته به کوړی ورکول کيږی دادا حنافو په نزد :

دامام شافعي په نزد داحصان دپاره اسلا م شرط نه دئ لکه مسلمان ته چی کوړې ورکول کيږي په داغه وجه خو محصن ته رجم ورکول کيږي موږ وايو وادړوي دمسلما ن محصن ته رجم ورکول کيږی په داغه وجه خو کوړې ورکول کيږي :

امام شافعي چي کوم شي حکم وو هغه دي علت جوړ کړي چي کوم شي علت وو هغه دي حکم جوړ کړي :

پاته سو کافر، کافر محصن نه جوړیږی :

دعبارت ترجمه: **مثل قولهم الکفار جنس**: مثال لکه قول دشافعیه کفار جنس دئ، **یجلد بکر هم مائة** سل درې به دکفارو بکر وهل کیږی **فیرجم ثیبهم کالمسلیمن** دکفارو ثیب به رجم کیږی لکه مسلمانان، **قلنا المسلمین انما یجلد بکرهم مائة** :

موږ وایو دمسلمانانو بکربه سل درې وهل کیږی **لانه یرجم ثیبهم**، ځکه دمسلمانانو ثیب رجم کیږی **فلما احتمل الانقلاب فسد الاصل وبطل القیاس**: هر کله چي انقلاب محتمل سو نو اصل فاسد سو قیاس باطل سو .

فهرست

دهر قسم اسلامي ليکنو لپاره زموږ له اداري سره اړيکي نيولای سي!
په درنښت مولوي رحمت الله اغا خليل ذاکري
۰۳۱۰۸۰٦۵۷۳۵

نور القران خپرندويه ټولنه کوټه ۲۰۲۲/ ۳/ ۷

انّ من الشعر لحكمة ★ وانّ من البيان لسحرا

د تول علم معاني لپاره يوه په زړه پورې تحفه

خلاصة المعاني

له افاداتو د جيد عالم

مولوي محمد اجمل خان صاحب دامت برکاتهم

تاليف

حافظ ملا شمس الله

تطبيق القواعد المعانية على الايات القرانية

ترتيب او تزين:

مولوی رحمت الله آغا ذاکري



نور القرآن

خپرندويه ټولنه

نور القرآن
خپرندويه ټولنه